# توره کرښه

**۱۸۹۳ز کال**




لیکوال

**محمد قا[illegible]وحي [illegible]**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






# توره کربنه

لیکوال: **محمد آقا شیرزاد**

ډیزاین: **عبدالرحمن حنیف**

خپرندوی: **خپله لیکوال**

چاپکال: **۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۸ز**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

**ددې کتاب د چاپ‌ي او آنلاین خپرولو ټولې رښتې له لیکوال سره خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


سریزه ........................................................................................ ۱۲
لومړی څپرکی ............................................................................... ۱٤
د افغانستان په هکله لنډ مالومات ..................................................... ۱٤
افغانستان(Afghanistan): ............................................................ ۱٤
د افغانستان تاریخ له شاه محمود څخه تر امیر عبدالرحمن خان پورې .................. ۲٤
د ګډوډۍ یا انارشیزم دوره: ............................................................. ۲٥
د امیر دوست محمد خان لومړی ځل امارت.............................................. ۲۸
د هرات کلابندي: .......................................................................... ۳۰
دویم څپرکی ................................................................................. ۳۲
د افغان او انګریز لومړۍ جګړه ........................................................... ۳۲
په افغانستان کې لویه لوبه................................................................. ۳۷
د امیر دوست محمد خان دوهم ځل امارت............................................... ۳۹
د پېښور ترړونونه: .......................................................................... ٤۰
د امیر دوست محمد خان مړینه: .......................................................... ٤۲
د امیر شیر علي خان سلطنت .............................................................. ٤٤
امیرشیرعلي خان د ورونو په لومه کې: ................................................... ٤٥
د امیر محمد افضل خان واکمني: ......................................................... ٤۷
امیر محمد اعظم خان واکمني: ............................................................ ٤۸
د امیر شیر علي خان دوهم ځل واکمني: ................................................. ٤۸
د امیر شیر علي خان د واکمنۍ ستونزې: ................................................. ٥۰
د وړاندې تګ سیاست (forward policy): ............................................ ٥۳
دریم څپرکی................................................................................. ٥٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغان او انگریز د دویمې جگړې پیلیدل........................................٥٦
د امیر محمد یعقوب خان واکمني:........................................٥٧
د ننگرهار د گندمک تړون........................................٦٠
د کیوناري وژنه:........................................٦٣
د میوند جگړه........................................٦٥
د امیر عبدالرحمن پېژندنه او د گنډُمک تړون منل:........................................٦٧
د امیر عبدالرحمن خان واکمني........................................٧٠
څلورم څپرکی........................................٧٣
د ډیورنډ د کرغېړنې کرښې تړون په ۱۸۹۳ز کال کې........................................٧٣
د امیر عبدالرحمن خان کړنې د ډیورنډ له لاسلیک وروسته:........................................٧٦
د ډیورنډ کرښې په اړه (۱۱) اړین ټکي چې پوهیدل پرې پکار دي:........................................٧٧
پاکستان د ډیورنډ کرښه ته د کرښې نوم ورکوي:........................................٨٧
د هـالینډ په هیواد کې د افغانانو د جرگې د نړیوال کنفرانس لنډ راپور........................................٩٠
د ډیورنډ لاین موافقه لیک د حقوقی اړخ لنډ تاریخ........................................٩٤
د ډیورنډ لاین تړون د حقوقی اړخ لنډ تاریخ:........................................٩٤
دوهم ـ د نړېوالو تړونونو د حقوقی باور بنسټیز اصول:........................................٩٨
څلورم ـ د دولتونو د وراثت موضوع:........................................۱۰۳
پنځم ـ د یو تړون د اجرا او تطبیق پروسېجر:........................................۱۰٤
پایله........................................۱۰٥
نامنلې کرښه، نا منلی تړون........................................۱۰٧
د څلورم څپرکي ادامه........................................۱۲٧
د ډیورنډ کرښې تاریخي او حقوقي حقایق........................................۱۲٧
سریزه:........................................۱۲٧
ډیورنډ کرښه ولې رامنځته شوه ؟:........................................۱۲۹
تاریخي کتنه، بیا بیا مذاکرات او معاهدې........................................۱۳۲
بیا مذاکرات ۱۹۰٥ز کال:........................................۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هند له استقلال (۱۹۴۷) زکال نه تر اوسه پورې:.................................... ۱۳۲
د ډیورند کرښې حقوقي اړخ:............................................................ ۱۳٤
پاکستان د ډیورنډ کرښې د ماتوونکي (ناقض) په توگه:........................... ۱۳٦
د پاکستانیانو په ادعاگانو کې د ضعف ټکي:........................................ ۱۳۷
پایله.................................................................................. ۱٤۰
د هند پر خاوره د برتانیا ښکېلاکگر خپټه اچولو لنډ مالومات.................... ۱٤۵
اروپایان د هند په نیمه وچه کې (ختیځ هند کمپني) انگرېزان او توکمیز توپیر:........ ۱٤۵
هند او پاکستان......................................................................... ۱٦٤
د هندوستان د خپلواکۍ ۷۰ کالیزه د پاکستان رامېنځ ته کېدل:.................... ۱٦٤
مسئله پشتونستان...................................................................... ۱۷۰
زخم ناسور خط دیورند:.............................................................. ۱۷۰
ډیورنډ کرښه له حقوقي اړخه......................................................... ۱۷٤
د ډیورنډ کرښې تړون:.................................................................. ۱۷۵
پایله:.................................................................................. ۱۷۸
پر ډیورنډ کرښه د افغان لندن کنفرانس ته لیکلی پیغام............................. ۱۷۹
پاکستان ولې له افغانستان سره پر پوله کټارې او خنډونه جوړوي؟.................. ۱۸۳
پر ډیورند کرښې د کټارې لگولو چارې:............................................... ۱۸٤
تبصره:................................................................................. ۱۸٦
زړه لانجه، نوې ستونزې:.............................................................. ۱۸۸
" ډیورنډ نه منو":...................................................................... ۱۸۹
اقتصادي او ټولنیز ژوند:.............................................................. ۱۹۱
تبصره:................................................................................. ۱۹۳
افغانان عدالت غواړي:................................................................ ۲۰۵
پینځم څپرکی......................................................................... ۲۱۱
اعلیحضرت شاه امان الله خان غازي .................................................. ۲۱۱
اعلیحضرت شاه امان الله خان غازي (۱۸۹۲- ۱۹٦۰)ز کلونه:...................... ۲۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library




شاه امان الله د سفر بري په جامو کې (۱۹۱۹) زکال: ........ ۲۱۵

ملي يووالی، د شاه امان الله خان ستره هيله: ........ ۲۱۸

بيا ځلې مذاکرات ۱۹۱۹ز کال: ........ ۲۱۹

بيا ځلې مذاکرات او د کابل معاهده ۱۹۲۱ ز کال: ........ ۲۲۰

شاه امان الله غازي خپل ولس ته د وينا په حال کې: ........ ۲۲۸

د اعليحضرت امان الله خان په اړه يو شمېر ليدلوري: ........ ۲۲۹

د امان الله خان او نادر خان ترمېنځ لوبې: ........ ۲۳٦

د غلام نبي خان چرخي له وژل کېدلو وروسته سياسي وضع: ........ ۲۴۱

په جلال آباد کې د شاه او ملکې خاورو ته سپارل: ........ ۲۴٦

دغازي امان الله شخصيت ته دلطيف پدرام سپکاوی: ........ ۲۵۰

شپږم څپرکی ........ ۲۵٤

ويښ زلميان ........ ۲۵٤

۱۳۲۵- ۱۳۴۵ لمريز کال: ........ ۲۵٤

اووم څپرکی ........ ۲۸۹

د اوسني افغانستان ختيځې سيمې ........ ۲۸۹

اول ـ د ننگرهار ولايت: ........ ۲۸۹

د ننگرهار ولايت اقتصادي ارزښت: ........ ۲۹۰

طبيعي زېرمې: ........ ۲۹۱

پرمختگ: ........ ۲۹۱

د ننگرهار اداري واحدونه: ........ ۲۹۱

رسنی: ........ ۲۹۲

مشهور علمي او فرهنگي شخصيتونه: ........ ۲۹۲

کلتور: ........ ۲۹۳

لوبې: ........ ۲۹۳

ښوونه روزنه: ........ ۲۹٤

کرنه: ........ ۲۹٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوبو بندونه:........................................................................ ٢٩٤
تاريخي ځايونه:...................................................................... ٢٩٥
د ننګرهار ولايت د جلال اباد جنګ په ١٣٦٧ل کال کې:........................... ٢٩٥
تلک خرس:............................................................................ ٣٠٣
ډاکتر نسرين کتونا:.................................................................... ٣١٢
برگرفته از متن نوشته ی جنگ جلال آباد:............................................ ٣٢٩
د بهرنيو چارو مخکينی وزير عبدالوکيل:.............................................. ٣٤٨
د گوند دويمه کنگره:................................................................... ٣٥٢
د کنړ ولايت ........................................................................... ٣٥٤
د ښکلي کنړ ولايت اړوند مالومات:..................................................... ٣٥٤
جغرافياوي او قومي جوړښت:............................................................ ٣٥٦
د کونړ ميشت قومونه:.................................................................. ٣٥٧
د وګړو شمير:........................................................................... ٣٥٩
استحکامي کلاگانې:..................................................................... ٣٥٩
د چغان غونډۍ:.......................................................................... ٣٥٩
د کلوم کلا:............................................................................. ٣٦٠
د پيار کلا:.............................................................................. ٣٦٠
د کټار کلا:............................................................................. ٣٦١
کونړ د تاريخ په اوږدو کې:............................................................ ٣٦٢
د چارو د سرته رسولو لپاره لانديني تکي اړين برېښي:.............................. ٣٦٤
د لغمان ولايت پېژندنه ................................................................. ٣٦٥
ځلور خواوې:............................................................................ ٣٦٥
اداري واحدونه:.......................................................................... ٣٦٦
مشاهير:................................................................................. ٣٦٦
کرنه:.................................................................................... ٣٦٦
د اوبو بندونه او سيندونه:............................................................... ٣٦٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبې: ............ ۳۶۷
پوهنه: ............ ۳۶۷
صنعت: ............ ۳۶۸
مدني ټولنې: ............ ۳۶۸
رسنۍ: ............ ۳۶۸
تصويري رسنۍ: ............ ۳۶۹
چاپي رسنۍ: ............ ۳۶۹
کولتور: ............ ۳۷۰
د نورستان ولايت ............ ۳۷۱
د ۱۳۹۰ل کال ښوونيز حالت: ............ ۳۷۱
د پوهنې د بهير په وړاندې ستونزې: ............ ۳۷۲
اتم څپرکی ............ ۳۷۳
د پاکستان جوړېدل ............ ۳۷۳
د لويې برتانيا سياست د هند، پاکستان او افغانستان په اړوند ............ ۳۸۰
۱۹۴۵ز کال څخه تر ۱۹۵۰ز کال پورې: ............ ۳۸۰
د ليبرستانو د حکومت سياست او کړنې: ............ ۳۸۱
ځلورم ـ د افغانستان د خپلواکۍ وروسته: ............ ۳۸۲
د اعليحضرت امان الله خان په اړه يو شمېر نظرونه: ............ ۳۸۲
نهم څپرکی: ............ ۳۸۹
د محمد داودخان کودتا ............ ۳۸۹
لسم څپرکی: ............ ۳۹۵
د اخ دګ سياسي واک تر لاسه کړ ............ ۳۹۵
نور محمد تره کی د ګوند او حکومت مشر شو: ............ ۳۹۵
ارواښاد شهيد ډاکتر عبدالکريم زرغون: ............ ۴۰۲
د شهيد محمد هاشم وطنوال له يادښتونو څخه د ماخذ په توګه: ............ ۴۰۵
د شهيد لعل پادشاه عالمي لنډه پيژندنه ............ ۴۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نور محمد تره کي ژوند پېښې ........ ۴۱۱
۱-۲: زده کړې ........ ۴۱۲
۱-۳: دندې او سیاسي هڅې ........ ۴۱۲
۱-۴: د نور محمد تره کي ادبي هڅې او پنځونې ........ ۴۱۶
۱-۵: د تره کي درې اثار او ژباړې ........ ۴۱۷
ماخذونه: ........ ۴۱۸
د نور محمد تره کې واکمني ........ ۴۲۱
د میر اکبر خیبر وژل کېدل او د جنازې مراسم: ........ ۴۲۱
کودتا که انقلاب؟ ........ ۴۲۳
لنډیز: ........ ۴۲۴
د شوروي لښکرو راتګ ........ ۴۳۱
احمدشاه مسعود او روسان ........ ۴۳۴
د مسعود په اړه د افغانستان د تاریخ حکم: ........ ۴۳۶
د حفیظ الله امین واکمني ........ ۴۳۸
د حفیظ الله امین لنډه پېژندنه: ........ ۴۳۸
ببرک کارمل واکمن شو ........ ۴۴۱
د ببرک کارمل لنډه پېژندنه: ........ ۴۴۱
د ډاکتر نجیب الله واکمني ........ ۴۴۵
د افغانستان د پخواني جمهور رئیس ډاکتر نجیب الله لنډه پېژندنه: ........ ۴۴۵
د /.د.ج او د /.خ.د او بیا د وطن ګوند د ړنګېدو لاملونه: ........ ۴۴۸
عامل خارجی سقوط حزب «وطن» و دولت: ........ ۴۵۳
یولسم څپرکی: ........ ۴۵۵
د مجاهدینو واکمني او د افغان ولس بېچاره ګي ........ ۴۵۵
د حضرت صبغت الله مجددي درې میاشتې واکمني ........ ۴۵۶
د طالبانو راټوکېدل ........ ۴۶۱
طالبان څنګه رامنځ ته شول؟ ........ ۴۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



غچ او سزا ............................................................................................ ٤٧٢
دوه پېړۍ په افغانستان کې د بهرنیانو مداخله: ............................................ ٤٧٢
طالبانو پر افغانستان د امریکا په مشرۍ یرغل: ............................................. ٤٧٣
دولسم څپرکی ......................................................................................... ٤٧٧
د بن ناسته او د حامد کرزي واکمني.............................................................. ٤٧٧
د پخواني جمهور رئیس حامد کرزي او جمهور رئیس محمد اشرف غني د واکمنیو پرتله ... ٤٨٤
مخکینی جمهور رئیس حامد کرزی او۱۳ کلنه واکمني: ...................................... ٤٨٤
د حامد کرزي پېژندنه: ............................................................................. ٤٨٥
جمهور ریس اشرف غني احمدزی: ............................................................. ٤٩٠
زده کړې: ................................................................................................ ٤٩١
دندې: ..................................................................................................... ٤٩٢
ځانګړې وړتیاوې: ..................................................................................... ٤٩٣
د ملي یوالي حکومت: .............................................................................. ٥٠٠
مأخذونه................................................................................................. ٥٠٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درنو لوستونکو:

**د افغانستان د ختیزې برخې په تاریخ او جغرافیه باندې یو مالوماتي کتاب ولیکم.**

**زه تعهد سپارم چې په دې کتاب کې هغه مالومات، شواهد او اسناد لوستونکو ته وړاندې کړم چې پر واقعیتونو ولاړ وي. په پیل کې غواړم په لاندې برخو کې کتاب ولیکم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

درنو لوستونکو په تودو سلامونو مو ګرم هرکلی کوم، دا کتاب د افغانستان د یوې مهمې تاریخي سیمې یانې د هېواد د ختیځې برخې په هکله هر اړخیزه مالومات وړاندې کوي او په هېواد کې د یو شمېر واکمنیو څېړنه کوي. هیله لرم، چې له لوستلو نه یې اړین توکي ترلاسه کړئ.

وایي، افغانان اریانوونکي او زيړه خلک دي، خو زه بیا وایم چې افغانان له وطن ساتلو او پاللو سره پوره مینه لري. زموږ ولس تل له مکار غلیم سره په یوه اواز په تشو لاسونو د غیرت توره له تېکي راباسلې او ښکېلاکګر دښمن یې له خپل هېواد نه په خورا شرموونکې توګه شړلی دی.

انګرېزانو د سکانو او پنجابیانو په مرسته پر افغان خاوره درې ځلې یرغلونه کړي دي، خو په هر ځل د جنګ له میدانه تښتېدلي او ماتې یې خوړلې ده. لیکن زموږ د ولس ستره ستونزه نالوستي او اقتصادي وروسته پاتېوالی دی. دا لاملونه دي چې جګړه ګټلی شو، یا په بل عبارت افغانان د جګړې په ډګر کې مېړني او باتور خلک دي، خو په سیاست کې بایلونکي! دا په دې مانا چې نالوستي ولس او وروسته پاتېوالي دښمنانو ته دا زمینه برابروي چې له مذهب نه بده استفاده وکړي او خلک تر مذهبي اغېزو لاندې راولي.

زموږ په هېواد کې چې کله هم زموږ پر خاوره یرغل شوی، ټول ولس په ګډه دفاع کړې خو په خواشینۍ سره چې تر بریا وروسته د بل په لمسون دا خوځښت د ستونزو سره مخامخ شوی. د بېلګې په توګه دایرانیانو د یرغل نه وروسته دافغانانو د واکمنیو ترمېنځ د واک په خاطر خپل منځي جګړې وشوې او دښمن ددې فرصت څخه اړینه استفاده وکړه. همدارنګه د پخواني شوروي د پوځونو د راتګ له امله یو شمېر افغانان سیاست مداران شو، چې د غیر عملي شعارونو د ورکولو او د مذهب تر نامه لاندې پردیو ته د خدمت کولو په پایله کې یې په افغانستان کې لوی ناورین رامېنځ ته کړ، چې په وطن کې هر څه د خاورو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شول.

د انګرېزانو د درې ګونو یرغلونو پر وړاندې د ولس یووالی او د هر افغان قرباني د هېواد د خپلواکۍ د تاریخ زرینه پاڼه جوړوي. خو دا بریاوي د انګریز د لاسوهنې او د مذهب څخه د ناوړه استفادې له امله، سبب شو چې ددې هېواد ولس په خپلو کې سره ونښلي او انګرېز خپله شومه موخه تر لاسه کړي. د هېواد د جغرافیې لویه برخه مو تراوسه د بل تر لاس لاندې کړاونه تېروي. یانې د ډیورنډ نامنلې توره کرغېړنه کرښه چې د افغان ولس په زړونو کښل شوې، د خیبر پښتونخوا او بلوچستان ولسونه له مورڼ څخه جلا ساتلي. خو زه پر دې ټینګ باور لرم چې دا ولسونه به نور د پردیو تر حاکمیت یا واکمنۍ لاندې پاتې نشي او ډېر ژر به دا ناولې او بې مفهومه کرښه له مینځه یووړل شي او ټول افغان ولس به یو ځل بیا د خپلواکۍ جنډه پورته او پنجاب ته به خوله ماتونکی ځواب ورکړي، لکه چې افغانانو د پنجاب بادارانو یانې د برتانیا یرغلګر او ښکېلاکګر ځواک ته پخوا ورکړی وو. اوسنۍ غمیزې هم د تېرو غمیزو ادامه ګڼل کېږي. د مذهب څخه ناوړه ګټه اخېستل ددې لامل شو چې د روسانو او انګرېزانو په څېر نړیوال قدرتونه افغان خاورې ته د خپلو ټولو مدرنو وسلو او ځواکونو سره د راتګ بهانه پیدا کړي.

افغان ولس ته په کار ده چې نور د پردیو د چلوټې قرباني نشي، خپلو کې سره یو شي، د جنګ جګړو پر ځای سوله وکړي خپل وطن ورغوي او د پردو لاسونه د خپلې خاورې څخه لنډ کړي. د مذهبي ګډوډیو او ناسم سیاست کولو نه ډډه وشي، د خپل وطن او ولس لپاره هغه څه وغواړي چې د ولس ګټې پکې نغښتې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی څپرکی

# د افغانستان په هکله لنډ مالومات

## افغانستان(Afghanistan):

افغانستان د افغان وګړو(پښتانه، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، نورستاني، قزلباش، ایماق، پشه يي او نورو ټاټوبی دی. تاریخ دا خبره ازبات کړې، چې دغو ټبرونو په ګډه سره له خپل ټاټوبي نه ساتنه او پالنه کړې او د وطنپالني احساس یې خورا غښتلی دی. له دې امله دغه ولس په حقوقي ډول يو ملت ګڼل کېږي. د افغانویېد (افګان) او (افاغنه) نه را جوړ شوی، پښتون ته اپاګان یا اوغان، افاغنه، روهیا او پټان ویل کېده، خو اوس هم د ګړ په لړ توپیر سره همدا ټکي کارول کېږي. افغانستان له زرګونو کلونو راهیسې د افغانانو مېشت ځای دی.

سیاسي او پنځېزې پولې يې له امو څخه تر اباسین سیند پورې دي. ددې خبرې دا زبات لپاره وګورئ: د اوستا د لاسوند(یشتو) له مخېدار یا نا د شپاړسګونو ولایتونو نومونه:

١ـ اریانا ویجو د امو او سیر دریا ترمنځ.

٢ـ سوغده د امو په شمال کې سغد/سمرقند

٣ـ مورو (مروا او مرغاب)

۴ـ بخدي (بلخ بامي)

۵ـ نیسا یا (میمنه)

٦ـ هره یوه (هرات)

٧ـ وایکرته (د کابل سیمه)

٨ ـ اوروه د کندهار او اباسین تر منځ سیمه د پکتیا ولایت او د سلیمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹ـ خننتا (گرگان)**

**۱۰ـ هري وتي (ارغنداو/دهراوت)**

**۱۱ـ ای تومنه (هیرمند، هیلمند)**

**۱۲ـ رگه (بدخشان) دراغه اوسنۍ ولسوالۍ پښتون راغه**

**۱۳ـ کخره (غزنی)**

**۱۴ـ رانگا (سیر دریا)**

**۱۵ـ وارنا (امیر بند) هیپته هندو (د سند سیمه).**

**همدا ډول په اوستا کې د افغانستان غرونه یاد شوي لکه سیا مګه (تور غریا سیاکو) یو پاري سینه (هندوکش) سپیته ګونه ګیري (سپین غر) او داسې نور.**

**افغانستان د سویلي اسیا په شمال لویدیځ کې پروت دی. دغه هېواد تر ټولو دمخه په سیمه کې یو حساس ستراتېژیک موقعیت لري، له دې امله د تاریخ په اوږدو کې د ټولو زبر ځواکونو د پام وړ او د دوي د لوبو او جګړو ډګر ګرځېدلی. په وچه کې د را ایسار کړی شوی، لرغوني غرني هېواد په توګه، په پر له پسې ډول د ورانیو او سترو ناورینونو سره مخ شوی دی. دغه هېواد خاوره او پولې د بریدونو له مخې د تاریخ په اوږدو کې لوی او وړې شوي دي. خو په اتلسمه پېړۍ کې د ابدالي واکمنۍ (۱۸۱۸/۱۷۴۷ز) پر مهال د لومړي ځل لپاره د دغه هېواد سیاسي پولې له پنځېزو پولو سره سمون وموند. خو په سیمه کې دانګرېزانو د اغېز، یرغل، لاسوهنو او د سیمه یزو او نړۍ والو لوبو له امله په څو پړاونو کې په دې توګه ټوټې ورځخه جلا کړل شوي دي.**

**لومړی ـ د ابدالیانو پر مهال:**

**په ۱۸۰۳ز کې د ابدالي شاه محمود خان پر مهال د خراسان ولایت، د ایران د قاجایانو لاس ته ورغی.**

**په ۱۸۱۲ز کې د اباسین پر غاړه د (اټک کلا) د پنجاب سیکانو ته پرېښودل شوه.**

**په ۱۸۱۸ز کې د ملتان ولایت د سیکانو لاس ته ورغلو.**

**دویم ـ د محمدزیو د واک پر مهال:**

**په ۱۸۱۹ ز کې د کشمیر ولایت د پنجاب له دولت سره وتړل شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۸۲۱ز کې د غازي خان ډیره پنجاب ته پرېښودل شوه.
په ۱۸۲۱ز کې د ( اسماعیل خان ډیره) ولایت د پنجاب د سیکانو لاسته ورغلو.
په ۱۸۲۳ز کې د پېښور ولایت سیکانو لاندې کړ.
په ۱۸۴۳ز کې د سند ولایت انګریزانو ونیو.
په ۱۸۵۴-۱۸۷٦ز کې د بلو چستان ولایت انګریزانو لاندې کړ.
په ۱۸۸۴ز کې د موروي ولایت روسانو ونیو.
په ۱۸۷۸ز کې د شال فوشنجتر کوژک، کورمه، لنډي کوتل سیمې د ګندومک د تپل شوي پوهاوي له مخې د یعقوب خان له خوا انګریزانو ته ورکړل شوي.
په کال ۱۸۹۳ز کې امیر عبدالرحمن د سوات، باجوړ، چترال، ارنوې سیمې، وزیرستان، دوړ، څاګۍ او چمن ولایتونه د ډیورنډ د تپلې موافقه لیک له مخې انګریزانو ته ورکړی.
په ۱۸۸۵ز کې د پنجدې سیمه روسانو ونیوله.
په ۱۸۷۲ز کې د سیستان ولایت ځینې برخې د انګریزي پلاوي له خوا ایران ته پریښودل شوې.
د خواشینۍ ځای دی، چی افغانستان په ۲۱ پېړې کې هم هماغسې ویشلی او ټوټې پاتې شوی دی. درې لسیزي کېږي چی د سیمه ایزو او نړۍ والو پېچلو لوبو او استخبارتي جګړو په تاوده ډګر او سنګر اوښتی دی.
د اوسني افغانستان د وګړو سر شمېرنه نه ده شوې، خو د وګړو اټکلي شمیر یې شاوخوا ۳۰ میلیونه دی، د توکم او ژبې له پلوه ګڼ شمېر توکمونه پکې میشت دي. لکه پښتانه، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، نورستاني، بلوڅ، پشه یي، پراچه یي، ایماق، هندوان، سکان، عربان او داسې نور واړه ټبرونه چې په دیریشو ۳۰ خپلواکو ژبو خبرې کوي.
زموږ د ویاړلي هېواد لومړنی نوم اریانا، بیا خراسان او وروستی نوم یې افغانستان دی، چې په تاریخي لحاظ ۵ زره کلن لرغونی تاریخ لري. ددې هېواد جغرافیه او حاکمیت کله تر ډهلي، نیشاپور، بخارا او سمرقند پورې رسېدلی. خو د افغانانو اصلي خاوره او ټاټوبی تل د پردیو تر بریدونو لاندې راغلی دی. چې د افغان مېړني ولس په سرښندنه بېرته خپلواک شوی دی. د هېوادوالو د وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتېوالي او د افغان واکمنانو ترمېنځ کورني مخالفتونه ددې لامل شوي چې د نړۍ زبر ځواکونه له حالاتو بده ګټه واخلي او په ظالمانه توګه ددې هېواد خاوره وویشي او نورو ته یې په سوغات کې ورکړي.
زما په اند ترڅو چې افغان ولس په دې سیمه کې ژوندی پاتې، دخپلې خاورې یوه لویشت به هم چا ته ورنه کړي او د چا خبره د هېواد د نومول شوي پولو په توګه ایستل شوي کرغېړنې کرښې به ونه مني. که نن وي که سبا لروبر افغانان به د یو واحد ملت په توګه سره یو ځای او ګډ ژوند وکړي. تاریخ ثابته کړه که د برلین دیوال چې جرمنیان یې په لویدځ او ختیځ جرمني ویشلي وه او په ۱۹۹۲ ز کال کې د جرمن ولس د ګډې او کلکې ارادې له امله ونړید، د افغانانو تر منځ ایستل شوي کرښې به د افغانانو له خوا ورانیږي او د لوي افغانستان د هستیدو خوب به رېښتیا کیږي. دا د هر هېوادوال هیله او ارمان دی او د خدای ج په تکیه به دا ارمان پوره کیږي.
غواړم اصلې موضوع ته دننه شم او د انګلیس او افغان د لومړۍ جګړې په اړوند چې د ۱۸۰۸نه تر ۱۸۴۲ ز کال پورې وغزیده لږ مالومات وړاندی کړم. دا مالومات د هغه کتاب په حواله وړاندې کېږي. چې نوم یې دی (دوه پېړۍ په افغانستان کې د بهرنیانو مداخله) ددې کتاب لیکونکی دیویډ لاین دی، چې د محمد جعفر هاند له خوا په پښتو ژبه ژباړل شوی.
په دې کتاب کې څرګنده شوې چې کله ۲۹ کلن ځوان انګلیس سیاستوال، مونستورټ ایلفنسټن د ۱۸۰۸ ز کال د اکتوبر پر ۱۳ مه له ډیلي نه روانېدلو، یو مهم او ستر ماموریت ته یې ځان چمتو کړی وو. ده اوریدلي وو چې د کابل دربار د لویدیز د منځلارو نظر خوښوي. له ده سره په سوغاتونو او ډالیو بار کاروان چې ٦۰۰ اوښان او ۱۲ فیلان یې لرل روان وو، دا د هغو اړیکو پیل وو چې د دوه پېړیو په لړ کې یې په اسیا کې د امپریالیستي ښکېلاکګر ځواک تر ټولو بدې ماتې ته لاره پرانیستله.
افغانستان د ستراتیژیک موقعیت له مخې پخواني هند ته ډېر ارزښت درلود، انګریزانو هم دا خبره درک کړې وه او د همدغه ارزښت په درک کولو سره وو چې ایلفنسټن دې ماموریت اجرا کولو ته اړ شو. دا ماموریت د ویلیزلي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرۍ پر هند د انګليس د پوځي واکمنۍ له ټينګولو ۴ کاله وروسته پيل شو، هغه واکمني چې ناپليون پرې سترګې ښخې کړې وې او غوښتل يې دا نوې امپراتوري له ګواښ سره مخامخ کړي او په اروپا کې د ځواک تله په بشپړ ډول پر خپل لوري کږه کړي. د سمندر په مېنځ کې په يوه بېړۍ کې له تزار الکساندر سره د ناپليون مخامخ خبرو هغه جګړه هم ختمه کړه چې نږدې ۵۰ زره پوځيان پکې وژل شوي وو، خو په بدل کې ناپليون داسې ملګرى پيدا کړ چې د ځواک زوورو څپو يې نه يوازې اروپا بلکې د نړۍ نورې برخې هم ولړزولې. برتانوي جاسوسانو داسې پټ مالومات ترلاسه کړي وو چې روسيه او فرانسه د هند د نيولو له پاره په ټيلسټ کې د ۷۰ زره پوځ د جوړولو تړون کوي. د روسيې ځمکني بريدونه او قلمرو له هند نه ډېر ليرى او د دنګو او لوړو غرونو تر مېنځ يو پېچلى موقيعت وو. خو که روسيې په مخامخ ډول له لويديځ څخه د فارس د سمندر له لارې بريد کړى وى، نتيجه به يې ورکړې وه، روسيې له ډېرو کلونو فارس يانې اوسني ايران ته ګواښ پېښ کړى وو. ناپليون د فارسيانو د نظامي او جنګي روزنې لپاره پيسې، وسلې او کارپوهان واستول، که فارس د روسيې او فرانسې ايتلاف ته نه وى ورګډ شوى، په هغه صورت که به يوازى افغانستان وو، چې پر هند د هر بريد پر وړاندې سپر او خنډ جوړېدلاى شو.

د لويديز هند د کمپنۍ يو څېړونکي جان کرو کيټ ليکلي که څه هم دغلته روانو پېښو د انګليس حکومت رنګ نشو کړاى. خو له دغو پېښو سره دوامدار خطرونه مله وو. که فرانسه او روسيه وتلې هم وى خو برتانيا پر هند د افغانستان له ممکنه بريد له اړخه ويره او انديښنه لرله، ښايي همدا لامل وو چې په لويديز کې خپل ځواکونه د سپر په ډول وساتي.

کروکيټ ليکلي د افغان د امير ځاى ناستى وروو زمان شاه د لويديز هند پر ضد د جنګي فعاليتونو د منظم کولو لپاره پارونکي او ويجاړونکي نظريات درلودل، په داسې يو پېچلي حالت کې ډېره مهمه وه چې انګليسان پوه شي چې ايا اوسنى امير همدارنګه نظريات لري که نه؟ ايلفنسټن د همدې نظر د مالومولو لپاره کابل ته واستول شو. انګليسانو دافغانانو په هکله ډېر مالومات نه درلودل، دا هغه وخت و چې افغانستان د برتانوي هند د لويديزې برخې يوه مهمه پوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بلل کېده. انگلیسان دافغانستان له جنگي تاریخه نه وو خبر، خو په دې پوهېده چې یو وخت د افغانستان یو نومیالي پاچا احمدشاه ابدالي پر ډهلي واکمن وو، چې دغه امیر د ملت د بابا په نوم یادېږي. دی د دراني قوم بنسټ ایښودونکی دی، دراني په اصل کې غوره مرغلرې ته وایي.**

**د انگلیس ډېرو سیلانیانو چې افغانستان ته یې په ۱۷۷۳ز کال کې سفرونه کړي وو، د خیبر په دره کې ور باندې مرگوني بریدونه شوي وو. فورسټر او نورو لویدیزوال چې ۱۸۰۰ز کال وړاندې افغانستان ته تللي وو، هېڅ کوم سند یا نښه نه وه پرېښې. داسې ښکاري چې ایلفنسټن د سکندر د وخت پر تاریخي مالوماتو او نکلونو تکیه کړې وه، ایلفنسټن روانه دري او هندي ژبه ویله. پر انگلیسي واکمنۍ یا امپراتورۍ د فرانسې ممکنه یرغل او د روسیې له خوا ور پېښ شوي گواښ کابل ته دده د ماموریت اصلي لاملونه وو.**

**دی د اوسني راجستان له دښتې د خپلو ټولو مالونو سره روان وو، له زیاتو ستونزو سره مخ وو، اوبه او خواړه یې نه درلودل، قبایلي مشرانو ورسره مرسته نه کوله. د دې ستونزو سره ایلفنسټن د اوسني پاکستان له لارې د ۱۸۰۸ز کال د نومبر په ۲۱ د افغانستان پولې ته نژدې شو. د مغلو امپراتور اکبر خان په ١٦ مه پېړۍ کې دغه ځای ته د پېښور نوم ورکړی وو، ددې مانا دا ده چې دا یوه پیاوړې چوڼۍ ده. پېښور پر هند د برید له پاره د دفاع دروازه بلل کېدله.**

**افغانستان په ۱۹مه پېړۍ کې یو فوق العاده مشر ته اړتیا درلوده، نه د شاه شجاع په شان کمزوري شاه ته.**

**ایلفنسټن وایي ما په پېښور کې د امیر سره لیدنه کوله خو دلته د امیر پر ضد په ښکاره ډول خبرې کېدلې، ماته مالومه شوه چې د کورنیو جنگونو احتمال شته، په سویل کې د دوو پښتنو ټبرونو ترمېنځ مرگوني جنگونه شوي وو. احمد شاه درانی له سدوزو ټبر څخه پورته شو او بل ستر ټبر بارکزي یې هم ننگه وکړه او د احمد شاه دراني پر سر یې تاج کېښود او د غنمو وږی یې ورته په تاج کې وټومبه دا هر څه د ۱۸ مې پېړۍ په مځنیو کلونو کې وو.**

**په ۱۷۷۳ز کال د احمدشاه زوي تیمور شاه مړ شو. له دې سره سم د تاج د خپلولو پر سر لانجې پیدا شوې. همدغو کشمکشونو هند، انگلیس او فارس د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان په جګړو کې ورښکېل کړل. په ۱۸۰۹ز کال د ړوند کړل شوي زمان شاه ورور شاه شجاع په پېښور کې له انګلیس استازي ایلفنسټن سره ولیدل، دا پورته څو کرښې مې په دې خاطر ولیکلې چې لوستونکي قانع شي چې ددې هېواد جغرافیه د ددوو زبرځواکونو یانې خوګ، پرنګي او ایران د پلانونو او د وخت افغان واکمنانو د واکمنۍ د نیمګړتیاوو او ستونزو له امله سره وپاشل شوه. انګلیسانو او روسانو له کورني تاوتریخوالي استفاده وکړه او د وخت حکومتونو د ډیورنډ کرغېړنې کرښې ایستل او د پنجدې له لاسه ورکول ومنل. په دې اړوند پوره زیات نظرونه او اسناد شته چې په خپل ځای به ورته اشاره وشي.**

**درنو لوستونکو! دا اړین بولم چې دلته هغه ناورین په ګوته شي چې زموږ د هېواد افغانستان سرحدونه چېرې وو او د کومو لاملونو له وجې دا بدلونونه رامنځته شول. کله چې ایلفنسټن له ډهلي څخه روانېده، اصلي موخه یې له افغانانو سره د یوه یرغلیز تړون لاسلیک کول وو. په تړون کې له افغانانو دا ژمنه اخېستل کېده، که فرانسوي سرتېري د هند په لویه وچه کې ولیدل شي، افغانان به پر فارس برید کوي. شاه شجاع لومړنی امیر وو چې د انګلیسانو سره یې داسې تړون لاسلیک کړ.**



## تشکر احمدشاه بابا:

**که ۲۷۰سال قبل افغانستان را بما هدیه نمودی! احمدشاه بابا درانی(سدوزی) وقتی می بینیم که تخمین ۴۰ میلیون مردم کپرد راکنده در چهار کشور عراق وسوریه وترکیه وایران مدت ۸۰ سال است که برای استقلال خود وتاسیس کشوری بنام کردستان مسلحانه مبارزه میکنند و در این راه بیش از ۲۰۰ هزار تن زن ومرد کرد، جان باخته اند ولی هنوز به استقلال خود**

(c) ketabton.com: The Digital Library



و تاسیس کشوری بنام کردستان دست نیافته اند، من به یاد تاسیس افغانستان و به یاد سرباز جوان ۲۵ ساله ای می افتم که هیچ مکتب حربی ویا پوهنتون نظامی را نخوانده بود، اما از هوش ونبوغ ودلیری سرشار نظامی و سیاسی برخوردار بود. او احمدخان قندهاری از طایفه سدوزی بود که از ۱۷۴۰ تا ۱۷۴۷ میلادی در لشکرکشی های نادر افشار، در رأس دسته های افغانی شرکت جسته بود واز آزمون جنگ وپیروزی سربلند بدر آمده بود. باید خدا را شکر گفت و از احمدشاه درانی(سدوزی) تشکر نمود که بعد از قتل نادر افشار توسط سران لشکر خود، او با سرباز ان افغان خود از ایران به قندهار بازگشت و بجای اینکه افراد لشکر را رخصت کند، تا هر کس پی کار خود برود او در فکر آینده مردم خود افتاد و برای نجات دایمی شان از زیر ستم بیگانه، سران لشکر افغانی را برای جرگه فرا خواند، تا یک نفر را از میان خود به حیث زعیم ملی تعیین کنند که منبعد مسؤلیت رهبری ودفاع از سرزمین افغان را بدوش داشته باشد. سرانجام بعد از هشت روز بحث ومذاکره وتبادل نظر بالاخره افغانهای شامل جرگه موفق به تعیین رهبر وتشکیل کشوری بنام افغانستان گردید. ند تاسیس افغانستان، بر ویرانه های خراسان قدیم، بعد از شش صد سال غارت و زورگوئی واجحاف، وسرکوبی مردم از سوی مهاجمانی چون: مغولان و تیموریان وبابریان هند وصفویان ایران واستبداد خشن نادرشاه افشارکه همه جا با پرپا کردن، کله منارها همراه بود، هر انسان با فهم و ملی گرا را وامیدارد تا سرتعظیم وحرمت گزاری در برابر این مرد بزرگ و دور اندیش افغان فرود آورد واز وی تشکر کند، که برای ما کشوری بنام افغانستان به میراث گذاشت. وقتی ما مبارزات وقربانی های بیشمار مردمان فلسطین و کردستان را در شرق میانه می بینیم، باید خود را خوشبخت بشماریم.

که ۲۷۰ سال قبل در همین ماه اکتوبر، با همت ودرایت فرزند دلیر ومیهن دوست این آب وخاک، توانستیم بدون راه اندازی جنگهای خونین شبیه اقوام دیگر منطقه، درسال ۱۷۴۷م دولت مستقلی بنام افغانستان تاسیس کنیم، تا بعد از آن هیچ حاکم و صوبه دار وبیگلربیگی ووالی بیگانه یی برمردم ما حکم نرانند و خود حاکم برسرنوشت خود باشیم. خود بکاریم وخود حاصل آنرا برداریم

(c) ketabton.com: The Digital Library




وخود آنرا در راه مصالح فردی واجتماعی خود بکارببریم.

براستی اگر احمدشاه بابا نمی بود، امروز کشوری بنام افغانستان نمی داشتیم که فرزندانش به نامش افتخار نمایند. احمدشاه بابا، جز سعادت و سربلندی و استقلال مردم افغانستان آرزوئی نداشت و با تحمل رنج سفرهای طولانی و قبول خطرات گونه گون حیاتی و حیثیتی، رهبر و پیشوای فداکار و شجاع افغان و فاتح میدانهای نبرد های سرنوشت ساز، برای افغانها افتخار آفرید. و هرگز به وطن خود خیانت نکرد و هموطنان خود را خوار و حقیر نشمرد. هرگز خود را بالاتر و بیشتر از هموطنان خود به حساب نگرفت.

هرگز تن آسائی ننمود و به عیش ونوش نپرداخت، هرگز از کدام قدرت خارجی دستور نگرفت و بر فرق ملت خود نگوفت. احمدشاه با آنکه تاج می گرفت و تاج می بخشید، هرگز بر سر خود تاج ننهاد. بلکه مثل سایر هموطنان خود دستار می بست و با آنان بر زمین مفروش می نمشست و به درد دل آنها گوش فرا می داد وبداد مظلومان میرسید. و مثل یک پدر مهربان باهموطنان خود برخورد می کرد و از همین جهت مردم او را «بابا» میگفتند. مورخ ودپلومات انگلیسی الفنستون مینویسد: «براستی اگر شاهی در آسیا سزاوار احترام ملت خویش باشد، جز احمدشاه کس دیگری نیست.» (الفنستن، افغانان، ترجمه فکرت، ص۳۸۱ ) سی سال بعد از گزارش الفنستن، «فریه» سیاح معروف فرانسه ای که در سال ۱۸۴٦م مهمان سرداران قندهاری بوده مینویسد: «احمدشاه یکی از پشتی بانان قوی مذهب میباشد. او به هنگام تاجگذاری، نام قبیلۀ خود را از ابدالی به درانی تبدیل میکند که معنی نجیب و قدیمی میدهد. او عنوان دردران را انتخاب میکند... سلطنت او بخاطر امتیازات، سخاوت، سادگی وسلوک معتدل او در قلب پرجلال دربار باعث میشود تمام کسانی که به او تقرب میکردند، دوست داشتنی وعالی باشد؛ او به آسانی قابل دسترس بوده و بربنیاد مساوات حکومت میکند؛ بدون اظهار یک کلمۀ درشت حتی به کسانیکه مستحق آن بودند. او یک شخص آرام و متقاعد کننده بوده و هیچ کس هرگز از قضاوت های او شکایت نمیکند. او بطور وسیعی محدودۀ امپراطوری خویش را وسعت بخشید که به هنگام مرگ او قرارذیل بود: مرزهای شمال - اکسوس و کوه های

کافرستان؛ درجنوب - بحیرهٔ عمان؛ درشرق - کوههای تبت، ستلیج واندوس؛ ودرغرب - خراسان، پارس و کرمان.» (فریه، تاریخ افغانها، ترجمهٔ سهیل سبزواری، فصل هفتم، سایت آریائی) نقشه افغانستان در ۱۷٦۲ احمدشاه بابا(۱۷۲۲-۱۷۷۳ز) احمدشاه بابا برای افغانها هویت ملی و تاریخی و سیاسی بخشید، ورنه ملت ما در زیر چکمه های استبداد شاهان و سلاطین بیگانه هند یا ایران و ماوراءالنهر، هویت ملی خود را از دست میداد. به همین دلیل هیچ نویسنده ومؤرخ با انصافی نخواهد بود، که افغانستان را میراث گرانبهای احمدشاه بابا نشمارد و به استقلال و حاکمیت ملی آن احترام ننماید و یاد آن پادشاه مدبر افغان را گرامی ندارد. پس احمد شاه بابا را باید احترام کرد، و از او بخاطر خدمات مهم سیاسی اش سپاس گزار بود و به فرزندان وطن درس سپاسگزاری از شخصیت های ملی را آموخت. روحت شاد احمدشاه کبیر!




دافغانستان نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان تاریخ له شاه محمود څخه تر امیر عبدالرحمن خان پورې

دا چې شاه محمود یو عیاش شخص وو، د لومړي ځل پاچاهۍ څخه یې عبرت وانخېست او په دویمه دوره کې یې بیا هم د هېواد چارې وزیر فتح محمد خان ته وسپارلې او د اشرف الوزراء لقب یې ورکړ، دغه وزیر د سلطنت چارې د خپلو ورونو تر منځ وویشلې، همدارنګه پېښور د شاه شجاع د فعالیت مرکز وو، کشمیر د عطا محمد خان بامیزي له خوا اداره کېده او د زیات ځواک په درلودلو سره یې د کابل د واکمنۍ خیال نه ساته.

شاه محمود په خپله هم ځان ډېر خوش نصیب ګڼلو چې د هغه وزیر دا شان سړي وو، چې د هغه تولې ضمه وارۍ یې پوره کولې. خو ځینو کسانو د وزیر فتح محمد خان سره کینه درلوده او په دې هڅه کې وو، چې د کمزوري پاچا په زړه کې ورته څه فرضي وېره پیدا کړي، چې په دې کسانو کې په خپله د پاچا زوي شهزاده کامران هم شامل وو.

دا چې رنجیت سنګ د اټک د لاسته راوړلو له پاره هڅې کولې، نو د یو لړ اقداماتو په لړ کې شاه شجاع د پېښور څخه لاهور ته پناه یوړه او کشمیر یې د فتح خان ورور محمد اعظم خان ته وسپارلو، رنجیت سنګ د کشمیر په معامله کې پاتې راغی، خو په (۱۸۱۳ز) کال د جولایي په دیارلمسه سکانو د افغانستان ختیځه دروازه ونیوله. په (۱۸۱٦ز) کال کې معاملاتو خطرناک شکل غوره کړ او هلته د فتح خان د ورتګ پاملرنه اړینه شوه، په هرات کې د شاه محمود خان ورور حاجي فیروز الدین خودمختاره واکمني وه، خو کله چې د ایران پاچا د خپل ولیعهد په ماتحتۍ کې د هرات د نیولو په اړوند یو ستر فوځ مشهد ته راولېږه او غوښتل یې چې پر هرات یرغل وکړي، نو په دې وخت کې فیروزالدین د شاه محمود نه مرسته وغوښتله او هغه خپل وزیر فتح محمد خان د (۳۰۰۰۰) سربازانو سره هرات ته واستوه او ایرانیان یې شاتګ ته اړ باسل، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دوران کې بيا دوست محمد خان د فيروز الدين د کور د ښځو بې عزتي وکړه او د هغه د يوې انړور څخه د سر لوپټه هم لرې کړه، چې هغه د کامران خور کېدله او کامران له پخوا نه فتح محمد خان سره کينه لرله، په پايله کې د شاه محمود په لارښونه چې شاه زمان يې هم ړوند کړی وو، وزير فتح محمد خان يې هم په (۱۸۱۷ز) کال کې د کامران په واسطه د هرات په پاچاهي بڼ کې په سترګو ړوند کړ، چې له دې سره د ټولو پښتنو د بې عزتۍ بنسټ کېښودل شو او د افغانستان په ټولو ولايتونو کې د کشمير څخه تر هرات پورې عمومي پاڅونونه شروع شول، په دې دوران کې د کامران، شاه محمود او فيروز الدين تر منځ هم جګړه وشوه، بالاخره شاه محمود مشهد ته ولاړ او د ايران له حکومت سره يې پناه واخيسته.

## د ګډوډۍ يا انارشيزم دوره:

د تيمور شاه د مرګ (۱۷۹۳ز) کال نه وروسته تر (۱۸۱۷ز) کال پورې چې په دغه کال کې د وزير فتح خان د مړينې افسوسناکه پېښه شوې وه، دغه ټول کلونه د پښتنو په تاريخ کې د شاهي کورنۍ د سازشونو او د تخت کېناستلو د جنګونو تاريخ دی او دغه زمانه د افغانستان له پاره د پاچا ګردۍ زمانه وه. چې ددې نه سکانو او انګرېزانو ګټه واخېسته او د همدې کورنيو جګړو په وجه ايران هم په پښتنو زړور شو، کله چې وزير فتح خان په ډېرې بې رحمۍ سره ووژل شو، نو دغې کورنيو جګړو نور هم ډارونکې شکل غوره کړ، چې په هغې وخت کې دې جنګونو د سدوزيو او محمد زيو تر منځ د تخت کښېناستلو حيثيت پيدا کړ. څرنګه چې په پوپلزيو کې سدوزي يوه څانګه ده، همدارنګه په بارکزيو کې محمدزي يوه څانګه ده، د فتح خان د وژلو نه وروسته د هغه شل ورونه ژوندي وه او هر يو د خپل ورور د بدل اخېستلو ته تيار شول او پاڅونونه يې پيل کړل، بالاخره شاه محمود او کامران هرات ته په تېښته اړ شول، سردار محمد عظيم خان چې د کشمير حکمران وو، خپلو ورونو ته يې لازمي لارښوونې وکړې، دوست محمد خان يې د پېښور څخه کابل په لور مؤظف کړ، همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدزیو مشرانو او د هغو پلویانو ته یې لیکونه واستول، په پیل کې محمد عظیم خان غوښتل چې له سدوزیو څخه شاه شجاع په پاچاهۍ ومني، خو په همدې وخت کې سردار دوست محمد خان شهزاده ایوب ځاځی د خپل لورې څخه په پېښور کې په پاچاهۍ وګماره، کله چې شاه شجاع د پېښور نه راورسېده، نو ایوب ځاځی یې ونیوه، دوست محمد خان، شاه محمود خان او د هغه زوی کامران غزني ته په تېښته اړشول او سمدستي د دوست محمد خان له خوا د سدوزي زمان شاه زوی سلطان علي شاه په کابل کې په پاچاهۍ غوره شو او خپل ځان یې د هغه وزیر وټاکه، په همدې وخت کې محمد عظیم خان د تیمور شاه د زوي شهزاده ایوب سره کابل ته داخل شو او دغه شهزاده یې د کابل په پاچاهۍ وټاکه او خپل ځان یې د هغه د وزیر په حیث اعلان کړ، چې دا دواړه پاچاهان په یو وخت کې په کابل کې اوسېدل.

دا کار د هغه متل پر ضد دی چې وایي: په یوه سیمه کې دوه پاچاهان نه ځایېږي، نو د (۱۸۱۸ز) نه تر (۱۸۲۴ز) کلونو پورې زمونږ دوه پاچاهانو په یوه هېواد کې څه چې د یوه ښار څنګ په څنګ ماڼیو کې ژوند کاوه. په دې کې شک نشته چې د سدوزیو پاچاهانو چې د بالاحصار ماڼۍ په دوو کنجونو کې څنګ ترڅنګ پر تخت ناست و، کوم واک یې نه لرلو، خو یوازې په نوم یې پاچاهي کوله او رېښتینی واک د هغوي د وزیرانو په لاس کې و، چې د یو بل د له منځه وړلو هڅه یې کوله. ان تردې چې سلطان علي شاه د ایوب شاه د زوی شهزاده اسمعیل په لاس په بالاحصار کې زندۍ شو او سردار محمد عظیم خان له خپل ټاکلي پاچا سره څه موده واکمني وکړه. د هېواد په ختیځ او لویدیځ کې یې تر سند او پېښوره تر مرګه فوځي سفرونه وکړل او زوی یې حبیب الله خان دده پر ځای وټاکل شو، چې دا یو بې کفایته سړی وو او د شهزاده ایوب وزیر شو. د بارکزیو ورونو په منځ کې سردار دوست محمد خان د نورو ورونو څخه میدان وګاټه او د هېواد سیاسي صحنې ته داخل شو، وروسته د کندهار بارکزیو سردرانو څخه پردل خان کابل ونیوه، د بالاحصار په جنګ کې شهزاده اسمعیل ووژل شو او پلار یې ایوب شاه بندي شو. په پای کې د یو لک روپیو رشوت په ورکولو سره زمان خان بارکزي دا وروستی د زقوم ګل پنجاب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورساوه او په دې توګه د سدوزيو کمبله ورټوله شوه.

په دغې ملوک الطوايفي واکمنيو کې د سدوزيو څخه بارکزيو ته واکمني انتقال شوه، دغه د سدوزيو د دورې زوال او د بارکزيو رامنځته کېدل، کولی شو چې د يوې انتقالي دورې په نوم يې ياد کړو. په تاريخ کې دغه د انتقال دوره د افغانستان د بدبختۍ دوره ده. ځکه چې په دغه دوره کې هېچا رېښتينی واک نه درلود. بارکزيو ورونو ددې پر ځای چې کمزوري سدوزي شهزاده ګان له منځه يوسي او له خپل مېنځ څخه مناسب شخص په پاچاهۍ وټاکي، خو دا کار يې ونه کړ او هر يو يې د پاچاهۍ هيله لرله، هماغه وو چې د ګډوډيو، کورنيو جنګونو او بارکزيو ورونو نفاق شروع شو او بهرنيانو ته يې وخت برابر کړ، ترڅو د هېواد ولايتونه يو پر بل پسې د افغانستان څخه بېل کړي خو کله چې سردار دوست محمد خان د کابل واکمني لاسته راوړه، د هغه د واکمنې ساحه کابل، غزني او کوهدامن پورې محدوده وه. د دوست محمد خان په دولس کلنه واکمنۍ کې د بارکزيو قواوې په کابل کې په دريو افغاني مرکزونو کې يانې پېښور، کابل او کندهار کې ويشل شوې وې.

سکانو په (۱۸۳۲) ز کال کې پېښور اشغال کړ او په عين وخت کې شاه شجاع د انګرېزانو په مرسته په کندهار د يرغل کولو تياري نيولو. بالاخره په (۱۸۳۳) زکال کې شاه شجاع په کندهار يرغل وکړ او ماتې يې وخوړه، په هر حال د دوست محمد خان په دولس کلنې واکمنۍ کې د ګډوډۍ دوره پای ته ورسېده او د امير دوست محمد خان د امارت د پيل سره د هېواد په تاريخ کې نوې دوره رامنځته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امیر دوست محمد خان لومړی ځل امارت

(۱۸۳۴ ـ ۱۸۳۹ز)کال:

دوست محمد خان د پاینده محمد خان په زامنو کې یو داسې سړی وو، چې د سدوزیو د سلطنت ډېرې ټوټې هغه بیا راغونډې کړې او د نورو د راغونډولو په تکل کې لګیا وو. د سکانو نه د پېښور د ستنولو لپاره ډېر ځواک او په خپل مېنځ کې د پوره یوالي او ورورۍ اړتیا وه خو د دوست محمد خان ورونه دې ته تیار نه وه.

دوست محمد خان د خپلو ورونو د کینو او حسد نه خبر وو. هغه پوه وو، که زه د پاچا نوم پر ځان کېږدم، نو ورونه به مې په زغرده مخالفت وکړي، سره ددې چې د غزني، کوهستان، کابل او جلال آباد سیمې د هغه په واک کې وې، خو تردې وخته یې خپل ځان ته پاچا نه ویلی او نه یې ویلو ته تیار وو. خو د وخت غوښتنه وه، د ډېر غور او فکر نه وروسته د عالمانو په سلا هغه په کال(۱۸۳۴)زکال کې د امیر المؤمنین لقب ورکړل شو او د خپل ریاست د انتظام په لوري یې پاملرنه وکړه. د هغه لومړی کار دا وو چې د کومو واکمنانو په دینداری کې یې شک وو، هغوي یې د خپلو دندو نه لرې کړل او پر ځای یې خپل زامن پر دندو وګمارل.

امیردوست محمد خان په لومړي سر کې د پېښور د بېرته نیولو په مامعله کې له انګرېزانو څخه هیله درلوده، خو وروسته یې هیله وشلېدله او د خپلو متو په زور یې د پېښور د فتح کولو اراده وکړه، په (۱۸۳۵) ز کال کې یې د سلطان محمد خان په مشرۍ کې (۱۰۰۰۰) پوځ په دې غرض ولېږه او په خپله هم ورپسې روان شو. رنجیت سنګ د سکانو والي چې د امیر دوست محمد خان د لښکر کشۍ نه خبر شو، هغوي سره وېره پیدا شوه او هوډ یې وکړ چې د سولې له لارې کار واخلي او د امیر دوست محمد خان او سلطان محمد خان تر منځ بې اتفاقي پیدا کړي. نو یو هیئت چې فقیر عزیزالدین او جنرال هارلان څخه وو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان محمد خان کمپ ته يې ولېږلو او د هغوي موخه د دواړو ورونو ترمېنځ نفاق پيدا کول وو. بالاخره سلطان محمد خان د (۱۰۰۰۰) فوځ سره د دوست محمد خان نه بېل شو او د سکانو په طرف شو، چې په مقابل کې يې د رهتاس کلا حاکم کړ، د ورور د خيانت له امله امير دوست محمد خان بې له جنګه کابل ته راستون شو.

اميردوست محمد خان د (۱۸۳٦) زکال په پسرلي کې جنرال لارد اکلينډ چې د هندوستان والي وو، ورته يو ليک واستاوه او په ليک کې يې هغه ته د دندې مبارکي وويله او په څنګ کې يې د پېښور د نيولو سلا ورڅخه وغوښتله، لارد اکلينډ ځواب ورکړ، چې د انګريز موخه په هند کې د تجارت پرمختګ دی او نورو هېوادونو په داخلي چارو کې لاسوهنه نه کوي، خو زه به يو افسر په تجارتي معاملاتو کې د خبرو اترو کولو لپاره درواستوم. دلته اصلي خبره دا وه، چې په پېښور باندې د دوست محمد خان واکمنېدل، د رنجيت سنګ په نسبت انګريزانو د ذاتي فايدې لپاره ډېر خطرناک ګڼلو. له دې کبله هغوي د پېښور په مامعله کې د بې پرې پاتېدو بهانه وکړه.

دا چې پېښور سکانو نيولي وو، امير دوست محمد خان دا نشو زغملای، بل طرف ته هري سنګ په جمرود کې د يوې کلا نيولو هوډ وکړو او دا يې نيت وو چې په کابل يرغل وکړي، امير دوست محمد خان چې د هغه د هوډ نه خبر شو، نو د خپل زوی محمد اکبر خان په مشرۍ يې په پېښور باندې د يرغل په موخه خپل فوځونه واستول، دې فوځونو په (۱۸۳۷) زکال کې د مۍ په لمړۍ نېټه د جمرود په سيمه کې په سکانو يرغل وکړو، په دې جنګ کې هري سنګ د نن ورځې اسلاميه کالج سره نږدې چې دا برج هري سنګ په نوم سره مشهور دی، سخت ټپي شو او له همدې ټپونو څخه مړ هم شو.

محمد اکبر خان د سکانو پسې مخې ته ولاړو، خو سکانو هم په ډېر زور سره د هغه مقابله وکړه، همدغه وجه وه چې هغه نه د پېښور او نه د جمرود په نيولو کې کامياب شو او بېرته جلال آباد ته ولاړ. د جمرود د جنګ نه وروسته داسې اسباب پيدا شول، چې د هغې په پايله کې د افغانستان په لومړي جنګ کې راووتله، د سدوزيو سرمايې دارالخلافې (پېښور) د سکانو په واک کې د ورتلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجه د دوست محمد خان په زړه کې داسې زخم جوړ شوی وو، چې هغه به هر وخت تازه وو، په دغو ورځو کې ایرانیانو هم په هرات باندې د یرغل کولو تیاری نیوله، بالاخره (۱۸۳۷)ز کال کې یې په هرات برید وکړ او ښار یې کلابند کړ.

## د هرات کلابندي:

په هرات باندې د ایراني فوځ کلابندي په ۲۳ د نوامبر ۱۸۳۷ز کال کې پیل شوه او تقریباً نهه میاشتې یې دوام وکړو. ایرانیانو له ډېرې مودې نه د دې انتظار ایستلو چې دغه ولایت په خپل سلطنت کې شامل کړي خو بریا یې نه وه موندلې. ایران د هرات دې یرغل ته د روس په اشاره پاریدلې وو. ایراني فوځ د ۴۰۰۰۰ تنو په شمېر د هرات د یرغل په موخه راروان شو. د هرات په حکومت کې د دې یرغل توان نه وو نو هغوی په ښار کې بند شول. په دغه وخت کې د هرات واکمني د شاه محمود زوی کامران په لاس کې وه او یار محمد خان د هغه وزیر وو چې پدې جنگ کې یې د ډېر ځواکمن مورال او زړورتیا نه کاراخېستي وو. د فیریر د وینا مطابق د هرات د نیولو لپاره درې اونۍ کافي وې، ولې ایراني فوځ نهه میاشتې د هرات نه چاپېره پروت وو او هرات یې فتح نه کړو چې غټ لامل یې د پښتنو خپل شجاعت او خپلواکي ښودل شوې ده. د هرات د کلابندۍ په وخت کې یو انگریز افسر هم په هرات کې موجود وؤ د دې انگریز نوم کپتان پاټنجر وو، په دې محاصره کې به دې افسر هم د پښتنو سره مرسته کوله دغې شخص چې په کلابندۍ کې یې د یو سیاح حیثیت درلود، ولې په حقیقت کې دې د هندي حکومت د یو هندو طبیب په جامه کې د کلا بندۍ نه مخکې هرات ته لېږلي وو چې محصورینو سره یې اوږه په اوږه کار کولو.

د هرات په دې کلا بندۍ کې یو لور ته د جنگ په میدان کې ایرانیانو او پښتنو خپلې وینې تویولې او په بل لور د انگریزانو او روسانو ترمنځ سیاسي جنگ پیل شوی وو. انگریزانو ته دا معلومه وه چې د ایران په پارولو او د هرات برید ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمسولو کې د روس لاس دی. خو انګریزان په څرګنده د روس مخالفت ته چمتو نه وو او په دې هڅه کې وو چې په سفارتي ذریعو سره په ایران دومره زور واچوي چې ایران دا کلابندي اوچته کړي خو د انګریزانو دا هڅې به د روسي سفارت له خوا بې نتیجې ثابتې شوې. اخر انګریزانو په ایران د یرغل کولو اراده وکړه. کله چې د ایران حکومت د دوی په موخه باندې پوه شو نو په هرات باندې یې د یو فیصله کوونکي یرغل اراده وکړه او په ۲۴ د جولایي ۱۸۳۸ز کال کې یې یو ویرونکی برید وکړ چې په مقابل کې افغانانو د ژوند تر اخري سلګۍ پورې د جنګېدلو هوډ وکړ، چې په زړورتیا او پراخه سینه یې دا یرغل وزغملو، دا یرغل د ایران اخري غشی وو چې خطا لاړ. ددې نه وروسته ایران د کلابندۍ په اوچتولو اړ شو چې دا کلابندي په ۸ سپتمبر ۱۸۳۸ز کال کې ختمه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم څپرکی

# د افغان او انگریز لومړۍ جګړه

کله چې دروسي واکدارانو وغوښتل چې په منځنۍ اسیا کې خپل واکمني خورولو ته پراختیا ورکړي، انگریزانو ته د خپلو ګټو خوندي کېدو ویره په زړه کې وه، نو انگریزانو دا پرېکړه وکړه چې د افغانستان په تخت دې یو داسې شخص کښېنولی شي چې د هغه اړیکې د انگریزانو او سکانو دواړو سره ښې وي.
امیر دوست محمد خان د پېښور دوهم ځل لاسته راوړلو څخه بغیر د انگریزانو سره ملګرتیا ته تیار نه وو، نو جنرال لارډاکلینډ دا غوره وګڼله چې د بارکزي سردار دوست محمد خان په ځای دې سدوزي شاه شجاع د دوهم ځل لپاره د افغانستان واکمن شي، ځکه چې شاه شجاع په ۱۸۳۳ز کال په خپله خوښه د رنجیت سنګ سره د اباسین سیند نه په قبله د جمرود پورې سیمې څخه د لاس اخېستلو اقرار کړی وو چې بلاخره د همدې تړون په اساس شاه شجاع د انگریزانو فوځ سره د بلوچستان په لار کندهار ته ولاړ او په ۱۸۳۹ز کال د اپریل په ۵ مه د کندهار په ښار ورننوت. د کندهار سردارانو د هغه مقابله ونه کړله او ایران ته په تېښته لاړل. د ښار خلکو د بې وسۍ څخه د شاه شجاع حکومت ته غاړه کېښوده او د شاه شجاع د پاچا کېدو اعلان وشو. خو خلکو ته دا معلومه وه چې شجاع د یو پردي حکومت په زور ځان پاچا کړی دی. په همدې اساس د خلکو په زړونو کې د هغه قدر او ارزښت ډېر کم وو. د انگریزانو فوځ د جون تر ۱۷ مې ۱۸۳۹ز کال پورې په کندهار کې تم وو.
په دغه وخت کې د فوځ بله برخه هم د دوي سره یوځای شوه او رنجیت سنګ هم په دغه ورځ مړ شوی وو. له دې وروسته انگریزانو او شاه شجاع د غزني د نیولو په لور روان شول، په غزني کې د امیر دوست محمد خان زوی غلام حیدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان حاکم وو. د غزني مضبوطه کلا د رشوت په زور سره فتح شوه، د بارکزيو ډېر اميران د دوست محمد خان څخه په شا شوې وه او دوست محمدخان هم د خپلو ملګرو په حالاتو ښه پوه وو نو مخکې له دې چې انګريزان او شاه شجاع د کابل خاورې ته داخل شي امير دوست محمد خان د کابل څخه وتلی وو. د انګريز د فوځ په مرسته شاه شجاع يو ځل بيا د افغانستان پاچا شو او په بالاحصار کې يې استوګنه اختيار کړه. امير دوست محمد خان د کابل څخه د باميان په لور ولاړ او د باميان څخه د بخارا په لوری يې خپل سفر ته ادامه ورکړه او دوه زامن يې محمد اکبر خان او محمد افضل خان هم ورسره وه.

دا چې د افغانستان ميړنې او مسلمان ولس په دې پوه شو چې افغانستان انګريزانو نيولی دی، نو ملي پاڅون يې پيل کړ. ددغه پاڅون علت د بې وسه پاچا څخه د خلکو کرکه، د نرخونو لوړېدل، پر عوامو باندې د اضافي مالياتو تحميلول او د خلکو عمومي ناخوښي وه. کله چې ملي پاڅون پيل شو خلکو د کابل - کندهار او کابل - جلال آباد لارې د انګريز پرمخ وتړلې او په کابل کې هم د انګريز پروړاندې فعاليتونه ښکاره شول. ملي مشرانو او زړورو افغانانو دانګريزانو پرخلاف جبهو کې د منظم کېدو او سوق کولو په خاطر ۱۲ نفري شورا جوړه کړه چې په دې شورا کې نواب زمان خان د رئيس په توګه او امين الله خان لوګری د نايب په توګه وټاکل شول. دغه پلان د عبدالله خان اڅکزي په کور کې جوړ شو، د همدې شورا په لارښونه کابل کې د۱۸۴۱زکال د نوامبر په دوهمه نېټه عمومي پاڅون وشو چې خلکو په تشو لاسونو سره پر انګريزانو باندې ورتوی شول، برنس يې ووژلو او د هغه کور ته يې اور واچولو، چې د لمبو اوغرغنډو ننداره يې شاه شجاع، مکناټن او الفنستن له بالاحصار، شيرپور او سياسنګ څخه کوله. هيڅا اور مړ نه کړای شو د برنس سترګې دبالاحصار ځواکونو ته وې چې کپټان کمپل ديوه غونډ په مرسته رامنځته شو خو هغه هم ختم شو او توپونه يې د غازيانو لاسته ورغلل او ملي پاڅون کوونکو د کابل ښار په زړه کې وياړلې برياوې ترلاسه کړې.

له بله پلوه امير دوست محمد خان چې بخارا ته تښتېدلی وو، ددې مناسب وخت په ليدو سره له بخارا څخه راغی او اوزبکان ورسره يوځای شول، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمنګان کې د انګريزانو سره وجنګېد، انګرېزانو ماتې وخوړه. دوست محمد خان کوهستان ته ولاړ، چې په دغې وخت کې دکوهستان او کوهدامن خلکو هم د انګريز پرضد پاڅون پيل کړی وو چې مشري يې ميرمسجدي خان کوله. دوست محمد خان او د کوهستان خلکو په ۱۸۴۱ز کال د نوامبر په دوهمه نېټه لوی جنګ وکړ، چې انګريزانو په کې ماتې وخوړه، خو امير دوست محمد خان له دومره برياوو سره بيا هم په جنګ کې په ناڅاپي ډول په نامعلومه لار خپل ځان د کابل بالاحصار ته ورسولو او د انګريز سفير مکناټن ته تسليم شو چې له يوې مودې وروسته د خپلې کورنۍ سره دهند کلکتې ښار ته واستول شو. په دې حال کې د امير دوست محمد خان زوی له بخارا څخه کابل ته راغی، د جهاد مشري د نواب زمان خان پر ځای محمد اکبر خان ته وسپارل شوه، نو له دې سره د افغانانو مورال نور هم غښتلی شو.

د انګريز پر مخ ټولې لارې تړلې شوې وې غير له افغانستان څخه د وتلو بله هېڅ چاره نه وه. دا چې مکناټن د چل او فريب څخه کار اخېستلو، د محمد اکبرخان له خوا ووژل شو، چې له دې وروسته انګريزان ماتې ته مجبور شول او په ٦ د جنورۍ ۱۸۴۲ز کال يې د تخليه کولو کار پيل کړ.

د جنرال الفنستن په لارښوونه د کابل ښار څخه ووتل. لومړۍ شپه يې په بګراميو سيمه کې دوهمه شپه يې په بتخاک کې وه، کله چې د انګريز پوځ د جلال آباد په طرف حرکت وکړو د قبايلو د حملو لاندې راغلل. د ۱٦۰۰۰ تنو پوځ څخه يې يواځې ډاکتر برايډن هغه هم نيم ژوندی جلال آباد ته ورسيد او د انګريز د لښکر د تباهۍ خبر يې جنرال سيل ته چې په جلال آباد کې و، ورسولو. له دې وروسته ځينو افغاني ځوانانو د شاه شجاع د وژلو تصميم ونيولو، بالاخره د شجاع الدوله د نواب زمان خان زوي له خوا ووژل شو او د خپل پلار سره يې په تيمور شاهي کې ښخ کړ.

د شاه شجاع له مړينې څخه وروسته د هغه دوه زامن په کابل کې وو، چې شهزاده شاهپور يې په بالاحصار کې او شهزاده فتح جنګ يې په ده خدايداد کې وه. د نايب امين الله خان لوګري له خوا فتح جنګ په پاچاهۍ وټاکل شو، چې پرته د نواب زمان او پلويانو يې چې په دې کې د روحانيونو مشر مير

(c) ketabton.com: The Digital Library



درویش هم وو، نورو ټولو ورسره لاس نیوی وکړ. نواب زمان خان ورسره ځکه مخالفت وکړ، چې فتح جنګ هم د پلار په شان د پردي پالنې له امله د پاچاهۍ وړ نه دی چې په دې جریان کې فتح جنګ خپل ورور شهزاده شاهپور د نواب زمان خان د ارامولو له پاره وروليږلو، نواب زمان د هغه سره وجنګېد، نوموړی یې د کابل بالاحصار پورې په شا وتمباوه. په دغه وخت کې محمد اکبر خان له جلال آباد څخه کابل ته راغی او له امین الله خان لوګري سره یې د یوې مفاهمې په ترڅ کې سوله وکړه او هغه یې د فتح جنګ سره له همکارۍ څخه لرې کړو او پر فتح جنګ یې ډیر فشار راوستلو، ترڅو چې فتح جنګ محمد اکبر خان ته د وزارت وړاندیز وکړ. محمد اکبر خان چې له پېښور څخه د جنرال پالک او د کندهار څخه د کابل په لوري د جنرال نات له حرکت څخه خبر شوی و، نو مصلحت یې په دې کې ولید، چې د کابل له خوا خپل ځان ارام کړي، نو د فتح جنګ وړاندیز یې ومنلو او له هغې وروسته په وزیر محمد اکبر خان مشهور شو.

فتح جنګ په پټه د جنرال پالک سره اړیکې ټینګې کړې، وزیر محمد اکبرخان چې له دې اړیکو څخه خبر ترلاسه کړ، نو فتح جنګ یې بندي کړ او ځان یې جنرال پالک ته ورساوه، خو جنرال پالک کابل ته را روان شو او د کابل په لوري یې لښکر کشي وکړه، وزیر محمد اکبر خان د بامیانو په لور په شا ولاړ او فتح جنګ په ۱۸۴۲ز کال د سپتمبر په ۱٦ بیا د انګریزانو بیرغ په سیوري کې په بالاحصار کې په تخت کښېناست. په دغو وروستیو ورځو کې یوازینی سړی چې له انګریزانو سره اړم وو، هغه نایب امین الله خان لوګری وو چې د استالف په غونډیو کې یې مورچې جوړې کړې وې. په هر ترتیب د فتح جنګ دویم ځل ناسته دومره ونه غځېده، ځکه میاشت وروسته انګریزي ځواکونو له کندهاره د راغلیو ځواکونو په ګډون کابل پرېښود او فتح جنګ هم ورسره ووت او د افغانستان خاوره له پردیو او پردي پالو څخه پاکه شوه.

په نړۍ کې دا ازمایل شوې ده چې په جنګ، زور او شور دا مېړنی او بریالی ولس د وهلو نه دی، ځکه یې استعمارګر تل په جګړو کې بوخت ساتي، چې پوهې، ښوونې او روزنې ته یې پام نه شي، اوس د دنیا پاچاهي په توره نه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلم ده او کله چې قلم نه وي نو توره به خامخا له تیکې نه رابهر کېږي.

موهن لال چې د امیر دوست محمد خان د ژوند په حالاتو یې یو کتاب لیکلی او د انګریزانو له خوا هم تأیید او تقدیر شوی دی، پر افغانستان باندې د انګریزانو د یرغل او د لارډ اکلینډ او مکناټن اشتباهات په دې ډول بیان کړي دي.

- د ملي مشرانو سره د هغوی مخالفت او بې احترامي کول.
- اداري فسادونه زیاتیدل او د امرینو بې تفاوته پاتې کیدل.
- د افغانستان په لرو او محدودو عایداتو باندې د یوې لویې اردو لګښتونو تحمیلول.
- د بارکزیو مشرانو بیا میشته کول او هم د هغوي احترام نه ساتل.
- د یو ملت د روحیاتو او عنعناتو سره تصادم او بې اعتنایي کول.
- د پاڅون په وخت کې له هند څخه سمدستي مرسته نه غوښتل.
- د لارډکین په ځای د یو بل نالایق جنرال الفنستن ټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې لویه لوبه

**د لویې لوبې اصطلاح انگریزانو په ۱۸۴۰ز کال کې د برتانوي هند د بې ثباته شمال لویدیځ سرحد په شاوخوا کې د روس او بریتانیې ترمنځ د جاسوسې او نظامي فعالیتونو د څرگندونې لپاره رامنځته کړې وه.**
**د ۱۹م پېړۍ په وروستیو کې ددې اصطلاح لمنه لاخپره شوه، یوازې د برتانوي هند په شمال لویدیځ پوله کې د سیاسي او استخباراتي فعالیتونو لپاره نه بلکې د هندوستان او روسیې ترمنځ د ټولې ساحې لپاره چې افغانستان هم په کې شامل وو په کار شوه.**
**ددې لوبې ساحه د لندن څخه تر سنت پترسبورگ پورې او له هغه ځایه بیا تر استانبول او کلکتې پورې چې سمندرونه، غرونه، بیدیاوې او ښارونه په کې رانغاړل شوي وو، غزیدلې وه.**
**دوهمه اصطلاح د دیبي گامونو (د یواسا قدمونو) ده چې دا د روسانو هغې ملنډې ته ویل کیدله چې په سنت پترسبورگ کې یې د نیوا له غاړو څخه پر مرکزي آسیا راځغاستل او د قفقاز تر اشغال وروسته یې د مرکزي آسیا پراخې سیمې تر خپلې سینې لاندې هوارې کړې.**
**روسانو د پتر کبیر(١٦٨٢ز –۱۷۲۵ز) له وخته تودو اوبو ته د رسیدو تمه او تلوسه درلوده. په ۱۸۰۷ز کال کې د فرانسې د امپراطور ناپلیون او د روس امپراطور لومړي الکساندر ترمېنځ په تلست کې یو تړون وشو، ددغه تړون له مخې دواړو خواوو موافقه وکړه چې پر هندوستان باندې د یرغل لپاره به یو له بل سره همکاري کوي.**
**له افغانستان سره د مسکو دلچسپي په ۱۸۳۷ز کال کې هغه وخت له پردې څخه راووتله چې په فارس کې د روس پلوه پوځې ځواک د هرات د نیولو کوښښ وکړ، هغه وخت د ایران حکومت د روسانو تر نفوذ لاندې راغلی وو. د ایران په هغه پوځ کې چې هرات ته یې مخه کړې وه، روسي مشاورین حتی مذهبي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبلغین شامل وو. د برتانیې وېره دا وه چې هسې نه د فارس او روسیې ګډې هڅې د هرات ښار تر کنټرول لاندې راولي او ورسره د کندهار ښار هم تر تهدید لاندې ونیسي، دغه حالت په فارس کې د برتانیې سیاسي نماینده په لنډ ډول داسې بیان کړی دی.

د روسیې قونسل په هرات کې ځان ته استوګنځی ټاکلی دی، د افغانستان په اړه پټ او ښکاره مالومات راټولوي او خپلې اړیکې ټینګوي، په هر صورت په هرات کې د دوو زبر ځواکونو دا ډول لاسوهنې د هغو سیالیو پیلامه وګرځېدې چې په ۱۹مه پېړۍ کې د برتانیې او روسیې ترمنځ روانې وې. دا چې ددې ګامونو په مخ کې په اقتصادي لحاظ یو بې وسه او کله کله ټوټې ټوټې افغانستان پروت وو، خو بیا هم همدغې بې وسې افغانستان، هندوستان ته د رسیدو له پاره روسانو ته یوخنډ او بندیز هم وو.

روس او انګریز له ۱۸۳۷ز کال څخه تر ۱۹۰۷ز کال پورې پوره اویا کلونه افغانستان د خپلو سیالیو ډګر ګرځولی وو. روسانو غوښتل چې په دې لوري خپلې پښې را اوږدې کړې. په مقابل کې یې انګریزانو هڅه کوله چې د دوی د مداخلو مخه ونیسي او پرې نږدې چې روسي ځواک د هند تر نیمې قارې راورسېږي.

په هرات کې د روس د مداخلې څخه تقریباً یوه لسیزه وروسته د دواړو زبرځواکونو ترمنځ په افغانستان کې کومه شخړه نه وه، خو تردې مودې وروسته دواړو خواوو بیا خپله لوبه پیل کړه چې په دغه وخت کې د افغان او انګریز لومړنۍ جګړه په افغانانو تحمیل شوه او له دې جګړې څخه د انګریزانو مطلب دا وو چې په افغانستان کې خپل یو داسې وفادار سړی په تخت کښېنوي چې هغه د روسانو له نفوذ سره مخالفت ولري. که څه هم چې انګریزانو په دې جګړه کې شرمیدلې او له کړاو څخه ډکه ماتې وخوړله، سره له دې هم دوی په دې جګړه کې خپلې یوې موخې ته ورسېدل، هغه دا چې واک امیر دوست محمد خان ته په لاس ورغی او ده وکولی شول چې د روسانو د هیلو خلاف د افغانستان په شمالي، سویلي او ختیځو ولایاتو کې یووالی تأمین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امیر دوست محمد خان دوهم ځل امارت

امیردوست محمد خان د وزیر فتح خان په ټولو ورونو کې زړور، عادل او د پوهې خاوند وو، په ډېرو جنګونو کې یې د یو تکړه جرنیل او سیاست پوه په ډول خپل ځان څرګند کړی وو. په خوی بوی کې د ښو اخلاقو خاوند په خبرو اترو کې مهربان د لویانو عزت کوونکی او په کشرانو مینه ناک وو، ددې صفاتو په درلودلو سره هغه د ټول قام خوښ وو. کله چې په کال ۱۸۴۲ز کال کې د برتانیې مقامي جنرال ولیم ایچ مکناټن ووژل شو، د کابل خلکو د انګریزانو ګوډاګی شاه شجاع هم ووژلو، ځکه چې انګریزانو د ځان سره راوستی وو او د کابل په تخت یې کښېنولی وو. له دې وروسته چې انګزیزانو خپله ماتې ومنله، نو د هندوستان برتانوي واکمنانو کابل ته د امیر دوست محمد خان بېرته لېږل ومنل، دوست محمد خان یو ځل بیا په ۱۸۴۳ز کال کې د واک پر ګدۍ کښېناست.

امیر دوست محمد خان د دویمې دورې په دوران کې د پخواني دښمنانو یعنې سکانو په ملګرتیا د هغه او د برتانوي لښکر ترمنځ یوازې یوه نښته پېښه شوې وه، دې څخه پرته بله کومه غټه پېښه نه وه شوې. امیر په دې وخت کې د سیاسي حساسیتونو څخه ډېر ښه خبر وو او دا یې درک کړې وه چې د هغه د واکمنۍ ګټه په دې کې ده چې نور د روسیې څخه لاس واخلي او تر څه وخت پورې د آباسین لویدیځ ته د لاسه څخه د وتلو سیمو د بېرته اخېستلو اراده هم وځنډوي. په هغه وخت کې دغه سیمې د سکانو څخه د برتانیې سترښکیلاکګر ځواک نیولې وې او په خپلې امپراطورۍ کې یې شاملې کړې وې. خو د افغانستان وروستنیو واکمنانو په هغو سیمو کې چې د افغانانو وینه او ګډ خپلوان په کې ژوند کوي، خپله ادعا پرې نښوده. دا دعوه د افغانانو له پاره دومره مسئله جوړه شوه چې په راتلونکو کلونو کې یې د افغانستان د باندنیو اړیکو مخه ټاکله.

دا چې امیر دوست محمد خان په دوهم ځل امارت کې په ملي مبارزینو تکیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او باور ونه کړ او هيواد يې پر خپلو زامنو وويشه، د خپلو ګڼو ورونو د مقابلې او جګړو سره مخامخ شو، لکه د تيمور شاه ګڼو زامنو غوندې د پاينده خان زامنو رقابتونه هم پياوړي شول. په دغو ورونو کې کهندل خان د امير دوست محمد خان سره رقابت کاوه لکه چې يو ځل يې په کلات کې جنګ هم ورسره وکړ، چې د بل ورور نواب جبار خان په ګواښ سره خلاص شول، خو څرنګه چې دا ورونه زاړه شوي وو نو د مرګ ورته مخه شوه. نواب جبار خان په ۱۸۵۳ز کال، کهندل خان په ۱۸۵۴ز کال او مهردل خان هم په ۱۸۵۴ز کلونو کې مړه شول. ددې مړينو څخه وروسته ددغو سردارانو زامنو تر خپل منځ د سياست لوبه توده کړه. د کهندل خان زوی محمد صديق خان د خپل تره رحمدل خان سره د کندهار پر حکمرانۍ باندې په جنګ شو، خو د پردل خان زوی مير افضل خان، امير دوست محمد خان ته خبر ورکړ، چې دغې ګډوډۍ ته د پای ټکی کېږدي او هغه هم ټول له هېواد څخه وشړل او خپل زوی شير علي خان يې هلته واکمن کړ، نور ورونه يې د امير دوست محمد خان له ويرې سردار رحمدل خان ايران ته ولېږل، چې د قاجاري دولت ملاتړ لاس ته راوړي. د کندهار دغې پېښې هم امير او هم انګريز د ايران لاسوهنې ته په افغانستان کې لا زيات متوجې کړل.

له دې وروسته انګريزانو امير ته بلنه ورکړه چې په جمرود کې د انګريز نماينده ګانو سره ليدنه او دوستانه تړون لاسليک کړي.

## د پېښور تړونونه:

### الف: د جمرود تړون (۳۰مارچ ۱۸۵۵زکال) او د کندهار نيول:

په هند کې د انګريز ګورنر جنرال لارد دالهوزي ته سلاکارانو وويل چې د برتانوي هند نوې پولې بايد په امير ومنل شي، هغه هم امير ته خبر ورکړ، امير په خپله استازيتوب خپل زوی سردار غلام حيدر خان او ګورنر جنرال په خپله استازيتوب کې د پنجاب ګورنر جنرال سرجان لارنس وټاکل او دغو استازو د ۱۸۵۵زکال د مارچ په ۳۰ نېټه يو تړون لاسليک کړ چې درې مادې يې درلودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د ختیځ هند کمپنۍ ژمنه کوي چې د افغانستان د هغو سیمو خپلواکې چې د امیر په لاس کې دي، محترم وشمېري او هیڅکله به د هغو په چارو کې لاسوهنه نه کوي.
۲- ختیځ هند کمپنۍ او امیر دوست محمد خان او دده د ورونو او پاتې کسانو په منځ کې به له دې نېټې وروسته دایمي سوله او ملګرتیا ثابته او برقراره وي.
۳- امیر دوست محمد خان له خپلې خوا د کومو کسانو له خوا چې دده ځای نیسي ژمنه کوي چې د ختیځ هند کمپنۍ په لاندې شوو سیمو کې به هیڅ ډول لاسوهنه نه کوي. دا تړون د محمدزیو لومړنی تړون بلل کېږي.
امیر دوست محمد خان د پورتني تړون په بدل کې یوازې د کندهار نیول چې د امیر دوست محمد خان د کورنۍ موضوع وه، د انګریزانو په موافقې ترلاسه کړ. انګریز چې له دې خوا بې غمه شو، نو یو بل جنجال غاړې ته ورولوید چې په هرات کې روسانو د ایرانیانو په واسطه لاس وهنې پیل شوې او په هند کې یې د انګریزانو ګټو ته خطرونه متوجه کول.
هرات د ایرانیانو تر سخت فشار لاندې وو، حتی د ایران پادشاه ناصرالدین شاه پخپله د جنګ موزې په پښو کړې وې. ددې خطرونو د مخنیوي په خاطر انګریز امیر دوست محمد خان ته خبر ورکړ چې هندوستان ته ورشي خو امیر معذرت وړاندې کړ، چې لرې نشي تللی، په همدې جمرود کې چې پېښور ته نږدې دی، کېدای شي خبرې او مفاهمې وشي.

ب: د جمرود دوهم تړون ۱۸۵۷ز کال او د هرات نیول:
د امیر دوست محمد خان او لارنس ترمنځ خبرې د جنورۍ په شپږمه ۱۸۵۷ز کال جمرود کې وشوې، چې په دغې وخت کې انګریز د قاجاري دولت سره د جنګ په حالت کې وو او هرات تراوسه د قاجاري دولت په لاس کې وو. د افغان واکمنو او انګریزانو ترمنځ تړون د امیر د زوي سردار محمد اعظم خان او جنرال لارنس له خوا په ۱۸۵۷ز کال د جنورۍ په شپږمه لاسلیک شو چې ۱۳ مادې یې درلودې.
په لومړۍ ماده کې وایي چې ایران د امیر دوست محمد خان پر خاوره تېری

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی او یو جنګي حالت دی، نو ځکه د ختیځ هند کمپنۍ د امیر سره مرسته کوي چې د خپل هیواد دفاع وکړي او د هیواد په نورو برخو کابل، بلخ او کندهار کې د ایران د تېري مخه ونیسي، ددغې وضعې تر ختمېدو پورې انګریز امیر ته د میاشتې یو لک روپۍ ورکوي.
په څلورمه ماده کې ویل شوي دي چې د انګریزانو افسران د انګریز دولت په خوښه په افغانستان کې هغو ځایونو ته ورځي چې هلته افغانان د ایران سره په جنګي کار بوخت وي، دوی به د انګریز د مرستې خرچه هم څاري او برتانوي مقاماتو ته به راپور ورکوي، امیر به د دوی امنیت هم ساتي. په پنځمه ماده کې امیر ته اجازه ورکوي چې په پېښور کې یو نفر نماینده وټاکي. په شپږمه ماده کې دې ته اشاره کېږي چې خطر رفع شي، مرسته به هم ځنډېږي، په وروستۍ ماده کې یادونه کوي چې امیر ته پخوا څلور زره ټوپکونه ورکول شوي دي او اوس یو ځل بیا امیر هیله کړې ده، چې څلور زره ټوپکه دې نور هم ورکړي، انګریز دا مني او ژر تر ژره به دا ټوپکونه ورته استوي.
دا دوه تړونونه چې یو یې په ۱۸۵۵ز کال او بل یې په ۱۸۵۷ز کال کې د افغان او انګریز ترمنځ لاسلیک شوي دي، د افغانستان د ډیپلوماسۍ په تاریخ کې د ځانګړي ارزښت درلودونکې دي.

## د امیر دوست محمد خان مړینه:

امیر دوست محمد خان چې سردارانو به ورته لوی امیر ویلو، دا ځکه چې ده د خپلې کورنۍ ګټې ډېرې ښې ساتلې او هم یې پر ورونو او زامنو پیرزوینې درلودې. د سدوزي شهزادګانو سره چې دده مشر ورور وزیر فتح خان یې وژلی وو، ډېرې کلکې انتقامي جګړې وکړې او په پای کې یې پاچاهي هم خپلې کورنۍ ته رانقل کړه.
د سدوزیو او بارکزیو د ګټو جګړو او سیالیو یوه پایله هم دا شوه چې هرات تر څه وخته د یوې جلا سیمې په توګه د سدوزیو او الکوزیو د کمزوریو او بې خونده شهزاده ګانو او مشرانو په لاس کې پاتې شي او د ځان ساتنې او ګټو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ناوخت د قاجاريانو په پښو کې هم پريوځي.

دا چې امير دوست محمد خان په ١٨٦١ز کال کې د خپل وراره سردار سلطان احمد خان د حکومت جوړوني له نقشې څخه خبر شو، نو سمدستي يې خپل پوځ ته د هرات په لور د روانېدو امر وکړ، کله چې د امير لښکر هرات ته ورسېد، سلطان احمد خان ښار کلابند کړ او د امير لښکر د ښار څخه دباندې پريوت. دا کلابندي د ١٨٦٢ز کال د اگست څخه تر ١٨٦٣ز کال تر مۍ مياشتې پورې وغځېده چې هم د امير لښکر او هم د هرات ښاريان د بدو پېښو سره مخامخ شول، دواړو خواوو ته سخته جگړه ونښته چې د کلابندۍ په وروستيو مياشتو ١٨٦٣ز کال جنورۍ کې د امير لور نواب بيگم چې د سلطان احمد خان ميرمن کېدله، مړه شوه او درې مياشتې وروسته په ١٨٦٣ز کال د اپريل په مياشت کې سلطان احمد خان هم مړ شو.

له دې ورسته د سلطان احمد خان زوی شهنواز خان بيا ښار بند کړ، خو وروسته د ښار خلکو غوغا جوړه کړه او د ښار حکمران دروازې خلاصې کړې او د امير لښکرې ښار ته ننوتې او هرات يې فتح کړو، خو امير چې عمر يې خوړلی وو او د بوډاتوب له لاسه ناروغ شو او د ساه لنډۍ له امله چې ډاکتران يې له درملنې کولو پاتې راغلل، نو د هرات د فتحې په نهمه ورځ شپږم د جون ١٨٦٣ز کال کې امير دوست محمد خان له دې نړۍ سترگې پټې کړې. په گذرگاه کې د خواجه عبدالله انصاري له مزار سره په خوا کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امیر شیر علي خان سلطنت

امیر شیر علي خان د امیر دوست محمد خان زوی وو، چې د لومړي ځل لپاره دده نوم په تاریخ کې هغه وخت یاد شو چې امیر دوست محمد خان په کلکته کې نظر بند وو. نوموړی هم هلته ورسره وو او د ځوانۍ په لومړنۍ مرحله کې وو. د پلار له مړینې څخه وروسته د ۴۱ کلنۍ په عمر د افغانستان پر تخت کېښناست، ټولو ورونو یې ورسره بیعت وکړ، خو محمد افضل خان او محمد اعظم خان دده واکمني ونه منله، نو افغانستان یو ځل بیا د کورنیو جګړو اور ته ورولوید، چې په پایله کې انګریز په افغانستان دویم یرغل وکړ.

کله چې امیر پر تخت کښېناست، د خپلې واکمنۍ په هکله یې برتانوي حکومت ته خبر ورکړ او د هند حکومت سره یې د پلار د وخت د معاهدې د نوي کولو هوډ وکړ. د هغه وخت ګورنر جنرال لارډ ایلجن د امیر شیر علي خان ددې دوستانه پیغام اړوند په دې خاطر چوپتیا اختیار کړه چې د شیر علي خان سره محمد افضل خان او محمد اعظم خان مخالفت څرګند کړی وو، چې دغې چوپتیا د امیر شیر علي خان په زړه کې د انګریزانو سره مخالفت پیداکړ، انګریزان په دې خبر وو چې شیر علي خان له انګریز څخه کرکه لري، نو د زړو او نوو پاڼو مطالعه یې بیا پیل کړه او د یوه سیاسي پلان پر جوړښت یې کار روان کړ. د تجرید پالیسي چې هغه د نولسمې پېړۍ له سر څخه پیل شوې وه، د ۱۸۵۷ز کال د جمرود په دوهم تړون کې د امیر دوست محمد خان او لارنس په لاسلیکونو تائید شوی وو او افغانستان غیر له انګریز څخه بل هیڅا سره اړیکې نه درلودې، خو د بفر د پالیسۍ لومړني کارونه د انګریز او روس د سیاستونو ترمېنځ جاري وو.

امیر شیر علي خان په بهرني سیاست کې دومره پوهېدو چې افغانستان په استعماري چوکاټ کې له هغه آزادۍ څخه محروم شوی دی، چې غیر له انګریز څخه بل هیڅا سره اړیکې ونه لري. دې د تجرید د پالیسۍ په مفهوم پوهېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ددغې پالیسۍ په ابعادو یې لاس نه و رسېدلی او د بفر پالیسۍ په اړه خبرې اترې د ترلو دروازو شاته کېدلې. شیر علي خان یو ازاد خیاله سړی وو او فکر یې کاوه چې د سلطنت چارې یو څه زړورتوب غواړي او انگریز چې په دې پوه شي چې مقابل لوری ورسره سر زوري کوي، نو شاته تگ کوي؛ شیرعلي خان ته د انگریز سره د روس اړیکو په اړوند هم معلومات وو. له دې هم خبر وو چې ایران د انگریز سیال دی، نو امیر شیر علي خان داسې فکر کولو چې روس او ایران باید د انگریز په مقابل کې استعمال شي، ترڅو افغانستان ته د بهرني سیاست په برخه کې خپلواکي پیدا شي، خو دښمن له ده څخه ډېر ماهر وو او انگریز امیر شیر علي خان ته خپل وروڼه راوپارول او په خپلو کې یې سره اخته کړل.

## امیرشیرعلي خان د ورونو په لومه کې:

امیر شیرعلي خان چې په ۱۸٦٣ز کال کې د جون په دولسمه نېټه د افغانستان واکمن شو، نو ورونو یې ورسره مخالفت وښود او د اپریل په کال ۱۸٦۴ز کې محمد افضل خان او محمد اعظم خان دواړو بغاوتونه وکړل. محمد اعظم د خوست او کُرمې حاکم و او محمد افضل خان د بلخ والي وو. د محمد افضل خان مقابلې ته په خپله روان شو او د محمد اعظم خان مقابلې ته یې جرنیل محمدرفیق ولېږه، محمد رفیق بې له کومې ستونزې په محمد اعظم خان باندې بریالی شو او محمد اعظم خان انگریزانو ته پناه یوړه. همدارنگه محمد افضل خان هم په جنگ کې ماتې وخوړه، له ماتې وروسته یې د خپل ورور څخه بښنه وغوښته هغه هم وبښلو او پر خپل پخواني ځای بلخ او افغاني ترکستان کې یې حکمران پرېښود. خو د لږې مودې وروسته د دواړو وروڼو ترمنځ بیا اختلاف رامنځته شو او محمد افضل خان یې په غزني کې زنداني کړ، د محمد افضل خان په زنداني کېدو باندې د هغه زوی عبدالرحمن خان بخارا ته وتښتېد.

له دې وروسته سردار محمد اسلم خان د هزاره جاتو لور ته د تېښتې پریکړه وکړه، چې په هغه ځای کې د خپل ورور محمد حسین خان په مرسته راپورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او کابل ته د امير د رسيدو څخه مخکې به پخپله زرملې ته لاړ شي او د خپلو ماماخېلو پرګنو په مرسته پر کابل بريد وکړي.

امير شير علي خان چې دغو نقشو ته تل ځير وو او د وروڼو پر چلونو ښه پوهېدو، د وضعې د ښه کولو په اړه يې يو لړ ګامونه واخېستل. په کندهار کې يې محمد امين د پخوا په څېر په خپله دنده پرېښود، په هزاره جاتو کې يې د محمد اسلم خان ورور محمدحسين خان ته د ښنې فرمان ولېږه او د سيمې خلکو ته يې د خپلې پتپالنې لپاره بلنه ورکړه.

خو د خلکو د ملاتړ له امله محمد اسلم خان او وروڼو يې د سردار محمد افضل خان د ليکونو له اغېزې د امير مخالفينو ته مرستې ولېږلې او د ځان ملګري يې کړل. امير شير علي خان کابل ته د رسېدو سره سم محمد اسلم او ورونه يې وبښل، خو سمه يې لا ساه نه وه اخيستې چې په کندهار کې د امير سکه ورور محمد امين چې له سره يې بيعت نه و کړی، د مخالفت جنډه اوچته کړه. امير خپل مشر زوی سردار محمد علي خان ورولېږه، د کلات د سهيل لويديځ په کجباز نومي سيمه کې د ١٨٦٥زکال د جون پر پنځم او شپږم لاس په لاس جګړه ونښته، په جګړه کې تره او وراره يو د بل له لاسه ووژل شول، چې ددغو دواړو سردارانو وژل کېدل پر امير رواني اغيز وکړ او يو څه موده يې خپل حکومت ته شا کړه او په کندهار کې يې د خرقې مبارکې ترڅنګ کښېناست.

د محمد افضل خان زوی عبدالرحمن خان چې بخارا ته يې پناه وړې وه، د امير شير علي خان د بې پروايۍ څخه خبر شو، د مناسب وخت په ليدو يې ګټه پورته کړه، د بخارا له امير څخه يې هم يو څه مرسته ترلاسه کړه، په جيحون راپرېوتو او د امير شير علي خان حاکمان يې په رشوت خپله ډله کې شامل کړل او ډېر ژر يې په ټوله سيمه بريد وکړ. په دغو ورځو کې د امير شير علي خان وزير محمد رفيق خان هم له امير سره مخالف شوی وو او د انګريزانو سيمې ته تښتېدلی وو او د سردار محمد اعظم خان سره يې ملګرتيا غوره کړې وه. کله چې دوی د عبدالرحمن خان د بريالي کيدو څخه خبر شول، نو د هندوستان څخه را روان شول، عبدالرحمن خان هم د کابل په لور را روان شوی و، محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان دواړو په شريکه يو پوځ تيار کړ او په کابل يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يرغل وکړ.

د کابل والي ابراهيم خان د امير شير علي خان زوی کندهار ته وتښتېد، عبدالرحمن خان او محمد اعظم خان په ١٨٦٥ز کال کابل ته ورننوتل او څو ورځې وروسته يې په جلال آباد هم يرغل وکړ. امير شير علي خان چې ددې پېښو څخه خبر شو، نو سمدستي يې پوځ تيار کړ او د عبدالرحمن خان مقابلې ته روان شو، د وردگو په شيخ آباد کې دواړو لښکرو ترمېنځ نښته وشوه، امير شير علي خان په ډېره زړورتيا وجنگېد، خو په وروستيو کې پوځ مخالفې ډلې ته واوښت او له دې مجبورۍ څخه هغه کندهار ته وتښتېده، چې له دې وروسته يې په غزني يرغل وکړ. د غزني ښار يې هم ونيو او محمد افضل خان يې له بنديخانې څخه راخلاص کړ او د ټولو په خوښه يې محمد افضل خان خپل امير مقرر کړ او د کابل په تخت محمد افضل خان کښېناست.

## د امير محمد افضل خان واکمني:

کله چې امير محمد افضل خان په ١٨٦٦ز کال د کابل په تخت کښېناست د انگريزانو څخه يې حکومت د تسليمولو غوښتنه وکړه. د هند والي ورته وليکل: «چې د هند حکومت ټولې اړيکې د افغانستان د امير سره وې، که چيرې ته خپله پادشاهي ټينگه کړې او د زړه له خلاصه د انگريزانو دوستۍ ته اماده شې، نو زه به دې په ډېره خوشحالۍ سره ددې لويې مرتبې وړ وگڼم، خو په حاضر وخت کې د شير علي خان سره خپله ژمنه نشم ماتولی او تر اوسه پورې هغه د افغانستان د هغې سيمې پادشاه منم چې په کوم ځای کې هغه حاکميت لري او دا خبره درته ربښتيا وايم.»

يو څه موده وروسته اميرشيرعلي خان له کندهار څخه خپل سرتېري وويستل او په کلات کې يې د سردار محمد اعظم خان او عبدالرحمن خان له لاسه ماتې وخوړه او هرات ته ولاړ او کندهار هم د نومړو سردارانو لاسته ورغی. امير شير علي خان له هرات څخه بلخ ته ولاړ او په ١٨٦٧ز کال کې يې د سردار فيض محمد خان سره په کابل لشکرکشي وکړه، عبدالرحمن خان په پنجشير کې ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکر مخه ونیوله او د بازارک په جنګ کې سردار فیض محمد خان ووژلی شو. د امیر شیر علي خان د پوځ څخه ۱۷۰۰ زخمي او مړه په میدان کې پاتې شول او امیر شیر علي خان هرات ته ولاړ. ددې جنګ څخه دوه اونۍ وروسته سردار محمد افضل خان په کابل کې د ناروغی له امله په ۱۸۶۷ز کال د اکتوبر په میاشت کې مړ شو او سردار محمداعظم خان د هغه ځای ناستی شو.

## امیر محمد اعظم خان واکمني:

د امیر محمد افضل خان د مړینې څخه وروسته سردار محمد اعظم خان د نیم افغانستان په پاچاهۍ وټاکل شو، خو کومې ځانګړتیاوې چې په محمد افضل خان کې موجودې وې، په محمد اعظم خان کې نه ښکارېدې. دا چې انګریزان د امیر شیر علي خان د دویم ځل واک ترلاسه کولو څخه ناهیلي شول، نو محمد اعظم خان یې د کابل د امیر په حیث ومانه، دده د واکمنۍ په وخت کې عبدالرحمن خان د بلخ په لور خپل پوځ روان کړ او په مقابل کې امیر شیر علي خان له هرات څخه د کندهار په لور راغی او کندهار یې ونیوه. له دې وروسته په ۱۸٦۸زکال د سپتمبر په میاشت کې د غزني په شش ګاؤ سیمه کې نښته وشوه، په جنګ کې امیر شیر علي خان بریالی شو.

له دې وروسته امیر شیرعلي خان په کابل یرغل وکړ، نو کابل یې هم ونیو، محمد اعظم خان بیا هندوستان ته وتښتېده او د هند څخه ایران ته ولاړ او هلته په نیشاپور کې مړ شو او عبدالرحمن خان سمرقند ته وتښتېده او په ۱۸٦۸ز کال کې امیر شیر علي خان د کابل د نیولو وروسته د دوهم ځل لپاره د افغانستان واکمن شو، خو امیر شیرعلي خان د وروښو له دامونو څخه خلاص نه شو چې په دې ټولو دامونو کې د انګریزانو لاس موجود وو.

## د امیر شیر علي خان دوهم ځل واکمني:

د پنځو کالو کورنیو جګړو وروسته امیر شیر علي خان د لسو کالو لپاره د افغانستان واکمن پاتې شو او په هیواد کې یې داصلاحاتو راوستلو وخت وموندلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د یو متمدن دولت دجوړولو هڅې پیل شوې. په دې کې شک نشته چې په هغه کې د پاچاهۍ پوهه او پراخ نظري اغیزه درلوده. ده د ځوانۍ نه د انګریزانو عصري او پرمختللي اداره ولیدله، هغه غوښتل چې اداري نظام باید پر ټولنه اصولي حاکمیت ولري، فرهنګ باید د خلکو ذهنونه روښانه کړي، اردو باید دعصر له اصولو سره سمه وروزل شي.

سید جمال الدین افغان چې په ۱۸۳۸ز کال د کنړ ولایت په اسعد آباد کې زیږیدلی وو، په ۱۸۵۷ز کال کې د امیر دوست محمد خان دربار ته لار وموندله او د امیر له مړینې څخه وروسته د امیر شیر علي خان په دربار کې پاتې شو. د امیر دوست محمد خان په دربار کې دده له استعداد څخه کومه ګټه وانه خیستل شوه. خو شیر علي خان د ګټې اخیستلو توانایي درلوده، سید جمال الدین په ۱۸۵۵ز کال څخه تر ۱۸۵۷ز کال پورې تقریباً درې کاله هند، عراق، شام او حجاز ته سفر کړی وو او د اروپایي علومو او فلسفې څخه برخمن شوی وو. کله چې وطن ته راوګرځېد، امیر شیر علي خان دوهم ځل لپاره د افغانستان واکمن شوی وو، د امیر شیر علي خان د دربار تؤطیه جوړونکو امیر ته دا خبره ورسوله، چې سید جمال الدین دمحمد اعظم خان استاد دی او تا سره همکار کېدلی نشي.

په دې کې محمدرفیق خان لودي د سید جمال الدین د نفوذ څخه وېره درلوده، نو د پاچا نظر یې واړولو او د هغه په اشاره سید جمال الدین په دې پوه شو چې د هېواد څخه دباندې لاړ شي، خو نه د ایران له لارې. کله چې د وطن څخه روانېده، د امیر شیر علي خان لپاره یې د اصلاحاتو یو مفصل لیکلی طومار وړاندې کړ، په دې طومار کې په مفصله توګه هغه اصلاحات یاد شوي وو چې د امیر په ذهن کې د هندوستان په ټولنه کې د اوسېدنې څخه په پاشلي توګه ځای شوي وو.

سیدجمال الدین دعصري کابینې، مواصلاتو، مطبوعاتو، پوهنې، اردو او حتی اقتصاد په اړوند امیر شیر علي خان ته یادونې کړې وې. ده امیرشیرعلي خان ته لیکلي وه چې انګریز د ټول ختیځ دښمن دی، خو په دښمنۍ کې په دې بریالی دی چې د ختیځ ټول نظامونه د ظلم پر بنسټ ولاړ دي او خلک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناپوهۍ څخه د خرافاتو په کنده کې پراته دي او دغو ملتونو ته د نجات ورکولو دنده دپاچاهانو عهده ده. په دې توګه امیر شیر علي خان د سید جمال الدین لارښود لیک عملي کړ. سیدجمال الدین د وطن څخه ولاړ، بیا پر ژوند کې رانغی، د امیر په اصلاحاتو کې دده د نظریاتو نقش بې اغیزې نه وو.**

## د امیر شیر علي خان د واکمنۍ ستونزې:

**کله چې د امیر شیر علي خان حکومت پر پښو ودرېد، له یوه طرفه خپلو زامنو د بغاوت سره د هېواد په دننه او له بلې خوا د هېواد څخه دباندې سیاست څخه د سیاسي فشار سره چې د روس او انګریز د سیالۍ څخه ورته پیدا شوی وو مخامخ شو. څنګه چې امیر د خپل وړوکی زوی عبدالله جان سره زیاته مینه درلوده، نو ځکه یې مشرانو زامنو دده مخالفت کاوه، زیاته هڅه یې په دې کې وه چې خپل کشر زوی ولیعهد کړي، ان تردې چې دده ولیعهدي د امیر د باندیني سیاست یوه ماده وه.**

**د امیر شیر علي خان د دوهم ځل حکومت په وخت کې انګریزان د امیر دوستۍ ته ډېر اړ وو، ځکه له یوې خوا روس د آسیا د سهیل په لور مخ په وړاندې راتله، د دې پرمختګ څخه انګریزانو ته ډار پیدا شو چې روسان ځانونه هند ته ونه رسوي او له بل طرفه نه یې غوښتل چې د بل هېواد سره نژدې اړیکې پیدا نه کړي نو امیرشیرعلي خان ته یې د سوغات په توګه څو میله ټوپکونه او نقدي پیسې ولېږلې او هم یې هند ته د ورتللو بلنه ورکړه چې امیر هم دغه بلنه ومنله او په ۱۸٦۹ز کال کې د سید نور محمد شاه فوشنجي، شهزاده عبدالله جان او نورو خپلو ملګرو سره هند ته ولاړ او د انګریز له لوري په ډېرو شاندارو مراسمو سره یې هرکلی وشو. دهند په امبالې ښار کې د هند وایسرای لار د میو سره یې وکتل، د دواړو ترمېنځ خبرې اترې پېل شوې، امیر شیر علي خان دا خبره په ډاګه کړه چې د پلار د تړون د تائید له پاره نه دی راغلی، بلکې غواړي چې نوی تړون لاسلیک کړي نو یو لړ وړاندیزونه یې انګریز دولت ته وړاندې کړل چې عبارت دي له:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ملګرتیا به د دواړو له لورې وي، د هر ملګري او دښمن به د بل ملګری او دښمن وي.
- کله چې بهرني هیوادونه په هند یرغل کوي، د دواړو هېوادونو مشوره د اعتبار وړ ده.
- انګریزبه په لازمي وختونو کې افغانستان سره د وسلې او پیسو مرسته کوي ترڅو په خپله د دښمن څخه د هېواد دفاع وکړي.
- د ۱۸۵۵م ز کال تړون یو اړخیز دی، باید د افغانستان او هند برتانوي دولتونو ترمنځ دوه اړخیزه وي.
- پوځي مرستې اخېستل به له انګریز څخه د افغانستان د پاچا هوډ پورې اړه لري.
- دانګریزانو مرسته به له افغانستان سره همیشنۍ وي چې د خطرپه وخت کې به زیاتېږي.
- د انګریز دولت به د افغانستان پاچاهي د امیر شیر علي خان په کورنۍ کې د سردار عبدالله جان د ولیعهدۍ په پېژندلو سره چې د امیر زوی دی تصدیقوي.

انګریزانو د تړون ددغو موادو له منلو ډډه وکړه، خو یو لیک یې د امیر شیر علي خان په نوم ولیکه او دا یې په کې لیکلي وو چې: «انګریزان د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي.»
امیر شیر علي خان د ایران لنډ مهاله نماینده ابوالحسن ته په خوښۍ سره ښه راغلاست ووایه او هم د انګریزانو نماینده عطا محمدخان هم کابل ته راورسېده. په همدې کال د روس او انګریز ترمېنځ د افغانستان د بې طرفۍ په هکله خبرې اترې پېل شوې. د ۱۸۷۳ز کال پورې روس د افغانستان بې طرفي مني چې له خپل نفوذ او قوت څخه یې بهر هم وپېژني او افغانستان سره خپله پوله د زرقول څخه دخواجه صالح ترکلي پورې ومني او د آمو سیند کیڼې غاړې د افغانستان د خاورې یو جز وګڼي. له بل طرفه څنګه چې په سیستان سیمه کې د هلمند د سیند اوبو د وېش په هکله د افغانستان او ایران ترمېنځ جګړه پېښدله، امیر شیر علي خان د تېرو تړونونو په بنسټ انګریزانو ته مخ واړوه، انګریزانو د ایران سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړوند وغږېدل، په ۱۸۷۱ز کال افغاني پلاوي راوغوښتل شو چې د سیستان په پولو کې د ایراني او انګریزي دولتونو سره وګوري، چې د اوبو ویش معلوم او ترمېنځ پوله وټاکل شي، سید نور محمد شاه ورته وټاکل شو. د انګریز حاکم خپله پریکړه داسې اعلان کړه، چې ایران یې پرته له تاریخي حقوقو څخه د هلمند په اوبو کې د پنځوس میلو په اوږدوالي شریک کړ، چې د جګړې جرړې د دواړو ګاونډیو هېوادو ترمېنځ باقي پاتې شوې او همیشنی شکل یې غوره کړ، چې وزیر او امیر په دې پریکړې اعتراضونه وکړل.

په ۱۸۷۳ز کال کې د هند برتانوي حکومت امیر شیر علي خان شملې ته ددې لپاره وباله، چې د هلمند د اوبو ویش په اړوند د دوی له حاکمیت څخه خفه شوی وو. ترڅو له ده سره د سیستان د اوبو او شمالي پولو د ټاکلو او نورو سیاسي مسئلو په اړوند خبرې اترې وکړي، امیر شیر علي خان سید نور محمد شاه شملې ته ولېږه، چې د انګریزانو له لوري یې تود هرکلی وشو، سید نور محمد شاه د خبرو اترو په ترڅ کې د روسانو د مخکې راتګ اندېښنه څرګنده کړه او هغه یې د دواړو هیوادونو پورې مربوطه وګڼله او وړاندیز یې وکړ چې د انګریز دولت افغانستان سره مالي او پوځي مرسته وکړي او خپل څه سربازان به د امیر اختیار ته ورسپاري، کله چې امیر وغواړي له هغوي څخه به کار اخلي.

ددې سربازانو لګښت به د انګریز دولت په غاړه وي او همدا ډول انګریز دولت به د امیر د کورنۍ ضمانت په غاړه اخلي. انګریزانو د وزیر وړاندیزونو ته ښکاره ځواب ونه ویلو او غوښتل یې چې د افغانستان دولت باید په کابل، کندهار، هرات او مزار شریف کې د انګریز استازو سره موافقه وکړي. د سیستان د توان تلافۍ له پاره یې ۱۲۰۰۰ ټوپکه او۳۰۰۰۰۰ روپۍ په سوغات کې ورکړې. په هغه مکتوب کې چې امیر ته یې لیکلي وو، لاندې مطالبو ته یې په کې ځای ورکړی وو. د هند برتانوي هېواد به د روس د یرغل په صورت کې له ټولو ممکنو لارو څخه مرسته کوي، د هیواد د ودې او د عسکرو د پیاوړتیا په خاطر به انګلستان له افغانستان سره خپلې مالي مرستې هم وکړي. خو وخت او اندازه به د برتانیې د هېواد په لاس کې وي او انګریزان به د امیر او د هغه کورنۍ په نیت خیرخواهي ولري او هغه به غښتلی کوي، ترڅو د باندیني او کورني خطر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژغورل شي. امير بايد په خپل باندیني سياست کې د انګریزي دولت سره مشوره وکړي، په دې ترڅ کې د شمالي پولو د کتلو لپاره د انګريزانو يو پوځۍ پلاوی به موقتاً مني. امير د شملې د کنفرانس څخه خوښ نه شو، ځکه چې دده کومه غوښتنه چې د عبدالله جان وليعهدي وه د انګريزانو له خوا ښکاره تائيد شوی نه وو. د شملې دکنفرانس په وخت کې روسانو خيوا ونيوله او د هغې موافقې له مخې چې د انګريزانو سره يې کړی وو، بدخشان او واخان يې افغانستان ته ورکړل.

## د وړاندې تګ سياست (forward policy):

کله چې روسانو خيوا ونيوله نو انګريزانو په پېښور کې د وړاندې تګ سياست غوره کړ، چې په انګليسې کې ورته forward policy وايي، موخه يې داوه چې انګريزان بايد د روسانو سره په لويديځ برخه کې مقابله وکولی شي او د هغوي د پرمختګ مخه ونيسي، نو په دې ترتيب هر ډول لازمه آماده ګي يې ونيوله. دلته د انګريز په سياست کې د افغانستان په نسبت يو نوی څپرکی خلاصېږي، چې له مخې د دواړو هيوادونو سياسي اړيکې خړې پړې او انګريزانو په افغانستان باندې يرغل ته آماده شول. په ۱۸۷۶ز کال په پيل کې د هند نايب السلطنه نارت بروک د انګريزانو د سياست مخالف استعفا وکړه، دده پرځای لارد ليتن وټاکل شو.

د هند برتانوي حکومت وغوښتل چې خپل استازي افغانستان ته ولېږي او د دوی استازي بايد ازادانه سرحداتو ته تګ راتګ وکړي، هغوي په خپلو غوښتنو زيات ټينګار وکړ. امير شير علي خان ددوی دغه خوځښت په خپلو کورنيو چارو کې لاسوهنه وګڼله. سربېره پر دې چې د امير شير علي خان کورني دښمنان هم زيات وو، په مرکزي اسيا باندې د روسانو د پرمختګ څخه هغوي له اسلامي هيوادونو څخه هم په ډار کې وو، عبدالرحمن خان د روسي جنرال ګورنر کوفمان له خوا دې ته راوبلل شو چې په افغانستان يرغل وکړي او دوی به ورسره مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ددې چې عبدالرحمن خان دا خبره نه وه منلې خوبیا هم په افغانستان باندې د روس د یرغل اوازه هرې خوا خپره شوه. امیر شیر علي خان خپل وزیر نور محمد شاه په ۱۸۷۸ز کال د جنورۍ په ۳۰ مه پېښور ته ولېږه. وزیر په خپلو تېرو تړونونو ټینګار کاوه، خو انګریزي استازي دا تړون د افغانستان د امیر په خوښه نه غوښت.

په ۱۸۷۸ز کال هند ته دروسانو د تېري اوازه ورسېدله، سره له دې چې د برلین تړون د روس او انګریز ترمېنځ د جګړې خطر له منځه وړی وو، خو بیا هم لارد لیتن د وړاندې تګ سیاست د عملي کولو غوښتونکی وو. په امیر باندې یې فشار واچوه او له بل طرف څخه د امیر شیر علي خان غوښتنې هم د انګریزانو له لوري ونه منل شوې، نو امیر د روس سره د ملګرتیا تړون د لاندې شرایطو له مخې لاسلیک کړ.

د امیر شیر علي خان او روسانو ترمنځ د تړون لاسلیک:

۱ ـ د روس د دولت لښکرې به د افغانستان له لارې هند ته تېریږي، نو د افغانستان دولت به د تېرېدو له اجازې سره د هغوي ساتنه هم کوي.

۲ ـ د اوسپنې درې کرښې به د افغانستان څخه د هند تر پولو کښل کېږي، د افغانستان دولت به له دې سره مخالفت نه کوي.

۳ ـ د روس سره به یوځای د افغانستان خلک د انګریزانو پر وړاندې جنګېږي، دافغاني پوځ لګښت به د جګړې له پیل څخه د روس پرغاړه وي او وسله به هم ورکوي. دروسانو دلښکرو او څارویو خوراکي توکي به د هغوي سره په بارونو کې موجود وي.

۴ ـ د هند له نیولو وروسته به کومې سیمې چې په ختیځو او سویلي برخه کې په احمد شاهي امپراطورۍ شهنشاهي دولت پورې تړلی شوې وې افغانستان ته پرېږدي او په قطبي برخه کې به د امو د سیند پوله جوړوي.

کله چې انګریزان له پورته تړون څخه چې د امیر شیر علي خان او د روسي جنرال کوفمان ترمېنځ لاسلیک شوی خبرېږي، د جګړې د اعلان مکتوب د سرنونیل چمبرلین په واسطه چې سیاسي پلاوی وو، ورلېږي، نېټه ورته مالوموي او اولتیماتوم یانې ضرب العجل ورکوي، چې که ترمالومې نېټې پورې ځواب را

(c) ketabton.com: The Digital Library



و نه رسیږې او امیر له خپلې نوې ملګرتیا څخه مونږ ته ډاډ رانه کړي، نو د کندهار، کرُمې او خیبر درې له لارې به د افغانستان په لور روان شي او هغه هېواد به د روس د مخنیوي له پاره ونیسي. خو په دې وخت کې سردار عبدالله جان د امیر شیر علي خان زوی مړ شو، امیر په غم کې ډوب تللی وو او د زوی د مړینې په مراسمو کې بوخت وو او د انګریزانو د سیاسي نماینده سره یې لیدنه ونشوه. کله چې تر معلومې نېټې پورې انګریزانو ته د لیک یا مکتوب ځواب ونه رسېد، نو ځکه یې له دریو لارو څخه پر افغانستان یرغل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېيم څپرکی

# دافغان او انگريز د دويمې جگړې پيلېدل

انگريزانو په افغانستان کې خپله لومړنی ماتې ناڅاپي گڼله، نو دوهم ځل يې بيا پر افغانستان يو لوی لښکر راوستلو او د ۱۸۷۸ز کال په نومبر کې د خيبر، کرُمې او بولان درې له لارې د درنې توپخانې او ۳۵۰۰۰ سرتېرو سره پرافغانستان ورننوتل. امير شير علي خان د روسانو د کړې ژمنې مرستې په هيله مزارشريف ته ولاړ، په ترکستان کې روسي گورنر جنرال کافمن ورته بهانې او پلمې په مخ کې واچولې. يوه پلمه يې دا وه چې مونږ د افغانستان د پښنو لوېدلو قواوو د تقويه کولو په موخه د هندوکش له لارې د موادو د لېږدولو لپاره ترانسپورتي ستونزې لرو. انگريزانو چې پرافغانستان يرغل وکړ نو يرغل کول پر افغانستان آسان دي خو افغانستان په خپل واک کې ساتل ډېر ستونزمن دي، انگريزانو ته دا حقيقت د افغانستان په لومړي جنگ کې ثابت شوی او دوهمې جگړې هم دا حقيقت ثابت کړ، افغانانو دوهم ځل بيا دوی ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ. کله چې امير شير علي خان په ۲۱ فبرورۍ ۱۸۷۹ز کال مزار شريف کې زړه وچاوده او مړشو، د هغه له مړينې وروسته د هغه مشر زوی محمد يعقوب خان د۸ کالونو بند څخه راويستل شو او د کابل پرتخت واکمن شو.

امير محمد يعقوب خان چې يو بې تجربې سړی وو، انگريزانو ونيوه او گندُمک ته يې چې د ننگرهار د شيرزادو په ولسوالۍ کې موقعيت لري يووړ. هغوي پر امير د افغانستان په تاريخ کې شوم تړون لاسليک کړ، چې وروسته په تفصيل سره د نوموړي تړون د موادو ذکر راغلی دی. دکابل د پلچرخي په زندان کې په کال ۱۳۶۸ زه له يو تکړه تاريخ پوه او تاريخ ليکونکي شاه محمود حصين سره يو ځای په بنده خونه کې وم، نوموړي يو شمېر بندېانو ته د خپل هېواد تاريخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کولو، چی زه هم له دې ډلی څخه وم، د امیر محمد یعقوب خان په هکله یې وویل؛ چی دی اته کاله د کابل په بالاحصار کې بندي وو، ده لمر نه وو لیدلی. دی پوره ۸ کاله هلته د بدو زورونو سره ساتل شوی وو، کله چی له بند خونې را خلاص شو د ده مغز سم کار نه کاوه، د ښه او بدو توپیر یې نشو کولای، په همدی وخت کې ښکیلاک گر انگریز پر هغه باندی په زور د گندومک تړون لاس لیک کړ.

## د امیر محمد یعقوب خان واکمني:

امیر محمد یعقوب خان د شیر علي خان زوی، د امیر دوست محمد خان لمسی وو. د ډېر قوت په درلودلو سره نوموړی د خلکو په مېنځ کې د زمري زوی (شیربچه) په نوم شهرت درلود، هغه د امیر شیر علي خان په لومړي ځل سلطنت کې د هرات د والي په حیث ټاکل شوی وو. کله چې شیر علي خان د عبدالرحمن خان او محمد اعظم خان دلاسه ماتې وخوړه، نو شیر علي خان یعقوب خان ته چې په هرات کې و، پناه یوړه. نوموړي خپل عسکر له شیر علي خان سره یوځای کړل، کندهار یې له محمد سرور د محمد اعظم خان له زوی څخه ونیولو. امیر شیر علي خان د یعقوب خان په مرسته کابل ونیو او د دوهم ځل لپاره د افغانستان د پاچا په توگه وټاکل شو.

کله چې شیر علي خان پاچا شو، نو د خپلې میرمنې عایشې په هڅو سره چې له دې سره یې ډېره مینه درلوده، زوی یې عبدالله جان خپل ولیعهد وټاکه. یعقوب خان چې په دې وخت کې ۲۵ کاله عمر درلود، د خپل پلار د دې اقدام څخه خفه شو او له کابل څخه وتښتېد، هرات ته ولاړ او فتح خان یې ووژلو چې وروسته پښېمان شو. شیرعلي خان په تدبیر سره کابل ته راوبللو او بندي یې کړ. د امیر شیر علي خان د مړینې څخه وروسته د هغه مشر زوی محمد یعقوب خان د زندان څخه تر خلاصېدو وروسته چې په روحي او عصبي ناروغی اخته شوی وو، واک ته ورسید. په دې وخت کې انگریزان د افغانستان د نیولو لپاره عملاً لاس په کار شوي وو او د افغانستان خلکو یو پاچا یا مشر ته اړتیا درلوده ترڅو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه راتېول او د انگریز د یرغلونو مخه ونیسي، ځکه نو امیر محمد یعقوب خان په ۱۸۷۹ز کال د مارچ په میاشت کې واک ته ورسېد. یعقوب خان روحاً دومره وهل شوی وو، چې د هېڅ شي څخه خبر نه وو او حیران وو چې څه وکړي. ده غوښتل چې د انگریزانو غوښتنې ومني، څو هغوي خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي دا کار د ده هیله وه خو په عمل کې ممکنه نه وه. یعقوب خان په لومړي سر کې یو شمېر کسان مقرر کړل خو هغه شکمن خلک وو د بېلگې په توگه دده خُسر یحیی خان چې د امیر شیر علي خان په وخت کې په برتانوي هند کې وو، د کابل والي مقرر شو، همدارنگه سردار شیر علي خان د سردار مهردل خان زوی چې د انگریزانو یو استازی وو، د کندهار د والي په توگه وگمارل شو. دا او داسې نور کسان یې هم مقرر کړل. یعقوب خان پر۱۸۷۹زکال د مارچ په لومړیو کې د هند وایسرای ته د پلار د مرگ او د خپلې پاچاهۍ خبر ورکړ.

د شیر علي خان د مړینې څخه یوه اونۍ مخکې د۱۸۷۹ز کال د فبرورۍ په دیارلسمه ډیزرائیلي دانگلستان په پارلمان کې په ښکاره وویل چې زموږ د جنگ موخه په افغانستان کې که څه هم لاسوهنه بلل کېږي دا وه چې دا دی نن د دریو ښارونو خاوندان یو او هندوستان مو یوه پخه کلا کړه. دې کبرجن لارد چې کوم خوب لیدو تعبیر یې یوازې شپږ میاشتې وروسته د سفیر کیوناري په وژنه کې راڅرگند شو او دی د یو بدنامه دیپلومات په توگه د سیاست له صحنې څخه ووتلو او لیبرالانو پرې ملنډې وهلې.

څرنگه چې په لندن کې پرمحافظه کار حکومت د لیبرالانو له خوا په پارلمان او مطبوعاتو کې سختې نیوکې روانې وې، نو د لندن محافظه کارو مشرانو ویسرای ته لارښوونه وکړه، چې ډېر ژر د جنگ بار له اوږو وغورځوي. کله چې د یعقوب خان لیک هغه ته ورسېد، نوموړي دا د سولې یو لیک وباله او ډېر ژر یې د امیر خسر سردار یحیی خان چې په هند کې وو کابل ته ولېږه او یو هیئت یې د منشي بختیار تر مشرۍ لاندې مؤظف کړ، چې په کابل کې د امیر محمد یعقوب خان او د هغه سلاکارانو سره خبرې وکړي. د سولې شرایط هم هغه وو، چې امیر شیر علي خان ته یې وړاندې کړي وو، خو شیر علي خان سرغړونه کوله او نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر يې منلو ته اوړې ټيټې کړې وې. انګريزانو له دوو موخو سره علاقه درلوده، يو د درې ګونو لارو کنټرول يعنې کُرم، بولان دره او خيبر دره بله دا چې د افغانستان پر بهرني سياست نفوذ او اغيز ولري. نو د انګريز هيئت امير محمد يعقوب خان دې ته اړ کړ، چې ګندُمک سيمې ته ورشي، انګريز چې سخت غچ اخيستونکی ټبر دی، ګندُمک يې ځکه دغه کار ته وټاکلو چې تقريباً ۴۰ کاله وړاندې د دوی ۱۶۵۰۰ تنه پوځ دلته له منځه تللی وو او د دوي وياړونه يې له خاورو سره برابر کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ننگرهار د گندمک تړون

دغه تړون چې د افغانستان په تاریخ کې یو شوم او کرغېړن تړون بلل کېږي، په لاندنیو شرطونو باندې د برتانوي هند حکومت او د افغانستان د ناروغ او لږ تجربه لرونکي امیر محمد یعقوب خان او اړوندو ملحقاتو ترمېنځ د سولې او دوستۍ د اړیکو جوړولو لپاره په اتفاق سره وشو چې شرطونه یې دا دي:

۱ـ له کومې ورځې نه چې دواړه ډلې په دې تړون باندې د تصدیق مهر ولگوي نو د هغې ورځې نه به یو لور ته د هند برتانوي حکومت او بل لور ته د افغانستان د امیر او ملحقاتو او د هغه ځای ناستو ترمېنځ به همیشنۍ سوله اوملگرتیا وي.

۲ـ د افغانستان امیر او ملحقات دا اقرار کوي چې هرکله دواړه ډلې په دې تړون باندې د تصدیق مهر ولگوي نو هغه په بشپړه توگه د ټولو هغو کسانو له پاره د سر سلامتۍ اعلان خپروي او هغوي ته به بالکل قناعت ورکوي، چا چې د دې جنگ په دوران کې انگریزي پوځونو سره په هره درجه چې وه، راشه درشه ساتلې ده او د هر ډول سزا او زیان څخه به خوندي وي.

۳ـ د افغانستان امیر او ملحقات دا اقرار کوي چې هغوي به خپلې اړیکې د پردیو حکومتونو سره د برتانیا د حکومت په مشوره ساتي، د افغانستان امیر به هېڅ پردي حکومت سره تړون نه کوي او نه به د یو پردي حکومت پرخلاف وسله را اخلي ترڅو پورې چې د برتانیا حکومت په دې خوښ نه وي. ددې شرطونو په اساس به د برتانیا حکومت د روپیو، وسلو او د ټولو بهرنیو یرغلونو پرخلاف د پوځونو مرسته کوي. دا مرستندویه پوځونه به په داسې طریقه استعمالېږي چې څرنگه د برتانیا د حکومت د موخو د لاسته راوړلو لپاره ښه ښکاره کېږي. هر چېرته چې انگریزي پوځونه په افغانستان کې د بهرنیو یرغلونو د دفع کولو لپاره کارول کېږي، د موخې د لاسته راوړلو څخه وروسته به هغوي سمدستي خپلو انگریزي سیمو ته بېرته ستنېږي.

۴ـ د دې موخې لپاره چې د برتانیا د حکومت او امیر محمد یعقوب خان په منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کوم نوي او نږدې اړیکې جوړې شوې، هغه به پای مومي. د امیر د مقبوضاتو د سرحدونو د ښې ساتنې په هکله دواړه ډلې اقرار کوي چې په کابل کې به یو انګریزي استازی اوسېږي، چې د ښې او وقار لرونکې درجې خاوند به وي. هر کله چې یوه غټه بهرنۍ معامله پېښه شي، د برتانیا حکومت ته به واک ورکول کېږي چې هغوي د افغانستان پولو ته انګریزي استازي د مناسبو ساتونکو ډلو سره ولېږي. هر کله چې د برتانیا حکومت ته د دواړو حکومتونو د ګټو لپاره لازمه ښکاره شوه، د افغانستان امیر به هم خپل یو استازی د هندوستان د ګورنر جنرال په دربار کې د اوسیدو په نیت او د هندوستان په نورو مقاماتو کې هم چې دواړه ډلې پرې خوښمن شي معرفې کولی شي.

۵- د افغانستان امیر به په خپل هېواد کې د انګریزي استازو د ذات د سلامتۍ او د هغوي سره د درانه سلوک کولو ذمه واري اخلي او د برتانیا حکومت به له خپلې خوا دا اقرارکوي چې د هغوي استازي به په هېڅ وجه د امیر د هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي.

٦- د افغانستان امیر او ملحقات د خپل ځان او د خپلو ځای ناستو له خوا څخه دا اقرار کوي چې هغوي به په خپل هېواد کې دننه د انګریزي رعایاوو په لاره کې هېڅ ستونزې نه پیدا کوي، ترڅو چې د افغانستان په سیمو کې هغوي په امن سره تر هغه وخت تجارت وکړي چې تر کومه د برتانیا د حکومت اجازه له ځانه سره لري.

۷- د دې موخې له پاره چې د برتانیا حکومت او د افغانستان والا حضرت امیر د سرهیمو ترمېنځ د تجارت تګ راتګ پرله پسې او جاري وي، نو امیر دا اقرار کوي چې زه به د سوداګرو د ساتنې له پاره خپل پوره وس څخه کار اخلم او د افغانستان په عامو او مشهورو لارو باندې به د تجارت د مال د تېرېدو او راتېرېدو دپاره اسانتیا پیداکوم او د امیر په ملحقاتو کې چې کوم تجارت کېږي د هغه د پرمختګ او خوندي ساتلو لپاره عام انتظام او غیره شیان به په یو جدا تجارتي تړون کې ذکر کېږي، چې هغه به د هېواد د نورو حالاتو په نظر کې نیولو سره په یوکال کې دننه د دواړو خواوو ترمېنځ کېږي.

۸- ددې دواړو حکومتونو په مېنځ کې د تجارتي اړیکو او تګ راتګ د پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او مرستې لپاره دواړه لورې دا تعهد کوي، چې د کرُمې څخه تر کابل پورې به برتانوي حکومت برقي تار په خپل لګښت جوړوي او د افغانستان امير به د دې تار ساتنه په خپله غاړه اخلي.**

**۹ـ په دې خاطر چې د دواړو حکومتونو ترمېنځ د دوستۍ اړيکې اوس بيا له سره ټينګې شوې، ددې تړون پخواني شرطونه يې تصديق او مضبوطوي. له دې کبله برتانوي حکومت او د جلال آباد ښار سره د هغې ټولو سيمو چې دا وخت د انګريزي پوځونو په واک کې دي، د کرُمې، پشين او د سيبي د سيمو څخه بغير د افغانستان امير او ملحقاتو ته پرېږدي او د خپل لوري څخه دا ژمنه کوي چې د کرُمې، پشين او سيبي سيمه به د هغې حدودو مطابق چې په نقشه او جدول کې ليکل شوي دي، د برتانيا د حکومت تر ساتنې او انتظامې لاندې وي. خو دغه تسلط دايمي نه دی او ددې سيمو ماليه به هر کال د افغانستان والا حضرت امير ته ورکوي. د برتانيا حکومت به د مېچنۍ او د خيبر د درو انتظام چې د پېښور او جلال آباد ترمېنځ پرتې دي، په خپل لاس کې ساتي او کوم آزاد قبايل چې د دې درو سره اړيکې لري هغوی سره به هم د تګ راتګ انتظام په خپله کوي.**

**۱۰ـ د دې موخې لپاره چې د برتانيا حکومت د امير سره د خپلو روا واکونو په لاسته راوړلو کې نوره مرسته وکړي او هم د دې تړون د منل شوي شرطونو په وړاندی اقرار کوي چې د کال به شپږ لکه روپۍ د افغانستان امير ته ورکوي. دغه تړون د ګندُمک په سيمه کې نن د ۱۸۷۹ز کال د مۍ په ۲۶ مه ترسره شو.**

**د اميرمحمديعقوب خان لاسليک**

**د اين کيو ګنري ميجر سياسي افسر کار خاص لاسليک**

**د لارډ ليټن لاسليک**

**همدارنګه دا تړون د هندوستان د هزايکسي لنسي وايسرای او ګورنر جنرال له خوا د جمعې په ورځ د ۱۸۷۹ز کال د مۍ په ۳۰ مه د شملې په سيمه کې تاييد شو.**

**د ای سي لائل لاسليک**

**د هند حکومت د خارجه چارو سکرتر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ترړون له مخې افغانستان پشين، کرُمه او خيبر دره له لاسه ورکړه او هم د دې ترړون له مخې د انګريز استازي په کابل کې ځای پرځای شو چې دا کار افغان ولس ته د منلو وړ نه وو.

## د کيوناري وژنه:

د ځلورم شرط په اساس انګريز خپل استازی د ۱۸۷۹ز کال د جولاي په ۲۴ مه ميجرسرلوئيس کيوناري کابل ته راغی، د دې ترون له مخې افغانستان بېخي د انګريزانو په پنجه کې ونښتو او په ظاهره کې يې د خلاصون کومه لاره نه ښکارېدله.

کيوناري هم د مکناټن په څېر له لومړيو څخه چې کابل ته دننه شو، د مقام، وقار، شهرت او خوشالۍ په نشه مست وو او په بې پروايۍ يې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه پيل کړه او له هغو سردارانو سره يې چې د انګريزانو پلوي ول، نژدې اړيکې ټينګې کړې. دغه کار د يو شمېر سردارانو او د دولت د کار کوونکو په وړاندې د امير بدبينۍ راولاړې کړلې او په هېواد کې يو ډول پاڅون خور شو او د جنګ مړ اور بيا تازه شو. ددې پاڅون اصلي ريښتوني لاملونه نه معلومېږي، خو يو لامل يې دا دی چې انګريزي سفير خپل ځان حاکم اعلی ګڼلو او په انتظامي چارو کې يې لاسوهنه پيل کړه چې دا خبرې په پښتنو سردارانو ناسمې لګيدلې او دا هم يو لامل کېدلی شي چې د سردار عبدالرحمن خان مور د پښتون پوځ سپه سالار داؤدشاه ته د رشوت په ډول درې زره اشرفۍ په دې موخه ورکړې وې چې هغه سفير ووژني ځکه چې د سفير د وژلو په پلمه به امير محمد يعقوب خان بدنام او د ملک نه ورک شي او د هغې زوی عبدالرحمن خان ته به د کابل د تخت حاصلولو موقع په لاس ورشي. بل دا چې کله يعقوب خان کابل ته راورسيد، نو ايوب خان يې د هرات والي وټاکلو او له هغه يې غوښتنه وکړه ترڅو يوه ډله سرتېري ده ته ورولېږي او په هرات کې هغوي ته ويل شوي وو چې تنخوا به په کابل کې درکړل شي. دغه سرتېري چې کله کابل ته ورسېدل، له خپل سر لښکر داؤد شاه خان څخه يې د تنخوا غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چې تنخوا ورکړي هغه ورته وويل ستاسو غوښتنه پرځای ده، خو اوس ټول صلاحيتونه د کيوناري په لاس کې دي هغه ته ورشئ او خپله تنخوا ورڅخه وغواړئ. سرتېري چې کله د کيوناري کار ځای ته چې په بالاحصار کې يې موقعيت درلود، ورسېدل، کيوناري گمان وکړ، چې ملت په پاڅون لاس پورې کړی دی او دغه سرتېري غواړي چې پر موږ يرغل وکړي، نوخپلو ساتونکو ته يې امر وکړ، چې پرهغوي باندې د مرميو گذارونه وکړي، دغه سربازان چې د خپلې تنخوا غوښتنې په خاطر د کيوناري د منزل په لوري په حرکت کې وه دوی هم پرمقابل لوري باندې د مرميو باران پيل کړ، چې په دې وخت کې يعقوب خان ډېرې هڅې وکړې چې خپل سربازان منع کړي، خو چا يې غوښتنې ته پاملرنه ونه کړه، د دغې سرگرمۍ په پايله کې د سر کيوناري په شمول ۱۲۳ تنه د انگريز د سفارت کارکوونکي او ٦۰۰ سرتېري ووژل شول.

دغه خبر سمدستي د هند وايسرای لارد ليټن او جنرال رابرټس ته ورسېدو انگريزانو د جنرال رابرټس په لارښوونې يو لښکر د لوگر له لارې افغانستان ته راوليږه. يعقوب خان چې له دې خبر شو، نو پخپله يې ځان رابرټس ته ورساوه او د هغه له خوا څخه د سفير د وژلو په تور ونيول شو. که څه هم هغه د خپلې بې گناهۍ په اړوند يې ډېر عذرونه وړاندې کړل، خو کامياب نه شو او د دسمبر په لومړۍ نېټه، کال ۱۸۷۹ز کې د شاهي قيدي په حيث هندوستان ته ولېږل شو او د خپل ژوند پاتې برخه يې په هندوستان کې د نظربندۍ په حالت کې تېره کړه او هم هلته په ۱۹۲۳ز کال کې مړ شو. دا پاڅون څو ورځې جاري وو خو انگريزي پوځونو په ټولو مهمو ځايونو کنټرول وموند او حالات يې قابو کړل. د انگريز حکومت دا هوډ وو چې د کندهار او کابل دوه صوبې جوړې کړي او د هندوستان سره يې وتړي چې ددې تجويز په هکله انگلستان کې ليبرال گوند ډېره غوغا پورته کړه او په ډېرشدت سره د هغې مخالفت وکړو.

په دې ورځو کې يو طرف ته سردار عبدالرحمن خان په افغانستان کې د خپل حکومت د ټينگولو کوښښ کاوه، بل لور ته د امير يعقوب خان کشر ورور سردار ايوب خان هم د خپلې واکمنۍ له پاره هلې ځلې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د میوند جګړه

## په ۲۱ د جولایي، ۱۸۸۰ز کال کې

دا چې پښتون ټبر په سمه توګه او په یووالي سره په کابل باندې د انګریزي پوځ د مخکې تګ مقابله نه وه کړې، هغوي دا احساس کاوه، چې انګریزان به د خپلو کسانو غچ د کابل د ځینې ګناهکار کسانو څخه واخلي او بیا به هندوستان ته ولاړ شي، خو کله چې یې ولیدل چې انګریزي پوځونو د شیرپور په چاونۍ کې خپلواکې دېرې ونیولې او د لګښت د راجمع کولو لپاره یې په څلورو خواوو کې د پوځ لویې لویې ډلې واستولې، چې چا به هغوي ته د غلې او د نورو سامانونو په ورکولو کې لټي او بهانې کولې، نو هغوي ته به یې سختې سزاګانې ورکولې.
کله چې عامو خلکو د انګریزانو له خوا په سرکاري انبارخونو، وسله تونونو، خزانو، مالیې او د حاصلاتو په ټولولو باندې ولیدل، د بالاحصار او د هغې ټوله آبادي او شاهي ځایونه یې ویجاړ کړل او ګڼ خلک یې ووژل او د ټولو پښتنو سره یې د سخت سپکاوي، بې عزتۍ او بد سلوک لاره خپله کړه او په دې کې یې د ګناهکار او بې ګناه توپیر ونکړ. سره د دې چې په هره قبیله کې د یو سردار د بل سردار، د یو خان د بل خان او د یوه ملک د بل ملک سره بې اتفاقي او د اړیکو خرپړتیا وه، ولې هر کله چې هغوي د ټول قوم آزادي، آبرو او ننګ په خطر کې ولیده، نو هر څه یې شاته وغورځول او د انګریز پرخلاف د جهاد کولو په اراده راپاڅېدل. ځای په ځای قومي مشرانو خپل ملک د دې بهرني دښمن څخه د خالي کولو لپاره یو لوی خوځښت پیل کړ. په حجرو او جوماتونو کې یې د ولس خلکو ته د قوم، مذهب او ملک په نوم د جهاد اعلان وکړ، چې د دې خوځښت لوی مشران ملا صاحب مشک عالم، غازي محمد جان خان وردګ، میربچه خان کوهستانی، سمندر خان لوګری او غلام حیدر خان د چهاردهي وو. دا هم ددې کسانو او د هغوي ملګرو د هڅو پایله وه چې افغانستان د څه مودې لپاره پر انګریزانو باندې سور اور وګرځېد. د هرات خلک د دسمبر په لومړۍ نېټه، کال ۱۸۷۹ز کې د انګریز له یرغل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هند ته د امیر محمد یعقوب خان له لېږلو څخه خبر شول. خلک د هرات له لښکرو سره د دښمن پرضد په جوش سره د هرات څخه د کندهار پرلور رارروان شول، چې مشري یې سردار محمد ایوب خان کوله. انگریزان چې په کندهار کې وو، د ایوب خان له پرېکړې څخه خبر شول او سمدستي یې له هند څخه مرسته وغوښتله. د جنرال بروز په قوماندې ۱۲۰۰۰ نفري پوځ د کویټې او بولان درې له لارې کندهار ته ورسېده، په دغه وخت کې چې سردار محمد ایوب خان د هرات څخه د کندهار په لور په لاره وو، نو په ټوله لاره کې د خلکو له لوري څخه په خپله خوښه د خوراکي توکو، سواره، پلي او نورو مرستندویه توکو سره ونازول شو. دغه لښکر په ۲۰ م د جولایي، کال ۱۸۸۰ز کې د میوند میدان ته نژدې شول او په یو بې اوبو دښته کې یې واړول، بالاخره په ۲۱ د جولایي انگریزانو سره د میوند په سیمه کې جنگ رامنځته شو، چې په جنگ کې سردار محمد ایوب خان بریالی شو او انگریزي لښکرو ته ډېر تاوان ورسېد. په دې مشهوره جگړه کې افغان میرمنو هم برخه اخېستې وه چې یوه له هغې ډلې څخه ملالۍ نومېدله چې په ختڼه د خوگیاڼو له ټبر څخه وه او په جنگ کې یې د خپل ملي لښکر بیرغ په لاسو کې نیولی وو او دا ټپه یې ویله:

کــه په مــیوند کې شــهید نه شـوې
خدایږولالیه بې ننگۍ ته دې ساتینه



(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاخره ملي اتله ملاله خوګیانۍ د بیرغ سره په همدې جګړه کې شهیده شوه او د افغانستان په تاریخ کې د ځانګړي شهرت درلودونکې میرمن شوه، چې د انګریز پر وړاندې په ډېره مېړانه وجنګېدله. انګریز د دوهم ځل لپاره په افغانستان کې شرمېدونکې ماتې وخوړله او له ۱۲۰۰۰ پوځ څخه یې یوازې ۲۵ نفر ژوندي پاتې شول.

دا بریالیتوب تر ډېرو ورځو د ایوب خان په برخه نشو ځکه چې جنرال رابرټس په ډېرې تادۍ د کابل څخه کندهار ته ولاړ او ایوب خان ته یې ماتې ورکړه. سردار ایوب خان بیا هرات ته ولاړ او کندهار د انګریزانو په لاس کې وغورځېد. ددې څخه وروسته د سردار ایوب خان او عبدالرحمن خان ترمېنځ یو جنګ وشو چې په هغې کې عبدالرحمن خان بریالی شو او سردار ایوب خان ایران ته ولاړ چې دغه شان عبدالرحمن خان ته په افغانستان کې میدان خالي پاتې شو. دا چې انګریزانو ته د افغانستان سره د لومړي جنګ پایلې لایادې وې، نو هغوی د کابل اوکندهار څخه د خپلو پوځونو ویستلو او د سردار عبدالرحمن خان واکمنۍ منلو ته تیار شول.

جنرال رابرټس چې په کندهار کې وو، د بولان درې له لارې او جنرال استوارت چې په کابل کې وو، د جلال آباد او خیبر له لارې افغانستان پرېښوده، چې په دې ترتیب د افغانستان خاوره د دویم ځل لپاره د انګریز له یرغل څخه پاکه شوه.

## د امیر عبدالرحمن پېژندنه او د ګندُمک تړون منل:

امیر عبدالرحمن خان د محمد افضل خان زوی او د دوست محمد خان لمسی، په ۱۸۳۰ز کال کې زیږېدلی دی، په ۹ کلنۍ کې د پلار له خوا بلخ ته وغوښتل شو، هلته یې پلار غوښتل چې زوی یې زده کړې پیل کړي، خو عبدالرحمن خان له زده کړې سره لیوالتیا نه درلوده. په ۱۳ کلنۍ کې د امیر دوست محمد خان لخوا د تاشقرغان والي وټاکل شو. خو د یو څه مودې وروسته یې استعفا ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر عبدالرحمن خان وروسته له دې د پلار له خوا څخه د چرسو او شرابو څښلو په تور بند خونې ته ولېږل شو چې یو کال یې محبس کې تېر کړ او په همدې دوران کې شیر محمد خان مړ شو او عبدالرحمن خان له بند څخه راخلاص شو او د پلار له خوا څخه د ټول پوځ سپا سالار وټاکل شو. کله چې دوست محمد خان د هرات له نیولو څخه وروسته مړ شو او پر ځای یې زوی امیر شیر علي خان د قدرت واګې لاسته راوړې، نو د غلط فهمۍ له امله شیر علي خان په افضل خان بدګمانه وو او هغه یې ونیولو، عبدالرحمن خان د پلار په نیول کېدو سره بخارا ته وتښتېد، کله چې شیر علي خان په کندهار کې مصروف وو، عبدالرحمن خان د محمد اعظم خان سره لاس یو کړ او کابل یې ونیولو، بلاخره په ١٨٦٧ز کال کې محمد افضل خان مړ شو او پر ځای یې د امیر عبدالرحمن خان کاکا محمد اعظم خان واک ترلاسه کړ او دده لخوا څخه د فاریاب ولایت مرکز میمنې ته ولېږل شو. دغه وخت کې شیر علي خان پر کندهار یرغل وکړ، په غزني کې د محمد اعظم خان لښکر ماتې خوري. عبدالرحمن خان د کابل په لور راروانېږي او په بامیانو کې د محمد اعظم خان ماتې خوړلی لښکر ورسره یو ځای کېږي چې په پایله کې د وردګو په شش ګاؤ سیمه کې د شیر علي خان د لښکرو له لاسه ماتې خوري. دواړه ایران ته تښتي، هلته محمد اعظم خان پاتې کېږي او عبدالرحمن خان بخارا ته ځي.

انګریزانو چې پرافغانستان د دویم ځل لپاره یرغل وکړ، د هغوي په مقابل کې د افغانستان مسلمان ملت پاڅون وکړ. عبدالرحمن خان هم له بخارا څخه راغی او د آمو له سیند څخه راواوښته. په بدخشان او بلخ کې یې خلک له ځان سره یو ځای کړل او د کابل په لور راغی، په چاریکار کې د انګریز نماینده لیپل ګریفمن ورته پیغام راوړ، دا پیغام چې په ١٨٨٠ز کال، ٣٠ اپریل، د انګریز نماینده لیپل ګریفمن لخوا امیر عبدالرحمن ته ورسېده او په کې کښل شوي وو چې موږ ستا واکمني پر کابل باندې منو. ته کابل ته خپل استازی راولېږه، امیر عبدالرحمن خان ددې لیک په ځواب کې ولیکل د کابل د تخت سمبالولو څخه لومړی څو خبرې ښکاره کول اړین دي چې عبارت دي:

الف ـ زما د حکومت پولې به تر کوم ځای پورې وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب ـ د کندهار سیمه به زما په حکومت کې شامله وي او که نه؟
ج ـ انګریزي سفیر یا انګریزي پوځ به په کابل کې موجود وي او که نه؟
د ـ د برتانیې حکومت د یو دښمن په مقابله کې به زما څخه څه هیله ساتلی شي که نه؟
ه ـ د برتانیې حکومت ماته او زما هېواد ته څه ګټه رسول غواړي؟
و ـ ددې په بدل کې زما څخه د کوم چوپړ هیله لري؟

ددې لیک په ځواب کې سرګریفمن په ۱۴ جون ۱۸۸۰م هغه ته دا ولیکل:
۱ ـ افغاني واکمن له انګلستان څخه پرته له هېڅ کوم باندني دولت سره سیاسي اړیکې نشي ټینګولی چې دغې فقرې افغانستان له سیاسي خپلواکۍ څخه بې برخې کاوه.
۲ ـ کندهار او د هغه ټوله سیمه به د کوم بل واکمن تر واک لاندې راځي چې دا د افغانستان د تجزیې د پلان یوه برخه وه.
۳ ـ د پشین اوسیبۍ سیمه به د انګریزانو تر واک لاندې همدغسې پاتې وي.
۴ـ د یعقوب خان سره لاسلیک شوی د ګندُمک تړون به هماغسې اعتبار لري چې د دې پواسطه دره بولان، خیبر دره او کُرمه د دښمن په لاسو کې پاتې کېدلې.
۵ ـ د انګریزانو پوځ به له کابل، جلال آباد او کندهار پولې څخه په ژغورنده ډول سره تېرېږي.
٦ ـ عبدالرحمن خان له بده مرغه دغه ټول شرایط ومنل او انګریزانو هم کله چې لانوموړی په چاریکار کې وو، هغه یې د افغانستان د پاچا په توګه ومانه. خو دویم شرط یې له نیکه مرغه د میوند د سپیڅلې جګړې په برکت او هلته په لندن کې د محافظه کار حکومت د ماتې او د لیبرالانو د بریالیتوب له امله عملي نه کړی شو. که نه عبدالرحمن خان چمتو وو چې ځان د پاچا کیدو په بدل کې آن د افغانستان زړه هم پراغیارو او هېله ګر دښمن وپلوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امیر عبدالرحمن خان واکمني

امیر عبدالرحمن خان چې په ۱۸۸۰ز کال کې په افغانستان کې واکمنۍ ته ورسېد. د هېواد ټولنیزې او امنیتي چارې ډېرې ویجاړې شوې وې او هم د وطن د خاورې بشپړتیا ته ډېر خطر مخامخ وو. محلي خانانو او قومي مشرانو د مرکزي حکومت څه پروا نه لرله، د خلکو پر حقوقو او ژوند باندې د غلو او داړه مارانو له لورې تېري کیدل. په لویو لارو کې به یې خلک چورول او د وطن د تجزیې توطئه د انگریزانو او کورني بیلتون غوښتونکو له لورې روانه وه. په خاصه توگه د کندهار ولایت د بېلېدو خطر ډېر زیات وو. خو امیر عبدالرحمن خان د افغانستان د زړورو او سرښندونکې اردو په مرسته بریالی شو چې د هېواد داخل کې بې ساری امنیت ټینگ او بیلتون غوښتونکو ته یې غاښ ماتونکې ماتې ورکړه. د افغانستان مسلمان ولس او ملي اردو په تاریخ کې داسې ډېرې ځلاندې او له ویاړه ډکې او زړورې کارنامې ثبت دي. دې مېړني پوځ د ډېرو مغرورو ښکیلاکگرو دوښمنانو په مقابل کې مقاومت کړی چې تاریخ یې شاهد دی.

امیر عبدالرحمن په داسې شرایطو کې پر افغانستان واکمن شو چې د انگریز دوه یرغلونو د افغانستان خاورې ته زیات توانونه اړولي وو. یانې په افغانستان کې یو منظم اداري جوړښت نه وو پاتې. له دې کبله امیر عبدالرحمن خان د یوې باثباتې افغاني دولتي اداري بنسټ کېښود. امیر عبدالرحمن خان یو ډېر سخت زړی حاکم وو. مجرمانو ته به یې د وحشت او بربریت د زمانې سزاگانې ورکولې خو په دې کې هغه ملامت هم نه وو، ځکه د افغانستان خانانو او اقتدار لرونکو امیرانو په عام ولس ډېر ظلمونه کول او د حکومت اوامرو ته یې غاړه نه کېښودله. خو امیر ددې مقتدرو خانانو زور او ځواک ختم کړ. هغه په خپل حکومت کې د جاسوسانو یو جال خور کړی وو، دا جال دومره پراخه وو چې د امیر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاسوسانو له وېرې څخه به چا په خپل کور کې د حکومت پر خلاف څه نشو ویلی، د ده په وخت کې د جایدادونو ضبطول، د هېواد څخه شړل کېدل، د معمولي شک او تردید په بنا وژل یوه عامه خبره وه. دغه ټول کارونه یې د حکومت د ټینګښت لپاره تر سره کول چې بالاخره هغه د خپل انتقال په وخت کې د یوه ځواکمن حکومت په جوړولو کې بریالی شوی وو.

امیر عبدالرحمن خان په سیاسي معاملاتو کې ډېر مهارت درلود، د هېواد داخلي نظم او امن راوستلو څخه وروسته هغه د خپلې واکمنۍ د حد بندۍ په لور پاملرنه وکړه. امیر د دوو طاقتورو حکومتونو (روس او برتانوي هند) ترمنځ نښتی وو، خو په خپل تدبیر سره یې دواړه حکومتونو ته دا موقع په لاس ور نکړه چې د هېواد په داخلي چارو کې لاسوهنه وکړي.

په کال ۱۸۸۵ز کې امیر د هند د وایسرای په بلنه هندوستان ته ولاړ، په راولپنډۍ کې یې د وایسرای سره ملاقات کاوه، چې د روس حکومت د ۱۸۸۵ز کال، د مارچ په ۳۰ مه د افغانستان په یو سرحدي څوکۍ (پنجده) یرغل وکړ او بیا یې ونیوه. کله چې امیر دا خبره واورېدله، د هېواد خپلواکي یې په خطر کې ولیده. ده احساس کاوه چې روسیه د هند پر لور د خپل سرحد پراخول غواړي او دا یې درک کړل چې برتانیه د پېښور او افغانستان د شمالي پولو ترمنځ د یو ګوښه سرحد د لرلو په خاطر چې برتانوي پوځي ماهران یې په لټه کې دي ورو ورو د افغانستان زړه ته ځان رسوي، عبدالرحمن د خپلو سیمو په وړاندې د پیدا شوي ګواښ د لیرې کولو لپاره یوه تګلاره جوړه کړه، چې درې بنسټیز ټکې یې لرل.

۱ ـ پوځي خپلواکي

۲ـ دفاعي ګوښه والي

۳ ـ په تدبیر سره عمل کول

په پایله کې د افغانستان او روس ترمنځه د حد ټړلو د پاره یوه جرګه په ۱۸۸٦ز کال کې جوړه شوه، د دې جرګې د پرېکړې په رڼا کې د روس او افغانستان ترمنځه د آموسیند د بیلتون برید وټاکل شو او په دې ډول د هرات په لور د روسانو د مخکې تګ د خطر مخه ونیول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هندوستان په شمال لویدیځې پوله کې ټولې درې چې د افغانستان له لوري راوتلې د ګندُمک تړون له مخې د انګریزانو په ولکه کې وې. د دې څخه علاوه په کویټه باندې هم د انګریزانو واکمني وه او د ژوب په وادئ کې تر چمن پورې د ریل پټلۍ دوي غزولې وه. د دې پېښو په رڼا کې د امیرعبدالرحمن خان سره د انګریزانو د مخکې تګ خطره هم پیدا شوې وه.

په دې هکله یې د انګریزانو سره د حد ټاکلو په اړوند خبرې اترې پیل کړې، خو انګریزانو د امیر سره په حد ټاکلو کې ناغیړي کوله. ددې څخه وړاندې امیر په خپل هېواد کې د دوه لوی پاڅونونو سره چې یو د غلجیانو لخوا په ۱۸۹۰ز کال د کندهار په سیمه کې او بل په ۱۸۹۲ز کال کې چې هزاره ټبر په هزاره جات کې کړي وو، مخامخ شو چې په ډېرې سختۍ یې غلي کړل او هغه ته پخپل هېواد کې د بل پاڅون کوم جدي خطر نه ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم څپرکی

# د ډیورنډ د کرغېړنې کرښې تړون په ۱۸۹۳ز کال کې

امیر عبدالرحمن خان د هند حکومت سره د خپلې واکمنۍ د حد ټاکلو په اړوند ډېر لیواله وو. خو انگریزان دې ته تیار نه وو. په ۱۸۹۳ز کال کې انگریزانو په (وانه) قبضه وکړه او ددې سیمې خلکو خپل مشران امیر ته واستول، امیر عبدالرحمن خان د خلکو سره ډېر دارو مدار وکړ، چې پدغه وخت کې انگریزانو ته هم خپله غلطي مالومه شوه او سمدستي یې د امیر سره د حد ټاکلو ته غاړه کېښوده. په دې توگه د هند لخوا څخه د سرمارټیمر ډیورنډ په مشرۍ یو شپږ کسیز هیئت کابل ته ولېږلی شو.

بناًء د زماني او مکاني شرایطو له مخې چې کوم دلایل له امیر سره وه، د سرمارټیمر ډیورنډ سره چې د انگریز نماینده وو د سرحدي کرښې لاسلیک وکړ، چې د ډیورنډ د تړون په نامه سره یادېږي. ددغه کرغېړنې کرښې په لاسلیک سره افغانستان په خواشینۍ سره په ختیځ او سهیل کې د خپلو ځمکو هغه برخه له لاسه ورکړه چې په لاندې ذکر شویو مادو کې ټولې سیمې یادې شوي دي.

د ډیورنډ د کرښې تړون د ۱۸۹۳ز کال د نوامبر میاشتې پر ۱۲مې نېټې لاسلیک شو دغه تړون اوه مادې او یوه نقشه لري. دغه تړون د واخان څخه د ایران تر پولې پورې چې ۲۲۵۵ کیلو متره ده او د ۱۵۱۰ میله سره برابرېږي، د افغانستان ختیځ او سهیلي برخې داسې تشریح کوي.

۱ ـ د ښاغلي امیر د هیواد ختیځ او سهیل حد په اوږدو له واخان څخه د ایران تر پولې پورې په هغه خط کې چې پر نقشه باندې کښل شوی دی او ددې تړون لیک مل دې ټاکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲ ـ د هندوستان حکومت به هېڅ وخت په هغو سيمو کې چې له دغې ليکې ځخه اخوا د افغانستان په لور پرتې دي، لاسوهنه ونه کړي او والا حضرت امير به هېڅ وخت په هغو سيمو کې چې له ليکې ځخه اخوا د هندوستان په لور پرتې دي لاس نه وهي.**

**۳ ـ د برتانيې عالي هيواد ژمنه کوي چې امير دې اسمار او د هغه ځخه پورته ناوه تر چنکه Chanka پورې په خپل لاس کې ولري او له بلې خوا اميرصاحب ژمنه کوي چې هيڅکله به سوات، باجوړ او چترال د آرنوي Arnawai په ناوې او باشګل Bashigal کې لاسوهنه نه کوي. د برتانيې دولت هم ژمنه کوي چې د برمل سيمه لکه ځرنګه چې په مفصله نقشه کې کښل شوی او له مخکې جناب امير صاحب د وزيرو او دوړو په مځکه او هم د چاګی (چغی) Chagah په سيمه له خپلې غوښتنې ځخه تېرېږي.**

**۴ ـ د سرحدي سيمې ليکه به د افغان او برتانوي ګډو کمشنرانو له خوا له دې وروسته په تفصيل سره وکاږله شي او داسې به حد بندي شي چې په کوم ځای کې د تطبيق وړ وي. د دغو کمشنرانو موخه به دا وي چې د پولې په ټاکلو کې دواړه لوري موافقې ته سره ورسېږي او دا ليکه دې تر نهايي امکان پورې د هغې نقشې له مخه وايستل شي چې له دغه توافق ليک سره مل ده. په داسې حال کې چې د دغې سرحدي سيمې د ګاونډيو کليو د موجودو محلي حقوقو رعايت پوره وشي.**

**۵ ـ د چمن د موضوع په اړه والاحضرت د برتانوي نوې قشلې په هکله له خپل مخالفت ځخه تېرېږي او برتانوي حکومت ته هغه حقوق پرېږدي چې د سرکی تيرې په اوبو کې يې په بيه اخېستې وه. د پولې سېمې به په لاندي ډول وکاږل شي، دغه پوله به لنډې کوتل ته نژدې د خواجه امران د غرو له لوړې ځخه چې د برتانيې په سيمه کې پاتې کېږي، په هغه لور کښله کېږي چې مرغه، چمن او د شربو چينه به افغانستان ته پاتې کېږي او د نوي چمن چاونی او د افغان پوستې چې خلک يې لښکر ډنډ بولي تر مېنځ نيمايي پورې رسېږي. دغه ليکه به بيا د ريل وی ستېشن او د هغې پوستې تر مېنځ چې د ميان بلاک په نامه يادېږي، تر نيمايي پورې رسېږي، د سهېل په لور به امتداد مومي او د خواجه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



امران غرونو سره به بيا يو ځای کېږي.
په دې ډول غوښه پوسته به د برتانيې په ساحه کې او د غوښې په سهېل او لويديځ کې د شوراواک سرک به افغانستان ته پرېږدي. د برتانيې حکومت به د دغه سړک تر نيم ميل پورې مداخله نه کوي.
٦ ـ د دغه تړون ليک پورتنۍ فقرې د هندوستان د حکومت او د افغانستان د والاحضرت له خوا د نظر ټول عمده اختلافات چې د سرحدي سيمې په اړه د دوی ترمېنځ پيدا شوي وو، د پوره قناعت ښوونکې پرېکړې په ډول ګڼل کېږي. دواړه د هندوستان حکومت او والاحضرت په ضمه اخلي چې د جزياتو په اړه ټول اختلاف به د هغو منصبدارانو له خوا هوارېږي چې د سرحدي خط د حد بندۍ لپاره ټاکل کېږي او د دوستۍ په روحيې سره به فيصله کېږي او تر هغو چې ممکنه وي د دواړو حکومتونو ترمېنځ د شکونو او غلط فهميو د سببونو د لېرې کولو هڅې به جاري وي.
۷ ـ د هندوستان حکومت چې د برتانيې حکومت په نسبت د والاحضرت له روغ نيتۍ څخه په پوره ډول ډاډمن شوی او غواړي افغانستان پياوړی او خپلواک ووينې، د والاحضرت لخوا د جنګي لوازمو په رانيولو او واردولو باندې به اعتراض ونه کړي او دوی به پخپله په دغه برخه کې ښه مرسته ورسره وکړي. برسېره پردې ددې لپاره چې د والاحضرت د هغې دوستانه روحيې ښه وساتل شي چې په دغو مذاکراتو کې يې ښودلې، د هندوستان حکومت ژمنه کوي چې په هغه دولسو لکو کې شپږ لکه روپۍ زياتې شي چې والاحضرت ته هر کال د مالي مرستې په ډول ورکول کېږي.
هنري مارټيمر ډيورنډ
د هندوستان د حکومت د باندنيو چارو وزير.
اميرعبدالرحمن خان
د افغانستان او د هغه د توابعو امير
کابل د نوامبر ۱۲، د ۱۸۹۳ز کال
امير عبدالرحمن خان ته ددې تړون د لاسليک کولو په بدل کې د کال د ۱۲۲ لکو روپيو په څنګ کې د ۱۸۸۳ز کال څخه تر ۱۸۹۵ز کال پورې ۸۰ سپک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوپونه، ۱۷۳۴۰ د توپونو گولۍ، ۳۳۳۰۲ ټوپکونه، ۳۲۰۰ کارابینه، ۲۱ میلیونه د ټوپکو گولۍ ورکړې شوې. د ډیورنډ کرښې پر سر د تړون د لاسلیک کیدو په لومړیو کلونو کې د پښتنو په سیمو کې زیات پاڅونونه را وپارېدل چې په پایله کې یې زیاتو پښتنو مېړونو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

دا تړون اساساً له ۱۸۸۳ز کال څخه تر ۱۹۹۳ز کال پورې د ۱۰۰ کالو لپاره ټاکل شوی وو، خو کوم وخت چې په کال ۱۹۴۷ز کال کې اوسنی پاکستان جوړ شو، د ډیورنډ کرښه د ملگرو ملتونو له خوا د افغانستان او پاکستان ترمنځ په رسمي پوله وپېژندل شوله. په نور مال حالت کې باید د افغانستان حکومت په ۱۹۹۳ز کال کې د دې سیمو لاس ته راوړلو ادعا کړې وای. خو څنگه چې افغانستان په کورنیو جگړو کې ډوب وو، د افغانستان سیاستوالو دې مهم ټکي ته پام ونه کړو. د ډیورنډ کرښه تر اوسه پورې د افغانستان له خوا په رسمیت نه ده پېژندل شوې.

## د امیر عبدالرحمن خان کړنې د ډیورنډ له لاسلیک وروسته:

د ډیورنډ تړون وروسته امیر ته د انگلستان ملکې له خوا څخه انگلستان ته د ورتلو بلنه ورکړل شوه. امیر دا بلنه ومنله. خو د خپلې ناروغۍ له امله یې اوږد سفر ته زړه ښه نه کړ او خپل زوی شهزاده نصرالله خان یې ولېږه. په انگلستان کې د سردار نصرالله خان هم هغه شان درناوی وشو څرنگه چې د یو با اقتداره هېواد یو شهزاده ته مناسب وي. ددې شهزاده په لېږلو کې د امیر صاحب دا موخه وه چې د ملکې سره د افغانستان د اړیکو په اړوند کې خبرې اترې وکړي او د انگلستان حکومت په لندن کې د افغانستان د یو استازي منلو ته اماده کړي. څکه چې د هغه دا موخه وه چې د افغانستان اړیکې دې د هند حکومت پرځای مستقیماً د انگلستان حکومت سره ټینگې کړی شي. د امیر په اند د هند برتانوي حکومت د انگلستان حکومت د اصلي حالاتو او پېښو څخه خبرولو او په دې وجه به ډېرې وختونه د دواړو حکومتونو ترمېنځه غلط فهمۍ پیدا کېدلې خو د هند حکومت د امیر صاحب د دې تجویز سخت مخالفت وکړ او شهزاده نصرالله خان په دې بریالی نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ۱۸۹۵ز کال کې امیر عبدالرحمن خان ته د قوم له لوري څخه ضیاء الملت والدین لقب ورکړل شو او په ۱۸۹٦ز کال کې هغه د کافرستان ولایت ځینې سیمې ونیوې او د هغې ځای نوم یې نورستان کېښوده. له دې مخکې دا سیمه بېخي ازاده وه د دې سیمې خلک ډېر تورزن، زړور او د مسلمانانو سخت دښمنان وو. دا سیمه ډېره ښایسته حاصل خېزه ده او د تگ راتگ لپاره ډېره مشهوره ده. د مسلمانانو سره د کلکې دښمنۍ له امله به دې خلکو ته سره کافر هم ویل کېدل، چې د امیر عبدالرحمن خان په واسطه د اسلام مقدس دین دې خلکو ته ورسېده. د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د افغانستان د عایداتو دوه لویې ذریعې وې.**

## د ډیورنډ کرښې په اړه (۱۱) اړین ټکي چې پوهیدل پرې پکار دي:




**۱- د ډیورنډ کرښې په نوم پاکستان سره د افغانستان کوم تړون نه شته.**

**د ډیورنډ کرښې په نوم تړون نژدې ۱۲۴ کال مخکې امیر عبدالرحمن خان د برتانیا تر سخت فشار لاندې له برتانوي هند سره لاسلیک کړی. کله چې برتانیا له هنده څخه ووتله او هند وویشل شو، د انگریزانو له خوا له جوړ شوي پاکستان سره، افغانستان د پولې یا سرحد په اړه هېڅ ډول تړون، موافقه او معاهده نه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د ډیورند کرښې تړون کې دا کرښه نړیوال سرحد نه دی ګڼل شوی.

د ډیورنډ کرښې په نوم د امیر عبدالرحمن خان او د برتانوي هند د بهرنیو چارو د وزیر هنري مورټمر ډیورنډ ترمنځ لاسلیک شوی تړون اوه مادې لري. په دې تړون کې هېڅ ځای ډیورنډ لاین د یو دایمي پولې په توګه نه دي یاد شوی. بلکې ټولې مادې یې د هغه وخت د برتانوي هند او امیر عبدالرحمن خان ترمېنځ پر دې کرښه د پرتو سیمو په تنظیم او ویش راڅرخي. په دې اوو مادو تړون کې، یو ځل د «فرنټیر لاین» یو ځل د «باونډري» پنځه ځله د «فرنټیر» یو ځل د «باونډري لاین» او یو ځل د «بارډر» ټکی کارول شوی دی، چې دا ټول تناقض او ابهام، د دې تړون په لنډ مهالتوب دلالت کوي.

برتانوي څېړونکی هیریس په لندن کی د خپلې ډاکترۍ په تیزیس کې لیکي: «په واقعیت کې د یو قوم د ویشلو په هکله د (ډیورنډ) د تړون یوازینی ثبوت هغه لیکه ده چې د تړون په نقشه ویستل شوی دی او (امیر عبدالرحمن) دغه نقشه نه ده لاسلیک کړې. ګڼ برتانوي او افغان تاریخ پوهان داسې اسناد او شواهد لري چې برتانویانو د پاکستان ترجوړولو پورې د ډیورنډ لیکې ته د بین المللي کرښې په سترګه نه وو کتلي.

د ډیورنډ کرښې د تړون د مادو پښتو ژباړه دې لیکنه کې لوستلی شئ!

۳- افغان چارواکو له هماغه پیل راهیسې هېڅ کله دا کرښه د سرحد په توګه نه ده منلې.

امیر عبدالرحمن خان په خپلو یادښتونو کې دا یوه موقته او پر زور تپل شوې کرښه بللې او هیله یې څرګنده کړې چې یو وخت به برتانویان له هند ووځي او افغانان به خپله نیول شوې خاوره بېرته ترلاسه کړي.

په امیر عبدالرحمن خان پسې، امیر حبیب الله خان، امیر امان الله خان او نادر خان راغلل، چې هر ځل برتانوي هند اړ کړي چې ددې تړون دوام تایید کړي، دا کار خپله ددې تړون پر موقتوالي دلالت کوي. دې درې واکمنو هم له عبدالرحمن را وروسته له برتانوي هند سره د ډیورنډ د کرښې د تړون موقت دوام یو ډول تایید کړی خو هېڅ داسې سند نشته چې دوی دې دا کرښه د رسمي یا دایمي سرحد په توګه منلې وي. بلکې د هماغه عبدالرحمن خان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا د شوي ترون دوام ته يې غاړه ایښې ده.

خو د پاکستان له جوړېدو را په دې خوا هېڅ افغان چارواکي له پاکستان سره دا کرښه د سرحد په توگه په رسمیت نه ده پېژندلې. ان د رباني او طالبانو په څېر حکومتونه چې پاکستان پر افغانستان تپلي وو، هم دې ته چمتو نشول چې له پاکستان سره د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمېنځ د سرحد په توگه تایید کړي.

۴- پاکستان د برتانوي هند حقوقي ځای ناستی نه دی.

برتانوی هند د رنجیت سینگ، شاه شجاع، امیر دوست محمد خان، امیر محمد یعقوب خان، امیر عبدالرحمان خان، امیر حبیب الله خان، امان الله خان او محمد نادر شاه سره حقوقي او سیاسي راشه درشه ساتلی وو، نه د پاکستان سره. ځکه هغه مهال پاکستان هېڅ (حقوقي، سیاسي، تاریخي، کلتوري) وجود نه درلود. پاکستان چی هېڅ موجود نه وو، څنگه به ورڅخه د ښکېلاک گرې برتانیايي وارث جوړشي؟ کله چې په ۱۹۴۷ ز کال اگست کې برتانوي هند وویشل شو او پاکستان رامنځ ته شو، افغانستان لومړنی او یوازینی هېواد وو چې په ملگرو ملتونو کې یې د پاکستان د غړیتوب مخالفت وکړ او د لومړي ځل لپاره د ډیورنډ کرښې اخوا د پښتنو او بلوڅو د روا حقونو ناره او خپله غوښتنه په نړیوال سټېج راپورته کړ. په همدې وخت کې د لومړي ځل لپاره د برتانیا د مشترک المنافع چارو وزیر نیول، بیکر د دې هېواد په پارلمان کې پاکستان خپل میراث خور وباله او د ډیورنډ کرښه یې د لومړي ځل لپاره بین المللي سرحد یاد کړ.

۵- له ډیورنډ کرښې پورې غاړه پښتنو د پاکستان جوړېدل او دا کرښه نه ده منلې د ډیورنډ د ۲۴۳۰ کیلو متره اوږدې کرښې پورې غاړه پښتنو د ډیورنډ د کرښې په خلاف د هماغه پیل راهیسې وسله وال پاڅونونه پیل کړي وو، د انگریزانو چاونۍ یې وسوزولې. کله چې پاکستان جوړ شو د باچاخان په مشرۍ د کوزو پښتنو په میلیونونو کسانو مظاهرې او اعتراضونه وکړل او د ډیورنډ کرښې له مېنځه وړو ناري یې پورته کړې، چې د پاکستان د ځپوونکو اقداماتو او د افغانستان د ورانونکي جگړې سربېره تر ننه هم په کوزه پښتونخوا کې ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرښې خلاف احساسات پر ځای پاتې دي.

٦- ظاهرشاه د ډیورند کرښې د له منځه وړلو درې مهم فرصتونه له لاسه ورکړي.

لمړی: په ۱۹۴۷ ز کال کې چې د پاکستان په نوم یو نوی هېواد جوړ شو، نو له قبایلي سیمو انګریزان ووتل. د برتانیا هند ټولې چاونۍ، ودانۍ پاکستان ته پاتې شوې او په دې توګه پاکستان ځان د برتانیا او افغانستان ترمېنځ د حقوقي تړونونو میراث خور وباله. په کابل کې د برتانیا د سفارت ودانۍ هماغه وخت د پاکستان لاس ته ورغله. تاریخ پوهان په دې باور دي چې هغه وخت د افغانستان د پاچا محمد ظاهر شاه لپاره یو ښه چانس وو چې پرخپلې سیمې یې دعوه کړې وی. خو د ظاهر شاه حکومت د ناڅرګندو دلایلو له کبله یوازې په بیانونو کې دا دعوه توده وساتله او د خپلې خاورې د نیولو لپاره د پیاوړي پوځ په لرلو سربېره هم عملي ګام پورته نکړ. د هغه وخت د حکومت چارواکي د دې فرصت بایللو په اړه بېلابېل دلایل بیانوي خو یو هم په سمه توګه نشي توجیه کېدلی.

دویم: غوره فرصت چې په کې افغانستان پر خپلې خاورې دعوه کولی شوله، په ۱۹٦۵ ز کال کې هغه مهال چې پاکستان په خپل ټول پوځي توان هند سره په جنګ اخته وو، افغانستان په یو پراخ پوځي برید کې دا سیمې نیولې شوې خو افغان حکومت نه یوازې د خپلې پلرنۍ خاورې د بېرته ترلاسه کولو لپاره پوځي اقدام ونه کړ بلکې د هندوستان پر ځینو بمباریو یې چې د پېښور پر هوایي ډګر شوې وې د افغانستان له خوا اعتراض وکړ. د افغانستان لپاره د ډیورنډ لاین د له منځه وړلو دریم ښه فرصت په ۱۹۷۱ ز کال کې هغه مهال وو چې د پاکستان زیات پوځ په بنګال او وروسته په هند کې بند شو، بنګله دیش ازادي واخېسته، خو افغانستان د محکومو پښتو د ازادۍ لپاره په دې سم وخت کې غوځ اقدام ونه کړ.

۷- اسلامي بنسټ پالو ډلو په سیمه کې د ډیورنډ کرښې پر ضد ولسي داعیه وځپله.

په افغانستان کې د ظاهر شاه او ورپسې سردار محمد داود په واکمنۍ او تر هغې راوروسته موده کې په افغانستان کې او له پولې اخوا په کوزه پښتونخوا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي بنسټ پالې ډلې تل د پاکستان د پوځ تر مستقیم اغېز لاندې وې او ځینې یې پاکستاني او برتانوي استخباراتي ادارو د ډیورنډ لاین پرضد د ولسي احساساتو د کمزوري کولو له پاره رامېنځ ته کړي. د پاکستان او افغانستان یو شمېر بنسټپالو اسلامي ډلو د افغانستان د ملي ارزښتونو د کمزوري کولو لپاره پرله پسې هڅې وکړې او موخه یې دا وه چې په لر او بر پښتنو کې د ډیورنډ کرښې پر ضد شته کرکه راکمه کړي. په افغانستان کې اسلامي جهادي تنظیمونو د پاکستان د پوځ او مذهبي ډلو سره یو ځای په مستقیم او غیرې مستقیم ډول کوښښ وکړ چې دواړو خواوو ته د ډیورنډ کرښې نه منونکي ملي خوځښتونه وځپي چې دا چاره تر اوسه هم دوام لري. په تېرو درې لسیزو کې د شوروي یرغل او د افغانستان له جهاد څخه د پاکستان استفاده او ورپسې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د طالبانو راپورته کول د دې لامل شول چې په سیمه کې ناخوالې دومره زیاتې شي چې خلک د ډیورنډ کرښې پر ضد کرکه هېره کړي.

۸- پاکستان له هر افغان حکومت څخه د ډیورنډ کرښې د منلو غوښتنه کړې.

د پاکستان له رامېنځ ته کېدو راوروسته پاکستان پر له پسې له بېلابېلو لارو د وخت پر افغان حکومتونو فشار راوړی چې د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان تر مېنځ د رسمي کرښې په توګه تایید کړي. دوی د ظاهر شاه او داود خان د واکمنیو پر ضد د حزب اسلامي د هغه وخت غړي لکه حکمتیار، مسعود او نورو لا د نور محمد تره کي له واکمنۍ مخکې بریدونو او وسلوال مخالفت ته هڅول او دوی ته یې وسلې ورکولې. دې ډلو لا هماغه مهال په افغانستان کې د ښوونځیو سوزول او د پلونو نړول پیل کړي وو. کله چې په افغانستان کې په ۱۳۵۷ کال کې نظامي بریالی پاڅون وشو او د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند ته واک په لاس ورغلی، نو پاکستان ته لا ښه پلمه جوړه شوه او د مجاهدینو تر شا د همدې لپاره ودرېد څو د افغانستان مرکزي حکومتونه کمزوري کړي او دا کرښه پرې ومني. اسناد ښيي چې پاکستان په تېرو درې لسیزو کې د ډاکتر نجیب الله، رباني، طالبانو او حامد کرزي له حکومتونو وخت پر وخت د رسمي سرحد په توګه د دې کرښې د منلو غوښتنه کړې، خو دې نظامونو که غوښتل یا نا غوښتل د دې کرښې د تایید توان یې نه درلود. پخواني ولسمشر حامد کرزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت په وخت دا خبره په ډاګه کړې چې پاکستان ورځخه په رسمي غونډو کې د طالبانو له ملاتړ ځخه د لاس اخیستو په بدل کې په ځرګنده د ډیورنډ کرښې د منلو او له هندوستان سره د اړیکو د پرې کولو غوښتنه کړې چې نوموړی وايي نه يې ده منلې. د اشرف غني په مشرۍ اوسنی حکومت هم په دې اړه د پاکستان له جدي غوښتنې سره مخ دی.

۹- د امریکا او برتانیا په ګډون یو شمېر هیوادونه ډیورنډ د افغانستان او پاکستان تر منځ رسمي پوله ګڼي خو زیات شمېر هېوادونه يې نه مني. د امریکا، بریتانیا او سعودي عربستان په شمول ځینې هیوادونه د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمېنځ رسمي سرحد بولي. خو د دې کرښې لانجمن وضیعت هېڅ هېواد نه ردوي. له همدې کبله خو د ملګرو ملتونو په ګډون نړیواله ټولنه تل د دواړو لورو ترمنځ په دې اړه یوې وروستۍ پریکړې ته د رسېدو لپاره د خبرو اترو او جوړجاړي غوښتنه کوي. همدارنګه د هندوستان په څېر یوه ډله هېوادونه داسې هم دي چې ډیورنډ لاین ته لکه د افغانانو په څېر د یوې تپلې شوې نامنل شوې کرښې په سترګه ګوري او هېڅکله يې د افغانستان او پاکستان تر منځ د پولې په توګه نه مني.

۱۰- حکومتونه په یوازې سره د ډیورنډ کرښې په اړه پریکړه نشي کولی.

د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان د حکومتونو څخه ډېره د پښتنو د ستر ولس مسئله ده، چې ددې کرښې په اوږدو تر شپیتو میلیونو څخه په زیات شمیر کې پراته دي او دې کرښې دا ستر ولس په دوو برخو داسې ویشلی چې د یوې کورنۍ غړي يې سره بېل کړي. د دې کرښې د منلو او یا نه منلو په اړه هره پریکړه هم په همدې پراخو پرګنو یا ددوی په منتخبو استازو پورې تړلې ده. په افغانستان کې یو شمېر پردي پاله وطن پلورونکي څېرې چې د ملي یووالي پر ځای بېلوالي ته لیوال دي د کرښې د منلو یو شمیر غیر معقول دلایل پټ او پنا وايي، خو افغان حکومت، پاکستاني پوځ او نور لوري د دې پولې د منلو یا تایید واک نلري. د نړیوالو حقونو له مخې په سیمه کې یوه پراخه، بې پرې او عادلانه ټول پوښتنه کولی شي د ایستل شوې کرښې برخلیک وټاکي، د کومې ټول پوښتنې له پاره چې اوس شرایط او اراده نشته. له دې پرته که ولسونه په دې اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریکړو کې شامل نه وي، د حکومتونو ترمېنځ هر ډول فیصلې به بیا هم لکه د عبدالرحمن خان او برتانوي هند ترمنځ تړونونو ته ورته وي، چې کاغذ کې به وي خو ولسونه به یې هېڅکله هم ونه مني چې پر وجود یې دا کرښه کښل شوې ده. همدارنګه د افغانستان د نورو وروڼو قومونو اخلاقي مسولیت دا دی چې د دې کرښې پر ضد د پښتنو د داعیې ملاتړ وکړي، تر دې پرته ددوی له خوا ددې کرښې منل یا نه منل د ستونزې هواري سره کومه مرسته نشي کولی او د دوی لپاره هم کومه ګټه نه لري.

۱۱- ایا د ډیورنډ کرښې د معضلې حل نشته؟

ولې نه. لکه مخکې مو چې وویل که په سیمه کې داسې شرایط رامېنځ ته شي چې د کرښې دواړه غاړې میشت پښتانه ولسونه چې اوس ویشل شوی، په ازاده توګه خپله اراده څرګنده کړي او د هغوی ارادې ته درنښت وشي او پریکړه یې تضمین شي، د دې کرښې په اړه یوې دایمي حل ته لاره هوارېږي. البته افغان حکومت د کوزو او برو پښتونو د یوې لویې جرګې په ترڅ کې د دې کرښې په اړه بحث او خبرې پیلولی شي چې ښایي اوږد وخت ونیسي څو پریکړې ته ورسېږي. همدارنګه د افغانستان او پاکستان حکومتونه کولی شي پر کرښې د کړکېچ د راکمولو له پاره پر ځینو لنډ مهالو حل لارو غور وکړي، څو د ملي سترې ستونزې یو دایمي حل ته لاره پیدا شي. دې کې هېڅ شک نشته چې د دې کرښې پر سر راپورته شوي کړکیچ د کرښې دواړو غاړو ته پښتانه ناارامه کړي، او دا سمه نه ده چې په اړه دې هېڅ ډول خبرې نه کېږي. خبرې کېدای شي خو دا خبرې باید د دواړو لورو د حکومتونو په صلاحیتونو پورې محدودې وي او د کرښې په اوږدو کې د پرتو ولسونو خوښه او خیر ښېګڼه باید په کې شامله وي. بهرام خېل پاځون، دحقوقو د پوهنتون استاد ودیر صافی تل وایي دا کرښه په حقوقي لحاظ کوم رسمېت نه لري. حامد کرزی د افغانستان مخکني جمهور رئیس په وار وار په رسمي غونډو کې ویلي چې دا کرښه د منلو نه ده او زه یې نه منم. له ما پاکستان درې ځلې غوښتي چې د دې کرښې رسمیت ومنم هیڅکله دا کار نه کوم او نه یې واک لرم. خو د پدرام او یو څو نورو وطن پلورونکو کسانو پر خلاف، عبدالغفور لیوال سیاسي څېړونکي او د اوسني

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت د سرحدونو او قبايلوچارو سرپرست وزير وايي د ډيورنډ کرغېړنه کرښه هېڅکله د منلو نه ده او نه په دی هکله کوم رسمي سند شته. د زياتو مالوماتو په اړوند د اروپا د پارلمان نظر په لاندی توگه د ماخذ په شکل را اخلم چی لوستونکي په رښتيا پوه شي.

## درباره ډيورنډ و پارلمان اروپا

### ثور ۲۵, ۱۳۹٦هـ ش

**دنیا:** غرب باید ډیورنډ را دوباره بررسی کند و حق افغانستان را بشناسند.

روزنامه های چاپ امروز کابل روی اظهارات اخیر معاون پارلمان اتحادیه اروپا در مورد خط دیورند و همچنان وضعیت امنیتی افغانستان تمرکز نموده اند.

دنیا روزنامه دنیا در شماره امروزی اش در مطلب نوشته است که معاون پارلمان اتحادیه اروپا اظهار داشته که غرب باید خط دیورند را بار دیگر مورد بررسی قرار بدهد و حق تاریخی افغانستان را بشناسند.

در ادامه مطلب آمده است که نشریه بزنس ستندرد از قول ریچارد چار نسکی معاون پارلمان اتحادیه اروپا نگاشته است که بخاطر از بین بردن تروریزم وقت آن فرا رسیده تا در مورد خط دیورند تجدید نظر صورت گیرد و با در نظر داشت واقعیت های موجود در آن مورد تصمیم گرفته شود.

وی همچنان گفته، بخاطر این که خط دیورند به مثابه مرکز تروریزم جهانی مبدل شده و از سوی هم بخاطر تامین صلح و ثبات در افغانستان، لازم است تا امریکا و اروپا در پالیسی های شان در قبال منطقه تجدید نظر نمایند.

وی همچنان اضافه نموده است که پاکستان برای ادامه تسلط اش بالای این مناطق کوشش مینماید تا در منطقه بی ثباتی ادامه یابند.

**هیواد:** روزنامه دولتی هیواد در سرمقاله اش در مورد وضعیت امنیتی در افغانستان تمرکز نموده و گفته شده که وضعیت موجود در افغانستان و تحرکات داعش، توجه دولت امریکا را بیشتر به افغانستان معطوف نموده است و سیاستمدران و نظامیان امریکا را وا داشته تا جنگ در افغانستان را مورد بررسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جدی قرار بدهند.

در ادامه مطلب آمده است که ستراتیژی جدید امریکا در قبال افغانستان به رئیس جمهور ترمپ ارسال شده و در مورد تصمیم نهایی گرفته خواهد شد. در مطلب آمده است، کار شناسان به این نظر استند که استخبارات امریکا به این نتیجه رسیده که باید جنگ در افغانستان مورد بررسی جدی قرار بیگیرد.

**اصلاح:** روزنامه اصلاح در سرمقاله اش نوشته است که جنگ در افغانستان به هیچ وجه داخلی نیست و از همان آغاز هم خارجی ها در آن دخیل بودند.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډیورنډ کرښه او په اروپا کې د مېشتو افغانانو ګډه اعلامیه

**د ۲۰۰۷ ز کال د فبرورۍ نهمه**

**جرمني، د فرانکفورت ښار**

د ۱۳۸۵ لمریز د سلواغې (دلوې) په شلمه (د ۲۰۰۷ ز کال د فبرورۍ پر نهمه) د جرمني د فرانکفورت په ښار کې د ډیورنډ د تپل شوې کرښې او د پاکستان له لورې پر دغه کرښه د ماینونو او اغزن دېوال په اړه، په اروپا کې د افغاني کلتوري ټولنو د ګډې جرګې په بلنه، په اروپا کې د استوګنو افغانانو یوه لویه غونډه جوړه شوه، چې د بېلا بېلو کلتوري، اجتماعي او سیاسي سازمانونو غړو ګډون په کې کړی وو. په غونډه کې د اروپا له بېلا بېلو هېوادونو څخه په سلګونو افغانانو د واحد ملي ـ افغاني دریځ د څرګندولو لپاره برخه اخېستې وه. د دې غونډې په بهیر کې د افغانستان او پښتونخوا یو شمېر علمي او سیاسي شخصیتونو خپلې علمي مقالې واورولې او په پای کې دغه ټکي د غونډې د اعلامیې په توګه اعلان شول:

۱ ــ د ډیورنډ د توافق لیک له مخې د افغانستان یوه برخه د برتانوي هند له خوا د خپل نفوذ د سیمې په توګه اعلان شوې او وروسته تصرف شوې ده. د ډیورنډ توافق لیک هېڅ ډول حقوقي اعتبار نلري او تراوسه پورې حتی داسې یو متن نه دی په ډاګه شوی چې امیر او ډیورنډ لاسلیک کړی وي. د ډیورنډ کرښه هېڅکله د سیاسي پولې په توګه نه ده منل شوې او نه هم د منلو وړ ده.

۲ ـ د دیورنډ د تحمیلي کرښې د راتلونکي برخلیک په اړه پرېکړه او د منلو یا نه منلو موضوع یې، د دغې کرښې د دواړو خواوو په افغانانو پورې اړه لري. دغه پرېکړه باید خپله ولسونه په یو مصؤن، سوله ییز او باامنه چاپېریال کې د آزادې ارادې له مخې وکړي.

زموږ په نظر په اوسنیو شرایطو کې د کرښې دواړو خواوو ته د امن او سولې چاپېریال او د آزادې ارادې د څرګندېدو لپاره هېڅ ډول امکانات نه دي برابر. لا د جګړې لوګي پورته دي او د ناامنۍ، شخړو او بې باورۍ په داسې یوه فضا کې د داسې یوې خورا مهمې ملي مسئالې په هکله پرېکړه ناشونې ده. موږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې باور يو چې دغه پرېکړه، نه د افغانستان او پاکستان پر حکومتونو پورې اړه لري او نه يې په پارلمانانونو پورې، بلکې د ولس د آزادې ارادې پرېکړه بايد د ټول ولس د مستقيماً او مخامخ نظر د څرګندونې له مخې تر سره شي.

۳ـ د غونډې برخه وال پر دغې کرښې د اغزن تار او ماينونو ښخول، له ټولو نړيوالو تړونونو او کنوانسيونو سره په مخالفت کې ګڼي او په کلکه يې ردوي. موږ په دې نظر يو چې د جګړې، ترهګرۍ او مداخلې بهانې نه د اغزن تار او ماين په وسيله له منځه ځي او نه د تشو تبليغاتو په بهيرونو، بلکې په رښتيني ارادې پورې اړه لري.

څرنګه چې د استعمار د راپاتې کرښې (ډيورنډ) په وسيله نه يوازې دا چې يو واحد ملت، يا يو کلي جلا شوی، بلکې د دوو ورونو يو کور په دوو برخو وېشل شوی دی، له همدې کبله د دغه ولس، د دغو ورونو ترمېنځ د اړيکو د شلولو لپاره د ماينونو ښخول او د اغزن ديوال جوړول يو ستر بشري جنايت دی.

۴ ـ موږ د افغانستان له چارواکو څخه غوښتنه کوو، چې د کرښې اخوا پښتنو او بلوڅو ورونو ته په کلتوري، اقتصادي او ښوونيزو برخو کې پوره پاملرنه وکړي او د دغو ولسونو ترمېنځ عنعنوي اړيکې د پخوا په څېر ټينګ وساتي. دغه راز له نړيوالې ټولنې څخه هيله لرو چې د کرښې په دواړو خواوو کې د کړکېچ د پای ته رسولو لپاره د دغو سيمو تعليمي، اجتماعي او اقتصادي ودې ته پاملرنه وکړي او هلته د سترو اقتصادي پروژو د پلي کولو لپاره ژوره ستراتيژي طرحه کړي. په سيمه کې د سوله ييز ژوند له پاره دا يوازېنۍ او بنسټيزه لاره ده.

## پاکستان د ډيورنډ کرښه ته د کرښې نوم ورکوي:

د«ډيورنډ لاين» د ناقانونه او کرغېړنې کرښې څخه نږدې ۱۲۴ کاله تېرېږي. د افغانستان د پولو په ټاکنه کې روسانو او د هغه وخت استعمار د خپل استعماري موخو د ورستيو تګلارو د عملي کولو لپاره هم په پوره اندازه کار وکړ. د « ډيورنډ لاين ۱۹۹۳ ز کال» په نامه تحميلي، اجباري، نامالومه، فرضي، له سره غير مشروع او بيا د افغانستان د اوومې شورا د پرېکړې پر اساس منسوخه کرښه ده. د زمان په تېرېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د هغه باطل والی ورځ په ورځ ثابتېږي او د حقوقي او انساني لحاظه خپل اهمیت له لاسه ورکوي. خو په پښتو ژبه کې یو متل دی چې وایي اوبه په ډانګ نه بېلېږي، دا کرښه په تاریخي لحاظ د نړۍ لوی یرغلګر، ښکېلاکګر هېواد برتانیا له خوا د افغانستان پر خلکو تپل شوې ده. ولې افغان ولسونو هېڅکله دا کرغېړنه پوله نه ده منلې. که موږ د افغان انګریز ټول جنګونه په زیر سره لوستلي وي، نو ټول ملت ته دا روښانه ده چې د پولې دواړو خواوو مېشتو اوسیدونکو جلاوالی نه دی ښودلی او د خپل وطن د ازادۍ لپاره چې څومره اړینه وه اتلولي ښکاره کړي. د بېلګې په توګه یوڅو نمونو ته لنډه اشاره کوم.

«هېنر یمو ټیمر ډیورنډ» لیکلي، قبایل پاڅون کوونکي خلک دي، خو هېله من یم چې دا ځل تور غره ته زموږ ورتلونکی لښکري ډېرې وپاېږي او په دې هیله چې باجوړ او بونیر هم کومه ورانکاري ونه کړي او د وزیرو څخه د مالیې راټولولو وخت دی، خو په څو میاشتو کې په سرحد کې اور بل شو.

په ۱۸۹۴ز کال په چترال کې د انګریزانو د پوځ کلابندي او تباه کېدل، په ۱۸۹۷ز کال د سوات د خلکو پاڅون، د انګریزانو پر وړاندې د ملا سعدالله په مشرۍ د مومندو جنګیالیو په پشاور کې په هندوانو یرغل او بري د شیملی په یوه غونډه کې د یوه ولسي مشر خبره د تاوده هرکلي سره مخامخ شوه چې ویلي یې دي: د اکسټ په ۲۳ مه انګریزانو ته شرمونکې خبر د خیبر په دره کې ور په برخه شو، یانې دوي پوره ماته وخوړه.




په سلګونو بېلګې شته خو ما یو څو ولیکلې دا ددې لپاره چې د پولې بندول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسونو مخه نشي بندولی. دوی خو اغزن تار پیل کړی خو که ولسونه بیدار شي دا غدار دښمن به ژر په ګونډو شي. د یو ملت جلا کېدل اسان کار نه دی، بېلګه تر دوهمې نړېوالی جګړې وروسته المان هم پر دوه برخو وویشل شو او د برلین مشهور سیمینټې دیوال جوړ شو. خو کله چې المانیان سره یو شول دیوال په ۱۹۹۲ز کال کې ړنګ شو او یو المان جوړ او بیا ورغول شو. که دوی غواړي چې خپل ځان او خپل ګاونډ له ترهګرو خلاص کړي، د ترهګرو ځالې دې ړنګې کړي، دوی دا پټ ځایونه خپله جوړ کړي، دوی ته مالوم دي. پاکستان پوځ او آی ایس آی یوازې په دی پلمه دا کرغړېنه کرښه منل غواړي نو ځکه کله دروازې جوړوي او کله په ټول پاکستان کې پښتانه ځوروي، خو زما په اند دوی خپل قبر په خپله ځانته کیندي. لیکونکي له لیکنو څخه دا پښتنو د خوځښت یوه نمونه ده:

محمود خان اڅکزی د شهید عبدالصمد خان اڅکزي زوی په ۲۰۱۸ ز کال د فبروري میاشت کې د پښتنو په میلوني خوځښت کې وویل د امو څخه تر اباسینه خاوره د افغانانو خاوره ده هېڅا دوی ته په خیرات کې نه ده ورکړې، همدا ډول خان پاچا خان لمسي اسفندیار ولي وویل زه افغان یم او افغان به وم دا ډول توري کرغېړنې کرښې افغان ملت نشي جلا کولای.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هـالينډ په هيواد کې د افغانانو د جرګي د نړيوال کنفرانس لنډ راپور

**پاکستان د بنسټ پالنې او تروريزم مرکز ـ د افغانستان د بې ثباتۍ اصلي عامل:**

د اپريل د مياشتې په ۲۳ نېټه د هالينډ د استردام ښار ته څېرمه د بيفروايک Beverwijk په ښارګوټي کې په اروپا کې د افغانانو د جرګې له خوا د پورتنۍ اجـنډا د څېړلو او بحث لپاره په اروپايي هېوادو کې مېشتو افغان روڼ اند شخصيتونو، د سياسي ګوندونو استازو، ټولنو او مختلفو بنسټونو استازو ته بلنـه ورکړې وه، په کنفرانس کې د جرګې د مشرتابه جرګه ګۍ له خوا ګټورې او تاريخي خبرې او هم مقالې ولوستل شوې، د جرګې يوه نوښتګر او فعال ښاغلي ډاکتر اصغر خېل منګل پاکستان د ترهګريزو فعاليتونو او د تروريزم د ملاتړي او صادرونکي هېواد په توګه ياد کړ او د ډيورند د تپل شوي او استعماري کرښې حقوقي ارزونې ته په اشارې سره وويل چې دا استعماري کرښه له جيهونه تر اباسينه افغانانو ته حقوقي ارزښت لري، په کنفرانس کې د اروپايي بېلابېلو هېوادونو څخه د راغليو سياسي، اکاډميکو او فرهنګي شخصيتونو، د ټولنو او نهادونو د استاذو د ويناوو او پېغامونو د هند په نيمه وچه کې د پاکستان تيوري د انګريز د امپريل استعمار د جيوستراتيژيکو او جيوپوليتيکو اوږدمهاله موخو لپاره د دوي د لاس پوڅو له خوا مطرح او عملي شوه، هغه وخت ياني د ۱۸ پېړۍ په پای کې برتانوي ښکيلاکګر يواځنۍ اروپايي ځواک وو چې د هند په نيمه وچه او هندي سمندر کې يې خپلې اډې، قرارګاوې او د سوق الجيش مرکزونه مستحکم کړل. د انګريزانو ستراتيژي دا وه چه خپله سياسي اقتصادي او تجارتي ولکه په ټول هند او له هند څخه بهر د فاروړډ پاليسي (Forward) په چوکاټ کې د منځنۍ اسيا په لور پلنه کړي، ولې ددوي د استعماري موخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پراختیا غوښتنې په وړاندې په برصغیر کې د مختلفو ډلو ټپلو او گوندنو لکه، په ۱۸۱۳ز-۱۸۲۳ز کال د پنداریانو ازادي بخښوونکي غورځنګ چې د روهیله پښتنو امیرخان افغان یې رهبري کوله او وروسته له مبارزو او اتلولیو د انگریزانو د ۱۲۰۰۰۰ منظم اردو له خوا په بې رحمۍ وټکول شول.
همدارنګه د هند د ملي کانګریس گوند چې په ۱۸۸۵ زکال کې تاسیس او د دغه گوند په رهبري کې بیا مهاتماګاندي، مولانا ابوالکلام ازاد، ډاکتر ذاکرحسین چې دواړه افغانان دي، راجندر پرساد، جواهرلال نهرو وو، خان عبدالغفار خان پاچاخان او د هغه مشر ورور ډاکتر خان صیب هم د کانګریس له گوند سره د استعمار په شړلو کې همغږي او همکار وو. د یادولو وړ ده چه محمد علي جناح هم د کانګریس د گوند غړي وو. او وروسته د انگریزانو په اشاره په ۱۹۱۳ زکال کې د ټول هند مسلم لیګ گوند ته ورغله، پاچاخان هم د هند په شمال غربي سیمه کې د انگریزانو په ضد ۱۹۲۱ زکال کې د انجمن اصلاح افاغنه او په ۱۹۲۹ز کال کې یې د خدایي خدمتګارو غورځنګ بنسټ کېښود، په دې وخت کې وو چې د علیګړمسلم یونیورسټي لخوا په ۱۹۰٦ز کال کې په ډاکه کې د ال انډیا مسلم لیګ د گوند بنسټ کېښودل شو. د هند په نیمه وچه کې د مسلمانانو ځینو کـټه گوریو او لیږګیو له استعماري واکمنو څخه د مسلمانانو لپاره د ځینو امتیازاتو غوښتنې پیل کړې، د بېلګې په توګه په ۱۹۰٦ز کال د مسلمانانو یو ۳٦ کسیز پلاوي د سر اغا خان تر مشرۍ لاندې د شـمـله په توریستیکي او تفریحي ښارګوټي کې چې د ډهـلي په شمال کې موقعیت لري د هند له وایسرای (نائب السلطنة) لارډمنټو سره ملاقات وکړ، دغه پلاوي له انگریزانو څخه د هند په نیمه وچه کې د مسلمانانو لپاره د ځانګړي امتیازاتو او حقوقو غوښتنه کوله، همدارنګه د مسلم لیګ گوند د مسلمانانو د ځانګړي حقوقو اوامتیازاتو په چوکاټ کې خپلې غوښتنې وړاندې کولې او فعالیتونه یې ګړندي کړل، د یادولو وړ ده چې د هند په نیمه وچه کې د سرسید احمدخان له خوا د دوه قومي نظري تیوري، یانې هندوان بېل او مسلمانان بېل وړاندې او د ښکېلاکګرو ځواکونو په لمسونه د هندو، مسلمان جګړو زور واخېست. او په ټول هندوستان کې نفرت او کرکه پیل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلم لیگ گوند د دوه قومي نظریې تیوري تائید او د پلي کولو لپاره نه ستړي کیدونکي مبارزه کوله. همدارنگه په ۱۹۳۰ز کال کې د هند د الله اباد په ښار کې د مسلم لیگ د گوند کلنۍ غونډه د علامه محمد اقبال لاهوري تر مشرۍ لاندې جوړه او علامه اقبال پخپله پرانیستونکي وینا کې د هند په نیمه وچه کې د مذهب په اساس د دوه قومي نظریې یاني، هندوستان بېل او د مسلمانانو لپاره جلا هېواد جوړېدل تائید کړل. چې له دغه وخته د مذهبي ایډیولوژۍ په اساس د "پاکستان" د جوړښت لپاره لاره هواره او هڅې گړندۍ شوي، د پاکستان د نوم وړاندیز د لومړي ځل لپاره په لندن کې د Cambridge (کامبریج) د پوهنتون یو شمېر هندي زده کړه یالانو وړاندې کړ. چې په ۲۳ مارچ ۱۹۴۰ز کال د ال انډیا مسلم لیگ گوند چې د موضوع په اړوند یې په لاهور کې غونډه وکړه، د تائید وړ وگرځېده او د هند په نیمه وچه کې د مسلمانانو لپاره د جلا هیواد غوښتنه او مطالبه پکې تکرار شوه، د مسلم لیگ گوند دا غونډه تراوسه پورې د لاهور د قراداد یا قرارداد پاکستان په نامه یادېږي. او هر کال یې په لاهور کې د منار پاکستان او نورو ښارونو کې په ۲۳ د مارچ لمانځل کېږي، وروسته له پورتنۍ سریزې، اوس د کنفرانس د اجنډا په اړوند یو څو کرښې لیکم، د دویمې نړیوالې جگړې په وخت کې په اروپا او اسیایي محاذ کې انگریزي ښکیلاکگر له گڼو ستونزو سره مخامخ وو، په همدې شرایطو کې د مولانا ابوالکلام ازاد په مشرۍ د هند کانگرس گوند لخوا هندوستان ته د بشپړې خپلواکۍ غوښتنه وشوه او هم د Quit India او " هندوستان چهوړدو" یانې له هندوستان څخه ووځئ او هم له انگریزانو سره یې د عدم همکاري نوښت او تحریک پیل کړ، چې د کانگرس رهبرانو د نیول کېدو لامل شو، برتانوي حکومت د کانگریس د گوند په مشرۍ د خپلواکۍ غوښتونکو او مبارزینو له خوا د هند د استقلال مطالبه ومنله، خو په دغه وخت کې د مسلم لیگ گوند د محمد علي جناح په مشرۍ له انگریزانو سره همکاري کوله او د ښکیلاکي زبر ځواکونو لخوا به ورته وعدې ورکول کېدې چې تاسو به بیا خوشاله کړو او یو څه به درکړو، چې په ۱۹٤٦ز کال د برتانوي هند وایسراې (نائب السلطنة) لارډ ډیول، وروسته له ټاکنو د کانگریس گوند د لیږد (انتقالي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا Transitional حکومت په جوړولو مؤظف کړ او پنډت نهرو یې د انتقالي حکومت د مرستیال رئیس په توګه معرفي کړ.

خو د مسلم لیګ ګوند په انتقالي حکومت کې د برخې اخېستلو څخه ډډه وکړه، مګر وروسته د وایسراي لارډ ډیول د تماسونو په پایله کې مسلم لیګ ګوند هم په انتقالي حکومت کې شامل شو. او په وروسته فعالیتونو کې د کانګریس او مسلم لیګ ګوندونه له وایسراي سره دې تاریخي پرېکړې ته ورسېدل، چې د هند نیمه وچه به په هندوستان او پاکستان ویشل کېږي، همدارنګه د برتانیا پارلمان د هند د تجزیې موضوع د ۱۹٤۷ ز کال د جون د میاشتې په ۳ نېټه ومنله، ولې د هند د نیمې وچې ویشل د اګست میاشتې ته وځنډېد چې په ۱٤ د اګست ۱۹٤۷، پاکستان د انګریزانو د بدشګونه او شوم میراث او د دوي د جیوپولیتیکو او جیوایکانومیکو اوږدمهاله ګټو لپاره په مصنوعي توګه په داسې حال کې چې ځمکه د افغانانو او کلتور یې د هند څخه واخېست، رامېنځ ته کړ، د هند د نیمې وچې د ویش یا Partition له امله د هند د نیمې وچې خلک له یوې سترې غمیزې او ستونزې سره مخامخ شول د بېلګې په توګه ۱۰ ملیونه خلک دواړو خواوو ته وکوچېدل، د ۱ یو ملیون په شاوخوا کې مظلوم انسانان مړه شول، د پاکستان جوړښت د هند په نیمه وچه کې یوه منل شوې پروسه نه وه، د برصغیر اکثریت خلک د مسلمانانو په ګډون د مذهبي ایدیولوژۍ له مخې د هند د نیمي وچې له ویشلو سره سخت مخالف وو، له هغې جملې څخه مولانا ابوالکلام ازاد، خان عبدالغفار خان (پاچاخان) ډاکتر ذاکرحسین او ګڼ شمېر نور.

مولانا ابوالکلام به استدلال کاوه چې «یو هېواد د مذهب یا تیوکراسۍ په اساس نه جوړېږي، که داسې وي، نو ولې ۲۱ عربي هېوادونه یو هېواد نه دی».

یادونه: پاکستان د بنسټ پالنې او تروریزم مرکز وو او دی، د پورتنۍ لیکنې لپاره لاندې اخځونه مطالعه شوي:

۱ ـ India Wins Freedom د مولانا ابوالکلام اثر.

۲ ـ مولانا ابوالکلام ازاد Selected Speeches and Writings د سید شهاب الدین اثر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډیورنډ لاین موافقه لیک د حقوقی اړخ لنډ تاریخ

## د ډیورنډ لاین تړون د حقوقی اړخ لنډ تاریخ:

د نړۍ د نقشې پر مخ د افغانستان د اوسنیو پولو د تثبیت څخه نږدې یوه پېړۍ تېرېږي. د افغانستان د پولو په ټاکنه کې روسانو او انګریزانو د خپلو استعماري غرضونو د تحقق په اړوند په پوره اندازه لاس درلود.
که د ډیورند کرښه [۱۸۹۳ز کال] د افغانستان د نورو پولو سره پرتله کړو، دغه تریخ واقعیت په ډاګه څرګندېږي چې د کرښې په غزولو کی هېڅ یو بشري، جغرافیایي او حقوقي ملاحظات په نظر کی ندي نیول شوي.
په هره اندازه چه د ډیورند د تړون د لاسلیک د نېټې څخه لرې کېږو په هماغه اندازه، د افغانستان د خپلواکی سیاسي او دیپلوماتیکه بڼه غښتلې کېږي او ورسره افغاني واکمنان د ډیورند د کرښې په وړاندې د احتجاج او اعتراض پیاوړتیا او سیاسي ظرفیت ترلاسه کوي:
په افغانستان کی د ډیورند د تړون د مطرح کېدو څخه ۱۲۴ کال تېرېږی. په دغه موده کی ۱۸ حکومتونو په کابل کی واکمني چلولې ده. د هغې جملې څخه ۴ لومړنیو حکومتونو د ګواښ او فشار لاندې د ډیورند کرښه منلې او ۱۴ نورو حکومتونو د هغې په وړاندې په رسمي یا غیر رسمي توګه اعتراض او احتجاج ښودلی دی. ان تر دې چې د ډیورند قضیه د افغانستان په بهرني سیاست کې ستر ځای موندلی دی.
د نړیوالو حقوقي تعاملاتو سره خلاف، انګریزانو د افغانستان خپلواکي، د افغاني لوري لخواه د ډیورند کرښې د منلو سره وتړله.
د کابل د تړون په دویمه ماده کې چې په ۱۹۲۱ ز کال کې د برتانوي هند او اماني حکومتونو ترمېنځ لاسلیک شو، راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دواړو خواوو د هند او افغان پولې، په هغه شان چې د راولپنډۍ د ۱۹۱۹ ز کال د اګست په ۸۸ نېټه د تړون په پنځمه ماده کې څرګند شوی وو، مني. په قبايلي سيمو کې ځو پېښې د دې لامل وګرځېدې چې په هند کې د انګريزي حکومت د نسکورېدو څخه وروسته او د پاکستان د جوړېدو څخه مخکې د لومړي وزير شاه محمود خان حکومت د ډيورند تړون په يوه اړخيزه توګه باطل اعلان کړ. دغه پېښې په دې ډول وې:

ـ په پښتونخوا کې د انګريزانو پر ضد د خان عبدالغفار خان په مشرۍ آزادي غوښتونکی غورځنګ.

ـ په «بنو» کې د يوې لوی جرګې جوړېدل چې په هغه کې د پښتونخوا د يو مستقل دولت د جوړېدو په اړوند بند او بست وشو.

ـ په کابل حکومت باندې د قومونو د جرګې د استازو زور چې د پخوا په شان کابل ته راتلل.

شاه محمود خان د خپل حکومت دريځ په ۱۹۴۷ ز کال د جولای په ۳۱مه د برتانيې د بهرنيو چارو وزير ته وړاندې کړ. دغه دريځ د حقوقو د موازينو سره کاملاً سمون درلود. په دې مانا چې «هر دولت د خپلو ګټو د تشخيص او ملاتړ خاوند ګڼل کېږي. يو دولت کولای شي په خپل مسؤليت په يوه اړخيزه توګه بل لوري ته د يو يادښت په استولو کې هغه تړون ملغا اعلان کړي چې ورڅخه تاواني کېږي.»

(۱) په ۱۹٤۷ ز کال د پاکستان د رامنځته کېدو څخه وروسته په هغه تړون کې چې د محمد علی جناح (د پاکستان ولسمشر) او د افغانستان د استازي نجيب الله «توروايانا» ترمينځ په کراچۍ کې لاسليک شو، د آزادو قبايلو سيمه له صوبه سرحد او بلوچستان څخه جلا وپېژندل شوه. د علی جناح د مړينې څخه وروسته، خواجه نظام الدين د پاکستان نوی ولسمشر د مخکني تړون څخه سرغړونه وکړه.

پرته د افغاني حکومتونو څخه د ۷ دورې شورا هم د جولای په ۱۹٤۹ز کال د ډيورند د کرښې په ضد دريځ ونيولو.

په هر حال وروسته ددغه لنډ تاريخي پس منظر څخه حقوقي بحث ته ننوزو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې له دې څخه باید دغه واقعیت په بین المللي عامه حقوق. پاریس. ۲۰۰۲ز کال. ۲۱۱ـ۲۱۲ مخ. Patrick Daillier [ ۱] ۲ هېواد نه وو بلکې تحت الحمایه (colonie) نظر کې ونیسو چې افغانستان هېڅ وخت د انګریز مستعمره نه ګڼل کېده: [۱] protectorat مور د ډیورند تړون لیک حقوقي باور هغه وخت په ګوته کولی شو، چې له یوې خوا د نړیوالو تړونونو د پرېکړې عمومي پروسیجر (طرزالعمل) ته نظر واچوو، او له بلې خوا د بین المللي تړونونو د اعتبار حقوقي معیارونه له نظر و نه غورځوو. دواړه مور ته د ډیورند د تړون د حقوقی ارزونی وسیله په لاس راکوي.

لومړی ـ د یوه بهرني تړون د پرېکړې او منلو پروسیجر په دې ډول دی: [۲ ] ۱ ـ تړون باید د دواړو هېوادونو د واکمنو استازو له خواه لاسلیک شي. دغه صلاحیت د اساسي قانون لخوا متعاقدینو ته ورکول کېږي. بین المللي حقوق پوهان په دې باور دي. چې په بین المللي حقوقی نظام کې د اساسي قوانینو ضوابط په پوره اندازه نفوذ لري، آن تر دې چې د یو هېواد د اساسي قانون د حکمونو، څخه مراعات د تړون د باطل کېدو لامل ګرځي.

اوس راځو دی ته چی د موافقه لیک په اړه دغه شرط په ځای شوی دی که نه؟

الف ـ د ډیورند تړون د برتانوی هند د باندنیو چارو د وزیر (ډیورند) او د افغانستان امیر (عبدالرحمن) ترمنځ لاسلیک شو. امیر یو مطلقه پادشاه وو او اصلاً د اساسي قانون سره آشنا نه وو. بناً نوموړي د کوم اساسي قانون د حکمونو له مخې د افغانستان د خلکو استازیتوب او د تړون د لاسلیک کېدو صلاحیت نه درلود.

ب ـ دغه مطلقیت د افغانستان په دننه کې مطرح وو. د هېواد بهرنی سیاست د انګریزانو له خوا تر کنټرول لاندې وو. له همدې کبله د ډیورند د تړون په پروسیجر کې د امیر محمد یعقوب خان حقوقي او سیاسي باور د انګلستان د هند مستعمره د یو وزیر یانې ډیورند سره په یوه کچه کې واقع وو.

۲ـ نړیوال تړون باید د خلکو د استازو له خوا په پارلمان کی تایید شي.

داسې اسناد په لاس کې نه لرو چې تړون د انګلستان د عوامو مجلس له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تایید شوی وي. له بلې خوا په افغانستان کې هغه وخت پارلمان موجود نه وو. بر خلاف د موافقه لیک د نېټې نه مخکې لږ تر لږه د یو نیم پېړۍ په موده کې لویه جرگه موجوده وه. د تحت الحمایه افغانستان امیر جرئت ونه کړ چی په دې موضوع باندې د لوی جرگې د استازو له مخالفت او مقابلې سره مخ شي. بناً د ډیورند د موافقه لیک د لاسلیک په ترڅ کې د یو عادي منل شوي تړون د دوهم پروسیجر څخه سرغړونه شوې ده.

۳ ـ تړون باید د هېواد د لوی واک لرونکې اداري یانې د دولت د مشر لخوا لاسلیک شي. دا یوازنی شرط دی چې په ځای شوی وو.

۴ ـ تړون باید په رسمي جریده کې خپور او اعلام شي. دغه تجویز د تړون د انفاذ مانا ورکوي. په هغه وخت کې افغانستان دولت منظم نظام نه درلود. بناً دغه عملیه تر سره نشوه: عامه ولس د تړون د محتویاتو څخه بې خبره پاتې شو. وروسته مؤرخین په دې برخه کې چه آیا امیر، انگلیسي، دري متنونه او ورسره مل نقشه ټول لاسلیک کړي دي که نه، یو نظر نلري. ځینې یې داسې نظر لري چی گوندې امیر د موافقه لیک د دري متن سره مل نقشه باندې لاسلیک نه دی کړی او د تړون په متن کی د دواړو هیوادونو ترمېنځ د پولې کلمه هم نه ده ذکر شوې. بناً د ډیورند د موافقتنامی په لاسلیک کېدو سره د یو عادي تړون د تصویب د شکلیاتو څلورم شرط هم نه دی په ځای شوی.

۵ ـ تړون باید په اتفاق سره، د دولتی اړخونو له خوا په نړیوالو سازمانونو چې وروسته جوړ شول لکه ملگرو ملتونو د تړونونو په آرشیف کی ثبت شوی وای. دغه کار هم ترسره نشو.

[۱] د مستعمره هېواد کورنۍ او بهرنۍ اداره مستقیماً د ښکیلاکگر ځواک په لاس کې دي.

تحت الحمایه هېواد کورنۍ چارې خپله اداره کوي. اما بهرنۍ، امنیتي چارې او د بهرني سیاست واک د استعماري ځواک له خوا عملي کېږي.

نړیوال عامه حقوق. پاریس. ۲۰۰۲ز کال. ۱۹۳ مخPatrick Daillier (۲۲) 3

بناً د ډیورند تړون د ۵ شکلیاتو او شرطونو څخه چې یو نړیوال باوري تړون باندې بنا دی، یوازې یو فرعي شرط یې په ځای کړی او څلور بنسټیز شکلیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی له نظر څخه غورځولي دي. د یو بین المللي تړون اعتبار یوازې د حقوقي شکلیاتو له رعایت سره تړلی نه دی. نور شرطونه هم ورسره مل دي، چې په لاندې ډول ورته اشاره کېږي:

## دوهم ـ د نړیوالو تړونونو د حقوقی باور بنسټیز اصول:

یو تړون د نورو حقوقي تولیداتو په څېر هغه وخت دوامداره حقوقي اغیزمنتوب درلودلای شي چې د اعتبار وړ وي.

۱ ـ د تړون لاسلیک کونکی باید اهلیت ولري یانې د نړیوالو حقوقو لوبغاړی لکه دولتونه یا بین المللي موسسات وي.

۲ ـ د تړون موضوع باید قانوني وي. مثلاً د ذروي وسلې صادرات، د یو تړون موضوع کېدلی نشي.

۳ ـ متعاقدین باید آزاده اراده ولري. آزاده اراده د دواړو خواوو بې غل او غش رضایت څرګندوي.

همدا اوس د مخکنیو توضیحاتو په رڼا کې، د ډیورند تړون حقوقي اعتبار، تر څېړنې لاندې نیسو:

۱ ـ د تړون د لاسلیک کوونکی اهلیت: د ویانا د ۱۹٦۹ ز کال د ٦ مې مادې د کانوانسیون له مخې په نړیوالو حقوقو کې یوازې یو خپلواک دولت او یوه بین المللي موسسه د بین المللي حقونو د متصدی یا فاعل په توګه د بین المللي تړون د لاسلیک کولو واک لري.

د بین الملي حقوقو ټول پوهان هم په دې نظر دي: «کله چې یو هېواد تحت الحمایه [پروتکتورات] وی، یوازې حامي دولت [پروتکتور] د بین المللي تړون د انعقاد حق او صلاحیت لري». پدې اړه تاریخي بېلګې شته دي. موږ د یو مثال په ویلو اکتفا کوو: کمبودیا په ۱۹٤۱ ز کال کې د فرانسې تحت الحمایه وه. په همدغه کال کې فرانسې د حامي [پروتکتور] دولت په توګه د تایلند سره د کمبودیا د پولو د مالومولو په موخه یو تړون لاسلیک کړ.

د امیر عبدالرحمن په وخت کې افغانستان تحت الحمایه هېواد وو. د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرني امنيت او باندني سياست اداره، د انگريزانو په لاس کې وه. يوازې انگريزانو د بين المللي تړون د انعقاد واک او صلاحيت درلود. افغاني تحت الحمايه حکومت د بين المللي تړون د انعقاد څخه بې برخې وو.

دغه په رښتيا چې انگريزان او تزاري روسيه په ۱۸۷۳، ۱۸۷۷او ۱۸۹۵ز کلونو کې د افغانستان د شمالي پولو په ټاکلو کې رول درلود، دا ثابتوي چې هېواد په خپل بهرني سياست کې د انگريزانو تر استعماري حکم لاندې او يو تحت الحمايه دولت وو. بناً د يو نړيوال تړون د لاسليک کېدو حق يې نه درلود.

۲ ـ د تړون مشروعيت: د ويانا ۱۹٦۹ز کال کانوانسيون په خپل۵۳۳ ماده کې ليکي: « هغه تړون باطل شميرل کيږي چې د لاسليک په وخت کې د بين المللي حقوقو د عمومي موازينو سره په تضاد کې قرار ولري. دغه موازين په مجموعي توگه د نړيوالی تولنې له خوا منل شوي او تر هغه وخته پوری اعتبار لري چې نوي حقوقي اصول د هغوي ځای ونيسي. د ډيورند د تړون موضوع د پولو تثبيت وو. بناّ په دغه اړه د تړون مشروعيت تر سوال لاندې نه راځي.

۳- د متعاقدينو آزاده اراده: هغه لاملونه چې د متعاقدينو په آزاده اراده باندې اغيز اچوي او د يو تړون د بطلان سبب گرځي او د کورنيو حقوقو څخه بهرنيو حقوقو ته لار مومي، په دې ډول دي: اشتباه، غلطي، غبن او خشونت.

نوموړي سببونه هر يو کولای شي چې د متقاعدينو بشپړ رضايت او خپلواکه اراده تر پوښتنې لاندې راوړي او پايله دا چې د تړون د باطلېدو لامل وگرځي. د بطلان د درې گونو لاملونو څخه موږ يوازې په غبن او خشونت باندې چې زياتره د ډيورند د کرښې په اړه وړاندې کيږي رڼا اچوو:

نړيوال عامه حقوق، پاريس، ۲۰۰۲ز کال، ۱۹۱ مخ، M Martin.

[د پولو په اړه د انگريزانو او روسانو له خوا په مختلفو نېټو يو شمېر هياتان ټاکل شوي وو. لمړی هيات د دواړو هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو په کچه [لارد کرينويل او پرنس گورچکوف] جوړ شوي وو. يو بل پلاوی د انگليسي او روسي استازي د «چارلس پت او کاپيتان کامروف» په نومونو جوړ شوي وو.

الف. غبن په مختلفو ډولونو باندی مطرح کېدای شي: بډې يا رشوت د هغی جملې څخه گڼل کيږي. د بډو ورکولو موخه د بډو ورکونکي په گټه د هغو خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اترو اړول دي چی د تړون د لاسلیک په بهیر کې کېږي. د ویانا د ۱۹٦۹ز کال کانوانسیون پخپله ۵۰۰ ماده کې بڼې د متعاقدینو د آزادې ارادې د سلبولو لامل وباله چې په کلکه د تړون اصولیت تر پوښتنې لاندې راوستی شي. د ډیورنډ په تړون کې د مستر ډیورنډ له خوا افغاني لوري ته په بربنډه توگه د مستمري تر نامه لاندې د بډو ورکولو اشاره شوې ده. د تړون په ۷ مه ماده کې لیکل شوي: «د هند دولت د هند په وړاندې د امیر ښه نیت ته هر کلی وایي او نوموړي ته اجازه ورکوي چی خپلې اړتیاوې د هند د خاورې له لارې تر لاسه کړي».

۷ ماده زیاتوي: « برسېره پر دې ددې په خاطر چې امیر ددې معاملې پر سر باندې خپله دوستانه دریځ څرگند کړ د هند دولت د امیر مستمرې د ۱۲ لکو روپییو نه ۱۸ لکو ته زیاته کړه.»

ب ـ اجبار او تشدد، که د یو دولت د استازي او یا خپله د دولت په وړاندې په قطعي توگه سره د یو تړون د اصولیت ریښې له بېخه باسي او باطلوي یې. د ویانا کانوانسیون پخپله ۵۱ ماده کې وایي: «هغه تړون چې د یو دولت په استازي باندې د گواښ او فشار په وسیله شوی وي، هېڅ حقوقي اغېزه نشي درلودلای او بالکل باطل دی.» په بین المللي حقوقو کې د پخوا زمانې راهیسی د یو دولت په سر باندې نظامي، سیاسي یا اقتصادي فشار، د یو تړون د انعقاد په مقصد، د تړون د بطلان د یو لامل په توگه پیژندل شوی او په لاتیني اصطلاح «لاکس لاتا» افاده شوی دی. د ویانا کانوانسیون په خپله ۵۲۲ ماده کې نوموړی حقوقي حالت داسې مسجل کوي: « هغه تړون چې د گواښ یا زور د استعمال پر بنسټ تصویب شي او د هغو بین المللي حقوقو د ضوابطو سره چې د ملگرو ملتونو په منشور کی منعکس شویدي، مخالفت ولري، باطل اعلانیږي.»

د تاریخ په اوږدو کی هغه تړونونه چه د زر او زور له لارې تصویب او ورپسې باطل اعلام شوی زیات لیدل کېږي. موږ دلته څو مواردو ته اشاره کوو:

ـ په ۱۹۰۵ز کال کی جاپان «سیول» اشغال او کوریایی استازي یې دې ته اړ کړل چې یو تحت الحمایه کې تړون ته غاړه کېږدي. تړون سره له دې چې ٤۰ کاله تر اجرا لاندې وو په ۱۹٤۵ز کال کې وروسته د جاپان د ماتې څخه باطل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلام شو. په ۱۹۳۹زکال د مارچ په ۱۵مه د چکوسلواکیا ولسمشر «هاشا» او د هغه د باندنیو چارو وزیر، د هټلري آلمان تر فشار لاندې دې ته اړ شو چې د یو تحت الحمایه تړون په چوکاټ کې، «بوهم» او «موراوی» آلمان ته وسپاري. د آلمان د ماتې څخه وروسته، تحت الحمایګي تړون لغوه او نوموړي ایالتونه بېرته په چکوسلواکیا پورې وتړل شول. د نورنبرګ نظامي محکمې په ۱۹٤٦ز کال د اکتوبر په ۱۱ مه نېټه د یو حکم په بنسټ د نوموړي تړون د بطلان سره خپل موافقت څرګند کړ. په ۱۹٤۱ز کال کې کمبودیا د فرانسې تحت الحمایه وو. په فرانسه باندې د جاپان له خوا نظامي فشار، نوموړی هېواد دې ته اړ کړ چی له تایلند سره د پولو د تثبیت په اړه یو تړون لاسلیک کړي. تړون د کمبودیا ځمکني بشپړتیا سخته تاواني کړې وه. د جاپان د ماتې څخه وروسته فرانسې اعلام وکړ چې تړون د نظامي ګواښ تر فشار لاندې تړل شوی وو او د تحت الحمایګي نظام سره یو ځای ملغا اعلانېږي.

امیر عبدالرحمن د ډیورنډ د موافقه لیک د لاسلیک کولو په وخت کې د سختو نظامي یرغلیزو ګواښونو سره مخ وو: د برتانوي هند حکومت په بیړه د اورګاډي کرښه د چمن نه کندهار او د پشاور نه خیبر خواته غزوله. په کویټه کې یې په عسکري مانور لاس پورې کړی وو. که موږ د یو تړون د بطلان نورو فکتورونو ته پام هم ونه ساتو پر امیر باندې د افغانستان د نظامي اشغال فشار کفایت کوي چې د ډیورند د موافقه لیک مشروعیت تر پوښتنې لاندې راوړي او وربانديې د بطلان خط وکاږي.

2002ز کال، ۱۹۳ مخ، نړیوال عامه حقوق، Patrick Daillier [ ۱ ]

کوریا او جاپان، پاریس، ۱۹۱۰ز کال، ۵۳٦ ـ ۵۵۳ مخ V. P erinjaquet ] [۲] ۵

اصل: Relativité

دریم ـ د یو تړون نسبیت، د لاتین په حقوقی دود کې د یو تړون نسبیت په لاندې ډول څرګند شوی دی:

یانې «یو تړون د یو دریم لپاره وجیبه او حق نه زیږوي Pacta tertis nec nocentnec prosunt » موږ په دې هکله په تفصیل وغږېدو چې د ډیورند تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک د تحت الحمایه افغانستان او حامي یا پروتکتور انگلستان ترمېنځ لاسلیک شوې وو، نه د افغانستان او پاکستان ترمېنځ. پاکستان د ډیورنډ د تړون د رامنځته کېدو په وخت کې اصلاً شته والی نه درلود.

Pratique چال چلند د دولتونو او Jurisprudence internationale په نړیواله کچه کې قضایي رویه په دې همغږې دي چې یو تړون چې د دواړو هیوادونو ترمېنځ لاسلیک کېږي په یو دریم هېواد باندې حقوقي اغېز اچولی نه شي. پدی اړوند بېلگې زیاتی دي.

الف. آلمان د ۲۰ پېړۍ په سر کې د پولند د یوې سیمې په وړاندی چې «اوت سیلیزي» نومیده ځمکنۍ دعوا درلوده. د بین المللي عدالت نړیوال دیوان [ب، ع، ن، د] په ۱۹۲٦ ز کال د می په ۲۵ نېټه پخپل ۷ نمبر حکم کې پرېکړه وکړه چې: «یو تړون یوازې متعاقد دولت ته حق او مکلفیت ورکولی شي نه دریم دولت ته ». د عدالت نړیوال دیوان[ ع، ب، د] نوموړي حکم تایید کړ.

ب ـ د [ع، ب، د] د الوتکې په یوه پېښه کې چې په ۱۹۵۵ز کال د جولای په ۲۷ کې پېښه شوې او د بلغاریا او اسراییل تر مېنځ یې شخړه رامنځته کړې وه، داسې حکم وکړ چې د دیوان د اساسنامې ۳٦ ماده د یو دریم دولت په اړوند حقوقي اثر نه لري. په نړیواله کچه په مختلفو قضایاوو کې د حاکمیت پریکړې د [ب، ع، ن، د] او د [ع، ب، د] د تایید په استقامت صادر شویدي. د تاریخ په بهیر کې د دولتونو پراتیک چې د دیپلوماسۍ او اعلامیۍ د لارې افاده کېږي د تړونونو د نسبیت د پرنسیپ د تایید په دریځ کې قرار لري.

ج ـ جنرال دوگول د فرانسې پخواني ولسمشر په ۱۹٤۵ز کال د فبرورۍ په ۵۵ مه نېټه مخکې د «یالتا» د کانفرانس د جوړېدو څخه وویل: «فرانسه ځان د هغو تړونونو د اجرآ مکلف نه گڼي کوم چې یې د خبرو اترو په جریان کې گډون نه درلود ». د همدغه دریځ په تایید د«بن» د ۱۹۷۵ز کال د اکتوبر په ۱٤ اعلامیه کی راغلي وو: «فرانسه، انگلستان، شمالي ایرلنډ او امریکا په ډاگه اعلاموي چې د دوی ترمېنځ تړل شوي تړونونه په یو دریم دولت باندې حقوقي اثر اچولی نشي». بالاخره د ویانا کانفرانس د اعلامیې په ۳٤٤ ماده کې، د محتوا څخه ډکه مخکني حقوقي دود او دستور په لاندې عبارت کې مسجل شو: « یو تړون ددریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت په اړه هېڅ حق او وجیبه تولیدولی نشي». د ټولو مخکینیو توضیحاتو څخه مالومېږي چې د ډیورند د موافقه لیک اصلي اړخونه تحت الحمایه افغانستان او حامي یا پروتکتور انګلستان شمېرل کېږي. له نېکه مرغه زموږ دوست هېواد پاکستان د ډیورنډ د استعماري توطیې زده کړې څخه لرې پاتې کېږي. بناً تړون پاکستان دولت ته هېڅ حق یا وجیبه نه په برخه کوي.

## څلورم ـ د دولتونو د وراثت موضوع:

د ویانا د ۱۹۷۸ز کال کانوانسیون په ۱۵۵ مه ماده کې وایي: «په عادي او عمومي حالاتو کې کله چې یو دولت د بل دولت ځای ونیسي، وارث دولت د مخکېني دولت د حقونو او وجایبو د میراث مستحق ګڼل کېږي.» مهمه پوښتنه دا ده چې آیا هغه دولت لکه پاکستان چې د استعماري دولت د مېنځه تګ څخه وروسته، نوی زیږول کېږي د هغه تړون چې د استعمار د واکمنۍ له خوا منعقد شوی وو یو اړخ شمېرلی شو؟ دلته موضوع د لاندنیو موضوعاتو د طرح کېدو له کبله پېچلې کېږي: د نوي دولت د واکمنۍ حق (سوورنته) اعمال د نورو هغو دولتونو ګټې ساتل چې د استعماري دولت سره د تړون په چوکات کې تړل شوی وو. د کثیر الاضلاع تړون په اړه د بین المللي ټولنې د ګټې تامین. «عمومي قاعده دا ده چې د ښکیلاکګر د واکمنۍ څخه پاتې شوی نوی دولت د مخکېني دولت د معاهداتو په وړاندې د ثالث دولت حیثیت لري او د تړونونو د امتیازاتو او احیاناً د وجایبو څخه ګټه پورته کولای نشي. یا په بل عبارت کله چې د یو تړون یو اړخ له صحنې څخه حذف کېږي تړون د خپلې پشتیوانې څخه بې برخې او جنساً له منځه ځي.»[1]

دلته د یوې بېلګې په راوړلو اکتفا کوو: [ع، ب، د] په ۱۹۹۷ز کال سپتامبر، په ۲۵۵ حکم کې د سلواکیا د نوي جوړ شوي دولت په تاوان هغه تړون چې په ۱۹۷۷ز کال د «دنیوب» د سیند د شاوخوا ځمکې د ویش په سر باندې د چکوسلواکیا او هنګري ترمېنځ تړل شوي وو ملغا اعلام کړ. د مخکېنیو توضیحاتو

---

[1]- نړیوالې اړیکې، پاریس، ۱۹۹۲ز، ٤٧۰ مخ، Moreau Defarge

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه داسې څرګندېږي، د پاکستان دولت چې د ښکيلاکګر برتانوي هند د واکمنۍ د نسکوريدو ځخه وروسته جوړ شو، د ډيورند د موافقه ليک د مفاداتو ځخه بې برخې پاتې کېږي. ان تر دې چه د ډيورنډ د کرښې په سر باندې اغزن سيم غزول هم، د حقوقي قواعدو سلامتيا او بشپړتيا ته تاوان رسولی نشي.

## پنځم ـ د يو تړون د اجرا او تطبيق پروسېجر:

د دې لپاره چې يو تړون عملي او تطبيقي بڼه غوره کړي مختلف پروسيجرونه موجود دي:

الف ـ د يو دريم دولت ضمانت، مثلآ امريکا په ۲۰۰۱ز کال کی د اسراييلو او مصر ترمېنځ د تړون د تطبيق ضمانت په غاړه واخېست.

ب ـ د ځارنې بين المللي کميسيون هغه مورد دی چې په ۱۹٥٤ز کال کې د «ژنيو» د معاهدې په بنسټ باندې د لاووس د ناپيلتوب د موافقه ليک د اجرا په مقصد جوړ شو.

ج ـ د موقوت بين المللي کانفرانس تدوير، چې د ويانا د ۱۹۸٥ز کال د مارچ ۲۲ د کانوانسيون له خوا تجويز شوی دی.

د ـ د تحقيق کميسيون چی د تړون د اړخونو ځخه جوړ شوی وي او د معاهدې د احکامو د سرغړونې ځخه راپور تنظيم او نهايتاً [ع، ب، د] ته وړاندې کړي.

د ډيورنډ د تړون د اجرا په اړه هېڅ يو ضمانت نه وو ټاکل شوی. برخلاف د قراينو ځخه څرګندېږي چی موافقه ليک د هماغه لومړيو ورځو ځخه تر اوسه پورې په عمل کی وجود نلري. په دې مانا چې:

الف ـ ولسونه د ډيورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې بی د پاسپورت د شکلياتو نه تګ او راتګ کوي.

ب ـ آزاد قبايل په بشپړه توګه د پاکستان په سياسي او حقوقي نظام کې نه دي جذب شوي. دوی اکثراً پوځ ته عسکر او حکومت ته ماليه نه ورکوي او خپل ملي هويت يی ساتلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج ـ د تاریخ په اوږدو او په ځانګړی توګه د مقاومت او جهاد په وخت کې د لر او بر ولسونو ترمنځ جذباتي او عاطفي اړیکې ددې لامل شوی چې د ډیورنډ کرښه «عملاً» له منځه لاړه شي.

## پایله

الف ـ د حقوقو د «تیوری» له نظره د ډیورنډ تړون د توجیه وړ بنه نلري. په «عمل» کې هم د نوموړي تړون اجرایي شته والی تر پوښتنې لاندی دی.

ب ـ د ډیورنډ کرښه ګډه کرښه ده. پاکستان پرته د افغانستان د موافقې څخه حق نلري چی د کرښې په جوړښت چی په زیاتو سیمو کې نه دی تثبیت شوی، په خپل سر بدلون راوړي او یا د اغزن سیم په غزولو یا د ماین په ایښودلو د هغه لوری وتاکي. دغه کار د افغانستان په خاوره باندی ښکاره تیری ګڼلی شو.

ج ـ په اوس وخت کې افغانستان د یوه تمثیلي، ملي، مرکزي حکومت د درلودلو څخه بې برخې دی. اوسنی افغانی حکومت چې د بهرنیانو له خوا ساتل کېږي، د هېڅ یوه ملي مسئلی او په ځانګړې توګه د ډیورنډ د موافقه لیک په موضوع باندې د هیچا سره د معاملې د یو اړخ په توګه دریځ نشي نیولی.

د ـ اوس وخت افغانستان د نړیوال ائتلاف تر تحت الحمایګی لاندې دی او د باندني خپلواک، ملی سیاست څخه بې برخې ګڼل کېږي. بناً باید ځینې افغاني توطیه ګرې کړی د ډیورنډ د موافقه لیک څخه د افغانستان په تاوان او د پردیو په ګټه د یوه سیاسي وسیلې په توګه ناوړه ګټه پورته نکړي.

ه ـ د افغانستان او پاکستان ترمېنځ د نړدیوالي علایق په پوره اندازه موجود دي. باید دواړه هیوادونه په سیمه کې د متقابلې دوستۍ بېلګه اوسي. د ډیورنډ کرښه چی عملاً له مېنځه تللې باید د دواړو هیوادونو ترمېنځ د لا زیاتې همکارۍ او دوستۍ لاره پرانیزي او د جلاوالی لامل ونه ېږندل شي.

و ـ افغانستان د پاکستان سره د ډیورند د کرَښی په سر، د خپل اختلاف د واقعبینانه او منصفانه حل دپاره باید یوازې او یوازې د سیاسي سوله ایزو لارو چارو په لټه کې اوسي. اوس مهال د موضوع د مطرح کولو وخت نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





"SAVE ME FROM MY FRIENDS!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نامنلې کرښه، نا منلی تړون

**لاردکرزن به ویل چې:**

**«د افغانستان شته والی دهغه دجغرافیایی موقعیت مرهون دی.»**




**ډیورنډ یو دوه سیلابه کرغېړن او بدنام نوم او کرغېړنه کرښه ده، چې د یوه عادي انگریز کپتان (وروسته د باندنیو چارو چارواکی) او د افغانستان د یوه خپل سري واکمن له خېرو سره ځان پتلیزوي. له آره باید په دغه راز سره پوه وو چې له ډیورنډ څخه په خپله د ډیورند موخه دا نه وه چې دا کرښه باید د ده په نامه یاده شي، دلته زموږ د یوه ځوان دوست په وینا «یوه باریکي شته» او هغه دا چې وایي مارتمر یوه جذباتي او تاریخي لامل او ارادت دې ته اړ ویست چې باید د خپل پلار د قبر د ساتلو او یادون په موخه پر دغه ستر غیر انساني پریکړون او بېلتانه باندې لاس پورې کړي. په دغه اړه بیا یوه نامتو هندي افغانپوه دغه ټکي ته پخپله یوه خېړنه کې داسې اشاره کړې ده:**

**مارتمر ډیورنډ دغه انگریز په ۱۸۵۰ز کال کې زیږېدلی او په ۱۹۲۴ز کال کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یانې یو کال له امیر محمد یعقوب خان څخه وروسته مړ شوی دی. د ماشومتوب یوه برخه یې په بهوپال او د هند په نورو برخو کې تېره شوې، په دې چې پلار یې هم په برتانوي هند کې د انګریزی کمپنۍ له ماموړینو څخه وو. په فارسي ژبه یې روانې خبرې کولې، له ۱۸۷۳ز کال څخه وروسته یې له برتانوي هندي واکمنۍ سره په کار پیل وکړ. دده له لویو کارنامو څخه یوه هم دغه پروژه وه چې نژدې لس کاله یې د هغې په اړوند کار وکړ څو چې په پای کې دغه د زهرو غړپ پر امیر عبدالرحمان خان باندې د همدغې خوږې ژبې (فارسي) په خوږو کې پر سر ورواړاوه او له دغې تاریخي پروژې وروسته یې اوږده دنده په دغه سیمه کې پای ته ورسېده.
انګریزانو ونازاوه ایران ته یې د خپل استازي په توګه ولیږه چې هلته له ۱۸۹۴ز څخه تر ۱۹۰۰ زکال پورې پاتې شو، بیا په اسپانیا کې سفیرشو. له ۱۹۰۳ز کال څخه تر ۱۹۰٦ز کال پورې په امریکا کې د انګریز استازی وو. کله چې له امریکا راستون شو، بیا یې د یو لړ آثارو په لیکلو لاس پورې کړ، چې په هغو کې (د خپل پلار ژوند لیک، یومنی په لویدیځ فارس کې او د نادر شاه په نامه تاریخي ناول) د پاملرنې وړ شول. ډیورند چې هر څه وو او هر ماموریت یې ترسره کړي هغه د برتانوي هند (بریټش راج) په استازیتوب دی. په بریټش راج یا واکمنۍ کې اوسنی هند، سیلون، برما، بنګله دیش اوسینګاپور راتلل، هغه واکمني چې تر ۱۹۴۷ز کال پورې یې د هند په نیمه وچه باندې واکمني وکړه او له دغې نېټې وروسته په دغه نامه کوم سیاسي او دولتي جوړښت دلته پاتې نشو. هغه امپراطوري ړنګه شوه، یادې شوې ټولې سېمې د خپلو حقوقو خاوندانې شوې، هیڅوا هم نور د انګریزانو اصولو، قوانینو او تړونونو ته اهمیت ورنه کړ، خو یوازې پښتانه دي چې تراوسه پورې د ښکیلاکګرې امپراطورۍ په طلسمونو کې د هر ډول انساني اړیکو په پام کې نه نیولو سره ښکېل او له هر ډول حقونو (ځمکې، آزادۍ او خود ارادیت) څخه بې برخې کړل شوي او پاتې شوي دي. د دوي سېمه د افغانستان د تاریخي جغرافیې برخه ده، باید چې ببرته د افغانستان له تاریخي جغرافیې سره وتړله شي. زموږ مبارزه د همدغې جغرافیې له پاره ده چې باید د نړیوالو حقوقو د اصولو له مخې په یوه تاریخي سوله ییز بري سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته زموږ شي.

"Alongside, Durand was to obtain and agreement to split the Pakhtun belt into respective spheres of influence of British India and Afghanistan. His father , Sir Henry Durand , who was later when he become the Lt. Governor of Punjab. Succumbed to severe injures as a result of a fall from an elephant during a procession in Tonk on January1, 1871. His grave in Dera Ismail Khan is at time mistaken for that of his sons". There are good reasons for this confusion as the son's historical association with the area had been ensured for posterity by virtue of the name that he lent to the line. The confusion about the grave has also carried to the line for over a century"

( SATINDER KUMAR LAMBAH ,The Durand line INDIA P5)

دغه مکار کپتان له ۱۸۷۹ز کال څخه راوروسته، یانې له هغه مهاله چې امیر محمد یعقوب خان د کابل له تخته یوازې په دغه ګناه چې پر بالاحصار باندې یې د پاڅون کوونکو وینې تویې نه کړې او پر دې یې تورن کړ چې له مقاومت کوونکو سره یې لاره وه، د هند په لور وخوځاوه، د یوه فعال انګریزي مامور په توګه د افغانستان چارو ته وګمارل شو او خپل ماموریت ته یې په دغه برخه کې ملا وتړله. پر کابل باندې د انګریز جنرال رابرت له واکمن کېدو او له هغه وروسته د عبدالرحمان خان (د ۱۸۸۰ز کال د جولای ۲۲ د کابل پرامارت کښېناست) له راوستلو او پاچا کولو وروسته، ډیورنډ ته په هند کې لومړی د پخواني امیر (محمد یعقوب خان) د چارو د ځانګړي مامور دنده ور وسپارل شوه، څو د هغه او افغانستان په اړه باید ټولې چارې ترخپلې څارنې لاندې ونیسي. د دغې دندې د ترسره کولو په ترڅ کې دغه ځیرک او مکار کپتان ځان دومره ورساوه چې د برتانوي هند لوړ رتبه مامورینو هم ده ته په دغه برخه کې د صلاحیت لرونکي مامور په سترګو وکتل او پر دغه مهال یې خبره د افغانستان او امیر د چارو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه هم لوړو انګریزي مقاماتو اوریده او هم هغو ته رسېدای شو.
ډیورنډ په دغو سختو شپو ورځو کې چې افغانستان لا هم په هر اړخیزه توګه تر انګریزي منګولو لاندې و، د افغانستان او په دغه سیمه کې د خورا تودو حالاتو شاهد و. انګریزان تر هغو پورې چې د امیر عبدالرحمان پښې په کابل کې ټینګېدې، د افغانستان غیر مستقیم واکمنان وو، جنرال رابرت ترخپلې وروستۍ ورځې پورې په افغانستان کې تر پوځې تېریو، توطیو او سازشونو پورې د دغو ټولو کړو وړو لاربښونه په خپل لاس او خپل سر وکړه. د افغانستان په هره برخه کې یې د ملي بې اتفاقۍ لپاره سختې هلې ځلې وکړې، د ملي مبارزینو په لیکو کې یې داسې درزونه واچول چې په ډېرو لږو امتیازاتو سره یې د هغو یو زیات شمېر په انګریزانو پسې روان کړل. هغوی چې له دوی سره نه شول، داسې بدمرغۍ راوټوکولې چې د هغو په ترڅ کې نوموړو سرکښو هم کرار کرار د هغو کړو چې له وسه یې پوره وه توان له لاسه ورکړ. په غزني، میدان، لوګر، زرمت او شمالي کې یې له قومونو رانیولې تر ځانګړو ملي مشرانو پورې د نویو توطیو دامونه خواره کړل. تر دې حده چې نور نو ډېرو لږو کسانو او ملي څېرو د مقاومت (لکه نن سبا چې د روسانو د مقاومت پایله ګورو) په اړه فکر کاوه. د رابرت له خورا ورانو تګلارو څخه یوه دا وه چې دوی د خپلو موخو د ترسره کولو لپاره په ملي بې اتفاقیو برسېره د هېواد له تش په نامه روحاني قشر (ملایانو او پیرانو) څخه هم د دغو توطیو د عملي کولو په ترڅ کې ښه کار واخېست.
انګریزانو د نژدې پنځو کلونو (۱۸۷۹- ۱۸۸۴ز) په ترڅ کې نه یوازې پر افغانستان د غیر مستقیم تش په نامه برلاسۍ مستقیمه لړۍ وساتله بلکې په دغه موده کې یې پر امیرعبدالرحمان خان هم دا باور وشو چې څه دوی ورته وایي هغه یې هم مني او هم یې د دوی په خوښه عملي کولای شي. دوی اوس ځان په دې باوري کړی و چې نور نو له عبدالرحمان څخه وزیر محمد اکبر خان نشي جوړېدای. ځکه چې ده ته هم پرته د دوی له پیسو او د ملاتړ له یارانې نور څه نه وو ور پاتې. همدا وه چې دغه د واک تږي سردار چې د مهاجرت په ترڅ کې یې د روسانو او د هغوی د منځنۍ آسیا د لاس پوځو واکمنانو کړه وړه په ښه توګه لیدلي وو، د داسې ملت په وړاندې چې تردغه مهاله یې دوه ځلې له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ډغرې وهلې وې، ځان او هیواد د دوی له شره آزاد کړي، ملاتړلی او په پوځې نومونه برچه پک ودراوه. امیر پلوي تاریخ لیکونکي په دې باور دي چې عبدالرحمان خان پر دغه مهال پرته له دې چې په هم داسې یوه سیاسي او پوځي دریځ کې پاتې شي بله چاره هم نه درلوده، انګریزانو دی له یوې خوا له ملت سره چې په ده پسې کله هم نه ته، د دښمنۍ په دریځ کې ودراوه، له بلې خوا یې روسیه ورته ببره کړه او په دریم ګام کې یې امیر محمد یعقوب خان او د میوند زمری سردار ایوب خان په هند کې تیار ورته کښېنول چې که یې د دوی له خبرې یوه وړه سرغړونه هم وکړه، نو له هغوی سره به لاس او خوله یو کړي، د هغوي بېرته راتګ به د ده دور کې یوازنی او د ملت د خوښه لامل وي.
هغه لامل چې انګریزانو کله هم د خپلې کینه پالې تګلارې پربنسټ چې له ایوب خان سره یې درلوده هغه ته عملي بڼه ورنه کړه.
انګریزان تر ۱۸۸۴ز کال پورې د افغانستان او امیر په وړاندې د ملي مقاومت د کمزوري کولو پر پروژه باندې بوخت پاتې شول، په غزني، وردګو، زرمت، کټواز او جلال آباد کې چې کوم حرکت د محمد جان خان او ملا مشک عالم په مشرۍ د سردار موسی جان او امیر محمد یعقوب خان د بېرته راتګ په خاطر رامېنځ ته شوی وو، هغه یې هم په بېلابېلو پلمو او د بېلابېلو کسانو د توطیو په ترخ کې د عبدالرحمان د ټیګښت په خاطر له پښو راوغورځاوه. محمد جان خان یې په کابل کې د امیر په لاس کیوتی او د نن سبا دغه او هغه منصب په پلمه رامحاصره او په پای کې یې له ملي غورځنګ څخه په شهادت سره بېل کړ.
ملامشک عالم چې لاهم د امیرګوتو نه و ورغلی، په خپل انګریزي ضد روحاني تبلیغ باندې په لوګر او غزني کې بوخت و، عصمت الله خان جبارخېل یې هم د غلجیو د تش په نامه مشرۍ په ویاړ تر خپل واک لاندې راووست او لکه محمد جان خان غوندې یې یو بې واکه درباري ترې جوړ کړ چې امیر به هر چېرې ته، دی به یې هم له ځان سره یرغمل ګرځاوه، څو چې یې دی هم ترکستان ته د استولو په پلمه له منځه یووړ. میربچه خان خو د جهاد د دوران د پیسو د حساب نه ورکولو په پلمه له هر څه پاتې شو، ترڅو یې چې له هوښیارۍ څخه کار واخېست او د امیر له ولکې څخه یې لومړی هند او بیا فارس ته ځان ترسردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ایوب خان پورې ورساوه او له هغه سره بیا د هند په لور د ایران او بغداد له لارې ولاړ.
امیر عبدالرحمان چې په پلازمینه کابل او شاوخوا ولایتونو کې د دغو کسانو په وړاندې په خپلو کاروايیو کې ځان بریمن ولید. بیا یې د انګریزانو په اشاره د کندهار د نیولو او د ایوب خان د پوره ماتې په لور ورمخه کړه. په پیل کې خو دده باور پر دغه بري په دې نه کېده چې یو خو انګریزانو غوښتل چې کندهار د خپلې واکمنۍ په قلمرو کې وساتي، ځکه د ملي مجاهدینو د وروستي مقاومت یو لامل او کلکه غوښتنه همدغه ټکی و چې انګریزان باید کندهار د خپلې واکمنۍ برخه نکړي او نه یې باید له افغانستان څخه بېله خپله سیمه وبولي.
که څه هم انګریزان د دغه کار لپاره تیار نه وو، خو وروسته دغه عام پارېدونکي حرکت دې ته ناچار کړل چې باید د خپلو پوځونو لیکې پر کوژک او د هغه پرشاوخوا باندې ودروي، امیر ته یې زړه ورکړ چې باید پر کندهار باندې یرغل وکړي او هغه ولایت باید نور د تل لپاره د غازي ایوب خان له برلاسي څخه د دوی په مرسته وباسي. په (۱۸۸۱ز) کال کې یې کندهار د یوې قماري جګړې په ترځ کې ترلاسه کړ (له قماري جګړې څخه مراد دا دی چې امیر باور نه کاوه چې بریالی به شي، همدا وه چې خپله ټوله خزانه یې په دوو برخو وویشله چې یوه برخه یې ترکستان ته واستوله او بله یې له ځان سره واخېسته او په هر دم او قدم کې تر کندهاره پورې پر خانانو او ملایانو باندې وویشله، ترکستان ته یې په دې خاطر بله برخه واستوله چې که د کندهار په جګړه کې ماته ورکړي، نو بیا کېدای شي چې هلته ور وتښتي. هلته محمد جان خان وردګ او ډله یې لومړني څوک وو چې دغه موضوع یې د خپل یوه شرط په توګه انګریزانو ته وړاندې کړې وه (تفصیل زما په اثر محمد جان خان کې راغلی دی).
د یوه حقیقت په توګه دا باید ومنو چې د افغانستان په معاصر تاریخ کې دوه امیران یو امیر کبیر دوست محمد خان او دویم عبدالرحمن خان د خپلو واکمنیو پرمهال دومره د انګریزانو تر اغېزې لاندې راغلل او دومره انګریز پلوي شول چې کله یې هم د هغو په مقابل کې نه ملت ته وکتل او نه یې د هغو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې خپل ملت ستر وباله. همدا ده چې کله د دوی له خوا لیکل شوي اسناد اوس لولو، سړي ته دومره پوښتنې په مخ کې ږدي چې له هره پلوه ځوک نه شي کولای د هغو پوښتنو له مخې دغه دواړه واکمنان د خپل تاریخ د یوې برخې په توګه په ښه نامه یاد کړي. په ۱۸۴۲ز کال کې چې ملت له انګریزانو سره لاس او ګریوان وو، قرباني یې ورکولې ځان یې ښانده او انګریزان یې له منځه وړل، ان چې د وژل شویو پوځیانو شمېر یې تر زرګونو واوښت او تر جلال اباد پورې هم ژوندي ونه رسېدل، په همدغو شرایطو کې دوست محمد خان انګریزانو ته د یوه لیک په ترځ کې ولیکل:

«طاوس زرین بال وهمای سعادت فال اعنی مکتوب مودت اسلوب عالیجاه معلی جاکها بخدمت وجلالت پناه دوستی مودت آگاه سکرتر اعظم و دستور معظم مادک صاحب بهادرزاد مودته درحینکه طاهر فواد صداقت بنیاد درفیافی مژده وصول اخبار تندرستی ذات خلوصیت آیات وانتظام امورات جناح تفحص کشاده واسباب ترصد این مامول برطاق انتظار نهاده بود شرف نزول ارزیابی نموده چون مبنی برفتح مبین ومنهی براستیلای واقتدار لشکر نصرت آیین واستحلاص اولیای ایندولت سعادت قرین از تصرف آبادی متمردین الکای جلال آباد وکابل وغزنی بود وبهجت بربهجت افزد و آنچه درباب التفات ومهربانی های مشفقانه ونوید نجات وقدردانی های غایبانه بندگان کیوان پاسبان سکندر شوکت دارا دربان لارد گورنر جنرال صاحب بهادر دام احتشام فهم درخر تحریره قصد تسطر درآورده بودند، بازای آن موهبت عظمی واعطای این مکرمبت بیمنتها سجدات شکر الهی بتقدیم رسانیده ظاهراً وباطناً مرهون احسان صاحب معظم معه بل سایر صاحبان والاشان گردید، انشاالله العزیز اگر حیات باقی بود، درطریقه اخلاص منشی وخیر خواهی دولت خدا داد قوی بنیاد سلسله جلیله انگلسیه بهیچوجه کوتاهی نخواهد نمود ترصد که از آنطرف خاطر جمع بوده تاحین حصول ملاقات بصدور مراسلات همیشه محرک سلسله دولتی وتواد میگردیده باشند.»[1]

---

[1]- المرقوم چهارم نومبر ۱۸۴۲ ز فی مقام منصوری، (دپښواسناد خانګه، ۱۸۴۲ زکال دهند ملی آرشیف )

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره روښانه ده، د یوه داسې چا لپاره چې ځان د یوه هیواد مشر او امیر کبیر هم بولي، فکر کوم د ملت او خلکو د اتلولیو دومره سپکاوی له یوه ملي کسرشان څخه پرته بل څه نه دی او نه بلل کېدای شي، سره له دې چې دده د لیک لوستونکی کېدای شي، پر ده باندې دا قضاوت وکړي چې دی په خورا سختو حالاتو کې راګیر شوی و. د انګریزانو تاریخی ماته او د هغې ناوړه پایلې له یوه واکمن څخه چې هغه هم د انګریزانو په لاس کې وي همداسې یو څوک جوړوي. خو اسناد بیا وایي چې امیر یو څه بېړه کړې او د خپل ملت په هغه اتلولۍ چې په یوه حساب یې دده درا خوشې کولو په خاطر ترسره کړه، باید باورمن وای. دا نو په دې نه ارزېده چې ځان دې دومره راټیټ کړي چې د خپل اتل ملت اتلولي دې په لوی لاس توهین او بابیزه اعلان کړي. د ملي تاریخ د اساساتو له مخې د یوه واکمن په توګه دا دده ملي او اخلاقی دنده وه چې د هغوي بری یې د ځاني خوندیتوب پرلامل د دښمن په وړاندې په داسې الفاظو کې په سپکه ژبه نه وای ثبت کړی.

همداسې په سلګونو بېلګې تاسې لیدلی شئ چې هغه بیا د تش په نامه پولادي امیر هغه روحیه او کړنې د سړي په مخکې ږدي چې په هغو باندې هم سړی نه شي سرلوړی کېدلی. دا به ومنو چې دوست محمد خان د مجبوریت ترفشار لاندې راغی، خو عبدالرحمان ته برعکس انګریزان اړ وو، چې له بده مرغه دی په خپله ځواکمني او زور باندې پوه نشو او بې له یوه منطقي سوچه یې ځان د انګریزانو په واک کې داسې لکه ددوي خپل مامور ورکړ او د دوی له اجازې پرته یې خلی هم پر خلي نشو اېښودلی. همدا وجه وه چې د دغې روحیې په ترڅ کې یې د انګریزانو د ناروا غوښتنو په وړاندې یو عادي عکس العمل هم ونه ښود او هغه اوږده پروژه چې د کپتان ډیورنډ لخوا پرهغې باندې نژدې یوه لسیزه کار وشو هم د ده په وجود کې په خورا اسانۍ سره د بریالیتوب پولې ته ورسوله.

ما مخکې خبره په دې راپیل کړه چې ډیورنډ څوک و او په څه ډول ماموریت یې د افغانستان د یوې برخې د بېلولو لپاره ترسره کړ؟ کله چې انګریزانو امیر محمد یعقوب خان له کابل څخه د هند په لور په توبو توبو وخوځاوه او هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له ځان سره يرغمل وساته، همدغه مکار کپتان پر همدغه مهال په هند کې د امير محمد يعقوب خان د چارو مسوول وټاکل شو. له هغه سره يې رابطه ژوره شوه او له هغه څخه يې د افغانستان د سياست او تاريخ په اړه په زړه پورې معلومات ترلاسه کړل. فارسي ژبه يې هم پر همدغه مهال پياوړې کړه چې د هغې په واسطه يې هم د خپل مطلب او مرام د تحقق په کار کې د ښې وسيلې په توګه کار واخېست. د ده لپاره امير محمد يعقوب خان اوس هم لا د کابل د واکمنۍ لپاره په زړه پورې کس و او فکر يې کاوه چې دده په شته والي سره انګريزي ګټې په افغانستان کې په ښه توګه خوندي کېدای شي. ده د خپلې پلوي دغه غږ انګريزي لوړ رتبه مامورينو ته هم په خپل وخت او د خپلې وظيفې له مخې رسولی و لکه چې د برتانوي هند د اسنادو په ترڅ کې لولو: «کپتان ډيورنډ زياته هڅه کوي چې د کابل په امارت بايد بېرته يعقوب خان وګمارل شي، دی وايي چې که دغه کار ترسره شي، داکار به زموږ د ايجنسۍ لپاره خورا ګټور وي...»[1]

که چېرې وپوښتو چې ډيورنډ ولې د دغه کار له پاره دومره ليوال او بېړنی و؟ په دغه برخه کې يوازنې دليل دا کېدای شي چې ډيورنډ فکر کاوه چې يو خو يعقوب خان په داسې روغتيايي حالت کې دی چې هر څه ورته وويل شي هغه يې مني او د رد ځواب نشي ورته ويلای. بله خبره دا ده چې انګريزانو په همداسې يوه حالت کې د ګندمک تړون پر ده باندې لاسليک کړ چې له هرې خوا پرې توره تياره وه او هيڅا ته يې هم سترګې نه وراوښتې. کېدای شي په دغه اړه بل لامل د ډيورنډ په وړاندې دا هم وبولو چې د ده په نظر عبدالرحمان خان د افغانستان په تېرو شل کلنو شخړو او کړکېچونو کې رالوی شوی څوک وو، ډيورنډ فکر نه کاوه چې هغه به داسې سردار او واکمن شي، چې په پټو سترګو هغه څه چې انګريزان يې ورته وايي ومني. ځکه نو د ده لپاره اوس پرته له دې چې د خپل پلان او کرښې په عملي کېدو باندې زر بريالی شي له پخواني اميره پرته بله په زړه پورې لاره لاهم نه ښکارېده، ځکه يې يعقوب خان

---

[1]- [ باندنی څانګه ـ دهند ملي آرشيف (۲۴- ۲۸ ) شميره سند، ۱۸۸۳ز کال ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د واکمنۍ لپاره یوځل بیا وړ او مناسب کس باله. ډیورنډ دا خبره د خپلو هغو اړیکو په پام کې نیولو سره کوي چې دی یې له امیر محمد یعقوب خان سره تردغه وخته چې لا یې امیرعبدالرحمان خان نه دی لیدلی، لري ځکه چې دی یې د هر څه، د ناستو پاستو، مرکو او اړتیاو د پوره کولو مسوول او گمارل شوی مامور وو. دی په خپل یوه جالب لیک کې د امیر محمد یعقوب خان په اړه لیکي چې: « کله چې په ۱۸۸۳ز کال کې د عبدالرحمان خان د مرگ آوازه شوه ما دغه موضوع له یعقوب خان سره شریکه کړه، هغه دومره وارخطا شوی و چې ټول بدن یې لړزېده او له ډېرې لړزې یې خبرې هم نه شوې کولای...»[1]

په هر ډول، اوس اوس د انگریزي دورې اسناد دا په ډاگه کوي چې انگریزانو د افغانستان د ویش دغه پلان له ډېر پخوا ان د امیر شیر علی خان له وخته را په دې خوا پیل کړی وو. امیر شیر علی خان یوازینی واکمن وو چې له دغه بېلتانه او ویش سره یې کلک مخالفت وښود. همدا وه چې د (امبالې) سفر یې هم پرته له کومې پایلې په خواشینونکې توگه پای ته ورسېد او د انگریزانو پرله پسې گواښونو ناچار کړ چې د روسانو، چې تر دوی هم مکار او دوه رنگی وو لمنې ته لاس ور اوږد کړي. سره له دې چې روسان او انگریزان په دغه تاریخي مرحله کې د افغانستان په وړاندې د یوه خره دوه غوږونه وو، دوی پرته له دې چې امیر شیر علي خان خبر کړي د افغانستان په اړه پر دغه ټکي چې باید حایله سیمه وي، سره یوه خوله شوي وو، خو له دې سره سره امیر په ډېره بېړه ځان د انگریزي کم نظرۍ د ویاړ (شرم) پراساس په هغو سختو حالاتو کې له دوی پر یوه خوا کړ، کابل یې پرېښود او ځان یې بلخ ته ورساوه خو چې کله د روسانو او انگریزانو پر توطیو باندې خبر شو، خورا خواشینی شو او له دغې نړۍ یې سترگې پټې کړې او دا ټوله توطیه یې په خپل ټول عمق سره خپل زوی (دکابلیانو په وینا د زمري زوی) امیر محمد یعقوب خان ته په داسې حال کې چې روحي او جسمي ناتواني یې بې کچې لوړه شوې وه، ور د غاړې کړه او د

---

[1]- [ ۴۲ شمره لیک - خارجي څانگه، ۱۸۸۳ز کال، دهند ملي آرشیف ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوالمعاني بېدل نيم بيتې چې (چار بايد زيست وناچارباید زیست) پر دغه ډنډ ورغوټه شو او د گندمک تړون، د پلان شوي ويش د توطيې لومړی پړاو یا هغه طرحه چې انگريزانو د هغه د تيلو لپاره له پخوا څخه ملاتړلې وه، پر ده باندې په همدغه غير نورمال روغتيايي حالت کې وتپله، پرته له دې چې له افغان ولس سره مصلحت وربانديې وشي، پر امير محمد يعقوب خان باندې لاسليک او ومنله. د گندمگ تړون د افغانستان لومړنۍ تجزيه وه چې انگريزانو په زور د افغانستان پر خاوره او امير باندې تپ کړه تړون په لاندې ډول سره وو:

«دغه تړون د لاندی شرايطو پربنسټ د برتانوي حکومت، د افغانستان او د هغه اړوند و، د امير والا حضرت محمد يعقوب خان ترمېنځ د سولې او دوستۍ د اړيکو د اقامې په موخه لاسليک شو.

۱- له هغې ورځې چې دغه تړون د دواړو لوريو له خوا منل کېږي، دا به د برتانوي حکومت، د افغانستان او د هغه د متعلقاتو د والاحضرت امير او د هغه ځای ناستو ترمېنځ دايمي سوله او دوستي سمباله کړي.

۲- د افغانستان او د هغه د متعلقاتو والاحضرت امير ژمنه کوي چې د دغه تړون له منلو وروسته به د هغو ټولو کسانو لپاره عمومي ببښنه اعلانوي، هغوی چې د جگړې په دوران کې د انگريزي دولت په پلوی کار کړی. دوی به، که په هر مقام او درجه وي له سزا ورکولو او ځورونو څخه په امن او خوندي وي (لکه لاتي ولي محمد خان او نور)

۳- د افغانستان او ملحقاتو امير ژمن دی چې له باندنيو هيوادو سره د خپلو اړيکو په ټينگولو کې بايد د برتانيې له حکومت سره سلا وکړي، له دغو حکومتونو سره بايد کومه لوزنامه ونه کړي او نه يې بايد پر خلاف وسله واخلي. د باندني تېري په ترڅ کې به انگريزي مرسته، وسلې او پيسې د دفاع په موخه څنگه چې انگريز يې وړ وبولي کارول کېږي. انگريز پوځ به د دفاع له کاره وروسته خپل برتانوي قلمرو ته ورستنېږي.

۴- د بريتانوي حکومت او والا حضرت د نژدې اړيکو او د والا حضرت د پولو د خوندي ساتلو په موخه دواړه لوري ژمن دي چې په کابل کې به يو انگريز استازی له يوې ډلې وسله والو سره چې د هغه د کور ساتنه به کوي ځای پرځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. د يوې مهمې خارجي پېښې د رامنځته کېدو په ترڅ کې بريتانيا حق لري چې د افغانستان پولو ته انګريزي استازي او ساتونکي پوځيان واستوي. د اړتيا پرمهال چې د دواړو خواو په ګټه به وي د افغانستان والاحضرت امير هم کولای شي خپل استازی د ګورنر جنرال په دربار او د هند په نورو برخو کې چې د دواړو لوريو خوښه وي ځای پرځای کړي.

۵- د انګريزي استازو خوندي ساتنه د افغانستان او د هغه د ملحقاتو د والاحضرت پر غاړه ده. انګريز حکومت ژمن دی چې د هغه استازي به د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوي.

٦- د افغانستان او د هغه د ملحقاتو والاحضرت امير د ځان او ځای ناستو په استازيتوب ژمنه کوي چې په افغانستان کې به د برتانوي اوسيدونکو په وړاندې د تجارت په موخه د تګ راتګ ستونزې نه رامېنځته کوي.

۷- دا چې د دواړو لوريو ترمېنځ سوداګري روانه ده، د افغانستان والاحضرت امير ژمنه کوي چې د سوداګرو د خونديتوب او د تجارتي مالونو د وړلو راوړلو لپاره به د لويو لارو په اوږدو کې د هغوي په خوندي ساتلو کې هڅه کوي. د سوداګريزې ودې او د لارو د خوندي ساتلو او ماليو د سمبالتيا په موخه به يو بېل سوداګريز تړون د کال په اوږدو کې ترسره شي.

۸- د سوداګرۍ او تګ راتګ په موخه دواړه لوري ژمنه کوي چې له کرمې ترکابله به د تلګراف يوه کربښه د برتانيې په خرڅ کښله کېږي اود افغانستان امير به يې ساتنه کوي.

۹- دا چې د دواړو حکومتونو ترمېنځ د دغه تړون له مخې دوستي رامېنځته شوه، برتانوي حکومت د کندهار، جلال آباد ولايتونه او هغه سيمې چې تر اوسه د برتانوي پوځونو تر ولکې لاندې وې خالي کوي او بېرته يې سپاري. پرته له کرمې پښين او سيبۍ(د اړونده نقشې له مخې) څخه چې د برتانوي واکمنۍ په واک کې دي، دغه واک لرل به دايمي نه وي، د هغوی ماليې به له اخېستو وروسته هر کال د افغانستان امير ته ورسپارل کېږي. برتانوي حکومت به د خيبر او مېچنۍ انتظام چې د پېښور او جلال آباد ترمېنځ دی په خپل لاس کې نيسي او هم به په دغو سيمو کې د استوګنو قبايلو د تګ او راتګ انتظام برتانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت په خپل لاس کې لري.
۱۰- برتانوي حکومت د مرستې په موخه والاحضرت امیر ته ترڅو چې خپل حقه اختیارات ترلاسه کړي د دغه تړون د شرایطو د منلو په بدل کې ژمنه کوي چې هرکال به شپږ لکه روپۍ امیر او د هغه ځای ناستو ته ورکوي.
دغه تړون د ۱۸۷۹ ز کال د مئی په ۲٦ چې د ۱۲۹٦ کال د جمادي الثاني له ۴ سره برابره ده لاسلیک شو.

د امیر محمد یعقوب خان لاسلیک

د میجر ان لاسلیک

په ځانګړو چارو کې د سیاسي مامور کیوناري لاسلیک

د لیتن (د هند ګورنر جنرال) لاسلیک

دغه تړون د ۱۸۷۹ ز کال د مئی د میاشتې په ۳۰ د جمعې په ورځ د هند د ویسرای او ګورنر جنرال لخوا تصدیق شو. د هند د حکومت د خارجه سکرتري ای. سی. لیال لاسلیک. ( وګورئ غبار، مسیر ٦۱۱ مخ )
په دې ځای کې د ګندومک د تړون په هکله تاریخي لیکنې دوام پیدا کړې.

د همدغې تاریخي توطیې او بېلتانه په ترڅ کې انګریزانو لا خپله نقشه تر وروستۍ پولې پورې نه وه رسولې چې بیا یې د دغې توطیې بل پړاو یانې همدغه (د ډیورنډ پروژه) د نوموړي امیر د چارو مسول کس مارتمر ډیورنډ ته وسپارله. انګریزان د دغه کار د ملي کېدو لپاره اوس هم د یوه کمزوري واکمن په لټه کې وو. سره له دې چې انګریزان په دغه موده کې د روسانو ترسختو فشارونو لاندې وه او په هېڅ ډول دې تیار نه وه چې انګریزان دې د دوی د نفوذي ساحې په جنوب کې په داسې یوه پلان باندې چې هغه د دوی او د برتانوي هند ترمېنځ یوه حایله سیمه ولري لاس پورې کړي، خو انګریزان له دغو فشارونو سره سره اوس په جدي توګه د دغه کار لپاره لیوال وو او په دغه برخه کې یې لیوالتیا له ۱۸۸۵ز کال څخه راپه دې خوا نوره هم توده او زیاته کړه. د ۱۸۸۵ز کال په پای کې کپتان ډیورنډ د امیر د چارو د مسوولیت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دندې سره سره اروپا ته د يوه بېړني سفر په نامه ولاړ دغه سفر که څه هم ډېر اوږد نه وو خو دا چې انګريزانو د افغانستان د بېلتانه د کرښې په اړه کوم ځانګړی پلان درلود، ډيورند يې پر دې قانع کړ، کوم وړانديز چې هغه يې د پلان د پلي کولو اړوند د امير محمد يعقوب خان په کمزوري دريځ او ځواک پلي کول غواړي، هغه د کابل اوسنی واکمن امير عبدالرحمان په پياوړتيا سره موږ ته عملي کوي او ددغه لپاره پخپله هم د خپلې واکمنۍ د حدودو د مالومولو لپاره د پښو پر سر ناست دی. ډيورنډ له دغه پيغام او دغې سپارښتنې سره بېرته هند ته راستون شو او خپله پروژه يې له هغه مهاله چې امير عبدالرحمان خان پينډۍ ته سفر وکړ او له هغه سره يې د اړيکې د نيولو په پايله کې دا باور پيدا شو چې په رښتيا هم تر يعقوب خان دی، ښه انتخاب دی په جدي توګه پيل کړه. په دغه اړه دغه سند چې د فارن افس له خوا په کابل کې د انګريزي استازي عطاالله خان په نامه ليکل شوی په ځانګړې توګه د لوستلو وړ دی:

"Mr. Durand has just arrived in Bombay from Europe and he is going to visit Quetta and Pashin and then he goes to the Khyber where he would like to see you. Can you leave. Kabul in time to be at Peshawar by the 22nd of March? There are many important matter connected with Afghanistan which can be talked about them.

If you cannot get to Peshawar so soon as the 22nd march, you might still come late and see the secretary either in Delhi or Dehra where the viceroy is going for a short time before he goes to simla. Mr Durand will go up to landi kotal and might perhaps be in time to meet you there, but I cannot be certain of the exact date when he can reach that place. It would be a bout the 22nd March."

(see, march 1887, Nos 145-148 , sec F , foreign Dep tt. N. A. I )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: ښاغلی ديورند تازه له اروپا بمبي ته رارسيدلی او غواړي چې له کويټې او پښين څخه کتنه وکړي او بيا همداسي د خيبر پر لور چيري چې غواړي له تاسره هم وگوري ورسيږي. تاسې کولای شئ چې له کابله په همدغه موخه د مارچ په ۲۲ پيښور ته راشئ ؟**

**اميرمحمد يعقوب خان په ۱۹۲۳ زکال په ديره دون کې مړ شو اود هغې دوستۍ له مخې چې دپټيالې له انگريز پالي نواب سره يې درلوده، د هغې دوستۍ له امله يې مړی له ديره دون څخه سرهند ته وليږدول شو او هلته د مجدد الف ثانی د مزار په څنگ کې په لاندنۍ پوړ کې خاورو ته وسپارل شو. مزار يې له سپينو مرمرو جوړ دی او اوس چې هرڅوک دغه مزار ته ورځي، هلته د افغانستان دغه ناچاراميرته هم د دوعا لاس پورته کوي. خو په تاريخ کې د داسی ناروغ ليوني نا اهله پادشاه مړي ته د دوعا لاس پورته کول د هيوادنې مينې په هکله لويه گناه شمېرل کيږي.**

**د مجدد الف ثاني د مزار په انگړکې د دوو پښتنو واکمنانانو مزارونه شته چې يويې اعلاحضرت شازمان دی او بل اميرمحمد يعقوب خان. د اعلحضرت شاه زمان مزار د حضرت مجدد الف ثانی د مزار جنوبی خواته دی چې پرتمينه گومبزه پرې جوړه ده، ترهغې چې څوک ورنه شي، فکرنه کوي چې دلته به د دراني امپراطورۍ هغه لوي وياړمن واکمن په ابدي خوب ويده وي. خو کله يې چې له منجاورڅخه څوک پوښتنه وکړي، ه غه هم دومره زيارت کوونکو ته وايي چې دا د کابل د امير دربار اومزاردی.**

**هلته به د افغانستان په اړه يوشميرمهمې مسالې وي چې پرهغو باندې بايد خبرې وشي. که تاسې نه شئ کولای چې تر ۲۲ نيټې زر پيښورته ځان راورسوئ، کيدای شي د ناوخته کيدو په حال کې سکرترې په ډيلي او يا هم په ديره ( ديره دون ) کې وگورئ، چيرې چې ويسرای هم مخکې تردې چې شملې ته ولاړ شي غواړي له هغه ځايه کتنه وکړي. ښاغلی ډيورند به بيا دلنډې کوتل پرلور ورپورته شي چې کيدای شي ته له هغه سره هلته وگورې. زه اوس د سم وخت په اړه تاته نه شم ويلای چې هغه به هلته کله ورسيږي. خو کيدای شي چې د مارچ ۲۲ به وي. » په دغه اړه يو ټکی بايد زموږ په پام کې وي اوهغه دا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چی د ډیورند دکرښې خبره له همدغه مهاله را په دېخوا په انګریزي کړیو کې د روسانو په مقابل کې د یوه خنډ او دیوال په توګه طرحه شوه، مانا دا چې په کوم ځای چې اوس د لوی افغانستان ملا ماته شوې او د تش په نامه ډیورند کرښې په نامه یادیږي، د انګریزي مقاماتو نخشه داسي نه وه، د دوی ترټولو لویه او د پاملرني وړ طرحه دا وه چی دوی غوښتل له روسانو سره د یوه دایمي جوړجاړي په موخه، داسې ټاکلي او دایمي پوله په ګوته کړي چې نور نو دغه دواړه زبرځواکونه له یوه او بل سره لاس اوګریوان نه شي. هم انګریزانو اوهم روسانو غوښتل چې باید دخپل منځي ستونزو د حل په موخه یوه ثابته طبعیی سرحد ي نښه د دوی دواړو هېوادو ترمنځ وي چې هغه په خپله د هندوکش غرونه دي څو شمال یی د روسانو او سهیل یې د انګریزانو په ولکه کې راشي. امیرعبدالرحمان هم په خپل تاریخ کې ( تاج التواریخ ) کې دغه ټکي ته داسې اشاره کړې ده:**

**«از مقاوله هایی که در اوقات مختلفه در اکثر روزنامه جات وکتابچه ها درباب افغانستان شایع می شود وازنطقهایی که بعضی از اجزای پارلمنت می نمایند، معلوم می شود که درباب مملکت من و در باب روابط ان باهندوستان و در باب دانستن قدر دوستي ان تا چه اندازه کم اطلاع می باشند. مثلاً دولت روس خیلی ساعی است که در مشرق زمین با دولت انگلیس درخشکی نزدیک بیاید و تمام خطوط سرحدی خود را به سلطنت هندوستان وصل نماید. بعضی اوقات محظوظ می شوم وبرخی متالم می گردم که اجزای پارلمنت درنطقهای خود چقدر اظهار بی اطلاعی می نمایند. اینها می گویند دیگر نباید بگذاریم افغانستان این قدر مزاحم ما باشد، باید خطوط راه آهن خود را با خطوط راه آهن دولت روس متصل نماییم واین نقطه ای غیرمتمدنه را از میان برداشته، خودمان را تا به قندهار به یک طرف کوه هندوکش برسانیم وطرف دیگر کوه هندوکش را به روس ها واگذاریم...»[1]**

**د لیتن له خوا یو تلګرام کرین بروک ته ډاکتر کاکړ په خپله یوه مقاله کې راوړی**

---

[1]- (تاج التواریخ چاپ کابل سال ۱۳۸۷ ص ۵۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په هغه کې هم نوموړې موضوع ته اشاره شوې او لیکلي یې دي چې د دواړو خواوو ترمېنځ پوله باید هندوکش وي په دغه تلګرام کې راغلي دي: «کندهار او شاوخوا سیمې یې باید ژر ترژره په تلپاتې توګه د بریتانیا امپراتورۍ پورې وتړل شي، موږ دا سیمه په آسانه سره ساتلای شو. تر هندوکش پورې د سیمو مستقیم پیوستون تړل ګټور نه دی خو لازمه ده په کابل او نورو مهمو عسکري نقطو کې نظامي پوستې جوړې شي، چې خپل لګښتونه پخپله تهیه کړي. له هندوکش اخوا په یقین سره موږ کوم حکومتي قدرت نشو درلودلی، موږ یوازې سیاسي اولویت ټینګولای شو...»

لیتن په رښتیا هم غوښتل چې د خپلې واکمنۍ په موده کې د افغانستان د تجزیې پروګرام بشپړ کړي، لیتن په دې باور و لکه چې داکتر کاکړ لیکي: «د لیتن د تجزیې پروګرام داسې و چې هرات باید فارسیانو ته ورحواله کړي، په کابل او کندهار کې یو عادي حکومت باید جوړشي، د رابرتس لپاره په پام کې وه چې د شمالي افغانستان نظامي او سیاسي امر شي. شیر علي خان (چې داکتر کاکړ په مقاله کې امیر شیر علي خان راغلی ښایي ټایپي تیروتنه به وي دا انګریز پلوی والي شیر علي دی چې بیا وروسته له ایوب خان او نورو سره یو ځای فارس او هند ته کډوال شو) د کندهار په اړه ټولو شرایطو ته غاړه کېښوده، خو په هرات کې دغه پلان ځکه عملي نشو چې هغه سیمه د ایوب خان په ولکه کې وه. د لیتن د نوې طرحې تطبیق په هغه ځای کې عملي نه ښکارېده. لیتن د شمالي سیمو په ځانګړې توګه د بدخشان په اړه بې پروا وو.

تاریخي حقایق دا ټکی هم نه په ګوته کوي چې د ډیورنډ کرښه یوه شخصي معامله ده، تاسې ته به په راتلونکو فصلونو کې د معتبرو اسنادو له مخې دغه ټکي په هر اړخیزه توګه په ډاګه شي چې په دغه معامله کې نه زموږ خلک او نه د خلکو ارادې شاملې وې، امیر که د خپلې معاملې په ترخ کې له انګریزانو د دوولسو لکو روپیو په کچه اتلسو ته لوړه کړه په دغه ټکي ملت داسې خبر نه شو چې ګواکې دغه پیسې به ددوی د هوسایۍ لپاره خرڅېږي. خلکو په هرځای کې دا خبره کوله چې ګواکې «موږ امیر پر انګریزانو باندې د پیسو په بدل کې پلورلي یو...» دا حقیقت موږ ته زموږ د ملت هغه ارادې را په ګوته کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی کله هم پر دغه معامله باندې خبر نه وو او نه يې منلې ده. امير دا ملت خرڅ کړ، ځکه خو د پيسو معامله په مېنځ کې وه، همدغه مامله وه چې د امير، انگريزانو او افغانانو ترمېنځ يې تاريخي او ملي واټن په ډاگه کړ، که ملت د امير په معامله کې شريک وای، نن به يې هم هغه د معاملې پيسې خوړلای، خو اوس هغه چېرې دي؟ دا نو کوم منطق دی چې ډيورنډ زموږ په ملا باندې ولاړ دی او د معاملې بيه يې کلونه مخکې زموږ له خولې ووته، راځئ چې په دې اړه همدغه منطقي استدلال هم په گډه سره ولولو لکه چې ليکي:

“ The other important subject of this treaty is cash (rea money). when Amir Abdur Rahman Khan admitted an under protection government with Englishmen in 1880, they laid him 1200000 kaldars, salary and arranged. But it is evident of the document of this book that until Amir expressed his denial about the line, the British also paid his salary with much turmoil and on a problematic manner. Amir was so much troubled by paining his salary, since they completed it little by little or gradually. Some times they paid his salary in kind.

The paying of money or salary reveals that the lands depated from the main body of Afghanistan by Durand is leased by Englishmen. When king Amanullah khan gained the independence of the country, the said payment was also canceled. In this manner the English aknowladged the independence of Afghnaistan at the last page of reminding of the treaty of (liberty and independence) and all the previous contracts were nullified. So that the Durand contract was a draft , which is not ratified and it is not lawfull. ”

( Pashto Quarterty , vol 36-37 fall – winter 2015 – 16 PP 83- 84 )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه ټول بحث په پایله کې دغه خبره د یادونې وړ ده چې انګریز د خپلې واکمنۍ د ساتلو په خاطر په ډول ډول توطیو چې هغه پوځي تېرۍ، د افغانستان د خاورې ویش او پر تېرو تړونونو او ژمنو باندې نه ودرېدل وو لاس پورې کړ. د نړۍ په حقوقي او انساني قاموسونو کې داسې څو رنګي سیاست غوره کولو او عملي کولو ته باید څه وویل شي؟ انګریزان له افغانانو سره په یوه ژمنه هم په دوامداره توګه ونه درېدل، برعکس هرڅه یې په خپل سر او خپلې سر زورۍ سره ترسره کړي دي، داسې چې د یوه عمل له پاره یې هم قانوني او انساني توجیه نشي پیدا کېدلی. ما په لومړي فصل کې هغه تړون چې د افغانستان او هندوستان د مغلي واکمنانو د سیمو ترمېنځ د یوه تاریخي سند په توګه زموږ په لاس کې دی په ډاګه کړ. دوی هغه ته هم ونه کتل، زه نه پوهېږم چې دوی ولې د افغانستان ټوټه ټوټه کېدو ته دومره لېوال وو.

له ۱۸۰۰ز کال څخه بیا تر ۱۹۱۹ز کال پورې انګریزانو له افغانانو سره نژدې لس تړونونه لاسلیک کړي چې موخه او هدف یې په وروستي تحلیل کې همدا وه چې دغه هیواد باید آرام پرې نه ښودل شي. دلته باید انسانان د عصر د تمدن له ټولو ځانګړنو څخه بې برخې پاتې شي، دلته باید دغه خلک یوازې په دغه شرمناک ویاړ سرلوړي وبلل شي چې ګواکې ښه جنګ کوي، ښه مري او ښه یې نسلونه نسلونه له بدمرغیو په ډک ژوند کې په پرېښودلو باندې ویاړي، ولې یوه انساني مرجع نشته چې له همدغه متمدن انګریز، له همدغه متمدنې امریکا او نورو سوداګرو ملتونو څخه پوښتنه وکړي چې زموږ خلکو څه ګناه کړې چې باید جنګونه، ناپوهي او محرومیت د دوی په برخه شي؟ موږ یوازې په متمدن انسانیت دا غږ کوو چې پرون موږ انګریزانو په یاد شوي ستونزو ورمخه کړې وه او نن دا دی امریکا او یارانو یې په کټ مټ غمیزه په یویشتمه پېړۍ کې اخته کړي یو. زموږ خلکو د ډیورنډ کرښه ځکه نه ده منلې چې دوی په دې پوهېږي چې دوی د خپلې خاورې، د خپل قام، خپلې ژبې، خپل مذهب یوه برخه د دغو نامنلو تړونونو په ترڅ کې له لاسه ورکړې ده. موږ تراوسه پورې له یوه او بله چا بېل نشو کړای اوس مو څنګه پر مبهمو او نامعلومو کرښو باندې بېلولی شي. غبار د افغانستان نامتو مؤرخ په خپل اثر افغانستان در مسیر تاریخ کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاګه دا خبره کوي چې: «معاهده سال ۱۸۵۵ امیر دوست محمد خان دارای سه ماده است، در ماده دوم آن گفته شده که: انګلیس در علاقه جاتی که حالا درتصرف امیر مذکور میباشد ابداً مداخله نمی کند»[1]
که خبره د حق وي، که خبره د مځکې وي، که خبره د تمامیت وي، موږ ته د امیر دوست محمد خان د زمانې جغرافیا معلومه ده، چې هغه تر اټک پورې رسېده، ولې دا حق انګریزانو ونه مانه؟ ولې یې لومړي سیکان او بیا خپل ځانونه راوړاندې کړل او د امیر دوست محمد خان قلمرو یې ولې ونه مانه، ولې یې ګندمک په زور پر یعقوب خان امضا کړ، ولې یې ډیورنډ په امیر عبدالرحمان خان باندې وتاپه. دا ټول کړه وړه په ګوته کوي چې د انګریز زور رسېدلی زور یې کارولی او چې زور یې نه دی رسېدلی بیا یې د توطیې له لارې ځان ته دا حق ورکړی چې زموږ د خاورې او ملت په وړاندې په توطیو لاس پورې کړي.
هر عمل عکس العمل لري، د انګریز د توطیو په وړاندې زموږ عکس العمل همدا دی چې دوی تل زور زیاتی کړی او موږ بیا مقاومت، دوی مو خاوره رانه بېله کړې، موږ ویلي چې نه یې درسره منو، ځکه خو زموږ او دوی خبره تراوسه پر دوستۍ باندې نه ده ولاړه بلکې تراوسه پورې یوه او بل ته د تاریخي دښمنانو په سترګو ګورو. انګریز او انګریزي هویت زموږ په مېنځ کې د یو جابر او تېري کونکي قام هویت دی چې زموږ او زموږ د خاورې په وړاندې یې له تېري او بې رحمۍ څخه کار اخېستی دی او موږ یې هم په وړاندې مقاومت کړی دی.
دوی چې هر عمل او هر تړون له هر چا، له هر واکمن سره د یوې معاملې په توګه لاسلیک کړی، خلکو هغه نه دي منلي او هغه یې په ټولیزه توګه رد کړي دي. همدا ده چې د ډیورنډ کرښه هم یوه نامنلې کرښه او د افغانانو له خوا نامنلی تړون دی چې تراوسه پورې د افغانستان ولس نه منلی او نه به یې ومني.

---

[1]- ( غبارمسیر ص ۴۵۰ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څلورم څپرکي ادامه

# د ډیورنډ کرښې تاریخي او حقوقي حقایق




## سریزه:

**په دې وروستیو کې د ډیورنډ کرښې Durand Line مسئله د یو شمېر سیاسي خوځښتونو له خوا مطرح شوه او په پراخه کچه یې د مطبوعاتو او ټولنیزو رسنیو پام ځانته را واړاوه، که څه هم دغه بحث پراخې تخنیکي، حقوقي او تاریخي څېړنې ته اړتیا لرله خو متاسفانه تر ډېره حده دا ستونزه ټولو خواوو د خپلو سیاسي موخو لپاره په یو ډول وکاروله چې په پایله کې د خلکو ذهنونه په پراخ ډول مغشوش او نه یوازې دا چې دا بحث کومې مطلوبې ملي نتیجې ته ونه رسېده بلکې د خلکو په اذهانو کې یې نورې نوې پوښتنې هم پیدا کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکاري چې د مطبوعاتو او ټولنيزو رسنيو له خوا د دې بحث په اوسنۍ غير مسلکي او غير واقعي بڼه مخکې بيول، له يوې خوا هېواد يو نوي بحران خواته را کاږي او له بلې خوا د افغانستان سيمه ايزو دښمنانو ته په پراخه توګه د لاسوهنې موقع برابروي. چې دا چاره د پياوړي افغانستان موقف تر پوښتنې لاندې راولي. په همدې دليل موږ خپله ملي او ايماني دنده وګڼله چې د ډيورنډ د کرښې په اړوند ټول ثابت تاريخي او حقوقي حقايق د يوې بې پرې څېړنې په ترڅ کې له معتبرو سرچينو او اسنادو سره هيوادوالو ته وړاندې کړو ترڅو هېوادوال وکولی شي چې د دې کرښې د تاريخې، حقوقي او سياسي حقايقو څخه خبر او د واقعي تاريخي اسنادو پر بنسټ قضاوت وکړي.
په ډير تاسف سره چې په هېواد کې د ملي حساسو مسايلو په وړاندې د اوسنيو سياسيونو او ان د تحصيل يافته ځوانانو اوسنۍ رويه په مقطعي، شخصي او قومي منافعو راڅرخي. چې دا کار په ملي کچه د هېواد ګټې ننګوي، نو د دې څېړنې بل عمده موخه دا ده چې په هېواد کې د بيان د ازادۍ او ديموکراسۍ د اصولو لاندې د خلکو دا سلوک په داسې ډول سم شي چې له دغه ډول ملي حساسو مسايلو سره د احساساتو او شخصي منافعو پر ځای د منطقي دلايلو اولاسوندونو پر بنا ملي برخورد وکړي.
له اوږدې څېړنې او د تاريخې شواهدو له کتنې وروسته په دې لنډه ليکنه کې هڅه شوې چې لومړی د ډيورنډ د کرښې د رامنځته کېدلو اړتيا او تاريخي لاملونه وڅېړل او بيا له ۱۸۹۳ز کاله تر اوسه پورې د ډيورنډ د کرښې په اړوند ګڼو معاهدو او مذاکراتو ته کتنه وشي، له هغه وروسته د ډيورند کرښې حقوقي ځرنګوالی د تاريخي تړونونو او نړيوالو معاهداتو په رڼا کې تر څېړنې لاندې نيول شوي او په پای کې د دغې کرښې په اړوند د افغانستان او پاکستان حقوقي دريځ ترتفصيلي بحث لاندې نيول شوی. هيله ده چې دغه ليکنه د هيوادوالو په اذهانو کې پخوانيو او اوسنيو ټولو پوښتنو ته ځواب ووايي او د دې ملي مسئلې په هکله يوې ملي او پر منطق ولاړې پايلې ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډيورنډ کرښه ولې رامنځته شوه ؟:

د امير عبدالرحمن خان په وخت کې چې د افغانستان بهرنۍ سياست د انګليسانو د اغېز لاندې وو، د روسانو له خوا د تهديد او مداخلې د مخنيوی لپاره امير عبدالرحمن په ۱۸۸۸ز کال کې وغوښتل چې د افغانستان شمالي پولې له روسانو سره وټاکل شي. چې بلاخره د يو ګډ کميسون Russo-Anglo Joint boundary commission په واسطه دغه پولې وټاکل شوې، خو تر دې وخته له برتانوي هند سره د افغانستان سرحدونه اصلاً تعريف شوي نه وو. چې له همدی امله امير عبدالرحمن خان د برتانوي هند له نيت څخه په اندېښنه کې وو. امير په دې لټه کې شو چې له برتانوي هند سره هم د افغانستان نامعلومه پوله وټاکل شي. البته د افغانستان د شمالي او غربي پولو له ټاکل کېدو وروسته برتانويانو هم دا غوښتل چې د افغانستان سهيل ته د دوی او امير ترمېنځ د واکمنۍ د اغېز ساحې معالومې شي او انګليسانو د خپلو موخو لپاره د مبهم حايل د رامنځته کېدلو ستراتيژي لوبوله.

په ۱۸۸۸ز کال کې امير عبدالرحمن د برتانوي هند نايب السلطنه Lord Dufferin ته ليک واستاوه چې د افغان - هند د پولې ټاکنې لپاره يو کميسيون کابل ته راشي، خو هاغه مهال دغه کميسون و نه ټاکل شو. وروسته له دې په ۱۸۹۰ز کال کې امير دوهم ځل د برتانوي هند مشر Viscount Cross ته بل ليک واستاوه چې په پايله کې د Lord Roberts په مشرۍ هيئت چمتو شو. خو دا چې جنرال رابرت د افغان - انګليس دوهم جنګ يو جنرال وو نو امير فکر وکړ چې له نوموړي جنرال سره مذاکره ستونزمنه ده، نو د دغه هيئت راتګ هم وځنډېده چې د برتانوي هند نايب السلطنه د امير په دې کار خوښ نه وو او التوماتم يې ورکړ چې امير بايد يا د خبرو لپاره وخت وټاکي او يا هم د انګليسي هيئت په وسيله ټاکل شوې پوله ومني.

امير د دې وضعيت د ارامولو لپاره ځينې کارونه وکړل؛ هغه انګليسانو نايب السلطنه او د بهرنيو چارو وزير Sir Mortimer Durand ته ليک واستاوه چې د افغان، برتانوي هند د پولې يوه نقشه ور ولېږي. امير دغه ليکونه د خپل يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګليسي خدمتګار Mr. Pyne په وسيله ورواستول او هغه ته يې وويل چې ترهند پورې ورو ورو سفر وکړي او تر هغه يې وغزوي چې د انګليسی هيئت مشر جنرال متقاعد شي. که څه هم امير وتوانېده چې دا مذاکرات د جنرال رابرت له انګلستان څخه تر بېرته راتګ پورې وځنډوي او له هغه وروسته يې غوښتنه وکړه چې اوس يو کميسيون را ولېږي خو انګليسانو لا دمخه د افغانستان نقشه جوړه کړې وه او د نايب السلطنه له خوا امير ته ولېږل شوه چې په هغه کې وزيرستان، چمن، چاغی، بولاند خيل، مهمند، اسمار او چترال د افغانستان په ساحه کې موجود نه وو، چی دا کار د امير له غبرګون سره مخ شو او امير دې ته اړ شو چې نايب السلطنه ته بل ليک ولېږي او داسې ووايي:

که چېرې تاسو نوموړې سيمې زما له واکمنۍ جلا کوئ نو نه به تاسو او نه زموږ په واک کې پاتې شي. تاسو به تل په دې سيمو کې له جګړو او نورو ستونزو سره مخامخ ياست. دا چې ستاسو حکومت ځواکمن او ارام دی نو ښايي تاسو يې په قوت سره ارام وساتلی شئ خو که کوم وخت د هند په پولو کې دښمن اغېز وکړي نو دغه سرحدي قبايل به ستاسو تر ټولو بد دښمن وي ... او دا چې ته دغه پولی قبايل چې زما د ملت او دين خلک دي له ما څخه جدا کوې نو په دې سره د خلکو په وړاندې زما حيثيت ته هم تاوان رسوې او په دې کار ما کمزوری کوې. چې زما کمزورتيا ستا حکومت ته هم تاوان اړولی شي.

انګليسانو او برتانوي هند د امير دغه ګواښ ته پام ونه کړ او سرحدي قبايل لکه بولاند خيل، واڼه او ژوب يې په زور د خپلې واکمنۍ لاندې وساتل. په همدې ترينګلتيا کې د ښاغلي ډيورنډ په مشرۍ يو هيئت له پېښور څخه کابل ته لاړ او کابل کې يې په ارامه او دوستانه فضا کې مذاکرات ترسره کړل چې د دې مذاکراتو په پايله کې په ۱۲ نومبر ۱۸۹۳ز کال د امير او ډيورنډ ترمېنځ د ډيورنډ کربښې مشهور تړون Durand Line Agreement لاسليک شو.

که څه هم دغه تړون د دواړو خواوو له خوا ومنل شو او اعلان شو خو امير عبدالرحمن د تړون له پايلو زيات خوښ نه وو او ويره يې لرله چې دا به د سرحدي قبايلو د دايمي انضمام لپاره يو پيل وي او دا به د دې خيالي حايل له منځه تللو سبب شي. همدا راز له تړون وروسته بله ستونزه د نقشې له مخې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فزيکې نښو او علامت گذاري وه چې دواړو خواوو د دې کار لپاره يو گډ کميسيون جوړ کړ.

کله چې په ۱۸۹۵ز کال کې د سرحد عملي علامت گذاري پيل شوه نو امير عبدالرحمن دعوه وکړه چې د موافقې له مخې د مهمندو ټوله سيمه مونږ ته رسېدلې وه او د برتانوي هند نايب السلطنه Lord Elgin ته يې په ۱۸۹٦ز کال کې ليک ولېږه چې د ډيورنډ تړون په نقشه کې د شوې موافقې خلاف نقطې موجودې دي. انگليسانو په ځواب کې ورته وليکل چې د مهمندو په ساحه کې يو څه امتياز درکولی شو خو گوابن يې وکړ چې که امير دغه علامت گذاري هم ونه مني نو دا امتياز به هم بيا در نه کړل شي.

بلاخره امير د علامت گذارۍ گډ کميسيون ته اجازه ورکړه، خو امير ونه توانېده چې د کميسيون د برتانوي غړو امنيت تامين کړي. ځيني تحقيقي اسناد ښيي چې امير په قصدي ډول په ۱۸۹۷ز کال کې د قبايلو پاڅون لمسولی وو چې انگليسانو په بدل کې د انتقام په ډول د مهمندو ټولې سيمې چې امير ته منل شوې وې هم تر کنترول لاندې راوستې او هاغه ساحې چې انگليسانو ورته لاسرسی درلوده له خپله اړخه يې علامت گذاري کړې چې په دې ډول د ډيورنډ نيمگړې او خيالي کرښه رامېنځته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاریخي کتنه، بیا بیا مذاکرات او معاهدې

## بیا مذاکرات ۱۹۰۵ز کال:

د ډیورنډ کرښې په اړه اختلافات هغه مهال بیا تازه شول چې ۱۹۰۱ز کال اکتوبر میاشت کې د امیر عبدالرحمن زوی امیر حبیب الله واک ته ورسېده او انګلیسانو هغه مالي مرسته Subsidy چې امیر عبدالرحمن ته د موافقې له مخې ورکوله قطع کړه. انګلیسانو دلیل دا وښوده چې زموږ تړون له امیر عبدالرحمن خان سره یو شخصي تړون وو او د هغه تړون په بنیاد دا مرسته تاسو ته نشو درکولی. امیر حبیب الله خان په ځواب کې دا استدلال وکړ چې که هغه تړون شخصي وي نو د ډیورنډ کرښه هم د هغه تړون برخه ده او نور دا کرښه هم اعتبار نه لري. برتانوي دولت له خپلمنځي سلا وروسته پریکړه وکړه چې له امیر حبیب الله سره په دې اړوند بیا خبرې وکړي.

د هند او برتانیې او افغانستان او هند له اوږدو خبرو وروسته په ۱۹۰۵ز کال د مارچ په ۲۱ نېټه یو نوی تړون د دواړو خواوو ترمېنځ لاسلیک شو. خو مخکې له دې تړون څخه امیر حبیب الله د انګلیسي هیئت مشر Mr. Dane ته چې د بهرنیو چارو وزیر او د هندي پلاوي مشر وو، یو لیک لیږلی وو چې د قبایلو په اړوند زه د خپل پلار له اصولو نه تېرېږم او په نوي تړون کې یې غوښتنه وکړه چې ټول هغه ځایونه چې له امیر عبدالرحمن سره تعهد شوي وو باید مونږ ته راکړل شي او علاوه له دې د صمدزیو سیمه هم باید ور زیاته شي. خو دا خبرې د انګلیسي علامت ګذاري هیئت غړي lord Curzon لخوا ونه منل شوه او په دې ډول د ډیورنډ کرښې ستونزه په خپل ځای پاتې شوه.

## د هند له استقلال (۱۹۴۷) زکال نه تر اوسه پورې:

د هند او پاکستان د دوه هېوادونو د رامنځته کېدلو له پلان سره افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیورنډ کرښه ونګوله او د افغانستان حکومت عملاً د پښتونستان غورځنګ رامېنځته کړ. چې د شمال لویدیځو سیمو د خپلواکۍ لپاره یې مبارزه کوله. خو پاکستان په دې سیمو کې د خپل نظامي ځواک په وسیله خپل نفوذ وساته چې دې کار سره یې د کابل حکومت را وپاراوه او په ۱۹۴۹ز کال جولای ۲٦ نېټه یې لویه جرګه راوغوښته. چې دغې جرګې له پاکستان څخه د قبایلي سیمو د بشپړه ازادۍ ملاتړ وکړ او دا پریکړه یې هم وکړه چې له برتانوي هند سره ټولې پخوانۍ معاهدې د ډیورنډ ترون په شمول لغوه او اعلان یې وکړ چې افغان دولت د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمېنځ د سرحد (پولې) په توګه نه پېژني. دا چې دغه اعلامیه له کوم نړیوال سازمان څخه نه ده تایید شوې نو د افغانستان دغه دعوا له تېرو ۷۰ کلونو تراوسه پاتې ده.

کله چې له پاچا ظاهر شاه وروسته سردار محمد داوود واک ته ورسېده هغه د پښتونستان د داعیې ټینګ پلوی وو او د ډیورنډ کرښې په هکله د هغه د واکمنۍ په مهال هېڅ مذاکرات ونه شول او بې حله پاتې شوه. همدا راز له هغه وروسته د ثور له نظامي بریالي پاڅون څخه را وروسته هېڅ حکومت هم د ډیورنډ کرښه تایید نه کړه.

د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ د رانسکورېدو سره پاکستان چې د جهاد په مهال یې مجاهدینو سره مرستې کړې وې، د مجاهدینو له حکومت هیله لرله چې د ډیورنډ ستونزه به حل کړي. خو د استاد رباني حکومت چې واک یې زیاتره د احمد شاه مسعود په لاس کې وو هم د ډیورنډ کرښه د قانوني پولې په توګه ونه منله، چې پاکستان ددې حکومت په وړاندې د ګلبدین حکمتیار ملاتړ وکړ. پاکستان ته ډېر زر ثابته شوه چې حکمتیار د رباني حکومت په نسکورلو نه شي بریالی کېدی او که بریالی هم شي نو په حکمتیار باندې هم د ډیورنډ کرښه نه شي منلی، نو خپل پام یې د طالبانو ملاتړ ته واړاوه. طالبانو چې وکولی شول له ۹۰ فیصدو زیات افغانستان خاوره کنترول کړي او اسلامي امارت یې تشکیل کړ، خو حتی هغوی هم د ډیورنډ کرښه منل رد کړه.

د طالبانو له نسکوریدو وروسته د حامد کرزي دولت هم د ډیورند کرښه رد کړه. که څه هم په ۲۰۱۲ز کال اکتوبر کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحده ایالاتو خاص استازي د ډیورنډ کرښې په اړوند خپل نظر څرګند کړل چې (دا د افغانستان او پاکستان ترمېنځ یوه نړیواله رسمي پوله ده) خو د افغانستان دولت خپل غبرګون داسې څرګند کړ (د ډیورنډ کرښه د افغانانو لپاره تاریخي اهمیت لري، د افغانستان دولت د دغې کرښې د حقوقي حالت په هکله هر ډول څرګندونې بې اعتباره بولي او ردوي یې). د ټول بحث پایله دا ده چې د ډیورنډ مسئله تر اوسه لاینحله پاتې ده او هېڅ افغان حکومت د ډیورنډ کرښه نه ده منلې. البته د پاکستان حکومت له خپله اړخه څرګنده کړې چې ډیورند کرښې ستونزه حل ده.

## د ډیورند کرښې حقوقي اړخ:

د ډیورنډ کرښه له حقوقي پلوه تر پوښتنې لاندې ده. په دې برخه کې لومړی له حقوقي پلوه د افغانستان ادعا چې ولې ډیورنډ نه قبلوي ارزوو او وروسته د ډیورنډ په هکله د پاکستان ادعاګانې تر بحث لاندې نیسو ترڅو په پای کې درنو لوستونکو ته ثابته شي چې له حقوقي اړخه د ډیورنډ کرښه د نه منلو په اړوند د افغانستان ادعا یوه پرځای او برحقه ادعا ده.

د ډیورنډ کرښې په هکله د یو بل پر وړاندې د افغانستان او پاکستان حقوقي دریځ، د ډیورنډ کرښې حقوقي حیثیت د پوښتنې لاندې راوستلو لپاره د افغانستان له خوا درې عمده مبحثونه مطرح شوي:

۱ـ پاکستان (د مستقل هېواد په توګه) د برتانوي هند ځای ناستی نه دی:

په ۱۹۴۷ز کال د جولای په ۳۱ د لومړي ځل لپاره د افغانستان د صدر اعظم شاه محمود خان له خوا د برتانیې خارجه وزیر سره په غونډه کې د یو هېواد په توګه د پاکستان په اړوند چې له برتانوي هند څخه جلا کېږي(د برتانوي هند د ځایناستي) پوښتنه مطرح کړه او یادونه یې وکړه چې پاکستان ته له برتانوي هند څخه د واک په انتقال سره د افغانستان ټولې معاهدې چې د سرحدونو په اړوند له برتانوي هند سره موجودې وې لغو دي. دغه وینا د پاکستان له رامېنځته کېدلو څخه دمخه د افغانستان له خوا مطرح شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستانیان پورتنۍ ادعا د ویانا د کنوانسیون د ۱۱ مادې VCSSRT له مخې ننګوي چې وايي نویو تشکیل شویو دولتونو (هیوادونو) ته چې د پخوانیو دولتونو ځایناستي وي دا حق ورکړل شوی، چې د پخوانیو دولتونو ترمنځ ټولې دوه اړخیزې معاهدې binding bilateral agreements له پخواني دولت څخه ځایناستي دولت ته انتقالیږي. په همدې استدلال د عدالت د نړیوال دیوان international court of justice د قواعدو له مخې چې د دوه اړخیزو لازمي معاهدو binding bilateral agreement په اصل تاکید کوي او وايي چې د ډیورنډ کربنه هم د سرحد په توګه پاکستان ته انتقال شوې.

همدا راز کله چې پاکستان د یو مستقل هېواد په توګه رامېنځته کېده نو د برتانیې دولت په ۱۹۴۷ز کال کې د هند د استقلال په قانون Indian independence Act کې څرګنده کړې چې ټولې دوه اړخیزه الزامي معاهدې Binding Bilateral Agreements د هغه ځایناستي پاکستان ته انتقالیږي. چې له قانوني پلوه پاکستان د ټولو دغه معاهدو مستحق ګرځي.

د وروستۍ ادعا په اړوند اوس پوښتنه دا ده چې د ډیورنډ معاهده یوه دوه اړخیزه الزامي معاهده Binding Bilateral Agreement ده کنه؟ چې د دې پوښتنې ځواب لپاره د ډیورنډ د معاهدې تحلیل او له ۱۹۱۹ز کال او ۱۹۲۱ز کال معاهدو سره د هغې توپیر ته اړتیا ده. چې وروسته به پرې بحث وکړو.

پاکستان د جوړېدو څخه یو کال وروسته په پښتنو کربلا جوړه کړه یوازې یوه بېلګه یې لیکم، په ۱۹٤۸ز کال ۱۲ د اګسټ د بابړه پېښه وايي:

چې قطرې قطرې ځان غواړي او غلام له دنیا نه ځي

چې په خپلو وینو لامبي دا خو خــــوی د پښتنو دی

د بابړه خونړۍ پېښه د پښتونخوا مشر خان د پاکستاني نظامیګر او بنسټګر واکمن له خوا لیرې کېږي او قیوم خان کشمیرې پر واکمنۍ ګماري. د خدایي خدمتګارانو جنبش سولیز لاریون کوي پر لاریون کوونکو د قیوم خان له خوا د پوځ برید ته امر ورکول کېږي. سره له دې چې دا لاریون قانوني اجازه هم درلوده، ولې قیوم کشمیري دا لاریون یا د بابړې د پښتنو عام ولسونه په خورا وحشیانه توګه ځپي. خان عبدالغفارخان او ولي خان او نور زندان ته اچوي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خونړۍ پېښه کې تر ۴۰۰ زیات پښتانه شهیدان او تر دې زیات ټپیان کېږي او په سلګونو زندان ته اچول کېږي. سره له دې چې قیوم کشمیری د هند څخه د پاکستان د خپلواکۍ نه مخکې د پښتنو د آزادۍ او خپلواکۍ طرفدار وو او په دې هکله یې کتابونه هم لیکلي وو. خو تر خپلواکۍ وروسته یې لیکل شوي اثار له مېنځه یوړل او په مسلم لیګ کې شامل شو. دا یوه کوچنې بېلګه وه.

## پاکستان د ډیورنډ کرښې د ماتوونکي (ناقض) په توګه:

په ۱۹۴۹ز کال کې کله چې پاکستان د افغانستان یوه کلیواله سیمه بمبار کړه نو افغانستان لویه جرګه راوغوښته او په هغې کې پریکړه وشوه چې افغانستان نه د ډیورنډ خیالي کرښه قبلوي او نه د هغې په شان نورې کرښې او وویل شول چې له ۱۸۹۳ز کال څخه راپه دې خوا ټول معاهدات لغوه دي. د افغانستان د ادعا په اساس که د ډیورنډ کرښه وجود هم ولري چې په هغې کې ذکر شوي چې هېڅ دولت له پولې ها خوا د سیاسي او نظامي مداخلې حق نه لري نو د پاکستان نظامي مداخله نوموړې معاهده په خپله لغوه کوي. د دې په مقابل کې پاکستان نړیوال قوانین اساس نیسي او استدلال کوي چې یو اړخ د الزامي معاهدې د لغوه کېدو حق نه لري او پاکستان د ډیورنډ معاهده الزامي binding فرضوي چې د دې ادعا په هکله وروسته بحث کوو.

۳ـ د ډیورنډ کرښې معاهده له ۱۰۰ کلونو وروسته له منځه ځي:

د افغانستان ځینې پوهان لکه ډاکتر حسن کاکړ وایي چې د ډیورنډ معاهده سل کاله اعتبار لري او ادعا کوي چې دغه معاهده له لاسلیک وروسته د انګلیسانو له خوا لاسوهلې شوې او ځینې مادې یې ترې لیرې کړي دي او وایې چې د معاهدې هغه ترجمه چې امیر عبدالرحمن ته لېږل شوې وه له هغه انګلیسي متن چې وروسته انګلیسانو اعلان کړ توپیر درلوده. دا پوهان د ډیورنډ معاهده د هانکانګ له معاهدې سره ورته بولي. دغه ادعا د ازادو قبایلو حکمران ښاغلي خلیل الرحمن له هغه مرکې سره چې په ۲۰۰۵ز کال کې یې له یو ژورنالیست سره کړې وه، لا قوي شوه چې ژونالیست یې نقل قول داسې راخیستی (د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیورنډ معاهده له سلو کلونو وروسته له منځه ځي چې په ۱۹۹۳ز کال کې پوره کېږي او هغوی پرویز مشرف ته د هغې د تجدید لپاره وړاندیزونه کړي) د یادولو وړ ده چې د افغاني پوهانو او پاکستاني سیاستوالو دواړو ادعا په دې هکله ډېره ضعیفه ښکاري ځکه د ثبوت لپاره هېڅ سند نشته او د ثبوت لپاره د معاهدې دویم ځلې ترجمې او نورو اسنادو ته اړتیا لیدل کېږي.

## د پاکستانیانو په ادعاګانو کې د ضعف ټکي:

لکه څنګه چې پورتني بحث کې وویل شول، د پاکستانیانو بحث په دې فرضیه ولاړ دی چې د ډیورنډ معاهده یوه دوه اړخیزه الزامي معاهده ده او د ۱۹۰۵، ۱۹۱۹ او ۱۹۲۱ز کلونو توافقاتو ته په کتو تاکید کوي چې افغانستان هم دا کرښه منلې ده. دا په داسې حال کې ده چې د ۱۹۸۳ز کال د تړون او د نورو موافقو لکه د ۱۹۰۵ و ۱۹۱۹ او۱۹۲۱ ز کلونو په نظر کې نیولو سره د پاکستان دعوا له پینځو عمده کمزورتیاوو سره مخامخ کېږي. چې په لاندې ډول یې توضیح کوو:

لومړی ضعف: د ډیورنډ معاهده چې په ۱۸۹۳ زکال کې لاسلیک شوه د انګلیسانو او امیر عبدالرحمن ترمنځ سیاسي سرحد تعریف کړی چې په هغې کې د انګلیسانو او امیر د نفوذ ساحې مشخصې شوي، خو دا د دوه مستقلو هیوادونو ترمېنځ یو فزیکي سرحد نشي تعریفولی. د انګلیسانو هدف هم همدا وو چې د امیر نفوذ په قبایلي سیمو محدود وساتي او د دې ثبوت همدا دی چې انګلیسانو هېڅ وخت د قبایلي سیمو کنټرول ترلاسه نه کړ. دا مسئله د ځینې اکادمیکو اشخاصو له خوا توضیح شوې لکه پروفیسور دنیال اچ دیوایدنی Prof. Daniel H. Deudney وایي چې په ۱۸۸۰ز کال کې کله چې په اسیا او افریقا کې د اروپایانو مستعمراتو پراختیا پیدا کړه نو اروپایي هیوادونو د نفوذ د ساحو په ټاکنه پیل وکړ ترڅو په سوله ایزه توګه خپلو کې سیالي وکړای شي چې په دې اړوند لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۵ز کال کې د جرمني او انګلستان ترمېنځ د ګلف اوف ګونیا Gulf of Guinea په ساحه کې د نفوذ ساحې تعریف شوې. چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ډېر نور مثالونه شته چې د سیاسي نفوذ مفهوم لري او د فزیکي سرحد د انتقال په مانا نه ده. د ډیورنډ د کرښې په اړوند د یو فزیکي سرحد په توګه د هغه د ردولو لپاره مهم دلیل پخپله د ښاغلي ډیورنډ خبرې دي چې هند ته له ستنېدو وروسته یې وویل (هغه قومونه چې د هند په خوا کې ژوند کوي هېڅ وخت د انګلیسانو په قلمرو کې نه شاملېږي، بلکې یوازې له تخنیکي پلوه هغوي زموږ د نفوذ ساحه ده) د ښاغلي ډیورنډ دا خبرې په خپله ثابتوي چې د ۱۹۸۳ز کال معاهده یوازې یو مجازي سرحد وو چې انګلیسانو د لویو لوبو Great Games لپاره غوښتل د امیر د نفوذ ساحه کمه کړي. سربېره پر دې په ۱۹۰۱ز کال کې د سرحد ایالت North Western Frontier Province NWFP د تشکیل نه وروسته ازاد قبایل د یو بیل قانون لاندې ساتل کېدل چې له مخې یې قبایلي ملکانو په خپلواکه توګه فعالیت کاوه او دا چې په منطقوي سیاست کې مداخله ونه کړي نو د انګلیسانو له خوا ورته اسلحې او او پیسې د مرستې په توګه ورکول کېدلې. د دې ټولو هڅو تر شاه موخه دا وه چې قبایلي سیمې د امیر عبدالرحمن له نفوذ څخه لیرې وساتي ترڅو په لویو منطقوي لوبو کې قبایل د انګلیسانو د ګټو په مقابل کې استعمال نشي.

له پورتني بحث ثابته شوه چې د ۱۹۸۳ز کال ډیورنډ معاهدې هېڅ وخت د دوه هیوادونو ترمېنځ یو فزیکي سرحد نه دی ټاکلی نو پاکستان چې د هاغه مهال انګلیسي دولت ځایناستی دی د نړیوالو قوانینو VCSSRT په اساس هم د ډیورنډ د معاهدې د سرحد مستحق نه ګرځي ځکه دا سرحد اصلاً په فزیکي ډول وجود نه درلود.

دویم ضعف: د پاکستانیانو دا بحث چې د ډیورنډ کرښه یو نړیوال منل شوی سرحد دی چې په ۱۹۸۳ز کال کې منل شوی او په ۱۹۰۵ز کال کې تایید شوی، د یو بل لوی ضعف سره مخامخ ده. هغه دا چې دا معاهده د امیر عبدالرحمن او برتانوي هند ترمېنځ یوه شخصي معاهده وه ځکه چې د امیر عبدالرحمن له وفات وروسته انګلیسانو هغه کلني تادیات چې د همدې موافقې له مخې امیر عبدالرحمن ته ورکول، په دې دلیل بند کړل چې دا ټول تعهدات شخصاً له امیر عبدالرحمن سره شوي ول او له همدې امله له امیر حبیب الله سره هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو تازه مذاکراتو ته داخل شول چې په نتیجه کې د ۱۹۰۵ز کال معاهده رامېنځته شوه. په همدې ډول په ۱۹۱۹ز کال کې د امیر حبیب الله معاهده د هغه د زوي امیر امان الله لخوا د پوښتنې لاندې راغله او افغانستان له بشپړ استقلال وروسته له قانع کوونکو دلایلو سره د انګلیسانو لخوا ټولې معاهدې شخصي وګڼلې او د ډیورنډ د مسئلې د حل لپاره په نویو مذاکراتو توافق وشو.

دریيم ضعف: د پاکستانیانو یوه ادعا دا هم ده چې د ډیورنډ د ۱۹۸۳ز کال معاهده په ۱۹۱۹ او ۱۹۲۱ز کلونو کې د امیر امان الله لخوا د ۱۹۰۵ د معاهدې په تعقیب تایید شوې ده. دا مسئله په تېرو بحثونو کې ثابته شوه چې په هېڅ وروستیو توافقاتو کې د ډیورند اصلي معاهده نه ده قبوله شوې او حتی رد شوې ده. د بیلګې په توګه د ۱۹۱۹ز کال او ۱۹۲۱ز کال تعهدات د ټولو مخکینیو معاهدو چې د برتانوي هند او افغانستان ترمېنځ وو په لغوه کېدلو سره ترسره شوي او زیاتره دغه معاهدات د ډیورنډ د اصلي معاهدې لپاره د فزیکي سرحد د ټاکنې په وسیله د اراضي د جنجالونو د حل لپاره هڅې وې. چې تراوسه هم په ځای پاتې دي. همدا لامل دی چې اوس هم د دواړو هېوادونو ترمېنځ فزیکي سرحد او د ډیورنډ کرښې ترمېنځ ښکاره او واضح توپیر موجود دی.

څلورم ضعف: د کابل معاهده چې په ۱۹۲۱ز کال د نومبر په ۲۲ د افغانستان د دولت او د برتانوي هند ترمېنځ لاسلیک شوه د ډیورنډ د کرښې په اړوند وروستۍ معاهده ده چې په هغې کې دغه کرښه د افغانستان او هند سرحد په نوم یاده شوې. دا معاهده د دوه دولتونو ترمېنځ وه او شخصي نه ګڼل کېږي. په دې معاهده کې یوه ماده داسې ده چې له یو رسمي یادابنت څخه وروسته دواړه خواوې High Contracting Parties په یو اړخیزه توګه د معاهدې د لغوه کولو حق لري.

سربېره پردې دی معاهدې هم د سرحد په اړوند ټولې ستونزې حل نشوې کړلی نو په همدې دلیل د معاهدې په څلورمه ماده کې راغلي چې دا معاهده مؤقته او د دریو کلونو لپاره د اعتبار وړ ده که چېرې کومه خوا په دې موده کې د لغو کېدو غوښتنه ونکړي.

په دې ډول د افغانستان دولت ته له هماغه وخته د دې حق ثابت وو. چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ میاشتو کې دغه معاهده لغو کړي. سره له دې چې دا معاهده د مؤقت وخت لپاره وه خو که د اوږدو کلونو لپاره هم فرض شي بیا هم افغانستان د معاهدې د یو طرف په حیث د یو یادانښت نه وروسته تر یو کال پورې د یو اړخیزې توګه د لغوه کولو حق لري.

پینځم ضعف: د ځینو پاکستاني پوهانو لخوا داسې ادعا کیږي، چې د افغانستان دولت په ۱۹۳۰ز کال کې د بېلابېلو یادښتونو په تبادلې سره ددې معاهدې له ادامې څخه ملاتړ کړی او په دې ترتیب افغانستان د یو اړخیزې لغوې حق له لاسه ورکړې او دا ادعا د ویانا کنوانسیون VCLTز کال ۱۹٦۹ز په اساس وړاندې کوي. د دې ادعا ضعف په دې کې دی چې د نوموړي کنوانسیون ۴۵ ماده الف بند چې د حق له لاسه ورکولو، بی اعتباری او فسخ یا ځنډولو په هکله ده یوازې هغه مهال د تطبیق وړ ده چې یو هیواد دا کنوانسیون امضا کړی وي په داسې حال کې چې د کابل د معاهدې د امضا په مهال ۱۹۲۱ز کال کې دواړو خواوو هم افغانستان او هم پاکستان دغه کنوانسیون نه امضا او نه تصویب کړي وو او دا نبته نیمه پیړی تفاوت لري. نو څرګندیږي چې دا نړیوال قانون د دې معاهدې په اړوند د تطبیق وړ نه دی او د نړیوالو قوانینو له مخې د کابل معاهده یوه مستقله معاهده ده. چې افغانستان هېڅ وخت د یو اړخیزه لغوي حق له لاسه نه دی ورکړی.

## پایله

د پورتنی څېړنې او تاریخي شواهدو په پام کې نیولو سره دې نتیجې ته رسېږو چې:

د ډیورنډ معاهده چې په ۱۸۹۳ز کال کې د برتانوي هند او افغانستان د وخت امیر عبدالرحمن خان لخوا لاسلیک شوې د انګلیسانو لخوا له امیر سره د سیاسي نفوذ د ساحې د ټاکلو لپاره د بین الدولتینو په بڼه نه بلکې په شخصي بڼه لاسلیک شوې.

د ډیورنډ معاهده یوازې یو تړون نه بلکې د بېلابېلو توافقاتو یو ځنځیر دی لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۸۹۳، ۱۹۰۵، ۱۹۱۹، ۱۹۲۱کلونو معاهدې) دا چې د ډیورنډ په لومړنۍ معاهده کې ډېرې ستونزې موجودې وې نو برتانوي هند له هر امیر سره په شخصي ډول بیا بیا (لکه په۱۹۰۱، ۱۹۰۵ کلونو کې) مذاکرات ترسره کړل، تر دې چې د افغانستان له خپلواکۍ وروسته بیا د دولتونو ترمېنځ د ۱۹۱۹ز کال د کابل په معاهده کې ټول پخواني معاهدات لغوه اعلان شول. د ډیورنډ ځنځیره یي معاهدې په اساس ټاکل شوې کرښه تراوسه پورې یوه فرضي، خیالي او د کاغذ پرمخ کرښه ده او په بشپړه ډول هېڅ وخت علامتگذاري شوې نه ده.

د افغانستان امیرانو او له هغه وروسته ټولو دولتونو(شاهي، جمهوري، جمهوري انقلابي، مجاهدینو، طالبانو او اوسنیو که منتخب وو او که بل شکل حکومتونو) په خپل وخت کې د ډیورنډ کرښه د رسمي سرحد په بڼه هېڅ وخت نه ده قبوله کړې. له برتانوي هند وروسته د اوسني پاکستان له رامېنځته کېدو پورې او له هغه وروسته تراوسه پورې چې د پاکستان لخوا د ډیورنډ د کرښې په اړوند د نړیوالو کنوانسیونونو په رڼا کې کومې غوښتنې وړاندې کېږي، افغانستان په حقوقي لحاظ دغه ټولې ادعاوې ننگولی شي. له پاکستان سره د افغانستان سهېلي او ختیزه کرښه چې په اوسنۍ نقشه کې موجوده ده، د ډیورنډ له اصلي نقشې سره توپیر لري او اوسنۍ کرښه اصلاً د کوم دوه اړخیز تړون نتیجه نه ده. په تاریخي لحاظ د ډیورنډ د کرښې پورې غاړه پراته ولسونه حتی د برتانوي هند په وخت کې هم د هند اتباع نه دي گڼل شوي او دغه قبایلي سیمې یوازې د افغانستان له خوا د سیاسي او نظامي اغېز د مخنیوي په خاطر د یو مبهم حایل په توگه په زور تر اشغال لاندې نیول شوی وی. همدا دلیل وو چې انگلیسان تل په دې سیمو کې له جگړو او مقاومت سره مخ وو.

د پورتني بحث ټوله پایله دا ده چې د ډیورنډ د کرښې په شان ملي، حساس مسایل چې اوږد تاریخي پس منظر لري باید له داخلي سیاسي کشمکشونو او په هېواد کې د بېلابېلو سیاسیونو له سلیقوي اختلاف څخه بېل وگڼل شي او په منطقي ډول د ملي گټو له تقاضا سره سم دا بحث د هېواد تکړه پوهانو ته پرېښودل شي چې په سېمه ایزه او نړیواله کچه له دغه مسایلو د هېواد لپاره ستراتیژیکه استفاده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



· Adamec, L. W. (1967) Afghanistan, 1900-1923: A Diplomatic History, Berkeley: University of California Press .

· Adamec, L. W. (1974) *Afghanistan's Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century*, Tucson .

· *Afghanistan*, available online at http: //www. ips. org. pk/the-muslim-world/986-pak-afghan-relations-thedurand- line-issue. html, accessed 18 March 2017 .

· Amin, A. (2004) 'Resolving the Afghan-Pakistan Border Question', *Journal of Afghanistan Studies, Kabul*, Volume 1, Summer June-August .

· Baker, R. S. (1922) *Woodrow Wilson and World Settlement Volume 3*, New York: Doubleday, Page & Co .

· Baxter, Craig (1997) 'Country Studies: Afghanistan, the Pashtunistan Issue', *US Library of Congress* .

· Encyclopedia Britannica (no date) 'The Third Anglo-Afghan War', available at http: //www. britannica. com/EBchecked/topic/24956/Anglo-Afghan-Wars/301079/Third-Anglo-Afghan-War,accessed on 18 March 2017 .

· Encyclopedia Britannica, available online athttp: //www. britannica. com/EBchecked/topic/287778/sphere-of influence, accessed 20 March 2013 .

· Holdich, T. H. (1987) *The Indian Borderland: 1880-1900 (1st Edition)*, Delhi: Gian Publishing House .

· Khan, S. M. (ed. ) (1980) *The Life of Abdur Rahman: Amir of Afghanistan*, Karachi: Oxford University Press, p. 154-55 .

· Malakand and Chakdara', *Journal of Pakistan Historical Society*, Karachi .

(c) ketabton.com: The Digital Library



· Marsh, B. D. (2009) 'The North-West Frontier and the Crisis of Empire: Post-War India and the Debate over Waziristan, 1919-1923', *British Scholar*, 1(2) .

· National Archives of India (1893) 'Mission to Kabul', *Foreign Department, Sect. F. 771/481*, p 578 .

· National Archives of India (1897) 'Letter written to the Viceroy from His Highness the Amir', Foreign Department, Secret F, 449 .

· National Archives of India (1920) 'Article V: Treaty of Peace 1919', *Foreign Department*, Sect F .

· National Archives of India (1921) 'Texts of the Treaty of Kabul, 1921', Foreign Department, Sec. F, 147/78 .

· National Archives of UK (1925) 'Afghanistan, Memorandum by Birkenhead', SECRET C. P. 286(25), Catalogue Reference CAB 24/173/88 .

· National Archives of UK (1925) 'Afghanistan', Record Type: Memorandum, 9 June, Reference: CAB 24/173/88 .

· Qaseem, A. S. (2008) 'Pak-Afghan Relations: The Durand Line Issue', *Policy Perspectives, Special Issue*

· Rizvi, Mujtaba, Pakistan and Afghanistan. Westview Press: 1994 .

· Rome, S. I. (1995) 'The Malakand Jihad (1897): An Unsuccessful Attempt to Oust the British from

· Rome, S. I. (2004) 'The Durand Line Agreement (1893): Its Pros and Cons' .

· The Express Tribune (2012) 'Splintering Relations?: Durand Line is a 'settled issue', says FO', 25 October, available online at http: //tribune. com. pk/story/456881/splintering-relations-durand-line-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**is-asettled-issue-says-fo/ , accessed 25 March 2017 .**

**· UN (1972) 'Summary Record of the 1192nd meeting: The question of Succession of State',** ***Extract from the Yearbook of the International Law Commission 1972,*** **Document no: A/CN. 4/SR. 1192, Vol. 1, p. 249 .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هند پر خاوره د برتانیا ښکېلاکګر خېټه اچولو لنډ مالومات

## اروپایان د هند په نیمه وچه کې (ختیځ هند کمپني) انګرېزان او توکمیز توپیر:

انګرېزان په نړۍ کې له نورو توکمونو څخه زیات توکمپالي دي، د خپل توکم لپاره یې د لوړ او غوره توکم نوم په درغلۍ سره جعل کړی او پر نورو باندې یې د منلو کوښښ کړی دی او د اسرائیلو په شان یې مذهبي بڼه ورکړې ده، دوی په دې ګروهه وو چې: موږ پر نورو توکمونو باندې د حکومت لپاره پیدا شوي یو، د دغو توکمیز توپیر پر بنسټ یې د نړۍ په پنځو، لویو وچو کې ډېر بې ګناه انسانان وژلي او لوټلي دي، دغو توکمپالو انګرېزانو د نورو توکمونو ترڅنګ د هند خلک احمقان، بې زړه او د ټیټې طبقې کسان بللي دي. ښاغلی جواهر الل نهرو وایي: د اوږدو کلونو راهیسې، د هندیانو ټول نسلونه سپک او توهین شوي، سپکې سپورې ورته ویل شوي او په سپک نظر ورته کتل شوي دي، موږ ته ویل کېږي چې: «موږ انګرېزان، له نورو څخه غوره او لوړ توکم یو، ځکه خو خدای موږ ته پر تاسو باندې د حکومت کولو حق راکړی دی او تاسو یې زموږ تابع او موږ ته ښنلي یې.»

نهرو زیاتوي: «کله چې موږ د انګرېزانو پر کړنو باندې نیوکه کړې ده، دوی خپل ببر ډوله صفات، لوړ او حاکم نژاد (راته مخې ته کوي.

نهرو وړاندې ځي او په خواشینۍ سره څرګندوي: «زه د یو هندي په توګه شرمېږم چې دا ډول مطالب لیکم، ځکه د دا شان ناوړه کړنو لیکل او یادول هم سرې زوروي او هغه چې له دې هم سرې ډېر زوروي، هغه واقعیت دی، چې موږ په خپله له اوږدې مودې راپه دېخوا دا ډول ځپلی حالت او پستي منلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، زه دې ته ترجيح ورکوم، په هر شکل چې وای او هره بده پايله يې چې درلودلی، د(انګرېزانو) د دا ډول ځان ښودنو پر وړاندې مو بايد مقاومت کړی وای او زموږ ملت دغه ناوړه کړنې نه وای منلي.»

د هندوانو په دين کې طبقاتي يا د کاسټ جوړښت په څلورو پوړونو باندې وېشل شوی دی: برهمنان، کشتريه، ويسيا او د شودرا طبقه، چې لومړۍ درې طبقې يوه پر بله باندې لوړه ده او وروستۍ د شودرا طبقه يوه محکومه او غالمه ډله ده، تاريخ پوه ښاغلی ويل دورانت د هندوانو دا ډول طبقاتي جوړښت، په هند کې د انګريزانو د اشغال په موده کې نه يوازې پر هندوانو پورې محدود ګڼي، بلکې د انګرېزانو په استعمار باندې يې ويشلی داسې يې تشريح کوي:

۱ـ برهمن: نن ورځ په هند کې حقيقي برهمنان د انګرېزانو سياسي کسان دي.

۲ـ کشتري: کشتريان په هند کې، د انګرېزانو پوځيان دي.

۳ـ ويسيا: د ويسيا طبقه په هند کې د انګريزانو تجاران دي.

۴ـ شودرا: د هند ټول اصلي اوسيدونکي دي، انګرېزان په دې ګروهه باندې ولاړ وو او ټينګار يې کولو چې: «هنديان د انسانانو د ټيټ توکم څخه دي، دوی، د هند د آب هوا د څرنګوالي له امله، طبيعتاً دې ته جوړ شوي دي چې د نورو د مريتوب) غلامۍ(غړوندی) غاړه کې(په غاړه کې ولري، د لمر تودوخه، وچه شنړه او بې وښو ځمکه، د هنديانو د دماغي کمزورۍ سبب شوې ده، چې د دوی لپاره يې کمزوري، بېوزلي او غريبي رامېنځ ته کړې ده، له دغو دوو تيارو) ظلمت(څخه د هنديانو ناپوهي رامېنځ ته شوې ده. دا هېواد تر دې پورې کمزورۍ او د خپل نفس او خپلواکۍ د ساتلو څخه بې ځواکه دی، چې د دوی ټول تېر تاريخ د بهرنيانو پر بريو ډک دی. څلور زره کاله وړاندې د آرين توکم له شمال څخه په دغې ځمکې باندې يرغل وکړ، دغه ځمکه يې ونيوله او يو وړ تمدن يې د خپلو روحياتو سره سم رامنځ ته کړ، خو د لمر تودوخې د دوی ځواکمنتيا مړاوي کړه او د دوی تمدن له مېنځه ولاړ. اوه سوه کاله وړاندې مسلمانانو له شمال څخه په دې هيواد باندې يرغل وکړ، دولت يې جوړ کړ، د خپل تمدن بنسټ يې ټينګ کړ، خو ددوی ځواک هم د لمر تودوخې مړاوي کړ او تمدن يې هم له منځه ولاړ. څلور سوه کاله وړاندې مغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شمال څخه دا ځمکه لاندې کړه، دولت يې جوړ کړ، تمدن يې رامنځ ته کړ، د لمر تودوخې د دوی غښتلتيا هم کمزورې کړه او د مغلو تمدن هم له. د اتلسمې پېړۍ په لومړيو کې د مغلو د امپراطورۍ بنسټ ولړځېد، د هند ځمکه بيا د هرې خوا څخه تر تهديد لاندې راغله، تل ددې وېره وه، چې نوي او تازه دمه ډله به بريد وکړي او هند به په قهر او جبر سره لاندې کړي، که چېرې انگريزانو دا هېواد نه وای نيولی، فرانسې، پرتگال يا لهستان دا کار ترسره کولو، هندوستان ډېر نېکمرغه دی چې د وخت د ډېرو لويو او ښو حاکمانو(انگرېزانو) تر حاکميت لاندې دی)! (پخواني فاتحين په هندوستان کې پاتې شوي دي چې له امله يې خپلې ځواکمنۍ له لاسه ورکړي دي، خو انگريزان يو په بل پسې د تازه دمه ځواک او پوهې سره دغې ځمکې ته راځي، د انگريزانو مشران، قوماندانان او افسران وروسته له هرو پنځو کالو يو ځل له هند څخه انگلستان ته درومي او د خپل هېواد له واورو او بارانونو څخه خپله غښتلتيا اخلي، له دې امله ده چې ٦٨٠٠٠، انگرېزان په آسانۍ سره په ۳۲۰,۰۰۰,۰۰۰ هنديانو باندې حکومت کوي...) ۳ (د حيرانتيا خبره خو دا ده چې انگرېزانو، هغه آزادي غوښتونکي هنديان، چې د اشغالگرو څخه يې د خپلواکۍ هڅې کولې، ناوړه او ناپوهه کسان بللي، په دې باب ښاغلی جواهرالل نهرو داسې ليکي: «موږ ته(د انگرېزانو لخوا) ويل کېږي چې ستاسو ملي احساسات) ناسيوناليسم(زموږ د وروسته پاتې والي څرگندونه کوي، تر دې چې زموږ د خپلواکۍ غوښتنه هم زموږ د کم فکرۍ او بې عقلۍ نښه بولي.)

۴ (دا شان انگرېز، سر رجينالد مکسول، چې د بريتانوي هند حکومتي چارواکی ؤ، د هند آزادي غوښتونکي مخکښان يې د ټولنې دښمنان بللي) په داسې حال کې چې د ټولنو دښمنان په خپله د بريتانيا استعمار و (رجينالد مکسول، په (۱۹۴۱ز) کال کې د هغو تورونو او نيوکو پر وړاندې چې د هندوستان د ملي کانگرس، سوسياليستانو او کمونستانو د گوندونو غړي يې نيولي او بې محاکمې يې په زندانونو کې ساتلي وو، چې د نازي جرمنيانو او ايټالويانو لخوا، د نيول شويو جنگي اسيرانو څخه هم ناوړه او غير انساني چلند ورسره کېده، د دغو تورونو او نيوکو پر وړاندې مکسول په خپله حيرانوونکې دفاع کې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«جرمنیان او ایټالویان د خپلو هیوادنو لپاره جنګړېږي، خو دغه کسان (د هند د ملي کنګرې غړي، سوسیالیستان او کمونستان) د ټولنې دښمنان دي، چې غواړي موجوده نظم له منځه یوسي.»

۵- له دې امله چې انګرېزان پر نورو وګړو باندې ځانونه لوړ بولي، د هند نایب السلطنه (د هندیانو پر وړاندې) په داسې بڼه خبرې کوي چې د انګلستان هېڅ لومړی وزیر او یا د امریکا ولسمشر په دې رنګ نه دی غږېدلی، یوازې یو هیټلر دی چې د ده په شان ګړېږي، نه یوازې نایب السلطنه، بلکې د نایب السلطنه د شورا غړي، د ولایتونو حاکمان او حتی هغه واړه کسان، چې د بېلابېلو ادارو مسوولین دي هم ځانونه لوړ بولي، بلکې په دې عقیده دي چې هر څه چې دوی وایي او کوي یې، وړ او سم دي او د ځمکې ټول تلونکي (فاني) موجودات یې باید ومني، ځکه چې واک او ویاړ په دوی پورې اړه لري. )

٦- هندیان په بې ځواکه او منونکو خلکو باندې بدلېږي: دا د انګرېزانو د سیاست یوه مهمه برخه وه چې هندیان په تیارو کې وساتي، ترڅو د نړۍ له هر ډول پرمختیاوو څخه ناخبره پاتي شي او د انګرېزي استعمار لخوا په ښه توګه اداره او د استعمار پر وړاندې غبرګون ونه کړای شي، په دې اړه یو تن انګرېز چارواکی داسې وایي: «... په هغو ورځو کې زموږ سیاست داسې و، چې خلک او ځایي هندیان په ژور جهل، وحشت او بې خبرۍ کې وساتو او د هر ډول زده کړې او پوهې څخه باید محروم وي، هغه که زموږ د واک لاندې سیمو کې وو او یا هم په هغو خپلواکو حکومتونو کې چې د هندیانو تر ادارې لاندې وو د سخت قهریدلي مخالفت سره مخامخ کیدل.»

۷- د هند اوسیدونکي نه یوازې په جهل کې ساتل شوي وو بلکې د انګرېزانو د پالیسیو سره سم په لوی فقر او بې وزلۍ کې هم ساتل کېدل، چې دا هم د استعمار د پلي کېدو یوه بله شیطاني وسیله وه، وایي چې: د هند خلکو چای، قهوه او سبزیجات د نیستۍ او فقر له امله نه پېژندل، د بدن غړي یې نري او پوستکي یې په هډوکو باندې نښتي وو، تبه، د سږو ناروغۍ او لوږې، په کال کې په میلیونونه هندیان د مرګ کندې ته غورځول، له کال ۱۸۷۸ز، څخه تر ۱۹۰۰ز، پورې د ۲۲ کلونو په اوږدو کې پنځلس میلیونه خلک له لوږې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړه شول، د هند نيمايي ماشومان، مخکې له اتو کالو څخه مړه کېدل...، د هند ولس تر هغه وځپل شو، چې شجاعت او ښه اخلاق يې تر پښو لاندې شول او د ژوند له نعمتونو او آزادۍ څخه نا امېده شول، د دوی پر شونډو خندا نه وه، دا لامل وه چې د هند خلکو د يوې بېځواکه او مطيع ډلې ځای نيولی و.
د انگرېزانو د ښکيلاک او فشارونو په پايله کې، د هنديانو زړونه مات او معنوي او اخلاقي وده يې شاته پاتې شوه، هغې پوهې چې پخوا په دوی کې شتون درلود، مړاوي يا له منځه تللې ده...)
۸- په دې تړاو د هندوستان مشر مهاتما گاندي څه ښه ويلي دي: «هغه ملت چې وړی وي، هېڅکله نه شي کولی، مذهب، هنر او يا هم کوم سازمان ولري.»
د ټول هند نيول او د لوی افغانستان پولو ته د انگرېزانو رسېدل، په ۱۷۵۷ز کال کې کاليو انگريز، د بنگال نواب سراج الدولة ته په تګۍ سره، د پالسۍ نومي په جگړه کې ماتې ورکړه... کاليو دوه نيم ميليونه روپۍ ترلاسه کړې، دا چې په يادو روپيو يې قناعت نه کولو د ځان لپاره يې يو ارزښمن جاگير هم خپل کړ... په هند کې پيل شوه... انگريزان په بنگال کې واکمن شول د انگريزانو واکمني وروسته د پالسي جگړې څخه عملاً او بل داسې ځواک نه و چې د دوی مخه ونيسي... وروسته له هغې د بنگال د نوابانو ټاکل او شړل د انگريزانو لخوا ترسره کېدل، انگرېزانو په کال ۱۷٦۴ز کې د بکسر جگړه هم وگټله، چې په پايله کې د ډېلي (مغلي) امپراطوري هم د انگريزانو تر لاس لاندې راغله؛ انگريزان پر بنگال او بيهار سيمو باندې واکمن شول.
۱۱ (د پالسۍ په جگړه کې بري، کمپنۍ له يوې تجارتي ادارې، په يوه سياسي ځواک بدله کړه، کمپنۍ د سياسي ځواک په توگه له هندي دولتونو او ايالتونو سره اتحادونو او معاهدو ته ملا وتړله، دغو ځايي دولتونو ته يې په سود پيسې ورکولې او عسکر يې وراستول، چې دفاع يې وکړي که چېرې دغو حکومتونو د پور د ادا کولو وس نه درلود، نو په بدل کې يې ورنه خاوره لاندې کوله او د خپلو خدماتو په مقابل کې يې ماليه ورڅخه ټولوله، د بکسر له جگړې (۱۷۷۰ز) وروسته کمپنۍ د بنگال، بيهار او اوړيسې د مالياتو د غونډولو حق ترلاسه کړ. د مصارفو د پوره کولو بله طريقه دا وه چې کمپنۍ به د خپلو هغو عسکرو مصارف

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل چې د هندي نوابيو او حکومتونو دفاع يې کوله، په ۱۷۷۰ز کې د اود (اوده) حکومتونو د کمپنۍ د دوو غونډونو مصارف په غاړه اخېستي وو چې د اود په سيمه کې دېره وو، د پوځې قدرت د لرلو په نتيجه کې کمپنۍ په ځايي دولتونو امر وکړ چې خپل پوځونه ختم کړي او د ځان د دفاع لپاره يوازې د دې ادارې په پوځ تکيه وکړي، دې شي د ځايي واکمنو قدرت کم کړ او وار په وار کمپنۍ د بشپړ کنټرول په ولکه کې راوستل. په هندوستان کې له کمپنۍ سره په لومړي پړاو کې سوداګرو، کسب ګرو، صنعت ګرو او اجنټانو همکاري وکړه... کمپنۍ د عسکرو په موندلو کې له کوم مشکل سره نه وه مخ، په هند کې د هغو کليوالو او بزګرو کمی نه و چې کورنيو جګړو ځپلي وو او تېرېدونکو پوځونو يې کروندې ور ويجاړې کړې وې، دوی بېلابېلو جګړه مارو ډلو ته مالیې ورکولو بې وزلي کړي وو او دې ته تيار وو چې د کمپنۍ غوندې په يوه اداره کې کار وکړي، دغه کليوال په غالب ګومان په دې نه پوهېدل چې د خپل ملک په نيولو کې له يوه خارجي قدرت سره همکاري کوي... البته دا خبره هم سمه نه ده چې انګرېزانو پرته له هر ډول مقاومته هندوستان نيولی دی انګرېزان دلته د هرې سيمې د نيولو لپاره جګړې ته مجبور شوي دي، مقاومت هم فردي وو، هم ډله ييز. د مغلو له زواله وروسته په هند کې ځينو ځايي حکومتونو د بريتانيا د غلبې په مقابل کې ډېر مقاومت ونه کړ، په اسانۍ سره يې نيواک ته غاړه کېښوده. د حيدر آباد او دا حکومتونه همداسې وو، خو ځينو نورو لکه د سکانو، مرهټه وو او ميسور واکمنيو له انګرېزانو سره خونړۍ جګړې وکړې او له شديد مقاومته وروسته يې ماتي ومنله. د بريتانيا د راج مطالعه او د هغې شننه موږ ته دا تاريخي بصيرت راکوي چې يو خارجي قدرت څنګه د داخليانو په همکارۍ يوه هېواد ته داخلېږي او نيسي يې، دا خبره که پرون سمه وه، نن هم سمه ده.)

۱۲ (انګرېزانو په هند کې ٦۰۱ حکومتونه رامېنځ ته کړل چې په هغو کې ۱۵، لوی او نور واړه حکومتونه شامل وو، ځينې يې دومره کوچني وو چې په نقشه کې د نرۍ ستنې د څوکې په څېر ښکاري او يو شمېر يې د يوه ځمکه وال (خان) د جايداد په اندازه وو. ددغو حکومتونو د مشرانو لپاره ډول، ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاینومونه ټاکل شوي وو لکه: په حیدرآباد کې، د نظام، د مهاراجه او نهارانا، لقبونه د هندوانو او سیکانو مشرانو لپاره او د نواب ستاینوم د مسلمانانو لپاره کارېدل. دغه ۶۰۱ هېوادونه د انګرېزانو لخوا په مخامخ او نامخامخ توګه اداره کېدل، دا ملکونه د انګرېزانو له اقتصادي او پوځي لوري څخه داسې سره تړل شوي وو، چې یو تربله یې اړتیا سره درلودله، چې له امله یې انګرېزانو کولی شول په ښه توګه ټول هند اداره کړي.)

۱۳ (لکه چې وړاندې وویل شول، انګرېزان د پالسۍ جګړې له بري (۱۷۵۷ز) وروسته د هند له سویل او ختیځ څخه د شمال پر لور وخوځېدل، چې په پای کې د مغلو امپراتوري له منځه ولاړه. د میسور واکمن حیدر علي او دده مشهود زوی سلطان ټیپو چې د انګرېزانو سرسخت دښمنان وو، انګرېزانو ته یې بې سارې ماتې ورکړې دي، تر هغې چې نږدې وو د انګرېزانو د ختیځ هند کمپنۍ ځواکونه مات او وځپي، خو د دوی واکمني په جنوب کې محدوده وه او د ټول هند په برخلیک یې اغېز نه درلود.)

۱۴ (سلطان ټیپو له انګرېزانو سره خورا بریالۍ جګړې وکړې او د مرستې په موخه یې ناپلیون او عثماني امپراتورۍ ته پېغامونه واستول...)

۱۵ (دا ډول، سلطان ټیپو د انګرېزانو پر خلاف په کال ۱۲۰۸ق کې، دراني شاه زمان، د ایران شاهزاده فتح علي شاه قاجار ته په ۱۲۱۲ق کې خپل استازي ولېږل ترڅو له ده سره د انګرېزانو پر وړاندې اتحاد او مرسته وکړي.)

۱۶ (خو له بده مرغه چې په پای کې سلطان ټیپو په کال ۱۷۹۹ز کې د انګرېزانو لخوا ماتې وخوړه. مرهټان هم له انګرېزانو سره په پوره مېړانې وجنګېدل، خو په کال ۱۸۱۸ز کې د دوی ځواک کمزوری شو او انګرېزي کمپنۍ ته تسلیم شول.)

۱۷ (پنجاب د هند ځینې نورې سیمې د انګرېزانو په تسلط کې نه وې، خو د بریتانیا امپراتورۍ په هند کې یو ریښتینی واقعیت وو، د سیکانو او د برما له ګورخه جنګیالیو سره له جګړو وروسته د انګرېزانو سیمې پراخې کړې.)

۱۸ (انګریزانو له سیکانو سره دوې لویې جګړې وکړې چې یوه یې په ۴۶-۱۸۴۵ کې او بله یې په ۴۹ -۱۸۴۸ز کې رامېنځ ته شوې، په دویمه جګړه کې انګریزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیکانو ته د چیلیانوال په سیمه کې سخته ماتې ورکړه، په پایله کې پنجاب انګریزانو لاندې کړ.)

۱۹ (وروسته له هغې چې برتانویانو هند اشغال کړ، د هند ډېرو ملي مبارزینو د انګرېز استعمار په وړاندې ډله ییزې او ځانځاني(انفرادي) جګړې او هڅې کړي دي، چې له هغې څخه یو تن د هند ملي مبارز، سوباس چندرا بوس دی چې په ۱۹۳۸ -۱۹۳۹ز کلونو کې د هند د ملي کانګرس مشر وو، نوموړی خورا جګړن او توریالی کس وو، د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال، د انګرېزانو له نظارت څخه وتښتېد، د افغانستان له لارې، المان ته ولاړ او له هغه ځایه جاپان ته ورسېد، هلته یې د آزاد هند په نوم حکومت جوړ کړ، هغه هندي اسیران چې د انګرېزانو په پوځ کې وو او په دویمه نړیواله جګړه کې د جرمنیانو، ایټالویانو او جاپانیانو (محور هیوادونه) لخوا نیول شوي وو، سوباس چندرا بوس له هغوی او نورو تعبیدي هندیانو څخه د هند د ملي پوځ (INA) په نوم پیاوړی پوځ جوړ کړ، چې د جاپانیانو سره د انګرېزانو پر وړاندې مټ په مټ وجنګېدل.)

۲۰ (خو له بله پلوه انګرېزانو یو شمېر هندیان داسې هم وروزل چې د خپلو خلکو پر وړاندې د انګریزي پوځیانو پر ملاتړ، د هندوستان د آزادۍ غوښتونکو پر وړاندې وجنګېدل، چې ښه بېلګه یې د ۱۸۵۷ز کال د پاڅونوالو پر وړاندې د مسلمانانو، سیکانو، نیپالیانو او نورو غبرګون وو، نو ځکه خو په هند کې د انګریزي کمپنۍ دوه تنو مهمو مشرانو (کالیوو او وارن هستینګس) لخوا د پنځوسو کلونو څخه په کمه موده کې هندوستان پخپله د هندیانو په لاس د انګریزانو لپاره فتح شو.)

۲۱ (تر هغې چې انګرېزان له هند څخه نه وو وتلي (۱۹۴۷ز) څه د پاسه ۳۰۰ کاله کېږي چې انګرېزان د مدراس په ولایت کې ځای پرځای وو، ۱۹۰ کاله د بنګال، بیهار او ختیزو سیمو کې حکومت کوي، ۱۴۸ کاله وړاندې یې خپله واکمني او نفوذ، د هند جنوب ته وغځوله، د هند په مرکزي او لویدیزو سیمو او شمالي ولایتونو، اوتراپردېش (چې په هغه وخت کې یې متحده ولایتونه بلل) ۱۲۸ کاله پخوا ځای پرځای شول او ۹۸ کاله مخکې پر پنجاب باندې مسلط شول.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲ (په دې ډول انګرېزانو په زور، زر، زاريو، غداريو او نورو ناانساني کړنو باندې ورو، ورو لوی هندوستان لاندې کړ. ومو لوستل چې انګرېزانو وروسته د خپلو هر ډول ځپونکو اوږد مهالو شيطاني پلانونو د پلي کولو په پايله کې وکولی شول د لوی هندوستان خلک په ډېر لږ، بشري ځواک، لکه چې دوی وايي: «له دې امله ده چې ۶۸۰۰۰» او د هنديانو وينې يې په اسانۍ سره (**) انګرېزان په اسانۍ سره په ۳۲۰/۰۰۰/۰۰۰، هنديانو باندې حکومت کوي وزبېښلې.)

۲۳ (۱- تشريحات او اخځ ليکونه برهمن: په هندومت يا هندوېزم کې برهمن ځکه سپېڅلي او مقدس ګڼل شوي دي چې دوی ديني او مذهبي چارې پر مخ بيايي او په ټولنه کې روحانيون او پنډتان دي، د هندوېزم د عقيدې پر بنسټ برهمن له خولې پيدا شوی دی نو ځکه خوله د بدن پر ټولو غړو باندې ځانګړی امتياز لري.

۲- کشتري:... د منو په قانون يا منو شاستر کې د کشتريانو دندې داسې ټاکل شوي دي: «کشتري ته حکم وشو چې د خلکو ساتنه وکړي، انعام او بخشش ورکړي، قرباني ورکړي، ويدونه ولولي او له شهرت پرستۍ نه ځان وساتي.» عالمه ابوريحان البيروني په خپل مشهور اثر کتاب الهند کې د کشتريانو په اړوند داسې ليکلي دي: «د کشتري لپاره برم يو ضروري کار دی، خلک بايد ورنه وډار شي، کشتري بايد زړور، غښتلی، د زغم خاوند، پياوړی، ژبور او سرښندونکی وي»

۳- ويسيا:... «ويسيا بايد غلې دانې وساتي، انعام ورکړي، قربانۍ ورکړي، ويدونه ولولي، سوداګري وکړي، پور ورکړي، کرنه او زراعت د دوی دنده ده».

٤- شودرا: دا طبقه د ټولنيز جوړښت پر بنسټ ښکته او ټيټه ګڼله کېدله نو دوی ته به اچهوت يا نجس او پليد هم ويل کېدل. برهمنانو، کشتريانو او ويسيا، دغه طبقه خپل سيالان نه ګڼل، دوی معمولاً لاندينۍ دندې ترسره کولې: موچيتوب، دوبي توب، د ټوکريو جوړول، کاللي، جوالي توب، ندافي، د ناولو ويالو پاکول، ډمتوب او نورې معمولي دندې. په منو شاستر کې راغلي دي: «شودرا بل هېڅ کار نلري پرته له دې چې د نورو خدمت او چوپړ وکړي ددې لپاره چې شودرا غير اريايي خلک وو نو د ټولنې پاتې درې ګونو طبقو دوی خپل سيالان نه ګڼل او له دوی نه به يې کرکه کوله او دوی ته يې د اچهوت او نجس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطاب کاوه. د دوی د خویندو او لوڼو سره چا واده نه کاوه او نه به یې خپلې لوڼې او خویندې دوی ته ورکولې، همدا راز په ټولو ټولنیزو چارو کې دوی یو وروسته پاتې طبقه ګڼل کېدله او د ټولو ټولنیزو مزایاوو نه بې برخې وو. په پښتو ژبه کې د شودرا کلمه اوس هم ژوندۍ ده بې تهذیبه، ناپوهه او بې عقل سړي ته سوډر وایي. (د ډاکټر لطیف یاد له مقالې څخه: د هندوانو د ټولنیز جوړښت څلور پوړونه).

بل ځای د انګریزي او هندي پوځیانو شمېرې داسې لیکل شوي دي: «په هند کې د بریتانیا د اړونده پوځونو (**) شمېره له ٢٠۴٠٠٠ څخه پورته ده. نږدې شپږزره، (ښایي دغه شمېره شپېته زره وي) کسان د انګرېزانو د پوځ منصب لرونکي (افسران) تشکیلوي او ١٨٧۴، تنه هوایي پیلوټان دي، پاتې نور پوځ (١٩٦١٢٦) تنه د هندیانو څخه جوړ شوي دي، له دې لوی شمېر هندیانو څخه، لږ کسان د افسرۍ درجې ته رسېدلي دي. له هندیانو څخه په هوایي ځواکونو او د وسلو جوړولو په کارخانو کې د ګډون حق اخېستل شوی دی، چې ٧٠ سلنه پوځ له دوی څخه جوړ شوی دی. د بریتانیا دولت نړیوالو ته د هندوستان اوسیدونکي نالایق او احمقان ورپېژندلی شوي دي، خو دوی حاضر نه دي چې همدغه نالایق خلک آزاد پرېږدې ترڅو د جګړې فنون پخپله زده کړي او کمال ته ورسېږي.

آیا د هند استقلال د عدم تشدد مبارزې پایله وه؟

استقلال او خپلواکي د هر ملت لپاره تر ټولو لوړ ارزښت دی. ملتونو د هر بل ارزښت په پرتله، د خپل استقلال نه د دفاع او یا د لاسته راوړو په لاره کې، ډېرې سربښندنې کړي دي. استقلال هغه یوازینی ارزښت دی چې هر مین ولس یې په هره بیه ترلاسه کول غواړي. د استقلال او خپلواکۍ د ګټلو د لارې اتلان تر ټولو نورو اتلانو غوره دي. د دغې لارې اتلان پخپله د خپلو اولسونو لپاره د مبارزې، ژوند او پایښت تلپاتې ستې دي.

د هر ولس لپاره د تاریخ هغه برخه په زړه پورې ده چې د استقلال او خپلواکۍ د ګټلو په لاره کې، د دغه ولس مېړانې او قربانۍ بیانوي. د هر ولس لپاره د تاریخ هغه برخه رېړونکې ده چې د دغه ولس ماتې، لاندې کول او بې وسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیانوي. هر اولس هر هغه چا ته چې د ولس استقلال او خپلواکۍ ته ژمن نه پاتې کېږي او یا د دښمن ترڅنګ درېږي، خاین وایي.

د بشریت تاریخ د آزادۍ له غورځنګونو څخه ډک دی. که چېرې وپوښتو چې ولې د نورو هېوادونو، د خپلواکۍ د غورځنګونو څېړل اړین دي؟ ښایي تر ټولو غوره ځواب به دا وي چې تاریخ د دلې شوو تجربو د څېړنې علم دی. مونږ ډېرې وخت اورو چې وایي: «تاریخ تکرارېږي». آیا دا حتمي ده؟ نه هېڅکله هم نه. د تاریخي پېښو د لاملونو او اغېزو په اړه پوهاوی د وینو د سپما په مانا ده. که چېرې مونږ د نورو بریالیتوبونه او ناکامۍ په کره توګه وڅېړو، پند ترې واخلو کېدای شي چې هغه تېروتنې بیا ځلې و نکړو. همدا شان د نورو هېوادونو د آزادۍ د غورځنګونو څېړنې، مونږ ته دا راښیي چې کوم فکتورونه یو ولس د خپلواکۍ د لاسته راوړلو لپاره هڅوي او کوم فکتورونه یې روحیه ځپي.

په دا تېرو اوولسو کلونو کې چې زمونږ هېواد اشغال دی. کابو د هر افغان لپاره هېوادنۍ مسئلې ډېرې مهمې شوې دي او خامخا له روغېږ نه وروسته، د چای او یا اوبو له رارسېدو نه دمخه همدا خبرې اترې پیل کېږي. د خبرو پایلې تل د روان اشغال پای او د هېواد د استقلال او خپلواکۍ بېرته لاسته راوړل، یوازینۍ چاره راوځي. خو اوس کله کله داسې هم پېښېږي چې یو نیم څوک پیدا شي، او داسې استدلال کوي چې زمونږ خلک ناپوه او وروسته پاتې دي. د استقلال د ګټلو په پلمه جګړه کول ناسم کار دی. استقلال او خپلواکي کېدای شي د عدم تشدد له لارې ترلاسه شي او هندوستان د یوې بېلګې په توګه وړاندې کوي.

دلته مو وپتېیله چې دغې مسئلې ته یوه ځغلنده کتنه وکړو. راځئ چې په ګډه دغې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو چې آیا د هند استقلال د عدم تشدد مبارزې پایله وه؟

تر هر څه نه ړومبی، باید دا په یاد ولرو چې د هندوستان د آزادۍ غورځنګ، آن د شلمې پېړۍ تر دوهمې لسیزې پورې له امتیاز لرونکي قشر (روشنفکر) سره هېڅ نه وو تړل شوی او ریښې یې یوازې د ټولنې له تل څخه خړوبه کېدې. د انګلیسي نیواک پر ضد د هندوستانیانو وسله وال مقاومت آن د هند تر خپلواکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو پورې هېڅکله هم په ټپه ندی درېدلی.

له دې چې دغه مقاومتونه سیمه ییز، قومي او قبایلي پاتې شول، نو ځکه ډېر ونه پېژندل شول، لکه: د اتلسمې پېړۍ په نیمایي کې د شمالي بنګال د «سنیاسي» او د بیهار د «چونار» پاڅونونه. همدا شان په نولسمه پېړۍ کې د بزګرانو پاڅونونه. د پښتنو او بلوڅانو وسله وال مقاومت خو مونږ ته ښه څرګند دی. هو! دا ښځي سمه ده چې دغه پاڅونونه دومره ځواکمن نه وو چې د انګلیس واکمنۍ ته ګواښ پېښ کړي.

لکه څرنګه چې پوهېږو د شرقي هند انګلیسي کمپنۍ له ډېر پخوا نه له هندوستان سره سوداګري کوله. کمپنۍ په ۱۷۵۷ کې د پلاسي جګړې په پایله کې بنګال لاندې کړ او له دې وروسته یې په تدریجي توګه ټوله هندوستانۍ خاوره تر خپلې ولکې لاندې راوستله.

د پلاسي له جګړې نه پوره سل کاله وروسته، په ۱۸۵۷ کې د انګلیس پر ضد د هندوستانیانو لومړی ملي پاڅون وشو. هندي تاریخ لیکونکي دغه پاڅون د خپلې خپلواکۍ د ګټلو لپاره لومړۍ جګړه بولي، خو انګلیسان یې بیا د هندي سپاهیانو بلوا بولي.

د ۱۸۵۷ کال پاڅون هسې ناڅاپي پېښه نه وه. دغه پاڅون خپل سیاسي، اقتصادي، ټولنیز – مذهبي او نظامي عوامل لرل. دلته د بحث د لنډېدو لپاره د پورته یادو عواملو، له راسپړلو څخه په رټه تېرېږو. دا سمه ده چې دغه پاڅون سپاهیانو پیل کړ، خو د پاڅون کوونکو په لیکو کې د نظامیانو په پرتله د عادي ولسي وګړو شمېر څو ځلې ډېر و.

په دغه پاڅون کې هندوان او مسلمانان یو شان د انګلس پر ضد ودرېدل، او د خپلواکۍ د لاسته راوړو لپاره یې په یوه سنګر کې خپلې وینې تویې کړې. د پنجاب له سکانو او د جنوبي هند له ځینو هندوانو نه پرته د هندوستان ټولې واکمنې کورنۍ، یو مخ د پاڅون تر شا ودرېدلې. هندو سپاهیانو تر مسلمانانو دمخه وروستی مغلي امپراتور، بهادر شاه د انګلیس له نظر بندۍ نه راخلاص او بیعت یې ور ته وکړ. په بله وینا د هندوستان د آزادۍ لومړی ملي پاڅون د ټولنې تر ټولو نېستمنې طبقې وکړ. دغه ملي پاڅون هغه مهال وشو چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ ته آشنا گاندي، نهرو، سوباش چندر بوس او دا لسگونه یا سلگونه نور اتلان لا زیږېدلي هم نه وو.

د ۱۸۵۷ز کال پاڅون دومره ځواکمن و چې د برتانوي امپراتورۍ بنسټونه یې ولړزول. د هندوستانیانو بد مرغي په دې کې وه چې د پنجاب سکان او د هند د جنوبي سیمو سپاهیان او واکمن انگلیس ته وفاداره پاتې شول. دغه کار هم د « بېل یې کړه، اېل یې کړه» سیاست په مټ وشو. انگلیس خپلو گوډاگیانو ته وویل چې که پاڅون بریالی شي، مغلي دربار به بیا واگې په لاس کې واخلي، ستاسو گټه به څه وي.

له دغه کاره انگلیس څه گټه وکړه؟ ښکاره خبره ده چې تر هر څه ړومبی یې د پاڅون کوونکو ځواک لږ کړ؛ هندوستانی یې له هندوستاني سره په جنگ واچاوه؛ د پاڅون جغرافیه یې محدوده کړه او وروستۍ خبره دا چې ملي پاڅون یې هسې د یو شمېر سپاهیانو د بغاوت تر کچې راټیټ کړ.

انگلیس دغه پاڅون په پوره بې رحمۍ سره وځاپه. انگلیس نه یوازې هغه کسان ووژل چې په پاڅون کې یې گډون کړی وو، بلکې سلگونه زره داسې وگړي یې هم ووژل چې له هېڅ نه خبر نه وو. په بله وینا د انگلیس له گوډاگیانو پرته هر هندوستانی وگړی، له ماشوم نه نیولې تر ښځو او بوډاگانو پورې، په مرگ محکوم ول. د هندي وگړو د تلفاتو په اړه بېلا بېلې شمېرې ورکړل شوې دي. یوه شمېره ښیي چې انگلیس ۱٫۲ ملیونه هندوستانیان له تېغه تېر کړل. د زرگونو کلیو تر څنگ ډهلی، کانپور، لکنهو او جهانسي د عامو وژنو په ډگرونو او کنډوالو بدل شول.

انگلیس وتوانېده چې د څه باندې یوه کال په موده کې، پاڅون په بشپړه توگه وځپي خو د اوریسا ایالات په ځینو سیمو کې پاڅون آن تر ۱۸۶۲ز کاله پورې دوام درلود. د دغې پېښې په اړه یو په زړه پورې واقعیت دا دی چې انگلیس یو تن هم بندي و نه نیوه او آن یوه تن ته هم محکمې سزا ورنکړه. هر څوک چې د انگلیس له چوپړیانو څخه نه و، بې پوښتنې په مرگ محکوم و. د قربانیانو له ډلې نه یو تن، د مغلي ټولواکمنې کورنۍ وروستی واکمن، بهادر شاه و. دغه تش په نوم پاچا پخپله د انگلیس گوډاگی و، ډېر کلونه یې هر څه د خپل بادار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امر تر سره کول. بهادر شاه په پاڅون کې هېڅ رول نه درلود. انګلیس د دې لپاره چې خپل زور وښيي او د مغلي ټولواکمنې کورنۍ، ټغر ټول کړي، د بهادر شاه دوه زامن او يو لمسی يې ووژل، دی (بهادر شاه) يې له کورنۍ سره د برما د رنګون ښار ته تبعید کړ.

د پاڅون له ځپلو وروسته، د انګلیس حکومت پرېکړه وکړه چې هند مخامخ په لندن پورې وتړي. په دې توګه پر هند باندې د شرقي هند برتانوي کمپنۍ، واکمني پای ته رسېږي او د برتانوي هند واکمني پیل کېږي. دا چې دغه بدلون د سیمې او افغانستان لپاره څه پایلې لرلې، له دې چې زمونږ د بحث موضوع نده، نو په رټه ورڅخه تېرېږو.

د دې لپاره چې خبرې لنډې او د مهمو پېښو روښانه انځور ولرو، نو اړینه وبلل شوه چې د ګاندي د عدم تشدد مبارزه او د هندوستانیانو وسله واله مبارزه په جلا جلا توګه راوسپړو. په پای کې به پایلې راوباسو.

الف – د ګاندي د عدم تشدد مبارزه:

له دې چې د عدم تشدد مبارزه یو سیاسي لید و نو باید یوه سیاسي ګوند یې د عملي کېدو لپاره مبارزه کړې وه. دلته د هند د کانګرس ګوند مطرح کېږي. د دغه ګوند په اړه څو مهمې خبرې:

د هند کانګرس ګوند په ۱۸۸۵ز کال کې د ایلن اکتاوین هیوم په نوښت او لارښوونه تأسیس شو. ایلن اکتاوین هیوم په ختټه انګلیس او آن د برتانوي شرقي هند کمپنۍ د واکمنۍ راهیسې په هندوستان کې سرکاري مامور و. دغه مامور د «هندي سپاهیانو پاڅون» او د دغه پاڅون د ځپلو په بهیر کې وینې بهېدنې، په خپلو سترګو لیدلې وې.

که چېرې د کانګرس ګوند، د برتانوي هند د حکومت له ملاتړ څخه برخمن نه وای، تأسیس او شتوالی يې ناشونی کار و. له دې چې په برتانوي هند کې بل ګوند موجود نه و او هم د بل ګوند جوړولو ته اجازه نه وه، نو ځکه د بېلابېلو نظرونو لرونکي کسان په دغه ګوند کې راغونډ شوي ول. په لومړیو کابو دېرشو کلونو کې، د دغه ګوند غړي یو مخ انګلیس پلوه وو.

د کانګرس ګوند د یوه پام وړ سیاسي ځواک په توګه، لمړی ځل هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولیدل شو، کله چې انګلیس په 1905 کې، بنګال په ختیځ او لوېدیځ بنګال باندې ووېشه. د کانګرس ګوند د لمړي ځل لپاره په ۱۹۲۹ز کال کې په زغرده اعلان وکړ چې، وروستۍ موخه یې د هندوستان د استقلال ګټل جوړوي.**

**ګاندي له ۱۸۹۳ز کال څخه تر ۱۹۱۴ز کال پورې په جنوبي افریقا کې د یوه حقوقپوه (وکیل) او سیاسي فعال په توګه بوخت و. ګاندي د جنوبي افریقا د «بویر» په جګړه کې له انګلیسي اشغالګرو څخه نه یوازې پخپله ملاتړ وکړ، بلکې په جنوبي افریقا کې مېشت هندوستانیان یې هم دې ته چمتو کړل، ترڅو له انګلیس څخه په کلکه ملاتړ وکړي. ګاندي د ۱۹۱۵ز کال د جنورۍ په میاشت کې، د تل لپاره بېرته هندوستان ته ستون شو.**

**لکه څرنګه چې پوهېږو په دغه وخت کې لومړۍ نړیواله جګړه روانه وه. دلته په هندوستان کې ګاندي یو ځل بیا د انګلیس چوپړ ته ور ودانګل او خپل هېوادوال یې وهڅول ترڅو د برتانوي هند د پوځ په لیکو کې تنظیم شي. د لومړۍ نړیوالې جګړې په کلونو کې یو نیم ملیون هندي وګړي، په داوطلبانه توګه د جګړې په بېلابېلو محاذونو کې د انګلیس لپاره وجنګېدل.**

**کله چې ګاندي د کانګرس ګوند غړی شو، د ګوند په دننه کې د بېلابېلو ډلو ترمنځ سختې تربګنۍ روانې وې. ځینو وسله والې مبارزې ته لېواله وو، خو ځینې نورو یې بیا مخالفت کاوه. کله چې ګاندي د خپلې عدم تشدد مبارزې (ساتیاګرا) په مټ د بیهار او ګجرات د بزګرانو ستونزې حل کړې او حکومت یې اړ کړ چې د بزګرانو غوښتنې ومني، نو د خلکو له خوا د مهاتما لقب ورکړل شو. مهاتما ګاندي په ۱۹۲۱ز کال کې د کانګرس ګوند د مشر په توګه انتخاب شو. د دې لپاره چې ګوند ولس ته نږدې او د غوره شوو (نخبګانو) له انحصار څخه یې خلاص کړي، هغه په ګوند کې ډېرې بنسټیزې سمونې رامنځ ته کړې. د ګوند حق العضویت یې راټیټ او په کلیوالي سیمو کې یې څانګې پرانیستلې. د دغه کار پایله دا شوه چې د ګوند د غړو شمېر څو ځله ډېر شو او نوې څېرې راڅرګندې شوې، چې کابو ډېری یې د ګاندي د فکري مکتب پلویان وو. په دغه وخت کې مهاتما ګاندي، خپله د «ساتیاګرا» (عدم تشدد) نظریه ولس ته وړاندې کړه او ملاتړ یې ترلاسه کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتیاګرا د سانسکرت له دوو کلمو «حقیقت» او «ځواک» څخه جوړه شوې ده او مانا یې داسې ده: پر حقیقت باندې ټینګ باور لرل. ساتیګرا – یوه فلسفه او د ژوند یوه ښه بلل کېږي. له تاوتریخوالي پرته مقاومت د دغې فلسفې اصلي تومنه جوړوي. په بله وینا ساتیاګرا داسې یو څه ته وایي، چې نن ورځ یې «مدني مقاومت» بولي.

د مهاتما ګاندي د عدم تشدد مبارزې کارندې وسلې لاندې غورځنګونه وو:

الف – د همکارۍ نه کولو غورځنګ (پیل ۱۹۲۰ – ۱۹۲۲)ز کلونه

ب – د مدني نافرمانۍ غورځنګ (پیل ۱۹۳۰ز کال)

ج – د هندوستان د پرېښون (په تنظیم شوې توګه له هندوستان څخه د انګلیس د وتلو) غورځنګ. ( پیل ۱۹۴۲ز) کال.

د یادولو وړ ده، سره له دې چې مهاتما ګاندي په ۱۹۳۴ز کال کې له سیاست او د کانګرس ګوند له غړیتوب څخه په دې پلمه استعفا وکړه، ترڅو د کلیوالي سیمو چارو ته وخت پیدا کړي خو بیا هم دی (ګاندي) د ګوند او خلکو معنوي مشر پاتې شو. ښایي دا به د هر چا لپاره حیرانوونکې واوسې، چې د هند د استقلال او خپلواکۍ له ګټلو نه وروسته، د ګاندي زړه غوښتل ترڅو د کانګرس ګوند منحل کړي. (دغه موضوع د مهاتما ګاندي د کلیاتو په ۹۰ یم ټوک کې یاده شوې ده).

د دوهمې نړیوالې جګړې پیل د هند د آزادۍ غورځنګ مشران او د کانګرس ګوند غړي له یوه نوي چلنج سره مخامخ کړل. دا پرېکړه ګرانه وه چې له کوم لوري څخه ملاتړ وکړي. مهاتما ګاندي داسې انګېرله چې جګړه د امپریالیزم او فاشیزم ترمېنځ ده، نو ځکه دا یوازې د اروپا ستونزه ده.

د هندوستاني مشرانو ترمېنځ او د کانګرس ګوند په لیکو کې یووالی په بشپړه توګه له منځه لاړ. په دغه وخت کې د انګلیس حکومت اعلان وکړ او ژمنه یې وکړه، چې که چېرې هندوستانیان له انګلیس څخه ملاتړ وکړي، د جګړې په پای ته رسېدو سره به هندوستان ته آزادي ورکړي. هماغه وو چې د کانګرس ګوند له انګلیس څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. په بله وینا هندوستانیان د انګلیس د پایښت او ګټو لپاره دوهمې نړیوالې جګړې ته ننوتل او بې حسابه ځاني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادي زیانونه یې وزغمل. دغو شمېرو ته ځیر شئ. د دوهمې نړیوالې جګړې په پیل کې د برتانوي هند د اردو شمېر دوه سوه زره تنه وو، خو د جګړې په پای کې یې شمېر دوه نیم (۲،۵) ملیونه وو. تاریخ داسې څه، هېڅکله هم ندي لیدلي.

د ګاندي د عدم تشدد مبارزې په اوږدو کې د «همکارۍ نه کولو غورځنګ» دوې ښې بېلګې د بیهار او ګجرات د بزګرانو سره مرسته وه چې حکومت لرې اسانتیاوې رامېنځته کړي او د دغو دوو سیمو پر بزګرانو باندې د حکومت او سوداګرو له خوا فشار یو څه لږ شو. آیا داسې انګېرنه چې د ګاندي طلسم، استعمارګر دې ته اړ ایستل چې له هندوستان څخه ووځي او خپل اشغال پای ته ورسوي سمه ده؟ نه، هېڅکله هم نه.

د مهاتما ګاندي د «مدني مقاومت» تر ټولو نوموتې او ځلانده بېلګه د ۱۹۳۰ز کال د «مالګې لاریون» دی. د دغه لاریون موخه دا وه چې پر مالګې باندې د انګلیس انحصار مات کړي. انګلیس خلک اړ ایستل تر څو مالګه له دولت څخه راونیسي. ښکاره خبره ده چې هندوستانیانو تر انګلیسانو دمخه مالګه پېژندله او له پېړیو راهیسې یې د مالګې د تولید ښه غوړېدلی سیستم او پراخې سرچینې لرلې. کله چې انګلیسانو هند لاندې کړ، د مالګې په ګډون ډېر توکي یې تر خپل انحصار لاندې راوستل او کاروبارونه یې په بشپړه توګه د انګلیسي سوداګرو په لاس کې وو.

مالګه به له بهر څخه راوړل کېده او که به په هندوستان کې هم تولیدېدله، د کارخانو خاوندان یې یو مخ انګلیسان وو. حکومت د مالګې د مالیې له درکه ډېرې پیسې اخیستې. دلته دې مسئلې ته پام کول اړین دي چې د مالګې قضیه ډېره پخوانۍ وه، آن په نولسمه پېړۍ کې را ټوکېدلې وه.

د ګاندي په مشرۍ د مالګې لاریون د ۱۹۳۰ز کال د مارچ د میاشتې پر دولسمه نېټه، په دې موخه پیل شو چې د سمندر له اوبو نه په غیر قانوني توګه مالګه لاس ته راوړي. دغه لاریون د احمد آباد له ښار څخه پیل شو او موخه، د عرب سمندر پر غاړې پرتې «داندي» نومې سیمې ته رسېدل وو. «داندي» له احمد آباد څخه ۳۹۰ کیلو متره لېرې وه. ګاندي دغه پلی یون له خپلو ۷۸ ملګرو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيل کړ، خو کله چې خپل منزل ته رسېده په زرگونه خلک ورسره يو ځای شوي وو.

مهاتما گاندي او پلويانو يې د اپريل د مياشتې پر شپږمه نېټه، په «ډاندي» کې د سمندر له اوبو څخه مالگه لاسته راوړه. په دې توگه په هند کې د برتانوي راج، د ۱۸۸۲ کال د مالگې قانون مات شو. له دې نه وروسته دغه لاريون د همدغه سمندر پر غاړه د جنوب په لور وخوځېده. گاندي به په کليو او بانډو کې خلکو ته ويناوې کولې او هر ځای به يې د سمندر له اوبو نه مالگه تر لاسه کوله.

د همدغه کال د مئی د مياشتې پر پنځمه نېټه، د برتانوي هند حکومتي چارواکو، مهاتما کاندي جېل ته واچاوه او د لاريون گډون کوونکي يې په ډېر بېرحمۍ سره وځپل. د مالگې د لاريون په تور (۶۰) زره تنه بنديان شول.

پوښتنه دا ده چې آيا د مالگې لاريون له انگليس څخه د امتياز په نوم کوم څه ترلاسه کړل؟ ځواب يو ځل بيا منفي دی. انگليس د لاريون کوونکو حتی يوه غوښتنه هم و نه منله. د لاريون کوونکو گټه دا وه چې ۶۰ زره کسان يې بنديان او د زرگونو نورو سرونه، لاسونه او د بدن نور هډوکي مات شول.

همدا شان د مهاتما گاندي د ۱۹۴۲ز کال د اگست د مياشتې د اتمې نېټې «د هندوستان د پرېښون غورځنگ» هم يوه بشپړه ماته وه. دغه غورځنگ د بمبي په ښار کې، د مهاتما گاندي له يوې وينا سره په خوځښت راغی. سره له دې چې د جگړې وخت و، خو د برتانوي هند حکومت بشپړه تياري لرله. حکومت د اگست پر نهمه مهاتما گاندي، نهرو، کلام آزاد او د کانگرس گوند ټول مخور مشران ونيول.

د گاندي له وينا څخه وروسته درې ځلور ورځې سوله ييزې مظاهرې او لاريونونه روان وو. وروسته تاوتريخوالی رامنځ ته شو، ډېرې دولتي ودانۍ، د پوليسو تانې، د اورگاډو تم ځايونو ته اور واچول شو.

حکومت د غورځنگ په ځپلو کې برلاسی شو او لسگونه زره خلک يې بنديان کړل. د غورځنگ په ځپلو کې د هندوستان ډېرې سياسي ډلې لکه: مسلم ليگ، «هندو ماهاسبا» او کمونيستان؛ سوداگريز قشر، ټولې واکمنې کورنۍ (نوابان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجاګان او نور) د انګلیس کلک ملاتړي او باوري ملګري وو. ګاندي د ۱۹۴۴ز کال د مئې په میاشت کې له جېل څخه راخلاص شو.

لکه څرنګه چې ولیدل شول، د مهاتما ګاندي د عدم تشدد مبارزې، هیڅکله هم انګلیس ندی اړ ایستلی چې خپل ښکېلاک پای ته ورسوي او د هندوستان خپلواکي او استقلال ومني. دا خبره ناسمه ده چې د هند استقلال د عدم تشدد مبارزې پایله وه. ولې؟

لومړی لامل یې دا دی چې د هندوستان د آزادۍ یا خپلواکۍ په غورځنګ کې بېلا بېلې ډلې ښکېل وې. هره ډله د پېښو خپل انځور لري. د بېلګې په توګه د هند، بنګله دېش، سریلانکا او د پاکستان تاریخ پوهان د پېښو په اړه یو شان نظر نلري. د انګلیس تاریخ لیکوونکي بیا مستعمرو ته د ځواک د لېږد خبره کوي.

دویم لامل یې دا دی چې په شلمه پېړۍ کې، د انګلیس پر ضد د هندوستانیانو وسله واله مبارزه هېڅکله هم نده دریدلې. برعکس پراخه شوې ده، آن تر دې چې سبهاش چندر بوس په جلا وطنۍ کې موقت حکومت جوړ کړ. د برتانوي هند د واکمنۍ په لړزولو کې د ګاندي د عدم تشدد مبارزې په پرتله، سبهاش چندر بوس زښت ډېر بریالی و. وروستی لامل یې دا چې د هند په آزادولو کې بهرنیو (نړیوالو) فکتورونو هم پرېکنده رول درلود.

دې ته هم باید ځیر شو چې له جګړې سره مخالفت یا د زور زیاتي له کارونې سره د مخالفت فلسفه، هسې ساده هم نده لکه چې په ظاهره ښکاري. جګړه کېدای شي بېلا بېلې بڼې ولري لکه: تعرضي، دفاعي، کورنۍ، د اشغال ضد او.... ټولې جګړې په یوه تېره تلل د حل لار او عملي نده. د دې خبرې جاذبه د لیدو وړ ده لکه چې وایي: «که چا پر مخ یوه څپېړه ووهلې، د خپل مخ بله خوا هم ور واړه...»، خو که داسې وشول چې پر دواړو مخونو یې هم ووهلې، سر او لاسونه یې هم در مات کړل، د دواړو کوناټیو په منځ کې یې هم لغته در کړه، جیبونه یې هم در وشکول او زندان کې یې هم واچولې، بیا څه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هند او پاکستان

## د هندوستان د خپلواکۍ ۷۰ کالیزه د پاکستان رامېنځ ته کېدل:

**داکونومیست دمجلی راپور د خپرونې ځای لندن:**

**پدی رپوټ کې لاندې مهمې مسئلې ځای شوي دي.**

**یوه لنډه سریزه:**

**د هند او پاکستان د وسلوالو ځواکونو پرتله.**

**د هند او پاکستان د دښمنۍ لاملونه، د هند او پاکستان اقتصادي او ټولنیز حالت.**

**ددویمې نړېوالې جګړې په پای کې د برتانیا امپراتوري په هند کې ددوو ستونزو سره مخامخ شول، په هند کې مختلفو کړیو ژوند کاوه چې نیم هند ددوی تر کنټرول لاندی وو او پاتې نور د برتانیا دښکیلاکگر ځواک تر لاس لاندې وو.**

**د مهاتما ګاندي کانگرس ګوند د هند د خپلواکۍ لپاره مبارزه کوله، پداسې حال کې چې د محمد علي جناح په مشرۍ د مسلیم ګوند د یوه خپلواک مسلمان هېواد چې د هېواد ۳۰ سلنه جوړوله، غوښتونکی وو.**

**په پایله کې د هندوستان تر خپلواکۍ وروسته د هند او پاکستان په نوم هېوادونه جوړ شول. د هند او پاکستان ترمېنځ د ۲۰۰۰ کیلومتره پوله وټاکل شوه. د اګسټ میاشت ۱۹۴۷ز کال د جلا هېوادونو په نوم یاد شول، د دواړو هېوادونو پولې، د وګړو شمېر، د دارایي ویشل، او نظامي وسلې سره مشخصې شولې.**

**خو د دواړو هېوادو د وګړو د تبادلې په وخت کې ستونزې راوټوکیدې، په پایله کې یو میلون وګړي ووژل شو او ۱۵ میلونه بی کوره شول، ددې جنګ په پایله کې د هند او پاکستان ترمېنځ د کشمیر لانجمنه ستونزه په یوه دایمي لانجه بدله شوه، د کشمیر په لانجمنه مسئله هند او پاکستان په 1945ز کال او 1971ز کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې کړې، په دویمه جګړه کې (1971ز کال) پاکستان ماته وخوړه د بنګلدیش هېواد خپله ازادي له پاکستان څخه واخېستله، پدې جنګ کې د پاکستان پوځ وحشيګري او ظلمونه سرته ورسول چې د تلفاتو شمېر 2. 5 میلونه وګړي وو.

د پاکستان پوځ په 1999ز کال د کارګیل په ځینو برخو یرغل وکړ خو د هند پوځ دا سیمې بیرته ونیولې ډزبند وشولو، خو د پاکستان پوځ د لاسوهنو له امله همدا اوس هم په هند کې د تروریستانو ډلې وران کاري کوي.

په هند کې د پاکستان داستخباراتي دستګاه یانې اې ایس اې لاسوهنې د هند اوسنی واکمن نارانمودي کوښښ کوي چې پاکستان د انزوا حالت ته بوځي، د هند د وګړو شمېر د پاکستان په پرتله ٦ برابره زیات دی په 2014ز کال په هند کې د بهاراتاجنتا ګوند واک ترلاسه کړو، مودي وعده وکړه چې هند به سولیزه پالیسي مخته وړي، خو د پاکستان د لاس وهنو او وران کاریو په وړاندې د وسلې کارولو ته اړ شو، د یادولو وړ خبره دا ده چې هند او پاکستان دواړه د اټومي وسلې لرونکي دي، یو بل ورانولی شي، هند د کروز توغندي د برهما 3 په نوم دي چې په نړۍ کې زیات شهرت لري. دا راکېټونه د 300 کیلو ګرامه تخربي موادو د وړلو توان لري. چې کولای شي د پاکستان هره برخه تر برید لاندې راولي. دا وسله په 12 دقیقو کې اسلام اباد او په یوه دقیقه کې لاهور وولي.

د 2016 زکال د هند او پاکستان نظامي ځواک پرتله شوې.

| فعال جنګي پرسونل | |
|---|---|
| پاکستان | هندوستان |
| 0.7 میلونه | 1.4 میلونه |
| ریزرف ځواک | |
| na | 1.2 میلونه |
| ملیشه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| 0.3 میلونه | 1.4 میلونه |
| **هستوي کوپړې** | |
| 130-110 | 120-100 |
| **نظامي بودجه** | |
| 7.7 میلیاد ډالر | 51.1 میلیارده ډالر |

**د ستونزو او لانجو تاریخ:**

هند او پاکستان مشابه ژبه، مشابه قوانین، موسسی له هند څخه په میراث یوړل، مشابه ژبه لکه انګلیسي، پنجابي، اوردو خبرې کولې. جناح په دې باور وو چې پاکستان یو سیکولر مسلمان اسلامي نظام ولري، دی خپله هم سني مذهبه وو، د جناح کورنۍ اسماعیلیه وه، یو کشونی اقلیت شیعه مذهب هم وو، دده دویمه میرمن زردشتي وه. هند او پاکستان په 1960ز کال د اندوس رود د اوبو دوي په هکله یوه لوزنامه لاسلیک کړه، چې دې لوزنامې پاکستان ته زیات اهمیت درلوده. د پاکستان د کرکټ لوبډلې په 1956ز کال او 1961ز کال هند ته سفر درلوده، تر 1965ز کاله پورې د دواړو هېوادونو خلکو له ویزې پرته یو بل هېواد ته سفر کاوه، په 1946ز کال برتانیا پر هند واکمنه شوه، د هند شمال ته یوه لویه برخه 7.5 میلونه روپیو د واګرا پر کورنۍ وپلورله، دا سیمه جمو کشمیر د (پرنسلي ستیت) یاد شهزادګانو د اوسېدو ځای وو، دا ساحه ډېره ښېرازه او ښکلې وه زیاتره اوسیدونکي مسلمانان وو.

یوه پېړۍ وروسته کله چې هند پر پاکستان او هند وویشل شو، دواړو هېوادونو ددې سیمې د ملکیت دعوا کوي، خو مهاراجا ددې سیمې واکمن ددې ځای د خپلواک ساتلو په فکر کې وو. پاکستان یو شمېر داوطلب مسلمانان د ملیشو تر نامه لاندې دې سیمې ته واستول او په دې باور درلوده چې د کشمیر مسلمانان به ددوی پلوي وکړي، په پایله کې د جمو خلک د پاکستان سره شول ځکه دوی ټول مسلمانان دي، خو د کشمیر دره ارامه پاتې شوه او هېڅ خوځښت یې ونکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم جنګ چې وشولو د کشمير او جمو لويه برخه هند وساتله.

د ملګرو ملتونو لخوا وړانديز وشو چې دواړه هېوادونه بايد خپل پوځونه شاته کړي او د خلکو ټول پوښتنه وشي چې کله پاکستان خپل ځواکونه ونه ويستل هند هم د ټول پوښتنې نه په شا شولو. دا ستونزه تراوسه د دواړو ملکونو ترمېنځ ناحله پاتې ده، پر دغه جنګو کې 44000 تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ او 150 زره هندوان له خپلو کورونو کډه شول، پاکستان تر دې دمه ترهګرې ډلې هند او د کشمير سيمې ته د وران کارۍ لپاره استوي، هند هم خپل پوځيان وساتل زياتره کشميران د کشمير لپاره خپلواک هيواد غواړي. هند جلا کېدو پر وخت د هند په تناسب 5.1 وو اوس 200 مليونه وګړي لري، هند يو ميليارد او دو سوه ميلونه وګړي لري چې د هر ۷ تنو څخه يې يو مسلمان دی. د هند د مسلمانانو شمېر د پاکستان دوګړو د شمېر سره سم دی. پاکستان د جلاکېدو پر وخت 30 فيصده پوځ، 40 فيصده بحري ځواک، 20 فيصده هوايي ځواک د هند څخه په ميراث يوړلو، اوس پاکستان په مرمز ډول ځواک لري. د پاکستان د پوځ په پياوړتيا کې امريکا زياته مرسته کړې، زياتې وسلې ورته ورکړي دي. د پاکستان جنرالانو په 1958ز کال ملکي حکومت را سرنګون کړ. د پاکستان جنرالانو 1965ز کال کې يو ځل بيا ترهګريزې ډلې جمو کشمير ته واستولې خو د هند پوځ دوی شاتګ ته اړ ويستل او ډزبند وشو. پاکستان څه ترلاسه نه کړل او د هند پوځ پر ځواکمنۍ وپوهېدل.

5 کاله وروسته په ختيځ پاکستان کې ناامني او ګډ وډي راپورته شوه يوه کوشنې ګورلايي ډله چې هند يې ملاتړ کولو په فعاليت پيل وکړ، پاکستان جنرالانو ددې کوشنې ډلې د محوه کولو په هکله په عملياتو لاس پورې کړ، ولی دا عمليات خورا ظالمانه او وحشيانه وو، خلکو هم ددې ګورلايي ډلو حمايت وکړ، هند په رسمي توګه 1971ز کال پر دغه مسئله کې ځان ور ګډ کړ، په 13 ورځو کې ختيځ پاکستان له پاکستانه جلا شو او د بنګلديش په نوم هېواد جوړ شو. ده پاکستاني پوځ او چارواکو لپاره دا يوه تاريخي ماته وه. د يو کم وخت لپاره بيا پاکستان کې ملکي حکومت ته واک ولېږدول شو. خو په 1977ز کال د جنرال ضياء لخوا کودتاه وشوه او واکمن شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په 1979ز کال کله چې شوروي اتحاد سرې لښکرې افغانستان ته راغلې، پاکستان د امریکا، سعودي او نورو هېوادونو په اډانه بدل شو، جنرال ضیاء په 1988ز کال په یوه هوایي پېښه کې مړ شو، دا وخت د شوروي لښکرې له افغانستان څخه وتلې وې. د ضیاء له مړینې وروسته په ښکاره واک یوې ملکي ادارې ته وسپارل شو، خو په عمل کې واک د پوځ او اې ایس اې په لاس کې وو. د جهاد تر نامه لاندې پاکستان د امریکا او سعودي په مرستو خپل پوځ ځواکمن کړ. په هر صورت پاکستان له هند سره نشي پرتله کېدلی، هند په ټولو برخو کې زیات پرمختګ کړی، هند د چین سره یو ډول مخته روان دی. هند تر خپلواکۍ وروسته د خلکو اوسط عمر 32 کاله وو، اوس 68 کاله دی. ناخالص کلنی عاید یې 7.4 ترلیون پونډو ته رسیدلی چې د امریکا او چین څخه وروسته یې دریم ځای خپل کړی. 250 میلونه وګړي د ورځې 4 ډالره عاید لري. د خوارانو او پولدارانو ترمېنځ توپیر زیات دی، د وګړو شمېر یې په چټکې سره زیاتېږي.

هند د کال 117 میلیارده ډالرو تولیدات بهر ته صادروي، په پضایي صنعت کې 104 سټلایټ جوړ کړي، په مدار کې د مختلفو هدفو لپاره ځای پر ځای کړي، د هند مسلمانانو شمېر د هند د وګړو په تناسب 14 فیصده جوړوي.

پاکستان د هند په پرتله ډېر کم پولدار او میلیاردران لري، 65 ملیونه د کار ځواک لري، یوازې 10 ملیونه ملکي کارمندان لري. په پاکستان کې مرفع ارام ژوند یوازی نظامي مشران او واکمنان لري، د پاکستان د نظامي ځواک کلنی لګښت 8 میلیارده ډالر دی، د پاکستان پوځ ته د نورو ادارو په تناسب زیات واکونه او امتیازونه ورکړل شوي، د پاکستان پوځ اواستخبارات یې دا اختیار لري چې د هېواد څخه بهر ترهګر وروزي، وسلوالې ورکړي او پټې مرستې ورسره وکړي، له پوځي چارواکو څخه څوک ددې کار پوښتنه نشي کولای.

د بلوچستان ایالت چې د پاکستان د خاورې 43 فیصده جوړوي، بلوڅ د ازادۍ ښوونکو سره ظالمانه کړنې د پوځ او اې ایس اې لخوا سرته رسېږي په 2019ز کال کې 728 تنه ترې تم شوي، 18000 تنه نیول شوي، د ځینو مړي پر سرکونو موندل شوي دي. د بلوچستان په ایالت کې 90 فیصده خلک په بیوزلۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کوي، په لاهور کې دا فیصدي 10 ده، اداري فساد په پاکستان کې لوړې کچه پورې شتون لري، ښه بېلګه د نواز شریف د پاناما په نوم غلا شوې پیسې وې چې د محکمې لخوا له دندې ګوښه شو.

د هند سره د چین هېواد تر 60 میلیاردو ډالرو زیاته پانګونه کړې، چې دا پانګه پر ترانزیتي لارو، هوایي ډګرونو، برېښنا او ګازو او نورو برخو کې لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسئله پشتونستان

## زخم ناسور خط دیورند:

شکی نیست که سرزمین های آنسوی خط «دیورند» یعنی بلوچستان وایالت سرحد شمال غربی (پشتونستان) تا قبل از نخستین تجاوز انگلیس بر افغانستان در ۱۸۳۹ بخشی از سر زمین وقلمرو حاکمیت افغانستان بودند و مردمان آن مشترکات زیادی با ما از لحاظ زبان و تاریخ و فرهنگ دارند، اما استعمار انگلیس آنرا در مقاطع مختلف زمانی از پیکر کشور جدا ساخت و جزو مستعمرات نیم قاره هند نمود و با امضای اسنادی به عنوان قرارداد های رسمی بین دولت هند برتانوی و افغانستان به این جدائیها مهر تائید زد، (۱۸۹۳م) از آن بعد خط دیورند، سرحد کشور ما را در طول بیش از ۱۲۵۰ کیلومتر با قلمرو استعماری بریتانیا درجنوب مشخص میکرد.

ضربه اولی، تشویق کردن ایران به اعمال نفوذ در سیستان و تقسیم آن ناحیه با آب هیرمند بین دو کشور با حاکمیت انگلیس در ۱۸۷۲ بود، که تا ۱۹۷۲، برای یکصد سال مایه نزاع میان ایران و افغانستان واقع شد و این دو کشور همسایه و هم‌نژاد و همزبان و همکیش را از هم جدا ساخت و مانع رشد همکاری‌های اقتصادی و فرهنگی میان آنان گردید. سرانجام در ۱۹۷۲ با گذشتن قرار داد تقسیم آب رودخانه هلمند از پارلمان و صحه‌گذاری شاه افغانستان و بعدا تائید پریزدنت داود، این زخم ناسور گویا التیام یافته باشد؟ و اما ضربه دومی که مهلک‌تر و خون چکان‌تر از ضربه اولی بود، جداکردن قسمت‌هایی چون: بلوچستان شامل سیبی، دارو وچاگی، کویته، چمن، پشین، کرم، وزیرستان، پارا چنار، سوات، باجور، بنیر، دیر، چپلاس، چترال، باشگل وغیره از پیکر افغانستان و پیوستن آن به هند برتانوی در ۱۸۷۹ بر طبق معاهده تحمیلی گندمک بود که بعداً در معاهده نوامبر ۱۸۹۳از بین امیر عبدالرحمن‌خان و انگلیس بطور دایم از افغانستان جدا و توسط خط دیورند به هند برتانوی تعلق گرفت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجموع مناطق قبایل آن سوی خط دیورند، از کویته بلوچستان تا دیره جات و پشاور واز بنو و وزیرستان تا خیبر وچترال، سرزمینی را در بر می‌گیرد که در سالهای پس از جنگ جهانی دوم و بطور خاص در ۱۹٤۷ بعد از به میان آمدن پاکستان از بطن نیم قاره هند بنام «پشتونستان» مورد ادعای افغانستان با پاکستان واقع گردید.

شاه امان الله خان و محمود طرزی وزیر خارجه افغانستان نیز از جمله شخصیت‌های وطن‌پرست ملی بودند، که هرگز نمی‌توانستند جدایی قسمتی از خاک‌های افغانستان را در آن سوی خط دیورند تحمل کنند، مادر(افغانستان) ابراز کنند.

ولی انگلیسها به این پیشنهاد توجه نکردند و در نظر خواهی که برای الحاق به هند و یا پاکستان به عمل آمد، در یک جا کتاب مذهبی «گنگ» برای هندوها در جای دیگر قرآن مجید برای مسلمانان گذاشته شده بود، که طبعاً پشتونها به استثنای خان عبدالغفار خان برای پیوستن به پاکستان رأی دادند. انتخاب بین هند وپاکستان برای مردم پشتون که همه مسلمانان سنی مذهب استند، انتخاب بین کفر واسلام بود و طبعاً پشتونها به نفع اسلام وپاکستان رای دادند.

حکومت شاه محمود خان قبلاً در یاد داشت مورخ ۱۳ جون همان سال (۱۳۲٦ = ۱۹٤۷) موضوع سرنوشت قبایل پشتون واقع در آن سوی خط دیورند را بحکومت بریتانیا از طریق سفارت آن در کابل مطرح ساخت. مگر تا این وقت قانون آزادی هند از پارلمان بریتانیا گزارش یافته و مقرر شده بود، که وضعیت شمال مغرب توسط یک همه پرسی مبنی بر یکجا شدن‌شان به یکی از دوکشور پاکستان یا هند معین شود و قدرت سیاسی در نیم‌قاره در ۱۵ اگست همان سال به دو دولت جدید انتقال یابد. بنا براین موضوع بررسی ادعای افغانستان برای مقامات برتانیه بی اهمیت جلوه کرد. متعاقبا در ماه سپتامبر ۱۹٤۷ نماینده افغانستان در ملل متحد با شرکت و شمولیت پاکستان در آن سازمان مخالفت خودش را ابراز نمود و از آن تاریخ به بعد مناسبات دو کشور با بی‌اعتمادی و بدبینی نسبت بیک دیگر همراه شد.

در سال ۱۹٤۸ موضوع قبایل سرحدی (پشتونستان) در جراید افغانستان با آب و

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاب خاصی عنوان شد و در نتیجه شاه محمود خان صدر اعظم را واداشت تا در نوروز ۱۳۲۸ (مارچ ۱۹٤۹) در محضر شهربان جلال‌آباد نطقی ایراد نماید. صدر اعظم در آن نطق از حکومت پاکستان تقاضا کرد تا به حقوق پشتون‌های سرحدی گردن نهد. با الهام از سخن‌رانی شاه محمودخان در بعضی از ولایات کشور چون قندهار و کابل و جلال‌آباد تظاهراتی علیه پاکستان براه افتاد و تحریکاتی در دو سوی سرحد نیز صورت گرفت. بدنبال بحرانی شدن اوضاع، طیارات پاکستانی در جون سال ۱۹٤۹ مطابق جوزای ۱۳۲۸، بر مناطق قبایل سرحدی و جنوبی کشور شدیداً بمباران کردند که تلفات بسیاری برجای گذاشت. حکومت افغانستان در رابطه با آن به حکومت پاکستان شدیداً پروتست داد و از آن به بعد جنگ سرد تبلیغاتی بین افغانستان و پاکستان گسترش یافت. سپس در ۲٦ جولای ۱۹٤۹ مطابق ۱۳۲۸ شورای ملی افغانستان که تعدادی از اعضای حزب ویش زلمیان در انتخابات دوره هفتم به شورای ملی راه یافته بودند، با دیگر روشنفکران شامل در شورا که برای آزادی قبایل پشتون سخت پافشاری می‌کردند، فیصله‌ای صادر کرد و معاهده خط دیورند را ملغی قلمداد نمود. متعاقباً شورا، روزی را بنام «روز پشتونستان» بتاریخ ۹ سنبله ۱۳۳۱ مطابق ۲٦اگست ۱۹٥۱ به تصویب رسانید و قرار بر آن شد تا هر سال از این روز تجلیل به عمل آید. (افغانستان در پنج قرن اخیر، ج ۲)

غبار در این رابطه مینویسد: «جرگه بزرگ جلال آباد در مارچ ۱۹٤۹ تصمیم و اراده مردم افغانستان را باتفاق سرحدات آزاد افغانی برای استخلاص افغانهای ماورای دیورند تا سند به دنیا نشان داد و شورای ملی دوره هفتم افغانستان در جون ۱۹٤۹ ابطال و الغای «خط مرده دیورند» را اعلام و جراید کابل منتشر کرد. در همین سال بغرض امداد در مبارزه آزادی خواهانه مردم «پشتونستان» دفتر اعانه در کابل باز گردید و مجالس متعددی به همین مقصد در شهر های کشور چون گردیز و قندهار و غیره تشکیل شد، و تصاویب آمادگی برای مبارزه با پاکستان در راه استخلاص تمام افغانهای ماورای دیورند تا سواحل سند بعمل آمد. و اما در این هنگام در پشتونستان محکوم و آزاد (صوبه سرحد و سرحدات آزاد) و بلوچستان چه میگذشت؟ بعد از آنکه دولت انگلیس در ۳ جون ۱۹٤۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلامیه تخلیه هند را نشر نمود، در ۲۱ همین ماه جرگه عظیم بنو در پشتونستان محکوم تشکیل شد، و نمایندگان تمام «پشتونستان» آزاد و محکوم و بلوچستان و احزاب بزرگ از قبیل: خدائی خدمتگاران، جمعیت العلمای سرحد، و زلمی پشتون در آن شرکت و فیصله کردند که: «پشتونها، نه هند میخواهند و نه پاکستان، بلکه میخواهند در این کشور یک حکومت آزاد پشتون بر اساس جمهوریت اسلامی تشکیل شود.» به غرض استار فیصله همین جرگه بزرگ ملی بود که پاکستان به عجله دست به یک ریفراندوم جعلی زد، و قرآن را پیش کشید و به تگدی آرا پرداخت، در حالی که خونریزی داخلی بین هندو و مسلمان در کلکته و بمبی و بیهار ولاهور و امرتسرو جالهندر دوام داشت. در همین اگست و سپتمبر ۱۹٤۷ بیش از یکصد هزار نفر مسلمان و هندو کشته شدند و پاکستان نو احداث در حالت تزلزل و تشنج قرار داشت.

ډېر پر محتوا او هر اړخیزه لیکل شوی، ما یوازی د مالوماتو لپاره یو څو مهم پرگرافونه ترې راواخېستل.

درنو دوستانو د سیستاني صاحب او د نورو لیکوالانو نظر دا دی چی برتانیا د وخت د حکومتونو د کمزورتیا او کورنیو جنگونو او د ایران روسیې او خپله د دوی یانې انگلیسانو له خوا د لوی تهدیدونو او مجبوریتونو له امله په زور دا کرغېړنه کربنه د افغانانو پر زړه کښلې. تر دې دمه هېڅ افغان دا کربنه منلی نه ده او نه یې منلو ته تیار دی. د خپلواکۍ ترلاسه کولو وروسته په عامه توگه ټولو واکمنیو او په خاصه توگه د نادر خان او محمد ظاهر په دې اړوند هېڅ کار نه دی کړی. د ٦٠ میلیونو پښتنو او بلوڅانو د ازادۍ له پاره کاملاً چپ پاتې شوي او دا ملي مسئله یې هېره کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډیورنډ کرښه له حقوقي اړخه




په نولسمه پېړۍ کې بریتانیا د استعمار په نشه کې وه او روسیې د زبرځواک په توګه د منځنۍ آسیا هېوادونه یو په بل پسې لاندې کول. افغانستان د دغو لویو قوتونو د لوبو په میدان بدل شو. د افغان او انګلیس په لومړۍ جګړه کې له ماتې وروسته، بریتانیې په دویمه جګړه کې افغانستان ونیو او د ګندمک تړون له لاسلیک وروسته افغانستان په تحت الحمایه هېواد باندې بدل شو. روسیې د افغانستان په شمال لویدیځه برخه برید وکړ او په ۱۸۸۵ز کال کې یې پنجده بېله کړه. برتانیه له روسیې څخه په ویره کې شوه او د هغوی د نفوذ محدودولو لپاره یې په ۱۸۸۷ز کال کې د افغانستان شمالي ولایتونه ورسره معلوم کړل او وروسته یې په ۱۸۹۳ز کال کې د افغانستان سره د ډیورنډ کرښې تړون لاسلیک کړ.

د ډیورنډ پر کرښه تړون د مېشتو پښتنو غوسه راوپارېدله او د برتانیې د پولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکلو پر کميسيون باندې يې په ۱۸۹۴ او ۱۸۹۷ کلونو کې بريدونه وکړل. برتانيې د ولسونو ځپلو لپاره ۶۰۰۰۰ ځواکونه وګمارل (بيجان عمراني ۲۰۰۹، وزيري ۲۰۱۲). په ۱۹۰۵ز کال په امير حبيب الله خان باندې ياد تړون بيا لاسليک شو. په ۱۹۱۹زکال کې د ازادۍ جنګ په ترځ کې امان الله خان د دغه تړون منلو ته غاړه کېښوده.

د پاکستان رامنځ ته کېدو پر وخت افغان دولت برتانيې ته خپله انديښنه وښوده[1] او کله چې په ۱۹۸۴ز کال کې پاکستان د ملګروملتونو غړيتوب اخېسته، افغانستان منفي رايه ورکړه[2]. د پاکستان له جوړېدو دوه کاله وروسته (جولای ۱۹۴۹)زکال افغان پارلمان د برتانيې سره ټول تړونونه لغوه اعلان کړل او ډيورنډ يې (تقلبي او تخيلي) کرښه وبلله[3]. پاکستان چې د بريتانيې د وراثت ادعا لري، له جوړېدو راهيسې دغه کرښه باندې خپل نفوذ زيات کړی او د سرحد په نوم يې پيژني[4].

دغه مقاله د کرښې حقوقي اړخ او د پاکستان د وراثت ادعا څېړي. له هغه وړاندې مقاله د ګندمک په تړون باندې لنډ بحث کوي.

## د ډيورنډ کرښې تړون:

ډيورنډ د ۱۸۹۳ز کال د نومبر په ۱۲مه لاسليک شو، چې پر کرښه د مېشتو وګړو پراخ عکس العملونه يې راوپارول او تړون تر ډېره د کاغذ پرمخ پاتې شو. تراوسه يې په عملي ډول ټوله کرښه نه ده کښل شوې. په تړون کې ځينې داسې کلمې کارول شوي دي، چې تشريح ته اړتيا لري. بېلګه يې د (Frontier) کلمه ده. چې د هېوادونو ترمنځ د سرحد پر ځای د پولې په مانا کارول کيږي. بيجان استدلال کوي، چې ياده کلمه د هېواد د سرحد په مانا نه ده، بلکې د ټيټې

---

1- (عالي ۱۹۹۰)ز کال

2- (واکمن ۱۹۸۵)

3- (سقيم ۲۰۰۸)

4- (دوراني ۲۰۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



درجې پولو یا کرښو (لکه د ولایت، ولسوالۍ) لپاره کارول کېږي او د ملي حاکمیت قلمرو او سرحد لپاره د (Boundary) کلمه کارول کېږي.[1]

د دې ترڅنګ د تړون مقدماتي برخه وايي، چې دواړه غاړې د (نفوذ ساحې) حدونو ټاکلو غوښتونکي دي. په دې مانا چې تړون د (نفوذ ساحې) ټاکلو لپاره رامنځ ته شوی، نه د ملي حاکمیت سرحد ټاکلو په موخه.

د تړون څلورمه ماده وايي، چې کرښه به وروسته په پوره جزئیاتو په نښه او وکارېل شي، خو تراوسه دا کار نه دی شوی. د میکډونلډ (۲۰۱۲)ز کال په نظر په سیمه کې د مېشتو خلکو مخالفت د دې لامل شوی، چې کرښه همداسې پاتې شي. ددې ترڅنګ همدغه کرښه بلوڅ قوم هم سره بېلوي او د دغه قوم هېڅ کس د دې تړون په اړه نه دی پوښتل شوی. محمد داود میره کی استدلال کوي، چې د نړیوال قانون له مخې تړون کې باید ټولې ښکېلې خواوې وپوښتل او رضایت یې ترلاسه شي، که داسې نه وي، تړون قانوني اعتبار بایلي.

لکه وړاندې چې یادونه وشوه، عبدالرحمن خان برتانویانو راوست او د واک په ګدۍ یې کښېناوه. څرنګه چې افغانستان په دې وخت کې تحت الحمایه هېواد وو، طبعي ده، چې اړیکې یې له بادار سره بې انډوله او یوطرفه وې. د سیمه ایزو مطالعاتو په مرکز کې څېړونکی عبدالرشید وزیري استدلال کوي، چې عبدالرحمن باندې تړون په زور لاسلیک شوی دی. د دې ترڅنګ ضیاالحق، سامیه سامع او خاطره شینوارې په ګډه څېړنیزه مقاله کې وايي چې امیر ته د پرځېدو ګواښ شوی وو.[2] دغه څېړونکي دا هم وايي چې د امیر زوی حبیب الله خان نه غوښتل چې د پلار تړون تائید او لاسلیک کړي (د هغه زوی حبیب الله خان هندوستان ته له تګ او د پلار تړون له منلو څخه انکار وکړ، په ځواب کې یې برتانویانو هغه دولس لکه هندي کلدارې پرې بندې کړې، چې د هغه پلار امیر عبدالرحمن خان ته یې هر کال ورکولې. وروسته برتانویان کابل ته راغلل او حبیب الله خان یې راضي کړ، چې تړون ومني او د پیسو ورکړې بېرته

---

[1]- (بیجان عمراني ۲۰۰۹)

[2] - (ضیاالحق او نور ۲۰۱۱) زکال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام ومووند. دلته معلومېږي چې دواړه تړونونه (گندمک او ډیورنډ) د بادار او تحت الحمایه ترمېنځ لاسلیک کېږي. رشوت (پیسې)، تهدید او ځواک پکې کارولی شوی. د تړونونو په اړه د ویانا کنوینسیون قانون (۱۹٦۹) په تړون کې زور او رشوت دواړه محکوموي او په پایله کې یې رامېنځ ته شوی تړون باطل بولي. د کنوینسیون ۵۰ ماده وایي که د هېواد رضایت په فساد او پیسو پورې مشروط او یا یې هم کوم بل هېواد استازیتوب وکړي، نوموړی هېواد کولی شي تړون لغوه کړي. همدارنگه د یاد کنوینسیون ۵۲ ماده وایي که چېرې کوم تړون د تهدید او ځواک په پایله کې رامېنځ ته شي، د نړیوالو اصولو له مخې تړون لغوه حسابېږي. دلته په قوي منطق دا بحث راپورته کېدلی شي، چې گواکې بریتانیا په یادو تړونونو کې د تړونونو نړیوال اصول تر پښو لاندې کړي دي.

د هر دوه اړخیر او څو اړخیز تړون معمول مراحل دا دي، چې له لاسلیک وروسته باید تړون د پارلمان له خوا تائید او د خلکو په واک کې هم ورکړل شي. که څه هم د دواړو تړونونو پرمهال افغانستان پارلمان نه لرلو، خو بریتانیا چې هر څه یې لرل هم دا کارونه ونه کړل. د دې ترڅنگ نړیوال تړونونه باید په ملگرو ملتونو کې هم ثبت او خوندي شي، خو ډیورنډ تراوسه په ملگرو ملتونو کې نه ثبت شوی او نه هم خوندي شوی دی.

له رامېنځ ته کېدو وروسته، پاکستان د برتانوي هند د وراثت او ځایناستې دعوا کوي. له استعماره مخکې، پاکستان شتون نه درلود، په بله مانا چې بریتانویانو پاکستان نه دی استعمار کړی، بلکې هندوستان یې لاندې کړ. د استعمار له ختمېدو وروسته هندوستان پرته له دې چې په ملگروملتونو کې د غړیتوت عریضه وکړي، غړی شو. خو پاکستان مجبور وو، چې د غړیتوب عریضه وکړي او افغانستان ورته منفي رایه هم ورکړه. د منفي رایې یوازینی لامل د ډیورنډ تړون او پښتونستان ستونزه وه، افغانستان درې اونۍ وروسته منفي رایه بیرته واخېسته. د پاکستان له رامېنځ ته کېدو دوه کاله وروسته په ۱۹۴۹ز کال د افغانستان پارلمان ټول هغه تړونونه چې د برتانوي هند سره یې لاسلیک کړي وو، باطل اعلان کړ. استدلال دا وو، چې مقابل اړخ شتون نه لري. که چېرې د پاکستان د وراثت دعوا پرحقه وای، پوښتنه دا ده، چې د هندوستان غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید دوی هم پرته له عریضې د ملګرو ملتونو غړیتوب ترلاسه کړی وای.
ښاغلی بیجان عمراني نړیوال تړونونه په دوو ډولو ویشي چې یوه یې (Executed او بل یې Executory) دی. لومړی ډول یې هغه دی، چې یو وار لاسلیک شو تر پایه به وي، دویم ځل کتلو او نوي کولو ته اړتیا نه لري، خو دویم ډول یې بیا تر پایه نه وي، کتلو او نوي کولو ته اړتیا لري او ښکېلې غاړې کولی شي تړون لغوه هم کړي. نوموړی وایي (د ډیورنډ تړون مادو ته په کتو، تړون Executory ښکاري او هر اړخ کولی شي تړون لغوه کړي، بیجان عمراني ۲۰۰۹). دې ټکو ته په کتو سره د ډیورنډ تړون حقوق اړخ تر پوښتنې لاندې دی.

## پایله:

د ډیورنډ تړون له لاسلیک راهیسې نږدې ۱۲۴ کلونه تېرېږي چې په یاد وخت کې په افغانستان باندې تقریباً ۱۴ مشرانو واک چلولی، له لومړیو څلورو یې، نورو ټولو ډیورنډ رد کړی او وروستیو مشرانو یې په مقابل کې دریځ لا سخت کړی دی. که څه هم په ټوله کې پاکستان د ډیورنډ په ها خوا باندې واک چلوي، خو د واک کچه یې په نسبي ډله کمه ده او په ځانګړي ډول په قبایلي سیمو کې یې، چېرته چې اوس هم د برتانیې ایف سي ار قانون چلېږي، واک ډېر محدود دی. په ټوله کې د ډیورنډ تړون حقوقي اړخ تر پوښتنې لاندې دی، خو د میکډونلډ (۲۰۱۲)ز کال په وینا چې دواړه دولتونه د خلکو ترمېنځ د بېلتون او بېلولو پرځای باید په ګډو ستونزو لکه غربت، بې سوادي، محدودې روغتیایي اسانتیاوې، تروریزم، د قانون حاکمیت او بشري حقونو باندې تمرکز او ټینګار وکړي. نوموړي وایي چې دغه سېمه ډېر ګډ ارزښتونه لري او باید ګډ کار ورته وشي.
ما ددی لپاره د یوشمېر افغان څېړونکو مقالې د ماخذ په توګه یادې کړي چې لوستونکي په دې اړه د خپل هېواد په تاریخي پېښو او د نړې یرغلګرو ناروا کړنې چې د ملتونو په وړاندې سرته رسولي ترې خبر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر ډیورنډ کرښه د افغان لندن کنفرانس ته لیکلی پیغام

بې له شکه د ډیورنډ کرښې د برخلیک او د لوی افغانستان د بیا احیا په اړه، ستاسو اوسنۍ غونډه د زړور او پرځای اقدام ترڅنګ، پر اسلام اباد چې د ترهګرو د ملاتړ په لامل تر سخت نړیوال فشار لاندې دی، یو بل کلک ګوزار ګڼل کېږي!

البته د ټولنې مخور، مخکښ او روڼ اندي لکه تاسو چې د ملت او هیواد ملي ګټو او ارزښتونو ته ژمن یاست، هڅه کوي چې د ملي موخو په پېژند او هغو ته په لاسرسي کې خپلو ولسونو ته تل رښتیا ووایي، پرتې ستونزې له ولس پټې نه کړي او د عمومي ویښتیا په مټ او د ولس په ملاتړ د هغو په حل کې رامخته شي. بلخوا د ملي موخو په وخت او په ځای نه وړاندې کول، له ملي چارو څنګزن تېرېدل او د هغو لپاره د ولسونو نه سمبالول، نه یوازې دا چې د ولسونو او روڼ اندو ترمېنځ د واټن لامل ګرځي، بلکې ټولنه ملي موخو ته له رسیدو، راستنوي!

که دولتوال، سیاستوال او د ټولنې په څه پوه کسان، د ملي ګټو په وړاندې روښانه دریځ ونه لري او ولس ته په شف شف، نیمګړې او ترټرې ژبه لګیا وي او یا ډارن او پریوتی دریځ ولري، داسې حالت بې له دې چې د ملي ګټو د مخالفینو او د دوښمنانو په ژرنده اوبه ور سمې کړي، په ملي کچه نشي کولای کومه بریا او لاس ته راوړنه ولري.

د ډیورنډ تپلې کرښه او په تېرو ۱۲۵ کلونو کې د هغې پر محور پرتې ناحله ستونزې، که څوک غواړي یا نه، نن مهال د ملي اجنډا په غېږګړه کې رامخته شوي او له مزمن حالت څخه په ورځنۍ توده موضوع بدلې شوي دي!

کابل کې د انګریز د سفیر نیکولاس کې وروستۍ څرګندونې او زوړ استعماري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریځ او پر دې کرښه د پاکستان لخوا اغزن سیم، کټارې او د څار او کنترول دروازې او یا نور پټ او ښکاره اقدامات د ډیورنډ د تپلې کرښې لانجه، د ملي مسایلو په سر کې ځای کړې ده.
همدارنگه د اروپايي ټولنې د مرستیال لخوا د افغانستان په گټه د ډیورنډ د مسئلې حل هغه نوې پرمختیا شمېرلی شو چې د دې مسئلې په اړه، د افغانانو د دریځ ریښتینولي او حقانیت څرگندوي.
د ډیورنډ د تپلې او استعماري کرښې د ماتولو او د لوی افغانستان د بیا احیا په لار کې د برتانوي هند او له هغه وروسته د برتانوي پاکستان او نورو بهرنیو دوښمنانو او رقیبانو تر ډول ډول چلوټو او خنډونو سربېره؛ د لوی افغانستان په دننه، د ډیورنډ کرښې په دواړو غاړو هم داسې کسان ول او شته چې یا په ښکاره د دې ملي داعیې په مخالفت کې ولاړ ول، یا یې زړه نازړه او پریوتی دریځ درلود او یا یې په دولت کې په غوښن واک سره د هغې په وړاندې د پنځم ستون رول لوبولی دی!
د ډیورنډ کرښې له تپلو وروسته، په تېرو ۱۲۵ کلونو کې، یو خوا د دې کرښې په ماتولو کې موږ د هېواد د ریښتینو زامنو له سرښندنو او ځان تېرېدنو سره مخامخ یوو چې د هغوی مېړانه، زموږ د راتلونکي لارښود ده او بلخوا د رنگارنگ دوښمنانو او ملي ضد سیاستونو او دریځونو سره اشنا یوو چې له هغو څخه باید زده کړه وکړو او په راتلونکي کې په دې اړه خپله هوښیارتیا له لاسه ور نکړو!
تر ټولو لومړی د دولت یو شمېر لوړپوړي چارواکي، دیپلوماتان، سیاستوال او لیکوال په دې خبرې پورې نښتي ول او یو شمېر یې اوس هم نښتي دي چې د ډیورنډ کرښې کوزه غاړه تر اباسین پورې ده، د پاکستان په چوکاټ کې دننه، یوه خود مختاره سیمه وي او یوازې داسې خود مختاري د کوزو افغانانو لپاره کفایت کوي. دوی د دې پرځای چې کابل کوزو افغانانو ته د راټولېدو د مرکز پوگه ور په گوته کړي، په حقیقت کې په داسې پریوتي دریځ سره، پنجاب هغو ته د راټولېدو د مرکز په توگه ورپېژني!
خو کله چې څوک په دې اړه د دوی دلایل لولي او څېړي، دوی دغسې پریکړه د ډیورنډ کرښې د دواړه غاړو د پرتو ولسونو د غوښتنې او ملي گټو پر بنسټ نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې سيمه يزه او نړيوالو حالاتو ته د پام تر پلمې لاندې، وړاندې کوي. دوی غواړي، وځلوي چې که چېرې دوی په صفا ټکو کې او په پوره وضاحت د ډيورنډ کرښې د ماتولو او د لوی افغانستان د بيا احيا غوښتنه وړاندې کړي، د برتانوي پاکستان او د هغه د نړيوالو ملاتړو له گواښ سره به مخ شي؛ نو له دې ډاره، ښه دا ويني چې د خپلې ځمکې له دعوا يې تېر شي او يوازې خپلې کوزې خاورې او خپلو خلکو ته د پاکستان په چوکاټ کې دننه د خود مختارۍ په غوښتنه بسيا وکړي!

بلخوا ځينې افغانان بيا يوازې د دې خاورې او د هغې د اوسيدونکو نوم پورې نښتي دي، خو که د افغانستان له وجوده د جلا شوې خاورې نوم هر څه کېږدو او هغه د پاکستان په چوکاټ کې وي او په ټوله کې هغه د پاکستان د شرگډو سياستونو پر محور راوڅرخي، په حقيقت کې موږ د دې ملي داعيې په حل کې گام نه دی پورته کړی!

نن خو د دې سيمې نوم پښتونخوا دی، که ټوله خبره په نوم وي بيا نو نن ستونزه حل شوې ده!

موږ د دې بېلې شوې ټوټې په نوم پورې نه يوو نښتي، بلکې زموږ غوښتنه دا ده چې دا بېله شوې ټوټه د افغانستان خاوره ده او موږ په ټوله کې افغانستان سره د دې جلا شوې خاورې او د هغې د اوسيدونکو د بېرته يو ځای کېدو غوښتنه کوو. د ډيورنډ کرښې نه منل، تر اباسين پورې يوازې د دې کرښې د کوزې غاړې د سيمې په نوم پورې نه خلاصه کېږي بلکې د هغې بېرته الحاق د دې ټولې ستونزې پر سر کې ځای لري.

کټ مټ لکه ختيځ او لويديځ جرمني چې بېرته يوځای شول!

هلته لويديځ جرمني، د ختيځ جرمني په نوم پورې نه وو نښتی، بلکې هغه سره په بېرته يووالي پورې نښتي وو. البته جرمنی پوهېده چې هغه مهال د دواړو جرمنيو بېرته يوځای کېدل گران وو، خو جرمنان زړه نا زړه نشول، له خپلې غوښتنې لاس پرسر نه شول او د بيا يووالي غوښتنه يې تل په صراحت سره بيانوله او هم يې وخت ته انتظار وکيښ!

بالاخره پخپل روښانه دريځ او هدفمن انتظار بري ته ورسېدل او دواړه جرمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسونه او خاوره سره بېرته يو ځای شول.
داسې د چين او هانکانګ ستونزه هم درواخله. چين هېڅکله هم له خپلې دعوې تېر نه شو، البته مناسب وخت ته يې انتظار وييست.
کله چې موږ د ډيورنډ کرښې د برخليک او د لوی افغانستان د بيا احيا په اړه غږېږو، دلته بايد دوه چارې يو له بله سره جلا کړو:
لومړی ـ دا چې ډيورنډ کرښه نه منو، نو پنجاب سره بايد بل کوم ځای د سرحدي پولې په توګه ومنو.
دوهم ـ د ډيورنډ کرښې برخليک او د لوی افغانستان د بيا احيا په اړه د موخو او وسايلو تفکيک.
دا چې د ډيورنډ کورښه نه منو، اړ يوو چې د دې کرښې پر ځای بايد بل ځای پنجاب سره د سرحدي پولې په توګه وپېژنو او هغه بايد اباسين(Indus River) وي او دا زموږ موخه ده.
بلخوا د پورته موخې ترلاسه کولو لپاره بايد ډول ډول وسايل او امکانات د ځان په ګټه راغونډ کړو. په امکاناتو کې د پنجاب په ګډون خبرې اترې، د ملګرو ملتونو له تولنې ګټه؛ دا چې اوس د امريکا، اروپا او نورې نړۍ سره پراخې اړيکې لرو له هغو څخه بايد ددې ملي مسئلې په حل کې ګټه واخلو. همدارنګه زغم، حوصله بايد له لاسه ور نه کړو.
د ډيورنډ کرښې د برخليک او د لوی افغانستان د بيا احيا په اړه د موخو او وسايلو تفکيک پکار دی، دلته بايد د موخې پېژندل او په څرګنده د هغې بيان او د هغه په اړه غوڅ دريځ او دوهم د خپلې موخې د غوښتلو لارې، امکانات او وسايل سره ګډوډ نه کړو.
که موږ خپلو خلکو ته د موخې په ټاکلو کې غوڅ دريځ ونلرو او هغو ته شف شف ووايو، موخې ته هېڅکله نه رسېږو. موخه بايد په غوڅه توګه او څرګنده بيان شي.
خو خپلې موخې ته د رسېدو لپاره، د وسايلو په توګه لومړی هغه لارې وټاکو چې اسانې وي. همدارنګه زغم، حوصله او امکانات بايد په پام کې ولرو.
يادونه: په اوسنۍ ولسي جرګه کې د ننګرهار استازي ظاهر قدير د ډيورنډ کرښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړوند د ولسي جرګې په غونډه ووېل چې د انګلستان سفیر وینا سمه ده او دا توره کربنه په رسمي توګه منل شوې ده، دی وایي چې ډاکتر محمد اشرف غني لخوا د افغانستان دفاع وزارت 2017 ستر درستیز ته دنده ورکړل شوې چې د باوړ ګومینټ تر نامه لاندی قدیم شاه شهین دا سند لاس لیک کړی، خو پدې هکله د حکومت چارواکو تراوسه خپل غبرګون نه دی ښودلی، 2017 ز کال د نومبر په ۱۳ نېټه؟

خو زما په آند دا خبره په واقعت ولاړه نه ده ځکه دولت په قانوني لحاظ ددې کار صلاحیت او واک نه لري، دا ددې تورې کربښې دواړو خواو ته پراته ولسونه ددې واک لري نه ددولتي مشران.

## پاکستان ولې له افغانستان سره پر پوله کټارې او خنډونه جوړوي؟



د پاکستان پوځ وايي چې د امنیت د ښه کېدو په لړ کې به له افغانستان سره پر پوله ازغن تار او کټارې لګوي چې په وینا یې د اورپکو مخنیوی وکړي. خو افغان حکومت، چې د ډیورنډ کربښه لانجمنه بولي، وايي چې د پاکستان له خوا هر ډول یو اړخیز امنیتي تاسیسات او خنډونه د منلو وړ نه دي.

د پاکستان پوځ په خپله پرونۍ اعلامیه کې ویلي چې د پوځ د مشر له لاربښوونو سره سم، د افغانستان او پاکستان د " ټولې" پولې د کټارې کولو کار پیل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی.

د پاکستان پوځ زیاتوي چې په لومړي پړاو کې باجوړ، مهمند او خیبر قبایلي ایجنسیو (ولسوالیو) سره پوله باندې کار روان دی او په دوهم پړاو کې به د بلوچستان په ګډون له افغانستان سره پر نوره پوله باندې اغزن تار او نور تاسیسات جوړوي.

## پر ډیورند کرښې د کټارې لګولو چارې:

**راپور د بي بي سي څخه:**

**10 اکتوبر ۲۰۱۷ - ۱۸ تله ۱۳۹٦**



افغان حکومت تل پر ډیورنډ کرښې د کټارو له غځولو سره مخالفت کړی او دا چاره یې د سیمې د ولسونو بیلتون بللی.

پاکستاني پوځ چې له یوې مودې راهیسې یې پر ډیورنډ کرښې د اغزن مزو غځول پیل کړي.

بلوچستان کې د پاکستاني پوځ قومندان ډګروال عثمان بي بي سي ته وویل "۸۰ تر ۸۵ سلنه ترهګریز فعالیتونه له افغانستانه سرچینه اخلي او زما شخصي نظر دا دی چې د کټارې لګولو چارې له بشپړېدا سره به نور دغه لارې پرانیستې نه وي او خلک به له هغو لارو تګ راتګ کوي چې څارل کېږي. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان او امريکا پر پاکستان تور پورې کوي چې پخپله خاوره کې يې طالبانو ته پټنځي برابر کړي خو پاکستان وايي اورپکي يې له خپل هېواده پسې اخيستي او اوس هڅوی د ډيورنډ کرښې پورې غاړه افغانستان ته اوښتي.

خو ډگروال عثمان وايي اوس په دغه سيمه کې د ده په وينا د "افغان جهاديانو" هېڅ راز پټنځای نشته. که شنونکي او تاريخ پوهان ځير شي په ښکاره پاکستان د افغان ولس پر خاوره خپل تېري ته دوام ور کوي، او د دوی همدا راز ټينگار کاوه چې د اورپکو پر وړاندې د عملياتو په ترڅ کې يې زرگونه کيلوگرامه چاودېدونکي توکي هم نيولي چې ټاکل شوې وه د پاکستان پر ضد وکارېږي.



واقعاً د ترهگرو د اوښتو رااوښتو د مخنيوي لپاره د کټارو او اغزن تار خبره کېږي او که تر شا يې نورې خبرې هم شته؟

ډيورنډ کرښې ته نژدې پرتې سيمې د اورپکو پر مرکز بدل شوې وې او اوس چې پاکستان پټېيلې پر دغې شاو خوا ۲۵۰۰ کيلومتره اوږدې کرښې اغزن مزي وغځوي، چمن کې د لگېدلې دروازې له لارې هره ورځ شاو خوا ۱٦ زره کسان د دواړو هېوادونو ترمېنځ تگ راتگ کوي.

"د ډيورنډ کرښې په نوم شوې تاريخي تېروتنه بايد سمه کړل شي"

ډيورنډ لاين: نړيواله پوله که د بېلتون کرښه؟

افغانستان پر ډيورنډ کرښه د پاکستان "اغزن تار نه مني"

پاکستاني چارواکو بي بي سي خبر نگار ته ويلي اورپکې پر دغو رسمي لارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګ راتګ نه کوي، خو هغه کلیوال هم دغه لاره نه کاروي چې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو کې مېشت دي.
افغان حکومت تل پر ډیورنډ کرښې د کټارو له غځولو سره مخالفت کړی او دا چاره یې د سیمې د ولسونو بېلتون بللې.
خو جنرال اکرم وایي "هر هېواد خپلواک دی، پولې لري او حق لري چې د خوندیتوب او امنیت لپاره یې لارې چارې غوره کړي. "



ډګروال محمد عثمان وایي د کټارو په لګولو به د اورپکو د تګ راتګ مخه ډب شي.
پاکستاني چارواکي ادعا کوي چې د کټارو له لګېدا سره به تاوتریخوالی کم او د دواړو هېوادونو حکومتونه به سره نژدې شي.
خو داسې نظرونه هم شته چې که د دغو کټارو موخه یوازې له افغانستانه د اورپکو د اوښتو مخنیوی وي او له پاکستانه د اورپکو د اوښتو لړۍ روانه وي نو دا به د دواړو هېوادونو ترمنځ لا نور مخالفتونه وټوکوي.

## تبصره:

پاکستاني چارواکي د افغان ولس جلاوالي ته د خپل شوم او کرغېړن عمل سرته رسوي، نړیوالو ته ښیي د نړیوالو او افغان ولس په سترګو کې خاورې پاشي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان چارواکو ته په کار ده چې د پاکستان ددې عمل او د ډيورنډ د کرغېړنې کربښې د نه منلو په هکله د ملگرو ملتونو سازمان د امنيت شورا ته خپل شکايت وړاندې کړي.

پاکستان له افغانستان سره د پولې د کنټرولولو او انتظام په لړ کې څو گامونه پورته کوي چې مهم يې دا دي.

د کلاگانو يا وړو چوڼيو جوړول چې ويل کېږي ټول شمېر به يې ۴۲۳ وي. د ډيورنډ کربښې اوږدوالی نژدې ۲۵۰۰ کيلو متره دی. په دې توگه به پاکستان پر هر شپږ کيلومتره يوه امنيتي کلا جوړوي. اغزن تار او کټارې درول- پاکستان له وړاندې څخه لا په يو شمېر سيمو تارونه او کټارې درولې دي. د خندقونو کېندل- دا چاره هم ځينو سيمو کې روانه ده. يو شمېر نوې امنيتي پوستې جوړول او د پيره داريو ډېرول، د هوايي څارنې ترڅنگ د حرکت معلومولو حساسو کمرو او رادارونو نصبول او ډېرول دي. د پاکستان د پوځ مشر جنرال عاصم باجوه درې مياشتې مخکې (د مارچ په مياشت کې) مهمند اېجنسۍ ته د خپل سفر پر مهال له افغانستان سره پر پوله د کټارو او خندونو جوړولو امر ورکړی وو. هغه مهال د پاکستاني پوځ اعلاميې ويل چې دا کار به د پولې پر ځانگړو او ټاکل شوو ځايونو کېږي، خو د پوځ اوسنۍ اعلاميه وايي چې اوس به ټوله پوله پوښل کيږي. پاکستان پر پوله د ناقانونه تگ راتگ د مخنيوي په لړ کې يو شمېر نور گامونه هم پورته کړي دي. په تورخم کې له څو مياشتو راهيسې يې بې ويزې او بې پاسپورټه اوښتل يو مخ بند کړي دي. د دې ترڅنگ يې د قبايلي سيمو د وگړو د ازادانه تگ راتگ لپاره د راهدارۍ سيستم هم ختم کړی دی.

"د ډېر خطر سيمې" پاکستان تور لگوي چې د مولوي فضل الله په مشرۍ د پاکستان د طالبانو تحريک او له هغه څخه جلا شوې ډله جمعيت الاحرار، په افغانستان کې پناه ځايونه لري او له هغه ځايه په پاکستان کې بريدونه پلانوي.

پاکستان په لومړي پړاو کې په خيبر، باجوړ او مهمند کې پر پوله د خندونو جوړول پيل کړي چې د افغانستان له ننگرهار او کنړ ولايتونو سره لگيږي. پاکستاني چارواکي دا "د ډېر خطر سيمې" بولي او وايي چې د پاکستان ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورپکو د ور اوښتو خطر په همدې سیمو کې تر ټولو ډېر دی.
د پاکستان پوځ په دغو سیمو کې کله ناکله راکټي بریدونه هم کړي او د افغانستان په کنړ او ننګرهار ولایتونو کې یې هدفونه په نښه کړي دي. د پاکستان حکومت ټینګار کوي چې پر پوله د څار او دفاعي ورتیاوو ډېرول، د دواړو هېوادونو د امنیت لپاره ګټور دي. د پاکستان حکومت تر دې وړاندې هم هڅه کړې وه چې له افغانستان سره پر پوله خنډونه او کټارې جوړې کړي. پاکستان دا طرحه څو کاله مخکې لومړی هغه مهال په ډاګه کړه چې کله د افغانستان د پخواني ولسمشر حامد کرزي له پرله پسې نیوکو سره مخامخ وه، چې ویل یې پاکستان افغانستان ته د اورپکو د اووښتو مخه نه نیسي.
جنرال پرویز مشرف د خپلې ولسمشرۍ پر مهال دا پلان جوړ کړی وو او له سرچینو سره سم یې د هغه مهال د امریکا د ولسمشر جورج بوش حکومت تر یوه حده قانع کړی هم وو چې پر پوله د ماینونو ښخولو او کټارو جوړولو لګښت دې امریکا ورکړي. خو د پخواني افغان ولسمشر حامد کرزي د سخت احتجاج او مخالفت له کبله دا پلان عملی نه شو. د پاکستان په ۷۰ کلن تاریخ کې دا لومړی ځل دی چې اوس پر ډیورنډ کرښه دا ډول تاسیسات او خنډونه جوړوي. پاکستان په داسې کولو سره درې هدفونه ترلاسه کوي. ډیورنډ کرښې ته د یوې نړیوالې پولې په توګه رسمیت ورکول- پاکستان له لومړي سره ټینګار کړی چې دا نړیواله پوله ده او حق لري چې خپله پوله له افغانستان سره معلومه کړي. له افغانستان سره خپله پوله په نښه کوي، ځکه په یو شمېر سیمو کې دغه کرښه سمه واضح نه ده او دواړه هېوادونه د نقشو بېل تعبیرونه کوي. د خپلو ناخوښه کسانو د وراوښتو مخنیوی د دې ترڅنګ پاکستان له دې لارې پر افغانستان فشار هم اچوي.

## زړه لانجه، نوې ستونزې:

د پاکستان او افغانستان ترمنځ د پولې پر سر لانجه که څه هم زړه ده خو په دې وروستیو کې ترینګلتیا او بې باوري نوره ډېره شوې ده. دواړه هېوادونه یو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بل تور لګوي چې د دوی وسله والو مخالفینو ته یې پناه ځایونه ورکړي او ازاد فعالیت ته یې پرې ایښي دي.**



**له کیڼ لاس: د پاکستان پخوانی ولسمشر پرویز مشرف، د امریکا مخکینی ولسمشر جورج ډبلیو بوش او پخوانی افغان ولسمشر حامد کرزی**

**پاکستان تر دې وړاندې هم هڅه کړې چې له افغانستان سره پر پوله تګ را تګ کنټرول کړي. د ۲۰۱٦ز کال د جون په میاشت کې هغه مهال د افغان او پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ وسله واله نښته وشوه چې د ۲۰۱۷ز کال په فبروري کې په پاکستان کې ترځو خونړیو بریدونو وروسته د پاکستان حکومت له افغانستان سره د تورخم او چمن په ګډون خپلې ټولې لارې د څه باندې یوې میاشتې لپاره وتړلې.**
**نژدې دوې میاشتې مخکې د مې د میاشتې په پیل کې چمن ته نژدې پر هغه کلي باندې بیا د دواړو هېوادونو ترمنځ نښته پېښه شوه چې دواړو خواوو ادعا کوله د دوی په خوا کې راځي. تر دې پېښې وروسته هم د چمن او سپین بولدک لار د څو اونیو لپاره تړلې وه.**

## " ډیورنډ نه منو":

**افغان حکومت تل ویلي چې د ډیورنډ کرښه د یوې نړیوالې پولې په توګه په رسمیت نه پېژني او د دوی لپاره نړیوال قانوني مشروعیت نه لري. د پولې په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دواړو غاړو کې د تاسیساتو د جوړولو په اړه د افغان حکومت دریځ دا دی چې هر گام باید د دواړو حکومتونو په سلا او مشورو پورته شي.**




**2017ز کال د اکتوبر میاشت د خوست باتور ولسونو اغزن تار له منځه یوړ.**




**له ښي لاس: افغان ولسمشر اشرف غني، د برتانیا پخوانی لومړی وزیر ډېوېډ کامرون او د پاکستان لومړی وزیر نوازشریف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان چارواکي ټینګار کوي چې د پاکستان لخوا د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د دروازو، کټارو او پوستو جوړولو چارې یو اړخیزې دي او له دوی سره یې سلا نه ده شوې، نو له دې کبله دا ګام په دې اړه د دواړو هېوادونو د کاري اصولو او پخوانیو توافقونو او جوړجاړیو خلاف دی. د افغان چارواکو دریم دلیل دا دی چې د اورپکي ستونزه پر ډیورنډ کرښې د اوښتو له اسانتیاوو سره تړاو نه لري او نه هم دا پر کرښه د امنیتي تاسیساتو او کټارو د لږوالي له کبله ده. دوی ټینګار کوي چې د اورپکي د ختمولو لپاره د پاکستان د حکومت کلکې سیاسي ارادې او د داسې امنیتي تګلارې ضرورت دی چې له مخې یې ډلې ټپلې د سیاسي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ونه کارول شي. افغان چارواکي دا غوښتنه هم لري چې پاکستان دې پخپله خاوره کې دننه د هر ډول اورپکو ډلو د فعالیت مخنیوی وکړي او ځالې دې یې له منځه یوسي.

## اقتصادي او ټولنیز ژوند:

د افغانستان او پاکستان ترمېنځ پوله چې په عمومي ډول د برتانوي هند د انګریز چارواکي مارټیمر ډیورنډ (Mortimer Durand) په نامه "ډیورنډ لاین" یا د "ډیورنډ کرښه" یادېږي، په ۱۸۹۳ میلادي کال کې د ده او د هغه مهال د افغانستان د امیر عبدالرحمن خان ترمېنځ د یوه جوړجاړي له مخې کش شوې وه. له دې کبله یو شمېر سیمې له افغانستان څخه بېلې کړل شوې چې په ۱۹۴۷ میلادي کال کې له هندوستانه د انګریزانو تر وتلو او د پاکستان تر جوړېدو وروسته د پاکستان برخه جوړه شوې. د دغې کرښې له کبله که څه هم یو شمېر پښتنې او یو څو بلوڅ قبیلې سره ووېشل شوې، خو بیا هم د کرښې په اوږدو کې مېشتو ولسونو دا اجازه درلوده چې په ازاده توګه یوې یا بلې خوا ته واوړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د پاکستان د حکومت د اوسنيو ګامونو او پر کرښه د اغزن تار او کټارو لګولو له کبله يو شمېر ځايي اوسېدونکي اندېښمن دي. د پاکستان د حکومت لخوا پر کرښه د تاسيساتو جوړول که له يوې خوا سياسي عواقب لري، له بلې خوا پر کرښه د تګ را تګ محدوديت او خنډونه به د سيمې د خلکو پر اقتصادي او ټولنيز ژوند منفي اغېز وکړي. د ډيورنډ کرښه نه يوازې قبيلې سره وېشي، بلکې په ځينو ځايونو کې يې کورنۍ هم تقسيم کړي چې ځينې غړي يې يوې خوا او نور يې بلې خوا ته اوسېږي. څو ځايونه خو داسې هم دي چې يو کلی د کرښې په دواړو خواوو کې غځېدلی او په ځينو حالتونو کې خو کرښه د يوه کور په انګړ کې تېره شوې ده.



په يو شمېر سيمو کې که کلی يوې خوا ته وي نو د کرهنې مځکه بلې خوا ته وي. يا يې کورونه يوې غاړې ته وي او مسجد يا بازار او دوکانونه بلې غاړې ته وي. د دې ترڅنګ پر دواړو خواوو پراته خلک خپلوۍ سره لري او يا هم موسمي کوچ کوي او دوبې او ژمی په بېلو سيمو کې تېروي. دوی هم د پاکستان د حکومت پر نوو بنديزونو خواشيني ښودلې وه. له بلې خوا دا اندېښنه هم په ډاګه شوې چې دغه محدوديتونه به د ځنګلي ژوو (حيوانانو) پر ژوند او بقا هم بد تاثير وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تبصره:

د برلین دیوال د ختیځ او لویدیځ زبرځواکونو له خوا د دویم نړیوال جنګ په پای کې د المان خاوره پر دوه برخو جلا کړه او د برلین دیوال یې د المان د خلکو د جلاوالي لپاره جوړ کړ. که دا دیوال چا له نژدې لیدلی وو او د خلکو سره یې خبرې کړې وي، دوی ویل دا دیوال د المان ولسونو په زړه راکښل شوی. نیم زړه اخوا او نیم دې خوا ویشل شوی، نیمه کورنۍ هغه خوا او نیمه دې خوا پاتې شوه، ان داسې کورونه هم ول چې پر پخلنځیو یې دیوال راغلی وو. خو څه وشول؟ د ساړه جنګ د سرېدو پایله او د شوروي واکمني وویشل شوه، وارسا پکت ړنګ شو، د المان ولسونو په تشو لاسو د برلین دیوال ړنګ کړ او ټول ولسونه بیا یو ګډ حکومت جوړ او مرکز یې برلین شو. دا ولسونه هر کال د بیا یووالي ورځ په خورا شاندارو مراسمو لمانځي، زه او ټول ملت په دې ټینګ باور، عقیده لرو او هوډ لرو چې ډېر ژربه د دې کرغېړنې کرښې یانې د انګریز په لاس ناولې کرښه ډیورنډ به نړېږي او دواړه ولسونه به ګډ ژوند پیلوي. دا ورځ لېرې نه ده خو د ولس خوځښت او پوهاوي ته اړتیا شته او دا کار دوام لري.

***وزارت سرحدات: پاکستان برای اثبات رسمیت خط دیورند اسنادی ندارد***




**در حالی که پاکستان کار حصارکشی را در امتداد خط دیورند آغاز کرده‌است،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**در افغانستان تلاش ها برای ایجاد یک موقف واحد و اجماع ملی در خصوص این خط شدت گرفته‌است. وزارت سرحدات اقوام و قبایل افغانستان می گوید که پاکستان اسنادی در اختیار ندارد که نشان دهد خط دیورند به اساس فیصله محکمه و یا مجامع بین المللی یک خط رسمی است. عبدالغفور لیوال معین این وزارت روز یکشنبه «۲۱ عقرب ۱۳۹٦» در سیمینار تحقیقی زیر نام (خط ناپذیرفته شده دیورند) برگزار شده بود گفت، خط دیورند در حال حاضر بخاطری قابل بحث است که فرصت های جدید در منطقه به وجود آمده‌است. لیوال گفت که پاکستان این خط را حتی در محکمه و ملل متحد بدست آورده نمی تواند و باید در برابر آن اجماع ملی تمام مردم افغانستان وجود داشته باشد. او افزود: "خاک تاریخی افغانستان به زور گرفته شده‌است و اگر گرفته می شود به زور گرفته شود، این در محکمه گرفته نمی شود، در ملل متحد گرفته نمی شود در هیچ مراجع قانونی در جهان گرفته نمی شود، اگر کسی آن را از خود می سازد، فقط از راه قدرت، ملت افغانستان باید به این قدرت برسد."**

**این سیمینار از سوی تحریک موسوم به لوی افغانستان برگزار شده بود که به باور این تحریک در حال حاضر فرصت های جدید در منطقه به میان آمده و برای استفاده از این فرصت ها آنان نشست های را در مناطق مختلف برگزار کرده‌اند. آقای لیوال با توجه به این فرصت ها می‌گوید که امکانات یک تجزیه دیگر در منطقه وجود دارد. وی می گوید که به اساس تقسیم منابع اقتصادی و علاقه مندی قدرت های تولیدی و صنعتی غربی یک خط کشی جدید در منطقه مدنظر است، به گفته وی هرگاه افغانستان از این فرصت استفاده درست نماید، زمان به نفع این کشور حرکت می‌کند.**

**از موضوع جنجالی خط دیورند ۱۲۴ سال سپری می شود که پاکستان تلاش رسمی شدن آن را دارد، اما جانب افغانستان می گوید که تنها ملت ها در این مورد تصمیم گرفته می‌توانند. ریاست جمهوری افغانستان می گوید که بحث‌ها در این مورد تنها زمانی مطرح شده می توانند که افغانستان از امنیت و ثبات کامل برخوردار باشد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**در این حال محققین و مورخین افغان می گویند که جنگ‌های طولانی سبب شده تا پاکستان آن سوی خط دیورند را بخود نسبت دهد ورنه به باور آنان آن کشور هیچ اسناد حقوقی را در دست ندارد. از این میان سلیمان لایق در این سیمنیار تحقیقی پاکستان را کشوری خواند که هر زمان امکان تجزیه آن وجود دارد. او افزود: "کدام خطی وجود ندارد سرحد افغانستان دیورند نیست، بلکه سرحد افغانستان اباسین است و در میان آن یک ملت زنده‌گی می‌کند این یک بخش مهم از افغانستان است و آن را هیچ کس به دست نشانده ها رها نمی‌کند." اخیرآ حساسیت ها و نشست ها در مورد دیورند در حالی بیشتر شده‌است که پاکستان در امتداد این خط کار حصارکشی را آغاز کرد و در هفته گذشته سفیر انگلستان در کابل این خط را رسمی خواند. اما معاون اتحادیه اروپا این خط را جعلی خوانده‌است. وزارت سرحدات، اقوام و قبایل افغانستان می‌گوید که بحث ها در این مورد نشان می دهند که زمان تغییر کرده و دیپلوماسی فعال تلاش های اقتصادی افغانستان حالت جاری را به نفع خود چرخانده می تواند.**

***"کدام سندی میان افغانستان و انگلستان در مورد خط دیورند عقد نشده است"***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کابل - آگاهان امور می گویند که خط فرضی دیورند، به خاطر عدم موجودیت قرارداد بین طرفین، ماهیت حقوقی نداشته و این خط، بالای افغان ها با زور و اکراه تحمیل شده است. "تحریک لوی افغانستان"، امروز یک نشست را تحت عنوان "دیورند، خط قبول نشده" در کابل برگزار نمود. عبدالجمیل وقار رهبر این تحریک گفت که دریای اباسین، سرحد لوی افغانستان است و در هر دو طرف خط فرضی دیورند، یک قوم زندگی میکنند. وی افزود: "اگر به تاریخ نظر بیندازیم چیزی به نام سرحد رسمی در مورد این خط نمی بینیم، اما پاکستان**




**که اصلاً زادۀ انگلستان است، در این اواخر تبلیغات منفی را به راه انداخته و کار های نصب سیم خاردار را در این منطقه آغاز کرده است. "به گفتۀ وی، بخاطری این سیمینار را به راه انداخته تا نسل آینده کشور، از چگونگی ماهیت این خط آگاه شوند و این داعیه را زنده نگه بدارند. تاریخدان اکادمیسن سلیمان لایق در این سیمینار گفت: "در مورد خط فرضی دیورند، کدام سند رسمی وجود ندارد و نه هم امیر عبدالرحمن خان، هم چو سندی را امضا کرده تا به اساس آن، خط دیورند شکل رسمی را بگیرد."**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی افزود: "اینکه در آن زمان قدرت و قوت انگلیسها زیاد بود و در افغانستان نیز یک حکومت تحت الحمایه تحت رهبری امیر عبدالرحمن حاکم بود، آنها (انگلیسها) به صلاحیت خود این کار را انجام داده و هر دو جانب (افغانستان و هند برتانوی) در این مورد به کدام موافقه نرسیده اند."




به گفتهٔ موصوف، انگلیسها در آن زمان از هیچ کشوری شکست نخورده بودند، اما در افغانستان دو بار شکست خوردند که بعد از آن، موضوع خط دیورند را بخاطر ایجاد کردن مشکل به میان آورده و آن را بطور یک معضله، لاینحل گذاشته اند. وی افزود: "مه در طول زندگی که در این مورد تحقیقات نموده ام، کدام سندی را به دست نیاورده ام تا گواه امضای سند خط دیورند از سوی امیر عبدالرحمن باشد؛ این تنها تهمت است که گویا کدام سند از سوی امیر عبدالرحمن امضا شده باشد."

حبیب الله رفیع از تاریخدانان مشهور کشور نیز گفت که در مورد خط فرضی دیورند، کدام سند رسمی وجود ندارد تا امیر آن را امضاء و قبول کرده باشد. وی گفت: "در مورد معضله خط دیورند، نامه های زیادی میان امیر عبدالرحمن و هند برتانوی تبادله شده که امیر عبدالرحمن، بالای متون آن انتقاد نموده و در این مورد همه خواسته های آنان را رد کرده است."

به گفتهٔ وی، افغانستان مناطق آن سوی خط فرضی دیورند را به انگلیسها برای مدت زمانی بطور اجاره داده بود. رفیع گفت: "غازی امان الله خان زمانیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استقلال افغانستان را اعلام نمود و انگلیسها آزادی افغانستان را به رسمیت شناختند، انگلیسها گفته بودند که بعد از این بشمول دیورند و گندمک، همه معاهداتی را که با افغانستان عقد نموده بودند، لغو میباشد. پس بعد از آنکه امیر امان الله خان پیسه انگلیسها را نپذیرفت، از همان روز اجاره نیز لغو میباشد و مناطق آن سوی دیورند، مربوط افغانستان میشود." به گفتهٔ وی، انگلیسها این منطقه را برخلاف قوانین بین المللی، در حالی به پاکستان سپرده اند که هیچکس حق آن را ندارد. عبدالغفور لیوال محقق و نویسندهٔ کشور گفت، همه مناطق آن سوی دیورند، ملکیت افغانستان است و خاک خود را تنها از طریق زور از خود کرده میتوانیم. وی افزود: "کشور ما در بین کشورهای دارندهٔ اتُم موقعیت دارد، پس اگر ما میخواهیم خاک خود را دوباره بگیریم، ضروری است که خود را از نگاه اقتصادی و نظامی به جایگاه و مقام کشور های منطقه برسانیم. "وی گفت اگر افغانستان خاک خود را به دست نیاورد، ناممکن است که امنیت و ثبات افغانستان و منطقه تامین گردد.

د ډیورنډ ناسور زخم، او د کورنیو او بهرنیولوبغاړو غونډې:

له نن څخه (۱۲۷) کاله وړاندې برتانوي استعمار د افغانستان کوزه خاوره له تزاري روسانو سره په توافق داسې یاده شوې چې د ډیورنډ په نوم یو انگریز افسر له یادو سیمو یوازې په فرضي ډول تېرشوی او پر هغې یې دعائقې (داسې سیمې نوم کېښود چې هلته به د تزاري روسانو او انگریزانو ترمېنځ دا سیمه صفري نقطه وي.) د هند نیمه خود مختاره مشر رنجیت سنگ هم له یادې سیمې څخه د برتانوي استعمار د پوځي گټې اخېستو په بدل کې د هغه وخت افغان چارواکو ته هر کال ( ۱۸) کروړه روپۍ اجاره ورکوله، کټ مټ لکه روسانو چې د ماناس هوایي اډه او هوایي قلمرو امریکې ته په اجاره ورکړی وو، او یا هم پاکستان چې د بلوچستان د تفتان او پېښور هوایي اډې امریکې ته په افغانستان کې د تروریزم په نوم جگړې لپاره په اجاره ورکړی وي او ناټو له پاکستان څخه خپلو اهدافو ته د ورلنډېدو لپاره د پیسو په بدل کې له دغه ډول اجاره کړیو اډو څخه کار واخېست، طالب رژیم یې پرې رانسکور کړ، خو د هغو اډو اجاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو مانا دا نه وه چې ماناس، تفتان او پېښور دې وروسته د کرښې یا پولې په توګه ومنل شي، ځکه دغه قراردادي اډې هم مؤقتي او د پردیو ولسونو او هېوادونو خاوره ده او هغه د ډیورنډ کرغېړنه کرښه هم کټ مټ همداسې د پردیو استعماري ځواکونو د فعالیت لپاره یوه قراردادي فرضي کرښه وه چې د سیمې د پرتو ولسونو برخلیک یې هم د همدې لرې او برې سیمې په مېشتو ولسونو پورې اړه لرله او لري یې، خو پردۍ خاورې، پردي ولسونه، پردۍ کورني او پردي غیر منقول جایدادونه هېڅکله هم په هېڅ شکل د استعماري ځواکونو په پوځي او سیاسي ډانګونو نشي سره پیلېدلی.

اوس چې په سیمه کې برتانوي یرغلګر استعمار شتون نلري او هغه قرارداد هم د هند او افغانستان ترمېنځ لاسلیک شوی وو، خو وروسته برتانیه هم له هند څخه ووتله، له یاد قرارداد څخه هم کلونه وخت تېرشوی او له هغې را وروسته نور هېڅ قانوني اړخ او مشروعیت نه لري، افغان حکومتونو هم هېڅکله دغه کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې، په پردۍ خاوره باندې د نوزاد پاکستان له ناقلو چارواکو سره هم کوم داسې کره سند نشته چې له مخې یې دا کرښه څوک په رسمیت ورسره ومني. خپله عبدالرحمن خان هم دا کرښه نه ده منلې، ځکه کله چې نوموړي ته ددې کرښې د رسمي کولو خبره ورسېدله، هغه یې په ځواب کې داسې غبرګون ښودلی چې: «په سیمه کې پراته ولسونه، د هغوي ځمکې، کورونه، جایدادونه، کورنۍ، خور، ورور، پلار، لور او زامن هېڅکله نشي سره ویشل کېدی، زه یې نه منم.» هغه خبره هماغسې پاتې شوه. خو کوم د پټې کار چې د بغدادي پیر په نامه یوه پردي بې هویته اولادینه جاسوس د عبدالرحمن خان په غیاب کې په سوات کې له انګرېزانو سره لاسلیک کړی، په هغه کې هم د افغانستان د حکومت استازي وجود نه درلود، ځکه آخر عبدالرحمن خان خپل زوی امیر حبیب الله خان ته د بې هویته پردي جاسوس د نیولو او وژلو ژر تر ژره سپارښتنه وکړه، چې د شاه امان الله پلار امیرحبیب الله خان هغه کس ونیو او په عامه محضر کې یې په خلکو باندې سنګسار کړ.

د افغانانو له دې عکس العملونو څخه هم دا معلومېږي چې ډېورنډ کرښه نه پخوا چا په رسمیت پېژندلې، نه یې اوس څوک په رسمیت پېژني او نه به یې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې څوک په رسمیت وپېژني. د برتانوي استعمارپه وړاندې د افغانانو له درې ځلې ملي پاڅونونو او جګړو هم دا ثابته شوې چې د یرغلګر شرمښ په خوله دا وېش نه پخوا افغانانو منلي و، نه یې اوس مني او نه به یې وروسته له دې ومني، بلکې اوس ددې وخت راغلی چې د ماتې خوړلي استعمار په لاس جوړ شوی مصنوعي هېواد (پاکستان) نور باید ختم شي او دا د نړیوالې ټولنې فریضه ده چې د هند برخه دې بېرته هندوستان ته وسپاري او د افغانستان برخه دې بېرته افغانستان ته ور وسپاري. ځکه د پاکستان په نوم جغرافیه په آسیا کې د نړیوالو قوانینو خلاف یو استعماري تروریزم زیږوونکی او تروریست پروره عمل دی، نه د سیمې او ولسونو غوښتنه.

ختیځ او لوېدیځ جرمن له (۷۰) کلونو وروسته بېرته سره یو ځای، د برلین د جبر دېوال د تل لپاره ونړېد او ټوټې یې د یاد بود او پندونو عبرتونو په موخه په موزیمونو کې کېښودل شوې او ستر جرمن په یوه خوله بېرته نړۍ په رسمیت و پېژاند، خو د افغانستان پرکوزه خاوره باندې اوس هم د افغانستان له مجبوریتونو څخه ناروا ګټې اخېستل کېږي او وروسته له (۱۲۷) کلونو څخه اوس هم د زور او جبر خندقونه په کې کیندل کېږي او اغزن سیمونه اوکټارېورباندې لګېږي. په داسې حال کې چې لر او بر ټول پښتون قامونه د (یو موټی لوی افغانستان، افغانستان زموږ کور دی) چیغې وهي، خو نړۍ د خپلو ګټو لپاره ځانونه ړانده، کاڼه او بې خبره ورباندې اچولي، هم یې د پاکستان له خاورې څخه زموږ خاوره اشغال کړې، په لکونو افغانان په کې ووژل شول، په پوډرو معتاد، په فساد اخته او په مافیایي کارونو روږدي شول، د میلیاردونو ډالرو په ارزښت ملي شتمنۍ یې چور، لوټ او غلا شوې او هم په هر څه کې په لوی لاس د پاکستان ننګه په کې کېږي.

پاکستان چې کله په خپلو غیر قانوني کړنو کې پاتې راغلی، نړیوالو او سیمه ییزو خواخوږو یې سملاسي د خلاصون لارې ورته لټولې او نور یې هم په مادي او معنوي لحاظ نازولی دی. له دې توپیري چلن نه افغانانو ته داسې ښکاري چې نړیوالو په افغانستان کې تل د پاکستان د غیر قانوني او بشري ضد کارونو ترسره کولو ننګه او معامله کړې ده، ځکه تل یې د افغانستان په غریب او لوېدلي هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اوبه خړې کړي او دوی خپل کبان په کې نیولي دي. په دې مانا چې پر افغانانو باندې یې د پاکستان له لوري په خپل زر، زور او تزویر سره خپله مهندسي کړې جګړه ورتپلې ده، افغانان یې څوک د تعصب او واک په تبه نیولي، څوک یې د راتلونکي واک په تمه کښېنولي او د خپل نظام او خپلې خاورې د تخریب لپاره یې په مادي، سیاسي، نظامي او اقتصادي لحاظ پېټ تمویلوي. څوک یې په پوډرو او نشو سره له خپلې ټولنې بېل کړي، ځکه ددوی له خپلو آدرسونو او رسنیو څخه مونږ ته اعلانېږي چې تراوسه پورې (۳۳۰۰۰۰۰) افغانان په پوډرو او نشو باندې معتاد شوي. مانا یې داده چې د افغاني ټولنې د نفوس لسمه برخه بشري قوه یې راته فلج او له کاره وغورځوله.

چاته یې د خپلو ملي زېرمو غلا کولو لپاره سامان آلات سپارلي او د پولې ترشا یې خپل مافیایي او د غلو ماهر ګروپونه ورته کښېنولي، چا ته یې د جګړې د دوام مدیریتونه سپارلي او څوک یې د جګړه ییز توازن ساتلو په خاطر د دفاع لپاره ورته درولي، چاته یې د خپلو او پردیو امنیتي ملېشوا چارې ورسپارلې او څوک یې د حکومت د ملي کارونو او ملي یووالي د مخنیوي په خاطر په مخرب اپوزیسیون کې ورته ځای پر ځای کړي دي. خو دوی خپله په خورا حساسو زونونو کې د سترو ملي زېرمو د دوامداره او بې خپوره غلا کولو لپاره ورته ځای پرځای شوي. که څوک یې مزاحمت وکړي او یا پرې پوه شي چې ګنې ولسي استعمار ضد پاڅونونه به یې پرضد را وپاروي، نو په هغوی کې یې بیا د سره بېل یې کړه، اېل یې کړه، چرچلي فورمول کارولی ترڅو په ډاډمنه توګه خپلو غلاګانو ته دوام پرې ورکړي او یوازې خپل ځانونه او خپل هېوادونه زمونږ له ملي زېرمو څخه د اوږدې مودې لپاره تمویل کړي.

تاسو وګورئ روسان یې پر مجاهدینو باندې په افغانستان کې ووهل او روسي امپراتوري یې ور دړې وړې کړه، مجاهدین یې پرطالبانو باندې ووهل، طالبان یې بیا خپله ووهل، اوس همغو روسانو د ایران او پاکستان په ملاتړ د امریکې د حضور پرضد هڅې پیل کړې او غواړي له دې لارې د افغانستان تشه خپله روسان ډکه کړي. خو نن امریکه بېرته د بن غونډې وروستۍ اداره د طالبانو او نورو مخالفینو په لاس تر فشار لاندې نیسي، ترڅو خپل حضور په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربانديې اوږد او خپل شرطونه وربانديې تحميل کړي.

که چېرې داسې نه وي نو بيا په دغه (۱۷) کالو کې د نړيوالو په حضور کې افغانستان ولې وران ويجاړ پاتې شو؟ ولې له فساد څخه خلاصه اداره په کې جوړه نشوه؟ ولې امنيت ورځ تربلې پکې خراب شو؟ ولې ترورېزم وده په کې وکړه؟ ولې د ترورېزم سرچينې نه وچېږي؟ ولې د ترورېزم ملاتړي نه ځپل کېږي او لا پسې تمويلېږي ؟ ولې ترورېزم تراوسه پورې تعريف نه شو؟ ولې له ترورېزم څخه داعش او نورې ډلې را وزېږېدلې؟ ولې په افغانستان کې سوله نه راځي؟ ولې د سولې له پاره داسې عناصر ټاکل کېږي چې تل د جګړو عاملين او اصلي ممثلين بلل شوي؟ ولې د واک پرمهال افغان چارواکي پر حقايقو پټه خوله وي، خو چې له واک څخه ليرې شي نو بيا د خپل ځان درنې او د بل سپکې وايي؟ داسې خو به نه وي چې واک ته د رسېدو د ګډيو وعدې به دغه ډول کسانو ته له بل ځای څخه د نورو له خوا په اجاره ورکول کېږي؟ ولې پرته د حکومت له خوښې په خپل سر لويې جرګې په افغانستان کې يوه ته د واک ورکولو او بل پرې له واک څخه د لرې کولو لپاره را بلل کېږي؟ ځکه په اصطلاح داسې لويې ـ خو په حقيقت کې دمخه مهندسي شوې جرګې د سپينې کودتا په مانا دي او غواړي چې پرمټ يې اوسنی حکومت تر خپل ميعاد پوره کېدو مخکې د روسانو په لار بنوونه او د پاکستان او ايران په ملاتړ را وپرځوي. خو ملت او حکومت دواړه پردغه ډول زرګري ژبو لا دمخه ښه پوهېدلي دي.

په دې شپو ورځو کې د ډيورنډ په هکله د رسنيو بازار هم ډېر تود شوی. هر چا د خپل زړه بړاسونه په کې وايستل. پاکستان خو خپل کار جاري ساتلی. په دې مانا چې له يوې خوا پر سرحدي سيمو توغنديز بريدونه کوي، بل لور ته يې پر کربنه د خندقونو کېندلو او اغزن تار او کټارو لګولو کار جريان لري، خو له بله اړخه بيا د سولې خبرې روانې دي او د ډيورنډ په اړه د کنفرانسونو تابياوې په لندن کې نيول کېږي.

څو ورځې مخکې په کابل کې د انګليس سفير په يوه مرکه کې په ډېره بې شرمۍ سره په خپلو خبرو کې په غيرمسؤلانه توګه په ډاګه وويل چې: «ډيورنډ د افغانستان او پاکستان ترمېنځ رسمي پوله ده.» خو بلخوا بيا انګلستان او پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه ددې ناولې کرښې په اړه هېڅ کره اسناد او ثبوت په لاس کې نه لري. کومې خبرې چې هغه وخت د رنجيت سنگ او امير عبد الرحمن خان ترمنځ ددې عائقې سيمې په تړاو شوې دي، په هغو کې د (۱۸) کروړه هندې روپيو د قراردادي اجارې خبره ذکر شوې چې هر کال به د برتانوي هند له لوري افغانستان ته ورکول کېدلې. اوس خو برتانيه آن د اروپا شمال غرب ته ورټوله شوې، امپراتوري يې پای ته ورسېدله او پوځ يې په قبايلي سيمو کې له تېرو (٦٧) کالو راهيسې نشته، قرارداد هم ختم دی، د پيسو د ورکړې خبره هم له هغې ورځې را په ايسته ختمه شوې، له کومې ورځې چې هندوستان له برتانيې څخه خپلواکي اعلان او د عائقې سيمې په پلمه پاکستان د انگرېزانو په لاس د هندوستان او افغانستان پر خاوره باندې د مسلم ليگ (انگرېز ليگ) تر مشرتابه لاندې جوړ شو، چې ختيځ لوري ته يې هند پولې نه مني او لوېديځې خوا ته يې افغانستان نه مني او نه يې منلی دي، ځکه له همغې ورځې را په دې خوا دواړو خواوو ته جنگ جگړې روانې دي.

که چېرته پر افغان چارواکو باندې د فشار د آلې په توگه له دغه ډول کنفرانسونو څخه ناوړه گټه پورته کېږي او د کنفرانس کوربه هېواد انگلستان افغان خاوره او په کې پراته افغان قامونه او ولسونه د يرغمل کړې سولې او څو روپيو مرستو را ټولولو قرباني گرځوي، نو دا په هېڅ صورت کې لر او بر افغانستان ته د منلو وړ نه ده، بل دا چې که له پاکستان سره پوله ټاکل يې موخه وي، نو د افغانستان پوله پر اټک او اباسين باندې ده، ځکه د لوی او لرغوني افغانستان اصلي پوله له لوی هندوستان سره پر اټک او اباسين باندې وه، ده او وي به.

دا چې انگرېزي استعمارله هندې پنجاب څخه د هندوستان د آزادۍ مخالفين او د دوی خپل اصلي جاسوسان سره را ټول او د پاکستان په نامه يې د خپل استعماري پوځ پر مټ د پاکستان د ځمکنيو زېرمو را ايستلو او غلاکولو لپاره نوې جغرافيه ورته جوړه کړه، واک يې ټول همغو راوستل شويو پنجابيانو او د سيمې ځينو نوابانو او اربابانو ته وسپاره، قانون او د پوځ ساختگې ژبه (اردو) يې هم خپل ميراث ورته پرېښودل او تر نن ورځې پورې د همغه انگرېزي قانون پر اساس په ټول پاکستان کې جمهور رئيس، صدراعظم، وزير اعلی، گورنر، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځي او استخباراتي ادارو مشران، مرکزي او د صوبو وزيران او اسمبلۍ ټول له همغه (۹۲) منتخبو کورنيو څخه له بهره ورته ټاکل کېږي، کومې چې تل د انګرېزانو په څنګ کې يې د انګرېزانو په ملاتړ له پخوا څخه اقتصادي وده کړې ده، غزل او نصب يې ټول له بهره ترسره کېږي. خو کورنۍ او بهرنۍ ټول واک اختيار يې يوازې پنجاب ته ورکړی. اوس غواړي چې افغانستان هم د بهرنيو په ملاتړ په همدې ناروغۍ اخته کړي، ځکه افغانان يې له تېرو (۴۰) کالو را په ايسته وغولول چې په ځينو سيمو کې يې د «ډې وايډ اينډ رول» نښې نښانې په ډاګه همدا اوس تر سترګو کېږي.

انګليسانو نه يوازې افغانستان ته، بلکې ټولې دنيا ته د نړيوالې سر مشريزې په خاطر سترګې پټې کړې او د نړۍ اوسنۍ سرمشريزه په خپله ائتلافي انډيوالۍ کې تېرباسي. دوی غواړي پخپله دې ګېم وهلو سره د سيمې ټول نيولي هېوادونه او ځواکمن رقيبان نور هم د نړيوال ائتلاف په همکارۍ سره خپل ځانته ضعيف، نړيوال ائتلاف بدنام او نړيواله سرمشريزه پرې د ځان او خپله زړه امپراتوري يو ځل بيا د نړيوال ائتلاف په ملګرتيا کې راژوندۍ کړي. ترڅو د ټولې نړۍ ټولې زېرمې خپله داسې چور او غلا کړي لکه د هلمند له ديشو ولسوالۍ څخه يې چې پوره (۱۳) کاله د ميلياردونو ډالرو په ارزښت خام يورانيم او ترياک د موسی کلا له لارې په الوتکو کې په غلا سره يووړل خو( سي آی اې) وروسته بيا افشا کړل.

بل لور ته د ائتلاف ځينې غړي هېوادونه او سيمه ييز ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې په امنيت راتلو، سولې او قانون مند خود جوشه افغانستان شموله دولت او حکومت باندې خوښ نه دي او نه غواړي چې په افغانستان کې دې د يوې بشپړې افغان شموله خپلواکې مديريتي ادارې تررغنده چتر او واک لاندې امنيت او سوله راشي او بيا رغونه دې په کې پيل شي. ځکه زموږ شرقي او غربي ګاونډيانو(پاکستان او ايران) د افغانستان بې مديريته خوشې بهېدونکو اوبو او پر افغانانو باندې خپلو بې کيفيته توکو پلورلو ته سترګې پټې کړې او فدرالي روسيه بيا دې ته غلې ده چې ناټو له افغانستانه ووځي او پر ځای يې سملاسي يوځل بيا دوی خپله افغانستان اشغال کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرب او ایران هم غواړي چې د خپلو مداخلو له لارې له افغانستان څخه د منځني ختیځ هېوادونه (فلسطین، اردن او لبنان) جوړ کړي. هند او پاکستان بیا په افغانستان کې د خپل استخباراتي مار او موش خرما لوبه پیل کړې، خو د چین اقتصادي (ښامار) خو آن له بیجېنګ او سینکیانګ څخه د منځنۍ آسیا خذر بحیره، چابهار او ګوادر اوبه څاري. چې ددې ټولو لار پر افغانستان باندې ده او لومړیتوب یې دا دی چې تر هر څه ړومبی د افغانستان له سینې څخه د ناټو خپسه پورته شي او دوی په ډاډه زړه پخپله خوښه په سیمه کې خپل توسعه یې اقتصادي پروګرامونه پیل کړي خو افغانانو، افغان نظام او افغان خاورې او د افغانستان فضایي حریم ته هېڅوک په خپلو دغه ډول سیالیو کې پام او احترام نه دی ساتلی، ځکه خو یې قرباني افغانستان او زموږ په هېواد کې ټول مافیها شول او دي.

زما له خپلو ټولو افغانستان دوستو هېوادوالو، ملي مشرانو او حکومتي چارواکو، روڼ آندو، متخصصینو او د قلم له خاوندانو څخه تمه ده چې د ملي یوالي او حبل الله په رسۍ باندې دې پر یوه ملي محور سره را ټول، دولت دې په بشپړه ملي روحیې سره په خپلواکه توګه وساتي، د جګړو پر ځای دې تلپاتې سوله او خپلواکه افغاني اداره ټینګه کړي، تر څو د پردیو مغرضانه ورانوونکو مداخلو مخه پرې ونیول شي او په خپلواک افغانستان کې د بیارغونې پروژې پلې او هېواد او هېوادوال د ملي یووالي، سوکالۍ، ښېرازۍ او ځواکمنېدو خوا ته پرې ورسېږي. نه دا چې د لندن په څېر مغرضانه غونډو کې خپل هېواد د پردیو او خپلو ګټو لپاره ړنګ، د افغان ولس پرسینه باندې د ډیورنډ ناسور زخم د تداوۍ پرځای نور هم سره وشړوي او خپل هېواد وال په کې ژوبل او مړه او د ډېرین دور خواته یې پرې ورټېل وهي.

## افغانان عدالت غواړي:

لکه چې په نورو ویناګانو کې ورته ګوته نیغه شوې وه، د افغانستان خلک په تېرو څه کم څلورو لسیزو کې د اوږدې جګړې د اور په لمبو کې سوځي. هغوي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې عقیده دي چې د هېواد د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو اډانو په ویجاړولو کې د نړۍ او سیمې یو شمیر زبرځواکونه او سیالي کښ هېوادونه شامل دي. که څه هم چې زموږ د خلکو عمومي وروسته پاتېوالې، په سیاسي بعد کې ایدیولوژیکو چلندونو او نورو لاملونو خپلې اغېزې ښېندلې، خو د اسلامي پاکستان دوښمنانه او یرغلیزو کړنو د افغانستان په تباهۍ کې تر هر بل لامل زیاته برخه لرلې ده. پاکستان نړۍ ته د افغانستان اړوند څکه دوکه ورکړه چې بې له دې یې د خپل بې تاریخه او مصنوعي هېواد د پایښت او ودې ممکنې لارې چارې نه شوی لټولی. اوس پاکستان افغانستان او سیمه په داسې ناسور ټپ اړولې چې د هرې ورځې په تېریدو یې د افغانانو کړاو ډېرېږي او پاکستان ګټه کوي. زموږ هېوادوال حق لري د خپل هېواد د ویجاړېدو، د ولس د پرله پسې کړېدو او د وژونکې جګړې مجرمین نړیوال عدالت ته راکش کړي.
ښایي زیات هېوادونه او سازمانونه په افغان خاوره د جګړې د پیلولو او د سترو بشري جنایتونو په سرته رسولو کې لاس ولري، خو د پاکستان رول په دې اړوند ډېر تبا کوونکی دی. څومره چې انګریزانو د افغانستان خاوره په ټوټو ټوټو ویشلې او هره ټوټه یې په تېرو څو پیړیو کې د خپلو تېري کوونکو پالیسیو د لابراتوار په توګه کارولې، پاکستان هم په تېره څه کم یوه پیړۍ، په ځانګړې توګه وروستیو درې لسیزو کې ورته چلند سرته رسولی دی. پاکستان د خپلو جنرالانو د ارمان پوره کېدو په هیله کابل او ټول افغانستان ورو ورو سوځولی او خپل ځان یې په سیمه ایز ځواک اړولی. د افغانستان واکمنو او اړوندو دولتي ادارو د هېواد د بچ کېدو په موخه، تر دې دمه د پاکستان د محدودیدو عملي او بریالۍ پالیسۍ نه ده لرلې.
تاریخ مهم چانسونه د افغانانو په برخه کړل لکه، د هند اوپاکستان د څو جګړو طلایي فرصتونه، په شلمه پیړۍ کې د کابل ـ ډیلي او مسکو د ګډو ګټو د لیکې جوړېدل، په ۲۱ مه پېړۍ کې د کابل ـ ډیلي او واشنګټن ګډې ګټې په یوه لیکه واقع کېدل او تر دې دمه د هغې ادامه او نور، خو د هېواد مشرتابه او په ټوله کې هېوادوالو، د پورته لاسته راغلو مهمو شېبو څخه د افغانستان په ګټه اړینه استفاده ونه کړه. تاریخ شاهد دی تر څو چې د افغانستان د دروازو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې د پېښور او کوټې مورچې د پنجاب په لاس کې وي، د هېواد د انګړ په دننه کې د افغانانو ډاډه ګرځېدل را ګرځېدل لامهال ښکاري او د نیم تنه هېواد خلک تل بې مورا‌له، محتاجه او د ملي مهمو مسئلو په حل کې د اړین مانور کولو څخه محروم برېښي.

په همدې تصور پاکستان غواړي په خپل ګاونډ کې یو شل، محدود او تلپاتې کمزوری افغانستان ولري. پاکستان د افغانستان، هند او سیمې په هکله د تېري د ځانګړې ستراتیژۍ د پلي کولو په دایره کې تېری کوونکی پوځ او د اې اس اې په څېر دوزخي استخباارات جوړ کړي چې په اټومي وسلو سمبال دي. د دې سره جوخت یې په دیني مدرسو کې د ترهګریزو بریدونو په موخه اسلامي بنسټپالې روزلي چې د بېلا بېلو ورانکاریو لپاره یې افغانستان، د سیمې هېوادونو او نورې نړۍ ته لېږي. چېرې چې ترهګریز برید کېږي، په یوه یا بله بڼه د پاکستان له نامه سره غوټه خوري. له دې کبله پاکستان او ترهګري یو له بل سره تړلې دي. اوس نړۍ ته هم پته لګېدلې چې پاکستان د اټومي وسلو او تکنالوژۍ د لرلو او خوندي ساتلو فرهنګ نلري او د امریکا د پخواني سفیر حسین حقاني په قول، نور پاکستاني جنرالان د تېر په څېر د ټولو اسلامي اورپکو د کنټرول واک په لاس کې نه لري. د امریکا د متحده ایالاتو د وارخطایۍ څخه جوتېږي چې د ډېر اوتر او هرې خوا لاس اچونکي پاکستان په واک کې د اټومي او اسلامي بمونو شتون نړۍ او سیمه یو شان ګواښي.

حالات دومره ترینګلې شوي چې، که پاکستان د افغانستان او هند د خطر خبرې بس کړي او د ترهګرۍ څخه هم لاس واخلي، هغه هېواد په خپله سقوط کوي او که خپلې افغاني ضد او هندي ضد پالیسۍ چلولو ته د تېر په څېر ادامه ورکړي، نړیوال اغیز لرونکې ملاتړي نشي موندلی. په دې بنسټ افغانانو ته یو ځلې بیا ښه موقه په لاس ورځي چې د ناسمو پالیسیو په ګرداب کې د راګیر شوي پاکستان د لا ګوښه کولو او په نهایت کې نړیوالې محکمې ته د هغه هېواد د راکش کولو لپاره هېوادوال، په تېره بیا روڼ اندي سره لاسونه ورکړي. دا موضوع د خپل خصوصیت له مخې یوه سیاسي حقوقي او مسلکې موضوع ده چې مخته بیول یې پوره اړینه پوهه، هوښیاري او ځیرکتیا غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سیالیو کې اموخته شوي افغانانو ته په کار ده چې د پاکستان څنډې کولو ته ګرندی هر اړخیز فعالیت او سالمه سیالي وکړي. په برتانیا کې د افغانانو د عدالت غوښتنې مرکز (مدا) چې د ۲۰۱٦ز کال په جولای کې پرانېستل شوی، غواړي، د پاکستان د منزوي کېدو لپاره د افغان او بهرنیو حقوق پوهانو او کارپوهانو یوه اجماع راوغواړي، د افغانستان اړوند د ټولو مظالمو او تېریو لاسوندونه ومومي چې د پاکستان د پوځ او اې اس اې له خوا شوي او په پای کې هغه هېواد د جنګي جرمونو د ارتکاب له امله نړیوالې محکمې ته راکش کړي.

ټاکل شوې دندې پلي کول یو هر اړخیز مسلکي کار دی چې باید د بهر میشتو مینه والو افغانانو او د هېواد دننه هغه هېوادوالو له خوا پلي شي چې د یاد شوي کار په حساسیت پوهېږي. لکه چې محترم همایون تاج ورته په خپله وینا کې ګوته ونیوله، د پاکستان د ګوښه کولو او نړیوالې محکمې ته د هغه د کشولو نوښت په ټولو هغو هېوادوالو اړه نیسي چې له ډېر پخوا یې په دې اړوند د نظریو راکړه ورکړه او مشوره کوله.

مدا د خپلو موخو د پلې کولو په هدف په برتانیا کې د افغاني او برتانیایي حقوق پوهانو د یوي کړۍ سره اړیکې ټینګې کړي او د یو شمیر وتلو کارپوهانو سره یې د مشورو د پیلولو تکل کړی چې څنګه د پاکستان د منزوي کېدو او نړیوال عدالت ته د هغه هېواد د وړاندي کولو لارې چارې ولټوي. مدا د افغانستان د حکومت د یو شمېر چارواکو، په تېره بیا د امنیت شورا سره اړیکې نیولې او د هغوي په غوښتنه یې په کابل کې د استازولۍ د یوې کاري او اغیز لرونکې ډلګۍ د معرفۍ کار هم بشپړ کړی. مدا ته اوس روښانه شوې چې تر څو د پاکستان د انزوا او عدالت ته د وړاندي کولو په هکله فکري کار غښتلی نه شي، یو شمېر ساده زړي افغانان د هغه هېواد د ریښتینې څېرې په کتلو نه شي بریالي کېدلی.

همدا اوس یو شمیر هېوادوال شته چې د پاکستان د تبلیغاتو د اغېزي لاندې د خپل وطن د ورانولو په نه بښونکي عمل لګیا دي. موږ اوس د مدا په چوکاټ کې تصمیم نیولی چې د فکري کار د کرښو د واضح کولو په نیت یو سیمینار راوبولو او له هغو حقوق دانانو او کارپوهانو بلنه وکړو چې د موضوع اړوند علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحثونه وکړي او د عملي فعاليت يو ټاکلی چوکاټ ترسيم کاندي. څرنګه چې د پاکستان د انزوا او عدالت ته د کش کېدو کار د مدرحاله د بهرنيانو په مالي امکاناتو شونی نه دی، له دې امله د سيمينار په څنډه کې به د مخته پرتې ملي مهمې دندې د پلي کېدو د مالي اړخ د برابرولو او پياوړتيا اړوند هم نظر واخېستل شي.

همدارنګه د سيمينار په بحثونو کې به د موضوع په دې اړخ چې د پاکستان انزوا او ټپله کول يوازې يو سياسي تبليغاتي فعاليت نه دی، بلکې هغه يوه ستره سربښندنه ده، خبرې اترې وشي. ځکه له دې سره برسيرن او په بې احتياطۍ چلند کول، بې ځايه سيالۍ هڅول او له مسلکي پولو وتل د موخې څخه د ځان د لېرې کولو په مانا دي. مدا ستاسو سره د خپلو تجربو د شريکولو په برخه کې ځان ژمن بولي او له تاسو هم په درناوي هيله کوي چې د خپلو ارزښتناکو تجربو د تبادلې له بهير سره مو په اړيکه کې ساتئ.

که د اروپا ميشت علاقمند افغاني حقوق دانان، کارپوهان، سياسي، فرهنګي، ټولنيز او مدني شخصيتونه او د هغوي ټولنې په خپلو ميشت ځايونو کې يو له بله سره اړيکې ټينګې کړي او د پاکستان د منزوي کولو په اړتيا او اهميت خبرې اترې وکړي او لاسته راغلې پايلې د يو او بل د خبرتيا په موخه سره شريکې کړي، باور شته چې په دې اړوند د اروپا په کچه د څرګندو اهدافو د تعريف او د هغې د پلې کېدو مشخص ميکانيزم ټاکلو ته زمينه برابرېږي. دا بايد په ياد ولرو چې عدالت ته د پاکستان د مخته کولو دنده د هر افغان په اوږو لوېږي او د دې سترې ملي دندې په سرته رسولو کې د بهر ميشتو حقوق پوهانو، کارپوهانو او اګا وطنوالو رول او مانور د ډېرې پاملرنې وړ دی، ځکه په بهر کې اوسېدونکې افغانان د خونديتوب د لرلو او اړينو سرچينو ته د لاسرسي له پلوه په نسبي مساعد موقعيت کې قرار لري. له دې امله زموږ ټولو دندې ډېر اهميت مومي او پېچلې کېږي. د هېوادوالو يو خواخوږی وايي هغه افغان نسل به وياړمن ژوند ولري چې په ګاونډ کې يې د پاکستان په نامه دولتي سياسي تشکيلات له منځه تللې وي.

د جنګي جرمونو د محکمو د اصل له مخې، راځئ چې ژر نړيوالې محکمې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان مخامخ کړو، تر څو د هغو وطنوالو روح ښاد شي چې د هغه هېواد د مظالمو او تېريو له امله يې خپل خوږ ژوند او تېوله هستي د لاسه ورکړې او هغه څوک په سزا ورسول شي، چا چې دا جرم تر سره کړی دی. همدارنګه د جنګي جرمونو يوه بريالۍ محکمه کولی شي زړه بګنونکې تير ته لاره ورکړي چې ارام پريوځي او د هغې پر پايلو يوه سوله ايزه راتلونکې ودانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پينځم څپرکی

# اعليحضرت شاه امان الله خان غازي



## اعليحضرت شاه امان الله خان غازي (۱۸۹۲- ۱۹٦۰)ز کلونه:

غازي امان الله خان هغه لارښود وو چې پر هېواد، خپلواکۍ او وګړو مَـين وو! د دې له پاره چې زموږ د هېواد د خپلواکۍ غښتلی مبارز په اړوند پوره مالومات ولرو اړينه وه چې د يو شمېر وتلو تاريخ پوهانو او وتلو ليکوالانو له ليکنو د سند په توګه استفاده وکړم. دا چې امان الله خان د ګوتو په شمېر مخالفين څه ډول ليکنې کوي، دا د دی مانا نه لري چی رښتيا به پټ شي ولس قضاوت کوي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مېړنی ولس هېڅکله د چا ښې کړنې او بدې کارنامې او د هېواد سره خیانت کول د ولس قاتلین او ددې هېواد لوټ ماران د پردیو غلامان نه هېروي، اتلان لمانځي او خاینان غندي.**

**د هېواد د خپلواکۍ د بیا ترلاسه کولو په لمانځورځو کې هغه نوم چې له خپلواکۍ سره نه بېلېدونکی تړاو لري د اعلیحضرت شاه امان الله خان غازي نوم دی. کله چې د هېواد له خپلواکۍ څخه نوم اخېستل کېږي نو په هېواد کې به په څه پوه، په خپلواکۍ مین، آزادیپال او هېوادپال و نه موندل شي چې د خپلواکۍ د گټونکي سروال، هېوادپال او سرښندویه نومیالي غازي اعلیحضرت امان الله خان په یاد ونه لوېږي او د هغه ارواښاد نوم په درنښت یاد نه کړي.**

**د افغانستان په تاریخ کې د هېواد د پاچایانو، شهزاده گانو، امیرانو او ولسمشرانو په کتار کې (په دریو لسیزو کې بنسټپالو کیڼ او ښي اړخو ډلو مشران) له احمدشاه بابا وروسته هېڅ یو یې له غازي پاچا امان الله خان سره په هېوادپالنې، له خلکو سره مینې او د خپل سرلوړي هېواد له خپلواکۍ سره په مینې او هم د هېواد په کورنیو چارو کې د پردیو له لاسوهنو سره په دښمنۍ کې برابري نشي کولای.**

**تر اوسه د افغانستان حق پالونکی او حق پـَلـَوی ولس د غازي اعلیحضرت امان الله خان نوم دغه ستر ملي ولسي او سرښندونکي شخصیت په ژور درنښت یادوي او د زړه له کومې ورته درناوی لري. د غازي امان الله خان نوم د هېواد له خپلواکۍ سره نه شلېدونکی تړاو لري او د هغه دروند شخصیت ته سپکاوی کټ مټ د هېواد آزادۍ او خپلواکۍ ته سپکاوی دی. ځکه چې د هېواد وگړو د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو لپاره ددغه غازي هېوادپال ترمشرۍ او سروالې لاندې خپلې سپېڅلې وینې توی کړې او خپله خپلواکي یې د زبېښاک له ستوني را ایستلې ده. څه ناڅه د نهو لسیزو په تېریدو بیا هم کولای شو د سپین روبو هیوادوالو او مشرانو د یادونو د اورېدلو په وخت کې پوه شو چې د ولس د زړونو په منځ کې ددغه ستر او له پرتمه ډک لارښود مشر د دریځ او معنوي گرانښت ځای ځایگي چېرې دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلیحضرت شاه امان الله خان غازي، یو ژور روڼ اندی، متواضع او سپېڅلی، له وګړو سره د ښه چلند خاوند او د هېواد پر خپلواکۍ او پرمختګ مین پاچا ..وو. د هېواد له وګړو سره د هغه کړنه او چال چلند له پاچاهۍ او ان د پرمختګ غوښتونکو له غورځنګه مخکې د خلکو پر ژبه وو او د هغوي په زړونو کې یې ځانګړی ځای درلود. د امیر حبیب الله په دربار کې د هېواد د یو شمېر پوهانو، ځمکوالو او اغېزمنو مشرانو زامن د ((غلام بچه ګانو)) ترنامه لاندې راټول او د دربار له رموزه ښه خبر خو د امیر له چال چلنده زړه تورن وه؛ نو د امان الله خان د دغو ځانګړتیاوو او سپېڅلي کرکټر له امله وو چې دغه روڼ اندي د هغه ګردچاپېره یوه سیاسي کړۍ راتاووي او هغه یې د یوې سیاسي ټولنې د مشر په توګه چې د (جوانان افغان/افغان ځوانان) یا (مشروط خواهان دوم) پرنامه یادېدله وټاکه. له دې امله د شاه امان الله غازي نوم د (جوانان افغان/افغان ځوانان) یا (مشروط خواهان دوم) له نوم سره نه شلېدونکی تړاو لري او هر څوک که وغواړي د شلمې پېړۍ د لومړیو درو لسیزو د مبارزو په تاریخ کې شننه او څېړنه وکړي، نو هرو مرو به د لومړیو او دویمو مشروطه غوښتونکو نومونه او په سر کې د هېواد د خپلواکۍ د ګټونکي، هېوادپال او پرمختګ پالونکي پاچا غازي امان الله خان نوم ورسره جوخت اخلي.

شاه امان الله خان د (امیرحبیب الله خان زوی، د امیرعبدالرحمن خان لسمی، د امیر محمد افضل خان کړوسی د امیردوست محمدخان کوسَی، د سردار پاینده خان کَودی دی، پاینده خان د حاجي جمال خان بارکزي زوی وو او د سراحمدشاه بابا په وخت کې ژوندی وو). د ۱۲۷۱ل کال (۱۸۹۲ز کال) د جون میاشتې په لومړۍ د پغمان په دره زرګر کې د (طاق ظفر) په سیمه کې د ملکې سرورسلطان له لمنۍ چې لقب یې (سراج الخواتین) وو سترګې پر نړۍ وغړولې. د امان الله خان مور سرور سلطان د شاغاسي شیردل چې د امیر شیر علي خان د دربارشاغاسي وو، لور او د خوشدل خان بارکزي خور وه چې دغه کورنۍ د هغه د پېر یا دور له سترو خانانو څخه وه.

افغاني پوه ډاکټر اسدالله حبیب د (دورهِ امانی) د لیکنې په سریزه کې کاږي: (په داسې حال کې چې د هېڅ ډول ستراوي او د پېښو د انځورونې موخه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرم، نه شم کولای هېره کړم چې د امیر امان الله خان پروړاندې د زورزیاتي، ناتار او له انګریز سره د معاملې بېلګې ډېرې وې او زموږ د هېواد په تاریخ کې د هوساینې د لارې پرځای، له کندوُونو، غوچوړو او پیچومو ډکې لارې هم ډېرې وې او هغه دغه له اغزو او ننګونو ډکه لاره غوره کړه چې د خپلې پاچاهۍ بنسټ یې پرې کېښود).

ډاکټر حبیب زیاتوي: (نوموړي امیر خپلې ټولې هڅې د خپلو مخکنیو په څېر د سیالو ډلو د راپرځولو په لاره کې ونه لګولې بلکه د واکمنۍ له کړۍ د باندې راووت او لویو کارونو لکه د خپلواکۍ بېرته ترلاسه کول، د هېواد پرمختګ، د پوهنې او فرهنګ لوړتیا او د وګړو لپاره د مدني معاصرې ښېرازۍ برابرولو ته یې ملا وتړله. د هغه ګامونه د ختیزو ټولنو له لرغونو خویونو سره سمون نه خوړ او لویدېځو دولتونو هغه ته د یو غیرعادي او زیږ مشر په توګه کتل او پرته له شکه چې هغوی ته د امان الله خان مېړانه او هیلو ته د رسېدلو سپېڅلې توده مینه له بدسترګۍ او رخې سخې تشه نه وه). (۱)

د افغانستان د حق پالونکي ولس پرغاړه د اعلیحضرت شاه امان الله خان کوښنی حق، د هېواد د بشپړې خپلواکۍ ترلاسه کول دي. شک نشته چې که هغه د خپل هېواد د خپلواکۍ لپاره د انګریز په وړاندې وګړي جهاد ته نه وای رابللي او د خپلو مخکنیو په شان یې له انګریز سره جوړجاړی کړی وای او د هېواد په چارو کې یې د هغوی لاربښوونو ته غاړه ایښودلې وای، ښایي د ژوند ترپایه د افغانستان د پاچا په توګه پاتې شوی وی او تر هغو چې انګریزانو نه وی غوښتي، هېڅ چا به د هغه د ځای ناستی لپاره سرونه نه وی پورته کړي. خو هغه چې پر خپلواکۍ او د خپل هېواد د وګړو پرسرلوړۍ مین وو د پاچاهۍ دغه تخت او تاج یې د هېواد د خپلواکۍ په لاره کې کېښود او د تاج په سر کولو په لومړۍ اونۍ کې د عیدګاه په لوی جومات کې د کابل سپېڅلو ښاریانو او د دولت مامورینو ته په خپلې لومړۍ څو ساعته وینا کې د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ غږ پورته کړ او خپله پاچاهي یې د هېواد د بشپړې خپلواکۍ په آړ یا شرط اعلان کړه او ویې ویل: لومړی خپل سپیڅلي ولس ته اعلان کوم او زېری ورکوم چې زه د افغانستان د پاچاهۍ تاج د افغانستان د کورنۍ او بهرنۍ خپلواکۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلي نوم پر سر ږدم.

دويم وروسته يې د افغان له آزادیپال ولس څخه وغوښتل چې ددغې ملي هيلې په ترسره کولو کې هغه ته لاس ورکړي. اعليحضرت امان الله خان د کابل ښاريانو، سرتېرو او مامورينو ته د خپلې يوې بلې وينا په ترڅ کې چې د سفر بري جامې يې په ځان کې وې د عيدگاه په جومات کې وويل:

(گرانه ولسه! زه به د سرتېرۍ دغه جامې تر هغو له ځانه ونه باسم چې د هېواد د سپيڅلې مور پر ځان مې د خپلواکۍ جامې نه وي ورپه ځان کړي. زه به دغه توره په تيکي کې کښېنږدم چې د ولس د حقونو لوټونکي مې پرځای يې نه وي کښېنولي! ای زما سپېڅليه ولسه او ای زما سرښندويو سرتېرو! د هېواد د ژغورنې لپاره خپله وروستنۍ شتمني را ډگر ته کړئ، راځئ چې خپل مېړنې سرونه د هېواد په سپيڅلې لاره کې بلهاري کړو!)(۳)

## شاه امان الله د سفر بري په جامو کې (۱۹۱۹) زکال:

شاه امان الله خان ولېدل چې انگريزانو د افغانستان په رسمېت پېژندلو په اړه د هغه ليک ته چې له نورو خپلواکو هېوادونو سره د يوه خپلواک او کورواک هېواد په توگه برابرحقونه ولري، ځواب نه دی ورکړی، نو د ۱۹۱۹ز کال د اپريل د مياشتې پر ۱۳ مه نېټه چې د انگليس سفير هم په هغې غونډې کې ناست وو د يوې وينا پرمهال وويل: (زه ځان او خپل هېواد له کورني او بهرني اړخه په بشپړ ډول خپلواک اعلانوم. وروسته له دې زموږهېواد د نړۍ د نورو دولتونو او ځواکونو په څېر يو خپلواک هېواد دی او د سر د يوه ويښته په اندازه هېڅ ځواک ته اجازه نه ورکول کېږي چې د افغانستان په کورنيو او بهرنيو چارو کې لاسوهنه وکړي او که څوک دغسې يوگام پورته کړي نو پردغه توره به يې غاړه ور غوڅه کړم) او بيا يې مخ د انگريز سفير ته ور واړاوه او ويې پوښتل: (څه مې چې وويل پوه شوئ!) د انگليس سفير په ډېر درناوي ځواب ورکړ: (هو پوه شوم.) (۴)

وروسته ځوان پاچا د خپل برخليک د ټاکلو لپاره له انگريز سره د جهاد ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتړله. د ځوان پاچا دغه نوښتگر غږ ته پر خپلواکۍ مین افغان مسلمان ولس په خوښۍ ځواب ورکړ او د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په لاره کې یې د سر او مال په بلهاري کولو او سرښندنې د هغه وخت د نړۍ له لوی ځواک یانې انگریز سره د جگړې چمتوالی ونیو. په دغه وخت کې په هنگري کې د انقلاب د بریالیتوب خبرونه رارسېدل. په آلمان کې د ۱۹۱۸ز کال د انقلاب له ماتې سره سره انقلابي اکر یا حالت واک چلاوه. په ترکیه کې د خپلواکه جنگیالي لارویان د جنرال کمال اتاترک ترڅنگ کرۍ جوړولې. د هند هېواد هم په څپانده اکر کې وو. د ۱۹۹۱ز کال د اپریل په لومړیو کې د هغه هېواد په هرگوټ کې ټولیزه کاربندي پیل شوې وه: په بمبي، لاهور، ډېلي او د هند په نورو ښارونو کې د ناکراریو څپې خورې وې او له پولیس او نیواک گرو سرتېرو سره د لاس او گریوان کېدلو لړۍ خپره وه. د اپریل پر۱۳ ورځ د امرتسر په ښارکې دوه زره ووژل او په زرگونو نور ټپیان شول چې دا ډېره بوږنونکې وه. د هند په میلونونو لوږې ځپلي ولس د ورهڼگرو یاکسبگرو او د کارگرانو له غوښتنو څخه ملاتړ کاوه. (۵)

په دغسې یوه اکریاحالت کې وو چې شاه امان الله په پرله پسې ټوگه د انگریز په وړاندې د کابل د وگړو او گڼ شمېر ټولنیزو پاړکو یا طبقاتو ترمخ ویناوې کولې او د ولس له سرښندویه هرکلي سره مخامخ کېدلې. د عیدگاه په جومات کې په یوې ویناکې وویل: (د افغان زړه وره او په لوی څښتن مَینه ولسه! ای زمریو! د بریتانیې حکومت په درغلنې او بې شرمۍ دوه ځله زموږ پر هېواد یرغل وکړ او غوښتل یې خپلې ککړې منگولې په سیمي کې ښخې کړي، اوس غواړي چې زموږ ټاټوبی چې پلرونه مو پکې ښخ دي لوټ کړي. زموږ پرتم، ننگ او هم زموږ شخصیت او افغاني ځانگړتیا له منځه یوسي، غواړي زموږ خپلواکي او ښېرازي له منځه یوسي.... )(٦).

د پانگوالۍ پروړاندې د پاچا زیړو او شدیدو ویناوو د وگړو په مېنځ کې د هغه منښت او گرانښت لا پراخه کړ. یوه ورځ وروسته د کابل ښار په زرگونو ښاریانو د حبیبې د ښوونځي له زده کوونکوسره یوځای د انگلیس د سفارت ترمخ لاریون وکړ او د انگلیس په وړاندې یې غږونه پورته کړل. شاه امان الله د ضد انگلیسي خپلواک سیاست او تگلارې په راخپلولو ورځ په ورځ د وگړو په زړونو کې دروند

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای موند او د دغه گرانښت له امله ده چې هغه د هېواد د سیاسي خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو په لاره کې د افغان ولس د سترې جگړې اعلان وکړ او د افغانستان زړه ور ولس یې له پېژندل شوي دښمن یاني انگلیس سره د خپلواکۍ د ژغورنې دریمې جگړې ته راوباله.

د افغانستان هېوادپالو خلکو د ځوان پاچا دغې غوښتنې ته ځواب ووایه او د ۱۹۱۹ز کال د مې د میاشتې تر ۳ نېټې پورې یو ٦٠ زریز ځواک جوړ شو. دغه ځواک د هېواد له گټ شمېر توکمونوڅخه جوړ وو هغوی د ورورۍ او خپلواکۍ غوښتنې په گډو احساساتو له خپلو زَړو وسلو سره چې د انگلیس په دویمې جگړې کې یې ترلاسه کړې وې جگړې ته ملا وتړله. نا روزل شوي ۴۰۰۰ یز توپچي ځواک له خپلو زَړو وسلو او ډېرو لږو تجهیزاتو سره له دغه کوشني پوځ سره ملگری وو.

خو دښمن څه وکړل؟ دښمن د دغه کوشني ناروزل شوي پوځ پروړاندې لومړی ۳۲۰ زره او وروسته یې ۷۵۰ زره روزل شوي سرتیري او افسران چې له ۱۸۵ تر۴۵۰ زرو باروړنکي څاروي هم ورسره وو او پر هغوی یې خپلې وسلې ایښودلې وې او له سلگونو جنگي الوتکو سره له افغانستان سره د جگړې په موخه د افغانستان سویلي او د سویل لوېدیځو کرښو پرمخ راوخوځول. (۷)

د افغانستان پوځي اوزار او د پوځ جنگي مهماتو د برتانیې له وسلو سره چې په پرمختللو وسلو او جنگي الوتکو سمبال وو په هېڅ راز برابروالی نه درلود خو له دغه څرگند پوځي کمښت او نابرابروالي سره سره د افغانستان پوځ د ناتارگرو تېري کوونکو په وړاندې له ځانه اتلواله مقاومت څرگند کړ.

د انگلیس له نېواک سره د افغانستان د ولس او د خپلواکۍ لپاره اتلواله پاڅون چې له لومړۍ نړیوالې جگړې څخه په هسکه غاړه راغلی وو د ولس ملي هېوادپالو احساساتو ته نوې سا وبښله او د هېواد د خپلواکۍ د لړۍ د پاڅون لمنه په بې سارې توگه پراخه شوه. له پښتنو توکمونو څخه خپل خوښو جنگیالیو د خیبر له غاښې تر بلوچستانه د برتانوي نېواک گرو په وسله والو ځپلو او شاتمبولو کې ستره ونډه لرله. د خپلواکۍ دغه پاڅون ته د برتانوي هند وگړو ښه راغلاست ووایه. په توکمیزوسیموکې پراته د برتانیا په لښکر کوټونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندي سرتېري د افغانستان پوځ ته راواوښتل. په همدې وخت کې دبمبيې، لاهور، امرتسر او د نيمې وچې په نورو ښارونو کې د نيواک ګرو د ځان غټاوي پروړاندې د هند د وګړو نا آرامي او کاربندي دانګليس د تېري کوونکو د روحيې په تضعيف او د چال چلند په بدلون کې بې اغيزې نه ول. دلته ده چې د انګيس د نيواک په وړاندې د وګړو دَرېدنه او مقاومت، انګريزان اړ کړل چې په راولپنډۍ کې د سولې د خبرو اترو لپاره اوربند ته غاړه کېږدي.[1]

په دغسې يوه اکر کې ول چې د افغانانو د جګړو د اهميت په اړه د بلشويکانو يوه مشر وويل: (د پانګوالي د زبېښاک په اکر يا حالت کې د ولسي پاڅون د انقلابي مورچل اړين آړ يا شرط دا ندی چې په غورځنګ کې دې هرومرو پرولتاري جنګيالي ګډون ولري او ګنې غورځنګ دې يا ولسپاله يا انقلابي تګلاره ولري او يا دې پر دموکراسۍ ډډه لګولې وي. له څرګند اړخه که ورته وکتل شي نو د افغانستان د خپلواکۍ لپاره د افغان امير جګړه سره له دې چې دی او ده ته نږدې دوستان او ملګري يې د پاچاهۍ غوښتونکي دي، بيا هم يوه انقلابي جګړه ده، ځکه دغه جګړه پانګوالي شاړې واړې کوي، ځواک يې له ويشاک سره مخاموي او سته يې ورباسي)(۸).

هر ګوره د غازي اعليحضرت شاه امان الله خان د سپېڅلې هېوادپالنې او يو ژبې مشرۍ ترسيوري لاندې د افغانستان سياسي خپلواکي ترلاسه شوه او يوځل بيا افغانستان خپل له لاسه تللی نوم او پرتم ترلاسه کړ او د نړۍ د خپلواکو هېوادونو په کتار کې ودرېد (د ۱۲۹۸ل کال د زمري د مياشتې ۲۸ چې د ۱۹۱۹ز کال د اګست د مياشتې له اتلسمې سرسمون خوري) او له دغې ورځې وروسته افغانانو د اګست ۱۸ چې د زمري د مياشتې ۲۸ کېږي د هېواد د خپلواکۍ د بيا ترلاسه کولو ولسي ورځ وبلله.

## ملي يووالی، د شاه امان الله خان ستره هيله:

په ۱۹۱۹ز کال ۲۰اکتوبر کې کله چې امير حبيب الله د امان الله خان پلار مړ يا ووژل

---

[1]- (۳ جون ۱۹۱۹)ز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو د هغه زوی نصرالله د یوې اونۍ لپاره امیر وو چې بلاخره امان الله خان چې د امیر حبیب الله دریم زوی وو، د امیر په توګه د افغانستان اداره خپله کړه او په همدی موده کې د افغانستان بشپړ ازادي (بهرنۍ، کورنۍ) اعلان کړ. امیر امان الله د برتانوي هند نایب السلطنه څخه د یو مستقل خپلواک هېواد په توګه د دې تقاضا وکړه چې ټولو پاتې شویو موضوعاتو لکه د ډیورند کرښې په هکله مذاکراتو ته د یو مستقل دولت په حیث چمتو ده. چې دغه حرکت د انګلیسانو غوصه راوپاروله او بلاخره د دریېم افغان-انګلیس جګړې سبب وګرځېده.

## بیا ځلې مذاکرات ۱۹۱۹ز کال:

له دریېم افغان انګلیس جنګ وروسته چې برتانوي ښکېلاک ګر زبر ځواک په ټوله نړۍ کې له ستونزو سره مخ وو او غوښتل یې چې خپلې سیاسي او اقتصادي پالیسۍ سمې کړي. خو بیا هم لندن پرېکړه وکړه چې د وزیرستان او مهمندو قبایلي سیمې چې یوه اندازه یې په دریېمه جګړه کې له مخکې له لاسه ورکړې وی د نظامي قوت په مرسته په اشغال کې وساتي.

په دریېمه افغان-انګلیس جګړه کې د افغانستان موخه یوازې د بهرني سیاست خپلواکۍ اخېستل نه وو بلکې سربېره پر دې غوښتل یې چې له هند سره پخوانۍ پولي چې په غیر عادلانه او ظالمانه ډول انګریزانو تر واک لاندې راوستي دوباره ترلاسه کړي. بلاخره په ۱۹۱۹ز کال د جون ۳ مه نېټه له یو ډزبند نه وروسته د راولپنډۍ مذاکرات د افغانی هیئت له خوا د علی احمد خان په مشرۍ او د انګلیسانو له خوا د Sir. A. H. Grant په مشرۍ پیل شول او په ۱۹۱۹ز کال د اګست په ۸ مه د راولپنډۍ د سولې معاهده Peace Treaty لاسلیک شوه چې مهمې برخې یې په لاندې ډول دي:

په لومړۍ ماده کې ویل شوي وو چې له ۱۹۱۹ز کال د اګست ۸ مې نېټې وروسته ټول تړونونه د دولتونو ترمېنځ لاسلیک کېږي. دا په دې مانا ده چې په دې سره هغه سوتفاهم اوس واضح شو چې پخوا به د تړونونو په هکله ویل کېدل چې د انګرېزانو او امیرانو ترمېنځ شخصي تړونونه دي او له دې وروسته ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټړونونه د دوه مستقلو دولتونو ترمېنځ دي. تر ټولو مهمه دا چې د ۱۹۱۹ز کال د سولې له معاهدې سره یو بل لیک د انګلیسي هیئت او افغاني هیئت د مشرانو له خوا ضمیمه شو چې په هغه کې په ښکاره ډول داسې لیکل شوي وو:
(د دې معاهدې او لیک سره افغانستان په رسمي ډول په داخلي او خارجي چارو کې خپلواک دی او له دې سره ټولې پخوانۍ معاهدې لغوه شوې )

## بیا ځلې مذاکرات او د کابل معاهده ۱۹۲۱ ز کال:

د سولې معاهدې یوازې د کاغذ پر مخ ټول اختلافات حل کړل. له یوې خوا د ډیورنډ کرښې ډیرې سیمې علامت ګذاري شوې نه وې او له بلې خوا انګرېزانو په پښتنو قبایلي سیمو کې لا هم له ستونزو سره مخ وو. په ۱۹۲۰ زکال کې د افغانستان اړیکې له روسانو سره ښې شوې او انګرېزانو له دې حالت څخه ویره احساس کړه او یوه نوې معاهده یې ترتیب کړه. د دې مذاکراتو لپاره د انګلیس هیئت مشري Henrz R. C. Dobbs او د افغاني هیئت مشري محمود طرزي کوله چې له ۱۱ میاشتو خبرو اترو وروسته د یو مؤقت حل په توګه په داسې حال کې دا معاهده لاسلیک شوه چې د ډیورنډ کرښې نامالومې نقطې په خپل ځای پاتې شوې. که څه هم له دې وروسته نورې بېلابېلې دیپلوماتیکې هڅې وشوې لکه په ۱۹۳۰ز کال او ۱۹۳۴ز کلونو کې چې په هېڅ مذاکراتو کې د هند د ازادۍ تر وخت ۱۹۴۷ز کال پورې د ډیورنډ کرښې پاتې ستونزې حل نه شوې.



(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله خان په ۱۲ کلنۍ کې په عين الدوله ونومول شو او په ۱۹۱۳ز کال کې يې د محمود طرزي له لور ثريا سره د شهرآراء په ماڼۍ کې واده وکړ او په ۲۷ کلنۍ د ۱۲۹۷ل کال د ۱۹۱۹ز کال فبروري ۲۸ د جمعې په ورځ د افغانستان پاچاهۍ ته غوره شو. هغه له لس کلنۍ پاچاهۍ وروسته د ۱۹۲۹ز کال د مې د مياشتې په ۲۴ نېټې دې ته اړايستل شو چې هېواد پرېږدي او ايټاليا ته ولاړ شي او وروسته له ۳۱ کلونو د بې وزلۍ ژوند له تېرولو د ۱۹۶۰ز کال د اپريل د مياشتې په ۲۵ چې د ۱۳۳۹ل کال د غوايي د مياشتې له ۵ سره سمون خوري د سويس په هېواد کې د سترګې د سرطان د ناروغۍ له امله سترګې له نړۍ وتړلې او د هغه د وصيت پربنسټ، جنازه يې افغانستان ته راولېږدول شوه او په جلال آباد کې د پلار ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

روښ اندي اوپرمختګپال پاچا له ټولو سکالو مخکې د افغانستان د ملي يووالي د بنسټ ټينګولو ته پام را واړاوه او دغه ولسي يووالی يې په ډېرې پوهې د وګړو د برابرو حقونو پربنسټ د قانون په هېنداره کې په خوځښت راوست. له دغو بدلونونو څخه يو اړين بدلون د دولت د ټولنيزو سمونونو د لومړۍ لړۍ، د اساسي قانون يا د افغانستان د دولت د اساسي نظام ليک د اډانې وړانديز او منل ول چې په ۱۳۱۰ ل کال کې په ننګرهار کې په ۸۷۲ کسيزې لويې جرګې کې چې په خپله يې مشري کوله تر خبرو اترو لاندې ونيول او بيا ومنل شو او د افغانستان په څو زره کلن تاريخ کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د انساني حقونو پربنسټ ولاړ د يوه اساسي قانون څښتن شو.

دغه قانون چې په ۷۳ مادو کې سمبال او منل شوی وو په خپلې ټوليزې څېرکې کې يې د: برابرۍ پربنسټ شخصي آزادي، د مرييتوپ پر ړنګونې، د رَسَنيو، کار، ورهنګړتوب (کسب)، د زده کړې پر آزادۍ، د استوګنې پرخونديتوب، د شتمنيو د مصادرې پرمنع کولو، د بېګار او غيرقانوني ځورونو په له منځه وړلو اونورو کې ټينګار کولو. د (۹، ۱۰، ۲۲، ۲۴ مادو) د ښېګڼو ترڅنګ په شپاړسمې مادې کې راغلي ول چې: (د افغانستان ټول وګړي د شريعت او قانون له مخې له برابرو حقونو او پازوالی يا 'مسوؤليت' څخه برخمن دي).

د اساسي قانون ۱۱ مې مادې حکم کاوه: (په افغانستان کې د مرييتوب ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټونه بند دي) د همدغې مادې پر بنسټ د کابل په ښار کې څه ناڅه اوه سوه هزاره مرييان او کنيزانې د هغوی د خانواکو له منګولو او کورونو څخه خپلواک شول. له دغه ځايه ده چې هزاره وګړي د هربل توکم په پرتله د شاه امان الله په ملاتړ راپورته سول او تر هر چا زيات د سقاوي د رژيم د تورو او بلونسې 'غضب' په تورتم کې وزبېښل شول.

د هېواد نامتو تاريخ لیکونکی اروانباد غبار مني چې د دغو قانوني موادو روح دا وه چې په عملي ډول پلي کېدل او د درغلنې له ککړوالي، ځان ښودنې او چل څخه پاک ول. د بېلګې په ډول مذهبي لمانځنې او دودونه او د اماميه مذهب د لارويانو تکيه ګاه ګانې آزاده شولې. د کندهار، غزني، جلال آباد او د کابل د پوهنې په ټولنه کې د افغانستان د هندوانو يو ټاکل شوي استازي ته ځای ورکړل شو چې په اداري چاروکې د برخې څښتنان شول او د هندوانو له پګړيو د ژيړ رنګ خنډ او د هغوی د جزيې د پاتې پيسو برخه (د شاه امان الله خان د ۱۲۹۹ل کال =۱۹۲۰ز کال د فرمان له مخې ) لیرې شوه.

د (۹). هندوانو ماشومان په ملکي او پوځي ښوونځيو (د حبيبې او حربيې ليسې) کې ومنل شول او نور د توکم، ژبې، مذهب، ټبر او ډلې له مخې، نژادپالنې او توپيرپالنې ته ځای نه وو. د محمدزيو پرپله پسې (مستمري) او ټبرنی وړيا تنخواوې او د خانانو او ملايانو مخواکی (امتياز) ته د پای ټکې کېښودل شو او ولس په حقونو کې له يو بل سره برابر وګڼل شو.

(۱۰). د ډنمارکي پوه استا اولسن په وينا: د افغانستان په اساسي قانون کې د افغانستان وګړو ته هغه حقونه ورکړل شوي ول چې کټ مټ د لوېدېځو ليبرالو هېوادونو په قانونوکې ول. د (افغان) ولسي او ملي پېژاند يا هويت د برابرو حقونو د خوندوي کولو له لارې د هېواد ټولو وګړو ته ورکول کېده. د افغانستان په ټولنه کې اساسي قانون يو انقلاب وو او دغه قانون نه يوازې د هېوادوالو پرمدني حقونو د منښتې ګوته اينبودله، د دولت چلونکی ځواک يې سمبالولو او د کابينې پازوالي يې روښانولو بلکې د پاچا واک يې رالږولو او د (۷) مادې پربنسټ د پاچا واک د قانون ترسيوري لاندې راوستل شو او په افغانستان کې د يو اړخيزې دوديزې شخصي ناتارګرې واکمنې ته د پای ټکی کېښودل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱). کله چې شاه امان الله په دندو کې د قانون پلي کولو ته ملا وتړله د هغه پر وړاندې د دښمنیو او مخالفت د ټغر لمنه پراخه شوه. هغه څه چې پاچا نه منل د خپلوانو او نورو مخورو اغیزمنو کسانو د ملاتړ او مکلفیت بنسټ وو. دلته ده چې کله پاچا د محمدزیو د کورنۍ او نورو خانانو او غیزمنو روحانیونو وړیا تنخواوې یا مستمرې له منځه یوورې، کله چې یې د خپلو مورَنیو خپلوانو د زنداني کولو امر ورکاوه مانا یې دا وه چې خلکو ته څرگنده کړي چې ټول وگړي د قانون په وړاندې یو برابر دي او هېڅ چاته تربل لومړیتوب نه ورکول کېږي او هر څوک چې د قانون له اډانې پښه وغځوي نو د قانون پربنسټ په جزاء ویني. خو د پاچا دغه چال چلند لږ تر لږه د ستاینې او درناوي وړ یوغبرگون را ونه پاراوه او له ټبرنیو- توکمیزو دودونو څخه په وتلو محکوم وگڼل شو.

شاه امان الله خان د ولس یا ملت ملي یووالي ته لومړیتوب ورکاوه اوکله به یې چې د ملي یووالي خبرې کولې نو هېڅکله به یې خپلې ولولې او احساسات نه شوی پټولای. په ۱۳۲۰ل کال کې کندهار ته د سفر په ترځ کې د لړم ۷ مه د جمعې ورځ د لمانځه څخه چې پر خپل امامت یې د خرقې مبارکې په جومات کې ادا کړ د خطبې په ترڅ کې د ملت د یووالي په اړه ډېرې خبرې وکړې او د خبرو په یوه برخه کې یې وویل ( هرڅوک چې په افغانستان کې ژوند کوي، پرته له توپیره ورته افغان ویل کېږي. له دې امله بیا دراني، غلجي، اڅکزي او اوپره څه معنی لري؟ ). پاچا د ( اوپره ) د وییکي کارونه د هغو توکمونو او ټبرونو لپاره چې گڼې بې خوځښته او بې سره دي ناجایزه او سپکاوی وگاڼه او دا ډول کارَونه یې په ټېنگه منع کړل. دغه ډول توپیرونه او توپیر پالنه یې د دښمن په لاس کې ترټوله ښه وسله وبلله او ویې ویل: (زموږ دښمنانو زموږ په منځ کې له دغه تاوتریخوالي څخه ډېره گټه پورته کړې.

آه ! چې خپل مټ یې په خپل لاس راڅخه بیل کړی! دړې وړې یې کړو، ټوټې ټوټې یې کړو او زموږ ټول ځواک یې را زبېښلی دی. په دغه ځای کې د امیر له سترگو اوښکې راوبهېدلې.

(۱۲). شاه امان الله د ملي یووالي په اړه د کندهار وگړو ته په خپلې یوې بلې وینا کې وویل: (هندو، هزاره، شیعه، سني، احمدزي، پوپلزي نه لرو، ټول یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت یو او هغه هم افغان. ماته ټول افغانان ورونه دي. )
د خپلواکۍ او ملي يووالي د ساتنې او له خرافاتو څخه د ډډې کولو په اړه، وګړو ته د اعليحضرت امان الله خان لارښوونې ډېرې اوچتې او له لوړې پوهې برخمنې خبرې وې. اروپا ته د سفر په موخه د بهرنيو چارو د وزارت د ستور په ماڼۍ کې د ولس د ګڼو پاړکو يا طبقو سره د خدای په امانۍ په وخت هغه وويل: بهرته زما سفر يوازې ستاسو په ګټه دی او بس، که رانغلم په ياد ولرئ چې د هېواد ساتنه وکړئ او يو موټی ملت اوسئ. د يوه ناتارګر پاچاترسيوري ژوند ونه کړئ. زما لارښوونو ته ښه غوږ ونيسئ او په خرافاتو ګروهن مه اوسئ، ځکه يو شمېر ناپوهه ملايانو له دين څخه يو څنځير جوړ کړی او ستاسو پرغاړه يې در اچولی، تاسو ته ناسمې لارښوونې کوي او ناسمو ته مو لمسوي. د خدای او پيغمبر (ص) له امر او لارښوونو سره سم چلند وکړئ. هغه څه چې ملايان وايي پرې باور مه کوئ. د ښځو پروړاندې له زغم او زړه سواندۍ څخه کار واخلئ، تاسو ټول د يوه هېواد بچيان ياست او له يو بل سره ورونه اوسئ. ښځې ستاسو په شان حق لري او انسانانې دي. له يوې ښځې پورته بله ښځه مه کوئ او ماشومان مو ښوونځيو ته ولېږئ او خپله شتمني د خپلو ماشومانو د ښوونې او روزنې په لاره کې ولګوئ.
(۱۳) د اماني حکومت د ټولنيزو سمونونو يا اصلاحاتو دويمه لړۍ هېواد ته د شاه له اوږده سفر وروسته پيل شوه. کله چې شاه د اروپا د پياوړو چارواکو له چال چلند او د لويديځ د تخنيک او فرهنګ وده په ځانګړې توګه په ايران کې د رضا شاه او په ترکيه کې د مصطفی کمال اتاترک د پياوړو تګلارو له کتلو اغيزمن شوی وو، په افغانستان کې يې د سمونو او اصلاحاتو د تګلارو په پلي کولو کې له ببړې کار واخيست. د ۱۹۲۸ز کال د اګست د مياشتې پر ۲۹ نېټه يې يوه يو زر او يو ( ۱۰۰۱ ) کسيزه جرګه راوبلله او له جرګې سره يې د ټولنيزو بدلونونو د لړۍ په چټکولو کې خپلې موخې او هيلې ګډې کړې.
شاه لومړی د خپل سفر په اړه ګزارش ورکړ او بيا يې جرګې ته په افغانستان کې د چټکو ټولنيزو او اقتصادي بدلونونو په اړه خپله د اصلاحاتو تګلاره وړاندې کړه. د دغو اصلاحاتو په بنسټ يې د ځمکوالۍ او له ځمکوالۍ مخکې زړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دودونو او اړیکو ته د پای ټکی ایښوده. د هېواد لوړو پاړکو یا طبقو لکه ځمکه والو، توکمپېزو مشرانو او اغېزمنو روحانیونو چې په هغه وخت کې د دولت له اصلاح غوښتونکو تګلارو سره مخالفت کاوه، له خپلې ګټې او امتیاز څخه بې برخې کېدل.

د استا اولسن پر وینا په (دغه پروګرام کې چې په افغانستان کې یې د روحانیت د واک زړه په نښه کړی وو) د ښځو د چادریو له منځه وړل، د مُریدی له منځه وړل، په برتانوي هند کې د دیوبند په مدرسه کې د ملایانو د زده کړو بندیز، له ملایانو څخه د ازموینې اخېستنې، پر افغان وګړو د تذکرو وېشنې، د سرتېرې دورې ته د ځوانانو رابلنې، په لومړنیو ښوونځیو کې د هلکانو او نجونو ګډې زده کړې او بهر ته د زده کړو لپاره د افغان ځوانانو لېږنې، د صغیرې نجلۍ د نکاح بندیز او د نجونو لپاره (۱۸) کلنې او د هلکانو لپاره (۲۲) کلنې د واده د کال ټاکنې او نورو حقوقي او ټولنیز سکالو ځای درلود.

(۱۴). خو دغه سمونې او ریفرمونه د ټولنې د روحاني برخې او د لویې جرګې د محافظه کاره ډلې له غبرګون سره مخامخ شول چې مخکښان یې د شور بازار حضرتان چې مشري یې فضل عمر مجددي کوله او خلکو د نور المشایخ په نامه پېژانده، وه. د ایران لوړنومی او نامتو پوه ډاکټر شجاع الدین شفاء په تهران کې د هغه هېواد د مخوَر روحانیت په اړه د انګلیس د وزیر مختار د پټ ګزارش له مخې لیکي: (په ایران کې له دربار او دولتي مأمورینو پرته یوه بله مخوَره ډله هم شته چې تل باید وساتل شي او هغه د علماوو او روحانیونو ډله ده. دغه ډله پراخه او لویه ځانګړې پانګه لري چې د موقوفاتو له لارې ترلاسه کېږي او د ایران په هر ګوټ کې روحانیون، مدرسین او طلاب د دغو موقوفاتو له دَرَکه، د امام د ونډې او د ګڼ شمېر نذرونو له لارې بشپړه ګټه ترلاسه کوي.

موږ (انګریزان) باید د ایران د واکمنې ادارې له لارې په دغې ډلې کې د ننوتلو لپاره لاره ومومو او باید له هندوستانه یو شمیر سیدان، ملایان او فقیران د شیعه ګانو دیني مرکزونو او متبرکه ځایونو ته ولېږو چې کرار کرار وکولای شو د ایران د عالیه روحانیت پاړکه یا طبقه اداره کړو). سر هوارډ جونس، په ایران کې د انګلستان مختار وزیر، د انګلیس د بهرنیو چارو وزارت ته له پټ ګزارش څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې، د انګلستان د بهرنیو چارو د وزارت له خپرو شویو لاسوندو څخه رانقل شوې.

په همدې تړاو ډاکتر شفاء یوه بله خبره هم رایادوي.

۱۵. د خپلواکۍ د ګټونکي سروال، هېوادپال او سربندونکې نومیالي غازي اعلیحضرت امان الله خان د انګلیس دغه سیاست په نورو اسلامي هېوادونو او له هغې ډلې زموږ په هېواد کې د نوموړي سیاست پرپلي کېدلو منښته کوي. کله چې انګلیسانو امیر عبدالرحمن خان زموږ د هېواد په سیاسي ډګر کې د واکمنۍ کړۍ ته را ننه ایست نو پر دولت یې خپلې اغېزې د مخَوَرو روحانیونو له لارې وشیندلې او هېواد ته یې له هندوستانه د یو شمېر شېخانو د رالېږلو له لارې زموږ د هېواد په کورني برخلیک کې اغېزمنه ونډه ولوبوله. د یو شمېر افغاني تاریخ لیکونکو په منښتې، د حضرت شور بازار روحاني کورنۍ د ۱۹ ز پېړۍ په پای کې لومړی ننګرهار بیا کابل ته راغله او په شوربازار کې یې استوګنه پیل کړه. د استوګنۍ په پیلیزو شېبو کې د مجددي حضرتانو کورنۍ یوازې په دیني سکالو کې بوخته وه، خو د خپلواکۍ له جګړې وروسته دغې کورنۍ سیاسي سکالو ته لاس واچاوه او د هېواد د ټولنیز او فرهنګي پرمختګ لړۍ یې تر نیوکو لاندې ونیوله او د اماني د پانګوالۍ ضد دولت ته یې سرخوږی رامېنځ ته کړ.

وګورئ د لویې جرګې په درېیمې ورځ د ښځو د چادرۍ او د آزادۍ خبره راوړاندې شوه. یو شمیر ملایانو د ښځو له مخ لوڅې سره مخالفت ښکاره کړ او هغه یې د اسلام د اصولو خلاف وبلله. شاه د هغوی په ځواب کې وویل: که څه هم زه ملا نه یم خو پوهېږم چې په اسلام کې سَتر له غاړې کښته ته ویل کېږي. ملایانو بیا هم د شاه خبره وغندله او شاه ملایانو ته په عصبانیت وویل: (ټول مصیبتونه ستاسو (ملایانو) له لاسه دي. تاسو (له مفتخورانو پرته بل څه نه یاست) هغه څه چې زه غواړم هغه به پلي کړم او د دغه سَتر (برقع چادري) د لیرې کولو خبره به ان د برچې په مټ پلي کوم، نه په غوړه مالۍ او خوشامندۍ. باید پوه سئ چې زه یو انقلابي پاچا یم) او بیا یې د لویې جرګې غړو ته په خطاب کې وویل ( زما د ګران ملت استازو! تاسو ته زما سلا دا ده چې هغه ټول ملت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوئ او سلا دا ده چې پوه سئ چې په هېواد کې دغه ملایان د خپلو وعظونو له لارې د دښمن دروهې یا دسیسې خپروي. زمونږ د وروسته پاتې والي لامل هماغه ناڅرګندې او موهومې اوسانې دي چې دوی یې وګړو ته وایي او په دغو قصو زمونږ خلک غولوي. زه به د خپل حکومت په وخت کې د دغو ملایانو چاره وکړم، خو تاسو د ملت استازي باید خلک په دغو خبرو پوه کړئ چې د ګوتو په شمار ملایانو په درغلنې چې غواړي زمونږ ملت بدبخته کړي، ونه غولېږي.

(١٦). د نامتو افغانستان پېژندونکي لودویک ادمک د وینا له مخې: د لویې جرګې په څلورمه ورځ شاه د ملایانو او ملایۍ په اړه خبرې وکړې او ویې ویل چې وروسته له دې هغه کسان چې غواړي ملایي وکړي نو مسلکي ازموینه به ورځخه واخېستل شي او هغه څوک چې په دغې ازموینې کې بریالي نشي، نو له ملایۍ څخه به بې برخې شي. همداسې هغو بهرنیو ملایانو ته چې د هند د دیوبند له مدرسې څخه فارغ شوي اجازه ورنه کړل شي چې افغانستان ته راشي او ملایي دې وکړي، ځکه هغوی بد او اوربکي، پروپاګندچیان، بهرني او خاین دي.

(١٧). ډاکتر کاکړ د منشي علي احمد له قوله وایي: (شاه ټینګار وکړ چې دغه ملایان ټول د بهرنیو د دسیسو تراغېزې لاندې راغلي او د دغې خبرې د ازباد لپاره یې یو شمېر شواهد هم وړاندې کړل. شاه غوښتل چې دغه ملایان ټول له افغانستانه وشړل شي او یا دې په یوې ټاکل شوې سیمې کې تر څار لاندې ونیول شي او د دولتي چارواکو له اجازې دې پرته د وتلو اجازه ونلري.

(١٨). د لویې جرګې غړي چې ګڼ شمېر یې ځمکه وال او روحانیون ول پوه سول چې شاه د هغوی له پخوانیو امتیازاتو د کمبلې له ټولولو څخه نه یوازې نه غواړي لاس په سرشي، بلکې له صغیرې نجلۍ سره واده منع کوي، له نارینه سره د ښځې برابر حقونه هم غواړي چې ګڼې وروسته له دې به ښځې په لوڅ مخ له کورو راوځي (په ځانګړې توګه کله چې شاه د ښځو د نقاب د لیرې کولو خبره اعلان کړه او ملکه ثریا په لوڅ مخ جرګې ته راغله)، کله چې ویې لېدل پاچا ملکان اوځمکواکان د دلالۍ له دندې څخه منع کوي او د بزګرو په منځ کې له دولت سره په اړیکه کې د هغوي اغیزه راټېټوي، نو د شاه له اصلاحي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیزونو سره یې مخالفت پیل کړ. هغو لومړیو کسانو چې د شاه له اصلاحاتو سره د مخالفت سرونه را پورته کړل، له سرحدي لیکې هغه غاړه د نورالمشایخ تر مشرۍ لاندې د شوربازار حضرتانو او له لیکې دې خوا یې ورور محمد صادق مجددي د اماني اصلاحاتو پر وړاندې متې را بډ وهلې. نورالمشایخ د ښځو له مخ لوڅۍ او د هلکانو له زده کړې څخه خلک لیرې ایستل او ویل یې چې زده کړې سړی کافر کوي. خو رښتیا دا وه چې که هلکان ښوونځیو ته تللي وئ او پوهه یې حاصله کړې وئ نو د هغوی د پیرۍ او مریدۍ د هټۍ سودا به چا اخېستلې وی؟ یو پوه او رزول شوی هلک دې ته غاړه نه ږدي چې د مریدۍ پړی دې په غاړه کې ور واچول شي.

## شاه امان الله غازي خپل ولس ته د وینا په حال کې:



شاه امان الله په رښتیا یو انقلابي اوسرښندویه پاچا وو، هغه د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ په ترلاسه کولو نه یوازې د نړیوالو په سترګو کې د انګلیس حیثیت، اعتبار او مخورتوب دړې وړې کړ؛ بلکې د محمدزیو، خانانو د توکمونو مشرانو او د سترو روحانیونو د مستمري معاش په بندولو یې د هغوی دښمني د ځان په بیه واخېستله. د ټولنې د منځنیو پېړیو له زړو دودونو او رسمونو سره مبارزه لکه د دودیز کمیس او پرتوګ شاته غورځول او پرځای یې د اروپايي جامو اغوستل، د پګړۍ پر ځای د قره قلي خولۍ پر سرول، د جمعې د ورځې د رخصتۍ پرځای د یکشنبې د ورځې ټاکل، د هغو مامورینو چې له یوې میرمنې یې زیاتې ماندینې درلودلې د یوې ښځې غوره کول، په پوځ کې د مریدۍ او پیرۍ لغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول، له ملا ډولو کسانو څخه د ملايي ازمويني، د ښځو د حجاب ستونزه او د نارينه په وړاندې هغوی ته د ډېرو حقونو ورکول، له بوډا سړي سره د صغيرې نجلۍ د نکاح منع کول او... او.... ټول هغه ګامونه ول چې هر يوه يې له دولت سره د دښمنۍ اورته لمن وهله او هغه يې د واک له ګدۍ ليرې کړ.

که له دغو تېر شو، شاه امان الله په بهرني مورچل کې هم يو شمېر ګامونه اوچت کړل چې د هېواد د ثبات لپاره ډېر خطرناک ول، د بېلګې په ډول: د بخارا له بلواګرو سره مرسته او د بلشويکانو د ولکې پر وړاندې د بخارا د خپلواکۍ لپاره د بخارا امير ته د وسلو او جنګياليو لېږنه، د بخارا د خپلواکۍ د غورځنګ له مشرانو ابراهيم لقي او انور پاشا څخه ملاتړ. حال دا چې بلشويکانو نه يوازې افغاني مرسته شوي وسلې او سرتيري ونيول بلکه د بخارا د پاچا سره زر يې هم ضبط کړل. همدا شان د سرحدي لېکې په بله غاړه کې د خپلواکۍ لپاره د قبايلو هڅول او کابل ته د هغوی د مشرانو رابلل، د هندي انقلابيونو د لنډمهالي حکومت په رسميت پېژندل او په افغانستان کې د هندي کډوالو منل هر يو هغه خځلي او لرګي ول چې له انګليس سره يې د دښمنۍ اور ته لا اوږه ورکوله. د نظر د خاوندانو له ډلې څخه د ښاغلي آصف آهنګ له قوله، شاه امان الله دغه هېوادپال پاچا په ۷ مورچلونو کې جنګېده (له ۷ مورچلونو څخه د ښاغلي آهنګ موخه د روحانيونو، د قبايلومشرانو، ځمکه والو، د محمدزيو مستمري اخيستونکو، د ځمکوالۍ زړو دودونو، د پوهنې پراختيا او د ښځو آزادي، له انګليسانو سره د جګړې مورچل او له بلشويکانو سره د جګړې مورچل) چې پايله يې له هماغولومړيو وختونو څخه څرګنده وه.[1]

## د اعليحضرت امان الله خان په اړه يو شمېر ليدلوري:

فرايزرتتلر: په کابل کې د انګليس سفير او د ډيپلومات د هغه په اړه لېکي: (امان الله خان به په مېړانې، دوستۍ او لارښوديزې مشرۍ کې ستايل کېده اول خپل نيکه پاينده خان څخه به يې تقليد کاوه. امان الله خان يو هېوادپال او د

[1]- [د ليکوال په نامه د ښاغلي آهنګ صاحب له يو خصوصي ليک څخه]

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د پرمختګ پلوی سړی وو او غوښتل يې افغانستان د نړۍ په هېوادونو کې د لوړ دريځ خاوند کړي. امان الله خان د درناوي وړ وياند او په نړيوالو چارو کی يې بشپړ مالومات درلود. د امان خان په شخصيت کې د ضعف ټکی دا وو چې غرور، پرتم او ځان مننه يې درلودله.

(۱۹). د هند سر وزير جواهرلعل نهرو: اروپا ته د شاه امان الله د اوږده سفر او د هغه د پايلو په اړه ليکي: (د ۱۹۲۸ز کال په لومړيو کې امان الله او ملکه ثريا له افغانستانه د اروپا په لور د يوه اوږده سفر له پاره وخوځېدل. د ګڼ شمېر اروپايي هېوادونو پلازمېنو لکه روم، پاريس، لندن او مسکو ته ولاړل او په هرځای کې له تودو هرکليو سره مخامخ شول. دغو ټولو هېوادونو په ډېرې لېوالتيا غوښتل چې د خپلو سياسي او سوداګريزو موخو لپاره د امان الله پام ځانته راواړوي. هر چېرته ورته ګرانبيه سوغاتونه ورکړل شول خو هغه د يوه هوښيار او لوړسياست پوه په توګه خپله ونډه په لوړه کچه او ښه توګه لوبوله او په هېڅ ځای کې يې د هېڅ شي ژمنه په غاړه نه اخېستله. د راستنېدلو په مهال له ترکيې او ايران څخه يې ليدنه وکړه. د امان الله اوږده سفر د ډېرو پام ځانته راواړاوه. اعتبار او حيثيت يې زيات شو او د افغانستان ارزښت يې هم ډېر کړ. خو دننه په افغانستان کې اکر يا حالت ډېر ښه نه وو. امير ډېر خطرناک کار کړی وو او هغه دا وو چې په هېواد کې د بدلونونو له پيلولو سره جوخت او د لرغوني ژوند ډول ته د بدلون ورکولو له څېو سره سم توده په توده په سفر ولاړ. مصطفی کمال هېڅکله دغسې خطرناک کار ونه کړ.

(۲۰). دارالامان د اماني سلطنت تاريخي ماڼۍ چې بنسټ يې د خپلواکۍ د ګټونکي سروال، هېوادپال او سرښندويه نوميالي غازي اعليحضرت امان الله خان له خوا ايښوول شوی و خو د خپلواکۍ دوښمنانو د باروتو په لمبو وسوځول.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اماني د دور فرانسوي سفير موريس فوشي د امان الله خان په اړه ليکي: ( دغه ځوان د خپل عمر په پرتله په سياسي چارو کې حيرانونکې پوهه لري. ځانګړې موخې په زړورتيا پرمخ بيايي. کله چې ما له هغه سره وليدل د جنرالۍ جامې يې پر ځان وې. سپين پوستکی او تورې زيږې سترګې يې درلودلې. د هغه په سترګو کې څرګند هوډ، واکمني او برابري په ځلېدلو وه. امان الله خان د خپلې ډېرې پوهې، مېړانې او په سياسي سکالو کې د خبرتيا له امله هرڅوک تر خپلې اغېزې لاندې راولي. امان الله دا پوهه او کفايت درلود چې د ګاونډيو (روس او انګليس) په اړه پېچلې سکالو په ډاډ مطرح او د هغو په اړه خپل نظر او پريکړه ووايي. هغه د پياوړي هوډ، پتينې او تکل خاوند دي. تر اوسه يې د ژوند وريځې پر مخ نه دي رانښکته شوي او ډېرې برياوې يې ترلاسه کړې. د بېلګې په توګه افغانستان يې په ډېر لږ وخت کې ټولې نړۍ ته ورپېژندلی دی. وييکي او کلمات د هغه د شخصيت د برم اوستروالي بيان نه شي کولای.

(۲۱). امريکايي ليکوال پولاده ليکي: ما د امان الله خان د دورې له شخصيتونو سره له نږدې کتلي او خبرې مې ورسره کړي دبېلګې په ډول: ياور محمود خان، عبدالعزيز خان، د حربيې وزير او جنرال محمدګل خان مومند. د هغو له خولې مې د شاه امان الله په اړه په زړه پورې خبرې اورېدلې چې بايد ياداشت او وليکل شي.

د دغو يادونو يوه کوښنۍ بېلګه دا ده چې: په ۱۳۴۵ز کال کې د سوادګريزې خونې په رياست کې د څوارلسمې له اوسيدونکو څخه يوه پياده وو او نوم يې غلام محمد وو. غلام محمد په ځوانۍ کې په دارالامان کې وو. هغه ويل: د پسرلي يوه ورځ وه، باران ورېدلی وو او ځمکه لوندې وه. امان الله خان له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



همکارانو سره د دارالامان ماڼۍ ته راغی چې د دارلامان له ماڼۍ څخه کتنه وکړي. ماڼۍ د یوې غونډۍ پرسر وه. امان الله خان په ځغاستې پیل وکړ او د غونډۍ سرته وخوت او همکارانو ته یې وویل، راځئ چې د ماڼۍ بنسټ یا تهداب وګورو. خو همکارانو د غونډۍ سرته د ختلو هرڅه هڅه چې کوله نه شول ختلای او بیرته لاندې راښوویدل. امان الله خان هغوی ته وویل، زه تل تاسو ته وایم چې ورزش وکړئ او ډېره ډوډۍ مه خورئ، دا دی زه له تاسو مخکې د غونډۍ سرته وختلم، زما هره خبره ستاسو په خیر ده.) له دې کیسې ښکاري چې شاه امان الله له ورزش سره مینه درلوده او ورزش یې کاوه (هماغه ځای)

میرمن ریاتالي ستیوارت (په افغانستان کې د اور) کتاب لیکواله وایي (د افغانستان پخواني امیران مغرور او متکبره ول او له هغوی سره اړیکه نیول ګران ول. له بلې خوا امان الله خان یو دموکرات سړی وو او د هارون الرشید په شان پرته له ساتونکو (ګارد) د ښار په بازارونو کې پلی ګرځېده او له ډول ډول کسانو سره به یې خبرې کولې. له تشریفاتو یې ښه نه راتلل او ځان یې کټ مټ د یوه عادي افغان په توګه له نورو سره برابر باله. امان الله خان یو ولسپاله هېوادپال او د ختیز د خپلواکۍ ملاتړی او ډېر نومیالی سړی وو، د خپلې پاچاهۍ په پای کې یې محافظه کاران په وحشت کې اچولي ول، هغه ریښتونی او صادق وو او د خپل هېواد په عصري کولو کې ډېر جدي شو، د خپلې پاچاهۍ په پای کې یې وویل: د دې له امله چې بلوا یوازې او یوازې د ده پر ضد ده نو نه غواړي وینه توی کړي او له پاچاهۍ لاس په سر شو او هغه یې خپل ورور عنایت الله خان ته پرېښودله. بې کفایته درباریان د هغه تر شا او خوا راټول شوي ول، همدارنګه د هغه پرضد یې د کفر وسله وکاروله او هغه یې د اسلام ضد وباله، حال دا چې هغه یو سپېڅلی مسلمان وو.

(۲۲). او په بل ځای کې لیکي: (د امان الله خان په څېر واکمن نه په ختیځ او نه په لویدیځ کې لیدل شوی دی. هېڅ پاچا پرته له ساتونکو او ځانګړو امنیتي تشریفاتو چېرې نه ځي. خو امان الله خان هرې خوا ته روان وو او له وګړو سره یو ځای کېده. افغانانو ګومان کاوه چې دغه سړی چې د دوی تر څنګ ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ښايي امان الله خان وي. هغوی انګېرل چې هغه به يو چېرې له وګړو سره د خبرو کولو په حال کې پرسړک باندې وګوري. کورنۍ يې پرې نيوکه کوله چې (ځان ته دې پام ونيسي)، امان الله خان به ويل: ملت زما ساتونکی (باډي ګارډ) دی. امان الله خان د لېونۍ مينې په نړۍ کې له ملت سره ليونۍ مينه درلودله). رته تالي د امان الله خان د ښوونکي عبدالغني خان له خولې ليکي چې: امان الله خان له ملي جامو سره ځانګړې مينه درلودله او د ولسي جامو په اغوستلو لکه کميس او پرتوګ، پګړۍ، خولۍ او پوستين به چايخانو او سماوارونو ته روان وو او له خلکو سره به ايل او غيل شو، که خلکو هغه په همداسې جاموکې لېدلای وای نو څه يې نه ويل او د خپلۍ پاچاهۍ په وخت کې يې کټ مټ دغسې وکړل. امان الله خان يو ښايسته ځوان وو، متوسطه ونه يا قد، ګرد مخ، روښانه تورې سترګې يې درلودلې او هېڅکله نه عصبي کېده. په خبرو کې خوږ ژبی او مؤدب وو او هڅه يې کوله چې مخامخ لوری ځانته لېواله کړي. يو ځل يې په پنځلس کلنۍ کې ويلي ول: دی شرمېږي چې هېواد يې وروسته پاتې دی او د خپلو خلکو له ناپوهۍ ځورېږي.

(۲۳). د هېواد د تاريخ او ټولنپېژندنې د پوهانو په ډله کې ارواښاد حبيبي د افغاني ټولنې يو نوميالی پوه دی چې ټولې ليکنې يې د اسنادو او ليکلو لاسوندو پربنسټ ولاړې دي. هغه عادت نه درلود چې خپل قلم د هغو پاچايانو او واکمنانو په ستاينه کې په کار واچوي چې ټولنې ته يې خدمت او کار نه وي کړی. د حبيبي نيکه چې مولوي عبدالرحيم آخندزاده نومېده د امير عبدالرحمن خان په وخت کې وژل شوی وو او له همدې امله ارواښاد حبيبي په افغانستان کې د محمدزيو له حکومت سره ښې اړېکې نه درلودلې او د قلم په نېش يې څه چې له لاسه راغلي د بارکزيو او محمدزيو د سردارنو په ځورولو او د هغوی د کړنو په رابربنډولو يې ټونګلي دي. خو د دې ترڅنګ د صلاحيت وړ او حق ويونکي عالم وو. په خپلو لېکنو کې که هغه له امان الله خان او د هغه له کارنامو خبرې کړي د دې ترڅنګ چې د هغه د همکارانو او معاصرينو له ويناوو يې د هغوی نيوکې را نقل قول کړي، خو خپل د سترګو ليدلی حال او د شاه امان الله خان په اړه خپل باور داسې ليکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی انځور په پغمان کې د خپلواکۍ څلی دی چې شاه امان الله خان جوړ کړی خو دوهم انځور یې د خپلواکۍ د دښمنانو له خوا د له منځه وړلو شاهدي ورکوي.



د ۱۳۰۸ل کال په پسرلي کې د شاه امان الله خان تر مشرۍ لاندې لس زره کسیز کندهاری او هزاره توکمیز لښکر د کابل پر لور راوخوځېد. لښکر له زابل او مقره ووابښت او د غزني پر خوا مخ په وړاندې راغی. د لارې په اوږدو کې د انګلیسانو د دسیسو پر بنسټ د یو شمېر مشکوکو او څرګندو کورنیو روحاني ډلو په ملاتړ د درانیو او غلزیو د توکمونو د هڅولو او پارولو په موخه د غلزیو د استوګنې په سیمه کې د فراهي درانیو یوه شل کسیزه مخکښه کشاف ډله ووژله او د هغوی ټوټې ټوټې شوي مړي یې د تیلفون د مزیو تر کړو شویو پایو لاندې ځړولي ول او د کاغذ د یوې ټوټې پر مخ یې په بد ورګې ملا ډوله لیکنې لیکلې وې (دغه د غلزیو له پلوه شاه امان الله او دارنیانو ته یوه میلمستیا ده). د دغې خونړۍ او ویر لړلې پېښې په لیدلو پاچا لښکر راغوښت او ویې ویل: (اوس په ازباد ورسېدله چې دښمن غواړي زموږ د توکمونو ترمېنځ فساد او جګړې ته لمن ووهي چې په خپل لاس یو بل ووژنو او د دغه ناجایز کار لامل به زه وم او د تخت او تاج د بېرته خپلولو لپاره به پرېمانه وینه توی او ډېر به ووژل شي. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ګرانو وګړو! په يقين پوه شئ چې زه د کورنيو او توکميزو جګړو زغم نه لرم. نه غواړم زما د تخت او تاج د بېرته نيولو لپاره تاسې داسې يو کار وکړئ. نو زه به ستاسو له منځه ولاړ شم چې نوره وژنه ونه شي او وينه توی نه شي.

زما ګران ولس او افغانستان به ژوندی پاتې وي خو تل پاتې تورمخي او د دغې خونړۍ پېښې پازوالي به زما پر نوم وليکل شي. ما د پاچاهۍ له لومړۍ ورځې ژمنه کړې وه چې د افغانستان د خپلواکۍ د ساتنې او د ځمکنۍ بشپړتيا، يووالي او ښېرازۍ لپاره به کار وکړم.

وګورئ! د تاريخ په لرغونو وختونوکې دغه شهزادګي ول چې د شاهۍ د دريځ د ترلاسه کولو لپاره له يو بل سره جنګېدلي خو په مېنځ کې تاسې د ملت وګړي يې يو بل ته په دښمنۍ او جګړو هڅولي ياست. ماغوښتل چې زما د شاهۍ په دور کې داسې ونه اوسي او د دې پرځای چې وګړي د يوې بلې جګړې په لور وخوځوم، غوښتل مې د افغانستان د ټولو وګړو لپاره د دوستۍ، يووالي، ورورۍ او ښيرازۍ مخکښ اوسم. اوس چې وينم تاسې په کورنيو او توکميزو جګړو کې راښکېل کېږئ دا دی دغه ډګر د افغانستان وګړو ته د خپلو پلويانو او مخالفانو په ګډون پرېږدم. تاسو په خپلو منځو کې جوړ راسئ. زه د خپل تاج او تخت د بېرته ترلاسه کولو لپاره ستاسو د کورنۍ جګړې پازوالي په غاړه نه سم اخېستلی. يو تربورمې (منظور نادر خان دی) پاړه چنار ته رسېدلی او بل ورور مې (منظور نورالمشايخ دی) دلته ناست دی او کورنۍ جګړې ته لمن وهي. زه د دغه کار نه يم، تاسو ته زما سلا دا ده چې له يو بل سره غاړه غړۍ او جوړ راسئ، خپله خپلواکي وساتئ او خپل هېواد بهرنيو دښمنانو ته مه پرېږدئ! زه ستاسو له ډلې يو تن يم، که تاسو ښېرازه اوسئ، دغه زما ښيرازي ده. خو که په وينو کې ليت پيت سئ نو زما د تل پاتې بدبختۍ لامل به اوسئ. بيا د زړه سوانده، ولسپال او ولس دوستي پاچا چې له سترګو يې اوښکې رابهېدلې د واقف لاهوري دغه دوه بيته يې وويل: هېواده!

جنګ توصلح وصلح توجنګ است من بقربانت اين‌چه نيرنګ است

ميـروم تـا تـو نـشـنـوی نـامــم اګـر از نام مـن تـرانـګ است؟

او بيا يې وويل: فی‌امان‌الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۴). دا هغه کیسه وه چې اروابناد علامه حبیبي د سترګو د لیدلي حال په توګه د پرمختګپال، ولسپال او ولس دوست پاچا په اړه لیکلي او په ریښتینولۍ مني چې وګړو هغه ته ډېر درناوی او ډاډ درلود او ولس غوښتل د هغه پاچاهۍ بېرته ور وګرځوي خو پاچا د دغې زړه بوږنونکې پېښې له پېښېدلو سره سم بېرته کندهار ته ستون شو او له هغه ځایه د بې وزلۍ ژوند په خپلولو له هېواده ووت چې د هېواد د بچیو وژنه په سترګو ونه ویني. دا ده د یوه هېوادپال او پر هېواد مین لاربښود بېلګه چې پاچاهۍ تاج او تخت ته یې شا کړه او د هېوادوالو وژنه یې تر پاچاهۍ غوره ونه بلله او په مېړانۍ له هغې لاس پر سر شو ځکه چې نه یې غوښتل واکمنۍ ته د ترېي، ځانمنونکي او د وینې بهوونکي پاچا درونډ تاریخي پېټی پر اوږو یوسي. نن د هېواد تاریخ د هغه نوم په درنښت یادوي. اروا دې ښاده وي.

## د امان الله خان او نادر خان ترمېنځ لوبې:

کله چې غلام نبي خان چرخي د ۱۹۳۲ز کال د اکتوبر پر دیارلسمه له انقرې ځخه کابل ته ورسېد. نادرشاه له هغه سره وکتل او هغه ته یې وړاندیز وکړ چې که له سیاسي فعالیت ځخه لاس واخلي نو په استانبول کې به د سفیر تنخوا ورته مقرره کړي. د هغه ورور غلام صدیق خان به په برلین کې د سفارت پر څوکۍ پرېږدي او دغه راز به یې بل ورور غلام جیلاني خان هم د سفیر په حیث مقرر کړي. غلام نبي خان ژمنه وکړه چې د دې وړاندیزونو په هکله به غور وکړي. مګر په عمل کې یې سمدستي خپلو سیاسي فعالیتونو ته زور ورکړ.[1]

افغانستان ته د غلام نبي خان له رسېدلو سره، د امان الله خان طرفدارانو، د سرحد له قبایلو سره، د نادرخان پر ضد د یوه وسله وال پاځون لپاره تماسونه ټینګ کړل او ډېر زیات کسان یې پاځون ته تیار کړل. د وزیرو قبایلو د نادرخان له دښمنانو سره یوه موافقه لاسلیک کړه چې د هغې په اساس به د کابل د نیولو په صورت کې دوی ته اته سوه زره افغانۍ او د کابل د خزانې د چوړولو اجازه

[1]- هغه کتاب ص٣٦٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوله کېدله.[1]

نادرشاه، د خپلو فعالو استخباراتو له لارې، د غلام نبي خان او د امان الله خان د طرفدارانو له ټولو فعالیتونو څخه خبر وو او د هغه د پلانونو د عملي کېدلو د مخنیوي له پاره یې لازم تدابیر نیولي وو.

انګرېزانو هم په صوبه سرحد کې د غلام نبي خان د فعالیتونو د څارلو لپاره بشپړ ترتیبات نیولي ول. هغوی په دې خبر ول چې د امان الله خان د طرفدارانو د قیام اصلي قوه د آزاد سرحد پښتني قبایل دي. په کابل کې د شوروي سفارت پوځي آتشې رپوټ ورکړ چې په پېښور کې د انګرېزانو پوځي قطعات د تیارسۍ په حال کې دي او ځینې قواوې یې د افغانستان او برتانوي هند پولو ته استولې وې.

نادر خان او د هغه انګلیسي متحدینو په دې برخه کې کافي اسناد او لاسوندونه په لاس کې لرل. د شوروي استخباراتي اسناد ښیي چې باید افغانستان ته د غلام نبي خان د رسېدلو سره سم، د خوګیاڼیو قبیلې د ملک قیس په مشرۍ ښورښ پیل کړی وای، مګر نادر خان د خپلو استخباراتو په زور د هغه مخه ونیوله او غلام نبي خان کابل ته راغی.

ډېر زیات ډیپلوماټان د غلام نبي خان دې خطرناک حرکت ته حیران وو او حتی د شوروي سفیر ستارک په ارګ کې په یوه مېلمستیا کې له غلام نبي خان څخه په ډېر احتیاط د هغه د پروګرامونو په باره کې پوښتنه وکړه. غلام نبي خان ورته وویل چې د کار لپاره راغلی دی او حکومت، د قبایلو له ویرې، د هغه په مقابل کې د عمل کولو جرأت نه لري. ستارک د شوروي سفارت ته په خپل رپوټ کې ولیکل چې غلام نبي خان، د نادرخان په مقابل کې د پاڅون لپاره، ولایاتو ته خپل سړي او لیکونه استولي دي او دا کار په ډېره بې احتیاطۍ کوي.

ډېر زیات کسان چې د ده پیغامونه او لیکونه رسوي د نادر خان د استخباراتو سړي دي او د نادر خان حکومت د غلام نبي خان په ټولو فعالیتونو پوره خبر

---

[1]- تیخانوف ص ۲۵٦-۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی.[۱]

د شوروي اتحاد د حکومت ټولې څانګې د افغانستان په چارو کې د مداخلې او د امان الله خان د طرفدرانو د ملاتړ په برخه کې په یوه نظر نه وې. د شوروي اتحاد استخبارات او د ګوند په رهبري کې ځینې کسان د شوروي د عاجلو کړنو پر خوا ول مګر خارجه وزارت د شوروي عملیاتو ته خوشبین نه وو. د بهرنیو چارو وزارت یو عالي رتبه مامور تسوکرمان د خارجه وزارت مرستیال لیونید قراخان ته په یوه یاداشت کې لیکلي وو چې هر څوک چې داسې ګومان کوي چې په نږدې راتلونکي کې به د نادر خان پر ځای زموږ یو طرفدار، چې زموږ په ګټه به وي، په کابل کې واک ته ورسېږي، اشتباه کوي. څکه چې په اوسنیو شرایطو کې د نادر خان پر ځای د امان الله خان منځته راتلل؟ په افغانستان کې د قواوو تناسب خرابوي او انګرېزان ښایي داسې مداخله وکړي چې خپل یو ګوډاګی به واک ته ورسوي. د نادر خان له پرزېدلو سره به په افغانستان کې قومي او قبیلوي جنګونه پیل شي چې ټول هېواد به ټوټې ټوټې شي او په هره سیمه کې به یو پاچا ناست وي. په افغانسنان کې د اوضاع دغه راز خرابېدل به انګلیسانو ته دا فرصت په لاس ورکړي چې د منځنۍ اسیا په هېوادونو کې به د مداخلې کولو لپاره ډېرې لارې ورته خلاصې شي او موږ به مجبور یو چې د خپلو پولو د ساتلو لپاره زیات پوځي اقدامات وکړو. [۲]

نادرشاه، د غلام نبي خان د فعالیتونو د شنډولو لپاره، خپل ورور شاه محمود خان، چې د جنوبي په پښتني قبایلو کې یې زیات نفوذ درلود، هغې سیمې ته واستاوه. هغه ته ډېر ژر معلومه شوه چې غلام نبي خان په پښتني قبایلو کې په خطرناکو فعالیتونو بوخت دی او د نادر خان پر ضد ډېر زیات خلک پارېدلي دي. شاه محمود خان په دې پوهېدو چې قبایل د پوځي مهماتو له کمبود سره مخامخ دي نو یو چل یې وکړ او هغه دا چې، د پوځي مهماتو په نوم، یو کاروان یې خوست ته واستاوه. پښتني قبایلو پر هغه باندې حمله وکړه خو وروسته ورته

---

[1]- هغه کتاب ص ۲۵۸-۲۵۹

[2]- بویکو ص ۳۵۵-۵٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومه شوه چې ټول صندوقونه له ډبرو او شګو ډک دي. په دې توګه شاه محمود خان خپل ځان د قبایلو په نیت خبر کړ او نادرشاه ته يې د غلام نبي خان د دسیسو په باب رپوټ ورکړه.

د شوروي سفارت پوځي آتشه واسیلییف حکومت ته په خپل رپوټ کې لیکي چې د ورځې د نیمايي په شاوخوا کې د نادرشاه یو یاور د غلام نبي خان کور ته ورغی او هغه ته يې وویل چې پاچا د هوا خوری لپاره دباندې وځي او ته يې بللی يې. کله چې غلام نبي خان ارګ ته ورغی نادر خان د ارګ له برنډې څخه په ښکنځلو او بد ویلو بنا وکړه. غلام نبي خان په پوره زړه ورتیا ځواب ورکړ او نادرشاه هم هیڅ رحم وربادې ونه کړ. عسکرو ته يې امر وکړ چې د ټوپکو په قنداقونو يې ووهي.[1]

نادر خان د غلام نبي خان چرخي د اعدامولو سره، د مطلقه شاهي له رسم او عادت سره سم، د چرخي کورنۍ او د امان الله خان نور طرفداران په زبردستۍ سره وځپل او پر چا باندې يې چنداني رحم ونه کړ. د دې کورنۍ ځو تنه نور غرغره شول. د چرخي د کورنۍ ډېر زيات کسان بندیخانو ته واستول شول، چې ځو تنه يې هلته وفات شول. او ډېر زيات يې تر ډېرو کلونو پورې د بندیخانو شومه شول.[2]

شاه محمود خان له پنځلسو زرو عسکرو سره د سهېل خواته خوځېدلی وو او د غلام نبي خان د طرفدارو ځدرانو خانانو د ایلولو او رانیولو لپاره يې څه د پاسه پنځه میلیونه افغانۍ په رشوتونو ولګولې، مګر بیا هم وضع کراره نه شوه خو کله چې هغوی د غلام نبي خان له وژل کېدلو څخه خبر شول نو له مقاومته يې لاس واخیست، مګر شاه محمود خان د ښورښیانو په نیولو بریالی نشو او هغوی د وزیریستان سیمې ته ولاړل.

له دې پېښو سره یو ځای د خوګیانیو مشهور مشر ملک قیس، چې د علي احمد خان د نیولو لپاره يې له سقاو څخه اووه لس زره روپۍ اخیستې وې، د نادرخان

---

[1]- هغه کتاب ص ۲۵۹-۲۶۰

[2]- بویکو ص ۳٦٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غوښتنې په خلاف کابل ته ورتللو ته حاضر نه شو او نادر خان ته یې ځواب واستاوه چې دی غلام نبي خان نه دی چې پر خپلو پښو به دار ته تسلیمېږي. ویل کېږي چې د خوګیاڼیو مشر پنځه ویشت زره وسله وال سړي، وسلې او توپونه درلودل او له هغه سره په داسې حال کې چې نادر خان نورې زیاتې ستونزې درلودلې مخامخ مقابله ګران کار وو او نادر خان دا موضوع بل فرصت ته پرېښودله.[1]

نادرخان او د هغه کورنۍ ته د شور بازار د حضرتانو دسیسې، چې هم د امان الله خان د سلطنت د پرزېدلو یو لوی عامل شو او هم یې د سقاوي رژیم په مقابل کې پټې او ښکاره توطیې کولې، یوه بله لویه ستونزه وه. فضل عمر مجددي، چې په وطن کې په شېر آقا مشهور وو او د امان الله حان په مقابل کې یې له دیني علماوو څخه د کفر فتواوې را غونډې کړې وې؛ د اعلیحضرت امان الله خان د تخت د بېرته نیولو په جنګونو کې میدان ته داخل شو او د غزني په شاوخوا سیمه کې یې د هغه پر ضد غلجي قبایل حملو ته وهڅول. امان الله خان بالاخره د جنګ میدان پرېښود او حضرت د نادر خان ملاتړ وکړ. نادر شاه هم، چې د حضرتانو، روحانیونو او دیني عالمانو په زور پوهېدو، نه یوازې نورو دیني عالمانو ته امتیازات ورکړل او د امان الله خان ځینې اصلاحات یې لغو کړل؛ شېر آقا یې د عدلیې د وزیر او د علماوو د شورا د رییس په حیث مقرر کړ.

حضرت، ډېر ژر، د نادر خان په مقابل کې دسیسې پیل کړې؛ ښایي ده به نور داسې امتیازات غوښتل چې نادر خان به نه شوای ورکولای او یا یې لا ښایي پخپله د پاچاهۍ خیال په سر کې وو؛ ځکه چې که سقاو پاچاهي کولای شوای نو دی تر چا پاتې وو. حضرت هم د سقاو او هم د امان الله خان له ځینو ملګرو سره تماسونه ټینګ کړل او د امان الله خان ملګرو خو ورته وویل چې که امان الله خان قدرت ته ورسېد نو دی به په هغه نظام کې د عدلیې وزیر وي او د شیخ الاسلام لقب او امتیازات به ولري او چې دی یې غواړي په هغه اندازه

---

[1]- تیخانوف ص ۲٦۱-٦۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاحيتونه او واک به ورکړي.

ويل کېږي چې امان الله خان هغه ته په يوه پيغام کې ويلي وه چې حاضر دی خپله يوه خور هغه ته په نکاح کړي. شېرآقا په خپلو دسيسو کې له دونه بې شرمۍ څخه کار واخيست چې د شوروي له سفارت سره يې هم د تماسونو د ټينګولو او مذاکراتو کوښښونه وکړل. د شوروي اتحاد سفير ليونيد ستارک د شوروي خارجه وزارت ته وليکل چې شېرآقا د متحدينو د پيدا کولو په لټه کې کوښښ وکړ چې حتی زموږ سره خبرې پيل کړي، مګر موږ د هغه غوښتنه رد کړه.[1]

## د غلام نبي خان چرخي له وژل کېدلو وروسته سياسي وضع:

د غلام نبي خان چرخي له وژل کېدلو سره، د ډله ايزو بندي کېدلو او اعدامونو سلسله پيل شوه او د عمومي جنګ تر پايه پورې يې په لړ او ډېره پيمانه دوام وکړ. په مقابل کې د نادر خان د کورنۍ مخالفينو او د امان الله خان طرفدارانو او پخپله امان الله خان هم سياسي فعاليتونو او سياسي قتلونو ته زور ورکړ.

د ۱۹۳۳ز کال د جون پر شپږمه سيد کمال، چې په جرمني کې يې تحصيل کړی او په هغه هيواد کې اوسېده، په جرمني کې د افغانستان سفير سردار محمد عزيز خان، د سفارت په ودانۍ کې وويشت او وواژه. جرمنيانو هغه افغانستان ته ونه سپاره؛ څه باندې يو کال وروسته يې د جولای پر شپږمه په اعدام محکوم کړ او د ۱۹۳۵ز کال د جنوري پر څوارلسمه يې اعدام کړ.

سيد کمال په جرمني کې د سمينټو جوړولو په څانګه کې خپل تحصيل پای ته رسولی او د افغانستان خواته يې حرکت کړی وو، چې په افغانستان کې اماني نظام سقوط وکړ. سيد کمال په ايټاليه کې د افغانستان د سفير، سيد قاسم خان، پر دې مشوره چې په افغانستان کې د اوضاع تر معلومېدلو پورې په روم کې پاتې شي غوږ ونه نيوی او د خپلو ملګرو سره يو ځای هند او وروسته کندهار ته، چې امان الله خان د پاچاهۍ د بېرته نيولو لپاره عمليات پيل کړي وو، ځان

[1]- بويکو ص ۳۱۵-۳۱٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورساوه.[۱]

سید کمال د غزني په محاصره کې د امان الله خان له ماتې وروسته په ټوله لار کې د امان الله خان ملګری وو او د مارسیز په بندر کې یې له هغه سره خدای په اماني وکړه. امان الله خان یو څه جېب خرڅ هم ورکړ او سید کمال جرمني ته ولاړ.[۲]

سید کمال، څه موده وروسته، د امان الله خان لپاره د سیاسي فعالیتونو او له هغه سره د سلا مشورو لپاره، روم ته ولاړ. د امان الله خان سره د سید کمال د ملاقات او نتیجې په باب څه لیکل شوي نه دي، خو هغه د امان الله خان په طرفداری کار ته یې دوام ورکړ.[۳]

طبیعي خبره ده چې دا ټول اطلاعات به د افغانستان استخباراتو ته، چې په اروپایي هېوادونو کې یې، د خپلو سفارتونو له لارې، شبکې درلودلې، رسېدلې وي او د سید کمال په لاس به یې د نادرشاه د ورور عبدالعزیز خان د وژلو څخه وروسته د دواړو کورنیو ترمېنځ د اختلاف او دښمنۍ اور نور هم تازه کړی وي. امان الله خان د دې موضوع حساسیت ته متوجه وو او هېڅ څرګنده مداخله یې پکې ونه کړه. امیر الدین شنسب، چې د سید کمال شخصي ملګری وو او له هغه سره یو ځای د امیر امان الله خان سره اوږه پر اوږه جنګېدلی وو، له دې امله سخت ګیله من دی او وایي چې امان الله خان، غلام صدیق خان او شجاع الدوله خان، چې ټول په اروپا کې ول، او ښې شتمنۍ یې درلودلې عبدالخالق یوازې پرېښود، هېڅ مرسته یې ورسره ونه کړه؛ هغه ته یې یو مدافع وکیل هم استخدام نه کړ او هغه بالاخره دعوه بایلوده او اعدام شو.[٤]

له دې پېښې څخه پوره درې میاشتې وروسته محمد عظیم، د سفیر مکوناچې د وژلو په منظور، په کابل کې، د برتانیې سفارت ته ننووت او درې تنه یې

---

[1]- شنسب ص ۵۳

[۲]- هغه کتاب ص ۹٦

[۳]- هغه کتاب ص ۱۰٦

[4]- هغه کتاب ص ۱۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویشتل او ټپیان یې کړل. د کابل حکومت ډېر چټک اقدام وکړ. محمد عظیم یې اعدام کړ، له هغه سره یې محمد ولي خان او د غلام نبي خان چرخي ورور غلام جیلاني خان، چې په دې وروستۍ پېښه کې یې هېڅ ډول لاس نه درلود، اعدام کړل او یو شمېر کسان یې ونیول.[1]

په داسې حال کې چې د ډیورنډ د پولې پر دواړو غاړو، کابل، ولایاتو او اروپا کې د نادر خان او د هغه د کورنۍ پر ضد تبلیغاتو او دسیسو زور اخیستی وو امان الله خان د ۱۹۳۳ز کال د جولای په میاشت کې استانبول ته سفر وکړ؛ ښې ډېرې ورځې یې تېرې کړې ؛ د ترکیې له جمهورریس مصطفی کمال اتا ترک سره یې څو ځله وکتل او افغانستان ته د بېرته تللو په اړه یې د مصطفی کمال څخه مرسته وغوښتله.

مصطفی کمال وویل چې شوروي د امان الله خان له طرفدارانو سره مرستې وکړي نو ترکیه به هم خپلې مرستې ونه درېغوي. مگر څرنگه چې سټالین پوځي مرستې ته تیار نشو نو ترکیې هم سوړ عکس العمل وښود. دې دواړو هېوادونو نه غوښتل چې د امان الله خان سره د مرستې کولو په بدل کې د انگرېزانو دښمني په بیه واخلي.[2]

د ۱۹۳۳ز کال د نومبر پر اتمه د نجات د لیسې عبدالخالق نومې زده کونکي، نادرشاه په داسې وخت کې په توپنچه ووژلو چې هغه زده کونکو ته انعامونه وېشل او شهادت نامې یې ورکولې. مورخین پر دې خبري اتفاق سره لري چې عبدالخالق د غلام نبي خان چرخي په کورنۍ کې لوی شوی او د چرخي د کورنۍ له ماشومانو سره یو ځای ښوونځي ته تللی وو. د نادر شاه له وژل کېدلو سره یو ځای، لکه څرنگه چې انتظار یې ایستل کېده، د استبداد وړ دهشت نوې څپه پیل شوه. د عبدالخالق ټوله کورنۍ او ځینې نژدې ملگري او هم ټولگیوال یې او د چرخي د کورنۍ ځینې غړي اعدام شول او په لس هاوو کسان د بندیخانو شومه شول.

---

1- آدمک ص ۱۹٦-۱۹۷

2- تیخانوف ص ۲۷۱-۲۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت سردار هاشم خان د هېواد شمالي سيمو ته تللی وو او د حربيې وزير شاه محمود خان، د وضع د خرابېدلو د مخنيوي لپاره، سمدستي د نادرشاه اته لس کلن زوی محمد ظاهر پر تخت کښېناوه او د محمد ظاهر شاه په نوم يې بيعت ورته غونډ کړ.

د نادرشاه د وژل کېدلو خبر په هغه ورځ په ټوله نړۍ کې خپور شو. امان الله خان د رويټر خبري آژانس ته وويل چې که چېرې د افغانستان خلک وغواړي نو دی په خپل ټول توان او طاقت د وطن خدمت کولو ته تيار دی او زياته يې کړه چې نشي کولای د نادرشاه په مرگ تر يوې اندازې خوښي ښکاره نه کړي مگر په عين حال کې د افغانستان د پاچا په وژل کېدلو خواشينی دی.[1]

محمدصديق خان چرخي ځو ورځې وروسته له امان الله خان څخه وغوښتل چې په افغانستان کې د خپلو طرفدارانو سره د تماس ټينگولو او د ظاهرشاه پر ضد د تبليغاتو په منظور په هيواد کې دننه د يوې پټې چاپخانې لپاره ترتيب ونيسي. هغه کتاب هغه مخ هاشم خان، چې د نادر شاه له وژل کېدلو څخه وروسته، څوارلس کاله د افغانستان اصلي واکمن وو، هېڅ وخت د امان الله خان د له منځه وړلو له پلانونو څخه لاس وانخيست. د نادرشاه ياور الله نوازخان ته يې د امان الله خان د له منځه وړلو دنده ورکړه او دغه راز يې مکې معظمې ته، چې امان الله خان د حج نيت درلود، خپل سړي ولېږل. د ۱۹۳۴ز کال په لومړۍ نيمايي کې شوروي استخباراتو د هاشم خان دسيسې شنډې کړې.[2]

دغه راز امان الله خان هم د بيرته پاچا کېدلو له تلاش څخه لاس وانخيست او تر ۱۹۴۸ز کال پورې يې، چې بالاخره يې ظاهر شاه ته رسمي بيعت نامه را ولېږله، تلاشونه کول. د امان الله خان ملگرو د افغانستان څخه بهر، په ليرى اونيژدې ښارونو، برلين، استانبول، بغداد، مکه، تهران، مشهد، کربلا، بمبيی، کوټه او پېښاور کې ډېري لويی او پراخي شبکې فعالي کړې وې او يو ځل خو د برتانيې استخباراتو رپوټ ورکړ چې که امان الله خان اويا دهغه يو نيژدې

---

[1]- تيخانوف ص ۲۷۴

[2]- هغه کتاب ص ۲۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری د پښتنو قبايلي علاقې ته ځان ورسوي نو دا به د حاکمي کورنۍ د نسکورېدلو ما نا ولري.[۱]

صدراعظم سردار هاشم خان هم بېکاره نه وو ناست او د امان الله خان د له منځه وړلو لپاره يې خپلې ټولې استخبارتي شبکې فعالې کړې وې. هغه څو ځله د امان الله خان د وژلو لپاره سړي واستول، خو شوروي استخباراتو، په تېره بيا سټالين، چې د امان الله خان د سر د ساتلو ذمه يې وهلې وه، هر ځل هغه ته اطلاع ورکوله او د سردار هاشم خان دسيسه به يې شنډه کړه.[۲]

مرحوم غبار، ظاهرشاه ته، د امان الله خان د بيعت کولو او د پاچاهۍ د بېرته نيولو د فعاليتونو څخه د لاس پر سر کېدلو د اقدام په باب داسې احساساتي تحليل کوي چې د ده له نامه او شهرت سره نه ښايي.

مرحوم غبار ليکي: «امان الله خان د افغانستان په داخل کې د انګرېزانو په وسيله له واکمنۍ ليرې شو او په بهر کې د دښمن تر ځار لاندې وو. هغه ته يو ځل زهر ورکړه شوه او دغه راز له سخت مالي ستونزو سره مخامخ شو او اندېول يې له لاسه ورکړ او ظاهر شاه ته يې بيعت وکړ او له مبارزې څخه يې لاس واخېست. دا کار يې په داسې وخت کې وکړ چې انګرېزان د هند له نيمې وچې څخه وتلي وو او د افغانستان او پښتونستان خلک د هغه هرکلي ته تيارول او نوم يې په پاکستان او هندوستان کې زمزمه کېده.

کله چې دی ظاهرشاه ته تسليم نو په بهر کې د وطن پالونکو افغاني مبارزينو سياسي موجوديت ختم شو او په داخل کې باقي پاتې منورين په دې باور شول چې د ملي او مترقي مبارزو په لار کې د شاه او شهزاده پر اشرافي طبقه باندې تکيه کول اشتباه ده او ريښتونې مبارزه هغه ده چې د کښتي طبقې او ټولني له خوا پيل شي».[۳]

دا تحليل نه يوازې دا چې تاريخي نواقص لري، پر دې واقعيت باندې سترګې

---

[۱]- تيخانوف ص ۲۷۸

[۲]- هغه کتاب ص ۲۷۵-۲۷۶

[۳]- غبار جلد دوم ص ۱۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکي پټې شوي دي چی په افغانستان کې د کښتي طبقې مبارزه او رهبري نه په پخوا کې او نه په معاصر تاریخ کې سابقه لري بلکې د میرویس خان څخه نیولې، تر احمدشاه بابا، وزیر اکبر خان، میر مسجدي خان، غازي عبدالله خان، محمد شاه خان جبار خیل، امین الله خان لوګري، محمد جان خان وردګ، د میوند فاتح ایوب خان او... پورې ټول شهزاده ګان او اشراف وو. هر یوه په خپل وخت کې د استقلال لپاره هلې ځلې کړي او ځینې یې د مرګ تر پولې جنګېدلي دي.

دغه راز، که د مرحوم غبار دا خبره ومنو چې د افغانستان او پښتونستان خلک د امان الله خان هرکلي ته تیارول، نو افغانستان ته د هغه له احتمالي راتګ سره به د نادر خان د کورنۍ د منظمو پوځونو او د امان الله خان د طرفدارانو تر منځ په جنګونو کې څه ښارونه او کلي تباه شوي او څه په زرهاوو سرونه رغړېدلي وای او لا معلومه نه ده چې دې تباه کونکي جنګ به څومره دوام کړی او د چا په ګټه پای ته رسېدلی وای. زما په عقیده امان الله خان، د یوه وطن پالونکي افغان په حیث، ډېر پر ځای اقدام کړی او لا یې باید پخوا کړی وای.

## په جلال آباد کې د شاه او ملکې خاورو ته سپارل:



د ۲۰۰۷ز کال د جون په ۸ نېټې د اوراښاد اعلیحضرت شاه امان الله وراره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سردار کبیر الله سراج له امریکا د تیلفون له لارې راته وویل: د اروابناد شاه امان الله د وصیت پر بنسټ جنازه یې باید د هغه د نیکه(امیر عبدالرحمن خان) د قبر ترڅنګ د کابل په بڼ ماڼۍ (بوستانسرا) کې خاورو ته سپارل شوې وی، خوکله چې دغه موضوع د امان الله خان د خوریي جنرال سردار ولي له خوا شاه ولي خان او ظاهر شاه ته وویل شو، هغوی تر دریو ورځو ملکې ثریا ته هېڅ ځواب ورنه کړ. د ملکې ثریا د وینا له مخې په دې ترڅ درې هېوادونه دې ته چمتو شول چې د اروابناد جنازه په ځانګړي درناوي په خپله وطن کې خاورو ته وسپاري. لومړنی هېواد ترکیه وو چې د شاه امان الله او د هغه هېواد اروابناد مشر مصطفی کمال اتاترک د ملګرتوب په درناوي غوښتل د پاچا جنازه په پرتمینو مراسمو ترکیې ته یوسي او د کمال اتاترک د مقبرې تر څنګ یې خاورو ته وسپاري. دوهم هېواد سعودي عربستان او دریم ځای د پښتونستان وګړي ول چې د غازي اروابناد امان الله د جنازې د راوړلو لپاره یې چمتوالی ښوولی وو. په دغه وخت کې د افغانستان سر وزیر سردار محمد داود ماسکو ته په سفر تللی وو او کله چې د دغو مسلمانو هېوادونو په ځانګړې توګه د پښتونستان د وګړو خبره یې ورته وکړه هغه لارښوونه وکړه چې د غازي امان الله خان جنازه دې د هغه د پلار امیرشهید ترڅنګ خاورو ته وسپارل شي. د شاه امان الله خان وروڼو او خویندو غوښتنه وکړه چې د شاه امان الله جنازه دې یوځل په کابل کې کښته شي چې خپلوان او د کابل وګړي اروا ښاد پاچا ته د خپل درناوي مراسم ترسره کړي خو دغه غوښتنه ونه منل شوه او لارښوونه وشوه چې جنازه دې د کندهار په هوایي ډګر کې له یوې لنډې تم کېدنې وروسته نیغ په نیغه جلال آباد ته ولېږدول شي او پرته له ځنډه دې خاورو ته وسپارل شي.**

**د پښتنو د توکمونو مشرانو د اروابناد جنازه په ډېر درناوي د ننګرهار له هوایي ډګره پورته کړه، د جلال آباد له ښاره یې تېره کړه او بیا یې د سراج العمارت په بڼ کې د امیر حبیب الله د مقبرې ترڅنګ یې پرځمکه کېښودله. کله چې جنازه خاورو ته سپارل کېدله، خان عبدالغفارخان غوښتل خپله وینا واوروي او همدا چې ویې ویل: شاه امان الله خان ما ته د فخر افغان درناوي نوم(لقب) راکړی او غواړم د دغه ولسپال او په ولس مین پاچا په اړه خبرې وکړم، هغه ته د نورو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو کولو اجازه ور نه کړل شوه او شاه ولي خان په ډېر قهر د مقبرې له سره لېرې شو او خپل زوی سردار ولي ته یې وویل: هر څه چې له دغو خلکو سره مرسته او انسانیت وشي، په قدر یې نه پوهېږي.

په جلال اباد کې د آزادیپال او هېوادپال غازي شاه امان الله خان قبر،

سردار کبیر سراج زیاته کړه چې د شاه امان الله د فاتحې مراسم د کابل د پل خشتي په جومات کې ونیول شول او د شاه امان الله ورونه او مشر زوی یې سردار رحمت الله جان د ویر پر ټغر کښېناستل. د ویر په دریمې ورځ د پل خشتي په جومات کې د کابل ګڼ شمېر ښاریان راټول شوي ول او غوښتل یې د اروابناد پاچا زوی له نږدې وګوري او د هغه له لارې ولسپال پاچا ته د خپلو زړونو درناوي ډالۍ کړي، خو شهزادګي رحمت الله ته اجازه ورنه کړل شوه چې د کابل د خلکو له مخې تېر شي او له هغوی مننه وکړي. شهزادګی رحمت الله جان یې د جومات له شاتېنۍ دروازې له جوماته د باندې وایسته او سردار کبیرالله سراج د راټولو شویو خلکو ډلو ته ولېږل شو چې له وګړو مننه وکړي او خلکو ته دې ووایي چې شهزادګی رحمت الله جان د جومات له شاتینۍ دروازې د باندې تللی دی. سردار کبیرالله سراج زیاته کړه چې د فاتحې په هماغه دریيمې ورځ د اروابناد شاه امان الله زوی ته وویل شول چې ژر ترژره دې له هېواده ووځي، خو هغه غوښتنه وکړه چې یوازې یوه ورځ نور دې ورته اجازه ورکړل شي چې د دارالامان ماڼۍ او د پغمان بڼ له نږدې وویني، خو د سلطنت ځان غوښتونکې ادارې دغه انساني غوښتنه وغندله او شهزادګی له خپل خوریي (د محمد ولي خان له لمسي) سره په اوښکو ډکو سرو سترګو او ناهیلي زړه د کابل له ښاره چې د پلار د مینې ښار یې وو، ووت چې د دارالامان د ماڼۍ او د پغمان د بڼ تنده له ځان سره ګور ته یوسي. د شاهي رژیم په داسې ځان غوښتونکې او قهر لړلې خپلسرۍ او ځان منني دې آپرین وي!!

ریه تالي ستیوارت د (په افغانستان کې اور/ آتش در افغانستان) کتاب لیکوال د اعلیحضرت شاه امان الله د تدفین د مراسمو په اړه لیکي چې: په جلال آباد کې تابیاوې نیول شوې وې چې د هغه میرې زی ورور دې د هغه جنازه تر قبره پورې ولېږدوي، خو د قبایلو خلک چې یو شېمر یې د شینوارو د سنګوخیلو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټبره ول خلک او د مرحوم امان الله د کورنۍ غړي يوې خواته ټېل وهل، غوښتنه او ټينګار يې وکړ چې تابوت به دوی تر قبره يوسي او دغه کار يې وکړ. د هغه وصيت يې پر ځای کړ او د پلار د مرقد تر څنګ يې خاورو ته وسپاره، په دې ډول پاچا د هغه وطن په زړه کې خاورو ته وسپارل شو چې هغه ورسره مينه درلودله. په جلال آباد کې مې د هغه آرامځای وليد، يوې خوا ته د مرمرو په کاڼو پر پوښل شوې ډېرې د هغه د پلار نوم لېدل کېږي او دې ته ورته د امان الله خان نوم د مرمرو د کاڼي پر مخ لېدل کېږي او هرځل چې ورتلم ليدل مې چې پرقبر يې تازه ګلان ايښودل شوي، حال دا چې عنايت الله خان يې له سترګو غورځولی وو. يو ځل د لمانځه په وخت ورغلم ومې لېدل چې يو تن دعا کوي او راته ويې ويل چې خپل بوټان وباسم، هو دا کار هغه وګړي کوي چې يوه ورځ يې ښواکه کړی وو(پ ۱۹۲ -۱۹۱).

ريه تالي ستيوارت د ( په افغانستان کې اور/آتش درافغانستان ) کتاب لېکوال د ملکې ثريا د تدفين په مراسمو کې هم ګډون کړی وواو په دې اړه ليکي: په ۱۹٦۸زکال کې وروسته له دې چې د برتانويانو لاسوندونه مې ولوستل افغانستان ته ولاړم، په هغه وخت کې افغانستان يو ډېر پرمختللی او عصري هېواد وو. د کابل د پوهنتون پرمختګ مې په هاغسې ډول ولېد چې امان الله خان په اکسفورډ کې د خپلې وينا په ترځ کې ورڅخه يادونه کړې وه.

د ۱۹٦۴ز کال(د ديموکراسۍ پېر يا دور) اساسي قانون وتلی او د کانتيننتل هوټل جوړشوی وو او ښځو چې اروپايي جامې يې په ځانونو کې وې له ما سره خبرې کولې. چادري لرونکو ښځو به په سترګو سترګو کې ماته کتل او يوې چادر پوښې ښځې د پان امريکن د هوايي کرښې بکسه له ځان سره وړه. ماته وويل شول لس کاله مخکې د داود خان په پرمختللي وخت کې د شاهي کورنۍ، افسرانو او لوړ پوړو چارواکو ښځو له چادرۍ پرته د جشن په مراسمو کې ګډون کړی کوو او د هغې ورځ په سبا په واټونو کې پوليس د تيارسۍ په حال کې لېدل کېدل چې خلک لوڅ مخو ښځو ته تاوان ونه رسوي، حال دا چې ۳۱ کاله مخکې ملکې ثريا چادري له ځانه ليرې کړې وه.

د امان الله خان په وړاندې بلخوا افغانستان ۴۰ کاله وروسته بېرته وغورځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملکه ثریا د ۱۹٦٨ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۱ نېټې په روم کې له نړۍ سترګې پټې کړې، ایتالویانو د ملکې ثریا جنازې ته د ځانګړو شاهي تشریفاتي دودونو له لارې درناوی وکړ او هغه یې کابل ته انتقال کړه چې شپې وروسته په یوې پوځي الوتکه کې جلال آباد ته و لېږدول شوه؟ کله چې د ثریا جنازه جلال آباد ته راورسېدله زه په هوایي ډګر کې وم، څو تنو پګړۍ پوښو قبایلو چې یو وخت د هغې له کړنو څخه کرکجن شوي ول د هغې د جنازې په موټر کې مخکې ناست ول او قرآن یې لوست او په داسې حال کې چې دعا یې کوله له الوتکې لیرې شول.**

**د ملکې ثریا قبر یې د امان الله خان له آرامځي لږ لېرې کېندلی وو او وروسته له تدفینه ملایانو بې اختیاري خبرې وکړې خو هغه یې ونه ستایله. د هغې د کورنۍ له ښځو پرته بله هېڅ ښځه نه لېدل کېدله. کله چې نارینه له قبره لیرې شول یو شمېر چادري پوښې ښځې راغلې او لاسونه یې پورته کړل او ملکې ثریا ته یې دعاوې وکړې. هغوی د داسې چا لپاره دعاوې کولې چې کلونه کلونه مخکې یې غوښتل هغوی له چادرۍ وژغوري. (پ ۱۹۴-۱۹۵)**

## دغازي امان الله شخصیت ته دلطیف پدرام سپکاوی:

**د ۲۰۰۸ز کال د جون د مېاشتې په وروستې اونۍ کې د ( لطیف پدارم په نامه) یوې تورې کرغیړنې، ککړې او د پردیو لاسپوڅې څېرې، په خړسرۍ او بې پازوالۍ د غازي شاه امان الله خان شخصیت ته سپکې سپورې او ښکنځلې په ژبې راوړې او په دې پلمې چې ګڼې ولې غازي امان الله خان یو شمېر پښتانه د هېواد په شمالي سیمو کې مېشت کړي، د هغه پرشخصیت یې تېری وکړ او هغه ته یې د (پدرلعنت) او(دیوث) د کلماتو په ویلو سپکاوی وکړ. د لطیف پدرام له خولې دغه کلمات لومړی د Youtube د انټرنتي پاڼې له لیکې په نړیوالو رسنیو کې خپاره شول. د لطیف پدرام د بد اخلاقې ژبې او له پاکوالۍ وتلو او بې ځایو خبرو په وړاندې لومړی د افغاني ویب سایټونو له لارې په ځانګړې ډول د پورتال افغان-جرمن آنلاین او د بینوا په ویبپاڼه کې پراخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبرگونونه را وپارېدل. د افغان حق پيژندونکي ولس د دغو نا انډوله خبرو په اورېدلو د مقالو او شننو د ليکلو له، په کابل، پکتيا او ننګرهار کې د لاريونونو او په تلويزيونونو کې د غبرگون ناستو د جوړولو له لارې او په ځانګړې توګه د جلال آباد د حقپالو وګړو د يوه پراخ لاريون څخه وروسته د هغه ارواښاد د مقبرې پر سر د ګلونو د ګېډۍ د ډالۍ کولو په ترڅ کې د لطيف پدرام پر ضد خپله ژوره کرکه څرګنده کړه.

لاريون کوونکو له دولت څخه وغوښتل چې لطيف پدرام دې د افغانستان د خپلواکۍ د اخيستو د سپکاوي په تور د قانون منګولو ته وسپاري چې د هغه په شان نورو ته د عبرت يو درس وګرځي. دا ډول څېرې غواړي هېواد په پرديو وپلوري او د افغانانو ملي وياړونو او ملي شخصيتونو ته د سپکاوي له لارې يو ځل بيا توکميزو ناخوالو او تربګنيو اور ته لمن ووهي. لاريون کوونکو وويل چې که دولت دغه سړي ته اړينه سزا ورنه کړي نو هغوی په خپله له لطيف پدرام څخه د دغه سپکاوي غچ واخلي. د جولای په ۲۵ د باختر خبري آژانس رپوټ ورکړ: په هغې غونډه کې چې د افغانستان د توکمونو د تفاهم ملي غورځنګ (تفاهم اقوام افغانستان) له پلوه جوړه شوې وه، د يو شمېر توکمونو استازيو د خپلو خبرو په ترڅ کې د شاه امان الله غازي د شخصيت، د هېواد د خپلواکۍ د بيا ترلاسه کولو په لاره کې د هغه سپيڅلو هڅو ته نغوته وکړه او د ملي کنګرې د ګوند د مشر لطيف پدرام خبرې يې ملي ارزښتونو ته سپکاوی وبللې او د هغه د محاکمه کولو غوښتونکي شول. همدا شان د شاه امان الله غازي وراره عبدالعلي سراج په خپلې وينا کې وويل: د پدرام دغه خوځښت يو منفي خوځښت دی او غازي امان الله خان ته سپکاوي، ټول ملت ته سپکاوی دی. د هغه په وينا: غازي امان الله خان د هېواد خپلواکي د ولس د يو والي له لارې ترلاسه کړه. د دغې غونډې ګډون کوونکو په دې اړه يوه اعلاميه هم خپره کړه.[1]

د ۲۰۰۸ز کال د جولای ۲۳، ۲۴ او ۲۵ د لطيف پدرام په وړاندې د افغانستان په ګڼو ښارونو کې د احساساتو او د کرکې د څرګندولو ورځې وې چې د آريانا د تلويزيون له لارې د افغانستان ولس ته د نړۍ په هر ګوټ کې خپرې شوې. د

---

1- (۲۰۰۸/۷/۲۵ باختر آژانس )

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر افغاني ولسپاله ویب سایت په پاڼه کې د لطیف پدارم په اړه، د هغه د تور او کرغیړن ژوند او له بهرنیو هېوادونو سره د هغه د خاینانه تړاونو په اړه په لسګونو لیکنې خپرې شوې. په همدغو ویبپاڼو او د امریکا خپرېدونکي آریانا افغانستان تلویزیون له لارې تبصره کوونکو وویل چې د شلمې پېړۍ په ۸۰ لسیزې کې لطیف پدرام د خاد یو مخفي غړی وو چې د (پامیر) تر مستعار نامه لاندې د دولتي امنیت د مرستیال جنرال امیر محمد ترنیغې مشرۍ لاندې یې کار کاوه او دنده یې د هغو یو شمیر خپلواکو او بې پرې روڼ اندو نیول ول چې د واکمن ګوند غړیتوب یې نه درلود. هغه د خاد په لارښوونې احمدشاه مسعود ته ورغی او مسعود ته له څوکاله مخبرۍ وروسته ایران ته ولېږل شو او د ایران د استخباراتو (اطلاعاتو) په خدمت کې پاتې شو. په ایران کې د افغانستان سفارت ته په تګ راتګ او د سفارت د هغه دغه غړي څخه د پور د اخېستلو په پلمې له سفارتي کار کوونکو سره لېدل. خو په حقیقت کې هغه د سفارت له کارکوونکو څخه د افغانستان په اړه مالومات راټولول او هغه به یې د ایران د دولت استخباراتو ته ورسپارل.

د داکتر نجیب الله د دولت له پرځېدلو وروسته افغانستان ته راغی خو دا ځل احمد شاه مسعود او رباني ورته مخه ورنکړه او ازبکستان ته ولاړ او له هغه ځایه اروپا په ځانګړي توګه فرانسې هېواد ته یې پناه یوړه. له دوو لسیزو راپه دیخوا هڅه کوي چې د افغانستان نوم دې ګنې په خراسان واوړي. هغه په بې شرمۍ وایي چې د افغان او افغانستان له کلماتو څخه کرکه لري. څو څو ځله یې د بي بي سي د راډیو له لارې د افغانستان د نامه په اړه خپله کرکه څرګنده کړې ده. هغه په اروپا کې د پښتنو ضد هغه تاجیک روڼ اندو له یوې ډلې څخه د ملي کنګرې په نامه ګوند جوړ کړی او خپل ځان یې د ګوند مشر معرفي کړی دی. په ۲۰۰۴ز کال کې د ولسمشرۍ په ټاکنو کې یې ځان کاندید کړ، خو د هغه له ډلې پرته ولس ورته رایه ورنه کړه او له خپلي کاندیدۍ وشرمېد. له هغه وروسته سیمه ییزو او توکمیزو ناخوالو ته د لمن وهنې له لارې غواړي یو ځل بیا زموږ په جنګ ځپلي هېواد کې کورنۍ جګړه پیل کړي او له دغو بلواګانو څخه د ځان لپاره ګټه تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پېړيو پېړيو راهيسي پښتانه د افغانستان په شمال کې ژوند کوي او پدرام په براﻻ له شماله د هغوی د راايستلو نغارې ډمبوي او د هغه د زهر لړلو ډنډورو د اغيزو له امله د عبدالرشيد دوستم ترمشرۍ لاندې د ازبک جنګي ډلو تر اوسه پر زرګونو پښتنې کورنيو له شډلتيا او وحشته ډک يرغلونه کړي، کورونو ته يې اور اچول شوی، شتمني يې لوټ شوې او پر ناموس يې تېری شوی. د ۲۰۰۱ز کال په وروستيو کې د طالبانو له ړنګېدلو وروسته د پښتنو زرګونه کورنۍ په دې پلمه چې له طالبانو سره همژبې دي د شمالي ټلوالې تر وحشيانه تېريو لاندې راغلې او اړ ايستل شوې چې پاکستان، کندهار، او جلال آباد ته کډوال شي. د قندهار او جلال آباد د کډوالو په کمپونو کې له فارياب، کندز، سمنګان او هراته راکډه شوي کډوال هغه کډوال دي چې د دغه ناروين له امله يې خپله شتمني له لاسه ورکړې او نن په دغه اکر کې راګير شوي دي.

پښتانه دې بيدار او هوښيار اوسي چې يو يا څو تنه دې نور د هغوی او د ملت په ملي وياړونو لوبې او سپکاوی ونه کړي. د لطيف پدارم په وړاندې دغه غبرګونونه د دې لامل شول چې نوموړی دې له خپلو دغو خړو خبرو وشرمېږي او منکره شي او په بې شرمۍ دې انکار وکړي. لطيف پدارم او د هغه همکاسه ګان دې پوه شي چې د پښتانه برخليک جوړونکي او مېړنی توکم لا تر اوسه په دغه هېواد کې (د روس، امريکې او ناټو له ديرش کلنۍ بمبارۍ سره سره) مړ نه دی او ژوندی دی او پوه دې شي چې دوی د خپل هېواد له شرف، وياړ، نوم، ملي هويت، ملي خپلواکۍ او ځمکنۍ پشپړتيا څخه د ساتنې وسه لري او هر پردي پال او د پرديو نوکر او ملي خاين ته به په خپل وخت کې ځواب ورکړي.

د خپلواکۍ پر دوښمنانو او د افغاستان د خپلواکۍ د بيا ګټونکي اعليحضرت غازي امان الله خان پر ميرخېو دې د افغانستان د وګړو تل پاتې کرکه ژوندۍ وي.

د هېواد د نورو وګړو په پرتله هندوانو له ټولنيز اړخه ډېر بې وزلی ژوند درلود، شاه ته د هندوانو دغوښتنې پربنسټ د يو شمېر ستونزو لکه: د هندوانو د ښځو تګ زيارت ته، د هغوی له دود سره سم د جامو اغوستل، د ځمکو اخېستنه، کور دننه او بهر ته سفرونه، د درمسالونو بيا جوړونه او له مسلمانانو سره برابره د ماليې ورکړه، د عدلي څانګو له لارې د هندوانو شکاياتو ته ځواب ورکول، د جزيې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه او د هغوی د جزيې پاتې برخه او نورو په اړه لاربنوونه وشوه چې د کابل په ښېر دې په جلال آباد، غزني او قندهار کې په حکومتي شوراگانو کې د هندو د توکم يو يو غړي ته ځای ورکړل شي.[1]

## شپږم څپرکی

# ويښ زلميان

## ۱۳۲۵- ۱۳۴۵ لمريز کال:

د خوښۍ ځای دی چې د ويښو زلميانو (جوانان بيدار) د جميعت پرشکل نيونې او کړنو باندې سربېره پر افغان (پښتو او دری ژبو) ليکوالو، بهرنيو ليکوالو هم خپلې څېړنيزې ليکنې، د مقالو، رسالو او کتابو په بڼه د خلکو په لاس کې پرايښي دي.

د نوموړي خوځښت يو شمېر نوم وتو برخه والو هم خپل مالومات په ليکلی بڼه نشر ته سپارلي دي. که ټولې نه وي لږ تر لږه مهمې ليکنې، په غور او بې پرې توگه ولوستل شي، نو کېدلی شي چې راتلونکی ځوان نسل ته ددې خوځښت يو سم تصوير وړاندې شي.

دا چې د ويښو زلميانو د خوځښت تومنه د درېيم مشروطه غوښتونکو څخه وو او يا د وخت او زمان له مخې په مشروطه غوښتونکي غورځنگ پسې يې شکل نيولی دی، دا يو ستر حقيقت دی.

هو په هره ټولنه، په خاصه توگه په وروسته پاتې ټولنو کې د سياسي خوځښتونو د را زېږېدنې لوی لامل خپله د ټولنې په مېنځ کې د خلکو او حکومتونو ترمېنځ

---

[1]- ۱۲ لمبر فرمان، وری (حمل) کال۱۲۹۹ ل (امان افغان، ۸ گڼه، لومړی کال، دغوايي ۳۰ ۱۹۲۹ چې د ۱۹۲۰زکال د مې د مياشتې له ۲۰ سره سمون خوري. به حواله دوره اماني، په ۲۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نا انډولي يا طبقاتي ستم دی. هو کې د شا و خوا لېرې او نژدې پرتو ګاونډيو سره د اړيکو او د هغوی د تجربو اثرونه به هم وي.**

**دومره ويلای شم چې د ويښو زلميانو خوځښت يا د مشروطيت غورځنګ ته يو ستر سياسي غورځنګ وو. دا چې په هېواد کې د لومړي ځل لپاره يوه لويه هيوادنۍ غونډه جوړه شوې وه او زيات شمېر قلم لرونکي شخصيتونه په يوه مجلس کې سره کښېناستلي وو او ګډه پرېکړه يې کړېده د اهميت وړ ده.**

**سره له دې چې په هېڅ ډول د وخت سلطنتي رژيم د دوی پرېکړو او غوښتنو ته غاړه نه شوه ايښودلی دا يوازې په افغانستان کې نه بلکې د نړۍ په هر برخه استثماري او استعماري ځواکونو ته اجازه نه ده ورکړې چې ولسونه راويښ او هغوی په خپلو حقونو باندې خبر او پوه شي. په هره ټولنه کې هغو يو شمېر ځوانانو چې د خپل ولس د خبرتيا او پوهاوي لپاره يې متې رانغښتې او کار يې کړی، هغوي ته ويښ زلميان يا بيدار ځوانان ويلی شو.**

**د دې لپاره چې د ويښو ځلميانو او د هغوی د زحمتونو، مبارزو درناوی مو ساتلی وي او بل دا چې راتلونکو نسلوته مو د دې خوځښت سم انځور وړاندی کړی وي، غواړم چې يو څه ورباندې وليکم. د ويښو زلميانو ټول غړي زما سر او سترګې دي. ټول د درناوي وړ خلک وو او دي. تر هغه ځايه چې ما د ويښو زلميانو په باب ليکل شوې ليکنې او خپاره شوي کتابونه کوم چې لاسته راغلي او لوستلي دي، را ته مالوم شول چې هغه وخت د دوی ترمېنځ د يوې کړنلارې د عملي کېدو پرسر د اوسنيو ځوانانو په شان بېل بېل فکرونه او نظرونه وو چې و يې نشو کړلی د اوږدې لارې ملګري سره پاتې شي. وروسته تر يوه لنډ ګډ منزل او ملګرتوب يو شمېر بېرته پرهغو خواوو ولاړل له کومه چې راغلي وه.**

**دا چې زموږ په هېواد کې د انګريزي ښکېلاک ګرو د خوښې په شاهي نظام کې عدالت ورک، ظلم څرګند شو او د زده کړو مخه نيول شوې وه، تر ظلم لاندې بې ګناه خلکو ته د بدو او ګناه کارو په سترګه کتل کېدل او ګناه کارو، رشوت خورو او قاتلانو ته به د اوس په شان عزت ورکول کېده. دا زموږ په هيواد کې د شاهي ظالمو حکومتونو ماهيت او خصوصيت وو.**

**د تېر وخت ناروا وې به يې پر خپل ځای پرېږدو، د شاه شجاع څخه را شروع**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر امیر دوست محمد خان او بیا د مستبد، ظالم عبدالرحمن پورې ما سیوا له امان الله خان څخه، حبیب الله د عبدالرحمن زوی، حبیب الله کلکانی د سقاوو زوی، محمد نادر خان، محمد ظاهر خان دوی ټول د انګریزانو له خوا واک ته رسېدلي او د وطن د ګټو خلاف د پردیو نوکران وو. دوی ټولو د انګرېزانو د ګټو د خوندي توب لپاره او د هغوی په سلا کار کاوه. د دې نه ختمېدونکو کړاونو او بدبختیو څخه د ولسونو د خلاصون لپاره هر چېرې د هېواد پوهه لرونکو علم پرورو سیاسیونو به د ویښ ځوانانو د خوځښت په کار لاس پورې کړ د خپل توان او پوهې په پیمانه یې د ظلم څخه د خلاصون پر لارو فکر کاوه. که وکولای شي چی خپل په خوب ویده ولسونه د خپلو حقوقو د لاسته راوړلو په اړوند له درانه خوبه را ویښ کړي، د ظالمانو پر وړاندې یې یو موټی او مقابلې ته وهڅوي. د حضرت ابن قضاع رح تالیف "ترک الاطناب" چې د مبارکو حدیثو مجموعه ده، په هغه کې راغلي دي چې حضرت محمد (ص) فرمایلي دي: الجماعة رحمة وال فرقة العذاب یانې " یو ځای والی رحمت او بېلوالی عذاب دی" د الله تعالی لاس پر جمعیت پروت دی. یانې سیاسي فعالیت او ګوند جوړونې ته خدای او رسول دواړو له خوا خلکو ته اجازه ورکړل شوې ده. ځکه وایي: ګوندونه پر دولت باندې د فشار اچونکي حقوقي شخصیتونه جوړوي. په دې مانا سره چې همدغه جمعیتونه او ګوندونه د اسلام د حقوقي نظام په حدودو کې د دولت د ټولو قواوو، د دولت د رئیس او خلیفه په ګډون د خپلو کړنو حساب ور کونکي هم دي.[1]

د پاسني لیکل شوي مبارک حدیث په پیروۍ زموږ د هېواد په لیکوالو، دیني علماوو، سیاسي ځوانو فعالینو، ملي شخصیتونو، بدلون منونکو او د بدلون خوښونکو کې د یوه سیاسي خوځښت د جوړېدو روحیه موجوده وه. هرڅومره چې په یوه ټولنه کې اقتصادي کړاونه زیاتېږي، په هغه اندازه د واکدارو له خوا د ټولنې پر پرګنو باندی زور، زیاتی ډېرېږي. وزګارتیا، لوږه او د زورواکو تېری په ټولنه کې د یوه سیاسي خوځښت د را زېږېدو کورني لاملونه دي چی ولسونه

---

[1]- د محمد ناد رایوبي کندهاري کتاب، سیاسي نظریات، ص۲۰۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بدلون او سمون ته چمتو کوي. له بهرنۍ نړۍ سره اړیکې ټینګېدل، د هغوی سره د مالونو راکړه ورکړه او بهرنیانو تګ راتګ، د نړۍ، علمي، سیاسي، فکري او اقتصادي پرمختګونو لیدل د دې لامل دي چې د یوې ټولنې د خلکو فکرونه په خپله ټولنه کې هم یوه بدلون ته چمتو کړي.

د ویښو زلمیانو د خوځښت د جوړېدو لپاره د مناسب وخت یا حالاتو په منځته راتلو سره د هېواد په ګوټ ګوټ په خاصه توګه په کابل، کندهار او جلال اباد کې یو په بل پسې ویښ ځوانان لاس په کار شوي وه. دوی لېدنې کتنې پیل کړې وې او د تګلارې لپاره لیکل پیل شوي وه. مګر په کابل کې میشتو ویښو لیکوالو، ویښو شاعرانو، علماوو او ځوانانو تر خپل منځي اړیکو په پایله کې یوه ادبي او فرهنګي ټولنه جوړه کړې وه. یانې دوی لا وختي پر دې بریالي شوي وو چې په ۱۹۴٦ز کال یا ۱۳۲۵ل کال کې په پټه د یوه سیاسي خوځښت د جوړېدو په مخه خپله لومړنۍ غونډه کړې وه. د غونډو د ناستو او را ټولیدو ځای د ښاغلي نور محمد تره کي کور وو، چې هغه وخت د کابل په جوی شیر کې په کرایې توګه اوسیدلو. دا باید ولیکو چې تراوسه د ویښو ځلمو د جوړښت هغه د اول لاس اسناد هغه لیکلې پریکړې د چا په لاس کې نه شته او یا یې نه دي دباندي را ایستلي. ټول خبرې یې د شخصي یاداښتونو له مخی لیکل شوي دي چې دا پورته بیان هم د محمدولي ځلمی صاحب له یاداښتونو څخه رانقل شوي دي. د شا محمود حسین "مثلث بی عیب"

زه د ښاغلي محمد علم "بځرکي" صاحب دغه خبره منم چې دی وایي: " که ویښ زلمیان هم نه وی د وخت او زمان نورو ټولنیزو او سیاسي خوځښتونو به په افغانستان کې خپلې لاس وهنې کړی وی" د ویښو زلمیانو د خوځښت د بنسټ ایښودونکي، د نوښتګر یا مشرتابه ادعا یوازې د محمد رسول خان پښتون صاحب یا یې هوا خواهان لري. ځکه دوی د یوه بهرني لیکوال "ادموکواویودی د کانکوف " له وینا روایت کوي چې هغه ویلي دي: د ویښو زلمیانو د خوځښت، یا د دغه پاځون لارښود د کندهار محکه وال محمد رسول خان "پښتون" وو. په دې شان د خپلې خبرې پر کرسۍ کښېنولو لپاره د خان عبدالغفار خان یوه خبره هم رانقلوي چې یوه ورځ پاچا خان محمد رسول خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون ته وويل: ته "فخر بارک" يې. زما په باور پاچا خان خو په رښتيا يو سياستمدار وو. هغه په واقيعت کې محمد رسول ته ويلي وو چې ته د ټول افغان ملت او يا ټول پښتون قوم مشر کېدی نه شي، د يوه قوم (بارک فخر يې).
ښاغلي محمد علم بڅرکي په خپل کتاب کې ليکي: "زه د پښتون صاحب پر حرکاتو او تحريکاتو اشتباهي وم او دی هم راباندې پوهېدئ چې زه يې څارنه کوم. په دغه اساس يې اکثر حزبي مسئلې بې له ما څخه پټې ساتلې، له ما څخه څه؟ د ډېرو کسانو څخه يې پټولې" تر هغه وروسته په ۵۷ صفحه کې ښاغلي محمد علم بڅرکي ليکلي: د محمد رسول پښتون او حاجي خدای دوست کړه په گوند کې د ډېرو غړو د انتقاد وړ وو، همدغه لامل وو چې گوندي کاروبار يې له موږه پټ ساتلو.
په دی شان ۵۷ صفحه کې د گوندي اختلافاتو ترعنوان لاندې بڅرکي صاحب ليکلي: "د کندهار مشرانو د کابل سره گيلې شروع کړې وې، په خپله د کندهار د زلمو ډېر محفلونه پټ ساتل کېدل، ياني د زلميانو ترمنځ هم پټ پټانی پيل شوی وو. پوره د جلا فرکسيون د جوړېدو په حال کې وو. ما اغا محمد کرزي اورېدي هم دا پرېکړه کړې وه چې په گوند کې دننه بل فرکسيون جوړ کړو.
مگر په "اغاز و فرجام پاڅون های سياسی در افغانستان" کتاب کې داسې ليکل شوي دي "ويښ زلميان يا جوانان بيدار نخستين گروهی بود که درسال ۱۳۲٦هجری به شکل پاڅون سياسی يا ارايش ناسيوناليستی بوجود امده و در سال ۱۳۲۷ هجری مطابق ۱۹۴۹ز به حزب سياسی تبديل شد. اين حزب در منزل نور محمد تره کی در"جوی شير" بطوری مخفی تاسيس شد".
راز محمد پکتين په خپله يوه مقاله کې ليکي: ۱۳۲۷ ل کال کې د نور محمد تره‌کي په نوبت په څوارلسهي کې، د دوی په کرايي کور کې د روڼ اندو يو شمېر استازي راټول شول يو سياسي گوند يې د ويښو زلميانو په نوم جوړ کړ. دوهم لوی منظم او اساس گذاره مجلس جوړونه، ۱۹۴۹ز کال يا ۱۳۲۸ل کال کې، چې د لومړي نسبتاً واړه او د پوهاوي د مجلس څخه پوره درې کاله وروسته جوړېږي دا کار هم څه اسانه او ارزانه کار مه بولئ، ډېر لوی کمال شوی دی، زياتره به پکې ډېر سترې شوي وي. د داسې يوې ظالمې او مستبدې کورنۍ تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واک لاندې.**

**د ويښو زلميانو د موسيسانو له جملې څخه ښاغلی محمد علم بځرکی د خپل اثر په ۲۸ صفحه کې ليکي: "د ويښو زلميانو موسيسانو په کابل کې خپله لومړۍ ادبي ټولنه جوړه کړه بيا چې زمينه ورته مساعده شوه هغه ټولنه يې په ويښو زلميانو واړوله. د بنسټ اېښودونکو غړي يې لکه: عبدالروف" بينوا"، قيام الدين "خادم"، نورمحمد "تره کی"، غلام حسين"ساپی"، گل پاچا "الفت"، صديق الله"رښتين" او فيض محمد "انگار" وو.**

**۱ - غلام حسن صافی د قند جوړولو د شرکت رئيس.**

**۲ – عبدالروف بينوا د پښتو ټولنې عمومي رئيس.**

**۳ – نور محمد تره کی د باختر اژانس عمومي مدير.**

**۴ – قيام الدين خادم د اصلاح ورځپاڼې مدير.**

**۵ – گل پاچا الفت د قبائلو رئيس.**

**٦ – صديق الله رښتين د پښتو ټولنې عمومي مدير.**

**۷ - فيض محمد انگار د انگار د جريدې مسول مدير.**

**۸ – غلام محی الدين زرمتی.**

**۹ – جان محمد پکتيانی.**

**۱۰ –محمد موسی شفيق.**

**۱۱ – عبدالقدير فهيم.**

**۱۲ – عبدالحبيب صافی.**

**۱۳ – عبدالله بختيانی خدمتگار.**

**۱۴ – محمد طاهر صافی د تعاوني ډيپو رئيس.**

**۱۵ – شامرد مليا صافی.**

**۱٦ –محمد ارسلا علمي د قبايلو معاون.**

**۱۷ – محمد رسول پښتون د قند د جوړولو شرکت مدير.**

**۱۸ – غلام جيلاني الکوزی د قند د جوړولو د شرکت مرستيال.**

**۱۹ –عبدالهادي هادي تاجر.**

**۲۰ – عبدالاحد عارض د دولتي انحصاراتو رئيس.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱ – عبدالشکور رشاد د پښتو ټولنې مرستیال او د پوهنتون استاد.
۲۲ –محمد ابراهیم خواخوږی د افغانستان رادیو د مراقبت مدیر.
۲۳ – محمد ولي زلمی د کندهار نومې کتاب لیکونکی.
۲۴ – محمد رسول مسلم.
۲۵ – محمد عالم بڅرکی د کندهار د دولتي مطبعې مدیر.
۲٦ – فضل محمد د کندهار د ترافیکو مدیر.
۲۷ – محمد علي د سطرنج قهرمان.
۲۸ ـ غلام دستگیر د مسلخ مدیر.
۲۹ – نور محمد د شورا د اوومې دورې وکیل.
۳۰ – قاضي عبدالصمد.
۳۱ – قاضي بهرام.
۳۲ – نور احمد شاکر د ژبې پېژندنې استاد.

یو عالم وایي: " پخوانیو خلکو خو د اوس په نسبت معصوم او ساده ژوند درلودئ، ربړونه او بارونه یې ډېر پر اوږو پراته وو. سواد او پوهه یې لږ وه. د مذهب تر درانه پیټي لاندې ساتل کېدل، واکدار ډېر ظالمان وو. د تهدید، وېرې او تبلیغ ترسخت فشار لاندې وو. دوی نه هوښیار وو او نه هم اخلاقي کمال ته رسېدلي وو. بلکې د دوی معصومتوب او ښه والی د ناپوهۍ څخه وه نه د علم او تقوا څخه."

په داسې یوه ټولنه او هېواد کې چې د اوسېدونکو ۹۷ فیصده وګړي یې د الهي نعمت (لیک او لوست) څخه محروم ساتل شوي وي، ډوډۍ و نلري، د استوګنې ځای نه لري، کار، معاش او عاید نه وي، نو هغه لږ لیک لیکونکي به یې هم غریب خلک وي، د ژوند د ټولو نعمتو څخه به بې برخی وي. د سیاست، جهان او خپلې ټولنې پېژندنې په برخه کې چې کتاب نه وي، سیاسي مبارزې دود نه وي. د سیاسي خوځښتو جوړونه، د هغوی ساتنه او رهبري خورا ستونزمن کار دی. زموږ او ستاسي په شان ټولنو کې دا ډول خوځښتونو ته په لومړی سر کې تر ډېره بریده ځوانان په دې موخه نه شاملېدل چی دوی واقعاً خپله ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ټولنه کې دننه پراته رازونه او ټول تضادونه نه پېژندل چې خپل ځان يې د هغوی د شناخت پر اساس مسوول ګڼلی وی او په ټاکل شوي ځای کې چې ورته اړتيا وه ځانونه ور دننه کړي وی. يادې ستونزې، په مخکې پراته خنډونه، جنجالونه او پر هغوی د بري لارې ښې پېژندلې وی. د خو غټو ولايتونو د مرکزونو څخه علاوه په کليو او کليوالي ژوند کې د سياست او مبارزې خبره ډېره وروسته خبره ده. د ځوان نسل لپاره په لومړي سر کې سياسي بحثونه، مجلسونه، بانډارونه ډېر خوندور هم وي.

زموږ د وطن په سطحه حکومتونو د خلکو د سالمې روزنې او بوختيا لپاره هيڅ ګام نه پورته کاوه. په غټو ښارونو کې ويښو ځوانانو او خلکو کافي وخت درلود، چې ليدنې، ناستې وکړي او دا ډېر ستونزمن کار نه وو. په وړو ښارونو کې د باسواده خلکو شمېر کم وو، يو د بله سره پېژندنه په همدې لحاظ ستونزمنه نه وه. نو يو شمېر ځوانانو د پېژندګلوۍ، ملګرتوب، خپلوۍ، سمتي، ژبني او خپل منځي سياليو له امله ځانونو نه تر نورو کم نه بلل او په سياسي خوځښتو کې ورګډ شول.

ښاغلی اکاډميسن محمد انور نوميالي يو شمېر ځوانان چې يوه ورځ مبارز بله ورځ مخالف وي هغوی ته د فيشني مبارزينو نوم ورکړی دی. هو د هرګوند د جوړېدو پر وخت حاکم حکومتونه او د هغوی پټې څانګې هم ارام نه وي ناست، خپل سړي ور داخلوي. زموږ په هېواد کې هم کله چې د ويښو زلمو خوځښت رامنځ ته کېدو د ورته ستونزو سره مخامخ وو.

کله چې خوځښت جوړ شو، پورته نيمګړتياوو او کمزوريو سر راپورته کړ. ژر او په اسانه دښمن وکولای شول دغه خوځښت د ماتېدو خوا ته ورټېل وهي. د ويښو زلميانو په ليکو کې د ځينو شاملو غړو د فکر سره نه سمون، ځينو د حکومتونو څخه د وېرې، ځينو د ځان غوښتنې، سمتي، ژبني، تمايلاتو، شخصي بدبينيو، سليقوي توپيرونو، فکري او ايډيالوژيکي اختلافاتو او علاقه منديو په خوځښت کې راټول ځوانان پر جلا جلا لارو سره وويشل.

راشئ ويې لولو ؛ وايي چې د سياست کلمه د ساس د کلمې مصدر دی. سياست د پوليټکس له کلمې څخه چې په لومړي سر کې د اروپايانو په اصطلاح پر ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکومت کولو په مانا ده، دومره محدوده هم نه ده څکه د دی کلمې په ذات کې لويه او جهان شموله مانا پرته ده. بل ډول: د سياست کلمه د سوس د کلمې څخه راغلې ده. چې مانا يې بدلون راوستل او ښايسته کول دي. سياست؛ په ارته مانا سره د خلکو د احوالو، اقتصاد، اجتماعي او علمي سمونې، د هېواد د کارو تنظيم او اداره، او په هغه پوری مربوط د کورنيو او بهرنيو امورو مراقبت، د فساد او ظلم مخنيوی او په ټولو ساحو کې د عدالت پر ځايولو مانا ورکوي. سياست؛ د هغو تدبيرو نوم دی چې د هغه په مرسته خلک يو د بل سره د اصلاح او سلا پر لور نژدې کوي، فساد او خرابۍ له منځه وړي. نو سياست؛ د يوه حساس گل په شان هم دی، چې د خپلې ودې له پاره يو څه چټلي انبار ته حتمي اړتيا لري. په سياست کې هميشه ځينی شيان د باکتريا په ډول وي، چې خپل ځانگړی ژوند لري. سياست " د اقتصاد فشرده ده" په رښتيا او حوصله بايد ووايو هغه چې غواړي سياست ته ورگډ شي د دغه پورته خبرو سره بايد ځان اشنا کړي او دغه ټکي په سياسي ژوند کې په پام کې ولري. په اوسنۍ زمانه کې سياست ډگر ته ملاتړلي بايد، هوډمن، چې په ملي ژمنتيا باور ولري، بري ته د مبارزې رسول يې موخه وي، ور ودانگي.

سياست «politic»:

پاليسي (پوليتيک، سياسي چارې، سياست، په اروپايي ژبو کې دا سره ورته نومونه له اره د يونان د پاليس (polis ښار) نه اخېستل شوي دي. په عربي کې د السياسته مانا پوهه ده. دا اصطلاح د فرانسوي له Politique نه راخېستل شوې چې حکومت کول، اداره کول، تدبير لرل او د واکمنۍ د چارو فن ته وايي. همدا ډول ترخې وينا او مجازات کولو ته هم وايي. خو په سياست کې دغه اړخ په پام کې نه نيول کېږي. په سياست کې د دی نمونې پېژندل داسې شوي.

۱ـ په ټوليزه مانا کې هر ډول لارې چارې او چال چلند، چې د چارو د سمون او ښه والي په موخه سرته رسېږي سياست بلل کېږي. دا چارې که ځاني وي يا ټولنيزې لکه اقتصادي سياست، پوځي سياست، مالي سياست، د ښونې او روزنې سياست او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ ـ په ځانګړې مانا کې هر هغه څه چې د دولت اداري او د دولت د موخو د خوځښت او بڼو د څرنګوالي د ټاکلو پورې تړاو لري، د سياسي چارو پخې خبرې دي. له دې امله سياست په ځانګړې مانا سره هغه چارو ته ويل کېږي چې دولت جوړونې، په هېواد کې د چارو سمون، د ټولنيزو پاړکو لارښوونې، د واک پر سر د ګوندونو او اغېزمنو ډلو ټپلو تر مېنځ کشالو او داسې نورو ټولنيزو چارو پورې تړاو لري. همدا ډول د ولسونو او هېوادونو ترمېنځ اړيکې د بهرني سياست خبرې دي چې د هغو کتنه د سياست پوهنې سکالو جوړوي. د تاريخ په اوږدو کې هرې ټولنې خپل ځانګړی سياست درلود لکه د يونانيانو، روميانو، اروپايانو، چينايانو، روسانو، جاپانيانو، عربانو، امريکايانو، افغانانو سياست او داسې نور.

ويښ زلميان د خپل سازماني جوړښت پر وخت د ډېرو ستونزو سره لاس او ګريوان وو. د نن ورځې نه فقط ٦۹کاله مخکې دا خوځښت راټوکېدلی وو. په کې شامل غړي يې تر ډېره وخته ژوندي وو، ځينو يې د ويښو زلميانو د جوړښت په باب خپل يادښتونه هم ليکلي دي. خو د ويښو زلميانو ټولو مخورو په يوه خوله او يوه نظر ليکنې نه دي کړي، د بېلګې په توګه عبدالهادي خان او خواخوږی ليکي چې د ويښو زلميانو اولنی بنسټ په کندهار کې کېښودل شوی دی چې محمد رسول پښتون، کاکا محمد انور خان، قاضي بهرام، غلام جيلاني الکوزی، عبدالهادي خان توخی، عبدالصمد کاکړ او عبدالخالق واسعي په دې کې برخه لرله.

مګر پوهاند محمد حسن ضمير صافی، قيام الدين خادم، غلام حسن صافی، صديق الله رښتين، محمد ګلاب ننګرهاری او ګل پاچا الفت د ويښو زلميانو د بنسټ ټاټوبی د ننګرهار زوړ ښار د خادم صاحب کور ۱۳۲۵ لمريز کال د دلوې مياشت بولي.

غبار ليکي: په کال ۱۹٤۷ز يا ۱۳۲٦ هجري کې يو ګوند په ښکاره توګه د ويښ زلميانو په نوم جوړ شو چې لاندې اشخاص يې بنسټ ايښودونکي او رهبران وو: عبدالروف خان بينوا، ګل پاچا خان الفت، فيض محمد خان انګار، نور محمد خان تره کی، غلام حسين خان صافی. دوی په کابل، کندهار او ننګرهار کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وروستي ياد شوي دوه تنه د عبدالمجيد زابلي د ډلې وو. غبار خپله ليکنه اوږدوي: محمد رسول پښتون، عبدالشکور خان رشاد، عبدالهادي خان توخی، محمد انور خان اڅکزی، قاضي بهرام خان، غلام جيلاني خان، قاضي عبدالصمد خان، فتح محمد خان ختګر، نور محمد خان قاضي خيل، محمد ابراهيم خان خواخوږی، محمد ناصر خان لعل پوروال، صوفی ولي محمد خان، اقا محمد خان کرزی، محمد موسی خان شفيق، غلام محمد خان پوپل، محمد طاهر خان صافی، قيام الدين خان خادم، ارسلان خان سليمي، نيک محمد خان پکتيانی، صديق الله خان رښتين، عبدالعزيز، عبدالخالق خان واسعي، محمد علی خان، نور احمد خان شاکر، محمد رسول خان مسلم، محمد حسين خان رېدی، عبدالرزاق خان فراهی، محمد نور خان الم، مولوي عبيدالله خان صافی، ګل شاه خان صافی، ظهور الله خان همدرد، محمد شريف خان قاضي، عبدالمنان خان دردمند، اقای مليا، عبدالصمد خان ويسا، محمد علی بڅرکی او نور. په دې توګه اضافه کوي چې اول منشي يې بينوا، وروستی عبدالرزاق فراهي وو".[1]

زما په باور ښاغلی شاه محمود حسين د ويښو زلميانو د خوځښت، جوړښت او شکل نيونې په باب ډېره څېړنه کړې او د اول لاس ډېر معلومات يې راغونډ کړي او وړاندې کړي دي. دا په داسې وخت کې وو چې د خوځښت ډېری غړي ژوندي وو. نو ځکه ماته تر هرې بلې ليکنې د ښاغلي شاه محمود حسين مالومات سم ښکاري.

ښاغلی حسين داسې ليکي: "منظمه اساس اېښودونکې غونډه په کابل کې تر لومړۍ ناستې دوه کاله وروسته ۱۹۴۹ز کال کې بيا د نور محمد تره کي په کور کې جوړېږي. چې دا ځل د نور محمد تره کي کور د کابل په علاو الدين کې وو. دغو لاندې خلکو په ناسته کې ګډون درلود: نور محمد تره کی، عبدالروف بېنوا، ګل پاچا الفت، قيام الدين خادم، صديق الله رښتين، فيض محمد انګار، محمد ارسلان سليمي، نيک محمد پکتيانی، ګل شاه صافی، پاينده محمد

---

1- ص۲۹۳ او ۲۴۰ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روهیلی، عبدالقدوس پرهیز، محمد ظاهر، نورمحمد پونده، عبدالکریم نزیهی، لعل محمد احمدي، عبدالصمد پتک، غلام رحمان جرار، محمد ولي زلمی، عبدالهادي خوږمن، شاه مراد او ابوالحسن. ویښو زلمیانو کوم تعین شوی مشر یا منشي نلري. ټولې چارې یې د دغه ګډ مدیره هیئت له خوا پر مخ وړل کېدلې. د دې هیئت په ترکیب کې دغه شخصیتونه وو: ښاغلی نور محمد تره کی، ښاغلی عبدالروف بېنوا، ښاغلی قیام الدین خادم او ښاغلی محمد ارسلان سلیمي، نوموړی څلور نفره په دغه شل کسیزه غونډه کې د مدیره هیئت لپاره وټاکل شو او ویښو زلمیانو خپلې موخې او تشکیلاتي جوړښت سمبال کړل. نو همدغه د ویښو زلمیانو د ګوند د جوړښت، بنسټ ایښودونکي غونډه بللې شو."

هو؛ تر دې ناستې مخکې به هم څو ځله په کندهار، ننګرهار او کابل کې اشخاصو او افرادو ناستې، باندېارونه، کړي وي. پر دغه فکر به هم خبرې شوې وي، د همدې لیدنو، کتنو پایله وه چې د یوه متشکل ګوند د جوړېدو لپاره یې لاره هواره کړه، څو اهداف ورته وټاکل شول او ولیکل شول او د یوه اخبار (انګار) درلودونکي شول چې مخکنۍ ناستو دغه امتیازات نه درلودل.

په دې ورستیو ورځو کې ښاغلی شاه محمود حسین د یوه افغان د هغې لیکنې په رد کې چې د ویښو زلمیانو د ناسم پېژندلو هڅه یې کړې وه په تفصیل سره هغه ته خوله ماتونکی ځواب لیکلی وو او د ویښو زلمیانو رښتونی جریان یې هم لیکلی دی. ما یې د لیکنې ځینې برخې دلته راوړې دي.

حسین صاحب لیکي: په خفګان سره شته یو شمېر نور لیکوال چې د خپل ذوق یا ځانګړو اړیکو له مخې هڅې کوي چې د ویښو زلمیانو د غورځنګ ځانګو ننګرهار وښیي او ارواښاد قیام الدین خادم د دغه خوځښت بنسټ ایښودونکی راوپېژني. یو شمېر نورو بیا هڅې هم کړي چې د هغه غورځنګ په مشرانو کې یوه ځانګړي شخصیت ته د قومي پیوند له مخې داسې کیسه جوړه کړي لکه چې همدغه څوک د ویښو زلمیانو له قافله سالارانو څخه پورته د غورځنګ یوازینی وتلی مشر وي. دغه شان هڅې تر ډېره مستندې نه وي او په شخصي لیوالتیاوو او یا سیاسي اغراضو ولاړې لیکنې دي چې له لوستونکو څخه لاره ورکوي او نه پوهېږي چې د ویښو زلمیانو غورځنګ، څنګه، چېرته او د چا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا رامنځ ته شو، مشران يې څوک او د دغه غورځنګ په تشکيلاتو کې يې کومې دندې درلودلې.

د خواشينۍ ځای دا دی چې دغو ليکوالو تر ډېره يا خپلو ذهنيتونو اخيستنو او ليوالتياوو ته لومړيتوب ورکړی او يا يې هم له داسې آثارو څخه د خپلې خوښې يو څه راقاپچي کړي چې هغه آثار په خپله هم د سختې پوښتنې وړ دي. زموږ د زمانې د ليکوالو بيا يوه کمزوري دا ده چې د پردو يا بهرنيو څېړونکو څېړنې ورته د حقيقت يوازينۍ منبع ښکاري. کله چې د يوه بهرني څېړونکي يوه ليکنه ولولي، دوی فکر کوي چې په کمال پوره او رښتيا خو همدغه دی، پوخ مطلب مې ولوست، دا نو د تېرې نقش دی، غلطي نه لري، په خوابدۍ سره چې دا شان ليکوال مو ډېر شوي دي. دغه شان ليکوال د خپلو وطني څېړونکو آثار د هغه د شهرت له مخې ګوري. دې ته يې پام نه شته يا نه کوي چې همدغه بهرنيانو او دغو په نوم نامتو څېړونکو د ويښو زلميانو د غړو له مړينې وروسته څه ليکلي دي، ښائي له سختو ناروا اړونو سره مخ وي. دا هم يوه ښکاره فکري ناروغي ده چې زموږ ليکوال د ورځې په نرخ د خپلو فکري، سياسي، سازماني يا منفعتي دريځونو له مخې د پېښو اصلي زمان، مکان، او د وختونو امکاناتو او غوښتنو ته نه ورځي بلکې پرون د نن په تيږه تلي. هغه نن چې ډېر څه يې پردي دي. که د ګويته دې خبرې ته ور وګرځو چې وايي: "له تاريخ څخه زموږ ډېره بااررزښته برخه هغه ده چې په موږ کې يو شور او شوق را وهڅوي" نو د افغانستان د تاريخ رواني ډېرې څېړنې نه يوازې دا چې کوم شور او شوق نه هڅوي بلکې له بده مرغه د کينې، کرکې، نفرت او شخصيت وژنې تخمونه کري.

دا د هر چا حق دی چې څوک يې خوښېږي او څوک يې نه خوښيږي. خو له دې حق څخه داسې ګټه اخېستل چې د خپلې رواني ناروغۍ لپاره د تاريخ مرۍ غوڅې کړي او ويني يې وڅکي، چې دا يو نه ښووونکی، خطرناکه او ويرووونکی کار دی.

د نامتو مورخ آرنولد توين بې په خبره: کله چې يو تاريخ پوه د تاريخي پېښو واکمن نه، بلکې د راپورونو د قاپچي يا غاپچي او سره نښلولو په کار اخته وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېړي په شان د زمان په کنډوالو کې ځغلي او ليد يې هم له مېړي څخه پورته نه وي (نو د تاريخ به څه حال وي) همدغه د نړيوال شهرت درلودونکی نامتو تاريخ پوه ليکي چې "زه سخت هغو تاريخ ليکونکو ته خواشينی يم چی فکر کوي له دولتي ځانگو څخه لاسته راغلي لاسوندونه د ځمکې د پوړيو د پيژندنې په شان د عينيت شاهدان دي" زموږ ډېر ليکوال او له بده مرغه د ټولنيزو واقعيتونو بې شمېره څېړونکي چی د کډوالۍ بيکاريو همدې لوري ته را ټېل وهلي دي، آن ډېری لږې زمانې د ورځې په نرخ له خپل سياسي، سازماني او آن قومی او سيمه ييز دريځ له مخې په ډېرو ناروغو معيارونو تلي. له همدې کبله دغه شان ليکونکي يا څېړونکي چی ډېر يې هېڅ ډول مسلکي تومنه هم نه لري له افراد او ځانگړو شخصيتونو سره د تړاو او يا مخالفت په وجه د واقعيتونو په ناروا اړولو سره ټول تېر تاريخ له پښو را ځړوي.

د ويښو زلميانو لومړنۍ هڅې هم ښيي چی د هېواد له گوټ گوټ څخه د بېلابېلو ملي ټولنيزو استبداد ضد بدلون غوښتونکو اواز را پورته شو. دغه اوازونه د بينوا صاحب په نوښت د يوه کتاب په بڼه چاپ او خپاره شول. د دغه کتاب نوم هم وېښ زلميان وو او د څه ناځه ۴۳ د وخت د وتلو ليکوالو پښتو او دري مقالې يې په کې را ټولې کړې وې.

ويلی شو چې د لومړي ځل لپاره د ليکنو په دغه درانه ټوک کې د هېواد د ښځينه ليکوالو طرحې او غوښتنې هم را پورته شوي. دا چی کابل د هېواد پلازمېنه او د هغه وخت د ملي ټولنيزو آگاه شخصيتونو د پراخه ليدنې کتنې يو مناسب ټاټوبی وو؛ له همدې کبله د ويښو زلميانو لومړۍ ناستې ولاړې او د هغوی د افکارو راځرگنديدلو او وروسته د دغه خوځښت بنسټ ايښودونکي کنگره هم په همدې ښار کې را جوړه شوه نه په کندهار، نه په ننگرهار او نه هم په پکتيا يا مزار او فارياب کې.

ښه او منطقي خبره دا ده چی ووايو چی د هېواد له گوټ گوټ څخه د استبداد ضد را پورته شوی اواز په کابل کې را غونډه شو. دا خبره هم د ليکلو وړ ده چې د ويښو زلميانو د خوځښت د مشرتابه وياړ دغه يا هغه شخصيت ته ورکول ډېره لويه خبره نه ده او تاريخ ته کومه خاصه تومنه نه وربښي، بلکې د سياسي سازماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځښتونو په بهير دغه خوځښت او ترسره شوې کړنې يې د تاريخ يو ژوندۍ برخه جوړوي. بايد په ټولو کې د دغه "ملي دموکراتيک" يا «بورژوا دموکراتيک» ډوله خوځښت آرمانونو ته وکتل شي. دغه خوځښت په ټول هېواد کې له درې يا څلور سوو څخه زيات غړي نه لرل. په هره سيمه کې دغه خوځښت ته د خپلو ذهني ليوالتياوو له مخې مشران او بنسټ اېښودونکي ټاکل او د خوځښت ټول وياړ هغوی ته ورښل د خوځښت ټولنيزې پانګې ته سخت زيان رسوي. دا هغه خواشينوونکی عادت دی چې موږ بتان تراشو او نه يوازې خپله ورته په ګونډو کېږو بلکی تمه لرو چې نور هم زموږ د ناروغو ذهنيتونو لخوا دغو تراشل شوو بتانو ته په ګونډو شي. د پيل خبره مو دا ده چې د ويښو زلميانو دغه د استبداد په خلاف، بدلون غوښتونکې ملي غورځنګ څنګه او له کومه ځايه راپيل شو، د دوی مشران يې څوک وو او تشکيلاتي جوړښت يې څنګه بڼه نيولې وه. د محمد علم بڅرکي د څېړنې او ليکنې له مخې هم داسې برېښي چې محمد رسول پښتون څه د پردې شاته پټ پټانه هم درلوده او په دې کار يې د ويښو زلميانو ځوانه برخه ورنه ناراضه هم وه. بڅرکی دا هم ښيي چې د "اخوت" په نامه څه هم تر ډېره د پښتون غوښتنه وه.

بڅرکي ليکي "د محمد رسول پښتون او حاجي خدای دوست کړه وړه په ګوند کې د ډېرو غړو د انتقاد وړ وه، ښايي دغه لامل وو چې دوی ګوندي کاروبار پټ ساته."[1]

همدغه ليکوال ليکي: محمد رسول پښتون د "اخوت" د نظريې غوښتونکی وو او د ګوند د جوړونکو له ډلې څخه وو. زه د پښتون صاحب په حرکاتو او تحريکاتو مشتبه وم او دی هم را باندې پوهېده چې زه يې څارنه کوم. په دې لحاظ يې حزبي مسئالې له ما پټې ساتلې له ما څه چې له ډېرو کسانو څخه يې پټې وې چې د دې پټ پټاني په وجه جمعيت کې د کينې لاس اړخ پيدا شو که دې سلسلې دوام پيدا کړی وای نو يقيناً به جمعيت په ځوان او زاړه سره ويشل

[1]- ويښ زلميان، محمد علم بڅرکی، ۵۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وای».[۱]

محمد علم بڅرکی یوې عجیبې پیښې ته هم اشاره کوي هغه دا چې وایي فضل محمد خان او پرواني نائب الحکومه عبدالغني خان ګردیزي ورغواړي او دوی ته وایي چې تاسو دواړه ووایې چې موږ ولیدل چې پرون حاجي محمد انور خان اڅکزي او مولوي بهرام د شپې په دوو یا درې بجو د پاکستان له کنسلګرۍ څخه راووتل.

بڅرکی لیکي چې دغه تهمت فضل محمد خان ډېر زورولی وو او خپل وجدان ته ملامت او په خپلو کړو پښېمانه وو او دا خبره یې خپله رسوا کړه. له دې کیسې څخه ښکاري چې د ویښو زلمیانو د کندهار په ډله کې د غني خان ګردیزي قلعه بیګي تېره توره ډېره محمد انور خان او قاضي بهرام ته متوجه وه.

محمد ولي زلمی په خپل اثر"د استبداد او مطلقیت په مقابل کې د ځینو افغانانو ملي مبارزې" کې لومړی لیکي چې: دغه ((وېښ زلمیان، لومړی یوه فرهنګي او په راوروسته کې یوه سیاسي ټولنه وه».[۲]

حکومت د داسې اصلاحي او ملي ټولنو د جوړولو سره علاقه مندي ښکاره کوله. د دغې ټولنې مهم غړي وخت او ناوخت دربار او «پاچا خپل حضور ته منل د تقدیرولو او نازولو علاوه یې په ځینو دولتي او ملي چارو کې سلا او مرسته ځینې غوښته».

دوی "د کندهار برخه" په یوه دکان کې راټولېدل، رسول پښتون، حبیبي، مولوي حاجي عطا محمد، خدای دوست، محمد علی سطرنج باز، د ده خواجه حضرتانو رفیع الله آغا، محمد یوسف آغا، قاضي عبدالصمد خان او نور هر کله نه حاضریدل.

" ۲۶۸-۲٦۹ مخونه له دې یادونې وروسته ولي زلمی د نړیوالو حالاتو او پر افغانستان د هغوی په اغیزو څو لنډې جملې لري او بیا لیکي: "د هېواد یو شمېر زلمیانو چې د ویښو زلمیانو په نامه یې اخبارونو او مجلو کې شهرت درلود".

---

[1]- همغه اثر ٦٠مخ

[2]- ۲٦۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۲۷ل کال د جوزا د میاشتې په اوومه د ویښو زلمیانو د تدارک د کمیسیون د لارښونې له مخې د کندهار، ننګرهار او کابل یو شمېر ادبي او عرفاني ملګرو لکه عبدالرؤف بینوا، فیض محمد انګار، نور محمد تره کی، قیام الدین خادم، صدیق الله ریښتین، ګل پاچا الفت، نیک محمد پکتیانی، محمد ارسلان سلیمي، عبدالقدوس پرهیز، ابوالحسن هزاره، پاینده محمد روهیلی، عطا محمد شیر زوی، محمد طاهر تائب او ځینو نورو لیکوالانو چې شمېر یې دوه ویشت تنو ته رسېده، د دارالامان په افشارو کې د عبدالمجید زابلي د نوې پروژې په یوه سالون کې د ماسپښین په دوو بجو د ویښو زلمیانو د جوړولو او د بېلا بېلو ولایتونو د نمایندګانو د را ټولولو طرحه وړاندې کړه. دغې غونډې ته لومړی دري طرحې وړاندې شوې، چې یوه یې د عبدالرووف بېنوا او نور محمد تره کي، بله یې د قیام الدین خادم او دریمه د صدیق الله ریښتین په حمایه وه. لومړۍ یې مترقي او عصري، دوهمه ملي او وطني، دریمی یې مذهبي او کلتوري رنګ درلود». [1]

د محمد ولي زلمي له پورته څرګندونو څخه ښکاري چې د ویښو زلمیانو د خوځښت عمده مرکز کابل او ډېر فعالین او وتلي لیکوالان یې هم په کابل کې وو. همدغه په کابل کې را ټول شوي وتلي مشران په درې ګونو طرحو کې ځان ښیي او په دې برخه کې د محمد رسول پښتون نوم نه تر سترګو کېږي. هغه به د کندهار په کړۍ کې د اوچت نقش درلودونکی وو، خو د ویښو زلمیانو د کنګرې په لست کې یې نوم نه ښکاري.

محمد علم بځرکی هم په خپل کتاب "ویښ زلمیان د افغانستان یو سیاسي تحریک" دیرشم مخ کې لیکي: هغه کسان چې دا ډله (د ویښو زلمیانو ډله) یې جوړه کړه په کابل کې عبدالروو ف بینوا، ارسلان سلیمي، قیام الدین خادم، نور محمد تره کی، فیض محمد انګار، غلام حسن صافی، رښتین، الفت، په کورونو کې سره لیدل، وروسته یې له ولایاتو سره ارتباط پیدا کړ. (د ویښو زلمیانو) تئوریسنان په کابل کې ناست وو، محمد علم بځرکی لیکي چې د ویښو

---

[1]- ۲٦۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلمیانو لومړۍ تګلاره د کندهار لخوا کابل ته رالېږل شوې وه. (دا خبره ډېره مستنده نه برېښي) په تګلاره کې د غلام دستګیر خان، غلام حسن، فیض محمد انګار، عبدالرحمن، غلام قادر ارغنداب، نورالحق، پیر محمد او نورو لاسلیکونه شته چې هغه نه لوستل کېږي او د عبدالشکور رشاد د امضاء پرځای لیکلي وو چې له یوې مادې پرته نوره ټوله تګلاره منم.

په یادو شوو نومونو کې بیا هم د محمد رسول پښتون نوم نه لیدل کېږي خو بښرکی وروسته په کندهار کې دهغو مشرانو نومونه اخلي کوم چې د ده په خبره هغه وخت چې د ویښو زلمیانو خوځښت کندهار ته ورسېده، هغوی دغه خوځښت له نیست څخه اوج ته ورساوه، په دې نوملړ کې بښرکي پرته له دې چې محمد رسول پښتون ته د موسس یا بنسټ ایښودونکي په بڼه وګوري په نوملړ کې یې نوم تر ټولو مخکې راوړي او بیا کله چې د کندهار د ویښو زلمیانو په ډله خبرې کوي هغه په دوو برخو ویشي. په لویانو کې بیا هم د محمد رسول پښتون نوم د نومونو په لړکې راوړي او په ځوانانو کې لومړی نوم د عبدالشکور رشاد راوړي. دا هم باید ووایو چې د استاد عبدالحی حبیبي نوم نه په مشرانو کې راوړي نه په کشرانو کې.

محمد علم بښرکی وایي چې د کندهار ملګرو یو لیک د کابل ملګرو ته را ولېږه. د دغه لیک په لومړۍ ماده کې راغلي وو چې:

۱-"د ګوند نوم اخوت تصویب شو".

۲ -اخوت په ټولو هغو پرېکړو کې چې د قوم په ګټه تمامېږي جلا د حکومت ملګرتیا کوي.

بښر کی زیاتوی چې د اخوت د نظریې ډېر طرفدار محمد رسول پښتون وو. له دې سره سره بښرکی د کندهار د مدیره هیأت د غړو په نوملړ کې بیا هم د محمد رسول پښتون نوم نه اخلي. د بښرکي څرګندونو ته په کتنه ښکاري چې محمد رسول پښتون په خپله پټ پټانه "دا اصطلاح د بښرکي ده" نه ویښو زلمیانو ته بلکې د "اخوت " په نوم یو بل خوځښت ته کار کاوه. د اخوت په نوم هڅو په کندهار کې په قومي لویو مشرانو حساب کاوه او د هېواد په کچه یې د سلطنت او حکومت ملا ور ټینګوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي شاه محمود حسين په خپله ليکنه کې د محمد ولي زلمي له کتاب څخه بې له لاس وهنې راوړي؛ محمد ولي ځلمی ليکي: دی (محمد رسول پښتون) د حاجي خدا يار خان زوی د الله يار خان لمسی د حبيب الله بارکزي کړوسی وو چې په ۱۳۱۸ق، ۱۲۷۹ش کې د کندهار په منصور غونډۍ کې زېږېدلی دی...» پښتون صاحب د خپلو خاطرانو په ډايرۍ روزنامچه کې د خپل هويت او ژوندانه په هکله ليکي: (د ليکنې لنډيز) په ۱۳۰۲ش د شاه امان الله د اصلاحي پروګرامونو له مخې د بارکزو ځمکې چې د محمدزو د واکمنۍ له پيل څخه له ماليې معاف وي تر ماليې لاندې راغلې. بارکزو د دغې موضوع د حل لپاره زما پلار د قومي وکيل په څېر کابل ته ولېږه. زه چې ۲۱ کلن وم په دغه سفر کې د پلار ملګری وم. د لويانو، خپلوانو او پاچا سره مو په کراتو وليدل.

پښتون وايي چې د پلار څخه مې وغوښتل چې په عسکري مکتب کې مې شامل کړي. په دغه وخت سپه سالار محمد نادر خان وو. څرنګه چې زما پلار د هغه په دوستۍ او لياقت اعتماد درلود، نو زه يې د هغه حضور ته وروستم او د هغه د مهربانۍ مورد وګرځېدم او د حربي ښوونځي په احضاريه کې يې د شمول امر راکړ...

پښتون په اماني عصر کې د (انشا په نوي تشکيل شوي غنډ) کې د داوطلب کنډک مشر په حيث شامل شو. خو د ښورانده طبيعت له مخې له دغې وظيفې څخه ژر ګوښه شو. په ۱۳۰٦ش د کلات د ارغنداب علاقدار شو. يو کال وروسته د نوزاد علاقه دار شو او له سقوي دورې وروسته د کندهار د ښوراوک علاقه دار، ورپسې د خاکريز علاقدار او په ۱۳۱۱ش کې د اجرستان حاکم شو. همدغه کال د سپين بولدک سرحد دار شو او يوکال وروسته يې له دغې دندې استعفی وکړه. وروسته د پښتون شرکت د تحريراتو منشي او په ۱۳۱۷ش کې د کنډک مشر په رتبه د فراه د امنيې قوماندان شو. يو کال وروسته کندهار ته راغی او د پوليسو سرمامور شو.[1]

د پلخمري د نوي ښار د جوړېدو د مسئالو د تهيې د مدير په توګه او همدغه

---

1- ۱۳۱۹ ش کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال د پلخمري د ترانسپورت مدير شو. بيا همدلته د تعميراتو مدير او بيا د ارزاقو مدير و. ۱۳۲۳ش د جبل سراج د فابريکې د فني مدير مرستيال شو. له همدې ځايه بېرته پلخمري ته د تفتيش په څانګه کې ولېږل شو. بيا کندهار ته راغی او د ميوي د شرکت د تفتيش مدير شو، همدغه کال د هغه شرکت رئيس شو او په ۱۳۲۵ش کې په هند کې د افغان فروټ د اجنسۍ د رئيس په حيث مقرر شو. په ۱۳۲۹ ش د کندهار د حمل او نقل د شرکت رئيس او همدغه کال د دولتي انحصاراتو مدير وو. ۱۳۳۰ ش بغلان ته د دولتي انحصاراتو د مدير په توګه لاړ. په کال «۱۳۳۱ تر ۱۳۴۲ش پورې د هغه اتهام له کبله چې د ده پر نږدې دوست اوملګري... حاجي خدای دوست وارد و محبوس شو...» په ۱۳۴۳ش کې له بند څخه په را خوشې کېدو د کابل په انحصاراتو کې مدير و چې يو کال وروسته همدلته د تفتيش غړی شو.

۱۳۴۳ش کې ولسي جرګې ته کانديد شو خو له خپلې پرېکړې تېر شو او ځانته يې دارالوکاله جوړه کړه. سره له دې چې د محمد رسول پښتون د رسمي يا غير رسمي زده کړو په هکله هېڅ هم نه لرو او يوازې دومره ويل کېږي چې دی په پښتو، دري، انګليسي، اردو اوعربي ژبو پوهيده انګليسي او اردو يې ښايي په هند کې د ماموريت په وخت زده کړي وي خو د ژوند همدا لنډ بيان يې ښيي چې ده له هيڅ ډول حالاتو سره ځان نشو جوړولی. په دې خاطر يې هيڅ کومه دنده له يوه کال څخه زياته نه ده ترسره کړې. خو د ژوند اوږدې بېکارۍ يې هم نه ده آزمويلې. د ده په ژوند ليک کې د ده په ملګري خدای دوست خان باندې د تور خبره هم ډېره روښانه نه ده او دا چې دی ولې د ويښو زلميانو له بنديانو څخه لرې په بغلان کې وساتل شو هم هېڅ څېړونکي پردې خبره رڼا نه ده اچولې. محمد رسول پښتون د خدای دوست خان د قضيې اړوند ونيول شو خو خدای دوست خان د کابل په محبس کې ژوند له لاسه ورکړ.

محمدولي ځلمی ليکي چې پښتون صاحب د ژوندانه په اخرو کې تهجد او تصوف ته پناه وړې وه، اوراد يې پخول، تعويذونه يې کول. ده د افغانستان د سياسي کشالې د حل لپاره د ظاهر شاه راتګ او قيادت تائيداوه او ويل يې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له پخوا ویلي وو چی افغانستان ته خطر د شمال له خوا متوجه ده.[۱]

محمد ولي ځلمی لیکي چی: "د پښتون صاحب د ژوندانه د ماجراو څخه داسې څرګندېده چې ده د مطالعې، نوي فکر او ثلیقې سره پوره آشنایي درلوده. خو په عمل کې یې مطلق العناني، ملي غرور او د اولیت حق زیات خوښېدی"[۲]

"پښتون صاحب د هغه کرکټر له مخې چې یې په نصیب وو په دایمي توګه د ویښو زلمیانو د موسسانو غړو او د افغان ملت، ورور ګلوي (اخوت) د ګوندونو په غړیتوب کې پایدار نه شو پاتې کېدلی او ملګرو یې هم د هغه د عضویت مسؤلیت په غاړه نه شو اخېستلای..."[۳]

محمد ولي ځلمی د پښتون صاحب د زوی (نصیر هنر پښتون) له خولې لیکي چی: "...پښتون در برخی موارد سخت عصیانګر، تسلیم ناپذیر وسازش نا پذیر بوده است واین عناصر اکثراً موجب از دست دادن شانس های مهم وی شده است".

محمد رسول پښتون ته د هر ډول لوړو چوکیو چانس و او دی لویو لویو ماموریتونو ته ورغلی هم دی. خو دا چې دغه ټول ماموریتونه یې ولي او د څه لپاره له میاشتو وروسته پریښي دي. نه یې ده کوم دلیل ویلی او نه نورو څېړونکو دغه برخه ژوره څېړلې ده. که د ده د دومره پریمانه لویو او وړو څوکیو د خوشي کېدو او یا ورنه لرې کېدو برخه څېړل شوی وای نو لږ تر لږه به تر هر څه دمخه د وخت د فساد او استبداد څېره تاریخ ته بربنډه شوې وه. دا خبره ډېره د منلو وړ نه ده چی وایي د هغه طبیعت او نصیب همداسې جوړ شوی وو او له دی خبرې چې تېرشو نه محمد ولي ځلمي او نه هم د ویښو زلمیانو کوم بل غړي دا خبره کړې ده چی محمد رسول پښتون د ویښو زلمیانو بنسټ ایښودونکی وي.

ښاغلی شا محمود حسین صاحب لیکي: "هغه وخت چې ما د خپلې ماسترۍ

---

[1]- ۳۱۴ مخ.

[2]- محمد ولي ځلمی، ...ملي مبارزی ۳۱۳مخ

[3]- همغه اثر۱۱۳-۱۱۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرس ليکه، نو له عبدالهادي هادي توخي، محمد ابراهيم خواخوږي او آن استاد عبدالشکور رشاد سره مې مخامخ ليدنې درلودلې. د هادي کور ته چې په خير خانه مينه کې ؤ ورتلم، خواخوږي او رشاد صاحب مې همدلته ليدل او يوځل هم په نوی ښار کې د خواخوږي کور ته ورغلم او په همغې ليدنه کې خواخوږي د استاد علامه عبدالحی حبيبي "نفثته المصدور قرن بيستم يا خليلی نامه به جواب حبيبی نامه" چې د حبيبي په خپل خط وه په دې هېله راکړه چې يو وخت يې چاپ کړم. په هر صورت د ويښو زلميانو دغو درې مشرانو هېڅکله هم دا نه ويل چې محمد رسول پښتون د ويښ زلميانو بنسټ ايښودونکي وو.

هغه وخت چې د ويښو زلميانو رساله "جمعيت ويښ زلميان" چې زما ليکنه وه په گستتري چاپ خپره شوه لومړی اعتراض د محمد دين ژواک وو. د هغه اعتراض دا و چې ولې د ده نوم د ويښو زلميانو په نوم لړ کې نه دی راغلی. ما ژواک ته ډېر ژور درناوی درلود. يوه ورځ د ليکوالو په انجمن کې ور سره مخ شوم، اوږدی خبری مو وکړی. هملته هم د محمد رسول پښتون په نقش خبې راغلې. ژواک صاحب دا خبره چې د ويښو زلميانو بنسټ دی محمد رسول پښتون ايښی وي په رټه رد کړه. له دې سره سره محمد علم بڅرکي چې د ويښ زلميانو يو پېژندل شوی غړی وو او اوږده جيلونه يې هم وگالل په ښکاره ليکي چې:

"ښاغلی عبدالحی حبيبي، محمد رسول پښتون، محمد ابراهيم خواخوږی، عبدالرزاق فراهي او هم نيک محمد خان پکتياني او غلام محی الدين زرملوال په موسسينو کې نه وو. البته د جمعيت غښتلی او د افتخار وړ ملگری وو".[1]

دا خبره هم د يادولو وړ ده چې ډېر ليکوال او څېړونکي عبدالحی حبيبي هم د ويښو ځلميانو له مشرانو څخه گڼي. دا خبره ډېر ثبوت نه لري. نه يوازې مير غلام محمد غبار په «افغانستان در مسير تاريخ دويم ټوک» کې عبدالحی حبيبي د پارلمان د اپوزيسيون د ډلی په ويش کې عبدالحی حبيي په هغه ډله کې

---

1- ويښ زلميان، محمد علم بڅرکی۱۳۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولي چې په کوم گوند پورې نه و تړلی. او که نه یم تېر وتلی بڅرکي هم حبیبي یوازې په افتخاري غړو کې راپېژني. ما په همدې هکله د خپلې رسالې د لیکنې په مهال له عبدالله بختاني سره چې د ویښو زلمیانو یو تکړه غړي وو مخامخ لیدنه او اوږدې خبرې درلودلې. هغه کیسه کوله چې د ویښو زلمیانو کلنۍ غونډه په کابل کې جوړه شوه. دې غونډې ته حبیبي او شمس الدین مجروح هم راغلي وو. د غونډې په پیل کې د ویښو زلمیانو ډېر ځوان غړي محمد موسی شفیق پورته شو او نیوکه یې وکړه چې حبیبي او مجروح خو د ویښو زلمیانو مرامنامه نه ده امضاء کړې نو دوي ولې په غونډه کې برخه لري. دا وخت حبیبي پورته شو او غونډې ته په ټول احترام یې وویل چې زه ستاسو غونډې ته له یوې برنامې سره راغلی یم. که تاسو وخت راکړئ هغه به تاسو ته وړاندې کړم که مو خوښه شوه نو لاره به مو یوه وي او که نه زه به په خپله لار لاړ شم. له هغه پس شمس الدین مجروح پورته شو او یوازې دا خبره یې وکړه چې زه د خپلې دندې له مخې راغلی یم. مجروح هغه وخت د قبایلو لوی مدیر وو.

گل آغا احمدي وردگ په خپل اثر "محمد ارسلان سلیمي د افغانستان پېاوړې څېره" کې لیکي چې: د ویښو زلمیانو منشي عبدالرووف بینوا وو. داسې ښکاري چې دغه څه یې د محمد ولي ځلمي له لیکنو څخه را اخېستي دي. مېر غلام محمد غبار هم همدغه خبره یادوي خو د ویښو زلمیانو تشکیلاتي جوړښت د منشي د شتون خبره نه لري.

په دې برخه کې غبار سره له دې چې د ویښو زلمیانو، وطن او خلک د جوړښتونو او برنامو په هکله اوږدې څرگندونې لري خو بیا هم دا خبره کوي چې د ویښو زلمیانو او وطن گوند مشران د دې واک لري چې دغه خوځښتونه د دوی غړي او مرامنامې نورو نسلونو ته وړاندې کړي. د غبار په ورکړل شوي نوملړ کې نه ارسلان سلیمي لومړی څوک دی او نه هم محمد رسول پښتون. دغه شان غبار د گل آغا احمدي وردگ یا محمد داوود مومند په شان د نور محمد تره کي نوم د ویښو زلمیانو له نوملړ څخه نه باسي.

تاریخ نورو نسلونو ته لیکل کېږي. لیکوال او څېړونکی یې حق نه لري د خپلې کینې، نفرت، غرض یا مرض له مخې د تاریخ غړي ور پرې کړي. دا له تاریخ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکو نسلونو سره یوه نه بښوونکې جفا ده. د دې لیکنې په وروستیو کربښو کې یادونه کوم چې د "جمعیت ویښ زلمیانو" رساله چې لیکونکي یې زه (حسین) یم. زما د ماسترۍ د دورې تېزس وو چې د کابل پوهنتون او د علومو د آکاډمۍ د ډېرو اوچتو استادانو او پوهانو په یوه لویه ناسته کې ورڅخه دفاع شوی. په دغه تېزس کې برسیره پرمخامخ مصاحبو، لیدنو او خصوصي یادښتونو له ۲۳ چاپي منابعو څخه ګټه اخېستل شوې ده.

د لیکنې په بهیر کې له عبدالهادي هادي توخي، ابراهیم خواخوږی، محمد ولي ځلمی، صدیق الله رښتین، عبدالله بختاني سره زما لیدنو کتنو ډېر څه راکړل دغه شان د استاد سید سعد الدین هاشمي یادښتونو ماته ډېره مرسته را ورسوله. زه نه وایم او دا حق هم ځانته نه ورکوم چې دغه رساله د هر ډول کمزوریو تشه وښیم خو باور لرم چې د ویښو زلمیانو په هکله یوه د پام وړ رساله ده.

لوستونکي او مینه وال کولی شي دغه رساله هم د استقلال د ویب پاڼې او هم د نعیمي د ویبپاڼې په کتابتون کې وګوري. د همدغې رسالې په ۴۸ مخ کې راځي چې: "د یوه واحد او یو موټي سیاسي سازمان په توګه د ویښو زلمیانو د جوړښت په هکله او دا چې بنسټ ایښودونکي او طراحان یې څوک وو او چېرته یې لومړی بنسټ کېښودل شو، په ډېر تأسف ډېر د نظر اختلافات شتون لري داسې چې له ټولو هڅو سره سره مې د دغه خوځښت دوه تنه ژوندي مشران هم په یوه خبره ونه موندل. عبدالهادي هادي او محمد ابراهیم خواخوږی ټینګار کوي چې لومړی بنسټ یې په کندهار کې ایښودل شوی او موسسین یې محمد رسول پښتون، کاکا محمد انور خان، قاضي بهرام، غلام جیلاني الکوزی، عبدالهادي هادي توخی، عبدالصمد خان کاکړ او عبدالخالق خان واسعي وو. پوهاند محمد حسن ضمیر صافی په دې باور دی چې لومړی بنسټ یې په ننګرهار کې قیام الدین خادم، غلام حسن خان صافي، صدیق الله رښتین، محمد ګلاب ننګرهاي ګل پاچا الفت او نورو ایښي دي.

دا سمه ده چې له یوه اوږده استبداد او اختناق وروسته او د نړۍ والو حالاتو په بدلون سره د افغانستان په مهمو ښارونو لکه کابل، کندهار، ننګرهار، هرات او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزار شریف کې د دغه خوځښت زړی را وټوکېدل خو دغو خوځښتونو تر هغه وخته چی په کابل کې یې ګډه موسسه کنگره نه وه جوړه شوې، هېڅ یوې برخې یې افغانستان شموله بڼه نه درلوده. کابل د هېواد پایتخت وو او د لومړي ځل لپاره تر ډېره د عبدالروف بینوا په نوښت چی د پښتو ټولنې مشر و د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د هغو لیکوالو لیکنې را ټولې او د کابل مجلې د دوو ګڼو پرځای د یوه کتاب په توګه خپرې شوې.

په دغه کتاب کې څه ناڅه ۴۳ تنو چې درې یا څلور یې ښځینه لیکوالې وې خپلې لیکنی چاپ کړي. دغه لیکنې یو لاس او له یوی ټاکلې سیاسي یا سازماني موضوع څخه نه وی، خو په ښکاره لیدل کېده چی کابل د یوه نوي سیاسي سازماني خوځښت ځانګو ګرځي. او د پای خبره: د ویښو زلمیانو د کنګرې په کار کې له یوه مدیره هیأت څخه خبرې کېږي او دا څه د ویښو ځلمیانو د خوځښت په اسنادو کې شتون لري. د دغه هیأت غړي دا دي:

نورمحمد تره کی

عبدالروف بینوا

قیام الدین خادم

د کنګرې د ګډون کوونکو نوملړ هم چې زما په رساله کې راغلی او بشپړ نه دی، لاندې کسان د کنګرې غړي ښیي:

نورمحمد تره کی

عبدالروف بېنوا

قیام الدین خادم

گل پاچا الفت

صدیق الله رښتین

فیض محمد انگار

محمد ارسلان سلیمي

نیک محمد پکتیانی

گل شاه صافي

پاینده محمد روهیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالقدوس پرهیز
محمد ظاهر
نور محمد پونده
لعل محمد احمدي
عبدالکریم نزیهی ازبیک
عبدالصمد پتک
غلام رحمن جرار
ولي ځلمی
عبدالهادي خوږمن
شاه مرد
او ابولحسن.

دا نوملړ مو ځکه بشپړ ونه ګاڼه چې ډېرو څېړونکو د کنګرې د غړو شمېر ۲۲ تنه ښودلی دی او دلته ۲۱ تنه راغلي دي. دا هم د یادونې وړ بولو چې د محمد ولي ځلمي په ګډون څو تنو لیکوالو او څېړونکو دا ښودلې ده چې د ویښو زلمیانو کنګره د مجید زابلي په کور یا د ده د نوي شرکت په سالون کې پرانیستل شوه. خو د نور محمد تره کي ورور جان محمد تره کي ویل چې دغه کنګره د نور محمد تره کي په کرایي کور کې جوړه شوه. دغه کور د مجید زابلي نه بلکې د هغه د یوه خپلوان کاکا نعیم وو. څرنګه چې په دې سیمه کې مجید زابلی لوی کور او شرکت درلود ډېرو داسې فکر وکړ چې دا کور د مجید زابلي وو چې نورمحمد تره کي ته یې په کرایه ورکړی وو.

په هر صورت د یادوني وړ ده چې مجید زابلی لږ تر لږه د یوه ملي پانګوال په توګه د هېواد د بدلون غوښتونکو څخه وو. د ده ژوند او د ده په قلم لیکل شوي نامتو اثر "اقتصاد ما" (هیله من یم چې دا نوم مې ناسم یا نیمګړی نه وي لیکلی) په ډاګه ښیي چې هغه د مسلطو فیوډالي مناسباتو په وړاندې د پانګوالي خوځښتونو په لور سخت لیوال وو او ښایي همدا خبره د دې سبب شوی وي چې د وخت له وتلو روښانفکرانو او د قلم له خاوندانو سره نږدې، دوست او مرستندوی پاتې شوی وي. دا چې یو شمېر لیکوال یا څېړونکي وایي، یا لیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نورمحمد تره کی او بېنوا د محمد داود او زابلي تر اغېزو لاندې وه، يوه د تامل وړ خبره ده. بايد د هغه وخت د زابلي او سردار محمد داود سياسي او فکري دريځونه له دې سره سره چې يو يې يو لوی پانگه وال او بل يې د شاهي کورنۍ مقتدر غړی دی، په ژوره توگه له احساساتو لرې او نه د نن په معيارونو بلکې د هماغه وخت په حالاتو او غوښتنو کې وليدل شي. تاريخ د پېښو دوهم ځل زېږونه نه، بلکې په امانت د تېرو پېښو را اخېستنه ده. هغه خام احساسات، پرېشانه افکار او له حالاتو اخېستي ناروغۍ چې نن زموږ پر ټولنه واکمنی دي، تاريخ ته لکه څنگه چې ښايي نشي کتلی. په دې خاطر واکمن بهير دا دی چې نن ټول قاضيان او ټول متهمين يو. همدغه حالت خپلې ورانوونکي منگولې تېر تاريخ ته هم ورغزولي دي او په ډېره ناروا سره د تاريخ مرۍ غوڅوي. غبار بيا په افغانستان درمسير تاريخ په ۲۴۰ صفحه کې ليکي: "د ويښو زلميانو په گوند کې يو کم شمېر خلک وو، چې غوښتل يې گوند په ژبه او منطقه پورې وتړي." په ۲۴۱ صفحه کې ليکي: "په کال ۱۹۵۱م يا ۱۳۳۰ هجري کې د کندهار ويښو زلميانو خپل جلاوالی، د ويښو زلميانو د گوند څخه اعلان کړي. خپل ځانته گوند يې جوړ کړی. د گوند نوم يې (اخوت) کېښود، دوی د نوې تگلارې سره خپل کار پر مخ وړي. مگر د کابل ويښو زلميانو دغه جلا والی نه مني او د پخلاينې کوښښ يې کاوه.

"ښاغلی محمد علم بڅرکی هم د کندهار د حلقې جلاوالی داسې ليکي: "په کندهار کې ۱۳۳۰لمريز کال د سنبلې د مياشتې پر ۲۸ تاريخ باندې يوه لويه غونډه جوړه شوه او دغه تصميمونه يې ونيول او هغو ويښو زلميانو ته چې په کابل کې وه، خپل ليکلی خط واستولو. غونډې د گوند نوم (اخوت) کېښود فيض محمد خان، محمد الدين خان، ژواک، نور محمد خان وکيل او غلام دستگير يې خپل نماينده گان وټاکل. او اضافه يې کړل، ترڅو چې په هيواد کې گوندونو ته په قانوني توگه رسميت او اجازه نه وي موندلې، دا جميعت به هېڅ کله ونه غواړي چې عرض اندام وکړي. ومن الله توفيق.

په ۱۹۵۲ز کال يا ۱۳۳۱لمريز يانې يو کال له ويښو زلميانو څخه تر جلاوالي وروسته د خپل نوي گوند "اخوت" د رهبرۍ د فيصلې له مخې د حکومت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پارلماني ټاکنو پر سر د لانجې لرلو له امله بنديان شول. بنديان له زندان څخه تر خلاصېدو وروسته د "اخوت" د غړو له جملې څخه يو څو تنه د دموکراتيک نوين (مساوات) گوند سره چې د محمد هاشم خان ميوندوال له خوا يې مشري کېده يو ځای شول، ملي دموکرات گوند چې په هېواد کې د خپل نشراتي ارگان "مساوات" په نوم وپېژندل شو، هلته هم دوی تر ډېره پاتې نشول. بل شمېر يې لکه محمد رسول پښتون، غلام محمد فرهاد، خادم، فدايي او څه نورو ځانته د افغان ملت گوند جوړ کړ.

د بيان ازادي د انسانانو روا حق دی. خدای ورته مغز او ژبه د همدې لپاره ورکړې ده، چې د خپلې عقيدې بيان پرې وکړي. پر دې خبره هم بايد قانع وو چې د بيان د ازادۍ څخه ناوړه گټه پورته نه کړو. ناوړه، بېکاره او غلط نظرونه بايد خپاره نه کړو.

آزادي، ديموکراسي پېژندنه هم اسانه نه ده. ديموکراسي يو پر له پېچلی او په ډېر حساس شکل يو بېلانس شوی سيستم دی چې د هېواد د سياسي کلتور سره نېغ په نېغ رابطه لري. پس خبره د ويښو زلميانو ده. له نومه يې سرې پوهېدای شي چې ځوانان وو، د افغانستان وه او افغانان وه. لومړی، کېدای شي دوی د زده کړې له مخې سره جلا کړو، مکتب لوستي او مسجد لوستي دوهم، سمتي جلاوالی، او تمايلات. دريم، د ژبې مسئله. څلورم، د نظرونو تفاوت. پنځم، د عمر او کال نژدې والی، د پوهې برابره کچه او حکومتي لاسوهنه. تر ټولو لويه ستونزه د يوې وروسته پاتې جامعې زيږنده وه.

دې ټولو عواملو لاس سره يو کړی، څو دا خوځښت په خپل کار کې بريالی نه شو. په دې ډول د ويښو ځلميانو تر جوړښت وروسته لومړۍ غونډه د محمد صديق فرهنگ په کور کې دايره شول. چې مير غلام محمد غبار يې هم غړی وو. اول فرهنگ، ورپسې غبار بيا د کندهار ځوانان د ويښو زلميانو د گوند څخه ووتل او اهسته، اهسته دا حرکت کمزوری شو.

تر دې وروسته نو هر چا جلا او ځانگړی کوښښ کړی دی چې د پاشلو پړه پر نورو واچوي. هغو چې نوره يې مبارزه نه کوله هم نارې وهلې، ملامت يې نور بلل. د ژوند ترپايه همدغسې نيمه ډوډۍ او د کوټې پای يې خوښ کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس همدا به یې ویل چې احمد یا محمود ملامت وو، که نه ما به داسې کړي وی یا داسې. دا چې پلاني داسې وکړل نو..... زه هم کور کښېنم. دا بد بختي نو زموږ افغانانو په ختېه کې اخښلې خبره ده.

ښاغلی محمد انور نومیالی ښه وایي: "ماته دونه رامالومېږي چی د ژوند په مسیر کې هر هغه ایډیالوجیکي ټوپ چی د موډ، فیشن، تقلید او یا داسې نورو عواملو تر اغېزې لاندې په میکانیکي او د وګماتیکي ډول ووهل شي نو په هغه کې د سقوط امکانات او احتمالات ترپایه پاتې کېږي او د همدې شان حرکت پروسه د رجعت د ناوړو تهدیداتو د اغېزې څخه نه ژغورل کېږي."[1]

د ویښو زلمیانو د ګوند تر ړنګېدو وروسته په دې ګوند کې شامل غړي هرڅوک خپل سري شول، ځینو یې بېرته د سیاست لمنه ټینګه کړه، چا کتاب لوستلو، لیکلو او لیکوالۍ ته مخه کړه، چا ادب شعر او شاعري ته، چا حکومت او څوکۍ ته او ځینې د خیر پر غونډې کښېناستل، د خپل ژوند تر پایه یې د کور دننه نژدې دوستانو ته کله نا کله یو څه ویل او بس. هر یوه د دوی څخه په بېلو، بېلو برخو کې د خپل ژوند تر پایه دې وطن ته خدمتونه کړي دي. موږ ورته کور ودانی وایو خدای دې د دوی سره مرسته وکړي. مګر یو شمېر یې هغه د ځوانۍ کوم بد نیتي چې د ویښو زلمیانو د غړو ترمنځ را پیدا شوې وه هغه یې تر ګوره د ځان سره یووړه. ما هم یو شمېر له دوی څخه له نژدې په خبرو لیدلي وو.

د ظاهر شاه پاچاهي، د محمد هاشم خان د (محمد ظاهر خان کاکا) صدرات دا هغه دوی (۲) لوی بلاوې وې چې پر افغان ولس د نادر خان په شان د انګریزانو خوښ، روزلي او نازل کړي وو. په کورونو کې دننه خلک د دوی د جاسوسیو دلانو څخه بېرېدل. د بادارانو په لارښوونه یې کورنۍ مجلس او پرېکړې هم د هاشم خان د تصمیم او وړاندیز له مخې وو، د کورنۍ بل غړي محمد ظاهر شاه ناسکه کاکا شاه محمود ته هم نوبت ورکول شو. سردار شاه محمود خان د سردار محمد هاشم خان په نسبت څه نرم چلند غوره کړو.

په کابل کې د مخکې جوړې شوې ادبي ټولنې یو شمېر غړو په ښکاره سیاسي

---

[1]- د کوډو سرنوشت - ۱۴ - ص.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار او فعالیت ته ملا وتړله. لکه عبدالروف بېنوا، محمد ارسلان سلیمي، قیام الدین خادم، نور محمد تره کی، فیض محمد انگار، گل شاه ساپی، صدیق الله رښتین او گل پاچا الفت. د کندهار، ننگرهار او کابل بدلون غوښتونکو حلقو هم ورسره لاس ورکړ او د ویښو زلمیانو گوند یې جوړ کړی.

"افغانستان درقرن بیستم" په ۲۷۹ صفحه کې لیکي: "ترجمه: د سردار شاه محمود خان د دموکراسۍ په دوران کې لومړۍ خپرونه یا نشریه چې منځته راغله هغه د انگار په نوم د ویښو زلمیانو خپرونه وه چې فیض محمد انگار یې د امتیاز خاوند او مسوول مدیر وو په خپرونو پیل وکړ. د دې جریدې بنیادي اداره کونکي نور محمد تره کی وو".

"خلیل الله خلیلی په خپلو یادښتونوکی ۳۱۱ صفحه کې د "ویښو زلمیانو" د خوځښت د جوړېدو په باب منفي نظر لري او دا خوځښت د پښتو او فارسي ترمنځ د اختلاف لامل گڼي او هم د دې خوځښت د پاره د ځوانانو تشویق کوونکی او تمویل کوونکي د هغه وخت سرمایه دار عبدالمجید زابلی بولي. د سردار محمد داود خان او سردار محمد نعیم خان علاقه او مینه هم ورسره ملگری بولي او د سازمان سمبالونکی نور محمد تره کی او عبدالروف بېنوا معرفي کوي. دوی په کمونیستانو متهم کوي، حتا نور محمد تره کی د عبدالمجید زابلي د موتروان په نوم ورپېژني.

د یوه لیکوال، سپین ږیري او شاعر لپاره به دا مناسبه نه وي چې د واقعیتونو خلاف څه ولیکي. اول، خو موټروانی کوم عیب، شرم او بد کار نه دی، که رښتیا هم نور محمد تره کي موتروانی کړې وي دا خو یی بل کمال وو. حال دا چې داسې نه وه. بله دا چې د ویښو زلمیانو خوځښت د فارسي ژبو په خلاف نه وو، علاوه پر دې په افسوس سره مخور شاعر د خپل ظالم پلار (مستوفي الملک) میرزا حسین په شان مخالفینو ته په سپکه گوري او نامناسب الفاظ یې کارولي دي.

د بېلگې په توکه د سردار شاه محمود خان صدر اعظم د کابینې د هغه وخت د فواید عامې وزیر په دې نوم یادوي: "په کابینه کې حکیم جان یو سړی وو، هغه یې راوست، وزیر فواید عامه یې ترې جوړ کړ، هغه په مسکو کې د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده سفیر وو، کله چې روسی فوځ افغانستان ته راغلو، غټ ترین سړی په کابل کې شو. تر هغو چې مردار کېدئ معتبر ترین سړی وو"
د ښاغلي خلیلي د لیکنو څخه روښانه ده چې ده د صدراعظم شاه محمود خان نظر د ټولو مترقی خوځښتونو پر ضد خرابولو او صدر اعظم یې استعمالاوه. ځکه دی خپله اعتراف کوي چی د شپې د خلکو کورونو ته ورغلی، خلک یې تطمیع، تهدید او تشویق کول چی په مترقي جنبشو کې ګډون ونه کړي.
خلیلي لیکي د مطبوعاتو د وزیر په حیث مي د وزیرانو په مجلس کې خبره مطرح کوله د دوی خپرونو او نشرات مې بندول. د پیدایښت څخه ترڅو سلطنتونو تر ړنګېدلو خلیل الله د دربار سړی وو او هلته میشت وو.
یادونه: که څوک د ښاغلي استاد خلیل الله خلیلي یادښتونه وګوري، وبه ویني چی ښاغلی د میرزا حسین خان زوی چې د امیر حبیب الله د پاچاهۍ د لویو واکونو خاوند د استخباراتو وزیر، مستوفي الملک یا وزیر مالیه وو. د امیر حبیب الله د پاچاهۍ پر وخت د ټولو مشروطه غوښتونکو او مبارزینو د وژنو مسوولیت دې په غاړه لري. هغه وخت یې زیات باغونه او جائیدادونه، چې حکومت ضبطول، ده خپل کول. امان الله خان د نوموړي ملکیتونه ضبط او میرزا حسین یې ووواژه. خلیلي د حبیب الله سقاو د خپلې پاچاهۍ پر وخت بېرته دربار ته راوستل شوو، اباد شوو د ملکیتو او مقام خاوند شو. نوموړي د سقاوو د زوی لارښونه هم کوله.
د سقاو د زوي ټول حکمونه او فرمانونه خلیل الله لیکل. حتی خپله خلیل الله خلیلي د سقاو د زوی په واکمنۍ کې په خپل سر او خپله تومانچه په د فترونو کی د امان الله د پاچاهۍ دولتي مامورین ویشتل او وژل. وګورئ د قدرمن سیستانی لیکنې. څخه د ماخذ په توګه چی لیکي:
خلیلي د محمد نادر خان په واکمنۍ کې هم ډېر ښه واک درلوده، خو د ظاهر خان د پاچاهی او په خاصه توګه د سردار محمد هاشم خان د صدارت پر وخت په کنړو کې د صافیانو قوم د پاڅون څخه وروسته هاشم خان د څو شپو لپاره نظر بند کړ. د ده د لیکنې پر اساس ډېر وځورېدو، ترڅو شا محمود خان صدر اعظم شوو وروسته د څه وخته ازاد او بیا هم په هغه حکومت او هغه صدارت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه شاهي کورنۍ په چوپړ کې رئیس، معین، وکیل، د پوهنتون مرستیال، سفیر، د وزیرانو د مجلس منشي، وزیر، د پاچا مطبوعاتي سلاکار او زیات نور.
خلیل الله خپله جاسوسي نه پټوي د خپلو یادښتونو په ۳۷۸ صفحه کې لیکي:
"د ۱۹۸۳ز کال په ډېسمبر کې د امریکا په نیوجرسي کې ووم، چې د قاضي محمد افضل خان چمبه په لاسلیک یو رسمي مکتوب ما تر لاسه کړ. محمد افضل خان... د پاکستان قاضي القضات وو ماته لیکلي وو: په رسمي توګه دنده لرم چې د پاکستان د رئیس جمهور، ضیا الحق لخوا وتاسې ته اعلان کړم، چې تاسې د رئیس جمهور فرهنګي سلاکار، د افغان کډوالو په فرهنګي چارو کې په دنده وګمارل شوی."
د خپل عمر په آخر کې د استاد خلیلي دوستي د افغانانو د سر سخت دښمن د پاکستان د رئیس جمهور ضیاء الحق سره وه. د یوه پردي افغان دښمن رسمي سلاکار وو. یانې دښمن سره یې د افغانستان په خرابولو کې مرسته کوله. ضیاء الحق ته یې د افغان هېواد د نړولو چلونه ورښودل. په ډېر افسوس چې د ژوند تر وروستي وخته د ضیاء الحق په چوپړ کې وو.
خلیلي د شاهي کورنۍ د هر کس او ناکس په باب ښه مالومات لرل، زه په شعر نه پوهېږم خو خلک وایي د فارسی ژبی غښتلې شاعر وو. سیاسي درک یې د شاهي کورنۍ د غړي په شان وو. تل یې د ظالمو واکمنو کړیو په چوپړ کې ولاړ سړی وو، نو د نوموړي نظریات د ویښو زلمیانو په خلاف کومه د تعجب وړ خبره نه ده. خلیل الله په افغانستان کې د هر فکري مثبت بدلون او فعالیتونو مخالف انسان تېر شوی دی.
راځم خپلي خبری ته، شاهي نظام او د شاهي کورنۍ غړو او د وخت صدر اعظم شاه محمود خان چی نور یې د ویښو زلمیانو نشرات او فعالیت نه شو زغملی نو یی په ۱۳۳۰ لمریز کال کې یوه ورځ د ګوند مشران لکه: ګل پاچا الفت، غلام محی الدین زرملوال، عبدالروف بینوا، نور محمد تره کی او غلام دستګیر پوپل ځانته ور وغوښتل امر یی ورته وکړ چې "له همدې نن څخه وروسته ویښ زلمیان نور سیاسي فعالیت نشی کولای".
نوره خبره خلاصه شوله، د شاهي کورنۍ پرېکړه وه، بې له منلو بله چاره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولس جریده چې د ګل پاچا الفت په مشرۍ د خپرونې راوتله د ویښو زلمیانو له خوا خپرېده هغه هم د سردار محمد داود خان په مستقیم امر سره وتړل شوه. د ویښو زلمیانو پر یو شمېر مشهورو لیکوالو، سیاستوالو او د همدې ګوند بنسټ ایښودونکو مشرانو پسې د بخل له وجې بې مانا منفي پروپاګند شوی دی. مثلاً لیکي: یو شمېر ویښ زلمیان بندیان شول، مګر بېنوا، تره کی، خادم او الفت پر ځای پاتې او یا ښه ځای مقرر شول.

ځواب:

اول: هغه وخت چې د کندهار د ویښو زلمیانو ځوان مخکښني غړي بندي کېدل پر دغه وخت دوی د ویښ زلمیانو غړیتوب نه درلود. په دې وخت کې دوی د "اخوت" په نوم خپل مستقل ګوند، بېله کړنلاره لرله. دوی د هغه ګوند (اخوت) غړیتوب لاره، د دوی تر بندي کېدو یو کال مخکی ویښ زلمیان د سیاسي فعالیت څخه منعه کړل شوي وو. پس هغه وخت په کندهار کې بندي شوي ځوانان د ویښو زلمیانو سره په تړاو کې نه وو. حکومت په اصل کې هغه ویښ ځوانان بندي کول او له منځه وړل چې دوی خپل حکومت ته خطر ګڼل، حکومت په ۱۹۵۱ز کال کې زیات سیاسیون ونیول او بندیان یې کړل لکه د هغه وخت د "حزب وطن" د " حزب ندای وطن" او د "اُخوت" مشران هم بندیان شول.

دوهم: د ښاغلي عبدالروف بېنوا د ښځې خپلوي د شاهي کورنۍ سره، یا د ښاغلي نور محمد تره کی پېژنده، نه د عبدالمجید خان زابلی سره، د کمزورو خلکو بې مورده تهمت دی. داسې څوک شته چې خپلوي او شناخت دې ونه لري. سیاستوال باید د هر چا او هر لوی سره اړیکې ولري. لږ کسان به وي چې د وخت د حکومت د واکدارو سره یې اړیکې نه لرلې؟ رسوا، مستند، قصدي دښمني او خیانت چا نه دی کړی. بې له سنده تهمت بُخل دی چې د پوهې د لږوالي له امله لګېږي. خو هېڅ یوه هم د دوی څخه په خپلو لیکنو کې ځانته د انتقاد ګوته نه ده کړه کړې. ایا دغه ټول پر بل انتقاد کونکي پر لاره برابرولی؟ زه خو باور نه لرم.

پوښتنه دا ده: ولې د ویښو زلمیانو هره غونډه د نور محمد تره کي په کور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېده؟ بل ولې اساس ایښودونکي غونډه د نور محمد تره کي په وينا سره پرانيستل شوله؟ يا ولې د هغه وينا د غونډې د کار مرکزي ټکی شو؟

۱ ـ نور محمد تره کی د عمر په لحاظ تر ټولو مشر وو؟

۲- ايا نور محمد تره کی د نورو په نسبت په سازمان جوړونه پوهېده؟

۳- ايا د نور محمد تره کي په پوهه او ليکنو کې تر نورو تکړه وو؟

۴ ـ ښه کور، ښه اقتصاد، لوړه حکومتي څوکی، لوړيزده کړی، د کوم سردار، خان او ملک يا وزير زوی وو ؟

پس نو خبره څه وه چې د عمر له مخې مشران، د پوهې او بهر کې د لوړو زده کړو لرونکي، پاخه ليکوال، په حکومتونو کې د مناسبو څوکيو لرونکی، د محمد رسول پښتون په شان د شتو يا مځکو څښتن د يوه غريب سړي، چی خپل کور يې نه لاره او په کرايه د بل په کور کې اوسېده، په اقتصاد کې هم کمزوری وو، پر کور را ټولېدل، د هغه وينا ته يې غوږ نيولو او د هغه وينا يې د خپل کار د تگ لارې په توگه منله؟ نور بحث پرې نه کوم يوازې به دا ووايم: که ځينې دوستان نور محمد تره کی او عبدالروف بېنوا ته د عادي خلکو په سترگه گوري، د ويښ ځلميانو هغه سربښندنې هېروي چې د دوي په گډون د خوځښت ټولو گډونوالو کړي دي.

خوښ يم چې ما ښاغلي عبدالروف بېنوا او ښاغلی نور محمد تره کی ښه پېژندل، دواړه د سړي سينې خاوندان وو. د خپل وخت د ځواکمن قلم لرونکي ليکوالان او زموږ د هېواد افغانستان په کچه پوه سياست وال وو. که څوک د نړۍ د سياسي رهبرانو سره د دوي ناانډوله پرتله کوي، دا سم کار نه دی په وطن کې ويښ زلميان هغه منظم خوځښت وو، چې په لسگونو نورو خوځښتو له دوی څخه تجربې حاصلې کړي. د ويښو زلميانو د ياد بود په هره غونډه کې به د ښاغلي نور محمد تره کي او ښاغلی عبدالروف بېنوا نوم په درنښت يادېدلو. سړی سم پوهېدلای شي چی دښمنان په هره ښه هرځای کې خپل کار کوي. د غلام محمد غبار د کتاب دغه جمله چې وروستي دوه نفره د عبدالمجيد زابلي ډله وه، څه مانا لرلای شي؟

دا ښکاره کينه ده، ځکه چې سياستوال د واکدارانو سره دعوه لري، د خپل ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق ترې غواړي، ځکه چې عبدالمجید زابلی خو کوم پاچا یا صدر اعظم نه وو، د وخت د کابینې د غړو څخه به یو غړی وو. غبار خپله د یو شمېر وزیرانو سره ناسته او پېژند لګلوي نه لرله؟ ایا د عبدالمجید خان زابلي په باب داسې کوم سند شته چې وښودل شي، چې نوموړي د ملت په حق کې کوم خیانت کړی وي؟ هغه یو تاجر وو، په کندهار کې یې شرکت لرلو، د افغانستان بانک یې تاسیس کړی وو، په کندوز ولایت کې د بورې فابریکه او نور تأسیسات جوړ کړي وو. ایا د هغه سره اړیکه او انډیوالي یا کار کول ګوم جُرم یا خیانت وو؟ که خیانت وي نو بیا عبدالمجید زابلي سره خو زیاتو افغانانو پېژندل ځکه نوموړی په دې هېواد کې وزیر وو، تاجر وو، رئیس وو. نو هغه چا چې دی وزیر کړی وو، یا هغوي چې د ده تر رهبری لاندې کار کاوه ټول ګناه ګاران وو؟ ستاسې د هغه وخت یو سیاستوال او یا ننی سیاستوال وښایې چې د کابینې د وزیرانو سره دې نه پېژني او یا دې خپله د وزارتونو، ریاستونو او نورو لوړو چوکیو په مسند نه وي پاتې شوي.

داود خان خو تر هر چا ښه ورسره پېژندل. هرسیاست وال باید د ټولنې د ټولو اشخاصو، سره په هره پوړی کې چې وي پېژندګلوي او اړیکې ولري او د هغوی د هر امکان څخه د ولس په ګټه استفاده وکړي. که زابلی مجُرم هم وو، جُرم د هر شخص ځان کړی عمل دی چې د مسولي او واک لرونکې محکمې تر څېړنې او پریکړې وروسته په سزا رسېږي. نو د ښاغلي غبار د دې جملې لیکنې سړی پوهیدلی شي چې دی هم د عقدو څخه خالي نه وو او که یې د نور محمد تــره کي په باب تر دې زیات څه په لاس کې لرلی او یا په څه پوهېدلی هغه یې ټول لیکل. بدبختانه یو شمېر دوستان په هر هغه فعالیت او سیاسي حرکت کې چې د پښتنو شمېر ډېر وي، اور بلېږي، نور یې عقل کار پرېږدي او د هر څه په منفي کولو سر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووم څپرکی

# د اوسني افغانستان ختيځې سيمې

زموږ د هېواد ختيځه سيمه چې لرغونی تاريخ، ښېرازه ځمکې، سرشاره ځنګلونه، د شمشاد، هندوکش، سپين غر، تور غر، د خيبر دره او د شلمان لوړې دنګې څوکې، د ځمکې لاندې کانونه، د کنړ سرشاره سيند، د کابل، حصارک او خوګيانو سيندونه، د کنړ، نورستان او د سپين غره په لمنو کې لوی ځنګلونه او د دې سيمې غيرتي ولسونه د ننګ او ناموس اتلان د خپل هېواد باتور شاه ځلميان چې تل يې خپله مېړانه هېواد په ساتنه کې په ثبوت رسولی ژوند کوي. غواړم د دې سيمې په هر برخه لږ شانته رڼا واچوم.

## اول ـ د ننګرهار ولايت:

دا ولايت د افغانستان په ختيځ کې موقعيت لري، د درياب له سطحې ۵۹۹ متره لوړوالی لري، د دې ولايت مساحت ۷۹۱٦ کيلو متر مربع دی. د دې ولايت مرکز د جلال اباد ښکلی همېشه بهار تاريخي ښار دی. ننګرهار ملايمه اب هوا او ښه اقليم لري. د دې له امله ننګرهار کې زياتې ميوې او کرهنيز حاصلات پيدا کېږي.

ننګرهار ختيځ او سهيل لور ته خيبر پښتونخوا، شمال ته کنړ، نورستان، لويديځ ته لغمان، کابل او لوګر پراته دي. د ننګرهار ولايت کې سپين غر چې تل په سپينو واورو تک سپين وي، د شمشاد نه تر لوګر ۱۸۰ کيلو متره اوږد پروت دی. طبيعي ځنګلونه او زيات کانونه لري. د ننګرهار موسم په دوبي کې تر ۴۵ درجو سانتي ګراد رسي، په ژمي کې تر مثبت ۲ سانتي ګراد وي.

تور غر له درونټې څخه تر کابله پروت دی، دا غر د ياقوتو کانونه لري او لغمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ننگرهار سره جلا کوي. د ننگرهار ولایت د حصارک غلجایي څخه یو لوی رود راځي چې حصارک او د سره رود ولسوالۍ خړوبوي او نورې اوبه یې د کابل سیند ته توېږي. د کابل سیند هم د الینگار او الیشنگ د اوبو سره یو ځای د کنړ سیند په اوبو کې ګډېږي.

د کابل پر سیند د ننگرهار د درونټې په ساحه کې د ۱۱ میګاواټو په ظرفیت برېښنا کوټ جوړ دی. له دې اوبو څخه یو لوی کانال ایستل شوی چې د سره رود، بهسودو، بټې کوټ، مهمندرې، د شینوارو ځینې ولسوالۍ او د ننگرهار د اوبو لګولو د مجتمع ۵۰ زره هکتاره ځمکه خړوبوي. د ننگرهار پروژه د زیتون، مالټې، سنترې، چکوترې، لېمو باغونه او کرهنېزې ځمکې لري.

د کانال په درې واړو فارمونو کې د مالداري د ودې برخې هم شته. همدارنګه د ننگرهار په پروژه کې د زیتون د پروسس، د نجارۍ، د سیمنټي پایو جوړولو کارخانې فعالیت کوي. په ننگرهار کې تر سلو زیاتې خصوصي کارخانې فعالیت لري چې مختلف توکي تولیدوي او په سلګونو نارینه او ښځینه کار کوونکي لري. د کونړ سیند څخه کوز کونړ ولسوالۍ، کامه، لعلپوره او د ګوشتې کرهنیزې ځمکې خړوبېږي.

## د ننگرهار ولایت اقتصادي ارزښت:

په ننگرهار د کابل، پېښور ترانزیتي تجارتي مهمه لار پرته ده چې له درونټې څخه د ډیورنډ تر کرښې په پورې ۹۲ کیلو متره اوږدوالی لري. د ننگرهار او ګاونډیو ولایتونو د کاروبار او تجارت لپاره یې ښه زمینه مساعده کړې ده. د ننگرهار یو شمېر تجاران د کراچۍ بندر ته د نړیوالې سوداګرۍ په موخه لاسرسی لري. تجاران د پاکستان، هندوستان، چین، ازبکستان، تاجکستان، قزاقستان، ترکمنستان، ایران، جاپان او دوبۍ څخه تجارت کوي. د دې ولایت څخه تازه او وچې مېوې، ترکاري، لرګي، قیمتي ډبرې، شوکانې، د مرمرو ډبرې نورو هیوادونو ته صادروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طبيعي زېرمې:

د ننگرهار ولايت يو شمېر طبيعي زېرمې لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي: د ډبرو سکاره، د مرمرو ډبرې، شوکانۍ، ياقوت او نور چې د خوگيانو مرمر يې زيات شهرت لري. د شوکانۍ کانونه په خوگيانو او شينوارو ولسواليو کې شته چې ايستل کېږي او صادرېږي.

## پرمختگ:

ننگرهار د کرهنې او صنعت د پرمختگ لپاره مناسب اقليم لري. د کال څلور فصلونه د کر لپاره مناسب دي. په ننگرهار ولايت کې زياتې کارخانې فعاليت کوي. د بېلگې په توگه: د زيتون د پروسس او د غوړيو، نجارۍ، د بخار ديگونو جوړولو، د مرمرو ډبرو د توږلو، د شوکانۍ، د خياطۍ، پکول جوړونې، ريکشاگانو جوړونې، د رختونو اوبدلو، د نشايستې جوړولو، د چرگانو د خوراکي موادو، د مالگې د جوړونې، د څپليو او پلاستيکي بوټونو جوړونې، د عطرونو جوړونې، د افغاني قالينو د پرې مينځلو کارخانې لري. د چرگانو د توليد، د شاتو د توليد او داسې نور... فارمونه لري چې په زرگونو ښځينه او نارينه کارگران لري. په ننگرهارکې۲۴۳ فابريکې فعاله دي چې شاوخوا لس زره کسانو ته په کې کاري زمينه برابره شوې ده.

## د ننگرهار اداري واحدونه:

دا ولايت ۲۲ ولسوالۍ لري، د کليو د پراختيا د رياست د رپوټ له مخې ۱۲۹۱ قريې لري. خو د کرهنې رياست رپوټ وايي چې ۹۹۲ لوي کلي او ۱٦۱ واړه کلي لري. ننگرهار د افغانستان د پينځو لويو ولايتونو څخه شمېرل کېږي. تقريباً ۲ ميلونه وگړي لري. د ولسواليو نومونه يې دا دي: حصارک، شېرزاد، خوگيانۍ (کږه)، پچيراگام، سره رود (سرخرود)، بهسود، چپرهار، رودات، هسکه مېنه، کوټ، بټې کوټ، مهمندره، دور بابا، نازيان، غني خېل، اچين، سپين غر، لعلپوره، گوشته، کامه، کوز کنړ او دره نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسنۍ:

د ډېر پخوا څخه د ننګرهار په ولایت کې رسنیو پراخ فعالیت درلود. دولتي او غیر حکومتي، تصویري، چاپي او غږیزې رسنۍ چې شمېر یې ۳۳ ته رسېږي فعالیت کوي. هغه راډیوګانې چې په ننګرهار کې مستقیمې خپرونې کوي دا دي: ملي راډیو، شرق راډیو، مرام راډیو، صفا راډیو، کلید راډیو، نرګس راډیو، اصلاح راډیو، اباسین راډیو، سپین غر راډیو، نن راډیو، همېشه بهار راډیو، انعکاس راډیو، حقیقت راډیو، د مینې راډیو او وطندار راډیو.

هغه راډیوګانې چې نشرات له مرکز (کابل) څخه اخلي او په ننګرهار کې اورېدل کېږي دا دي: ارمان راډیو، اریانا راډیو، ارکوزیا راډیو، بي بي سي راډیو، ازادي راډیو، امریکا غږ راډیو، اشنا راډیو، مشعل راډیو، ستا راډیو، ګوربت راډیو، نوا راډیو، سلام وطندار راډیو او شمشاد راډیو.

هغه رسنۍ چې خپرونې یې د مرکز څخه خپرېږي: ملي راډیو ټلویزیون، شرق ټلویزیون، د تابان ټلویزیون، د اشنا ټلویزیون، شمشاد ټلویزیون، لمر، طلوع نیوز، اریانا ټلویزیون، تمدن ټلویزیون، خورشید ټلویزیون، ژوندون ټلویزیون، نور ټلویزیون، یو (یک) ټلویزیون.

هغه ورځپاڼې او مجلې چې په ننګرهار کې چاپېږې او پیدا کیږي: ګلاب مجله، ننګرهار مجله، پښتو ورځنۍ خپرونه، شقایق دري، د مثبت بدلون اونیزه، د مینې میاشتنۍ، د جلال اباد مجله، اریانا میاشتنۍ خپرونه، د انار اونیزه، د هیلې مجله، د زیار مجله، د ارزښت مجله او د تلوسې مجله.

## مشهور علمي او فرهنګي شخصیتونه:

د ننګرهار ولایت ملي شخصیتونه، سیاسي مبارزین، لیکوالان، ادیبان، شاعران، هنرمندان په خپله غېږه کې روزلي چې ځینې یې دا دي:

وزیر محمد ګل خان مومند، ایمل خان مومند، صدیق الله رښتین، قیام الدین خادم، موسی شفیق، دوست شینواری، چکنور ملا، ملا نجم الدین اخونزاده، میا فقیر الله جلال ابادی، مراد علي، برهان الدین کوشکی، محمد امین

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوګیانی، عزيز الله مياخېل شېرزاد، عبدالرحمن پژواک، عبدالله بختانی، مجاور احمد زيار، ملنګ جان، امان الله سېلاب ساپی، سعد الدين شپون، قتيل خوګيانی، نصرالله حافظ، اجمل اند، هنر غيرت، نصير شمله دار، مولوي محمد يونس خالص، يوسف مېړنی، استاد محمد اصف صميم، زين الله منلی، نجيب منلی، والي محمد اصف خان شيرزاد، نعيم ننګرهاری، قلندر مومند، محمد نصيب خان احمدي، نور وهاب خپاند، زرين انځور قلندر مومند او نور...**

## کلتور:

**په ننګرهار ولايت کې له ډېر پخوا کلتوري، فرهنګي فعاليتونه شته، د بېلګې په توګه يو څو ليکم.**

**د ننګرهار ادبي بهير، د جلال اباد ادبي خوځښت، د ختيځ ادبي بهير، د ختيځې سيمې د ليکوالانو ژورنالستانو ټولنه، درود ادبي بهير، د ناګار ټولنه، د کتابونو خپرندويه ټولنه، مومند خپروندويه ټولنه، ګودر خپروندويه ټولنه، د مسلم خپرندويه ټولنه، ګندهارا خپرندويه ټولنه، د مازيګر خپرندويه ټولنه، ختيځ خپرندويه ټولنه، همدرد خپرندويه ټولنه، صداقت خپرندويه ټولنه، د ليکوالانو د ختيځ زون د خبر نګارانو ټولنه، هر کال په ننګرهار کې د نارنج ګل عنعنوي مېله او لمانځغونډه سرته رسېږي، دا ډېر تاريخي مخينه لري. په دې لرغونې ميله کې د ټول افغانستان د لرې پرتو سيمو ليکوالان، شاعران او هنرمندان ګډون کوي خپل شعرونه وايي د زړه خبرې کوي د ننګرهار او ټولې سيمې ناخوالې بيانوي.**

## لوبې:

**ننګرهار په لوبو کې پوره شهرت لري، ورزشي کلپونه د نوو ځوانانو د پالنې او روزنې لپاره فعاليت کوي، کرکټ، واليبال، غېږ نيول، د تيږې اچول، خوسکی، فوټبال، باسکټبال، هندبال، پټ پټونی، دې او ډانګ، تيکواندو، د اندامونو ښکلا او نورې لوبې رواج لري. د بدني روزنې مرکز هم د ځوانانو لپاره مختلف ورزشي فعاليتونه سرته رسوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښوونه روزنه:

په نومورړي ولایت کې ۷۷۵۰ زده کونکي په زده کړه بوخت دي، ۸۵۵ موسسې لري او زده کړې په کې سرته رسېږي. له دې زده کونکو په سلو کې ۴۲ فیصده نجونې دي، د ۱۴ زره ښوونکو له خوا زده کړې ورکول کیږي.

په ننګرهار پوهنتون کې ۱۱ زره زده کړیالان د ۵۰۰ استادانو له خوا زده کړې ورکول کېږي، دا پوهنتون ۵۰ کاله وړاندی جوړ شوی ۱۳ مختلف پوهنځي لري، د طب له انستیتیوت څخه علاوه د پوهنتون ۱۳ مختلفې څانګې فعاله دي.

یادونه: البته دا ټول ارقام د بدلون په حال کې وي کومو ساحو کې چې امنیت خراب وي هلته د ښونې روزنې حالت هم بدلون مومي.

## کرنه:

ننګرهار یو له ښېرازه ولایتونو څخه دی چې زیاتره خلک یې په کرنه، مالدارۍ، باغدارۍ، مرغدارۍ بوخت دي. د ننګرهار په ولایت کې دا کرنیز تولیدات شته لکه غنم، جوار، اوربشي، وریجې، کچالو، ګلپي، پالک، پیاز، مئې، مومپلي، رومیان، تور بانجان، لېړو، کدو، ګني او نور هر ډول ترکاري. د دې ولایت خاوره د زیتون نیالګیو لپاره مناسبه هوا لري، د زیتونو لویه کار خانه د ننګرهار پروژې په چوکاټ کې فعالیت کوي. د زیتون غوړي پروسس او تولیدوي، دې کارخانې کې زیات خلک کار کوي چې ۱۱ فیصده یې ښځینه کارګرانې دي.

ننګرهار د کانال له برکته د زیتون، نارنج، مالټو، سنترو، چکوترو، انارو او نورو میوو باغونه شته. د دې ولایت میوې دا دي: جلغوزي، پرګي، انار، انګور، هندوانې، باردنګ، الوبالو، مڼې، شفتالو، ناک، چهارمغز، توتان، خربوزې، زردالو، بهي، الوچې، امروت، کېلې، بادام، لوکاټ، سنځلې او نور.

## داوبو بندونه:

د درونټې برېښناکوټ چی د پخواني شوروي اتحاد لخوا په ۱۳۴۹ل کال کې جوړ او ۱۱ مېګاوټه برېښنا یې تولیدوله اوس ۳ میګاواټه تولیدوي. څوک یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رغونې پسې نه گرځي، د زړې بابا بند په ۱۳۸۵ل کال کې د کنړ په سیند جوړ شوی چې زرگونه جریبه ځمکه خړوبوي، د کامې بند هم د کنړ په سیند جوړ شوی، زیاتې کرنیزې ځمکې خړوبوي، د بهسودو د قاسم اباد بند د کابل په سیند جوړ شوی د بهسودو ځمکې اوبه کوي. نورې کرنیزې ځمکې د سپین غره د وارو له برکته د حصارک غلجایي ولسوالۍ مربوط له تومني، ابزینگاني، جوکان، کودیخلو، مرکیخیلو، وزیرو، پچیراگام، هسکې مېنې، کوټ، اچین، نازیانو له درو اوبه اخلي پرې خړوبېږي. خو دا اوبه موسمي وي یانې کله چې واورې ویلې شي، اوبه زیاتې وي، زیاتره اوبه په دې موسم کې د بزگرانو په کار نه وي، دا اوبه د کنړ او کابل سیند سره گډېږي او له ډیورنډ پولې اوړي.
دلته داسې کوم ملي حکومت نه دی واک ته رسیدلی چې د خپلو ولسونو لپاره د اوبو د مهارولو فکر وکړي. کله چې د مني یا خزان موسم کې اوبه کمې شي، خلک له سختو ستونزو سره مخ وي که حکومتونو د دې اوبو مهارول پیل کړي وی، په لکونو زره جریبه شاړی ځمکې به اوبه شوی وی. د بڼونو او کرنې لپاره به ځمکې رغول شوی وی خو افسوس ...

## تاریخي ځایونه:

د هډې موزیم چې خورا تاریخي ارزښت لري په جنگونو کې زیات تاواني شوی، مهم زیارتونه لکه د میاعلي، ډولکي بابا، خوجه ملکیار، پیرحسین بابا، سراج العمارت، د غازي امان الله خان مزار، اخوند موسی، او د سرخرو ولسوالۍ د زیات پخواني ابدات شته.

## د ننگرهار ولایت د جلال اباد جنگ په ۱۳٦۷ل کال کې:

د ۱۳٦۷ل کال څخه تر ۱۳۷۱ل کال پورې دا هغه وخت وو چې د شوروي اتحاد ځواکونه له افغانستانه وتلي وو، یوازې سلاکاران یې پاتې وو. دا هغه وخت وو چې داکتر نجیب الله د افغانستان جمهور رئیس وو، د حکومت او مخالفینو یا مجاهدینو تر مېنځ جنگونه روان وو. مخکې له دې چې شوروي اتحاد لښکرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له افغانستان څخه ووځي، د افغانستان، پاکستان، امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیرانو په ژینوا کې د ۱۳۶۷ل کال د وري د میاشتې په ۲٤ مه نېټه د ژنیو د تړون لاسلیک کړ، چې ددې تړون پر بنسټ به د پخواني شوروي پوځونو ته بېرته خپل هېواد ته د بشپړ ستنېدو لپاره لاره هواروله.

نجیب الله د دلوې د میاشتې په ۲۷مه نېټه چې د افغانستان څخه د روسي پوځیانو د وتلو د ورځې سره برابره وه د ملي نجات ورځ اعلان کړه. پلان داسې وو چې د ملګرو ملتونو له خوا په افغانستان کې د حکومت او مخالفینو ترمېنځ سوله وشي. بینین سیوان د ملګرو ملتونو استازیتوب کاوه، د ژینوا په لوزنامه کې راغلي وو چې امریکا او شوروي به خپلې مرستې د جګړې دواړو لورو ته



بندوي. دا کار شوروي وکړ، خپل ټول پوځونه یې وایستل. خو امریکا، سعودي عربستان، چین، پاکستان او نورو اړوند هېوادونو دا کار ونه کړ او افغان مخالفینو ته مرستې جاري وساتلې. جنګ دوام درلوده، د هغه وخت حکومت چې ډاکټر نجیب الله یې مشري کوله په خپل واک کې د ۵ سوه زرو شاوخوا ملي اردو، ملي پولیس او امنیت ملي درلود، یوازې جنرال دوستم ۴۰ زره ملیشې درلودې چې د ډاکټر نجیب الله په لاربښونه یې فعالیت کاوه. د نجیب الله د وسلوال ځواک په لاس کې ۱۵٦۸ مختلف ټانکونه، ۸۲۸ زرې پوش، ۴۴۸۰ توپونه، ۱۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



بم غورځونکي الوتکې، ۱۴ تعرضي الوتکې، ترانسفورتي الوتکی، دوه د سکاټ او لونا دستګاوې، او دافع هوا درلودې. همدارنګه یې د ګوند له صفوفو څخه د خودي دفاع اود انقلاب سپاهیان وسلوال کړي وو. هغه مخالفین چې له حکومت سره یو ځای شوي وو د امنیت ملي په چوکاټ کې ملیشي درلودی لکه سیداحمد هراتي جنرال مومند ګوشتوال، جنرال عصمت مسلم اڅکزی د کندهار او نور. (د پاکستان او امریکا) له خوا د یو پلان طرحه تر لاس لاندې ونیول شوه څو په پا کستان کې د امریکا سفیر، د اې اس اې مشر جنرال حمید ګل، د پاکستان مشره بېنظیر بوټو سره سلا شوی وو چې د ګلبدین حکمتیار او عبدالرب رسول سیاف په مشری لس زره مجاهدین منظم او د اې ایس اې مشر حمید ګل په مستقیمه لارښونه په ننګرهار یر غل وکړي.
د دوی پلان داسې وو چې د جلال اباد د نیولو وروسته یو موقت حکومت د ګلبدین حکمتیار په مشری جوړ او بیا کابل ونیسي او عرب دا حکومت ته رسمیت ورکړي. دا چې پاکستان او امریکا هېواد او متحدینو یې تر اوږده سوچ او فکر وروسته د ختیځو سیمو نیول اړین بلل او د استخباراتو سلا ته مثبت ځواب ورکړ. دوی فکر کولو چې د شورویانو د پوځ په نه موجودیت او د مرستو بندول به ددې لامل شي چې حکومت به راوپرځول شي او د دې د خوښې موقت حکومت به په جلال اباد ښار کې جوړ او د نور هېواد نیول به له همدې ستراتېژیکې سیمې نه بریالي کړي، خو دوی تاریخ هېر کړی وو افغانانو تاریخ نه وو هېر کړی.
هغه ځواکونه چې په ننګرهار کې وو لکه ملي اوردو سرتیري، افسران، ملي څارندویان، ملي امنیت او د ګوند اتل غړي او د ګوند پلویان او ټول ولسونو دا پریکړه او هوډ کړی وو چې د شورویانو د وتلو څخه وروسته به دا سیمه چې د هېواد ختیځه دروازه ده د خپلو سرونو په بدل کې له هر ډول غلیم مکار هیګر دښمن څخه ساتو همدا لامل وو چې ددې سیمې ټولو اوسیدونکو نر او ښځو، ځوانانو او بوډا ګانو د خپل وطن او ناموس د ساتلو لپاره ملا وتړله او دا شعار یې د غازي امان الله خان پر قبره تازه کړ چې یا مرګ *یا کفن ننګرهار همیشه بهار په خپل غېږ کې* چنارګل اتل د ننګرهار د څارندوی قومندانی د امنیت امر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعمت الله توده مل دشینوارو د لوی ولسوالی د څارندوی قوماندان، داکتر ګلرحمن د شینوارو د لوی ولسوالی ګوندي منشي، جنرال بارکزی د لو مړي لمبر قولاوردو قوماندان، ډګروال رحمت الله چپرهاری د لومړی لمبر قولی اوردو درستیزوال اتل لعل محمد خوستی د څارندوی د اوفراتیفي کنډک قوماندان، اتل محمداصف کاروان د کوز کنړ د ګوندي منشي، شال محمد د کامې مخکنې ولسوال، قدرت الله د څارندوی جنايي افسر، ارکانحرب محمدسلیم ۱۱ فرقې د توپچي غونډ قوماندان، ډګروال سیداحمدشاه د۱۱ پلی فرقی مرستیال، سیدامیر څارندوی افسر، سید رحمان د لومړې سرحدي لوا درستیزوال، اقاګل د امنیت ملي افسر نعمت الله د تورخم د ګمرک کار کونکې غلام فاروق د لومړې لوا د تبلیغ مسول، په سلګونو عام ولس اوسرتیري په دی وطني جګړه کې شهیدان شول دا یوه بېلګه وه چی وړاندی شوه. دشهیدانو روح دی ښاد وي.

خو په پاېله کې دا پلان نا کام شو.

زه لیکونکې ددی جنګ اصلي شاهدغواړم په پوره بی پری توګه د لوستونکوله پاره یوه رښتنې مالومات د ننګرهار جیوفولیتک اهمیت د جنګ اصلي بڼه او لاملونه تشریح کړم. د دی موخې له پاره د امریکا متحد ایالات، پاکستان او نور متحدین دي پاېلی ته ورسیدل چی شورویان ووتل او حکومت زموږ سره د ۷۰ ساعتونو څخه زیات مقاومت نه شي کولی. کله چی د وخت حکومت له دې پلان څخه خبر شو. لومړی د کنړ ولایت د رانقولو پرېکړه وکړه ځکه چې حکومت په کنړ کې د موجوده پرسونل د اکمالاتو ستونزه نشوه حلولی، نو حکومت پلوي خلک او وسلوال ځواکونه ننګرهار ته راولېږدول.

زما له نظره حکومت په دې هکله لویه اشتباه وکړه، ځکه هغه کنړیان چې د اوږدې مودي لپاره د حکومت پلوي پاتې شوي وو او د خپلو مورچلونو یې د کلونو په اوږدو کې په پوره مېړانه ساتنه کړې وه هغه دشمن ته په لاس ورغلل. د صلفیانو له خوا زیات کنړې ولسونه یانې نر او ښځې شهیدان شول او زیات تلفات یې ولیدل. یوازې د ٦ زرو تنو شاوخوا کسان را کډه شول او په جلال اباد ښار کې د اوسېدلو ځای هم نه درلوده، په زیاتو ستونزو یې ژوند کول پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ. دښمن د وخت نه په ګټه اخېستلو په اسانۍ سره د ننګرهار ولایت د کوز کنړ ولسوالي، تورخم او کمکي خیبر باندې یرغلونه وکړه. په لومړي ځل کله چې تورخم د پاکستاني سرحدي تاڼو په مرسته ونیول شو خو ډېر ژر حکومت بېرته تورخم ونیوه، په دې عملیاتو کې ددفاع وزارت د ستر درستیز مرستیال جنرال غفور فراهي پوره مېړانه وکړه. خو غدار او مکار دښمن د پاکستان د اې ایس اې په ښکاره لارښونه او مرسته تورخم دویم ځل ونیولو او تر کمکي خیبر پورې د دښمن خط را دمخه شو. د تورخم او کنړ د ترلاسه کولو له امله د دښمن مورال لوړ شو. لومړی د کوز کنړ په ولسوالي یرغل وکړ، په کوز کنړ ولسوالي کې د کنړ ولایت څخه رانقل شوی ۱۰ نمبر سرحدي لېوا چې قومندان د لېوا یې جنرال قیام الدین وو.

کله چې په ولسوالۍ برید وشوه څو شپې ورځې د ولسوالۍ ګوندي غړو د محمد اصف کاروان په لارښونه کلکه دفاع وکړه. خو قیام الدین قومندان خپله لېوا د بهسودو ساحې ته په خپل امر را شاته کړې وه. بله ستونزه دا وه چې د نعیم په نوم پخوانی مجاهد چې دولت ته د روغې جوړې د سیاست په رڼا کې تسلیم شوی وو. د ملي امنیت له خوا ورته په کوزکنړ ولسوالی کې مفرزه جوړه کړې وه، ده هم له دښمن سره اړیکې ټینګې کړې وې، د ولسوالۍ پڅارندویانو هم زیات مقاومت ونه کړلی شو، ګوندي منشي محمد اصف کاروان سره له خپلو ملګرو درې ورځې د خپلو ګوندي مدافعینو په مرسته ولسوالي ټینګه وساتله. کله چې د دوی مهمات خلاص شول نو پخواني مجاهد او د دولت اوسني همکار نعیم ته چې په یو جګه تپه کې ځای پر ځای وو، له هغه څخه د مرستې غوښتنه وکړه، خو تسلیم شوي قومندان د مرستې پر ځای په محمد اصف کاروان او اته نورو اتلانو د دهشکې خوله تشه کړه، دوی ۸ واړو د انقلاب او ګوند اتلانو د شهادت جامونه وڅښل. اما هیڅا جنرال قیام الدین ته د نظامي لایحو له مخې سزا ور نه کړه ځکه د هغه پایه خپله داکتر نجیب الله وو.

کله چې ګوندي منشي محمد اصف کاروان شهید شو، نعیم تسلیم شوي کس هم مخالفینو یانې یر غلګرو سره یو ځای شولو، وهابیانو او د پاکستان اې اس اې تالي څټو د کوز کنړ په هغه خلکو چې د حکومت پلوي وو داسې ناروا کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر ته ورسول چې په تاریخ کې نه انګریزي، روسي، ایراني، سکندر، مغولو او نه بل یرغلګر مکار دوښمن کړي وو. په ننګرهار کې دولتي چارواکي په دې ډول وو.

د ولایت والي محمد اعظم شینواري چې مخکینی د مجاهدو سره وو، ډاکتر نجیب الله د ملي روغې جوړې د سیاست په رڼا کې له مخالف لوري مخ واړووو او د حکومت سره یو ځای شول، ډاکتر نجیب الله له خوا د ننګرهار د والي مقام ورکړل شو او یو لوکس کور یې هم ورته په تحفه کې واخېسته، نوي والي او ګوندي حاکمیت دواړه سره جوړ نه را تلل، دا په دې مانا چې ګوندي ولایتي مشران د یوه غیرې ګوندي والي امر نه منلو. د ولایت منشي سرفراز مومند د سیال میرا جان وراره وو، د قول اردو قومندان جنرال غلام حضرت وو. د سرحدي لومړۍ لېوا قومندان نوبهاري فراهي، د څارندوی قومندان رسول جبار خېل، د امنیت دولتي رئیس معلم عمر وه. کله چې د دښمن خط بهسودو ولسوالۍ یانې د ښارشمالي خنډو ته نژدې شولو، ولایتي چارواکو د دښمن د مخنیوي لپاره د قول اردو مرستیال امیر محمد چپرهاری د یو شمېر ځواکونو سره د بهسودو ولسوالۍ ته واستولو، په خواشنۍ چې هغه د دښمن په کمین کې شهید شو.

بله جبهه د کمکي خیبر جګړه وه، په کمکي خیبر یرغل پیل شو، د تورخم کنډک د اقاګل په مشرۍ یوه اونۍ دفاع وکړه خو پاکستان د یرغلګرو سره پراخه مرستې وکړې، د لومړي لمبر سرحدي لېوا قومندان د خپلو موجوده ځواک سره د تورخم ددفاع له پاره ورغلو په کمکي خیبر کې ددشمن سره په جنګ کې ګیر پاته شو تورخم کنډک د پاکستان د ملیشو په مرسته له مینځه ولاړ او ټول پرسونل د دښمن لخوا په پوره وحشیانه توګه شهیدان شول. جنګ دوام درلود، د شلمان د غره په څوکه کې دشمن د پاکستاني ملیشو په ګډون مرچلی درلودی، دهشکی یې چلولی. په دی جګړه کې غلام فاروق عصمتي د لیوا د تبلیغ مسول هم شهید کړی شو.

یادونه: ګلبدین حکمتیار وایي، پر جلال اباد زموږ برید تېروتنه وه داخبره اوس چی ده له مخالفت نه لاس پرسر شو د جمهور رئیس محمد اشرف غني احمدزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولت سره يې سوله وکړه.
د ۲۰۱۷ز کال د اپریل ۳۰ مه: نېټه چې گلبدين حکمتيار له ۴۰ کلني مخالفت نه لاس واخېسته، د محمد اشرف غني احمدزي د حکومت سره يې سوله وکړه. گلبدين حکمتيار لومړی لغمان او بيا په ننگرهار کې را ښکاره شو او د عام ولس په مخکې د ۱۳٦٧ل کال په ننگرهار ولايت باندی کوم جنگ چی د امريکا او پاکستان د اې اس اې لخوا پلان شوی وو او يرغل ناکامه شو، گلبدين حکمتيار اعتراف وکړ. چی دا جنگ يې لويه غلطي وبلله او په کندوز يې د طالبانو حمله هم چې د پاکستان د اې اس اې لخوا پلان شوې وه وغندله ».
اصلي مطلب ته راگرځم په دې وخت کې په مومندرې ولسوالۍ کې حکومت پلوه مليشې او په شينوارو ولسواليو کې د سنت او جهانگير خان په مشرۍ مليشو د والي خلاف له حکومته مخ واړولو، وسلې يې دښمن ته ور تسليم کړې. د دښمن مورال نور هم د لوړېدو په حال کې وو، لامل يې دا وو چی د والي او مليشو پخواني وطني مخالفتونه وو. د جنگ خط د مارکو سيمې ته را مخه شو مارکو داسې سيمه ده چی سهيل ته د شينوارو لوی (ولسوالۍ دور بابا، نازيان، غني خيل او اچين او لويديز ته د ننگرهار د کانال پروژې فارمونه د کار گرانو کورونه، د بټي کوټ ولسوالي، شمال ته د لعلپوري، گوشتي، کامي ولسوالۍ او ختيځ ته د مومندرې ولسوالی پرتې دي. په ولايت کې هره ورځ د مشرتابه له خوا او پراتيفياجلی غونډې سرته رسېدلې. د جنگ حالت او ستونزې څېړل کېدلې، نظامي حالت رپوټ مرکز ته استول کېدلو، کله چی خط مارکو ته را دمخه شو د قول اردو قوماندان جنرال غلام حضرت په غونډه کې وړانديز وکړ او خپله ژوره انديښنه يې وښودله چی زموږ مهمات او خوراکي توکي مخ پر کميدو دي، مرکز بايد ژر مرسته وکړي.
داکتر بجيب الله چی د پوځ اعلی سرقومندان او د جنگ لارښونه په لاس کی اخېستې وه. د دفاع وزيرشاه نواز تڼی وو خو بدبختانه چی عاجله مرسته ونه شوه، د قول اردو قومندان جنرال غلام حضرت وويل که مرکز مرسته نه کوي زه نه غواړم عام ولس او سرتېري شهيدان شي زما استعفا ومنئ. مرکز د ده استفا ومنله، دده پر ځای جنرال بارکزی چی داکتر نجيب الله ته نژدی کس وو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قول اردو قومندان وټاکه. د والي محمد اعظم شینواري پر ځای داکتر ماڼوکی منګل د والي او ګوندي منشي په توګه رواستوه، ځکه دا د جمهور رئیس داکتر نجیب الله له مخلصو او نژدې ملګرو څخه وو. زه لیکونکی چې د سرفراز مومند لومړی مرستیال وم، سرفراز مومند ګوندي منشي او والي محمد اعظم شینواری د کوم دلیل پرته له دندو لیرې شول. ځکه د داکتر نجیب الله په فکر دا نوی ګروپ به جنګ کې بریاوې لاسته راوړي. نوی ګروپ پر دندو وګمارل شو، زما پر ځای عبدالمبین مبین، د څارندوی د قوماندان یانې رسول جبارخېل پر ځای حیدر عمري کندهاری په دندو بوخت شول او ټوله رهبري د ماڼوکي منګل په خوښه تعین شول.**

**مرکز هم د قول اردو قومندان جنرال بارکزي او والي او منشي داکترماڼوکي منګل وړاندیزونه په عاجله توګه سرته رسول، کله چې د شینوارو ملیشو له حکومته مخ واړوو، د شینوارو په لویه ولسوالۍ کې د ګوند منشي داکتر ګل رحمن د ګوند د رهبری غړي او د څارندوی قومندان نعمت الله توده مل وو. په شینوارو کې ۷۱ پیاده نظامي غنډ ځای پر ځای وو، دوی دوه اونۍ دفاع وکړه خو دښمن د اې اس اې په مستقیمه مرسته او لاربښوونه هر ډول مرسته کوله. جنګ زور واخېسته، ۷۱ غنډ شاته تګ وکړ، څارندویانو هم شاتګ وکړ، مارکو ته را شاته شول.**

**په شاه تګ کې داکتر ګل الرحمن ګوندي منشي او نور په لسګونو تنه شهیدان شول. دې شاتګ دښمن ته قوي مورال ور په برخه کړ. د جنګ خط د مارکو نه سره دیوال ته را شاته شو، سور دیوال د ښار نه ۱۳ کیلو متره لیرې وو. ددې خط پاسنی غر او لوړه څوکه د کیهان پوسته وه، د کنړ د سیند په غاړه د ثمر خیلو ساحه کې د ۱۱مې پلې فرقې قرارګاه پرته وه. دښمن د کیهان د پوستې په نیولو زیات تلفات ورکړل خو کله چې دا جګه څوکه دوی ونیوله، ۱۱ مه فرقه او هوایي ډګر هم تر برید لاندی ونیول شو. په دې اړوند د تلک خرس تر نامه لاندی د اې اس اې د یوه کتاب لیکونکي یو څو مهم ټکي د جلال اباد جنګ په هکله راخلم وروسته ددې خونړي جنګ په اړوند خپلی لیکنې ته دوام ور کوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تلک خرس:

**لیکونکي ډګروال محمد یوسف ومارک ادکین، ژباړونکی ډاکتر نثار احمد.**

**چرا چنین یک حمله براه انداخته شد؟**

**چرا غرض خاتمه جنگ به تعقیب قوای شوروی ها کدام ستراتیژي طرح نگردید؟**

**جواب سوالها خیلی مشکل بوده است، برخی شادمانی بی موجب وهمچنان در قلمداد کردن بالا دستي مجاهدین نهفته بود. که همه کس به فتح اسان وقریب الوقوع انها بودند. به یقین کامل باید گفت که رهبران تنظیم ها وقومندانان نسبت اینکی در فکر سقوط دولت کمونیستي در اوسط ۱۹۸۹ بودند و گمان میکرد که شکست انی در عدم موجودیت شوروی ها حتمی بود مرتکب یک اشتباه خطرناک شدند.**

**اگر مجاهدین به خاطر ایجاد یک حکومت و مانور سیاسی در پشاور دانسته میشد حکومت موقت افغان در ماه دیسامبر ۱۹۸۸ تشکیل و در پشاور اقامت گزین شد، ولی این حکومت از طرف جامعه بین المللی به رسمیت شناخته نشد، دولت موقت افغانستان که اساساً هفت حزب انرا تشکیل داده بود از طرف پاکستان و ای اس ای پشتبانی میگردید.**

**این دولت به خاطر ستراتیژی بعد از خروج شوروی ها شهر جلال اباد را منحیث هدف عمده شان انتخاب نمود.**

**ورځ تر بلې د ننګرهار نظامي حالات ترینګلي شو، د ولایت مشرتابه پرېکړه وکړه چې د حصارک غلجایي ولسوالي، د خوګیاڼو، او شیرزادو ولسوالی د سره رود ولسوالۍ ته را نقل کړي. ډاکتر ماڼوکي منګل سره نوې ډله ونه توانېدله چې حالات کنټرول کړي، د دفاع وزارت لومړی مرستیال جنرال محمد نبي عظیمي په مشرۍ د جنګ چارې مخته بیول کېدلې لکه چی په عمل کې وښودل شوه چې دا یو ناکام بې کفایته جنرال وو هېڅ کاري وړتیا نه درلوده، د همغږۍ په رامینځ ته کولو کې پوره نوښت نه درلوده. ددې پر ځای مرکز لوی درستیز جنرال محمد اصف دلاور راواستاوه، هغه دلاور په نوم شهرت درلوده خو کله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دده زړورتیا ولیدل شوه، تر ده کمزورې او ناپوهه جنرال نه وو لیدل شوی ده هم کومه لاسته راوړنه نه درلوده. مخکې د ننګرهار خلکو داسې انګیرنه درلوده چې د لوی درستیز په راتګ به جنګ کې بریا ترلاسه شي دښمن به ماته وخوري او ننګرهار به د سولې او امن پر ځای بدل شي ولې دی جنرال صاحب هم پوره نظامي پوهه نه درلوده.

دوی ونه شوه کولای چې جنګ ښه مدیریت کړي، دوی هېڅ وخت د محاربې لومړۍ کرښې ته د حالت مالوملو او د خپلو ځواکونو د مورال او لارښونې لپاره ندي تللي او نه یې د جنګ د رهبرۍ توان درلود. همدا ستر لامل وو چې دوی مرکز ته وغوښتل شول کله چې جنرال حمید ګل د پاکستان د استخباراتو مشر د مجاهدینو یا د حکومت مخالفینو، چې عبارت وه له عربو، افغانانو، پاکستاني پوځیانو د اسامه بن لادن کسانو د کیهان لوړه څوکه ونیوله او د شپې لخوا د ۱۱ مې فرقې قومندان احسان، د محاکمو رئیس، د امنیت مدیر، څارنوال یانې د فرقې مشران په خپل سر د ثمرخیلو د ساحې نه کوم چې د فرقې قرار ګاه وه را وتښتېدل او ۸۱ پلي غنډ ته چې د فارم هډې خواته پروت ورغلي وو. په ۱۱مې فرقه دښمن درانه عملیات سرته ورسول.

۹۰ تنه د فرقې د مرستیال سید احمد شاه پنجشیری، سلیم د توپچي غنډ قومندان د ټانګ د کنډک قومندان زین الله اوروزګانی، عبدالباري فرقی د سیاسي چارو مرستیال له سخت جنګ په پایله کې ټپیان او یو شمېر د لاس په لاس جنګ کې ونیول شول، ۱۱ مه فرقه چور او بارکونه یې د اور لمبو کې ایره کړل. یو شمېر درنې وسلې د دوی لاسته ولویدلې یو شمېر ټانکونه د ښار په لور په تېښته پیل وکړ، جنرال بارکزی چې د لومړي نمبر قول اردو قومندان وو د سراچې پله ته ورغلی، ده غوښتل چې د ټانکونو او پیاده سربازانو مخه ونیسي او خپل سنګرونه خوشې نه کړي، خو بریالی نه شو.

بارکزی تکړه جنرال او باایمانه قومندان وو. د ۱۱ مې فرقې په روغتون کې ټپیان د ترهګرو له خوا ټول شهیدان کړل شو. دا ۹۰ تنه اسیران د بن لادن د تروریستانو په لاس په ډېر وحشیانه توګه د څلورم فارم چې د بټي کوټ ولسوالۍ سره څېرمه پروت دی، په مرمیو سوري سوري او شهیدان شول. ددوی مړي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننه چا ونه موندل. په دې پېښه کې دښمن زيات بريالی شو، د ۱۱مې پلې فرقې يو شمېر ټانکونه او سربازان د ۱۱ مې فرقې نه د ښار پر لور تګ پيل کړ، د لومړي نمبر قول اردو قومندان جنرال بارکزی ددوی مخته ورغلو چی مخه يې ونيسي ولی بريالی نه شو، د جنرال بارکزي د مرګ داستان خپله د مېوکي منګل له خولې داسی بيان شو، ويلي چې کله جنرال بارکزی د سراچې پله ته رسېږي، ګوري چې يو شمېر ټانکونه او سرتېري د ښار پر خوا راځي، بارکزی کوښښ کوي چی ددی کار مخه ونيسي، ده ته خپل ياور وايي چی دا کار شونی نه دی ما او تا دشمن ژوندي نيسي، جنرال بارکزی خپل ياور ته سپکې سپورې کوي او پر پرې کوي کله چی ياور پوه شو چې ټپي دی نو يې خپله وسله باندې بارکزی وژني، همدا لامل وو چی د جنرال بارکزي د جنازې مراسم په ښکاره تر سره نه شول دوی ويل چی دا د پرسونل موران لپاره دا کار وشو.

چارواکو په سبا يې د کيهان د نيولو او د فرقی دوباره نيولو لپاره ځواک اماده کړ، کيهان لوړه څوکه نيول د څارندوی د منسوبينو دنده شوه، دا لوړه پوسته چې د ښار د امنيت لپاره يې حياتي ارزښت درلوده، د چنارګل د ننګرهار د څارندوی د امنيت د امر په مشری دی سختې دندې ته واستوه، ددوی سره نه توپچي او نه هوايي مرسته وشوه، په پايله کې د وطن ننګيالي ددښمن په مينو او مرميو وويشتل شوه، ټول دا کسان د وطن په دفاع کې شهيدان شول، د کيهان نيولو پلان د څارندوی د قومندان جنرال حيدر عمري له خوا جوړ شوی وو، په دې کسانو کې چنار ګل د څارندوی د قومندانی د امنيت امر، نعمت الله توده مل د شينوارو د امنيې قومندان، زين الله افسر، قدرت الله اميري افسر، لعل محمد خوستی د اوپراتيفي کنډک قومندان د ۸۰ تنو په شمول واستول، چې د کيهان څوکه له دښمن څخه ونيسي، ، دښمن په پاخه سنګر کې ځای نيولی وو، ولې دا بايد وليکم چی د فرقې قومندان احسان او نوره رهبري چې په همدغه شپه تښتيدلی وه، هيچا ورته سزا ور نه کړه.

په جګړه کې د پوځې کسانو د تيښتې سزا اشد مجازات وي، خو دوي ته هيچا څه ونه ويل بلکې احسان د فارياب ولايت والي وټاکل شو. دا ټول کسان د لوړ پوړو چار واکو د حمايې لاندې کسان وو. د څارندوی قومندان حيدر عمري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نوی د داکتر ماڼوکي منګل له خوا راوستل شوی وو، د ۸۱ غونډ د روزنې په ډګر کې د هاوان په ناڅاپي مرمۍ ټپي او بیا مړ شو.
کله چې زه له دندې ګوښه کړی شوم، کور ته ولاړم خو ډېر ژر ماڼو منګل چې والي او منشي او کل اختیاره شخص د شپې له خوا ولایت ته وغوښتلم او له ما یې غوښتنه وکړه، چې حالت د تریګلتپا خواته درومي او دا ستا د خاپوړو سیمه ده مرسته وکړه.
په هر صورت جنګ د یوې ورځې نه بلې ته زور اخېسته، د ختیځ لوري جنګ د هوایي ډګر تر څنډو نژدی شو، د ماڼوکي منګل رول ډېر خشن وو. یوه ورځ له کابل څخه دندی ته راغلی، جنرال اسماعیل وردګ په نابېره توګه په کومه خبره د ماڼوکي منګل له خوا په څپېړه ووهل شو. بله شپه دڅارندویانو یوی قرارګاه ته تللی وو، هلته یې د پولیسو د غونډ قومندان ته پروت او ولاړ امر کړی وو. ده ځکه دا بد کرکټر کاوه چې شا ته بنسټ یې قوي وو، د ډاکتر نجیب الله ملاتړ ورسره وو.
یوه بېلګه یې لیکم سره له دې چې دا په ننګرهار پوری اړه نه لري خو د یوه شخص د کرکټر پورې تړلې ده. کله چې د افغانستان په شمال مزار شریف کې حالات محمد نبي عظمي او جنرال دوستم، مومن او نورو خراب کړل، ډاکتر نجیب الله ماڼوکي منګل سره د یو شمېر جنرالانو لکه جمعه اخک، خان اقا، رسول بې خدا، جنرال معین فقیري د دندو لپاره واستول دا وخت ماڼوکی منګل د دفاع وزارت د سیاسي چارو رئیس وو.
کله چې دوی مزار شریف ته ولاړل ده فکر کولو چې حالات به کنټرول کړي. خو د ده کمزوري برخورد نورو توطیه کونکو ته زمینه مساعده کړه چې د نجیب الله دا نوي ډله جنرالان د دوستم له خوا د جوزجان په ولایت کې بندیان شول. شمال بل ډول بڼه خپله کړه که څوک پوره مالومات غواړي د جنرال محمد نبي عظیمي کتاب (اردو او سیاست نومې کتاب) کې په پوره تفصیل سره د شمال د خرابېدو داستان لیکل شوی خپله محمد نبي عظیمي د ملامتۍ بار پر نورو اچولی او خپل ځان یې لوی اتل ښودلی خو حقیقت بل ډول دی. په هر حال د جلال اباد جنګونو تر درې میاشتو نه زیات وخت واخېسته. یوه ورځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګرهار کې میشتو سکانو د عبادت په ځای د سکر شپته ډوله راکیټ ومښته. زه د پېښې ځای ته ور غلم، ۷۰ تنه مړه او تر ۹۰ کسانو زیات ټپیان وو، د وینو لښتې بهېدل، د انسانانو غوښې په دیوال منښتی او د پاتې نورو د کړیکو او چیغو اوازونه تر اسمانه پورته کېدل. کله چې مونږ دا ټپیان روغتون ته یوړل په روغتون کې د دوا او بستر کولو امکان کم وو، همدا ډول په لسګونو پېښې شوي خو ما یوه بېلګه یاده کړه.

دا بد حالت وو یانې د خوشګنبد په ساحه کې چې د هوایي ډګر اړخ ته پروت کلی دی د دښمن لاس ته ولوېدو، د دې سیمې خلکو هر څه پر ځای پریښي وه، لوځې پښې، سرتور سرې خویندی د ثمر خیلو سیمه پر خوا چې هلته د دښمن اصلي مرکز وو ولاړل.

ویل کېدل چی په دی سېمه کې جنرال حمید ګل د آی ایس آی مشر هم وو. دا خلک ټول له دې سیمې څخه د دوی په موټرو کې د تورخم خوا ته وړل شوي وو. دلته یوه زړه بګنونکې پېښه شوی وه، کله چې دا عام خلک دې سیمې ته رسیدلي وه، هلته هغه مینونه چې د حکومت مخالفینو ځای پر ځای کړي وو د خلکو په یوه لویه ګڼه ګونه چاودیدلي وو. د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو په ګډون په لسګونو کسان شهیدان شول، د ښځو چادرۍ، لوپټې او غوښې په ونو پورې نښتې وې. دلته په ښار کې د ورځی په منځنۍ توګه د ۱۵زرو نه تر شل زرو پورې راکیټونه په ښار راتلل. ددی ړندو راکیټونو زیاتره تلفات عام ولس وو. خوراکې توکې نه پیدا کیدل، خلکو یوازی ګلپیان په اوبو کې خوټه ول، د مړو د خښولو امکانات هم سخت وه، ډېرو خلکو خپل مړي په خپلو کورونو کې خښول.

د کامې، ګوشتې، لعلپورې ولسوالیو ټول خلک د مومندو د غرو له لارې د پېښور خوا ته لاړل، دا ولسوالۍ کاملاً له خلکو خالي شولې. یوه بېلګه، د کنړ شاه ځلمیو ۱۱ تنه د چپرهار په ساحه کې د ملا قبره په نوم ساحه کې په یوه امنیتي پوسته کې ځای پر ځای وه، وحشي دښمن پر دوی د درېیو خواوو برید وکړ دوی ته مرسته نه شوه استول کېدلی، د دوی مرمۍ خلاصې شوې وې، دوی ته امر وشولو چی شاتګ وکړي، دوی وویل مونږ ته د شاتګ او د شاله خوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرمې خو رل جایز نه دي. موږ یو اولیه سازمان یو، ټول به یو ځای مرو همداسې وشول. د دوی له جملی نهه تنه شهیدان شول دوه تنه ټپیان کله چې ټپیان وحشي عربانو ترهګرو ونیول، دوی ټول یی حلال کړي وو. د ښار په ۴ ناحیه کې یوه کورنۍ چی له کنړه ننګرهار ته کډه شوې وه په یو خونه کې ژوند کاوه دی کورنۍ ته یوه افغانه نجلۍ نوې واده شوی وه دا وخت زه کور ته راغلم د کور ټول کسان په بلند داژ کې وو تقریبا د ښار ټول اوسیدونکو د ځانونو د خوندي ساتلو په خاطر بلنداژونه جوړ کړي وه. وخت د ورځې ۱۲ بجې وې چې د راکیټ د چاودنې اواز واورېدل شو، زه له بلنداژه بهر شوم په کوڅه کې منډې رامنډې وی، ما وپوښتل خیرت خو به وي دوی ویل د کوڅی هغه بل لوري ته په یوه کور راکیټ لوېدلی. زه ورغلم یوازی ناوې ژوندی وه د کورنۍ اته تنه ټوټې ټوټې پراته وو ناوی د راکیټ په وخت کې د خونی داخل ته تللی وه نورو په یوه دسترخوان ناست د غرمې ډوډۍ خوړله، ناوی ویل دا څه وشول زه چا ته پاتې شوم. داسې بېلګې زیاتې وې خو ما دلته یوه څو بېلګی ولیکلی. مرکز پرېکړه وکړه چی تازه دمه ځواکونه را واستوي، د ګارد، څارندوی، اوپراتیفي غنډ، د انقلاب سپاهیان، د دفاع وزارت جز وتامونو ته مهمات، خوراکي توکي راواستول شول.

د شپی ناوخته د چورلکې په واسطه د دفاع وزیر جنرال شهنواز تنی د یو شمېر جنرالانو سره په هوایي ډګر را کښته شول. په تر مینل کې د ولایت مشران ناست وو، ده ته یې رپوټ ورکړ، دفاع وزیر والي منګل ته وویل ته او نور ملکي مسؤلین خپلو دولتي دندو ته ستانه شئ. جنګ د نظامیانو کار دی او دا سپارښتنه یې ور ته وکړه، چې ټولی دولتي اداري فعاله وساتي د خلکو ستونزی ور حل کړي.

او خپله د دفاع وزیر شاه نواز تنی ننګرهار ته راغلو او د عملیاتو پلان جوړ او عملي کړ.

ډاکتر ماڼوکی منګل چی والي او منشي وو، کاري دفتر ته په ماشین محاربوي کې راتلو خلک وویریدل چی وضعه کاملاً خرابه ده، چی والي په ماشین محاربوي ټانک کې دفتر ته راځي. خو کله چی ددفاع وزیر جنرال شاهنواز تنی په ننګرهار کې د نظامي او محاربوي فعالیتو مسؤلیت واخېستلو، والي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل شوه چې ټول ملکي ادارو مشران د ولایت د جرگو سالون ته راوبله چې د ننگرهار د جنگي حالت په اړوند ور سره ناسته وکړو. کله چې دې غونډې ته ددفاع وزیر شانواز تني اړین مالومات ورکړه، د هر ارگان دندې مالومې شوې، دولتي ملکي کارمندان به دفتري کارونه پر مخ وړي او نظامیان به جنگ کوي، پریکړه وشوه چې دا جنگ به د یوه منظم پلان له مخې مخته وړو ځکه چې دا جنگ یوازې د مخالفینو سره جنگ نه دی بلکې زموږ جنگ د پاکستان، امریکا او د اې اس اې د استخباراتو سره یو ځواکمن جنگ دی، دا جنگ به هله گټو چې ټول ننگرهاریان د وسلوال پوځ تر شاه ودرېږي او د وسلوال پوځ ملا ور وتړي همداسې وشول، د ۱۲۰۰ تنو گوندیانو په گډون عامو خلکو وسله راپورته کړه، نظامي یونیفرم مې په تن کړ، د پښتونستان واټ نه تر د امان الله خان تر مقبرې مارش وکړ او د دفاع لپاره په منظمو پوستو کې ځای پر ځای شول.

لومړی خط، دویم خط او خپله دولتي ادارې او ساتل یې سره وویشل شول یانې په لومړي خط کې ویش دا ډول وو. د کانو کترغي نه تر هډې زیارت پورې ساحه د ملي گارد، د کیهان پوستې نه تر کامې ولسوالۍ ساحه د ملي اردو، د گمبیري دښته درونټه تر سرخکانو ساحه د ۹ پلي فرقې، د ملاقبر نه تر سره رود او تور غره ساحه د څارندویانو، د بهسودو ولسوالۍ د ملي امنیت د مسولیت ساحه شوه. دویم خط کې د گوندي غونډ چې نوی جوړ شوی وو په ۱۱۳ پوستو کې، د ښار داخل کې د دفاع خودي د مسؤلیت ساحه شوه، ټولو ارگانو ته لازم اکمالات او منظمې دفاعي پوستې جوړې شوې.

په ښار باندې د ۴ خواوو نه د دښمن په زرگونو راکټي حملې کولې، د عام ولس وژنې سرساماوری وی او د جگړې له زوره د یو شمېر خلکو له ښار نه په وتو پیل وکړه. څوک پلازمېنې کابل، څوک لغمان او یا نورو همسایه ولسوالیو ته کډې کولې. ترانزیتي لارې هم وتړل شوې. خوراکي مواد هم نه پیدا کېدل، بازارونه تړل شوي وو او په منځنۍ توگه د ورځی د ۷۰۰ نه تر ۱۰۰۰ پورې مرگ میر کېدو، د روغتونونو ظرفیتونه هم لږ وو او د ټیپانو د دوا او بسترو کموالی احساسېدو.

د ښار د دفاع لپاره د دفاع د وزیر سره راغلی پلاوي کې د دفاع وزارت د سفر بری رئیس په وسیله چې له مرکز نه راغلی وو، د یو منظم پلان له مخې د پوستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړول، د وسلو اماده کول، د مخابرې او اړیکو نیونو چارو تنظیم، د لوجستکي چارو سمون او د مسؤلینو ټاکل، د سوق او اداری د واحد مرکز جوړول او نور.
دا وړاندیزونه د دفاع وزیر شهنواز تڼي لخوا ومنل شول او پلان عملي شو.
دښمن ته درانه تلفات واوښتل هوايي حملې وشوې، د سکات توغندي ثمرخیلو ته نژدې استعمال شول جنګ وګټل شو. دښمن، اې اس اې پاکستاني مشرانو، دا نورو مرسته کونکو او د جنګ طراحانو شر مووندکې ماته وخوړله او د پاکستان په لور وتښتېدل.
په دی هکله غواړم دلته د یوه بهرني لیکونکي یوه لیکنه چی په دري ژبه ده پرې د نظر څرګندونه وکړم. چی دې لیکنه کې یو شمېر مالومات ناسم دي، زه کوښښ کوم رښتني او سم مالومات وړاندې کړم. لیکونکي شاید د بل داسې کس نه مالومات ترلاسه کړي وي چی مالومات يې سم نه وي. زه د دې لیکوالی د مالوماتو د یوې برخې سره موفق یم خو زه د دی مالومات نیمګړي بولم. د لیکونکي نه په بښنې، کله چی د جلال اباد په جنګ کې دښمن مات شولو د ولایت کارونه نورمال شول، بیا نو بله تراژدي رامېنځ ته شوه هغه دا چې دفاع وزیر تڼي، د ګوند او دولت د مشر ډاکتر نجیب ترمېنځ ستونزه را پورته شوه.
دا ستونزه د خاد له خوا د دفاع وزارت ۷۰ تنو لوپوړي جنرالانو او افسرانو نیول وو. داسی مالومېدل چی دې ستونزه کې  شوروي حکومت قوي لاس درلود، که هر څومره د ګوند یو شمېر مشرانو د ډاکتر نجیب الله او شانواز تڼي سره لیدنې وکړې پایله يې نه درلوده.
د شوروي سفیر د ډاکتر نجیب الله کور کې دواړه مخامخ کړه خو سمه خبره دا وه چې شوروي غوښتل دا پروسه نوره هم د خرابۍ په لور مخ ته یوسي. ډاکتر نجیب الله ته به یی ویل، ته خو د وسلوال پوځ اعلی سر قومندان يې، د دفاع وزیر شانواز تڼي ته به يې ویل ته پر حقه یې.
یادونه: یوه شپه زه داکتر ماهوکي منګل د شپې لخوا خپل دفتر ته وروغوښتلم د ده د دفتر اداري رئیس غني د ملا صاحب الحق زوی هم وو. تر ډوډۍ وروسته را ته وویل په کابل کې څه روان دي؟ ما ورته وویل زه پر څه شي خبر نه یم، ده وویل چی ډاکتر نجیب الله دا تڼۍ وزیر کړو سیاسي بیرو ته يې پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړ، اوس کودتا کوي، ته ووایه دا ښه کار دی؟ ما ورته وویل پرون مو د جلال اباد په جنګ کې څومره شهیدان ورکړل په یوه مرچل کې د دښمن پر وړاندی مو جنګ وکړ، ولی اختلاف د خبرو له لارې نه حلېږي؟ دا سمه نه ده چې یو بل د ګډ موخې یاران یو بل ته د ټوپک شپېلی واړوو، خو ده زما له خولې خبری اخستلې، ده خو خادیستي لوبه کوله، ما ورته وویل د کنګرې په رابللو کې به څه بدي وي؟ یا که ګارد د یوې قوماندې یانی د دفاع وزارت لاندې راشي بدي لري؟ او که دا زنداني ملګري خوشې شي ښه به نه وي؟ ده اول وخندل بیا یې په تمسخر امېزه توګه وویل په دې شرایطو کې کنګره جوړېدای شي؟ ما ورته وویل موږ یا زموږ ګوند خو اوس سیاسي واک لري موږ خو اوس پټه مبارزه نه کوو شرایط به څه وخت مساعد شي؟ ده ځواب کې وویل کوچیه دا به څوک وي چې کنګرې ته د نور محمد تره کي او ببرک کارمل یا حفیظ الله امین په اړوند رپوټ ورکړي؟**

**ما ورته وویل د کنګرې موخه همدا وي چې تېر کارونه او نیمګړتیاوې یې وارزول شي. په تګلاره او نورو اسنادو کې بدلون راشي. ده وویل اوس دا کار شونی نه دی، خو په هر صورت بیروي سیاسي یوه مصوبه پاس کړه چې نظر پوښتنه وکړي. چې ایا ګوندي غړي غواړي کنګره را وبلل شي؟ رایې پوښتنه وشوه، تر ٦٠ فیصدو زیاتو ګوندیانو وویل بلې کنګره باید را وبلل شي، خو د کب پر ١٦ د ١٣٦٨ل کال د نجیب الله ۵ ریاست، ملي امنیت، ګارد د کورنیو چارو وزارت پر دفاع وزارت یرغل پیل کړ.**

**د رسول بې خدا ملېشې د ننګرهار نه په عاجله توګه کا بل ته وبلل شوې د دفاع او کورنیو چارو نوي وزیران معرفي شول، یانې محمد اسلم وطنجار د دفاع وزیر او راز محمد پکتین د کورنیو چارو وزیران شوه. په دې برخورد کې زیات ګوندیان زندان ته واچول شول.**

**تنی پاکستان ته ولاړ، یو شمېر وتلي جنرالان د جمهور رئیس ډاکتر نجیب الله له خوا شهیدان شول، تر ۳۵۰۰ تنو ملکي او نظامي کسان زنداني شول. ددې پېښې د شهیدانو یو څو نمونه دا دي: جنرال محمد اصف شور، جنرال کبیر کاروانی، ډګروال سرتېر، ډګروال تور پیروز، ډاکتر محی الدین خان، جنرال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیواني او نور شهیدان شول. تر دی پېښي وروسته د خوست ولایت د دښمن په لاس پریوت، شمال کې، جنرال دوستم او مومین یاغي شول. جنرال محمد نبي عظمي د دفاع وزارت لومړی مرستیال او نورو د جمهور رئیس ډاکتر نجیب الله په نسکورولو کولو کې مهم رول ولوباوه. د انقلاب موخې او ډاکتر نجیب الله د حاکمیت د نسکوریدو نقشه عملي شوه.

زه لیکونکی هم له هیڅ ناخبره کور ناست وم، د ۱۳٦۸ل کال وو، چې د شپې ۱۲ بجې د ملي امنیت کسان زما د نیولو په خاطر راغلل. زه، اقا محمد د خوګیانو د قومي غنډ کومندان، میرحمزه د شینوارو د قومي غنډ کومندان، رسول پاچا د لومړی لمبر قول اردو درستیزوال، محمد هاشم د وسلوال پوځ څارنوال چې ننګرهارته راغلی وو، غلام حسن د ۳۷ دیسانت لېوا سیاسي امر، د ۳۷ دسیانت لېوا قومندان یې هم د زندان تورو تنبو ته ور ټېل وهل شول، دا خورا لنډه لیکنه د جلال اباد د جګړې اړوند وه.

د جلال اباد د جنګ په اړوند یوه لیکنه چی په دري ژبه ده او ځینې مالومات یې ناسم دي دا لیکنه په لاندې توګه ده:

## ډاکتر نسرین کتونا:



(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیکنه مې کټ مټ را اخېستې ده، څکه چې دې د کوم بل چا نه راپور تر لاسه کړی وو، یو څه مالومات یې په واقعیتونو ولاړ او زیاتره برخه یې بیا نیمګړي او ناسمه ده.

یاد داشت نویسنده:
بخش اول مقاله «جنگ جلال آباد» بمثابه یکی از کم نظیر ترین حادثه تاریخی افغانستان دوست داشتنی که منتشر گردید طیف گسترده ی واکنش های خوانندگان را بر انگیخت، شمار زیادی طی پیام ها تلفون ها و کومنت های فیسبوکی شان از محتوای مقاله ستایش بعمل آورده تهنیت گفتند، همزمان تنی چند شاید هم، هواخواهان القاعده و سلفی ها طی کومنت های فیسبوکی شان، بجای، نگاشتن نقد ها، نظر ها، نگاهها و پیشنهادات، با رکاکت، واهانت و مغایر سجایای انسانی به حریم شخصی من، که در واقع مغایر قوانین بین المللی و قوانین اتحادیه اروپاست تاخته اند، عجالتا با رعایت فرهنگ انسانی و احترامی که به مردم کشور محبوب افغانستان دارم از معرفی آنها صرف نظر نموده، اما حق داد خواهی و استیناف طلبی را علیه آنها برای خود محفوظ نگهمیدارم. با حرمت گسترده، ۲۳ ماه جون ۲۰۱۴ - بوداپست.

موقعیت قطعات در اراضی محاربه در جلال آباد:
قرارگاه قولی اردوی نمبر ۱ در قریهٔ ثمرخیل، و قطعات آن در استقامت شرق شهر پل سراچه، خوش گنبد و سرمه خانه جابجا گردیده بود، قطعات اپراتیفی در میدان هوائی داخل موضع دفاعی بودند، جزوتام های فرقه ۹ از ساحهٔ غرب شهر به سمت درونته و ساحهٔ پوهنتون ننگرهار در مواضع خود به احضارات دفاعی پرداخته بودند. قوت های خارندوی (پلیس) در منطقهٔ سرخرود، و قطعات امنیت دولتی، بین سرخرود و کان کترغی، احراز موقعیت نموده بودند، ساحهٔ مسئولیت فرقه ۱۱ از کان کترغی تا شمال کامه وسعت داشت، قطعات گارد جمهوری در منطقه سرخ دیوار، جابجا گردیده بود. دیپو های سلاح و مهمات در داخل شهر، تحت محافظت قرار داده شده بود. پلیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



و سپاهیان وطن حفاظت و مدافعهٔ شهروندان و تاسیسات شهر را در دست گرفته بودند.

موقعیت قطعات و جزوتامهای تدافعی در حملهٔ اول

۲ / ب - حمله اول:

محاصرهٔ شهر تاریخ پنج مارچ آغاز شد و بیش از چهار ماه تداوم حاصل کرد. حمله بوسیله جنرال حمید گل رئیس پرقدرت " آی اس آی " برنامه ریزی شده بود که بوسیلهٔ سران تنظیم های جهادگر بویژه اعضای حکومت عبوری عمدتاً گلب الدین حکمتیار، رسول سیاف، برهان الدین ربانی، مولوی خالص تطبیق میگردید.

قوت های مهاجم حدود ۱۵ هزار نفر تخمین زده میشد. در تهاجم که تاریخ پنجم مارچ براه انداخته شد، پیشاپیش آن جهادگران سازمان بدنام القاعده به رهبری بن لادن، قطعات منظم پاکستان و واحد های نظامی از صوبه سرحدّ، افسران و مشاورین "آی اس آی" افراد مسلح تنظیم های جهادی هفت گانه مقیم پشاور، سهم فعال گرفته بودند.

احمد شاه مسعود فرمانده جهادی چریک های درهٔ پنجشیر، علی الرغم آنکه از نمایندهٔ سیا، جهت مسدود کردن شاهراه سالنگ، که شاه رگ اکمالاتی رژیم کابل محسوب می شد، مبلغ پنج صد هزار دلار اخذ نموده بود، اما نتوانست علی الرغم چند حمله شاهراه کابل، شمال را که از سوی حکومت داکتر نجیب الله بشدت محافظت می شد قطع نماید، مسعود اصلاً تمایل چندانی به پیروزی مجاهدین در جلال آباد ابراز نمیکرد، زیرا در فردای پیروزی، قدرت در جلال آباد در دستان نیرومند حریفش حزب اسلامی متمرکز میگردید از یکسو به او سهمی دلخواهش میسر نمیگردید، و از جانب دیگر، دوست دیرینش، اتحاد شوروی را که بحکومت کابل مواد لوژستیکی کمک میکرد، آزرده خاطر میکرد.

بتاریخ ۵ مارچ تعرض از شرق به امتداد دریای کابل بالای شاهراه یک جبهه وسیع گشوده شد. مهاجمین به حمایت آتش های توپچی اردوی پاکستان بحرکت آمدند، سمت اصلی تعرض از تورخم به استقامت فارم غازی آباد آغاز شده بود و مجاهدین سه نقطه حاکم را در کوه سپین غر که بنام ارتفاعات قبله

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد میشد، در عین زمان میدان هوایی در جنوب نیز مورد حمله قرار گرفته و با حمله از شمال به استقامت دریا و دشت گمبیری کوردینه شده بود.
اجیران عربی بن لادن هم به پیشروی آغاز نموده بودند. آنها مصمم ترین و وحشی ترین گروهها بودند که تا آخرین قطرۀ خون می جنگیدند. اسامه بن لادن قهار ترین چهرۀ جهادی (تروریستی) آنها را رهبری میکرد.
مجاهدین افغان و قطعات اردو از صوبه سرحدّ عساکر قوای سرحدّی پاکستان تحت رهبری جنرال حمید گل رئیس "آی اس آی" تحت حمایت آتش های نیرومند توپچی به تعقیب آنها حرکت مینمودند. مجاهدین را رحیم وردک مسئول نظامی محاذ ملی پیر سید احمد گیلانی که فاقد دانش ها و تجربه و مهارت سوق ارادۀ قوت ها در عملیات های محاربوی بود رهبری میکرد.
( او بعداً در حکومت کرزی بحیث وزیر دفاع کار میکرد که در ۱۵اکتوبر ۲۰۱۳ خود را بحیث کاندید رئیس جمهور اعلان نمود و به تاریخ ١٦ مارچ ۲۰۱۴ از کاندیدا انصراف کرد ) قوماندان دیگر نیروهای مجاهدین نصیر خان نام داشت. که تهاجم را رهبری میکرد.
طبق معلومات ادارۀ امنیت دولتی رژیم کابل به تعداد یازده هزار مجاهدین، ۲۵۰۰ پاکستانی و ۱۳۰۰نفر عرب در حملۀ مذکور سهم گرفته بودند آنها به طور تشدّیدی تحت حمایت آتش های ثقیل قطعات منظم اردوی پاکستان قرار داشتند و بعداً با تصرف یک دستگاه پرتاب BM-۲۱ موجب تخریبات بزرگی شدند صدها راکت در هر ثانیه بالای میدان هوایی و شهر پرتاب می نمودند.
هدف نخستین از استقامت شرق اشغال پایگاه سرخ دیوار بود. محل مذکور هنگامیکه فرقه ۱۱ مورد حمله قرار گرفت به تصرف آنها درآمد. مهاجمین بارک ها و سربازان دولتی را که تسلیم شده بودند و قرارگاه و قطعه مربوط را کاملاً غارت نمودند، سرخ دیوار برای تقریباً یک هفته به دست مهاجمین بود، جنرال گل حبیب معاون قوماندان فرقه ۱۱ به قرار گاه مرکزی در شهر عقب نشینی کرد.
مهاجمین ۴ عرادّه تانک T-۵۲ و T-۵۵ و یک دستگاه راکت انداز BM-۲۱ بدست آوردند، دو عرادّه تانک به آنطرف خط دیورند انتقال یافت و ۲ عرادّه دیگر آن بعد از سه روز در جریان تعرض متقابل نیرو های دولتی تخریب

(c) ketabton.com: The Digital Library



گردید. جنرال بارکزی، قوماندان قول اردو شخصاً با شهامت کم نظیری برای کمک به قرارگاه اشغال شده به سرخ دیوار شتافت، لاکن در منطقه پل سراچه به وسیله آتش دشمن جانش را از دست داد. جنرال عمری قوماندان نیرو های پلیس هم دلاورانه از پا در آمد. دشمن جانش را از دست داد. جنرال عمری قوماندان نیرو های پولیس هم دلاورانه از پا در آمد.

یکی از تانک های که تنظیمهای جهادگر در جریان تعرض به غنیمت گرفته بودند در روز دوم حمله، مهاجمین قریه ثمرخیل که در حاشیهٔ میدان هوایی موقعیت داشت و بعد از تقرب مهاجمین، نیرو های دولتی آنجا را تخلیه نموده بودند، به اشغال در آوردند. سربازان دولتی که تسلیم شده بود بوسیله جهاد گرایان (تروریستان) افغانی متعلق به تنظیم های هفت گانه پشاور بطور وحشیانه شکنجه و بقتل رسانیده شدند. آنها در خط دفاعی به اشتباه نیرو های پلیس را ضعیف ترین حلقه میدانستند، بنا برآن تصمیم گرفته بودند تا توجه شان را به نیرو های (اردو) معطوف نموده با دور زدن از استقامت جنوب از کنار قوای پلیس (خارندوی) عبور نموده به سمت درونته خود را برسانند. آنها پلان داشتند که حلقهٔ محاصرهٔ شان را بین درونته و دشت گمبیری در شمال غرب وصل کنند. نیرو های پاکستانی قرارگاه شان را در فارم غازی آباد تاسیس نمودند. (مجاهدین در باغ مبله جمع شدند). ارتفاعات ثمرخیل پایگاه اجیران عرب مربوط بن لادن و امتداد آن تا منطقهٔ تورخم و آنسوی مرز بود.

در روز سوم آصف دلاور قوماندان جبهه نیرو هایش را از جمله فرقه ۹ کنر را جمع نمود. ملیشای ازبک تحت رهبری رسول قهرمان دو نقطه ی مرتفع را در «قبله» دوباره بدست آوردند تصرف مجدد سرخ دیوار توسط گارد جمهوری به اصطلاح سهم شیر بود. نقاط جنوبی شهر تا هنوز در دست شورشیان باقیمانده بود.

C 2: تعرض متقابل:

افسران متعهد قول اردوی نمبر یک افغان حاضر نبودند به هیچ قیمت شهر را تسلیم بدهند. آنها قطعات و جزوتام های باقیمانده شان را جمع نموده برای پیشروی یک تعرض متقابل را سازمان داده و مهاجمین را در چنبر یک حلقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درآوردند.

بتاریخ ۸ مارچ با براه افتیدن تعرض متقابل مهاجمین مجبور شدند تا میدان هوایی را از دست بدهند. نیرو های دولتی دارای یک آتش قوی مانند لونا، BM 21, BM-۱٤ بودند. راکت های لونا که نزدیک هده بوسیله پرسنل افغان جابجا شده بود، (و دوباره به سمت غرب در منطقه سروبی عقب کشیده شده بود) و مدافعین جلال آباد را از آنجا در برابر مهاجمین جهاد گرایان دفاع مینمودند.

همچنان مدافعین توپچی نیرو مندی را در اختیار داشتند که با آتش لونا هماهنگ شده و به مهاجمین تلفات سنگینی را وارد آوردند.

سه کندک اسکاد Scud در نزدیک کابل جابجا شده بود. تمام کندک ها ذخیره های لازم خود را بدست داشتند هر سه قطعه با واحد های میترولوژی، تانکر های روغنیات و وسایل قوماندہ مجهز بودند. تمام آنها در منطقهٔ دارالامان در جنوب کابل جابجا شده بودند.

علی الرغم اتهامات رسانه های غرب که راکت های اسکاد بوسیله شوروی ها استعمال می شد تمام آنها توسط افغان ها مورد استفاده قرار میگرفت.

حکومت افغانستان دستگاه های مذکور را در آستانهٔ خروج نیرو های شوروی در نوامبر ۱۹۸۸ بدست آورده بود از راکت های اسکاد در دفاع از جلال آباد استفاده گسترده صورت گرفته بود و مجاهدین نتوانستند از تخریبات مرگبار آن خود را در امان نگهدارند و مورال جنگی شان را از دست داده بودند. ماشیندار های اورلیکن (Oerliken) ساخت سویس کدام تاثیری به نفع مجاهدین وارد کرده نتوانست.

نیرو های دولتی از حمایت قوی قوای هوایی بهره مند بودند. قوای هوائی افغانستان بر مواضع شورشیان توسط جنگنده های میگ ۲۱، و سو su-۷ و سو su- ۲۲، حمله می نمودند، هلیکوپترهای MI- 34، MI-8 , MI ۱۷ که از میدان های هوایی بگرام و خواجه رواش کابل پرواز مینمودند. طیارات ترانسپورتی AN-۱۲ طوری عیار گردیده بود تا بمب ها را در مراکز تجمع جهاد گران پرتاپ نمایند و تلفات و ضایعات سنگینی را بر آنها تحمیل نمایند. مهاجمین بم های

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلاستری را وسیعاً بکار میبردند. طیارات دولتی در ارتفاع بلند دور از تیر رس راکت های استینگر مجاهدین پرواز مینمودند.
حلقهٔ محاصرهٔ مجاهدین در سرخ رود شکستانده شد و به عقب نشینی پرداختند، تانک های را که مجاهدین در ۴ مارچ از قوای دولتی بدست آورده بودند به سمت تپه خر کاران (Kharkaran) فرار نموده و در اواخر جولای از منطقه کاملاً رانده شدند. طوریکه در بالا اشاره شد دو تانک را مجاهدین به آنطرف خط دیورند انتقال داده بودند. و دو دیگر آن توسط نیرو های دولتی تخریب گردید.
بتاریخ ۱۱ مارچ اجیران عربی بن لادن و قطعات منظم اردوی پاکستان در منطقهٔ غازی آباد تجمع نمودند لیکن مجاهدین بی روحیه و مایوس با آنها نپیوستند. نیرو های دولتی افغان توانستند آنها را قبل از براه اندازی یک تعرض جدید پراکنده و متفرّق نمایند.

2/d / دفاع شاهراه:

جنگ ها عمدتاً بالای دفاع استراتژیک از شاهراه ها تمرکز یافته بود. نیرو های مسعود و جنگ جویان شورای نظار شاهراه سالنگ را که شمال را به جنوب کشور وصل میکرد علی الرغم راه اندازی حملات متعدد نتوانسته بودند مسدود نمایند، شوروی ها مسعود را نه میگذاشتند تا در محاصره جلال آباد در انجام کدام حمله سهم بگیرد. مسعود در اوایل سال ۱۹۸۰ توافقاتی را با شوروی انجام داده بود و از همین رو عنان مسعود و گروهش در دست اداره امنیتی شوروی قرار داشت. استینینسن (Stenensen) نوشته است که مسعود خطوط اکمالاتی دولتی را در مناطق تحت نفوذ خود بخاطر رفع محاصرهٔ جلال آباد نسبت سرازیر شدن بیشترین کمک ها بوسیله ISI پاکستان به گلبدین حکمتیار انتقال میافت، باز گذاشته بود، جنرال سید قدوس سید، در کتاب «جنگ های کابل» نوشته است که پیروزی مجاهدین در جلال آباد در حقیقت پیروزی حزب اسلامی حکمتیار رقیب مسعود را به نمایش میگذاشت، شماری از محققین، بنابر آنکه مسعود نتوانست شاهراه سالنگ را مسدود نماید این عمل او را خیانت به جهاد تلقی

(c) ketabton.com: The Digital Library



میکردند، تمام منابع موافقند که اگر شاهراه مسدود می بود دفاع جلال آباد خیلی دشوار می بود، برداشت یا ارزیابی نیرو های دولتی درست بود:

در صورتیکه شاهراه باز باشد، مجاهدین به اهداف شان یعنی اشغال جلال آباد نایل شده نخواهند توانست، مجاهدین ماین های در شاهراه کابل- جلال آباد گذاشته و میتوانستند خساراتی را وارد نماید ولی نه میتوانستند یک تعرض هماهنگ را برای تصرف آن براه اندازند. در ۲۵ مارچ یک قطار اکمالاتی ۱۰۰ عرادّه ای به شهر جلال آباد مواصلت نمود و به تعقیب آن قطار های دیگر که بزرگترین آن در ۱۴ اپریل یک قطار ۲۷۰ واسطه که حامل مواد لوژستیکی سلاح، مهمات بود شاهراه را عبور نمود. عبور قطار های مذکور صرفاً اهمیت لوژستیکی نداشت بلکه مورال جنگی مدافعین جلال آباد را قویاً ارتقا میداد، اگر مهاجمین موفق به تصرف شاهراه میشدند، دفاع جلال آباد امکان پذیر نه میبود. "آی اس آی" از این واقعیت آگاه بود و مهاجمین را کمک مینمود تا پلهای را در مسیر شاهراه منفجر نمایند ولی شاهراه بوسیله زنجیری از پوسته های امنیتی و مدافعین با انگیزه های که جهاد را (تروریسم) و خطر جهانی تلقی مینمودند کنترول و دفاع می شد که امکان تصرف آن در جنگ میسر نبود و دو فرقه و قطعات مختلف برای دفاع شاهراه می جنگیدند.

محاصره منجمد شده یا جبهه بی حرکت:

مدت بعد مجاهدین یک تعرض جدید را از شمال و جنوب شهر جلال آباد براه انداختند، ولی به مقاومت شدید نیرو های دولتی که از حمایت قوی آتش ها توپچی و هوایی بهره مند بودند مواجه گردیدند. در جنگ برای کنترول میدان هوایی جلال آباد مهاجمین در چندین حمله ی شان بخاطر نداشتن تاکتیک و تشریک مساعی ناکام ماندند. هجوم شان بی نتیجه ماند زیرا شورشیان نسبت عدم تطابق تاکتیک های شان با ایجابات یک جنگ متعارف ناتوان بودند. نبرد شان تبدیل به جنگ غیر فعال و محاصره منجمد گردیده بود.

مدافعین جلال آباد تهاجم مجاهدین را با استفاده از خندق ها، بلنداژها، و موانع انجنیری متوقف ساختند. نیروهای دولتی پس از ماه اپریل ابتکار عمل (انسیاتیف) را بدست گرفتند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرانجام نیرو های دولتی مهاجمین را مجبور به عقب نشینی نمودند. آنها مهمات و ذخایر احتیاط خود را در ماه می از دست دادند و تلفات سنگینی را در هجوم های شان بر ضد مواضع مستحکم دفاعی نیروهای دولتی متحمل شدند. راکت های استینگر آنها در شروع هجوم شان پایان یافت. آنها که راکت های استینگر را در ۱۹۸٦ از امریکا به دست آورده بودند بخاطر ترس از افتیدند آنها به گروپ های ایرانی در سال ۱۹۸۸ توزیع آن متوقف گردید ولی ارسال سایر تسلیحات بطور لاینقطع ادامه داشت.**

**در استقامت پوهنتون ننگرهار در درونته ساحۀ مذکور با موانع و استحکامات نیرو های دولتی مواضع شان را به شکل مطلوب در برابر مجاهدین دفاع مینمودند. در اخیر ماه می میدان هوایی با ظرفیت کامل به دست نیرو های دولتی قرار گرفته بود و اکمالات لوژستیکی توسط هلیکوپتر ها برای شهریان جلال آباد از آنجا تامین میگردید، در ماه می مهاجمین از اطراف و نواحی شهر کاملاً عقب زده شدند، در آغاز ماه جولای تمام پوسته های امنیتی در کمربند خارجی دفاع شهر بوسیله نیرو های دولتی مجدّداً به تصرف درآمد در جریان تعرض متقابل که در ۸ مارچ براه افتید در دهم مارچ نیرو های دولتی سرخ دیوار را دوباره متصرّف شدند در ۷ جولای اجیران عرب بن لادن و قطعات سرحدّی پاکستان یک تعرض جدید را در حالیکه گروه های پراکنده مجاهدین افغان با آنها ملحق شده بودند براه انداختند آنها توانستند به استقامت سرخرود در جنوب پیشروی کنند از شمال به استقامت دشت گمبیری بالای قطعات سرحدّی حمله نمودند آنها قصد داشتند که در چهار استقامت نیرو های دفاعی شهر را مصروف نمایند ولی در هیچ استقامت قادر به شکستاندن خط دفاعی نشدند و در نتیجۀ مقاومت شدید مدافعین به شکست روبرو شدند، جزو تام های کشف نیرو های دولتی، تجمع جنگ جویان عرب و قوت های سرحدّی پاکستان را در ساحۀ جنوب سرخ دیوار، فارم غازی آباد، عقب کوه ثمر خیل و ارتفاع " کیهان " که تا آنوقت در دست مهاجمین بود، کشف نمودند، منطقۀ مذکور در نتیجۀ یک بمبارد شبانه قبل از اینکه دست به حمله بزنند تحت ضربه قرار گرفت و پراکنده شدند، با وجود که آنها تلاش کردند تا حملۀ نیرو های**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتی را به حمایت توپچی پاکستان دفع نمایند ولی موفق نشدند تا اینکه در اخیر جولای نیرو های دولتی مهاجمین را بطور کامل عقب زدند و تورخم به قبرستان جنگ جویان عرب های القاعده تبدیل گردید.

نیرو های دولتی سرخ دیوار را به تاریخ ۱۰ مارچ دوباره متصرّف شدند بقول مارشال الک مهاجمین ده هزار جهاد گر گشته در حدود ۳۰۰۰ نفر زخمی دادند، لیکن تلفات غیر نظامیان قرار اظهار «کاتمن روی» بیشتر بود که بطور تخمینی از دوازده تا پانزده هزار نفر را احتوا میکرد. در سطح یک جنگ متصادف نیرو های دولتی در حدود ۳ هزار کشته داده بودند.

ترکیب مدافعین جلال آباد:

از آلبوم مولف این فوتو به وسیلهٔ مولف در جلال آباد در می ۱۹۸۹ در شهر در یکی از قرار گاه ها گرفته شده است در آن یک گروپ از قطعات خاص خاد دیده میشود گروه با ریش ها و موهای دراز (که در آنزمان در بین پرسنل قوای مسلح افغان اجازه نبود) نیز قرار دارند که مربوط واحد های مخصوص اوپراتیفی امنیت دولتی بودند.

دیپلوماسی جنگ جلال آباد:

در اسلام آباد، ایالت متحدهٔ امریکا و مقامات پاکستانی پلانی را طرح کردند که تنظیم های مختلف مجاهدین حکومت انتقالی افغانستان را تشکیل میدادند. حکومت انتقالی (AIG) باید در یکی از شهر های که مجاهدین قادر به تصرف آن میشدند تاسیس میافت. واشنگتن حکومت انتقالی افغانستان را به حیث حکومت مشروع افغانستان به رسمیت می شناخت و به تمویل و تسلیح آن اقدام مینمود. "سی آی ای" و "آی اس آی"، جلا آباد را بخاطر موقعیت استراتژیک آن بعنوان پایتخت حکومت جدید انتقالی افغانستان که به پایگاه مجاهدین در پشاور، نزدیک بود انتخاب نموده بودند.

حکومت انتقالی افغان نخستین جلسهٔ کابینه خود را در کمپ تربیوی گوریلای شنای (shenai) بتاریخ ۱۰ مارچ چند کیلومتر داخل قلمرو افغانستان، قبل از دعوت ژورنالیستان، دایر نمود. در این جلسه از جملهٔ ۱۴ وزیر ۱۰ وزیر آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اشتراک ورزیده بودند. رئیس حکومت موقت صبغت الله مجددی به خبرنگاران گفت که: (جلسهٔ بعدی در یک نقطهٔ دیگر افغانستان دایر خواهد شد. ما بسوی افغانستان پیشروی میکنیم.)**

**در جریان درگیری جنگ در جلال آباد رئیس جمهوری نجیب الله پیامی را به میخائیل گورباچف و جورج بوش رئیس جمهور امریکا ارسال نمود و در آن ابتکارات مشترک شوروی - امریکا برای جلوگیری از تشدید تصادم را خواستار شد.**

**رئیس جمهور نجیب الله در یک یادداشت جداگانه ملل متحد را برای اعزام گروه مخصوص ناظرین در نقاط مختلف در امتداد سرحدّ با پاکستان، فراخواند و در پیام دیگر عنوانی پریز دوکویار سرمنشی ملل متحد، متذکر شده بود که هدف اساسی حمله شورشیان در جلال آباد ایجاد یک مرکز برای به اصطلاح حکومت موقت شان میباشد. سی بال طیّاره در بهاول پور پاکستان جمع شده بود تا اعضای حکومت عبوری و اکمالات را بداخل افغانستان انتقال بدهند. ملیشه های پاکستانی و مشاورین نظامی نقش مستقیم در جنگ بازی مینمودند. هلیکوپتر های نظامی پاکستانی در غازی آباد شمال شهر جلال آباد، مهمات و راکت ها و مشاورین را پیاده نموده بودند.**

**۳- درس های محاصره:**

**از نظر تاکتیکی کمبود تشریک مساعی و شیوه های کار متفاوت بین نیرو ها و سازمان های اشتراک کننده در جریان حمله از یکطرف و از سوی دیگر عدم بکاربرد و بیگانگی با تاکتیک های یک جنگ متعارف عملاً به مشاهده میرسید. قوت های بنام جهادی به گروه های مختلف تقسیم شده بودند و برای یک مساعی مشترک در فعالیت های شان آمادگی و گنجایش نداشتند. افسران "آی اس آی" هم نتوانسته بودند آنها را بطور موثر متشکل بسازند. در اواسط ماه می هیچ پیشرفتی علیه مواضع دفاعی دولت در جلال آباد نداشتند و با کمبود مهمات روبرو بودند. گروه های مختلف مجاهدین جنگ علیه یکدیگر را شروع نمودند.**

**جنگ جویان محاذ ملی گیلانی چندین باز با افراد حزب اسلامی حکمتیار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصادم نموده بودند.
تمام هفت تنظیم مجاهدین پشاور، عربهای ابن لادن، حد اقل هشت گروپ از قوای سرحدّی پاکستان در حمله بر جلال آباد حصه گرفته بودند ولی فاقد یک مرکز قوماندە ی واحد بودند و در میان فرماندهان قطعات مختلف شان هم یک هماهنگی وجود نداشت، جنگ جویان یک گروپ از اوامر قوماندان گروپ دیگر اطاعت نمیکرد. خلاصه تاکتیک ها و استراتیژی های شان در هیچ مرحله هماهنگی نداشت. بین قوماندان ها و رهبران سیاسی در پشاور دوام دار برخورد ها و اصطکاک ها صورت میگرفت.
بر اساس نوشته های دگروال یوسف، آمر عمومی آی اس آی، تمام غلطی ها و اشتباهات در پلان گذاری و تطبیق پلان در اکادمی های نظامی طرح گردیده بود آنها چنین فکر کرده بودند که هیچ جنگ بی نتیجه بوده نمیتواند.
یک غلطی یا یک نقص بزرگ در این بود که آی اس آی و رهبران تنظیم ها در پشاور فکر میکردند که میتوانند از یک جنگ گوریلای بیک جنگ تعارفی در تمام مقیاس آن عبور نمایند و در برابر قطعات کاملاً مسلح، مجرب و میهن دوست که دارای یک سوق و اداره ی نیرومند و پتانسیل قوی اتش های ثقیل زمینی و قوای هوایی بودند، یک تعرض وسیع را بوسیله افراد ملیشایی انجام دهند. قوت های گوریلایی هرگز نمیتوانند به یکبارگی در نقش یک اردوی متعارف ظاهر شوند.
انتخاب موقعیت متعرض هم موفقیت آمیز نبود، اشغال بالقوه بخشی از جلال آباد نه موجب سقوط رژیم در کابل می شد و نه آنرا درمانده می ساخت.
تعرض از نظر لوژستیکی هم درست تنظیم نشده بود. تعرض بدون تامین ریزرف ها یا (احتیاط) براه انداخته شد. بعد از انفجار کمپ اجری در پاکستان نزدیک راولپندی در بهار ۱۹۸۸، ذخایر جدید بزودی اکمال نگردید و محموله های که باید از امریکا می رسید از لحاظ زمانی ناوقت رسید و به همین قسم موقعیت مکانی آن نیز صحیح به سنجش گرفته نشده بود. مهاجمین نتوانستند خطوط اکمالاتی مدافعین جلال آباد را قطع نمایند. آنها با راکت های استینگر مجهز بودند ولی نتوانستند در منطقه خواجه رواش و یا بگرام نزدیک پایتخت طیارات

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکمالاتی را هدف بگیرند. مجاهدین در سال۱۹۸٦ به تعداد ۹۰۰ تا ۱۰۰۰ استینگر را بدست آورده بودند اما بعد از آن بخاطر ترس از بدست افتیدن آن بدست گروه های طرفداران ایران از جانب پنتاگون متوقف گردید و مهمات استینگر های داده شد به اتمام رسید.

با در نظر داشت درسهای استراتژیک، جنگ جلال آباد که یک نقش قاطع در تاریخ افغانستان داشت. اردوی افغانستان مسلکی بودن و تعهد خود را برای نبرد در برابر جهاد گران بدون کمک شوروی مؤفقانه به اثبات رسانید، این پیروزی اعتماد به نقس مردم، حکومت و قوای مسلح را تقویت بخشید. مجاهدین از لحاظ نظامی به شدت ضعیف شدند و اعتبار خود را از دست دادند. چندین قوماندان حکمتیار و سیاف به نتیجه رسیدند تا با دولت متارکه نمایند. ناکامی و شکست در جلال آباد پر ستیز و اعتبار پاکستان را نیز پایان آورد. تورن جنرال حمید گل که به این تصور بود که فتح جلال آباد مانند بریدن یک کیک است بلافاصله توسط صدر اعظم پاکستان برکنار گردید و با جنرال شمس الرحمن کالو بحیث رئیس جدید آی اس آی تعویض گردید. جنرال کالو سیاست های کلاسیک را برای حمایت از جهاد گرایان تعقیب میکرد. جنرال ضیاءالحق او را هم قبل از اینکه طیّاره اش در آگست ۱۹۸۸سقوط نماید، از سمتش برکنار کرد. زیرا ضیاء تشخیص داده بود که کالو هم در دست امریکایی ها است به تند روان اسلامی خوشبینی ندارد

برغم انتظارات غرب و پاکستان، جنگ جلال آباد ثابت ساخت که حکومت افغانستان و قوت های مسلح آن موفقانه بدون حمایت خارج از عهده آن بدر آمدند. پیروزی جلال آباد مورال و اعتماد بنفس نیرو های دولتی را ارتقا داد. با بررسی نتایج فاجعه بار محاصرهٔ جلال آباد قوماندان های مجاهدینی که در حملهٔ مذکور سهم نگرفته بودند از جمله احمد شاه مسعود و عبدالحق نتیجه گیری نمودند که مجاهدین توانایی تصرف شهر ها را ندارند. هم چنان آنها به بی نتیجه بودن و تبدیل جنگ چریکی بیک جنگ تعارفی را اشتباه تلقی نموده بودند. در عوض آنها از این نظریه حمایت میکردند که جنگ چریکی به تدریج رژیم را ضعیف خواهند ساخت و سقوط آنرا از طریق اختلاف داخلی موجب

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خواهد شد.**

**مسعود فقدان یک مرکز قوماندهٔ واحد را انتقاد مینمود که در نتیجه آن مجاهدین نتوانستند یک تعرض کوردینه شده و هماهنگ را براه بیندازند. در مقابل دولت توانست قوتهایش را در برابر گروه های پراگندهٔ مجاهدین بطور متمرکز مورد استفاده قرار دهد.**

**هردوی آنها سیاست های نادرست اسلام آباد را انتقاد مینمودند. هر دو بهانه می آورند که عوامل اصلی شکست مجاهدین این بود که پلان تعرض آنها در قرارگاه راولپندی بدون مشوره با مجاهدین افغان در چارچوب یک جنگ تعارفی جبهه یی ترتیب گردیده بود.**

**مسعود با نتیجه گیری از جنگ جلال آباد به نفع خود ساده لوحانه گفته بود (افغان ها هرگز جنگ را نه می باختند اگر قومانده پاکستانی ها را قبول نمیکردند )**

**پاکستانی ها هم در حصهٔ خود نتیجه گیری های را انجام دادند:**

**(جهاد در جلال آباد به سر نرسید. ) این مطلب را دگروال یوسف مسئول امور مجاهدین در آی اس آی (۱۹۸۳-۱۹۸۷) در کتاب خود که در سال ۱۹۹۲ به نشر رسید اعتراف نموده است. سایر رهبران مجاهدین ارزیابی های مشابهی را انجام داده اند.**

**(شکست در جلال آباد اعتبار یک دهه جهاد را برباد داد. ) اعترافی است از اسماعیل خان قوماندان جمعیت اسلامی در هرات.**

**سر انجام، استراتیژی گروه های جهاد گرا برای براندازی رژیم در کابل بوسیلهٔ یک کودتای داخلی رژیم تمرکز پیدا کرد. در ۴ مارچ ۱۹۹۰، وزیر دفاع شهنواز تنی به کمک و ارتباط با افراد دو تنظیم مجاهدین، حزب اسلامی و جمعیت اسلامی و حلقهٔ ناراضی حزب دموکراتیک خلق دست بیک کودتای ناکام زد. سران جهادی به این نظر بودند که بدست گرفتن قدرت در افغانستان از طریق کودتا بسیار زیاد آسان تر است تا استعمال قوای نظامی.**

**با وجود شکست تحقیر آمیز در جلال آباد بعضی قوماندان های مجاهدین مانند جلال الدین حقانی باز هم به پیروزی نظامی معتقد بود و پیشنهادات مصالحهٔ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملی رئیس جمهور نجیب الله را نپذیرفتند.

جنگ جلال آباد مسیر چیزی را که جهاد خوانده میشد تغییر داد. بیشترین مجاهدین قناعت نمودند که پیروزی نظامی در کوتاه مدت فاقد دور نما است. گروه های بیشتر و بیشتر مجاهدین به پروسهٔ مصالحهٔ ملی رئیس جمهور نجیب الله پیوستند. بعضی از آنها سلاحهای شان را بر زمین گذاشتند و یا در کنار دولت قرار گرفتند. در نتیجه کاهش شدید انگیزه های جنگ بعد از حملهٔ جلال آباد فعالیت های نظامی مجاهدین بطور چشم گیری تقلیل یافت. بعضی از آنها مانند دو تنظیم طرفدار شاه، صبغت الله مجددی و پیر گیلانی مواضع انعطاف پذیری برگزیدند.

پس از خروج قوت های اتحاد شوروی با وجود که قوت های مجاهدین برای تسخیر جلال آباد جنگیدند اما نتیجه گیری شان چنین بود که در یک شکست افتضاح آمیز در جریان محاصره، دانستند که مجاهدین بمثابهٔ یک نیروی چریکی شانس آنرا ندارند که حتی به کمک نظامی خارجی در برابر قوتهای منظم به پیروزی دست یابند

موخذ و منابع:

الف: مصاحبه ها و اخذ یادداشت ها از فرماندهان شرکت کننده در جنگ جلال آباد.

V. Literature :

1. / AITKINS, Matthieu, “State of the Taliban and the Future of Afghanistan”, Secret/Re. ISAF, 9 March 2013

www. gq. com/news-politics/big/nato-report-state-of-taliban-afghanistan

BLURNS, John F. , “Afghanistan Says Airport is Reopened as Battle for Eastern City Continues, New York Times, 1989. március 11

(c) ketabton.com: The Digital Library



www. newyorktimes. com/1989/03/11/world/afghanistan-says-airport-is-reopened-as-battle-for-eastern-city-continues. html?pagewanted. 28src

**CORDESMAN, Anthony H, "Afghanistan from 2012-2014. Is A Successful Transition Possible?", Centre for Strategic And International Studies (CSIS), 1, 19 June 2012**

**1. / DORRONSORO, Gilles, Revolution Unending: Afghanistan from 1979 to the Present, (2005), London: Hurst, 413 o .**

**2. / GUTMAN, Roy, (2008): How We Missed the Story: Osama Bin Laden, the Taliban and the Hijacking of Afghanistan, United States Institute of Peace Press, Washington, 304. o .**

**3. / KAPLAN, Robert D. (2001), Soldiers of God: with Islamic Warriors in Afghanistan and Pakistan, Vintage Departures, New York, 347 o .**

**4. / MARSHALL, Alex (2006): Phased Withdrawal, Conflict Resolution and State Reconstruction, Conflict Research Studies Centre, p. 3 .**

http: //www. defac. ac. uk/colleges/csrc/document-listings/ca/06%2829%29AM. pdf

**5. / PHILLIPS, Jones, "Winning the Endgame in Afghanistan", Heritage Foundation, May 18, 1992,**

www. Greenleft. org/au/nede/23708

**6. / REBELS WITHOUT A CASE,**

www. pbs. org-newshour-bb-asia-july-dec89/afghanistan_08_29. html

**7. / RIEDEL, Bruce, "Comparing the U. S. and Soviet experiences in Afghanistan" CTC Sentinel 2, no. 5 (May 2009)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



8. / RUBIN, Barnett R. , The Fragmentation of Afghanistan, (2002), New Haven: Yale University Press, 198 o .

9. / STENERSEN, Anne (February 12, 2012), "Mujahidin vs. Communists: Revisiting the battles of Jalalabad and Khost", Paper Presented at COIN in Afghanistan: From the Mughals to the Americans. CSCW Conference, Oslo, Norway, 12-13 February 2012, Security and Defense Policy Research Program, the Royal Norvegian Ministry of Defense,
www. prio. no/utility/Download. ashx?x=228

10. / SZAID Abdul Qudúsz, Szaíd, Dzsenrál, Dzsanghá-je Kabul (1371-1375 khursídí,) Kabuli csaták (1992-96), dari nyelven, Aida Orient Books, Bochum, 2009, 391 o. ISBN 978-3-9812502-6-8

11. / THE DEMISE OF THE SOVIET UNION, (1991), Library of Congress, Country Studies

12. / YOUSAF, Mohammed and ADKIN, Mark, (1992) The Bear Trap: Afghanistan's Untold Story, Barnsley: Leo Cooper, 243 o .

یادونه: یو شمېر لیکونکي یا ژورنالېستان داسې فکر کوي چې یو څوک دوی ته څه وايې دا به رښتیا وي ولې حقیقت بیا بل ډول وي.

(جنرال نبی عظیمی در آن برهه یکی از نظامیان ارشد دولت کابل بود، بحیث معاون وزیر دفاع و قوماندان گارنیزیون کابل ایفای خدمت میکرد، با آغاز اقدامات جهت ناکامی پلان صلح ملل متحد نقش که به او از سوی نماینده ی ملل متحد آقای بینین سیوان جهت نجات بر نامۀ صلح ملل متحد از شکست پیشنهاد شد نه تنها نپذیرفت بلکه به جانبداری از توطئه گران ملیشه یی و جهادی تحت رهبری عبدالرشید دوستم و احمد شاه مسعود بر خواست و قطعات نظامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل را به آنها تسلیم کرد و مستقیما فرماندهی جنگ را در کابل به نفع جمعیت اسلامی و بر ضد حزب اسلامی حکمتیار که در بخش های کابل مسلط گردیده بود بدست گرفت، طی حدود سه هفته ی که وی فرماندهی جنگ را «الی آمدن احمد شاه مسعود از چهاریکار بکابل» در دست داشت بقرار تحریر خودش در صفحه (۵۸۴) کتاب اردو و سیاست، روزانه یک هزار نفر از شهروندان کابل کشته می شدند. متعاقباً او به هزینه و هدیهٔ جمعیت اسلامی به مسکو رفت و مدتی با استفاده ای امتیازی از امکانات و خانه های سفارت دولت اسلامی در مسکو بعداً در تاشکند با امتیازات جنبش ملی رشید دوستم خانه و موتر مدتی زندگی کرد و سال بعد با ویزهٔ رسمی نزد خانواده اش در هلند پناهنده شد. در هلند به اتهام جنایت جنگی تحت تعقیب قرار گرفت و با ترک هلند مجدداً به تاشکند بازگشت و فعلاً در آنجا اقامت دارد. )

## برگرفته از متن نوشته ی جنگ جلال آباد:

نویسنده:

داکتر نسرین کتونا:

پیشگفتار:

۱ - نخستین نبرد یک دولت سیکولار با جهاد گران سلفی و القاعده:

پس از تکمیل خروج قوت های شوروی در بهار سال ۱۹۸۹ از افغانستان، شورشیان افغان بنام مجاهدین، مقیم در پشاور حملات گسترده ای را بکمک نیروهای مسلح پاکستان، سازمان قهار القاعده تحت رهبری بن لادن، در سه جبهه بالای شهر جلال آباد در شرق افغانستان تدارک دیدند.

این شهر استراتژیک با موقعیت در مسیر شاهراه کابل، تورخم، که پایتخت افغانستان را به پشاور وصل میکند، با دوصدوپنجاه هزار جمعیت، در انبره سومین شهر بزرگ افغانستان بود.

استراتیژی اشغال جلال آباد که در ماه مارچ سال ۱۹۸۹ آغاز یافته بود با حرکات

(c) ketabton.com: The Digital Library



گسترده، تهاجمی و محاصره که با آتش باری های سنگین، انواع اسلحهٔ ثقیل زمینی و راکت های ضد هوایی بشمول ستنگر توآم بود، حدودی چهار ماه با خونباری و ویران گری تداوم یافت، در نهایت در اثر رشادت و جانبازی های قهرمانانهٔ مدافعین جلال آباد و با مدافعهٔ اکتیف، همه قوت های شرکت داشته در آن با شکست مفتضحانهٔ مجاهدین بپایان رسید.

آموزش ها و نتیجه گیری از جنگ جلال آباد، رهنمودی را بدست می دهد که پس از ۲۰۱۴ م انتظار آن برده میشود.

مهمترین درس که باید مورد توجه قرار گیرد، اینست که جنگ جلال آباد، اولین تهاجم به شیوهٔ جنگ معاصر، از سوی تندروان اسلامی و سازمان القاعده، و نظامیان پاکستان بالای یک دولت سیکولار بود. اگر نتایج، پی آمدها و اهمیت آن در همان موقع از سوی جامعهٔ بین المللی، با عقلانیت مورد تحلیل و تجزیه قرار داده می شد به احتمال قوی حادثهٔ ۱۱ سپتامبر ۲۰۰۱، اتفاق نمی افتاد.

پس از جنگ جهانی دوم، جنگ جلال آباد یکی از بزرگترین جنگ ها، در مقیاس جهانی و عظیم ترین محاربهٔ بالستگی در طول تاریخ افغانستان بوده که با عملیات های گسترده و پیچیدهٔ استخباراتی و اطلاعاتی توام بود.

هم اکنون بحث های در میان کارشناسان نظامی، پیرامون تغیرات کیفی بعد از تکمیل خروج قوت های امریکا، ناتو (ایساف) در تداوم است که سرنوشت افغانستان بعد از ۲۰۱۴ به کجا خواهد انجامید؟ چه تغیرات منطقوی شکل خواهد گرفت؟ آیا شورش گران افغان از طریق یک گفتمان ثمر بخش در قدرت سهیم خواهند شد، یا از طریق یک پیروزی نظامی؟ استراتیژی قدرت های نو ظهور چند قطبی، منطقوی، و همسایه های افغانستان چه خواهد بود؟ آیا قصد توسعهٔ نفوذ شان را برای تغییر اوضاع دارند؟، همزمان تعهد نظامی بین المللی در افغانستان بپایان خود نزدیک میشود، ادارهٔ بارک اوباما، از انتقال کامل مسئولیت های امنیت کشور به نیروهای مسلح افغانستان، قبلاً پشتیبانی نموده است.

این بحث هم در استمرار است که آیا مرحلهٔ انتقال مسئولیت ها بسیار قبل از

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وقت نبوده است؟ آیا نیرو های مسلح افغان در برابر شورش گران جهاد گر مقاومت خواهند توانست؟**

**بیشترین تحلیل گران با ارفاق به این باور اند که قوت های مسلح افغان، توانائی های حفظ ثبات و پتانسیل، مهار کننده ای را برای دفع و طرد، شورش گران، و جلو گیری از عروج جابرانه ای آنها به قدرت دارا اند.**

**شماری دیگر از کارشناسان با توهم استدلال می کنند که پس از خروج نیروهای بین المللی از افغانستان، قوت های مسلح دولت، به مواضع، قومی، تباری، و مذهبی که هم اکنون رشد بی سابقه یافته است خواهند لغزید، و از سقوط کشور به پرتگاه خلایی سیاسی و حتی جنگ داخلی، نخواهد توانست جلوگیری بعمل آورد.**

**نتیجه گیری های جنگ جلال آباد کمک میکند تا وضعیت در یک دورنما، مورد مطالعه قرار داده شود که آیا جهاد گران فعلی با نیروهای مسلح دولت که به آن رژیم دست نشانده اطلاق میکنند، مقابلهٔ نظامی را تداوم خواهند بخشید؟ مذاکرات موفقیت آمیز با شورش گران، خروج مصون قطعات بین المللی عناصر کلیدی ثبات پس از جنگ خواهد بود، در سال های اخیر حکومت ایالات متحدهٔ امریکا با گروه شورشی (شورای کویته طالبان) داخل روند مذاکره شده است، آیا شورش گران، افغان دارای یک سازمان مرکزی میباشند؟، آیا رهبران این تحریک ها (طالبان و حزب اسلامی) توانسته اند نفوذ خود را بالای بخش بیشتر گروهای شورشی محلی تامین نمایند؟ در چنین یک حالی مذاکرات با فرماندهان شورشیان بهترین گزینه برای نفوذ بالای گروهای محلی خواهد بود. ولی نمیتواند از گسترش آشوب جهاد گری که ریشه در انگیزه های متنوع بویژه که برخی از انگیزه ها در دستگاه دولتی نهفته است جلوگیری بعمل آورد.**

**پایداری و تداوم پروسهٔ کنونی، با نیاز به امکانات استخباراتی، و عملیات های نظامی، که فرصت های بقای نظام را میسر می سازد، بستگی به کمک های خارجی دارد، این ها درست مسایلی اند که بایستی از حوادث، و نتایج محاصره و جنگ جلال آباد درس ها و آموزش ها استخراج گردد.**

**تحلیل و تجزیهٔ حوادث نبرد جلال آباد برای ما « هنگری ها» از ارزشمندی ویژه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای برخوردار است زیرا بی ثباتی افغانستان و منطقه، ابعاد فرا منطقه ئی داشته، و پی آمد های آن بالای اتحادیهٔ اروپا، و کشور ما، تاثیرات بالقوه خواهد داشت. پی آمد های آن قبل از همه بالای ارتباطات بین المللی، تروریسم فرامنطقوی، جرائم سازمان یافته، قاچاق و تجارت مواد مخدره توسعهٔ فعالیت های استخباراتی، در قارهٔ اروپا، اثر گذار خواهد بود.

دراین اواخر گروهای شورشی جهاد گر مانند سال ۱۹۸۹ با نیرو های منظم روبرو میباشند. از همین رو بازنگری تجارب جنگ جلال آباد و آموزش های آن برای فهم بهتری ماهیت جنگ های گوریلائی و سازماندهی عملیات های ضد شورشی، برای تدوین یک نقشه ممد و مفید برای آینده از اهمیت اساسی برخوردار است.

روایت های جنگ جلال آباد که بر منابع محدودی استوار است، در نوشتهٔ دگروال یوسف، بارنت روبین درون شورو اشتنن سین و مصطفی حامد، پیش از آنکه صبغهٔ تحلیلی داشته باشند، بگونهٔ توصیفی نگاشته شده است.

۲ - جنگ جلال آباد:

A- عملیات های استخباراتی و تبلیغاتی:

پس از تکمیل خروج نیرو های شوروی، مراجع استخباراتی ایالات متحده امریکا، به این تصور بودند که دولت داکتر نجیب الله طی سه الی شش ماه آینده، سقوط خواهد کرد. از همین رو در جلسه سری مورخ ۹ فبروری ۱۹۸۹ شورای امنیت ملی ایالات متحده، به جورج بوش، مبنی بر تداوم کمک های امریکا به مجاهدین افغان مشوره ارایه شده بود. اما در عین حال رژیم چپ گرای افغانستان علی الرغم آنکه، کمک های مالی و نظامی اتحاد شوروی از اول ماه جنوری ۱۹۸۹م برایش قطع گردیده بود، از مورال بلند و ذخایر، مادی و نظامی گسترده ای بهره مند بود. با حضور پر توانش در صحنه هیچ علائمی مبنی بر سقوط آن بمشاهده نمی رسید.

کمیت قوت های مسلح افغان در آن مقطع به استثنای ملیشه های قومی حدود ۲۵۰ تا ۲۶۰هزار نفر را تشکیل داده بود. فاکتور قابل توجه این است که نیروهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلح، منجمله نیروهای هوائی و مدافعه هوائی آن از لحاظ داشتن تجارب رزمی و آگاهی سیاسی ضد جهادی، در مقایسه با نیرو های مسلح منطقه بخصوص پاکستان و ایران از کیفیت قابل توجهی برخوردار بود. خروج قوت های شوروی در پنجم فبروری ۱۹۸۹ پایان پذیرفت، برخلاف انتظارات غرب، قوای مسلح افغان نه تنها به فرار و فروپاشی مواجه نگردید بلکه روی پاهای خودش ایستاد، و وضع روحی، و مورالی اش را ارتقا داد. و مردم افغانستان آنرا یک نیروی دست نشانده ندانسته، حافظ منافع ملی تصور می نمودند.

پس از خروج قوای شوروی، ایالات متحده امریکا و پاکستان نه تنها کمک های شان را به مجاهدین پایان نداده، بلکه حمایت شان را تشدید بخشیده بودند. استمرار چنین وضعی، عدم موازنه ی قدرت را بمیان آورده بود. حکومت داکتر نجیب الله برای جبران وضع با تعقیب سیاست پیچیده ی (مصالحه ملی) در صدد آن گردیده بود، تا پروتوکول و موافقه های را با فرماندهان محلی ؟ به انجام برساند، این سیاست نقش مؤثر خود را بر جا گذاشت، تا نیمه دوم سال ۱۹۸۸، استراتیژی پاکستان مبنی بر راکت باران شهر ها، و پایتخت، و مصروف سازی نیروهای دولتی، از موثریت چندانی برخوردار نبود، ادارۀ استخبارات نظامی پاکستان آی اس آی، هیچ یک از فرماندهان محلی را برای حمله بالای دیگر نقاط کشور، جهت انحراف توجه دولت داکتر نجیب الله از جلال آباد و تقسیم نیروهایش به استقامت های دیگر مجبور گردانده نتوانست. اما دولت کابل، در کشانیدن فرماندهان محلی بیک موقف بی طرفی و کسب توافق آنها مبنی بر عدم تعرض بر قوای دولتی و باز نگه داشتن شاهراه ها تا حدودی موفق گردیده بود.

حکومت ایالات متحده امریکا باز هم بالای پیروزی نظامی تاکید می ورزید، یکی از انگیزه های که او را خشمگین ساخته بود، این بود که گروهای بزرگ، از شورشیان جهاد گر به دولت تسلیم شده یا پروتوکول های موقت با دولت کابل امضا نموده بودند. در آنزمان حدود ده هزار نفر شورشیان (مجاهدین) با تغییر مواضع شان به (مصالحه ملی) پیوسته و بیش از ده هزار دیگر در حال مذاکره با دولت بودند، که یکی از دلائل حمله بالای جلال آباد جلوگیری از

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تداوم همین پروسه، (پیوستن شورشیان) به دولت بود.**

**ملیشای قبائلی در سال ۱۹۸۸ منحل گردیدند، اما شماری از آنها بعنوان ریزرف استراتژیک دولت باقی ماندند، که نیرومند ترین آنها ملیشه های (ازبک جوزجانی) بود که بر اساس فاکتور های قومی، و محلی متشکل گردیده و در چوکات جز و تام بزرگ به اسم فرقه ۵۳ دولت بحیث ریزرف استراتژیک رژیم تحت امر مستقیم رئیس جمهور فعالیت میکرد.**

**در سال ۱۹۸۹ قوت های مسلح دولت افغانستان و ملیشه های طرفدار آن دارای سلاح و وسائط ذیل بودند.**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | **تانک های T – 55-T-۵۲** | **۱٥٦۸** |
| ۲ | **BMP** | **۵۰۰** |
| ۳ | **BTR, BRDM** | **۸۲۸** |
| ۴ | **وسائط نقلیه** | **۲۹۰۰۰** |
| ۵ | **توپ های مختلف** | **۴۸۸۰** |

**جت های جنگی:**

| | | |
|---|---|---|
| **میک ها** | **میگ ۲۱ و ۲۵- سو ۷ و سو ۲۷** | **۲۲۰ بال** |
| **هلیکوپتر ها** | **می ۸ و می ۱۷** | **۱۷۰ بال** |
| **طیاره های ترانسپورتی** | **ان ٢٦- ۳۲- ۱۲** | **٦۰ بال** |

**جمعاً ۴۵۰ بال طیارات فعال، مورد استفاده قرار داشت.**

**ذخایر راکتی مدافعه هوائی و زمینی (راکت های پیچورا و دو وینا، سکاد، لونا، بشمول اوراگان، به بیش از ۵۰۰ فیر میرسید.**

**بعد از خروج قطعات شوروی، آنعده مشاورین شوروی که در قطعات قوای مسلح و ارگانهای دولت حضور داشتند به تدریج افغانستان را ترک نموده بودند. در چنین یک حالی بزرگترین ریزرف ها و ثروت دفاعی رژیم را کادر های مسلکی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



و تخصصی آن که در نبرد های یک دهه با سلفی های جهاد گر و القاعده آبدیده گردیده بودند، تشکیل داده بود که با وفاداری به میهن در قوت های مسلح ایفای خدمت می نمودند.

بی نظیر بوتو، صدراعظم پاکستان، رابرت اوکلی (Robert Boaklez) سفیر ایالات متحده امریکا در اسلام آباد، تصمیم اتخاذ نموده بودند که بخاطر تصرف جلال آباد، از پراگنده گی، و افتراق مسلط، در میان گروهای مجاهدین، و القاعده جلوگیری بعمل آورده، با بسیج همگانی، فروپاشی و سقوط رژیم کابل را تسریع نمایند. بعد از تکمیل خروج نیروهای شوروی، استراتیژی ایالات متحده امریکا در برابر افغانستان تغییر نکرده، به پیروزی مجاهدین و القاعده از طریق نظامی اسرار می ورزید، امریکا و پاکستان تصور میکردند که با سقوط جلال آباد، کابل پایتخت افغانستان مانند یک میوه پخته بدست شان خواهد افتاد، آنها در اتخاذ تصامیم، فرماندهان و رهبران مجاهدین را شرکت نمیدادند، یکی از با نفوذ ترین فرماندهان مجاهدین به این نظر بود که از محاصرهٔ جلال آباد، کدام موفقیتی بدست نخواهد آمد، بآن مخالفت می ورزید، ولی هم امریکائی ها و هم پاکستانی ها خواستار پیروزی نظامی بودند. و با تصرف شهر جلال آباد، امریکائی ها خواسته بودند. آخرین خنجر را بر بدن زخمی امپراطوری شوروی فرود آورده با سقوط دادن متحد افغانش تحقیرش نمایند.

در حکومت موقت مجاهدین که به مهندسی پاکستان در ماه دسامبر ۱۹۸۸ در وجود حکمتیار بحیث صدراعظم و سیاف وزیر خارجه ایجاد گردید، جلال آباد بحیث پایتخت آن در نظر گرفته شده بود. این حکومت موقت از هفت تنظیم مقیم پشاور (بدون شرکت هشت تنظیم شیعه افغان که در ایران فعال بودند) تشکیل گردیده، و در خدمت منافع پاکستان قرار داشتند.

سازماندهی حمله بر جلال آباد بر عهده ادارهٔ پرقدرت استخبارات نظامی پاکستان آی اس آی گذاشته شده بود شعبات استخبارات سعودی هم که تحت سرپرستی شاهزاده طارق بن فیصل وزیر امنیت و استخبارات آن کشور فعالیت میکرد. بگونهٔ گسترده فعال بود. قبل از عملیات های، استخباراتی، اقدامات گستردهٔ اوپراتیفی توأم با عملیات های (disinformation) و نفوذ دادن،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اجنت ها به حریم قدرت دولتی جلال آباد و خریداری و وفاداری آنها، تطمیع و پرداخت رشوه در جریان افتاده بود. محراق، شایعات تبلیغاتی، معطوف بیک مسئله گردیده بود که گویا رئیس جمهور داکتر نجیب الله با مجاهدین توافق نموده است که جلال آباد را برایشان تسلیم میدهد. پخش چنین شایعاتی، بر ذهنیت ها رخنه نموده و تاثیرات منفی را در عملکرد های افراد رهبری دولتی بوجود آورده بود.**

**در آن برش زمانی ولایت ننگرهار بوسیلۀ شورای پنج نفری دفاعی رهبری میگردید، اعضای آن را هر یک ( وکیل محمد اعظم والی ولایت، سرفراز مومند منشی شورای ولایتی حزب وطن جنرال بارکزی قوماندان قول اردوی نمبر یک، (۱) جنرال محمد عمر معلم رئیس امنیت دولتی (۲)، جنرال نوبهاری قوماندان سرحدّی، جنرال رسول جبارخیل قوماندان څارندوی (پلیس) تشکیل داده بود. وکیل محمد اعظم شینواري با سابقۀ عضویت در حزب اسلامی خالص، یکی از تنظیم های هفت گانۀ مجاهدین، مقیم پشاور که با پذیرش سیاست مصالحۀ ملی، به دولت پیوسته بود، در ماه فبروری مجدداً به مجاهدین پیوست، ملیشه های قومی تحت فرماندهی جنرال نوبهاری نیز دستخوش توطئه ها، و رشوت گردیده، متفرق گردیدند، که یک نوع بی ثباتی را به نمایش گذاشته بود.**

**۲ - سازماندهی دفاع از جلال آباد:**

**استراتیژی دفاع از جلال آباد، اجرای طیف وسیع وظایف و اقدامات را مطالبه کرده بود.**

**۱- قوماندانی اعلی قوای مسلح تحت رهبری داکتر نجیب الله، رئیس جمهور و معاونیت جنرال محمد رفیع، دفاع از جلال آباد را که دروازۀ شرقی کشور همسرحد با پاکستان محسوب میشد. یکی از وظائف مبرم خود برشمرده بود. گسترده گی وظائف که باید انجام می شد، بار سنگینی را بر دوش طیف وسیع منسوبان و کادر های فرماندهی گذاشته بود، گسیل و جابجائی افسران با مهارت های مسلکی، و اعزام کادر های مجرب و متخصص به وظائف دفاعی در سمت و سوی جنگ جلال آباد و تقسیم وظائف، بر سودمندی و ثمر بخشی فعالیت ها افروده بود.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعزام گروپ های افسران، مجرب و کارکشته، از ارگانهای نظامی و سیاسی به جلال آباد توجه به ارتقای احضارات محاربوی و سیاسی و روحیه و مورال منسوبان و ارایه کمک از سوی آنها به قرارگاه ها، در خطوط مقدم جبهه، و بذل کمک های گسترده به مردم و ارگان های ملکی، اکمال قطعات از لحاظ پرسنل، مهمات و مواد لوژستیکی رفع مشکلات و نواقص، بازدید و مراقبت از پرسنل، از دلچسپی های قوماندانی اعلی قوای مسلح محسوب گردیده بود.

تقویت پتانسیل جبهه بو ظایف مبرم قرارگاه های وزارت های دفاع، داخله، و امنیت دولتی تبدیل شده بود، ریاست اپراسیون وزارت دفاع تحت رهبری جنرال محمد انور معروف به «استاد» یکی از نخبگان مجرب نظامی و معاونینش جنرالان محمد اسماعیل وردک و جنرال عبیدالله جبهه جنگ را با فعالیت های راهبردی تحت مواظبت قرار داده بودند.

باز نگه داشتن شاهراه کابل، جلال آباد که شاه رگ اکمالات، مهمات و مواد مادی جبهه پنداشته میشد، این شاهراه که از کابل آغاز، با عبور از شهر جلال آباد به پشاور، جائیکه تنظیم های هفت گانهٔ مجاهدین و قرارگاه های سازمان مخوف القاعده قرار داشت، میرسید. دریای کابل که در مسیرش به روز خروشانی مبدل میشود، با عبور از جلال آباد، مسیر خود را در خاک پاکستان پیموده در ساحهٔ اتک با دریای سند یکجا میگردد. وجود هر دو، دریا و شاهراه به جلال آباد اهمیت ژیوپولوتیک بخشیده است.

بازنگهداشتن شاهراه کابل جلال آباد برای دولت، یکی از پیش شرط های پیروزی محسوب میگردید. به این منظور گروپ اوپراتیفی، متشکل از کار آگاهان نظامی در سروبی تحت امر جنرال گلرنگ که وظیفهٔ بازنگهداشتن، شاهراه مذکور را، که فرقه های ٦٠ و ۹ پیاده در آن مستقر بود، ایفا میکرد. بخش کابل تا سروبی این شاهراه را، فرقه ٦٠ تحت قوماندهٔ جنرال فقیر محمد، (۳) محافظت میکرد. بخش از سروبی تا درونته و جلال آباد را فرقه ۹ تحت فرماندهی جنرال زمان وزيري که از کنرها به آنجا آورده شده بود، تحت محافظت داشت.

جنرال سید عبدالقدوس سید (۴) کار گذار ارشد نظامی در شورای مرکزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حزب وطن، در آستانهٔ جنگ جلال آباد، آوانیکه نبرد های شدید جهت مسدود نگه داشتن شاهراه از سوی گروههای مختلف جهادی، القاعده و آی اس آی در استمرار بود، و در آنجا زخمی گردیده، در کتابش تحت عنوان (جنگ های کابل) اهمیت استراتژیک این شاهراه را مورد بحث قرار داده، و همچنان دلایلی را که چرا؟ احمد شاه مسعود یکی از فرماندهان جمعیت اسلامی، در مسدود کردن آن سهم نگرفت به بررسی گرفته است، در واقع این موضوعی شگرفی است که در آثار و نوشته های دیگران بچشم نمی خورد.

۳ - ولایت لغمان با موقعیت در شمال جلال آباد که یک بخش شاهراه کابل، تورخم از آن عبور میکند در جنگ جلال آباد دارای اهمیت استثنائی بود. تأمین امنیت ولایت لغمان را در انبره شورای دفاع ولایت که منشی آن شفیق الله توده ای (۵) منشی شورای ولایتی حزب وطن بود، با قطعات پولیس، امنیت دولتی، سپاهیان حزبی، حزب وطن، و گروهای دفاع خودی بعهده داشتند، علی الرغم فشار های متراکم، گروههای جهادی، سلفی و القاعده، لغمان به همت مدافعین آن تا به آخر در دست دولت افغانستان باقی ماند. اگر احتمالاً لغمان بدست گروههای مجاهدین تسخیر میشد، در آنصورت خنجر برنده ای از شمال بر پیکر جلال آباد فرود می آمد، و دفاع از جلال آباد را بمشکلات مواجه میکرد.

٤ - دفاع از جلال آباد:

وظیفهٔ دفاع از جلال آباد به فرقهٔ ۱۱ مربوط قول اردوی نمبر یک و ریاست امنیت دولتی، قوای پلیس، لوای سرحدّی، محول گردیده بود، و در آن برش زمانی جنرال بارکزی، فرماندهی قول اردوی نمبر یک، و جنرال محمد عمر معلم، ریاست امنیت دولتی، و جنرال قیام الدین قوای سرحدّی، و جنرال قاسم برهانی (۷) فرماندهی قوای پلیس را برعهده داشتند.

با افزایش تحرکات، و تقرب گروه های جهادی و القاعده، و پاکستانی، در اطراف دور دست شهر، جهت اشغال شهر جلال آباد، دولت نیز به اقدامات نظامی جهت دفاع جلال آباد، متوسل گردیده بود. در نخستین اقدام قطعات کمکی، مانند لوای ۳۷ کماندو، تحت رهبری جنرال اسدالله، و لوای گارد تحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرماندهی جنرال رحمت الله رووفی، و یک گردان دو نیم هزار نفری سپاهیان دفاع وطن را تحت اداره نواحی حزبی حزب وطن و حدود پانصد نفر افراد ملیشه ئی را تحت قوماندۀ، رسول قهرمان به جلال آباد اعزام کرد، و جمع قطعات را از لحاظ مهمات، و مواد مادی، اکمال، و در دفاع از جلال آباد بسیج کرد.

دوم- به سوق ادارۀ واحد، قطعات مدافع جلال آباد توجه مبذول کرد و نظامیان ارشد از قرارگاه وزارت دفاع را بگونه متناوب به فرماندهی جبهه جنگ گسیل کرد، درین روند بار اول جنرال عبدالغفور خان (۸) معاون لوی درستیز که در جابجائی قطعات، ایجاد سیستم های مؤثر مدافعه، تاسیس ارتباطات و تشریک مساعی قطعات، بازنگهداشتن شاهراه جلال آباد - کابل بسیج همگانی ادارات ملکی در دفاع از شهر، و ارایه خدمات اجتماعی به مردم وظائف قابل ستایش را انجام داد 'متعاقباً در مرحله بعدی، جنرال آصف دلاور (۹) لوی درستیز را که در سازماندهی دفاع شهر، و ارتقای احضارات محاربوی پرسنل و شرکت مستقیم در خطوط اول محاربه با قاطعیت درخشید و در دور بعدی جنرال محمد نبی عظیمی (۱۰) معاون وزیر دفاع را به فرماندهی جبهه فرستاد، وی نیز در ارتقای نقش قرارگاه در انسجام امور محاربوی و سوق اداره قوت ها و مدافعۀ اکتیف مساعی بخرج داد. همچنان جنرال محمد هاشم قاهر (۱۱) که کرسی ریاست تعلیم و تربیه را به عهده داشت در مقاطعی از جنگ بحیث رئیس ارکان جبهه گسیل کرد. وی بحیث یک کار آگاه نظامی در سوق اداره قوت ها، ایجاد مدافعه اکتیف و برقراری سیستم آتش و حضور مستقیم در خطوط اول جبهه جنگ و بسیج قرارگاه ها و پرسنل در دفع و طرد مهاجمین نقش آفرید. جنرال محمد ظاهر سوله مل (۱۲) رئیس ارکان قوماندانی عمومی توپچی وزارت دفاع نیز بحیث ریس ارکان جبهه به جلال آباد فرستاده شده بود او و جنرال محمد اسماعیل وردک (۱۳) هر دو بحیث متخصصان خبره ای نظامی، در سوق اداره و مؤثریت آتش های توپچی و کوبیدن مواضع و خطوط تهاجمی یورش گران نقش ویژه ایفا کردند.

تحکیم ادارۀ ملکی شهر جلال آباد نیز مورد توجه قوماندانی اعلی قوای مسلح

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرار گرفته بود، مانوکی منگل (۱۴) بحیث والی و منشی شورای ولایتی حزب دموکراتیک خلق افغانستان، عبدالمبین مبین معاون کمیته ولايتي ننگرهاربعدا معاون شعبه تشکیلات حزب شد (۱۵) بحیث معاون وی قبل از آغاز جنگ بر جلال آباد فرستاده شده بودند.

سطح بازخواست و مطالبات در همه مراحل جنگ، قرارگاه و فرماندهان قطعات و ارگان ها ارتقا داده شده بود، شخص رئیس جمهور داکتر نجیب الله گزارشات جبهه جنگ را ساعت به ساعت شبانه روزی استماع و شخصاً تدابیر و اقدامات را هدایت و آنرا کنترول میکرد.

۲۰ کیلومتر دورتر از شهر، خطوط دفاعی بوسیله خندق ها، خندق های ارتباط، موانع سیم خاردار و تحکیمات انجنیری، و نقاط تلاشی برج های ترصد تحکیم یافته بود.

قطعات دافع هوا در جوار میدان هوائی داخل موضع آتش گردیده بودند، یکی از مواضع پرتاب راکت لونا در نزدیکی میدان هوائی قرار داشت، حین حملهٔ مهاجمین، سلاح مذکور به خطوط عقبی به منطقه سروبی عقب کشیده شد. مدافعین جلال آباد از سلاح داخل تشکیل خود، توپ ها هاوانها، تانک ها، BM21، ۱٤BM، اوراگان که در مجموع ساخت شوروی بود استفاده می نمودند.

در دفاع از جلال آباد مردم شهر مفرزه های حزبی، سپاهیان وطن، کارمندان دولتی، استادان، و محصلین دانشگاهها، کارگران فابریکات، سهم بسیار فعال سهم (شیر) را انجام داده بودند، و در مجموع نیروهای مسلح، از حمایت بی دریغ شهروندان ملکی بهره مند بودند..

پا نویس های بخش اول:

من نویسنده مقاله، نسرین کتونا شهروند کشور هنگری، دوکتور علوم نظامی، شرق شناس، سابقه کار دیپلماتیک طولانی در کشور های اسیایی و عضو هیأت ملل متحد طی سالهای نودم در حل قضیه افغانستان، مولف چند جلد کتاب و صد ها مقاله در مطبوعات به زبانهای مجاری و انگلیسی و روسی میباشم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیفتگی ام به زبانهای پشتو و دری انگیزه ان گردید که این مقاله را که به جایزه اکادمی علوم نظامی کشورم نایل گردیده است، با اختصار ترجمه نموده و ارایه دهم.

۱-- جنرال بارکزی در تهاجم اول گروه های سلفی و القاعده و عساکر پاکستانی که تا نزدیکی های میدان هوایی را تحت اشغال در آورده بودند او بخاطر دفع و طرد مهاجمین با قاطعیت و جسورانه به بسیج سربازانش پرداخت و تعرض مهاجمین را به قیمت جانش عقب زده و آنها را متواری گرداند. با مرگ او جلال آباد یکی از مدافعان دلیرش را از دست داد.

۲ -- محمد عمر معلم فعلا در دانمارک مهاجر است.

۳ -- جنرال فقیر محمد زند ه گی مهاجرت را در ناروی سپری میکند.

۴ - سید قدوس سید در آلمان مهاجر است.

۵ -- توده ای در هلند مهاجر است. فعلا وفات شوی

۷-- جنرال قاسم برهانی در دانمارک مهاجر است.

۸-- جنرال غفور خان در کابل وفات کرده است.

۹-- جنرال آصف دلاور با شکست پلان صلح سازمان ملل در اوایل سال ۱۳۷۱ خ بوسیله ی ائتلاف جهادی و ملیشه ی شمال ورود آنها به کابل و در تسلیمی قطعات نظامی کابل بیک جناح مجاهدین جمعیت اسلامی (ا حمد شاه مسعود و بر هان الدین ربانی ) نقش آفرید و از آن به بعد حدود دو سال در کنار لشکر مسعود بر ضد حزب اسلامی حکمتیار جنگید که تلفات و ویران گری آن چشمگیر است و بعد ها در حکومت دوم مجاهدین بعد از سال ۲۰۰۱ با در یافت پاداش بحیث سفیر جمهوری اسلامی در کشور اوکراین کار کرد و فعلا در خارج از کشور است.

۱۰ - جنرال نبی عظیمی در آن برهه یکی از نظامیان ارشد دولت کابل بود، بحیث معاون وزیر دفاع و قوماندان گارنیزیون کابل ایفای خدمت میکرد، با آغاز اقدامات جهت ناکامی پلان صلح ملل متحد نقش که به او از سوی نماینده ی ملل متحد آقای بینین سیوان جهت نجات بر نامهٔ صلح ملل متحد از شکست پیشنهاد شد نه تنها نپذیرفت بلکه به جانبداری از توطئه گران ملیشه ی و جهادی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحت رهبری عبدالرشید دوستم و احمد شاه مسعود بر خواست و قطعات نظامی کابل را به آنها تسلیم کرد و مستقیما فرماندهی جنگ را در کابل به نفع جمعیت اسلامی و بر ضد حزب اسلامی حکمتیار که در بخش های کابل مسلط گردیده بود بدست گرفت، طی حدود سه هفته ی که وی فرماندهی جنگ را «الی آمدن احمد شاه مسعود از چهاریکار بکابل» در دست داشت بقرار تحریر خودش در صفحه (۵۸۴) کتاب اردو و سیاست، روزانه یک هزار نفر از شهروندان کابل کشته می شدند. متعاقباً او به هزینه و هدیهٔ جمعیت اسلامی به مسکو رفت و مدتی با استفاده ای امتیازی از امکانات و خانه های سفارت دولت اسلامی در مسکو بعداً در تاشکند با امتیازات جنبش ملی رشید دوستم خانه و موتر مدتی زندگی کرد و سال بعد با ویزهٔ رسمی نزد خانواده اش در هلند پناهنده شد. در هلند به اتهام جنایت جنگی تحت تعقیب قرار گرفت و با ترک هلند مجدداً به تاشکند بازگشت و فعلاً در آنجا اقامت دارد.

۱۱- جنرال محمد هاشم قاهر مقیم آلمان است.

۱۲- جنرال ظاهر سوله مل بوسیله طالبان کشته شد.

۱۳- جنرال اسماعیل وردک فعلا در روسیه مهاجر است.

۱۴- داکتر مانوکی منگل در ناروی زندگی مهاجرت را سپری میکند.

۱۵- عبدالمبین مبین فعلاً در ډنمارک اقامت دارد.

ختم بخش اول. ۱۵' می، بوداپست

د پورتنۍ لیکنې د ځینو ناسمو مالوماتو سمونه:

د لیکوالې لخوا د جلال اباد پر جنگ د شوې لیکنې د ځینو برخو سره موافق یم، خو یو شمېر ناسم مالومات په کې لیدل کېږي، کېدای شي لیکوالې کوم کس نه راپور ترلاسه کړی وي چې په دې تاریخي لویه غمجنه پېښه کې یې خپله حضور نه درلود او یا به د کوم طرف په پلوۍ خبرې کوي. له دې پرته خو لیکوالې پوره زحمت باسلی او په دې هکله یې پوره حقایق لیکلي. زه له نوموړې څخه مننه کوم او په لاندې ډول د مطالبو د سمولو کوښښ کوم. ډاکتر نسرین کتونا د لیکنې په مخکېنیو کرښو کې لیکلي چې د قول اردو قرارگاه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمرخېلو په قریه کې ځای پر ځای وه، دا سمه نه ده هلته ۱۱ پلې فرقه ځای کړل شوې وه، خپله قولې اردو د هوایي ډگر لویدیزه څنډه کې وه.
لیکوالې بل ځای کې لیکلي دي چې ۴ د مارچ ۱۹۹۰ز کال د دفاع وزیر شهنواز تڼي د دموکراتیک خلق د یو شمېر ناراضیانو سره د حزب اسلامي حکمتیار او رباني جمعت په مرسته ناکامه کودتا وکړه، دا سمه نه ده. اصلي واقعیت دا وو چې کله د ډاکتر نجیب الله لخوا (خاد) د ملي اردو ۷۰ تنه لوړ رتبه خلقي جنرالان په دې تور ونیول چې د حکمتېار سره اړیکې لري، د دفاع وزیرشاه نوازتڼی چې د دفاع وزیر او د گوند د سیاسي بیرو غړی وو.
هغه له جمهور رئیس ډاکتر نجیب الله وغوښتل چې د اردو جنرالانو د نیول کېدو لامل څه دی؟ جمهور رئیس ورته وویل دا کسان د گلبدین حکمتیار د حزب اسلامي سره اړیکې لري، موږ پوره اسناد او شواهد لرو ځکه مو دا کسان نیولي دي. ددفاع وزیر ته ځواب د منلو نه وو، د دفاع وزیر ورته وویل که دا رښتیا وی ما به تاسو سره منلی وی. خو دا خبره زما او د جنرالانو حیثیت او مقام ته زیان رسوي. ولې ډاکتر نجیب د ده خبرو ته توجه ونه کړه. شهنواز تڼي وړاندیز وکړ چې جنرالان گناه نه لري او باید ژر را خوشې شي، لیکن چا غوږ هم ونه ړراوه، یوازې یې ویل، موږ کاپي اسناد لرو چې دوی د گلبدین حکمتیار د حزب سره اړیکې لري. دفاع وزیر ټینگار وکړ چې ماته د اتهام اسناد ښکاره کړئ، خو دا کار ونه شو.
اخر وزیر د گوند سره دا ستونزه شریکه کړه، گوندي مشران د دې ستونزې د هواری لپاره څو ځله د جمهور رئیس ډاکتر نجیب الله احمدزي سره ملاقاتونه وکړل خو پایله یې نه درلوده. د شوروي سفیر ته وویل شول، هغه شهنواز تڼی او ډاکتر نجیب الله د نجیب الله په کور کې سره پخلا کړل، درې تنه جنرالان راخوشې کړه او نور پاتې شول.
داسې مالومیدل چې شوروي حکومت پلان درلوده چې ستونزه نوره هم زیاته شي. شهنواز تڼي ته به یې ویل ته په حقه یې او ډاکتر نجیب الله ته به ویل ته خو اعلی سرقومندان او جمهور رئیس یې، شهنواز تڼی څوک دی چې دا ډول وړاندیزونه کوي. په پایله کې د شهنواز تڼي په لاس ۵ وړاندیزونه جمهور رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر نجیب الله ته وسپارل شول.

اول وړاندیز دا وو چې ـ بندیان چې د ګوند سره تړاو لري، باید خوشې شي، د دښمن سره مو ملي روغه جوړه اعلان کړې ولې ګوند کې هغه ګوندیان چې کلونه کلونه یې د وطن په دفاع کې سرښندنې کړي په یوه نوم او بل نوم زندان ته کشوي، دا عادلانه نه ده.

دویم وړاندیز ـ د ګارد ټول پرسونل باید د دفاع وزارت په چوکاټ کې شامل شي، یوازې ستا د ګارد شمېر ۴۰ زره تنه دی، د ګارد هر سرباز د دفاع وزارت د جنرال سره سم امتیاز اخلي، دا توپیري چلند باید پای ومومي.

درېیم وړاندیز ـ په دولت کې ناوړه فسادګر خلک را دننه شوي باید تصفیه شي.

څلورم وړاندیز ـ موسسې کنګرې را په دې خوا کلونه تېر شول څو ځله ګوند جلا شو، بیا نوي وحدتونه وشول، سیاسي واک مو تر لاسه کړ څو ګوندي مشران تېر شول، اوس چې تاسو د ګوند نوی رهبر یاست، د ګوند کنګره باید راوبلل شي. په سیاسي حاکمیت کې موږ یوه منتخبه کنګره نه شو رابللی؟

پنځم وړاندیز ـ د حفیظ الله امین په نوم نیول شوی او هغه ۷۰ تنه افسران چې د خاد له خوا په دې نوم چې دوی د ګلبدین حکمتیار سره اړیکې لري راخلاص شي. د شهنواز تڼي سره په نظامي برخورد کې هېڅکله رباني یا حکمتیار مرسته نه ده کړې او نه چا غوښتل چې نظامي عمل دې وشي، په دې کار کې خپله جمهور ریس داکتر نجیب الله ملامتي لري.

نسرین کتونا بل ځای کې لیکلي چې د ننګرهار والي محمد اعظم شینواری د روغې جوړې سیاست سره مل شو، خو بیا د فبروري میاشت کې مجاهدینو سره یو ځای شو، تر کومه چې ما مالومات کړي دا کار ابدا نه دی شوی.

نسرین کتونا بله برخه کې لیکلي چې قومي ملېشې د نوبهاري تر مشرۍ لاندې د توطیو او رشوت خوړلو له امله تیت شوی. حقیقت داسې نه وو بلکې ما مخکې وویل چې د شینوارو ملېشې د والي اعظم خان سره د پخواني اختلافونو له امله مخ واړوو، نور پر ځای پاتې وه د مومند د ملېشو خبره.

هغوی د افضل لودین په وخت کې چې د ختیځ زون تنظیمه رئیس وو، په ګوښته او کامې ولسوالیو کې یې دفاع کوله. کله چې د ملېشو قومندان جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مومند د خاد رياست مرستيال شکور لخوا د جنرال لودين په دفتر کې تر گيلو او لفظي شخړو وروسته وواژه، د مومند ورور فريد مومند چې اوس د ولسي جرگې غړی دی د مليشو په زور د لودين له دفتره د خاد رياست مرستيال شکور خان وويست او مړ يې کړ.**

**لودين اوس د جمهور رئيس محمد اشرف غني احمدزي نظامي ستر سلاکار دی.**

**د جلال آباد په جنگ کې د دفاع وزارت د لومړي مرستيال محمد نبي عظيمي او محمد اصف دلاور رول تر ټولو کمزوری وو، هېڅکله دوی د محاربې اول خط ته نه دي تللي، دوی دواړه د کمزوري مديريت له امله د دفاع وزير لخوا د جلال آباد له جنگ څخه کابل ته واستول شول. عبدالمبين مبين د ننگرهار د ولايتي کميټې مرستيال او د ماڼوکي منگل سره يو ځای يې کار کاوه. کله چې د شهنواز تني او ډاکتر نجيب الله ستونزه ختمه شوه ماڼوکی منگل د دفاع وزارت د سياسي چارو رئيس او عبدالمبين مبين د گوند د تشکيلاتو مرستيال شو.**

**يو بل ځای کې کتونا ليکلي چې د قول اوردو قومندان بارکزی په جبهه کې د دښمن لخوا ووژل شو، دا منم چې جنرال بارکزی ښه محاربوي افسر وو خو د هغه د وژلو داستان داسې وو چې کله د ۱۱مې فرقې يو شمېر ټانکونو شاته تگ پيل کړ، د هوايي ډگر خوا ته راتلل، دې وخت کې جنرال بارکزی د خپل ياور سره په زرې پوش کې د سراچې پله ته ورغلی وو. جنرال بارکزي هڅه کوله چې د شاتگ مخه ونيسي خو چا د ده خبره نه اورېدله. د ده ياور ورته ويلي وه چې قومندان صاحب دښمن را نژدی شولو ټانکونو هم شاتگ وکړ. ده خپل ياور په تفنگچه ټپي کړی وو دده ياور دی سوری سوری کړ. همدا لامل وو چې د ده مرگ ډاکتر نجيب الله پټ کړ او د ياور درک مالوم نه شو. دا د واقعې رښتينی حال وو چې وليکل شو. کوچی ۲۰۱۷۰٤۲٤**

**د جلال آباد جنگ:**

**د افغانستان د پخواني حکومت د بهرنيو چارو وزير د افغانستان د خلق د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موکراتیک گوند د مشرتابه غړي عبدلوکیل لیکنه:**[1]

**ما د کتاب لیکونکي کله چی د عبدالوکیل د بهرنیو چارو د وزیر لیکنه دده په پنډ کتاب چې نوم یې دی «از پادشاهی مطلقه الی سقوط جمهوری دموکراتیک افغانستان» ولوست:**

**زما له آنده دا چې عبدالوکیل د هېواد د بهرني سیاست پالیسمیکر او د گوند له موهمو مشرانو څخه وو نو دده له لیکنې څخه ما د جلال اباد د خونړي جنگ په هکله د گوند او دولت د لوړ پوړي چارواکي لیکنه او ارزونه ولوستله، زما له نظره دا مالومات کاملاً یو طرف او نیمگړي دي، په حقیقت کې زیات کمزوري دي، غواړم ددې لوړ پوړي پخواني گوندي چارواکي پر لیکنه خپل د نظر ټکي په سمه توگه لوستونکو ته وړاندې کړم.**

**دغه مشر چارواکی دا جنگ چې یو سم اعیار شوی منظم د پاکستان د پوځ، استخباراتو، او د استخباراتو د مشر او اې ایس اې او سي اې په لارښونه او مرسته د ۲۵۰۰۰ زره مخالفینو لکه عربان، چیچنایان، خپله د پاکستان پوځ افغان جگړه مارو قوتونو څخه متشکل کړي وو. دې جنگ کې په زرگونو عامو خلکو، سرتېرو، افسرانو گوندي غړو خپل سرونه په دې تپل شوې کرغېړنه جگړه او دفاع کې قرباني کړل خو د بهرنیو چارو محترم وزیر عبدالوکیل په بریا کې یوازې د دفاع وزارت څخه د ستر درستیز محمد اصف دلاور «چې کله یې هم دلاوري نه ده په ازبات رسولې» او پیلوټ مصطفی اتلان ښودلي دي.**

**دا ځکه چې دا دواړه د وزیر صاحب د ډلې کسان دي په داسې حال کې چې د جلال اباد په جنگ کې ستر درستیز د دوه اونیو په تېرولو سره چې یو کمزوری مدیر وو، دده د کمزورې لارښوونې له امله دښمن زیات پرمختگونه درلودل، کله مرکز پر دې پوه شو چې دا ښاغلی جنگ باېلي، نو ژر یې مرکز ته وروغوښت، ده د هېڅ جنگي مدیریت توان او پوهه نه درلوده، د قولې اردو په قرارگاه کې ناست او د جنگ تماشا یې کوله، تر ده وړاندې محمد نبي عظیمي د دفاع وزارت لومړي مرستیال دنده اخېستې وه چې هغه تر ده بدتر یو ناکام**

---

[1]- ۱۹۸۹از کال ۴ د مارچ، ۵۹۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جنرال وو هغه هم کابل ته واستول شو.**

**د ننگرهار ولسونو، د گوند غړیو، د هغه وخت والي او گوندي منشي ماڼوکی منگل او نور ولایتي چارواکي ددې شاهد دی چې کله دا دواړه د کمزوري مدیریت خاوندان مرکز ته واستول شوه، پر ځای خپله د دفاع وزیر شهنواز تنی، جنرال ظاهر سوله مل د توچي عمومي قومندان، جنرال اسماعیل وردگ او نور راغله د جنگ ټول پلان او طرحه جوړه کړه، د ښار لپاره یې درې کمربندونه جوړ او له مرکز نه اکملات وشول، هوایي بریدونه او زمیني عملیات پیل او جنگ وگټل شو.**

**وزیر صاحب په نظامي جنرالانو کې نه یوازې بارکزي د قول اردو قوماندانان شهیدان شول بلکې د ۱۱مې فرقې ۸۰ تنه وتلي افسران د فرقې مرستیال، د توپچي غنډ قوماندان، د قول اردو مرستیال او د شینوارو گوندي منشي چې د گوند د رهبرۍ غړی وو، د شینوارو لوی ولسوالۍ د څارندوی قوماندان، د ننگرهار د څارندوی قوماندان، د ننگرهار د څارندوی سرمامور چنار گلد اوفراتیفي کنډک قوماندان، د کوز کنړ گوندي منشي او نور په سلگونو تنه شهیدان شول.**

**د ۱۱مې فرقې د رهبري مشران لکه قوماندان احسان، د محکمې رئیس، نظامي څارنوال او نور د جنگ د سختوالي له امله د جنگ له ډگره تښتېدلي وو خو تاسو ترې یادونه نه وه کړې. په هوایي بریدونو کې شیر زمین او مختار گل پیلوټان شهیدان شول او امین پیلوټ کتاپوټ وکړ په ټپي حالت کې نجات ور کړل شو چی بیا وروسته ورته ډاکتر نجیب الله اتلولي ورکړه، خو وزیر صاحب د هغه سربازانو او قوماندانانو نومونه ندي یاد کړي کوم چی شپه او ورځ د کابل جلال اباد لاره پرانیستې ساتله.**

**وزیر صاحب په لیکنه کې وایي چی د جلال آباد د جنگ د گټلو په هکله د افغانستان د هغه وخت مشر ډاکتر نجیب الله د شوروي مشرانو څخه مرسته غوښتې وه، ولې شورویانو مرسته ونه کړه.**

**زما په اند وزیر صاحب او ډاکتر نجیب الله په خپل وسلوال پوځ باور نه درلوده، دی زیاتوي چې ډاکتر نجیب الله د خپل ځان لپاره د گارد ۴۰ زریز ځواک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړ.

وزیر صاحب وایي ګارد په جلال آباد جنګ کې زیات او کارنده رول درلوده ولې زه وایم ګارد یوازې درېیمه لېوا راغلې وه، کانکترغې تپه ساتله، نور وسلوال ځواک لکه ملي اردو، ملي پولیسو، اتلو ګوندیانو د ټول ښار کمربند وساتلو او په مېړانه یې دفاع وکړه.

## د بهرنیو چارو مخکیني وزیر عبدالوکیل:

د خپلو لیکنو په بل ځای کې د دفاع وزیر شهنواز تڼي او د جمهور رئیس ډاکتر نجیب الله تر منځ ستونزه او د ۱۳٦۸ل کال د کب ۱٦ د پېښې په اړوند لیکي چې ما د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر شوردنازي سره خبرې وکړې چې د دفاع وزرات یو شمېر جنرالان چې شمېر یې «۷۰» تنه وو، د ملي امنیت لخوا نیول شوی پر دوی تور دی چې دا افسران د حزب اسلامي ګلبدین حکمتیار سره اړیکې لري، دا افراطي خلقیان غواړي چې پر ډاکتر نجیب الله کودتاه وکړي.

دی وایي چې د شوروي اتحاد دبهرنیو چارو وزیر سپارښتنه وکړه چې دا خو د اندېښنې وړ ده، ته باید ډاکتر نجیب الله ته ووایې دا د نیول شوو کسانو اسناد وګوري، که په ربښتیا شواهد موجود وي چې دوی له ګلبدین حکمتیار سره اړیکې لري؟ او که دا کار وشي بدې پایلې به ولري، دی زیاتوي چې ما د شورد نازي خبرې ډاکتر نجیب الله ته وکړې خو هغه اعتنا ونکړه، دومره یې وویل که بارفیق یعقوبی بګوید، زما په آند سمه خبره خو دا ده چې شورویانو هم د ډاکتر نجیب الله سره همغږي وو چې دوی پلان درلوده چې د ګوند تر منځ بی باوري پیدا شي ځکه شورویانو پلان دا وو چې د نجیب الله حکومت د مخالفینو سره ګډ حکومت جوړ کړي، اول باید د ګوند پای ولړزېږي، دوی دا کار وکړ.

کله چې د دفاع وزارت لوړ پوړي چارواکي ونیول شول، د دفاع وزیر شهنواز تڼي د جمهور رئیس نه وپوښتل چې زه د دفاع وزیر او د ګوند د بیرو غړی او د دفاع د شورا منشي یم، زه نه یم خبر، خو زما ۷۰ تنه افسران چې کلونه کلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انقلاب، خاورې او ولسونو په مېړانه دفاع کړې اوس په دې نوم چې دوی د حزب اسلامي حکمتیار سره اړیکي لري دا څه روان دي؟

جمهور رئیس ډاکټر نجیب الله په ځواب کې د دفاع وزیر ته وویل موږ کاپي اسناد لرو دا کار زما په امر شوی، د دفاع وزیر شهنواز تني دا ستونزې د شوروي سفیر او نورو سلا کارانو سره شریکې کړې، خو مثبته پایله یې ورنکړه هغه مجبور شو چې د ګوند نور مشرانو ته هم خپله ستونزه ووایي. د ګوند مشران لکه صالح محمد زېری، دستګیر پنجشېری، نیاز محمد مومند، نظر محمد د دفاع مخکینی وزیر، د ډاکټر نجیب الله سره لیدنه وکړه یوه ورځ ډاکټر صالح محمد زیري په دې اړه ماته په ۲۰۰۰ز کال کې په لندن کې وویل چې موږ څلور واړه د ډاکټر نجیب الله جمهور رئیس لیدو ته ولاړو، موږ ۴ ساعته هلته د سکرتر په دفتر کې معطل شو، کله چې د نجیب الله سره د خبرو وخت راکړل شو هغه لکه فرعون او موږ لکه دده دروازې ساتونکي برخورد وکړ، ویلی دا تنی ما وزیر کړ، سیاسي بیرو ته مې پورته کړ، تر ۱۳۵۸ل کال د مرغومي ٦ وروسته ما دا افسران زیاتره په ګوند شامل کړ، اوس د ملکې دعوا کوي، موږ په ځواب کې وویل ډاکټر صاحب د پهلوانۍ وخت نه دی، تاسو ملي روغه جوړه د هغه دښمن سره اعلان کړې چې د افغان ولس په وینو یې لاسونه تک سره دي، دا تنی هغه وزیر دی چې پرون یې د جلال اباد جنګ بري ته ورسولو، څو موده وړاندې د سټو کنډو خلاص کړ، په خوست کې د جلال الدین حقاني مرکزونه ړنګ کړه. بندیان خوشی کړه، وخت خورا حساس دی شوروي ځواکونه هم وتلي، مستقله دفاع یوازې نشې کولای، خو ده ونه منله، اسرار یې کاوه چې ورشي شهنواز ته ووایي چې د خپل سر یو نه تېر او تسلیم شي، د شوروي سفیر په ویساطت له بندیان څخه دوه تنه جنرالان را خوشی کړه، خو نور په خپل حال پاتې شو.

زما په اند خپله ډاکټر نجیب الله د کودتا پلان درلوده، په ۱۹۹٦ز کال کې ماته یو جنرال د فاروق په نوم په مسکو کې وویل چې زه د جمعه اخک سره په مزار کې رئیس ارکان وم او اخک د شمال د زون رئیس تنظیمه وو، جنرال فاروق وایي چې یوه شپه د اخک له خوا موږ ته وویل شو چې د تاشقرغان تنګي څخه تر سالنګو پورې امنیت ونیسي چې خورا مو همه دنده ده، دا وخت وو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**گارد قوتونو ټانگونه نه درلودل، مور د شپې پلان ونیوه د شپې د حیرتانو نه ۷۰ عدده ټ ۷۲ زرې دار ټانکونه را غلل، تر سالنگو مو ورتیر کړل نو جمهور رئیس نجیب الله مطمین شو او پر وزارت دفاع برید وکړ، ۲۴ تنه جنرالان او افسران په پوره بېرحمۍ ووژل، په سلگونو ملکي او نظامي گوندیان زنداني کړل، په زندانو کې شکنجې بې خوبي ور کړې. د څېړنو لاندې موحي الدین دالوتکو د اینجن بدن ډاکتر، خلیل کوهستانی د ښوونی او روزنې وزارت مرستیال د گوند د مشرتابه غړي ووژل شول.**

**د عبدالوکیل د لیکنو په اساس د خلقیانو او پر چمیانو تر مېنځ بی باوري او مخالفت وټوکېده، لاملونه خورا زیات وو، دی وایي چې د شهنواز تنې د موقف نه نورو خلقي مشرانو سو استفاده وکړه.**

**خو زما له نظره دا سمه او ریالستیک قضاوت نه دی چی محترم وکیل د بهرنیو چارو وزیر او د وطن د گوند د سیاسي بیرو غړي کړې ده، هم په خپلو لیکنو کې د خپل طرف تله درنه او د ملامتۍ بار پر بل لوري اچولی دی. زما په اند د خلق او پرچم ترمېنځ په طول د مبارزې کې په رښتینې توگه یووالی نه وو، په ۱۳۴۳ل کال د مرغومي ۱۱مه د گوند د جوړېدو بنسټ کېښودل شو. په ۱۳۴٦ گوند سره جلا په ۱۳۵٦ل کال بیا د یووالي سند لاس لیک خو تر ۱۳۵۷ل کال د غوایي د ۷ می نه کم وخت وروسته د سیاسي واک د ویش پر سر یوالی وشوړېده، که څه هم ددې کار ستر لامل حفیظ الله امین په گوته کېږي، خو تر ۱۳۵۸ل کال د مرغومي تر ٦ مې وروسته بیا بې باوري پټ پټانی تر بل هر وخت زیات وو چې روسي سلاکاران هم د اختلاف اصلي مورې وې.**

**د شهنواز تنې او یا په کل کې د خلقیانو وړاندیزونه کوم وو؟**

**اول: ۲٦ کاله وشو چې یو سیاسي گوند د خپلو کارونو د ارزونې او راتلونکو تگلارو د سمون په خاطر د یوې کنگرې غوښتنه کوي، په داسی حال کې چې همدغه گوند سیاسي واکمني هم ولري، ولې ددې وړاندیز نه ویره لري چې که کنگره راوبلل شي شاید د گوند زیاتره غړي خپل گوندي او دولتي مقامونه د لاسه ورکړي ځکه د کنگرې اصلي موخه همدا وي چې په گوندي تېر تاریخ د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو په کړو وړو بحث وشي، نا مطلوب کسان چې د ولسونو او ملي منافعو خلاف عملونه یې کړي وي، حساب ورکړي د ګوند له لیکو وشړل شي او درنه سزا ورکړل شي.

دویم: ټول هغه ګوندي افسران او نور زندانیان چې بېدون له کوم جرم کولو نه پرته زنداني شوي خوشې شي، ځکه چې دا یوازې د خلقیانو د کمزوري کولو په خاطر بند خونه کې اچول شوي دي.

دریم: د وطن خاورې خپلواکي د سرحدونو ساتنه او دفاع یوازې د ملي اردو دنده ده، ۴۰ زریز ګارد هغه هم د شخص په خدمت کې ګارد چې تر یو وزیر امتیاز زیات وي د کومې موخې لپاره جوړ شوی که باور وي نو بیا جلا دومره ستر ګارد ولې جوړېږي، باید ګارد د دفاع وزارت پورې وتړل شي جمهور رئیس کولای شي د تنې پر ځای د خپلې خوښې کس د دفاع وزیر کړي خو د ډاکتر نجیب الله د باور کولو روحیه ختمه وه.

څلورم: د دښمن سره روغه کېږي ولې ګوند کې د سموني پر ځای وراني رامنځ ته کول د څه لپاره؟

پېنځم: په دولتي چوکاټ کې د نامطلوبو کسانو د مخنیوي لپاره کوټلي ګامونو اخېستل. دا وړاندیزونه محترم وزیر صاحب دا ډول ارزولي چې د خلقیانو ګویا مقامونه غوښتل، افراطیت ته یې لمن وهله، پر نجیب الله کودتاه کوله. نو همدا لاملونه وو چې په ګوند کې داسې کسانو ځای ونیو چې ګوندي توکړې توکړې کړ د ګوند حاکمیت ته د پای ټکی کېښود او خپله ډاکتر نجیب الله سرنوشت ورمالوم کړ، د بېلګې په توګه فرید مزدک د وطن د ګوند د سیاسي بیرو غړی او د لوی څوکۍ خاوند چې دوه کاله وړاندې بي بي سي خبریال ته څه ګل پشاني وکړه چې وزیر صاحب پرې خبر وي.

د بهرنیو چارو د وزیر صاحب د لیکنو پوره جوته کېږي چې ډاکتر نجیب الله د شورویانو هر ډول امر قومنده منله، شورویانو هم غوښتل چې ټول ګوندیانو حکومتي واک باید له ډاکتر نجیب الله سره وي. خو کله چې د شورویانو د پلان له مخې د روغې جوړې سیاست اعلان شو بیا نو شورویانو ویل چې واک باید وویشل شي یانې مخالفینو ته هم په واک کې ونډه ورکړل شي. خو وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صاحب ليکي چې ډاکتر نجيب الله د واک ويش ته حاضر نه وو، دا په ازبات رسېدلی وو چې ده روغه نه غوښته، خو د شورويانو په مرسته ټول واک تر لاسه کړو.[1]**

**کومه لويه جرگه چې په ۱۹۷۸ل کال د جون په ۲۸ او ۲۹ مه جوړه شوه د شورويانو په مرسته د ۵ کلونو لپاره ډاکتر نجيب الله واکمن جمهور رئيس شو.**

## د گوند دويمه کنگره:

**۱۳۶۹ل کال د چنگاښ ٦ او۷ مه**

**مخکې تر کنگرې د گوند سياسي بيرو د پرېکړې له مخې په گوند کې بايد ټول پوښتنه وشي چې څومره گونديان کنگره غواړي او څو فيصده يې نه غواړي، دا هغه وخت وو چې لا د ۱۳٦۸ل کال د کب ١٦ مه پېښه نه وه شوې، په ټول پوښتنه کې مالومه شوه چې ٦۰ فيصده گونديانو کنگره غوښتله خو د گوند مشرتوب دې ته حاضر نه شو هغه وخت دا پر ماشي کنگره را وبلل شوه چې د گوند اکثريت يا زنداني شول يا له گوند نه په غياب کې وايستل شو يا پټ شول يا فرار او شهيدان شول. د دويمې کنگرې يوه بېلگه وړاندې کوم وايي چې بصير رنجبر وړانديز وکړ چې په کنگره کې رايې سري او مستقيمې وي چې د نورو د قهر او غوسې سره مخ شولو ياني علني رايې ورکړل شوې چې هيڅا د مخالفت جرت نه درلوده دا وه يوه دموکراتيکه کنگره.[2]**

**نو وزير صاحب که په رښتيا په گوند کې دموکراسي وی انتقاد يا وړانديز منل کېده، گوندي اصول مراعات کېدل، ستاسو د وينا په اساس خلقيانو خو امتياز غوښتنه کوله، افراطي ول دا بل اړ چې تاسو او ډاکتر نجيب الله هم برخه وي ولې توکړې توکړې شوی محمد بريالی مو ولی بند خونې ته واچوه، رزمجو، راتبزاد له سياسي دفتره وشړل، سلطان علي کشتمند د سياسي بيرو غړي استفا وکړه او نورې بلاوې را وتوکېدلی په شمال کې د مليشو ياغيتوب د محمد نبي**

[1]- ٦۲۹مخ
[2] -٦۳۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عظمي د کار پایله د ډاکتر نجیب الله تګ له هیواده بهر او ۵ کاله د ملګرو ملتونو دفتر کې پاتې کېدل او په پایله کې په خورا بد شکل وژل کېدل، دا ټول څه مانا درلودی شي؟ ملامت او سلامت مالوم نه شو، تاسو خپله په ۴۰ فرقه کې ۱۳۷۱ل کال دوري ۲۹ مه د شمال ټلوالې احمد شاه مسعود، جنرال دوستم، سید منصور نادري سره لیدنه او د جبل سراج سند لاسلیک او د حاکمیت ته د پای ټکی کېښود، د ٦۰ زره بې دفاع کابلیانو د شهادت مسول به څوک وي؟
۱۳٦۹ل کال د تلې په ۹مه د خوست ولایت له لاسه ورکول، هغه خوست چې د ۱۳۵۷ل کال نه تر ۱۳٦۹ل کال پورې ټول ولس، وسلوال پوځ د شوروي اتحاد د پوځ په غیر د خوست دفاع وکړه، ولې کله چې باور ختم شي بیا هر څه ختمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کنړ ولایت

## د ښکلي کنړ ولایت اړوند مالومات:

د کنړ ولایت د ۱۴ ولسوالیو په درلودلو سره د افغانستان په ختیځه برخه کې موقعیت لري. دا ولایت له گاونډي پاکستان سره په پوله پروت دی. منځی (مرکز) یې د اسد اباد ښار گوڼی دی او د ولسوالیو نومونه یې په لاندې ډول دي.

د مرورې ولسوالي

د وټه پور ولسوالي

د پیچ درې ولسوالي

د نرنگ ولسوالي

د سرکاڼو ولسوالي

د دانگام ولسوالي

د اسمار ولسوالي

د شیگل ولسوالي

د چپې درې ولسوالي

د نور گل ولسوالي

د څوکۍ ولسوالي

د خاص کنړ ولسوالي

د ناړي ولسوالي

د غازي آباد ولسوالي

کونړ د پخوانیو مورخانو په اثارو کې کنړ، کنیر، کهویس(Khoes)، (کونرkunar)، کولو، کونړ او داسې نورو په نومونو راغلي دي. کونړ (کونر konar) په شکل له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی چې نورستانیانو ورته کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه او په نورستاني لهجه یې مانا(د ښوونه دره) یا زیتون دره ده. په دې نوم کې هم د نورو نورستاني کلمو او نومونو په شان چې په نورو ژبو کې یې(له)، (په)(ړ) اوښتلي بدلون راغلی دی او په کونړ یې شهرت پیدا کړی دی.
د تاریخي اسنادو ځینې نور شواهد داسې ښیي چې ډېر پخوا د کنړ دره له غرونو څخه نیولی ان د کنړ د سیند د غاړو پورې په ګڼو ځنګلونو پټه وه، چې زیاتره بوټي یې، ښونان او غوزاځکي وو. د دې ډولونو د موجودیت د ازبات لپاره به دا کافي وي چې وویل شي، کله چې سلطان محمود غزنوي د لومړي ځل لپاره د اسلامي فتوحاتو په لړ کې د کونړ د درې په خوله کې د کابل له سیند څخه راپورېواته، د نور او قیرات په درو یې حملې کولې نو یې د خپل لښکر سره د نجارانو، آهنګرانو، سنګ تراشانو او نور کسبګرانو ډلې هم را واخستلې ترڅو چې د ځنګل ونې او بوټې ووهي، تیرې ماتې کړي او د خپل لښکر د پرمختګ لپاره لاره جوړه کړي.
د یو بل مستند دلیل له مخې چې د دغو دوو ډولونو عمومیت ته مصداق ورکوي هغه دا دي: کله چې د کونړ د ناوې د ښکتنیو او هوارو برخو پخواني کورونه وکتل شي د هغوي د کوټو په چتونو کې د ډاګو (دستک) د پاسه د دړو پرځای د ښونانو او غوزاځکو لښتي اچول شي دي چې پورتني دواړه تاریخي او عیني شواهد په دې دلالت کوي چې په ربتیا سره په پخوانیو زمانو کې د کونړ دره په تېره بیا د کونړ د سیند د شمال شاوخوا په ځنګلونو پټه او زیاتره ونې یې همدغه ښونان او غوزاځکي وه.
زما د یادو خبره ده چې زموږ د سیمې (نرنګ) د غرونو لمنې ان تر سمې پورې د ښونانو او څېړیو او نورو ونو پټې وي، نو ځای یې درلود چې نورستانیانو هغه د ښوونو په نامه یاده کړې ده. همدا راز (کو) د اوبو، څاه او رود په مانا دي لکه، چې همدا اوس موږ په ورځنیو محاورو کې کوهې زیات کارېږي، نو چې داسې ده د کونړ یانې د اوبو او رود دره او که تاریخي اسنادو ته مراجعه وشي په عمومي صورت سره کونړ دومره شهرت نه لري لکه چې په لرغونو اثارو کې د کونړ سیند (راساRasa) یې لري. نو دا هم پوره ممکنه ده چې د کونړ دا مانا به واقعیت ولرلی شي چې د سیند او اوبو دره یې وبولو، ځکه که اوبه یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودلی او وچ خوړ وی نو ممکن بیا یې دغسې مانا نه شوه ورکولی.
د پوهاند عبدالحی حبیبي د پنځوسو مقالو د پسوندونو په یوه برخه کې داسې راغلي دي:
کونار یانې کونار چې جمله یې داسې په قوس کې لیکلی شوې ده (رود دره کاغان شرقي پکهلي ضلع هزاره) دلته مطلب د کونړ څخه دی چې په نوموړي اثر کې د اوبو او رود په مانا استعمال شوي دي.
د پورتنیو څېړنو او تحقیقونو څخه دا جوتېږي چې د کونړ لفظ د لیکنې سره باید تر(ک) وروسته (و) ولیکل شي نه دا چې د کونړ لفظ د لیکنې څخه (و) وایستل شي.
ځینې وخت لیدل کېږي، د کونړ د جمع شکل (کنړونه) لیکل کېږي، په دې شکل د کونړ لیکل که مفرد وي کنړ او که جمع وي کنړونه دواړه شکله بېخي غلط دي. دا چې ولې داسي لیکل کېږي زما په نظر څه رنګه چې په کونړ کې په رسمي دفترونو کې ټول مراسلات او مکتوبونه په دري و یانې په خپله د کونړ دفتري ژبه دري وه نو دا ده چې د کنړ د کلمې پرځای د سهولت له مخې یې په کنر انتقال کړی، بیا دغه کنر کنرها شوي او وروسته ترې د جمعې حالت په پښتو کنړونه جوړ شوی دی. پرته له دې بله کومه تاریخي ریښه نشي لرلای.
دا چې په مخکېنۍ برخه کې ولیکل شو، چې کنړ ته کنر هم وایي د کونړ د نوم دا شکل هم یوې خواته د حدود العالم د اشارې له مخې چې کنر یې ورته ویلي دي او د بلې خوا نه د خاص کونړ ختیزې خوا ته یوکلی د تنر په نوم شته دی. که د هغه کلي د نوم سره د مقایسې له مخې وویل شي نو ممکن هغه ( ته نر) وي او که د رون ته. [1]

## جغرافیاوي او قومي جوړښت:

د کونړ ولایت د افغانستان په ختیځ کې پروت دی چې شمال ته یې د نورستان، سهیل ته یې د ننګرهار، لویدیځ ته یې د لغمان ولایتونه پراته دي. په ختیځ کې

[1]- د معلوماتو سرچینه: ویکیپیډیا کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیبر پښتونخوا سره ۱۷۵ کیلو متره ګډه پوله ویشي. د کونړ ولایت یو غرنی ولایت دی چې څه دپاسه ۴۵۰۰ کیلو متره مربع مساحت لري.

## د کونړ میشت قومونه:

۱ ـ الکوزي: الکوزي سړبني پښتانه دي او د دانیو زیرک پورې اړه لري او د کونړ په سر کاڼو کې وجود لري.

۲ ـ ترکلاني: دا قبیله د سړبن په ټولنیز ګروپ پورې اړه لري او په کونړ کې شته دی.

۳ ـ سالارزي: سالارزي د پورتنۍ قبیلې یو ښاخ دی او د کونړ په لاندنیو سیمو کې ژوند کوي.

د انګام، اسمار، شنګړی، شالی(شال)، ناړی، بریکوټ، دم کلی، نرنګ، سرکاڼو، ګنجګل، ټانکو، شولتن(شلتن)، مروره، اغذ باغ، ساو، ساوخوړ، څوکی، بارګام، ازیرګل، ډمبرو، حصاره (ایساره) کرهاله، دونه یې.

۴ ـ خانښي خېل: خانښي خېل یا خوښي خېل د کونړ په ځینو ځایونو کې استوګنه لري چې په یو روایت سره د مرزا الغ بېګ په وخت کې کونړ ته لېږدېدلي دي.

۵ ـ سرکاني: دا د الکوزیو یو ښاخ دی چې د کونړ په سر کاڼو کې اوسېږي او د نوم د مناسبت له مخې د سرکنډ کلی هم د دې قبیلې یو کلی دی.

٦ ـ شینواري: د شیګل شینواري تقریباً ۳۰۰۰ کاله د مخه د ځینو عواملو له کبله د سره کمر له خوا نه تللي دي او د شیګل ځمکه یې له نورو قومونو څخه چې په هغه وخت کې کافران وو نیولې وه، شیګل ته د شینوارو راتګ او د نورو قومونو څخه د شیګل نیول د شیخ بابا په مشرۍ چې اصلي نوم یې (ذکریا) صورت موندلی دی.

۷ ـ ادریم زي (عبدالرحیم زي): دا قبیله د غلجیو په ټولنیز ګروپ کې شامله ده او د احمد زیو یو ښاخ دی او د کونړ په ښېوه کې اوسېږي.

۸ ـ لودین: دوي غرښتي پښتانه دي او په کونړ کې هستوګنه (استوګنه) لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹ ـ ماموند:** دوي د سړبن په ټولنيز ګروپ کې شمېرل کېږي او د ښاخي خېلو د ترکانې په قبيلې پورې اړه لري. دوه ماموند وجود لري: لومړی ماموند (کاکازي) واړه ماموند د وړو ماموندو ځينې خېلونه په شوړتن(شلتن)، دانګام او په وټه پور کې مېشت دي.

**۱۰ ـ مشوانې:** مشوانې په اصل کې غرغښتي پښتانه دي، دوي د کونړ په ناړی، دانګام او اسمار کې اوسېږي.

**۱۱ ـ ملکزي:** په کونړ او د نرنګ په جار قلعه کې هستوګنه لري.

**۱۲ ـ ملاګوري:** سړبني پښتانه دي او د مومندو په سترې قبيلې پورې اړه لري، د ملا ګورو کورنۍ د درې په ملاګورې او د نرنګ د کوټکې په کلي کې اوسېږي.

**۱۳ ـ مومند:** مومند د سړبن په ټولنيز ګروپ کې يوه ستره قبيله ده چې د کونړ ولايت په اسد آباد، خاص کونړ، سرکانو، نورګل او نرنګ کې اوسېږي.

**۱۴ ـ يوسفزي:** يوسفزي هم په کونړ کې هستوګنه لري او يو لوی پښتون ټبر دی.

**۱۵ ـ بزرګخېل:** بزرګخېل يوه لويه قبيله ده چې د کونړ په نرنګونو لکه بر نرنګ، کوډو، کړه مار او په يوه روايت سره په کوټکي او حکيم آباد (کولي ګرام) او د څوکی په کلماني کې هستوګنه لري.

**۱٦ ـ ساپي:** (صافي) د زياتره تاريخي اسنادو له مخې د ساپي قوم چې په کونړ کې مېشت دي يو لوی قوم شمېرل کېږي چې په لومړي سر کې د غوړې مرۍ څخه سره کمر ته رالېږدېدلي دي او بيا له دې ځايه د شونکړی له غاښې کونړ ته اوښتلي. لومړی يې بهر آباد او بيا يې له مجبوريته د کونړ سين ښکته او پورته برخو ته د هغو ځايونو د قومي قدرت په وجه نفوذ نه دی کړی. له سين څخه دېوګل ته راغلي او هلته استوګن شول او په دې پراخه دره کې يې لوی مرکزيت پيدا کړ او بيا د مزار درې، باډېل درې او پېچ درې له سرونو څخه د درو د خولو پورې را خپاره شول.

**۱۷- سادات** په کونړ کې زيات شمېر د سيّدانو کورنۍ موجودې دي، د دې سيدانو عمومي لوی کلی پشات (پشت) دی چې سيّد محمود پاچا هم دلته اوسېده. په دې برسېره د کونړ په ځينو نورو سيمو لکه مزار دره، شال، بر نرنګ، شين کوړک، دوشاخېلو، يارګل، خاص کونړ، کوز نرنګ او نورو ځايونو کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیّدانو (پاچاهانو) کورنۍ مو جودې دي.
۱۸- موسی خېل هم په کونړ کې اوسېږي.

## د وګړو شمیر:

کونړ د افغانستان د پر نفوسو ولا یاتو څخه دی او تقریباً ۵۰۰۰۰۰ اوسیدونکي لري، چې اکثره یې په کلیو او باندېو کې مېشت دي. د کونړ ۹۵٪ په سلنه کې پښتانه او نور ۵٪ نورستانیان او پشه یان دي.

## استحکامي کلاګانې:

د کونړ اوسیدونکي د خپلو مېشته کېدو له وخته راهیسې لکه د هېواد د نورو قومونو او قبیلو غوندې همېشه په دې فکر کې وو، چې د سیمې په یوه داسې محل یا ځای کې د خپلې استوګنې لپاره کلي او کلاګانې آبادې کړي چې د جغرافیاوي موقعیت له مخې د لاندنیو مشخصاتو درلودونکي وي:
د سیمې په هسې یو محل کې واقع وي چې په شاوخوا سیمو باندې د یوې حاکمې نقطې حیثیت ولري.
د استحکامي پوخوالي له مخې پوره طبیعي عوارض ولري، یانې په جګو غونډیو او ځایونو پرتې وي او په ډېر محدود جنګي قدرت یې دفاع وشي او د پردیو حملې پرې دومره موثرې تمامې نه شي.
معمولاً د کلاګانو موقعیت د څلورو لارو، درې لارو د تلاقي په نقطو کې او یا د عمومي لارو پر سر وي. د اوبو رسولو منابع لکه رودونه او چینې ورته نژدې وي او یا په دننه کې هم د اوبو دغه منابع ولري. د هغو د ودانولو په چارو کې تر ممکنه حده پورې د ساختماني موادو اکمال ډېرې ستونزې ونه لري. که د کونړ پخوانیو کلاګانو جوړښت ته وکتل شي تر ډېره حده پورې د جغرافیایي موقعیت په اعتبار په کې پورتنۍ ځانګړتیاوې په نظر کې نیول شوي دي.

## د چغان غونډۍ:

د چغان غونډۍ کلا چې معمولاً ورته د چغان غونډۍ وایي له پخوا زمانې نه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه پورې د یوې کلکې دفاعي کلا، د کشف او تر صد لپاره ډېر مناسب محل ګڼل کېږي چې شاوخوا سیمې ترې په ډېرې آسانۍ سره تر کنټرول لاندې نیول کېدلی شي.
د چغان غونډۍ د اسمار او پیچ درې او د کونړ د ښکتنۍ برخې د تلاقي او د لوی سین او پیچ سین د یو ځای کېدو په برخه کې موقعیت لري.
د چغان غونډۍ د لاندې چې یو وخت د نیسا ښار موقعیت درلود او یا ننګرهار هم دلته پروت و د لا وضاحت لپاره دغه غونډۍ د دمکلي مخامخ د کرهالې شمال شرق خوا ته د غره د لمنې په یوه جګه غونډۍ جوړه شوې ده. دا کلا او محل هغه وخت په چغان غونډۍ ونومول شوه چې دلته په دې سیمه کې د جغانیانو حکمراني وه او د چنګېز د اولادې د چغتایانو په وخت کې د دې ځای د تسمیې د وجې په نسبت، دومره مستنده نه ښکاري او امکان لري چې په چغسرای د دمکلي اړول به د جغتایانو په وخت صورت موندلی وي نه د چغان غونډۍ، ځکه چغانیان له جغتایانو څخه بېل خلک وو.

## د کلوم کلا:

د کلوم کلا چې د کولم، کالم، کلم او د قلوم په نوم هم یاده شوې ده، د مرکزي نورستان د پیچ درې په وروستۍ برخه کې پوشال، رمګل او مندوګل ته نژدې په ناجل کې د غره په جګه څوکه باندې له تیږو څخه جوړه شوې ده چې ډېره کلکه کلا ده. په تاریخي اسنادو کې چې د دې کلا څخه یادونه شوې ده هغه د امیر تیمور او د امیر عبدالرحمن د هغو لښکر کشیو د واقعاتو بیان دی چې په نورستان یې کړي دي.
ګوډ تیمور کله چې د کتور په درو کې لښکر کشي وکړه او هغه کلا یې له ډېرو ستونزو او قربانیو ورکولو وروسته فتح کړه نو د خپلې فتحې په یاد یې هلته یو یادګار پرېښود، دغه یادګار د کلوم د کتیبې په نوم یادېږي.

## د پیار کلا:

د پیار کلا چې د لویدیز نورستان ژونیا ته نژدې موقعیت درلود د کتور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورستانیانو د پخو کلاګانو څخه یوه کلا ده چې د هغې د نیولو واقعه داسې بیان شوې ده:

"کله چې د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې په کونړ کې د پوځي سوقیاتو په ترڅ کې سپهسالار غلام حیدر خان ته امر وشو چې نورستان ونیسي نو د لغمان حاکم اولیاقل چې د پیار د خلکو په تنبیه کولو اخته و، د جګړې نیت وکړ. د سراج التواریخ په قول په ۳۲ دقیقو(د سرعت عمل څخه مراد دی) په موده کې یې د کافرانو قوت مات کړ او ځینو یې غرونو ته پناه یووړله او له دې جملې څخه ۱۸۰ تنو چې د پیار په کلا کې یې ځای نیولی و کلا بند کړل، دوه شپې او ورځې کلا محاصره وه او کله چې ورته د اولیاقل په امر اور واچول شو وسوزول شوه او کلا ونیول شوه."

## د کټار کلا:

دا کلا د کتر کلا په نوم چې د کتر یا کتور د قبیلې پورې اړه درلوده، د یوې کورنۍ ځای و او بل تاریخي نوم یې (پریچ ورن دیش) دی او په پر چغسراي کې یوه ډېره ټینګه او لوړه کلا وه، چې د شامیر کوټ شمال لویدیځ خوا ته د یوه غره په لمن کې تر کتر (کتور) او ګمبیر رابښکته موقعیت لري. زموږ د پخوانیو خلکو له خولې چې نقل یې کاوه، د دغه کلا خلک ډېر سنګدله او بېرحمه کافران وه. کله چې د هغوی د مسلمان کولو په مقصد لښکر وشو، په دې لښکر کې د نرنګ خلک هم شامل وو. خو دا کلا د کافرانو له خوا د ډېر سخت مقاومت سره مخامخ شوه او هېچا نه شو کولی چې کلا ته ور وخېژي، دا ځکه چې هغوی پرې له پاسه تیږې راکولولې. اما په یوه ډول جنګي تکتیک سره وروختل او کلا ته یې اور واچوه. څرنګه چې د کلا په ساختمان کې زیاتره لرګي کارول شوي وو، نو کلا په آسانۍ سره اور واخېست او د کټار کافران غرونو ته وختل.

دمخه وویل شول چې دوي ډېر سخت زړي کافران وو، نو د دوی د ظلمونو او کلک زړه توب کیسې زموږ د پخوانیو خلکو په کلتور او ورځنۍ محاوره کې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننه روج لري، د مثال په توګه که څوک په چا ډېر ظلم وکړي کوم چې د هېڅ عاطفې نښه په کې نه وي، نو ويل کېږي «داسې کار د کټار کافر هم نه کوي»، او يا د مخاطب په شکل ويل کېږي «څه د کټار کافر خو نه يې» او يا که چېرته کومه غوا شيدو ورکولو ته نه ودرېږي نو ويل کېږي «دغه غوا کټاره ده.»

## کونړ د تاريخ په اوږدو کې:

د کونړ ولايت د لوی افغانستان له لرغونو ولايتونو څخه دی چې ډېرې طبيعي شتمنۍ، ځپاند سيندونه او هسک هسک غرونه لري چې په ځنګلونو پوښل شوي دي. کونړ د افغانستان په تاريخ کې ډېر وياړونه لري، د بېلګې په توګه مقدوني سکندر ته په هېواد او اسلام مېينو کونړيانو په اسمار کې نه هېرېدونکې او تاريخي ماتې ورکړه.

دغه راز د اتلسمې پېړۍ په پای او د نولسمې پېړۍ په پيل کې کونړيانو د انګرېزي ښکېلاک ګرو پر وړاندې عملي مبارزې کړي. د کونړ باتورو مجاهدينو تل په کوزه پښتونخوا کې هم په دغه ښکېلاک ګرو يرغلونه کړي دي، چې په مقابل کې يې انګرېزي ښکېلاکګر کراري ته نه دي پرېښي. هغوي تل د کونړ قامي مشرانو د ځپلو او له منځه وړلو په منظور د خپلو جاسوسي شبکو په وسيله رنګ رنګ دسيسې او توطيې په کار اچولې او عملي کړې.

د تاريخي کره معلوماتو له مخې کونړی علامه سيد جمال الدين افغان د دغه افغان دښمنو د ناولو نيتونو او زورونو له امله خپل پلرنی ټاټوبی پرېښودو ته اړ شو. علامه سيد جمال الدين افغان د افغانستان هغه ځلانده ځېره ده، چې ټوله اسلامي او انساني نړۍ يې په نوم وياړ کوي. ځکه علامه سيد جمال الدين افغان د اسلامي امت د نجات او يووالي لپاره عملي پلانونه ترلاس لاندې لرل. علامه افغان تل هڅه کوله، چې ټول اسلامي امت يو موټی کړي، علامه د بهرنيو او کورنيو ښکېلاک ګرو او مستبيدينو په وړاندې تل په افغاني او اسلامي جرات ولاړ و.

کونړيان له وطن، اسلام او خپلواکۍ سره زياته مينه لري، تل يې د هېواد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادۍ او خپلواکۍ د مبارزې او جګړې ډګر ته لومړی وردانګلي دي.
په کونړ کې که څه هم مختلف توکمونه لکه: مومند، ماموند، سالارزي، ساپي، مشوانی، کوهستاني، گوجر او داسې نور اوسېږي، خو دې ورونو قامونو تل د تاریخ په اوږدو کې د وروروليٰ ګډ ژوند کړی دی او د هېواد او اسلام د دښمنانو پر ضد په ګډ سنګر کې جنګېدلي دي. کونړيان په پښتني دودونو میین دي، پښتو او پښتونولۍ يې په وينو او رګونو کې ځای نيولی دی. که څه هم کونړيانو په هر مهال د هېواد لپاره ډېرې قرباني ورکړې دي، خو په خواشينۍ سره بايد وويل شي، چې په افغانستان کې حاکمو رژیمونو هېڅکله هم د کونړ ولايت د ابادۍ او پرمختګ او د کونړيانو د سوکالۍ لپاره هېڅ ډول اغېزمن کارونه سرته نه دي رسولي، بلکې کونړيان يې ځپلي او په ډله ييزه او انفرادي توګه وژلي او په شهادت رسولي دي، چې د ۱۳۵۸م کال د وري د ۳۱ نېټې د کونړ ولايت د اسد اباد پورې تړلی د کرالې د بې ګناه خلکو په شهادت رسول يې ښکاره بېلګه ده.
د کونړ ځنګلونه د ټول افغانستان د ځنګلونو په سلو کې (۷۲) برخه جوړوي، چې په دې وروستيو کې دغه ځنګلونه د ځنګلونو د مافيا او د افغانستان د خلکو د سوکالۍ او ابادۍ د دښمنانو لخوا په ډېره ظالمانه او بې رحمانه توګه غوڅ او بهرنيو هېوادونو ته قاچاق شوي، چې د ځنګلونو د خرڅلاو په سلو کې يو هم د کونړ او کونړيانو په ګټه نه دي لګول شوي. کونړ پر ځنګلونو سربېره ډېر زيات کانونه او آن يورانيم لري، چې ټولې طبيعي زېرمې هم په افغانستان باندې د مسلطې مافيا له خوا په غېر فني توګه وېستل کېږي او له هېواد څخه بهر ته قاچاق او پلورل کېږي.
دغه راز د کونړ سيند هم په افغانستان او سيمه کې ډېر شهرت لري، که د کونړ د سيند له اوبو څخه د ځمکو د خړوبولو او د اوبو برېښنا بندونو له پاره ګټه واخېستل شي، داسې لوی او ګټور بندونه پرې جوړېدلی شي، چې ساری به يې په سيمه کې نه وي.
د پورتنيو لنډو يادونو څخه موخه دا ده، چې کونړ ډېرې زياتې طبيعي شتمنۍ او زيرمې لري، که پاملرنه ورته وشي نو د يوې خوا به وزګار کونړيانو ته کار پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شي، له بلې خوا به کونړ اباد شي او ټول افغانستان ته به یې ګټه ورسېږي.**

## د چارو د سرته رسولو لپاره لاندیني ټکي اړین برېښي:

**الف: د کونړ په سیند د برېښنا د بندونو جوړول او په ځانګړې توګه د ارواښاد داود خان د واکمنۍ د وخت د اسمار د سور طاق د برېښنا د پروژې عملي کول، چې پر ۱۳۵۸ل کال یې په عملي کولو پیل کېده. له بده مرغه د ۱۳۵۷ل کال د غویي د بدلون له امله یې عملي بڼه غوره نه کړه.**

**ب: د کونړ د سمسورتیا او د کونړ له ځنګلونو څخه د اغېزمنې او پرځای ګټې اخېستنې لپاره د ارواښاد داود خان د مهال د کونړ د پراختیا د پروژې بیا فعالول.**

**ج: د کونړ د لرګیو د اغېزمنې ګټې اخېستلو په منظور د څوکۍ په ولسوالۍ کې د کاغذ جوړولو د فابریکې، چې ماشینونه او نور وسایل یې پر ۱۹۹۲ع کال کې د تش په نامه اسلامي تنظیمونو له خوا د نورو ملي شتمنیو په څېر لوټ او تالا شوي او ودانۍ یې زورورو لاندې کړي، بیا ژوندي کول.**

**د: څرنګه چې د کونړ سیند هر کال په زرګونه جریبه ځمکې ته زیان رسوي، د دې زیان د مخنیوي لپاره اړینه ده، چې د کونړ سیند دواړو لورو ته استنادي دېوالونه جوړ شي.**

**و: څرنګه چې د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې په ټول افغانستان کې د متوازن لګښت تاکید شوی، د دې لپاره چې د اساسي قانون دغه ماده په ښه توګه پلي او عملي شي، وړاندیز دی چې په کونړ کې دې د مسلکي لوړو زده کړو عالي مؤسسې او پوهنتون جوړ شي، ترڅو د کونړیانو بچي هم د هېواد د نورو ولایتونو په څېر د لوړو زده کړو څخه برخمن شي.**

**په پای کې د کونړ ولایت او د افغانستان واکمنو پاملرنه د پورتنیو وړاندیزونو پلي کولو ته راګرځوو او په کونړیانو غږ کوم، چې حق اخیستل کېږي، بښل کېږي نه! نو تاسو هم هوښیار او رابېدار شئ او د خپلو روا حقوقو ټینګه او پرله پسې غوښتنه وکړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لغمان ولايت پېژندنه

لغمان د افغانستان يو له ختيځو ولايتونو څخه دی، دا ولايت په ۱۳۴۳لمريز کال کې تاسيس شوی دی، مرکز يې د مهترلام ښار دی.
لغمان ولايت ۳۸۴۳ کيلو متره مربع مساحت لري، د ۲۰۰۹ کال د سرشمېرنې له مخې، د دې ولايت نفوس ٤۳۵ زره تنه اټکل شوی او د بحر له سطحې څخه ۷۷۲ متره لوړ دی.
په دې ولايت کې پښتانه، تاجک او پشه يي مېشت دي، د وروستيو شمېرنو له مخې، پښتانه په کې ۵۸ سلنه، تاجک او پشه يي ۲۱، ۲۱ سلنه دي.
په دې ولايت کې ډېرى قبيلې د پښتنو دي، د بېلگې په توگه ساپي، سهاک، هوت خېل، خروټي، الکوزي، تره خېل، رستم خېل، مېچن خېل، اکاخېل، نيازي او وردگ دي.
لغمان د هندوکش غرونو په لمنه کې د کابل سيند تر غاړې پروت دی، د الينگار او اليشنگ سيندونو يې ښکلا نوره هم زياته کړې ده.
د لغمان ولايت ټول کلي تقريباً (٦۴۰) دي. يو مهال د الينايانو له مربوطاتو څخه و او همدا شان بودايي مدنيت د دې سيمې مرکزيت بلل شوی او د اشوکا (د هندي يوريانو د کورنۍ پاچا) د دورې ډېر ليکونه او هم د درونټې څنگ ته د يو شمېر بودايي آثارو درلودونکی ځای دی. د څېړونکو او پوهانو د پوره پاملرنې وړ دی او حدود العالم يې بتخانو ته اشاره کړې ده. ) مرکز يې کالام (مهترلام) دی. د مهترلام يا مهترلمک په هکله بېلابېل تاريخي روايتونه راغلي دي.

## څلور خواوې:

د لغمان سوېل ختيځ او سوېل ته ننگرهار، شمال ختيځ ته کونړ، شمال ته يې نورستان، شمال لوېديځ ته يې پنجشېر او لوېديځ ته يې کابل او کاپيسا ولايتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقعیت لري.

## اداري واحدونه:

لغمان ولایت د مرکز په ګډون شپږ اداري واحدونه لري، مهترلام د دې ولایت مرکز، الیشنګ، الینګار، دولت شاه، قرغه یي او بادپښ یې ولسوالۍ دي.

## مشاهیر:

محمد نور بابا، ګل باچا الفت، محمد شاه خان بابکرخېل، عبدالله لغمانی، اسحاق ننګیال، مولوي حبیب الرحمن، قیام الدین کشاف، رییس محمد قاسم خان، انجنیر محمد عالم قرار، اسماعیل یون، محمد حنیف اتمر، زلمی هېوادوال، ډاکټر عبدالظاهر (پخوانی صدر اعظم)، زلمی خلیلزاد، ډاکټر محمد حسن کاکړ، غلام حسن ګران، احمد ظاهر (سندرغاړی)، شفیق مرید (سندر غاړی)، منګل (سندر غاړی)، سعید افغاني، حبیب الرحمن مهدي، میرمن سایره، غلام حسن خان ساپی، صدیق کاوون توپاني، عبدالحق ورنټاوال او اسد الله دانش.

## کرنه:

په لغمان کې د کابل سند ترڅنګ د الینګار او الیشنګ سیندونه بهېږي او د دې ترڅنګ ګڼ شمېر کاریزونه هم لري. د اوبو د پراخو زېرمو له امله د دې ولایت ډېری خلک په کرنه بوخت دي.

د دې ولایت د سبزیو او نورو فصلونو حاصلات د ولایت د اوسیدونکو د اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ د ختیځو ولایتونو او کابل ولایت اړتیاوې هم پوره کوي. په دې ولایت کې وریجې، لوبیا، بېلا بېل ډول ترکارۍ او سبزي جات، نارنج، مالټې، لیمو، کینو، ګني، مڼې، زردالو، چهارمغز او داسې نور تولیدات لري. د دغه ولایت په غرنیو سیمو کې د جلغوزیو ځنګلونه هم شته، دغه راز د ارچې، نښتر، بلوط، چنار او نور بېلا بېل پراخه ځنګلونه هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اوبو بندونه او سیندونه:

په لغمان ولایت کې د الینګار او الیشنګ دوه لوی سیندونه بهېږي، چې بیا په قرغیو ولسوالۍ کې له کابل سیند سره یو ځای کېږي. د دې ولایت د قرغیو ولسوالۍ اړونده د درونټې په سیمه کې د اوبو او برېښنا بند شته، خو له برېښنا او اوبو څخه یې د ننګرهار ولایت ګټه پورته کوي. د دې ولایت د قرغیو په ولسوالۍ کې د سیند ترغاړې د کبانو یوه لویه پروژه وه، خو له بده مرغه اوس له کاره لوېدلې ده.

## لوبې:

په دې ولایت کې د نورو لوبو ترڅنګ والیبال او فوټبال ترسره کېږي، خو په دې وروستیو کې بیا د کرکټ لوبې ډېره وده کړې ده. ولایتي منتخبه لوبډله لري او په ملي لوبډله کې هم د ولایت لوبغاړو ځای موندلی دی. د کرکټ لوبه د ولایت د مرکز مهترلام ترڅنګ په ولسوالیو کې هم ښه پرمختګ کړی. دغه راز په دې ولایت کې رزمي لوبې لکه تکواندو، بوکسنګ، کاراته او نورې هم ترسره کېږي.

## پوهنه:

لغمان هم یو له هغه ولایتونو څخه دی، چې د ځوان کهول ډېری برخه یې په زده کړو بوخته ده، په لغمان ولایت کې شاوخوا ۲۹۱ ښوونځي موجود دي، چې ۱۱۹ لېسې او پاتې نورې یې لومړني او منځني ښوونځي دي. د پوهنې ریاست د چارواکو د معلوماتو له مخې، د یاد ولایت ټول زده کوونکي ۱۷۸۱۷۱ تنو ته رسېږي، چې ۸۰٦۱۸ یې نجونې او پاتې یې هلکان دي. په دغه ولایت کې شاوخوا ٤۰۹۸ ښوونکي په دندو بوخت دي چې ۳۱۱ تنه یې ښځینه ښوونکې دي. د لغمان په ولایت کې څلور د زراعت لېسې او یو تخنیکم هم موجود دی او ورسره په خوا کې یو لوی دارالعلوم او ۱٤ مدرسې فعالیت لري. په دغه ولایت کې له یوه مرکزي دارالمعلمین سربېره څلور نور الحاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارالمعلمینونه موجود دي، همدا راز دوه انستیتوتونه هم په دغه ولایت کې فعالیت لري.
په لغمان ولایت کې څلور شخصي ښوونځي فعالیت لري، چې لسگونه استادان او سلگونه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي. د لغمان پوهنتون هم تېر کال په فعالیت پیل کړی او څلور پوهنځي لري.

## صنعت:

لغمان ولایت د خپل ستراتیژیک موقعیت له مخې، د صنعت لپاره ښه او غوره چاپېریال لري، خو هغه رنگ چې په لغمان کې اړینه ده، صنعت وده نه ده کړې. دغه ولایت ډېره ښه اب و هوا لري، چې د کار کولو لپاره ډېر وړ شرایط په کې موجود دي.
په دغه ولایت کې صنعتي فابریکې ډېرې کمې تر سترگو کیږي او که چېرې موجودې هم وي، نو ډېرې وړې فابریکې دي. یوه د څپلکو وړه فابریکه په دغه ولایت کې موجوده ده، همدا راز د نجارۍ څو وړې فابریکې موجودې دي.
په دغه ولایت کې د روب جوړولو یوه ډېره کوچنۍ فابریکه شتون لري او د کوکولا یوه فابریکه هم شته، نورې داسې لوی او د یادونې وړ کومې فابریکې په دغه ولایت کې نشته او نه هم په دغه برخه کې چا سرمایه گذاري کړې ده.

## مدني ټولنې:

په لغمان کې گڼ شمېر مدني ټولنې فعالیت کوي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي. الینگار فرهنگي یون، لغمان ادبي بهیر، د ختیځې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، د ښځو د حقوقو ملاتړ ټولنه، د ځوانانو ټولنه، او داسې نورې...

## رسنۍ:

په لغمان کې ډېرې رسنۍ کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرېزې: د لغمان ملي راډيو او کاوون غږ راډيو.
هغه راډيو ګانې چې په ننګرهار کې سټډيوګانې لري او په لغمان کې اورېدل کيږي:
ننګرهار ملي راډيو، شرق راډيو، نرګس راډيو، اصلاح راډيو، مرام راډيو، کليد راډيو، اباسين راډيو، صفا راډيو، نن راډيو، هميشه بهار راډيو، انعکاس راډيو او وطندار راډيو.
هغه راډيو ګانې، چې له مرکزه خپرونې کوي او په لغمان ولايت کې اورېدل کيږي:
ارمان راډيو، اريانا راډيو، اراکوزيا راډيو، بي بي سي راډيو، ازادۍ راډيو، امريکا غږ اشنا راډيو، مشال راډيو، ستا راډيو، ګوربت راډيو، نوا راډيو، کابل ملي راډيو، سلام وطندار راډيو، شمشاد راډيو، او داسې نورې...

## تصويري رسنۍ:

په لغمان کې يواځې د لغمان ملي تلويزون دی، چې خپرونې لري، او نور تلويزونونه په کې نشته.
هغه تلويزيونونه، چې له کابله خپرونې کوي او په لغمان کې ليدل کيږي، په لاندې ډول دي:
کابل ملي تلويزيون، امريکا غږ اشنا تلويزيون، شمشادتلويزيون، لمر تلويزيون، طلوع نيوز، اريانا تلويزيون، تمدن تلويزيون، خورشيد تلويزيون، ژوندون تلويزيون، نور تلويزيون، يک تلويزيون.

## چاپي رسنۍ:

په دغه ولايت کې يو شمير چاپي رسنۍ هم فعاليت کوي، چې په لاندې ډول دي: لغمان مجله، شينکی لغمان مجله، روښان، نورلام، لغمان ځوانان، بورا او داسې نورې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کولتور:

لکه څرنګه چې لغمان د ننګرهار سره ګډه پوله لري، په دغه ولایت کې هم کولتوري چارې ډېرې ښې او چټکې پر مخ روانې دي، په یاد ولایت کې ګڼې فرهنګي ټولنې هم فعالیت کوي، د بېلګې په ډول، لغمان فرهنګي یون، د ختیځې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، لغمان ادبي بهیر، لمپاکا فرهنګي بنسټ.

په لغمان ولایت کې د لومړي ځل لپاره د الینګار فرهنګي یون په نوم یوه فرهنګي ټولنه په ۱۳۷۷ لمریز کال کې رامنځته شوې ده، چې له هغې وروسته نورې فرهنګي ټولنې هم رامنځته شوې.

په لغمان ولایت کې هر کال د سمسور لغمان په نوم د اطلاعات او کلتور په ریاست کې یوه دودیزه پسرلنۍ مشاعره هم کېږي، چې هر کال په کې له ګاونډیو ولایتونو سربېره د پلازمېنې کابل څخه هم شاعران ورته راځي. د لغمان ولایت په قرغیو ولسوالۍ کې د شله ټک په نوم په یوه غره کې په ۱۳۸٤لمریز کال کې هغه ډبرلیکونه چې په ارمني لیکدود لیکل شوي وو، هم پیدا شوي، چې لا هم په دغه ولایت کې موجود دي او ساتنه یې کېږي.

د لغمان ولایت لسګونه پښه یي شاعران هم لري، چې تر دې دمه یې په دغه ولایت کې څلور تذکرې هم چاپ شوې دي. لغمان هم د یو شمیر نورو ولایتونو په څېر ځانګړې موسیقي لري، چې په کې هارمونیه، تبله، نغاره، سورنۍ او داسې نور د یادونې وړ دي، د دغه ولایت ډېری محلي هنرمندان سروکې، لوبې او بګتۍ وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نورستان ولایت

د افغانستان د ختیځو ولایتونو له جملې څخه دی چې ختیځ ته یې د پاکستان تر ولکې لاندې آزاد قبایل، جنوب ته د کنړ ولایت، شمال ته یې د بدخشان او پنجشیر ولایتونه او لویدیځ ته یې د لغمان او کاپیسا ولایتونه موقعیت لري.
د نورستان ولایت چې د هېواد دریمه درجه ولایت ګڼل کېږي، د وګړو شمیر یې د ۱۸۳۷۵۸ په شاو خوا کې اټکل کېږي. مرکز یې د پارون ښار دی او په مرکز سربیره ۷ اداري واحدونه یا ولسوالۍ لري چې کامدیش، ویګل، نورګرام، مندول، برګمټال، دواب او واما څخه عبارت دي.
د نورستان په ولایت کې د ۱۳۹۰ل کال د پوهنیز پرمختګ په هکله لنډ معلومات له ګرانو لوستونکو سره شریک کېږي. هیله ده چې دغه معلومات به د پوهنې د مینه والو، څېړونکو، اړوندو اړخونو او ټولو هیوادوالو لپاره له ګټې څخه خالي نه وي او د هېواد د هر اړخیزې سوکالۍ، سولې او سمون په لاره کې به د یوه ښه زیري په توګه ثابت شي.

## د ۱۳۹۰ل کال ښوونیز حالت:

په ۱۳۹۰ کال کې د نورستان په ولایت کې په ټولیزه توګه ۲٤۷۷ بابه تعلیمي موسسې د پوهنې له وزارت سره رسمیت او فعالیت درلود چې له دې جملې څخه ۲۲۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځي، ۱۵ بابه د اسلامي زده کړو موسسې (۳ بابه دارالعلومه، ۱۰ بابه دیني مدرسې، ۲ بابه دارالحفاظونه ۲ بابه دارالمعلمین او د ښوونکو د روزنې الحاق یې، ۱ باب د تخنیکي او مسلکي زده کړو موسسات وو. د دې ولایت په تعلیمي موسساتو کې په ټولیزه توګه ۵۹۹۹۹ تنه زده کوونکي، طالب العلمان او محصلین د ۱۳۵٦ تنو ښوونکو، مدرسینو او استادانو له خوا په زده کړو بوخت وو.
همدارنګه په ۱۳۹۰ کال کې په همدې ولایت کې ۱۷۱۱ تنه د سواد د زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۱٦ بابه کورسونو کې د ٦۰ تنو استادانو له خوا د لیك لوست په زده کړو بوخت وه.

له ۱۳۵۸ل کال څخه تراوسه د پوهنې وزارت د نورستان په ولایت کې د ۲٬٤٦۹٬۵۹۸ امریکایي ډالرو په ارزښت ٤۹ تعمیراتي پروژې پیل کړي چې ۱٦ پروژې بشپړې شوې او ۳۳ پروژې تر کار لاندې دي. په ۱۳۹۰ل کال کې د نورستان ولایت د دولسمو ټولګیو د فارغانو شمیر ۳٦۱ تنه وو.

## د پوهنې د بهیر په وړاندې ستونزې:

د نورستان په ولایت کې، د مسلکي ښوونکو کموالی، په ځینو سیمو کې ناامني، او د ۱۵۳۳ بابه تعلیمي موسساتو لپاره د تعمیرونو نشتوالی هغه ستونزې دي چې په دې ولایت کې د پوهنې د نظام په وړاندې قرار لري. باید وویل شي چې د لیکنو دغه لړۍ به چې (د پوهنیز پرمختګ بهیر) په نوم یادیږي، د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې له ګرانو لوستونکو سره یو ځای ګام پر ګام مزل کوي او د افغانستان د هر ولایت د پوهنیز پرمختګ په هکله به لږ تر لږه یوه لنډه لیکنه ستاسو مخې ته ږدي. له موږ سره اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم شپرکی

# د پاکستان جوړېدل

**۱۹۴۷زکال د اگسټ ۱۴اعلانیدو نېټه، د پېژندلو نېټه۱۹۴۷زکال۱۴ اگسټ**



پاکستان یو وخت نیم د هند برخه او نیمه نوره د هند د لوېدیځې سیمې چې د چین او بلتستان د پولې څخه نیولې تر کوز سند او بلوچستان پورې د اوسني افغانستان پخوانۍ برخه وه. یو مهال د پښتنو قبایلو تر منځ د تربگنۍ له کبله دغه سیمې په څو نومونو بلې شوې چې یو لړ نومونه یې روهستان، روهیله، پښتونخوا، شمال لوېدیځه سرحدي ولایت او نور نومان پرې سیمه واکو پښتنو او وروسته بیا انگرېزانو ایښي.

د پاکستان د هېواد تاریخ ډېر لنډ دی او یوه پېړۍ لا نه کېږي چې رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی. ۷۰ کاله کېږي چې د پاکستان هېواد تاسیس شوی. د نني پاکستان اړیکې د انګرېزانو او په ځانګړي توګه د امریکا سره د افغان جهاد پر مهال د پوځي دیکتاتور ضیاالحق له خوا زیاتې ټینګې شوې چې له مخې یې د امریکا پخواني ولسمشر رونالډ ریګن پاکستان د امریکا ناوې هېواد ګڼلی چې لا تراوسه هم د انګرېزانو تر اغېز لاندې یې نظام چلېږي.

پاکستان د اسیا په سوېل ختیځو هېوادونو کې راځي، چې په ۱۹۴۷ز کال کې د اګسټ په ۱۴ مه یې د پاکستان نوم خپل کړ. انګرېزانو دغه هېواد له پیل څخه په فدرالي نظام ویشلی دی چې د ۱۹۷۳ز کال اساسي قانون له مخې یې په څلورو ایالتونو د قامونو په تناسب بېل کړي دي.

دغه څلور ایالتونه په دې توګه ول: د پنجاب ایالت، د شمال لوېدیځې پولې ایالت چې اوسنی پښتونخوا ده، د سنده ایالت او د بلوچستان ایالت. د هېواد پلازمېنه اسلام آباد نومېږي او کراچی، لاهور، فیصل آباد او راولپنډۍ یې نور صنعتي او نامتو لوی ښارونه دي. په دغه هېواد کې برسېره پر ٦ ګونو غټو توکمنو سلهاوو مذهبي فرقې هم شتون لري چې په غټو توکمونو کې یې پنجابیان تر ټولو غټ توکم بیا پښتانه دوهم لوی توکم، سندیان، بلوڅان، سرایکان، هندکیان او هندوان شامل دي.

په دیني لحاظ پاکستان کې ۹۷ سلنه مسلمانان دي چې په لسهاوو فرقو او پیرانو وېشل شوي، ۷۰ سلنه یې سني اسلام منلی، ۲۰ سلنه شیعه ګان دي او ۳، ۳ شاوخوا سلنه هندوان او عیسویان هم شته. د ۱۹٤۷ز کال نه وړاندې پاکستان، هند او بنګله دېش یو هېواد وو چې د (بر صغیر هند) یا د هند وړې وچې په نوم بللی کېدل. دغه وخت په هند کې د انګرېزانو واکمني وه.

۷۰ کاله وړاندې کله چې هندوستان له انګلیسانو خپلواکي تر لاسه کړه د انګلیسانو بله لویه لوبه پیل شوه هغه دا چې محمد علي جناح د دوی پټ پرتوکولي وو او د اسلام په نوم یې یو جلا هېواد چې نوم یې پاکستان وي غوښت. یانې هندوستان د هندوانو او پاکستان د مسلمانانو د جلا جلا هېوادونو په توګه تشکیل شي. په داسې حال کې چې تر اوسني پاکستانه په هندوستان کې د مسلمانانو شمېر زیات وو او دی خو انګلیسانو چې په جنګ کې له هند نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتې خوړلې وه، دا یې پلمه وګرځوله او هندوستان په څو ټوټو وویشلو. انګلیسانو پاکستان له څو جلا ملتونو څخه جوړ کړ، بلوڅان او پښتانه یې له افغانستانه جلا، سند، بنګال او پنجاب له هندوستانه جلا کړل او پاکستان په ۱۹٤۷ز کال کې جوړ شو.

د پاکستان د جوړېدو په لمړیو شېبو کې، پاکستان زرګونه پښتانه قبایل جنګیالي کشمیر ته د دې لپاره واستول چې د هندوستان پوځ سره ډغره ووهي او په کشمیر کې خپله برخه ترلاسه کړي. دغو لمسونو د لومړي ځل د پاکستان او هندوستان جګړې ته لاره هواره کړه. شپیته کاله وروسته د دوی لمسیان دې ته وهڅول چې له امریکایانو سره د افغانستان په دننه کې جګړه وکړي.

د کشمیر او بنګله دیش ستونزه هم داسې لکه د پښتنو او بلوڅو ستونزه د هند او پاکستان تر مېنځ ستونزمنه پاتې شوه. دوه ځلې هندوستان او پاکستان د بنګال او کشمیر په سر جنګونه کړي بنګال خو ازاد او خپلواک هېواد شو خو د پښتنو او بلوڅو مسئله او د ډیورنډ کرغېړنه کربنه همداسې ناحله پاتې شوه.

د دې لپاره چې د پښتونخوا او بلوچستان د ازادۍ غوښتونکو جذبه لږه کړي، په پښتونخوا کې د هندو او مسلمان سره د پاتې کېدو په ستره ټګۍ د خلکو د ارادي خلاف یوې فرمایشي ټولپوښتنې ته لاره هواره شوه. یو پلو قران کېښودل شو او بل پلو ته ګرند او له خلکو وغوښتل شول چې کومې خواته رایه ورکوي؟ دا ټولپوښتنه د هندوستان یا پاکستان او یا په مستقل تشخص د پاتې کېدو لپاره ټولپوښتنه نه وه! په دې د خیبر پښتونخوا او بلوڅو خلک د یوې توطیې په پایله کې د مسلمان په نوم له هند څخه جلا او پر نوي جوړ شوي پاکستان ور ګډ کړل شول.

د هند په نیمه وچه کې د پاکستان تیوري د انګریز د امپریل استعمار د جیوستراتیژیکو اوجیوپولیټیکو اوږدمهاله موخو لپاره د دوي د لاس پوڅو له خوا مطرح او عملي شوه. هغه وخت یانې د ۱۸ پېړۍ په پای کې برتانوي ښکیلاکګر یواځنۍ اروپایي ځواک وو چې د هند په نیمه وچه او هندي سمندر کې یې خپلې اډې او د سوق الجیش مرکزونه ټینګ کړل.

د انګریزانو ستراتیژي دا وه چې خپله سیاسي، اقتصادي او تجارتي ولکه په ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند او له هند څخه بهر د فارورډ پالیسي(Forward) په چوکاټ کې د منځنۍ اسیا په لور پلنه کړي. ولې د دوي د استعماري موخو او پراختیا غوښتنې په وړاندي په برصغیر کې د مختلفو ډلو ټپلو او گوندونو لکه، د ۱۸۱۳ز کال تر ۱۸۲۳ز کال د پنډاریانو ازادي ښوونکي غورځنگ چې د روهیله پښتنو امیر خان افغان یې رهبري کوله او وروسته له مبارزو او اتلولیو د انگریزانو د ۱۲۰۰۰۰ منظم اردو له خوا په بې رحمۍ وټکول شول.

همدارنگه د هند د ملي کانگریس گوند چې په ۱۸۸۵ز کال کې تاسیس او د دغه گوند په رهبري کې بیا مهاتماگاندي، مولانا ابوالکلام ازاد، ډاکتر ذاکر حسین چې دواړه افغانان دي، راجندر پرساد، جواهر لال نهرو کار کاوه. خان عبدالغفار خان (پاچاخان) او د هغه مشر ورور ډاکتر خان صیب هم د کانگرس له گوند سره د استعمار په شړلو کې همغږي او همکاري درلوده.

د یادولو وړ ده چه محمد علي جناح هم د کانگرس د گوند غړي وو او وروسته د انگریزانو په اشاره په ۱۹۱۳ز کال کې د ټول هند مسلم لیگ گوند ته ورغله، پاچا خان هم د هند په شمال غربي سیمه کې د انگریزانو په ضد په ۱۹۲۱ز کال کې د انجمن اصلاح افاغنه او په ۱۹۲۹ز کال کې یې د خدایي خدمتگارو غورځنگ بنسټ کېښود، په دې وخت کې وو چې د علیگړه مسلم یونیورسیټي له خوا په ۱۹۰٦ز کال کې په ډاکه کې د ال انډیا مسلم لیگ د گوند بنسټ کېښودل شو.

د هند په نیمه وچه کې د مسلمانانو ځینو کټه گوریو او لیړکیو له استعماري واکمنو څخه د مسلمانانو له پاره د ځینو امتیازاتو غوښتنې پیل کړي، د بېلگې په توگه په ۱۹۰٦ز کال د مسلمانانو یو ۳٦ کسیز پلاوی د سر اغا خان تر مشرۍ لاندې د شمله په توریستي او تفریحي ښارگوټي کې چې د ډهلي په شمال کې موقعیت لري د هند له وایسراې (نائب السلطنة) لارډ منټو سره لیدنه وکړه، دغه پلاوي له انگریزانو څخه د هند په نیمه وچه کې د مسلمانانو لپاره د ځانگړي امتیازاتو او حقوقو غوښتنه کوله.

همدارنگه د مسلم لیگ گوند د مسلمانانو د ځانگړي حقوقو او امتیازاتو په چوکاټ کې خپلې غوښتنې مطرح کولې او فعالیتونه یې گړندي کړل. د یادولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړ ده چه د هند په نیمه وچه کې د سر سید احمد خان لخوا د دوو قومي نظریې تیوري، یانې هندوان بېل او مسلمانان بېل وړاندې او د ښکیلاکګر ځواکونو په لمسونه د هندو ـ مسلمان جګړو زور واخېست او په ټول هندوستان کې نفرت او کرکه پیل شوه ـ د مسلم لیګ ګوند د دوه قومي نظریې تیوري تائید او د پلي کولو لپاره یې نه سترې کېدونکې مبارزه کوله، همدارنګه په ۱۹۳۰ز کال کې د هند د الله اباد په ښار کې د مسلم لیګ د ګوند کلنۍ غونډه د علامه محمد اقبال لاهوري تر قیادت لاندې جوړه او علامه اقبال په خپله پرانیستونکې وینا کې د هند په نیمه وچه کې د مذهب په اساس د دوو قومي نظریې یانې هندوستان بېل او د مسلمانانو لپاره جلا هېواد تایید او ملاتړ یې وکړ چه له دغه وخته د مذهبي ایډیالوژۍ په اساس د "پاکستان" د جوړښت لپاره لاره هواره او هڅې ګړندې شوی.

د پاکستان د نوم وړاندیز د لومړيي ځل لپاره په لندن کې د Cambridge (کامبریج) د پوهنتون یوشمېر هندي زده کړه یالانو وړاندی کړ چې په ۲۳ مارچ ۱۹٤۰ز کال د ال انډیا مسلم لیګ د ګوند چې د موضوع په اړوند یې په لاهور کې غونډه وکړه د تایید وړ وګرځېد او د هند په نیمه وچه کې د مسلمانانو له پاره د ځانګړي هېواد غوښتنه او مطالبه په کې تکرار شوه.

د مسلم لیګ د ګوند دا غونډه تراوسه پورې د قرارداد لاهور یا قرارداد پاکستان په نامه یادېږي او هر کال یې په لاهور کې د منارپاکستان او نورو ښارو کې په ۲۳ د مارچ لمانځل کوي.

د دویمې نړېوالې جګړې په وخت کې په اروپا او اسیایي محاذ کې انګریزي ښکیلاکګر له ګنو ستونزو سره مخامخ وه. په همدې شرایطو کې د مولانا ابواکلام ازاد په مشرۍ د هند کانګرس ګوند لخوا هندوستان ته د بشپړې خپلواکۍ غوښتنه وشوه او هم د Quit India او " هندوستان چهوړدو" یانې له هندوستان څخه ووځئ او هم له انګریزانو سره یې د عدم همکاري نوښت او تحریک پېل کړ چې د کانګریسي مشرانو د نیول کېدو لامل شو.

برطانوي حکومت د کانګرس د ګوند په مشرۍ د خپلواکۍ غوښتونکو او مبارزینو له خوا د هند د استقلال مطالبه ومنله، خو په دغه وخت کې د مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیګ ګوند د محمد علي جناح په مشرۍ له انګریزانو سره همکاري کوله او د ښکیلاک ګرو مسلطو ځواکونو له خوا به ورته وعدې ورکول کېدې، چې تاسو به بیا خوشحاله کړو او یو څه به درکړو، چې په ۱۹٤٦ز کال د برتانوي هند وایسراي ( نائب السلطنة ) لارډ ډیول، وروسته له انتخاباتو د کانګرس ګوند د لیږد (انتقالي) یا Transitional حکومت په جوړولو مؤظف کړ او پنډت نهرو یې د انتقالي حکومت د مرستیال رئیس په توګه معرفي کړ.

خو د مسلم لیګ ګوند په انتقالي حکومت کې د برخې اخېستلو څخه انکار وکړ، مګر وروسته د وایسراي لارډ ډیول د اړیکو په پایله کې مسلم لیګ ګوند هم په انتقالي حکومت کې شامل شو او په وروسته فعالیتونو کې د کانګریس او مسلم لیګ ګوندونه له وایسراې سره دې تاریخي پرېکړې ته ورسېدل چې د هند نیمه وچه به په هندوستان او پاکستان تجزیه کېږي.

همدارنګه د برتانیا پارلمان د هند د تجزیې موضوع د ۱۹٤۷ز کال د جون د میاشتې په ۳ نېټه ومنله، ولې د هند د نیمې وچې ویش د اګست میاشتې ته وځنډېد، چې په ۱٤ د اګست ۱۹٤۷ز کال، پاکستان د انګریزانو د بدشګونه او شوم میراث او د دوي د جیوپولیټیکو او جیوایکانومیکو اوږدمهاله ګټو له پاره په مصنوعي توګه په داسې حال کې چې ځمکه د افغانانو او کلتور یې د هند څخه واخېست رامېنځ ته کړ.

د هند د نېمې وچې د ویش یا Partition له امله د هند د نیمې وچې خلک له یوې سترې غمیزې او فاجعې سره مخامخ شول، د بیلګې په توګه ۱۰ ملیونه خلک دواړو خواوو ته وکوچېدل، د ۱ یو ملیون په شاوخوا کې مظلوم انسانان مړه شول، د پاکستان جوړښت د هند په نیمه وچه کې یوه متفقه پروسه نه وه، د برصغیر اکثریت خلک د مسلمانانو په ګډون د مذهبي ایډیالوژۍ له مخې د هند د نیمې وچې له ویشلو سره سخت مخالف وه. له هغې جملې څخه مولانا ابوالکلام ازاد، خان عبدالغفار خان (پاچا خان)، ډاکټر ذاکر حسین او ګڼ شمېر نور، مولانا ابوالکلام به استدلال کاوه چې "یو هېواد د مذهب یا تیوکراسۍ په اساس نه جوړېږي، که داسې وي، نو ولې ۲۱ عربي هېوادونه یو مملکت نه دي.

یاددونه: پاکستان د بنسټ پالنې او تروریزم مرکز دی او وو، ، ولې د پاکستان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمې د بحران او ستراتيژيو په اړوند به بحث ادامه پيدا کړي. د پورتنۍ ليکنې لپاره لاندې ماخځونه مطالعه شوي:

۱ ـ India Wins Freedom د مولانا ابوالکلام اثر.

۲ ـ مولانا ابوالکلام ازاد Selected Speeches and Writings د سيد شهاب الدين اثر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لويې برتانيا سياست د هند، پاکستان او افغانستان په اړوند

## ۱۹۴۵ز کال څخه تر ۱۹۵۰ز کال پورې:

د نړيوالې دويمې جګړې وروسته په نړيواله بڼه ملي ازادي بښونکي جنبشونو ټوکېدل د اکتوبر ۱۹۴۵ز کال کې دويمه نړيواله جګړه پای ته ورسېده. هند دا وخت د برتانيا تر تسلط لاندې وو د هند سربازان د برتانيا په پوځ کې د المان د پوځ سره وجنګېدل او په جنګ کې يې مهم رول درلود. هند د جنګ لپاره خوراکي توکي او تخنيکې مواد برابرول، له جنګ وروسته د هند د وګړو ژوند خورا بد حالت سره مخ شو.

په هند کې د لوږې، بېکارۍ، نادارۍ کچه لوړه او خرابه شوه همدا لامل شو چې په هند کې د ملي کانګرس سراسري ګوند د هند د مسلمانانو ليګ ګوندونه کمونست ګوند او نورو سر را پورته کړ او خلکو ته يې د خپلواکۍ روحيه ورکړه. خلکو په مخالفتونو پيل وکړ، زياتره بغاوتونه انګليسانو د برچې په زور وځپل خو ولس پر خپلواکۍ مين وو او د ګاندي دا شعار يې بدرګه ګولو چې انګليسانو له هنده ووځئ.

په ۱۹۴۲ز کال ګاندي تصميم ونيو او د انګليسانو پر وړاندې يې مقاومت پيل کړ، په نهم د اګسټ د کانګرس مشران انګليسانو زنداني کړل او له سياسي فعاليت څخه يې منع کړل. د ۱۹۴۲ز کال انقلاب د ماتې سره مخ شو، ګاندي د ۱۹۴۴ز کال د مۍ په ٦ مه د ناروغۍ له امله له زندانه ازاد شو. د انګريزي مشر په منځګړيتوب د ګاندي او محمد علي جناح ترمېنځ ناسته جوړه شوه، په ناسته کې جناح د پاکستان پر جوړېدو ټينګار کاوه، د کانګرس يو مخور مشر چ راجا ګوپالاچاري دواړو ګوندونو ته د همکارۍ وړانديز په لاندې توګه وکړ.

۱ ـ مسلم ليګ دې د خپلواکۍ تر ګټلو له کانګرس څخه ملاتړ او ورسره دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقت حکومت جوړېدل ومني.
۲ـ د جنګ په پای کې به له خلکو ټولپوښتنه وکړو او د خلکو په رایه به پرېکړه وشي.
۳ـ دا وړاندیز به هله عملي شي چې انګلیسان د هند واکمني سکانو ته وسپاري.
خو دا ناسته بریالی نه شوه، ځکه جناح بیدون له قید او شرطه د پاکستان جوړیدل او په رسمیت پیژندل غوښتل او په دی کې د انګلیسانو پوره لاس وو، ګاندي تر خپلواکې مخکې د دی وړاندیز کلک مخالفت وښودلو.
په ۱۹۳٦ز کال کې په برتانیا کې پارلمان وټاکل شو، په ټاکنو کې محافظه کارانو ماتې وخوړه، لیبرالېستانو ۳۹۳ څوکۍ وګټلې او محافظه کارانو ۲۱۳ څوکې پلاس راوړې او د انګلستان نوی د وزیرانو شورا مشر ایتلي شو. د ۱۹۴۵ز کال د دسپټمبر په میاشت کې یوه ډله سیاستمدارانو چی شمېر یې ۴۳ تنه وو داسې وړاندوینه وکړه چې هند ته په ملګروملتونو کې برابر حق ور کړل شي، خو نوي انګلیسي حکومت دا وړاندیز ونه مانه. په ۱۹۴٦ز کال کې په هند کې د استعمار ضد روحیه خورا پیاوړی شوه، کله چې برتانیا په دې باورمنده شوه چې نور پر هند حکومت کول ناممکن دي نو د هند د هېواد په ویشلو یې لاس پورې کړ.

## د لیبرستانو د حکومت سیاست او کړنې:

د دوی سیاست د هند په اړه دا وو چې هند په څو وړو هېوادونو وویشي، په دې توګه به په یوه مرمۍ دوه هدفه وویشتل شي. په هند کې سیاسي ګوند د ملي کانګرس په نوم په کال ۱۸۸۵ز کال کې جوړ شو، د دې ترڅنګ نور مخالف اسلامي ګوندونه هم جوړ شول لکه د بنګال ملي اسلامي ګوند، د بمبیي اسلامي ګوند، د مسلم لیګ ګوند او نور.
د کانګرس ګوند یو شمېر غړو کوښښ کاوه چی د روسیې ملاتړ تر لاسه کړي ولې هلته بیا د المان او لویدیزو نورو هېوادو لانجمنې پېښې پیدا شوې، لامل دا شو چی روسیه، انګلستان، فرانسه د المان پر وړاندې یو شول، د لومړۍ نړیوالې جګړې په درشل کې روسیه او انګلستان مجبور شول چی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلافونه یو طرفه کړي.
په دې اړوند د افغانستان، فارس، تیبت په هکله په ۱۹۰۷ز کا ل۳۱ د اګسټ د سنترزبورګ په ښار کې یوه لوزنامه لاس لیک کړه چې په هغې کې راغلي. انګلستان د روسیې حق د افغانستان په شمالي سرحد کې په رسمیت پېژني. برتانیا تعهد کوي چې د روسې پر ضد به د افغانستان خاوره نه استعمالوي او د روسیي پر وړاندې به هېڅ نوع فعالیت نه کوي.

## څلورم ـ د افغانستان د خپلواکۍ وروسته:

کله چې د امان الله خان په مشرۍ له انګلیسانو په کال ۱۹۱۹ز کال کې افغانستان یو خپلواک هېواد شو، ټولې نړۍ په رسمیت وپېژند. نوي حکومت یو لړ بنیادي اصلاحات او نوښتونه پیل کړل.

## د اعلیحضرت امان الله خان په اړه یو شمېر نظرونه:

فرایزرتتلر: په کابل کې د انګلیس سفیر او دیپلومات د هغه په اړه لیکي: «امان الله خان به په مېړانې، دوستۍ او لاربښودیزې مشرۍ کې ستایل کېده او له خپل نیکه پاینده خان څخه به یې تقلید کاوه. امان الله خان یو هېوادپال او د افغانستان د پرمختګ پلوی سړی وو او غوښتل یې افغانستان د نړۍ په هېوادونو کې د لوړ دریځ خاوند واوسي. امان الله خان د درناوي وړ ویاند او په نړیوالو چارو کی یې بشپړ مالومات درلودونکی شخص وو. د امان خان په شخصیت کې د ضعف ټکی دا وو چې غرور، پرتم او ځان مننه یې درلودله).(۱۹)
د هند لومړی وزیر جواهر لعل نهرو: اروپا ته د شاه امان الله د اوږده سفر او د هغه د پایلو په اړه لیکي: (د ۱۹۲۸ز کال په لومړیو کې امان الله او ملکه ثریا له افغانستان څخه د اروپا په لور د یوه اوږده سفر په موخه وخوځېدل. د ګڼ شمېر اروپایي هېوادونو پلازمېنو لکه روم، پاریس، لندن او مسکو ته ولاړل او په هر ځای کې له تودو هرکلیو سره مخامخ شول. دغو ټولو هېوادونو په ډېرې لېوالتیا غوښتل چې د خپلو سیاسي او سوداګریزو موخو لپاره د امان الله پام ځانته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواړوي. هر چېرته ورته ګرانبیه سوغاتونه ورکړل شول خو هغه د یوه هوښیار او لوړ سیاست پوه په توګه خپله ونډه په لوړه کچه او ښه توګه لوبوله او په هېڅ ځای کې یې د هېڅ شي ژمنه په غاړه نه اخېستله. د راستنېدلو په مهال له ترکیې او ایران نه یې لېدنه وکړه. د امان الله اوږده سفر د ډېرو پام ځانته را واړاوه. اعتبار او حیثیت یې زیات شو او د افغانستان ارزښت یې هم ډېر کړ. خو دننه په افغانستان کې اکر یا حالت ډېر ښه نه وو. امیر ډېر خطرناک کار کړی وو او هغه دا وو چې په هېواد کې د بدلونونو له پیلولو سره جوخت او د لرغوني ژوند ډول ته د بدلون ورکولو له څپو سره سم توده په توده په سفر ولاړ. مصطفی کمال هېڅکله دغسې خطرناک کار ونه کړ). (۲۰)

دارالامان د اماني سلطنت تاریخي ماڼۍ چې بنسټ یې د خپلواکۍ د ګټونکي سروال، هېواد پال او سرښندویه نومیالي غازي اعلیحضرت امان الله خان له خوا ایښوول شوی وو خو د خپلواکۍ دوښمنانو د باروتو په لمبو وسوځاوه.



د اماني دور فرانسوي سفیر موریس فوشي د امان الله خان په اړه لیکي: «دغه ځوان د خپل عمر په پرتله په سیاسي چارو کې حیرانونکې پوهه لري. ځانګړې موخې په زړورتیا پرمخ بیایي. کله چې ما له هغه سره ولیدل، د جنرالۍ جامې یې پر ځان وې. سپین پوستکی او تورې زیږې سترګې یې درلودلې. د هغه په سترګو کې څرګند هوډ، واکمني او برابري په ځلېدلو وه. امان الله خان د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې پوهې، میړانې او په سیاسي سکالو کې د خبرتیا له امله هر څوک تر خپلې اغېزې لاندې راولي. امان الله دا پوهه او کفایت درلود چې د ګاونډیو (روس او انګلیس) په اړه پېچلې سکالو په ډاډ مطرح او د هغو په اړه خپل نظر او پریکړه ووایي.

هغه د پیاوړي هوډ، پتینې او تکل خاوند دی. تر اوسه یې د ژوند وریځې پر مخ نه دي راښکته شوي او ډېرې برياوې یې ترلاسه کړي. د بېلګې په توګه افغانستان یې په ډېر لږ وخت کې ټولې نړۍ ته ورپېژندلی دی. وییکي او کلمات د هغه د شخصیت د برم او ستروالي بیان نشي کولای». (۲۱)

امریکايي لیکوال پولاده لیکي: ما د امان الله خان د دورې له شخصیتونو سره له نږدې کتلي او خبرې مې ورسره کړې. د بېلګې په توګه: یاور محمود خان، عبدالعزیز خان، د حربیې وزیر او جنرال محمد ګل خان مومند. د هغو له خولې مې د شاه امان الله په اړه په زړه پورې او د اورېدلو وړ خبرې اورېدلې چې باید یادابښت او ولیکل شي. د دغو یادونو یوه کوشنۍ بېلګه دا ده چې: په ۱۳۴۵ز کال کې د سوادګریزې خونې په ریاست کې د څوارلسو له اوسیدونکو څخه یوه پیاده چې نوم یې غلام حمد او په ځوانۍ کې په دارالامان کې وو. هغه ویل: د پسرلي یوه ورځ وه، باران اورېدلی وو او ځمکه ښویه وه، امان الله خان له خپلو همکارانو سره د دارالامان ماڼۍ ته راغی چې د دارلامان له ماڼۍ څخه کتنه وکړي. ماڼۍ د یوې غونډۍ پرسر وه. امان الله خان په ځغاستې پیل وکړ او د غونډۍ سرته وخوت او همکارانو ته یې وویل، راځئ چې د ماڼۍ بنسټ یا تهداب وګورو. خو همکارانو د غونډۍ سرته د ختلو هر څه هڅه چې کوله، نه شول ختلی او بېرته لاندې راښوېدل.

امان الله خان هغوی ته وویل، زه تل تاسو ته وایم چې ورزش وکړئ او ډېره ډوډۍ مه خورئ، دا دی زه له تاسو مخکې د غونډۍ سرته وختلم، زما هره خبره ستاسو په خیر ده.) له دې کیسې ښکاري چې شاه امان الله له ورزش سره مینه درلوده او ورزش یې کاوه (هماغه ځای).

میرمن ریتالي ستیوارت (په افغانستان کې د اور) کتاب لیکواله وایي: «د افغانستان پخواني امیران مغرور او متکبره ول او له هغوی سره اړیکه نیول ګران

(c) ketabton.com: The Digital Library



ول، خو امان الله خان یو دموکرات سړی وو او د هارون الرشید په شان پرته له ساتونکو (ګارد) د ښار په بازارونو کې پلی ګرځېده او له ډول ډول کسانو سره به یې خبرې کولې. له تشریفاتو یې ښه نه راتلل او ځان یې کټ مټ د یوه عادي افغان په توګه له نورو سره برابر باله.

امان الله خان یو ولس پال، هېواد پال او د ختیز د خپلواکۍ ملاتړی او ډېر نومیالی سړی وو. د خپلې پاچاهۍ په پای کې یې محافظه کاران په وحشت کې اچولي ول، هغه ریښتونی او صادق وو او د خپل هېواد په عصري کولو کې ډېر جدي شو او د خپلې پاچاهۍ په پای کې یې وویل: د دې له امله چې بلوا یوازې او یوازې د ده پر ضد ده، نو نه غواړي وینه توی کړي او له پاچاهۍ لاس په سر شو او هغه یې خپل ورور عنایت الله خان ته پرېښوده.

بې کفایته درباریان د هغه تر شا او خوا راټول شوي ول، همدارنګه د هغه پرضد یې د کفر وسله وکاروله او هغه یې د اسلام ضد وباله، حال دا چې هغه یو سپېڅلی مسلمان وو.) (۲۲)

او په بل ځای کې لیکي: (د امان الله خان په څېر واکمن نه په ختیځ او نه په لویدیځ کې لیدل شوی دی. هېڅ پاچا پرته له ساتونکو او ځانګړو امنیتي تشریفاتو چېرې نه تلو، خو امان الله خان هرې خوا ته روان وو او له وګړو سره یو ځای کېده. افغانانو ګومان کاوه چې دغه سړی چې د دوی ترڅنګ ولاړ دی ښاغلي امان الله خان وي. هغوی انګېرل چې هغه به یو چېرې له وګړو سره د خبرو کولو په حال کې پر سړک باندې وګوري. کورنۍ یې پرې نېوکه کوله چې (ځان ته دې پام ونیسي)، امان الله خان به ویل: ملت زما ساتونکی (بادي ګارډ) دی. امان الله خان د لېونۍ مینې په نړۍ کې له ملت سره لېونۍ مینه درلوده).

رته تالي د امان الله خان د ښوونکي عبدالغني خان له خولې لیکي چې: امان الله خان له ملي جامو سره ځانګړې مینه درلوده او د ولسي جامو په اغوستلو لکه کمیس او پرتوګ، پګړۍ، خولۍ او پوستین به چایخانو او سماوارونو ته روان وو او له خلکو سره به ایل او غیل شو، که خلکو هغه په همداسې جامو کې لېدلی وی نو څه یې نه ویل او د خپلې پاچاهۍ په وخت کې یې کټ مټ دغسې وکړل. امان الله خان یو ښایسته ځوان وو، متوسطه ونه یا قد، ګرد مخ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانه تورې سترګې يې درلودلې او هېڅکله نه عصبي کېده. په خبرو کې خوږ ژبی او مؤدب وو او هڅه يې کوله چې مخامخ لوری ځانته لېواله کړي. يوځل يې په پنځلس کلنۍ کې ويلي ول: «دی شرمېږي چې هېواد يې وروسته پاتې دی او د خپلو خلکو له ناپوهۍ ځوريږي». (۲۳).

د هېواد د تاريخ او ټولنپېژندنې د پوهانو په ډله کې ارواښاد حبيبي د افغاني ټولنې يو نوميالی پوه دی چې ټولې ليکنې يې د اسنادو او ليکلي لاسوندو پر بنسټ ولاړې دي. هغه عادت نه درلود چې خپل قلم د هغو پاچايانو او واکمنانو په ستاينه کې په کار واچوي چې ټولنې ته يې خدمت او کار نه دی کړی. د حبيبي نيکه چې مولوي عبدالرحيم آخندزاده نومېده د امير عبدالرحمن خان په وخت کې وژل شوی وو او له همدې امله ارواښاد حبيبي په افغانستان کې د محمدزيو له حکومت سره ښې اړيکې نه درلودلې او د قلم په نيش يې څه چې له لاسه راغلي د بارکزيو او محمدزيو د سردارنو په ځورولو او د هغوی د کړنو په رابربنډولو يې ټونګلي دي. خو د دې ترڅنګ د صلاحيت وړ او حق ويونکی عالم وو. په خپلو ليکنو کې که هغه له امان الله خان او د هغه له کارنامو خبرې کړي، د دې ترڅنګ يې د هغه د همکارانو او معاصرينو له ويناوو ځينې نيوکې را نقل قول کړي دي.

په هر صورت کله چې زموږ خاوره خپلواکه شوه او نوي واکمنې په کار پيل وکړ، د کور دننه هغه جبري ناروا کارونه چې د ده پلار په خلکو تپلي وو، لغوه کړل. د نارينه او ښځو لپاره د ښوونځيو پرانېستل پيل شول، د نارينه او ښځينه وو د حقونو برابرۍ ته پاملرنه وشوه، د پرمختګ لپاره کارونه پلان او پيل شول، نوي مدني قوانين جوړ او د افغانستان د ور پېژندلو او دغه هېواد ته د مرستو کولو لپاره يو اوږد مهاله سفر پيل شو. هغه (امان الله خان ) د غرب او شرق سره خپل روابط ټينګ کړل او افغانستان يې ټولې نړۍ ته د يو خپلواک او ازاد هېواد په توګه معرفي کړ. خو انګليس د خپل غچ اخېستلو لپاره خپل پلانونه دا ځل په نوې بڼه پيل کړل. د خپلو تالي څټي ملايانو او پيرانو په جامه کې يې د رژيم خلاف پروپاګندونه پيل کړل چې د پروپاګند غټ ټکي يې دا وو: امان الله خان کافر شوی، د ادعا د ثابتولو په موخه يې د ده د ميرمن عکسونه په پټه په ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه چاپ او خپاره کړل او خلکو ته یې ویل چې امان الله کافر شوی دی. د ده پر ضد یې په لومړي ځل د ننګرهار په شینوارو کې د خپلو غلام صفته ملایانو په واسطه تبلیغ شروع کړ، دا پروپاګند نژدې ټول ننګرهار ته خپور شولو، شینوارو شامانۍ وسوځوله او د خوګیاڼو د یو شمیر مشرانو په ګډون مخالفت زور واخیست. انګلیسانو حبیب الله د سقاوو ځوی چې مشهور غل وو خپل سفارت ته په پټه وروبللو، پلان او پیسی یې ورکړې. هغه د دهقاني جنبش تر نامه لاندې په چور او چپاول پیل وکړ.

همدا اوس یو شمیر سقاویان لکه امرلله صالح، پدرام او یو شمېر غلامان ډوله ملایان امان الله خان ته د کافر خطاب کوي. کله چې دا حالت امان الله خان ویني کندهار ته ځي هلته د ټولو افغانانو په ګډون لس زره کسان را ټولېږي او کابل ته د بلوا ګرو پر ضد حرکت پیلوي، خو د غزني شاوخوا کې خپله د پښتنو تر منځ نښته کېږي، امان الله خان چې ویني زما د ملت ویني زما د واکمنۍ په خاطر توی نه شي له جګړې لاس اخلي، کندهار ته ځي او داسی یو لیک لیکي: «زه نه غواړم چی زما د ولس ویني ناحقه تویې شي، د ملت دښمان غواړي دا ملت خپلو کې د خپلو شومو موخو لپاره وجنګوي، زه له واکه تېرېږم.»

هغه هند ته ځي او له هغه ځایه ایټالیا ته مهاجر کېږي، تر مرګه هلته ژوند کوي. له وفات کېدو وروسته د ننګرهار په یوه ښکلي بڼ کې خاورو ته سپارل کیږي. دا باید وویل شي چی تر ده وروسته یا مخکې ټول واکمنان د واک په خاطر له خپلی دندی نه دي مستعفي شوي ترڅو چی وژل شوي نه وي. سوال دا دی، ایا د امان الله خان په استعفا په وطن کې سوله راغله؟ نه خیر. تر څو چې د انګلیسانو موخې نه وي عملي شوي، دا ورور وژنه به دوام لري.

د ننګرهار او شینوارو خلکو او نورو د کابل د نیولو خوب لیده، هلته حبیب الله د سقاو زوی د واک پر ګدۍ ناست وو، د خوګیاڼو یو شمېر مشران کابل ته پر لاره د جګدلک سیمه کې خپل مینځې جنګ وکړ. ځینو مشرانو لکه ملک والا جان محمد شاه خان د ملک قیاس ورور او ملک سربلند او نور ووژل شول. دوی بېرته ننګرهار ته ستانه شول، نادر خان او کورنۍ یې دا وخت له هېواده بهر مېشت وو، چې د پکتیاوالو، خوګیاڼو په مرسته یې پر کابل حمله وکړه، سقاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ووژلو خپله نادر خان د افغانستان پاچا شو. سقاو ۹ مياشتې واکمن وو او نادر خان ۴ کاله واکمني وکړه چې د يوه زده کونکي له خوا په ښوونځې کې ووژل شو. د سقاويانو په واکمنۍ کې د امان الله خان د وخت ټول هغه کارونه چې د پرمختګ او ښېرازۍ لپاره پيل شوي وو ټول لغوه او له منځه ولاړل.

تر نادر خان وروسته د هغه ځوان او کم تجربه زوی محمد ظاهر خان واکمن شو خو تر ډېره وخته د ده ترونو شاولي خان، شاه محمود خان، هاشم خان او نورو واکمني چلوله او د خلکو سره زور زياتی وشولو او ظاهر شاه تر ټولو زياته واکمني وکړه. اوس پوښتنه دا ده چی شاهي رژيم ولې او څنګه په جمهوريت واوښت.

زه د ننګرهار ولايت د حصارک غلجايي ولسوالۍ په ليسه کې ښوونکی وم، د سياست سره مې پوره سروکار درلود. يو شمېر زده کوونکي او ښوونکي چی دا افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند سره مل وو، زه د دوی مسؤل وم. ټول وخت به مو په غونډو کې د وطن حالات او د دې هېواد ستونزو او د حل په لارو چارو خبرې کولې. د دې لپاره به مو د نورو سياسي ګوندونو سره بحث کاوه، خو راځم چی شاهي نظام کله ړنګ او پر ځای يې سردار محمد داود خان د ظاهر شاه د تره زوی او د خور مېړه څنګه واکمن شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم څپرکی:

# د محمد داودخان کودتا

**۱۳۵۲ل کال د چنگاښ ۲٦ نېټه**



مخکې له دې چې د محمد داود خان د حکومت د کړو وړو په هکله لنډه یادونه وکړم، لازمه ګڼم چې د نادرخان واک ته د رسېدو وروسته د دربار اختلافونو ته یو ځغلنده کتنه وکړم چې د افغانستان لپاره یې څه پایلې درلودلې. محمد عزیز د محمد داود خان پلار د افغانستان د سیاسي نمایندګۍ د لاربښوونې په خاطر برلین ته ولېږل شو، افغان حکومت څرګنده کړه چې نوموړې ټاکنه د ډېر اهمیت پر بنا شوې چې افغانستان یې جرمني ته ورکوي. خو بیا هم اصلي لامل یې دا وو چې هم شاه ولي خان په لندن کې سفیر ټاکل شوی وو او هم محمد عزیز دوی دواړو څخه غوښتل چې د صدر اعظم محمد هاشم خان تر لاس لاندې کار وکړي. داسې ویل کېږي چې د سردار محمد هاشم خان ۱۸ کلنه دوره د خلکو لپاره یوه توره کرغېړنه دوره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هاشم خان پلان دا وو چې دوه سکه وروڼه یانې سردار محمد داود خان او سردار محمد نعیم خان د راتلونکې واکمنۍ لپاره تر روزنې لاندې ونیسي. په همدې علت محمد نعیم د ښوونې روزنې د وزیر، د صدارت مرستیال، د نورو وزراتونو د کارونو مسول، د استخباراتو د ادارې کنترولوونکی او د والیانو په ادلون بدلون کې فعال رول لوبونکی شخص وو.

سردار محمد داود خان په نظامي چارو کې د یوه باصلاحیته شخص په توګه په کار وګمارل شو، داود خان د پوځې قوې څخه د خلکو د ځپلو په خاطر په بېرحمۍ کار اخېسته، د بېلګې په توګه کله چې د کندهار د ښوونې روزنې رییس غلام حیدر عدالت د یو هیئت په مشرۍ د زمینداور د یو شمېر زده کوونکو د لیلیه ښونځیو د کار د ارزیابۍ په موخه هلته ولاړ او بیا وروسته خلکو ته مالومه شوه چې دوی به زده کونکې د شپې لخوا لوڅول او نامشروع کارونه به یې ورسره سرته رسول، د خلکو له خوا دوي په همدې تهمت راګیر او ورته عمل له دوي سره هم وشو. وروسته خلکو د خپلو روا غوښتنو لپاره د کندهار مرکز ته ولاړل، ولې په دې وخت کې غلام حیدر عدالت داود خان ته چې دا وخت د کندهار تنظیمه رئیس او پوځې واک لرونکی کس وو، وویل: چې د زمینداور او پشترو خلکو بغاوت کړی او ټول د حکومت پر ضد را روان دي.

داود خان مخکې له دې چې فکر وکړي رښتیا او دروغ مالوم کړي دولتي الوتکو ته امر وکړ چې الوتنه وکړي که بغاوت کوونکي یې ولیدل، له منځه یې یوسي. د الوتکو پلوټانو چې خلک د مارش په حال کې ولېدل چې د مرکز په لور را روان دي، دواود خان ته رپوټ ورکړ، هغه مخکې له دې چې د خلکو مسالمت امېزه مارش او یا بغاوت سره پرتله کړي، د بمبار امر ورکړ، تقریباً ۱۵۰۰ تنه ووژل شول او په سلګونو ټپیان شول، ورپسې پیاده سربازان سیمې ته ورغلل پاتې کسان یې ونیول او کندهار ته یې راوستل او د خلکو دارایي چور او تالا شوه.

کله چې داود په خپله اشتباه پوه شو، یوازې د معارف د رئیس په بدلولو یې اکتفا وکړه دا یوه بېلګه وه.

په کال ۱۹۵۱ز کال کې د تلې په ۱٦ نېټه داود خان د سپا سالار شاه محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان صدراعظم د کابېنې څخه د مخالفت په وجه ووت چې څه وخت وروسته د علاج لپاره مسکو ته لاړ. لږ وروسته په کابل کې د روسيې سفير ميخايل واسيلويچ ديکتار د مسکو په لور وخوځېد. په مسکو کې يې د داودخان ښه خدمت وکړ او د روسيې مشرانو سره د ده پيژندګلوي وشوه.

داسی مالوميده چې داودخان د سياسي واک په مبارزه کې په شوروي اتحاد ډډه لګوله. هغه وخت چی د واک په ډګر کې بريالی راووت او د صدر اعظم په توګه وټاکل شو نو حسن شرق يې د صدارت د قلم مخصوص په مقام وټاکه. داود خان په شوروي متکي وو خو د صدارت په وخت کې لومړې هغه هڅه وکړه چې د امريکې متحده ايالاتو مرستې ترلاسه کړي. خو هغه وخت امريکا ونه غوښتل ځکه چې د پاکستان او افغانستان تر مېنځ د پښتونستان د مسئلې په هکله شخړه کې د پاکستان پلوي وو. له دې کبله داود خان ۱۳۳۴ل کال کې د لويې جرګې د راغوښتلو ترمخه د افسرانو يوه لويه شورا جوړه کړه، په دغه شورا کې يې شوروي اتحاد ته د نژې کېدلو طرحه وکړه چې يوازې جنرال اسدالله ساپي د دفاع وزارت د محکمو رئيس يې مخالفت وکړ. د دغې شورا د تاييد وروسته ۱۳۳۴ل کال کې لويه جرګه دايره شوه او د شوروي څخه د وسلو په ګډون د تلې پله د افغانستان د بهرني سياست په ډګر کې د امان الله خان د وخت په شان بيا د شوروي په لور درنه شوه.

داود خان ته د اقتصادي ودې لپاره شوروي اتحاد په اسانه شرايطو سل مليونه ډالر ورکړل او د پښتونستان د موضوع په هکله يې د افغانستان پلوي وکړه. داود خان چی د پاکستان سره اړيکې خړې پړې شوې وې، په ۱۳۳۳ل کال کې د پاچا د خبرېدو پرته د سفر بری امر ورکړ، دا کار يوازی د پاچا واک وو. کله چې د عمل وخت راغلو شوروي اتحاد چې د پښتونستان په مسئله کې کوم ملاتړ ښولی وو شا تګ وکړ. د دې مخالفتونو له امله داود خان په ۱۳۴۲ل کال کې استعفا وکړه او کور ناستی شو.

ډاکتر محمد يوسف د انتقالي دورې صدر اعظم شو او د اساسي قانون د جوړېدو دنده ورکړل شوه. د اساسي قانون د ۲۴ مادې له مخې د شاهي کورنۍ غړو نه شول کولی، صدراعظم، وزير، د شورا، سترې محکمې او د سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوندونو غړي شي. داود خان د دې مادې سره مخالف وو او د پاچا سره يې مخالفت پيل کړ. کله چې داود خان په کور کېناستلو ده د کودتا لپاره پټ او ښکاره کار کولو، حسن شرق، محمد عثمان فايق او يو شمېر نورو چپيانو ورسره اړيکې ساتلې. د داود خان زياته تکيه په شوروي اتحاد وه چې په پای کې داود خان ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ په ۲٦ کودتا وکړه. دا وخت ظاهر شاه په ايټاليا کې وو او داود خان د واک قبضه کولو وروسته جمهوريت اعلان کړ.

داود خان اساسي قانون او شاهي رژيم لغوه اعلان کړل، پارلمان يې ړنګ کړ. خپله واکمني يې د پوځي شورا له لارې اعلان کړه. په دې وخت کې زموږ ګوند يانې د افغانستان د خلکو دموکراتيک ګوند يو سراسري ګوند وو چې په کليو، ولسواليو، ښارونو او ولايتونو کې يې ګوندي سازمانونه لرل او په هغو کې په بزګران، کارګران، ځوانان، محصلين، استاذان او زيات پوځيان شامل وو. د ګوند مشرتابه د جمهوريت د ملي تکلارې خپلولو له امله د هغې په پلوۍ يوه اعلاميه خپره کړه. داود خان خلکو ته د «خطاب به مردم» تر عنوان لاندې مهمه وينا واوروله.

ويل کېده چې دا وينا ورته د ګوند يو اړخ ليکلې وه. په دې وخت کې د خلکو دموکراتيک ګوند دوه ډلې وو يوې خوا د نور محمد تره کي او بلې خوا د ببرک کارمل تر مشرتابه لاندې فعاليت کاوه. داود خان خپله وينا د راډيو له څپو واوروله. دا وينا د خلکو خوښه شوه، د منلو وه، داود خان د بهرني سياست په لړ کې بهر ته سفرونه وکړل. په ۱۳۵۵ل کال کې د پاکستان صدر اعظم کابل ته راغلی، داود خان د پښتونستان له مسئلې سره هم علاقمندي درلوده. کله چې شوروي اتحاد ته ولاړ د برژنيف سره په خبرو يې سر خلاص نه شو، امريکا هم سخت شرطونه درلودل، ساړه جنګ هم ادامه لرله.

هغه د هېواد له ملي ګټو څخه تېرېدلی نشو او بهرنيانو له هغه څخه بل ډول توقعات لرل، د داود خان په کابينه کې هم يو شمير عياش او د ده له سياست سره ناخوښو عناصرو ځاله جوړه کړې وه. له دې کبله هغه نورو سياسي ګوندونو ته د فعاليت اجازه ورنه کړه او پر ځای يې يو بې تجربه ګوند چې عمدتاً په کې لوړ پوړي چارواکي او حاکميت ته نږدې کسان راټول شوي وو، د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځنګ په نامه جوړ او هغه ته يې د فعاليت قانوني اجازه ورکړه.
د جزا قانون چې هېواد کې ورته اړتيا وه په داسې شرايطو کې جوړ کړ چې د هغې له مفاداتو څخه به د داود خان د سياسي مخالفينو په کونج ته کولو او زپلو کې استفاده کېدله.
په ملي غورځنګ کې ډېری وزيران، واليان، ولسوالان، د ليسو مديران او نور مهم دولتي چارواکي ور دننه شول. د معارف د ريفورم په پلمه د اتم ټولګي زده کونکو ته د کانکور ازموينه ورکول اړين وګرځېدل چې په سلګونو زره زده کونکي په کانکور کې پاتې شول، بېکاري نوره هم زياته شوه، ځوان نسل د کار موندنې لپاره ايران او پاکستان ته مخه کړه.
داودخان خپل ۷ کلن پلان عملي نه کړلی شو ځکه چې هغه د ختيځ او لويديځ وعده شوې مرستې را جلب نه کړې، داود خان يو شمېر اسلامپاله مشران زنداني کړل او له دوی څخه يې يو شمېر ووژل. د کودتا په نامه په يو شمېر ملي شخصيتونه بنديان او شکنجه شول. محمد هاشم ميوندوال، خان محمد خان مرستيال، ماما زرغون شاه، عارف ريکشاوالا، سيد امير پيلوټ او نور د پوځ وتلي تجربه لرونکي کسان ونيول شول او له مېنځه ولاړل.
د اسلام پالو يو شمېر وتښتيدل، پاکستان ورسره مرستې وکړې، ګلبدين حکمتيار او احمد شاه مسعود له پاکستانه وسلې تر لاسه کړې، په پنجشير ولسوالي، بټي کوټ علاقداری، شيرزادو علاقداری، لغمان لايت، سرخرود ولسوالي او يو شمېر نورو ځايو کې چريکې حملې وکړې...
زه د ننګرهار ولايت د حصارک غلجايي په ليسه کې ښوونکې وم او د خپل ګوند يانې د افغانستان د خلق د موکراتيک ګوند غړيتوب مې درلود. ۱۳۵٦ل کال د چنګاښ په ۱۲ کې د ګوند دواړه خواوو يانې (د ببرک کارمل او نور محمد ترکي) په جمال مېنه کې په يوه کور کې ګډه غونډه وکړه، غونډې نور محمد تره کی د ګوند عمومي منشي او ببرک کارمل مرستيال وټاکه، خو دا کار يوازې په ملکي برخه کې سرته ورسېده.
په دې وخت کې ميراکبر خيبر د ګوند د مشرتابه غړي په کابل کې په ۱۳۵٦ل کال د وري په ۲۹ نېټه د يوه نامالوم کس له خوا ترور شولو، د ګوند له خوا موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لار ښوونه وشوه چې د مير اکبر خيبر په جنازه کې ګډون وکړو.

د فاصلې د ليرې والي په خاطر موږ ونه شو کړلی چې په جنازه کې برخه واخلو دا جنازه د زرګونو ګوندي غړو او هېوادوالو له خوا په خاصو مراسمو سرته ورسېدله. مخکې له دې چې جنازه واخېستل شي د نورمحمد تره کي لخوا د ګوند د مشرتابه غونډه جوړه شوه. دوی پرېکړه کړې وه چې بايد د حکومت او نورو په هکله له احساساتې شعارونو ورکولو نه ډډه وشي.

خو يو شمېر کسانو چې په قصدي توګه يې غوښتل د حکومت او ګوند ټکر وشي د پريکړې خلاف د امريکا د سفارت مخته حېرانونکي شعارونه ورکړل. د شپې موږ د حصارک ولسوالۍ د سرندو په کلي کې ګوندي غونډه لرله چې پلازمېنې کابل څخه راډيو کې نا څاپي اعلان وکړ چې امنيتي ارګانو ته لارښونه وشوه چې نور محمد تره کی، ببرک کارمل او نور هغه کسان ونيسي چې د قوانينو خلاف يې په لاريون کې ګډون کړی.

د دې راپور خپرولو تر څنګ په راډيو کې مستې ترانې او د نيول شوي کسانو اړوند ناوړه پروپاګند خپرېده. د هغې ورځې په سبا د داود خان پلويانو په ټول هېواد کې اتڼونه وکړه او خوښي يې وکړې چې د دې پېښې عاملين نيول شوي، دوی غوښتنه کوله چې دا نيول شوي کسان بايد سخته سزا وويني. د هغوي خوښۍ لا پاې ته نه وې رسيدلې چې د ګوند د مخکينۍ لارښوونې سره سم د افغانستان د وسله وال پوځ هغو ټولګيو واک ترلاسه کړ چې د ګوند سره يې اړيکې لرلې. هغوي د ګوند مشران ازاد او د داود خان د رژيم پر هغو مواضعو يې يرغل وکړ چې د رژيم د بچ کېدو هڅه يې کوله.

په پايله کې داود خان ووژل شو، واک د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم څپرکی:

# د اخ دګ سیاسي واک تر لاسه کړ

**۱۳۵۷ل کال د غوايي ۷ مه نېټه**



## نور محمد تره کی د ګوند او حکومت مشر شو:

**درنو لوستونکو کله چې د شاهي کورنۍ ۴۰ کلنه واکمني پای ته ورسېده، واک سردار محمد داود خان قبضه کړ. د داود خان تر واکمنۍ مخکې په هېواد کې یو شمېر سیاسي ګوندونو نیمه رسمي فعالیتونه سرته رسول. د بېلګې په توګه د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند دوه څانګو (خلق د نور محمد تره کي او پرچم د ببرک کارمل) په مشرۍ، اسلامي ګوندونه د پروفیسر برهان الدین برهاني، پروفیسر صبغت الله مجددي، پروفیسر استاد عدالرب رسول سیاف، نیازي، ګلبدین حکمتیار او نوره په ګډون، مساوات د محمد هاشم وطنوال په مشرۍ، غلا محمد فرهاد د افغان ملت په مشرۍ، شغله جاوید د محمودي یاري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مشرۍ او نور کوشني جريانونه چې به په موهمو ملي او وطني مسئلو باندې د بحث لپاره په پوهنتونونو کې راڅرگندېدل او مظاهرې او اعتصابونه به يې کول او د خلکو د روا حقونو د ورکړې په خاطر به يې خپل اواز اوچتاوه. چې غټې بېلگې يې د ننگرهار د ناوې د پراختيا رياست د کارگرانو يو مياشتني اعتصاب مظاهره، د شبرغان د کارگرانو مارش چې د کابل پر لور سرته رسېده. د ايران حکومت سره د افغانستان حکومت د هلمند د اوبو د خرڅولو اړوند مظاهرې چې سياسي گوندونو په تېره بيا د افغانستان د خلک دموکراتيک رول د يادولو وړ دی.

کله چې داود خان په ۱۳۵۲ل کال د چنگاښ پر ۲٦ نېټه واکمن شو. دا ټول سياسي گوندونه له داسې ډگري فعاليتونو څخه منع شول. په داسې شرايطو کې يو شمېر گوندونو خپل فعاليتونه بند او يو شمېر نورو نيم پټ فعاليتونه کول. لکه چې مخکې مې ورته گوته نيولې، کله چې د مرحوم مير اکبر خيبر د جنازې مراسم سرته ورسېدل او د داود خان د غوسې او قهرجن عمل سره گوند او ملگري مخ شول، د نامالومه حالت د رامېنځ ته کېدو په وجه د حصارک د ملگرو په سلا له هغه ولسوالۍ د کور په لور د محترم افريدي سره را روان شوم. د اړيکو د ټينگولو د نه شتون له کبله موږ دواړه جوکان کلي ته، چېرې چې زما اوښی اوسېده، ولاړلو.

هغوي په کور کې د ميلمه خونه نه درلودله، له دې امله موږ دواړه په مسجد کې بېدېدلو. دا د پنچشنبې ورځ وه په لاره کې موږ گلۍ هم ووهلو او ستړيا مو زياته وه او په جوکان کې هم د باران د اورېدلو او د پيچلي وضعيت د رامېنځ ته کېدو له امله په ژور خفگان تللي وو. گورو چې د شپې په ۸ بجو زما اوښی چې کوچنی راديو يې په لاس کې ده، هماغه د داود خان د ملگرو د خوښيو د شيبو په څېر مستې نغمې غږوي، سا نيولی راغی او ويې ويل چې بيا ولې د راديو خپرونې غير عادي شوي. څرنگه چې په مسجد کې د راديو اوريدل هغه وخت منع وو، نو موږ د راديو د اوريدو له پاره د مسجد څخه را بهر شولو. تر ۱۲ بجو موږ پوي نه شولو چې څه شوي، لږ ناوخته ډگروال عبدالقادر د هوايي ځواکونو په استازولۍ او محمد اسلم وطنجار د پلي ځواکونو په استازولۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلامیې ورکړې، په اعلامیه کې ویل کېدل چی واک د انقلابي شورا لاسته ورغلی او د یحیی کورنۍ د ابد لپاره ختمه شوه.

سهار شو او موږ بېرته ولسوالۍ ته راستانه شو، دا وخت د دې ولسوالۍ ولسوال د کندهار د اڅکزو ټبر څخه چې نوم یې اسد الله وفا وو. هغه یو شمېر مشران را ټول کړل او موږ ورسره خبرې وکړې، دوی ویل چې سبا ولایت ته ځو او نوي مشرانو ته مبارکي وایو، همداسې وشول خو ولسوال خپلې دندې ته بېرته را ستون نشو. پر ځای یې یو ښونکی چې محمود نومیده، د شینوارو اوسیدونکی او د گوند غړی وو د ولسوال په صفت را معرفي کړ. زما له نظره دا یوه لویه تیروتنه وه چې نوې واکمنۍ ټول په کار پوه پخواني کسان له دندو ژر لیرې کړل او په ځای یې د گوند داسې غړي وگمارل چې کاري دولتي تجربې یې نه درلودې او د ولس په ژبه چندان بلد نه وو. همدا لامل شو چی ستونزې پیدا شوې.

د پاس نه تر کښته په څوکیو ویشلو مخالفتونه پیدا شول د گوند دوه اړخونه یانې د ببرک کارمل او نور محمد تره کي لومړنی مخالفت د څوکیو پر سر را وټوکېد. د حصارک ولسوالۍ یوه بېلگه لیکم دلته د گوند گډه رهبري دا کسان وو، زه لیکونکی مسول، کابل خان مرستیال، افریدی، محمود، اکبر دین محمد، امان الله امیري او باز محمد تضاد یوه کمېټه وو. له مرکزه لارښونه وشوه چی زه باید جلال اباد ته ولاړ شم. محمود د حصارک غلجایي ولسوال او گوندي منشي، کابل خان ښونکی مرستیال، افریدی ښونکی، د حصارک د لېسې مدیر باز محمد تضاد وویل چې زما لپاره کومه څوکۍ پاتې نشوه؟ څوکۍ خو خلاصې شوي یانې باز محمد ویل زه خو د بل اړخ والا یم، ستونزه وه، دی ښونکی وو په ولسوالۍ کې یوازی د محکمې پوست او د پولیسو پوست د مالیې را ټولولو د مامور پوست دا یو هم باز محمد ښوونکي نشو کولای.

دا یوه نمونه وه په ټول هېواد کې غیبي مسلکي کسان یانې د گوند غړي په مسلکي څوکیو وگمارل شوو، چې پایلې یې ښې نه وې. په لومړیو کې د ۱۳۵۷ل کال د ثور پاڅون، بدلون او نوي واکمني او د انقلابي شورا له خوا گڼ شمېر فرمانونه د ولسونو د تاوده غبرگون سره مخا مخ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زما په اند د ستونزو د پیدا کېدو لاملونه کور دننه او بهر زیات دي، زه یو څو د بېلګې یې دلته لیکم. ګوند نوی یووالی کړی وو او ژر د واک پر ګدۍ وتمبل شول، د اردو سیاسي کول او د مسلکي کسانو له دندو شړل او ټول مقامونه ټیټ رتبه ګوندي افسرانو ته سپارل، د ګوند په مېنځ کې د ارګانیک یوالی نه موجودیت ګوند علنا په څو ډلو ویشلی وو. هرې ډلۍ کوښښ کاوه، چې خپل کسان په ښو څوکیو کې پر دندو وګماري، په دې هکله د دستګیر پنجشیري، قدوس غور بندي، نبي عظیمي، مرحوم میر صاحب کاروال، ما لیکونکي، استاد ګلداد خان، اقبال وزیري، عبدالرشید جلیلي، محمود سوما، شاه محمود حصین، ډاکتر صالح محمد زیري، سلطان علي کشتمندکتابونه لیکلي، چې هر یوه لیکنه پر دې اړوند جلا جلا خپل لید لوري لیکلي دي. خو زه په دې پروسه لږ نوره رڼا اچوم. دا چې ګوند څوان وو پوره پوخوالي ته نه وو رسېدلي.

لومړې: ټول دولتي مقامونه د یوه سیاسي ګوند په لاس کې ور کړل شو.

دویم: دا چې د دې ګوند په لومړنۍ تګلاره کې چې کوم هدف وړاندې شوی وي د هغو نه عملي کول وو.

درېیم: ټوله واکمني د یو ګوند په لاس کې شوه، د یوه دیکتاتور رژیم په توګه چلند پیل شو.

څلورم: یو شمېر خلک د سیاسي مخالف یا د انقلاب ضد تر نامه لاندې زنداني شول، ووژل شول، شکنجه شول.

پېنځم: د ګوندي خپرونو علاوه پر نورو خپرونو بندیز لګول، د دموکراسۍ اصل تر پښو لاندې کړ.

شپږم: د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د دموکراسۍ، د بیان د ازادۍ د عدالت د تامینولو، د ټولو فاسدو کارونو له مېنځه وړلو، د نورو سیاسي ملي دموکراتو ګوندونو سره د واک ویش او د ملي متحدې جبهې جوړولو لپاره مبارزه کوله، خو داسې ونه شول.

اووم: خپل ټول منتقدین که د ګوند غړي وو یا د نورو سیاسي ګوندونو پلویان وو په خورا ظالمانه توګه زندان ته واچول شول، شکنجه شول، بېدون له علني محاکمې ووژل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم: د ټولو فرمانونو د پلي کېدو لپاره د خلکو ذهنيت او پوهاوي کې پوره کار ونه شو. هره پروسه په چټکۍ عملي کېده، چې دې کار ستونزې راوزيږولې، ګاونډيو هېوادونو لکه پاکستان خو لا د داود خان له وخته يو شمېر بنسټ پال روزل او وسلوال کول. ايران هم له پاکستان څخه کم نه وو، ټولو لاس وهنې پيل کړې وې.

پاکستان اوه ګوني ګوندونه د افغانستان له مخالفينو جوړ او ايران اته ګوني ګوندونه جوړ کړل او د ورانکارۍ لپاره يې ورته روزنه ورکړه.

ددې ګوند پر وړاندې غرب او عربانو، د بنسټ پالنې سره مالي مرستې پيل کړي او هم د دې ګوند پر وړاندې د اسلام له نوم څخه ناوړه ګټه پورته شوله او زيات پروپاګندونه پسې وشول، په يو شمېر سيمو کې جنګونه او د مخالفينو فعاليتونه را څرګند شول. معلم صاحب قيوم بيا دا خبره بل ډول ليکلي هغه ليکي: چې کله د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند واک تر لاسه کړ د خپلې تګلارې له مخې يو شمېر سياسي شخصيتونو او سياسي ګوندونو ته د همکارۍ او ګډ کار بلنه ور کړل شوه.

دی ليکي چې حکومت د افغان ملت ګوند ته بلنه ور کړه چې کار او مرسته او ګډ کار وکړي خو دوی د مخالفت په ښودلو سره له همکارۍ نه ډډه وکړه او د پاکستان په لمسون يې د مخالفينو ملا وتړله. دی زياتوي چې د شعله جاويد مشر عثمان چې په لنډي مشهور وو هم د کار او مرستې بلنه ورکړل شوه خو دوی همکاري ونه کړه. زه د ده له دې ليکنو سره پوره همغږی نه يم ځکه چې نوي مشرتابه تر حده د بل سياسي ګوندي د فعاليت کولو حوصله نه درلوده، بلکې دوی مخالفين په قهر سره له مينځه وړل. حتی خپل ګوندي کادرونه چې د يو شمېر مشرانو له کړنو سره مخالف وه شهيدان يې کړل. کله چې د ثور پاڅون او د خلکو د سوکالۍ لپاره يو شمېر ګړندي ګامونه پورته شول.

د بېلګې په توګه شپږمه ګڼه فرمان صادر شو چې وايي ۱۱ مليونه بزګران او د هغوی کورنۍ د سودخورو د ظلم له منګولو څخه خلاص شول. اومه ګڼه فرمان کې د ولور اخستل منع شول، د ښځې او نارينه په موافقه ودونه کول جاري شول او د زيات مصرف نه د ډډه کولو لارښونه وشوه. د انقلابي شورا اتمه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمان له مخې ۲۹٦ زره بې ځمکو کورنیو ته ځمکه په وړیا توګه وویشل شوه، د کارګرانو د کار وخت اته ساعته شو، د کسبګرو او کارګرانو اتحادیې جوړې شوې، دوی ته د کوپون له لارې مواد ورکول کېدل. په مورنیو ژبو تلویزون خپرونې کولې، د سواد زده کړه په ټولو نالوستو جبري شوه.

دې کارونو مثبت او منفي اړخونه درلودل، د بېلګې په توګه د ځمکې ویشلو کې د زمیندار او کم ځمکې لپاره سم کار ونه شو، د زمیندار ځمکه که دقیقه محاسبه شوې وی او د ټولې ورثې تر مېنځ ترکه شوې وی، له نصاب نه پورته ځمکه بیا په نورو ویشل کېدلی شوله. خو دوی اسناد ونه څېړل، د اوبو مسئله حل نه شوه او په وچو احساساتو کار مخ ته ولاړ.

ما په ۲۰۰۰ز کال د شهید محمد هاشم وطنوال په ملګرتیا لندن ته یو سفر پلان کړ، په هوا یې ډګر کې موږ ته ملګري خیر محمد سلطاني ولاړ وو، دده په ملتیا مو د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند یو بنسټ ایښودونکي او مخکښ غړي ډاکتر صالح محمد زیري په خپل کور کې ولیدو. زموږ موخه دا وه چې ډاکتر زیري سره لیدنه وکړو، ډاکتر زیری د ثور د ۷ نېټې د بریالي پاڅون وروسته د کرنې او اوبو لګولو وزیر پاتې شوی وو. د زیري صاحب سره مو پخوانی د ګوندي ژوند او ګوندي حاکمیت په تړاو خبرې وکړې، د ده یې کور ودان موږ سره یې په پوره حوصله مندۍ خبرې وکړې او دا تعهد یې راکړ چې زه به یو کتاب ولیکم چې پخوانۍ ټولې بریاوې، ناخوالې او کړنې به په رښتني توګه ولیکم.

هغه دا وعده عملي کړه د نیمې پېړۍ خاطرو کتاب یې ولیکه او د لوستونکو له خوا ښه وارزول شو. ما د خبرو په درشل کې له ډاکتر زیري نه پوښتنه وکړه چې تاسو خو د کرنې وزیر وئ د ځمکو ویشل څنګه ارزیابي کوئ؟ ده وویل موږ په دې کار کې عجله نه درلوده، خو یو شمېر مشرانو ویل دا کار باید ژر وشي ځکه ملي دموکراتیک انقلاب باید ولس ته یو څه ورکړي.

زیري صاحب زیاته کړه چې کله د ځمکو نصاب مسئله او د ویش فرمان باندې کار پیل شو، زما مرستیال فضل الرحیم مومند وو، دی مسلکي کس وو. دی ګوندي نه وو، ده زما سره په دې پروسه کلک مخالفت وکړ خو د ده وړاندیز چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه مانه، پایله دا شوه چې د حکومت مخالف لوري ته د تبلیغ زمینه مساعده شوه. د بنسټ پالو پلوي پیل شوه. ده ومنله چې دا لوی کار باید د مسلکي کسانو له خوا څېړل شوی وی، د خلکو زهنیتونه او د پوهاوي لپاره کار شوی وی. په دې کار کې تخنیکي او مسلکي اشتباوې سرته ورسېدلې، دلته د پاکستان او نورو نړې تبر لاستی پیدا کړ. او د کفر او ملحد تر شعار لاندې د کفر سپي را ایله شول.

په پاکستان کې ۷ گوني گوندونه په ایران کې ۸ گوني گوندونه جوړ شول. د هېواد دننه هم یو لړ پېښې رابرسېره شوې، حفیظ الله امین چې ځان تر هر چا پیاوړی او مخکښ باله او کوښښ یې کاوه چې هر څه په لاس کې ونیسي د ده او ببرک کارمل تر مینځ ستونزي را پیدا شوې، د کارمل پلویانو ویل: مقامونه او څوکۍ موږ ته په مساوي توگه نه دي را کړل شوي، جلا لېدنې کتنې به یې کولې. امین ویل: دوی د کودتا پلان او نقشه لري چې په اړوند د نورو گوندي مشرانو او لیکوالانو کتابو کې لیکنې شوي. له همدې امله د کارمل پلویان یو شمېر زنداني او یو شمېر له هېواده بهر د سفیرانو په توگه واستول شو. یانې حفیظ الله امین بریالی شو. دویم وار د خلقیانو مېنځ کې د امین او نور محمد تره کي تر مېنځ مخالفت وتپوکېده، سره له دې چې دا مخالفت پخوانی وو ډاکتر زرغون په نامه یو شمېر مجرب ایمانداره گوندي کادرونه ونیول شول، د داکتر کریم زرغون په گډون یې زیات شمېر خلقیان په پلیگونو کې په پټه توگه شهیدان کړل، زه د دې شهیدانو له جملې د یو څو کسانو نمونه لیکم.

گور خونین شهیدان به تو اواز دهد
شغله ایراکه فروزان شده خاموش مکن
ما به امیدی وفای توگشتیم زجان
دوستان را مبر ازیاد فراموش مکن

(c) ketabton.com: The Digital Library





## اروابناد شهید ډاکتر عبدالکریم زرغون:

اروابناد شهید ډاکتر عبدالکریم زرغون د گلریز خان زوی په ۱۳۲۲ل کال کې د خوست ولایت د اسمایل خیلو په کلي کې زیږېدلی دی. لومړنی زده کړې یې د خوست ولایت د سړبن په ښوونځي کې په لومړۍ درجه تر سره کړي او د خپلې لوړې پوهې له امله په کابل کې د ابن سینا ښوونځي ته واستول شو، په ۱۳۴۴ل کال کې د کانکور له آزموینې وروسته د ابن سینا ښوونځي د وتلي زده کوونکي په توگه، د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې شامل او په ۱۳۵۱ل کال کې د نوموړي پوهنځي نه په لوړو نمرو فارغ او د کابل پوهنتون په اداري برخه کې د ډاکتر په توگه وگمارل شو.

په ۱۳۵۲ل کال کې د هېواد د وتلي او نامتو انځورگر غلام علي امید د لور (سلطانه امید) سره چې د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي وتلی زده کونکی او د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند خوځنده غړی وو، واده وکړ. د واده میوه یې دوه ښکلي د لوړې پوهې خاوندان زامن دي، چې یو یې هلمند زرغون او بل یې هېواد زرغون نومیږي. اوس مهال دواړه په جرمني کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسيږي. هلمند زرغون د انجنيرۍ پوهنتون په بريالي توګه پای ته رسولی او هيواد زرغون په برلين کې د پوهنتون په دوهم ټولګي کې په زده کړو بوخت دی.

ډاکتر زرغون د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند جوړېدو په مهال (۱۳۴۳ل کال) د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند غړيتوب ترلاسه کړ، بيا په کابل پوهنتون کې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د ګوندي سازمان د مسؤل په توګه وټاکل شو. په دې لنډه موده کې د خپلې ګوندي، سياسي او مسلکي لوړې پوهې او نه ستړي کېدونکو هلو ځلو له امله د خلکو د لارې د وتلي مبارز په توګه وپېژندل شو. په ۱۳۵۱ل کال کې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې د علی البدل (کانديد) غړي په توګه انتخاب شو.

ځوان او د سترو هيلو او ارمانونو خاوند، ګوندي تکړه مبارز ډاکتر زرغون ته د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند د مشرتابه د پريکړې سره سم په وسله وال پوځ کې د پوځيانو سره د ګوندي کار، پازه وسپارل شوه. نوموړي د خپل چټک او اغېزمن کار له امله په لنډه موده کې د وسله وال پوځ په ليکو کې ډېرې ګوندي کړۍ جوړې کړې او د پوځيانو په پوهنيزه وړتيا يې په پرله پسې توګه ټينګار کاوه او تل به د فلسفي، سياسي اقتصادي او ټولنيزو علومو د زده کړې له پاره، په ګوندي کړيو کې کورسونه جوړول او پرمخ به يې بيول، چې په وروسته کې د دغو کړيو يو شمېر غړي، ګوندي او دولتي لوړ پوړي چارواکي شول.

په همدې موده کې يو شمير ليکنې لکه: مستړبل، نوي سياسي اصطلاحات او داسې نورې ليکنې خپرې کړې. د ډاکتر زرغون بې سارې هلې ځلې، لوړه پوهه، د روانو پېښو په اړه د ژورې څېړنې له مخې رغنده او جوړونکي وړاندوينې او وړانديزونه، د هغه وخت د انقلابي مبارزې د افغاني ځانګړتياوو او د ټولنيز جوړښت د ټولو اړخونو په پام کې نيولو سره سم، غوڅ دريځ، د ډېرو مينه والو او پلويانو لرل، د ګوند د مشرتابه کړې د اغيزمن او منلي شخصيت په توګه چټک راوتلو او د افغاني ټولنې د ورسته پاتې والي ځانګړتياو ورته يو لړ ستونزې او غميزې جوړې کړې.

دغه برياوې د وخت د زورواکو ګوندونو د دود له مخې د يو شمېر ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتونکو مشرانو او یارانو لپاره د زغم وړنه وې. له دې امله په کال ۱۳۵۳ هـ ل کې په بېړه له ګوند نه وایستل شو.
ولې نوموړي پاکزړي د ځورېدلو او کړېدلو خلکو د ارمانونو او هیلو له پاره، د ژوند ترپایه د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند کړنلارې ته د باور او درناوي په لرلو سره خپل اړیکې وساتلې او نه یوازې د ګوند په وړاندې یې یو کوچنی خوځښت ونه کړ بلکې په ۱۳۵٦ل کال کې یې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د کاندید (ازمایشي) غړیتوب په ډېر ویاړ او خوشالۍ ومانه. په دې ټوله موده کې د ا. خ. د. ګ. د پیاوړتیا لپاره خپلې هلې ځلې ونه سپمولې. خو په خواشینۍ سره، مغروره او سرکښ یارانو، نه یوازې په ناهیلیو او زخمونو ورته پټۍ ونه لګولې، بلکې د هغو له خونړیو منګلو بچ هم نه شو.
په ۱۳۵۷ل کال د ثور په ۲٤ مه د اندراګاندي د ماشوم د روغتیایي مرکز د اداري چارو د مرستیال په توګه وګمارل شو. خو ډېر ژر دانقلابي واکمنۍ د سرکښو یارانوزغم تر سره شو او د همدې کال د دلو په ۲۸مه له دندې ګوښه او د پلټنې او څارګرې اداري تر جال لاندې د شاه شهید د مور او ماشوم په روغتیایي مرکز کې د ډاکتر په توګه وګمارل شو.
په خواشینۍ سره د ۱۳۵۸ کال د جوزا په میاشت کې د تورې شپې په زړه کې سره له دې چې نوموړی پاکزړی د هېواد د ځورېدلو خلکو د ارمانونو په پام کې نیولو سره د ثور د پوځي پاڅون د بریا لپاره په هلو ځلو بوخت و، د واک د لیونیو یارانو لخوا د څرخي پله په خونړي زندان کې زولانه شو.
د ډاکتر زرغون ستر انقلابي شخصیت، لوړې پوهې، په ځان باور، افغاني ځانګړتیاوې په پام کې نیول، لوړ اخلاقي جرأت او د پېښو په اړه غوڅ دریځ، په تېره د ګوند دموکراتیزه کول او د ګوند ټول لاربښوونکي جوړښتونه (ارګانونه) له ښکته تر پورته د پټو، آزادو او نیغ په نیغ رأیو له لارې د ټاکلو پر اصل ټینګار کول، د ګوند د مشرتابه په سرکښ او ځان ساتونکو ځېرو داسې دروند سیوری اچولی و، آن تر دې چې د زرغون د نوم د اورېدو سره سم یې په ځېره کې بدلون راته. له دې امله د نوموړي د نوم د ویلو او لیکلو نه یې هم ډډه کوله.
او آن د عادت په توګه ځینې یاران تر نن هم دغه ویره ځوروي او په خپلو لیکنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې سترګې پرې پټوي او هرې سمې او جوړونکې نیوکې ته زرغونې طرح او هر ریښتوني نیوکګر (منتقد) ته زرغونی ویل کیده او وايي . ولې ډاکتر زرغون د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند پرته، بله لار نه وه خپله کړې.

ځوان ډاکتر عبدالکریم زرغون د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د کړنلارې د پلي کولو او بري لپاره په پاک زړه هلې ځلې کولې، خو د مشرتابه د سرکښو یارانو له خوا په ډېره ناځوانی او د ټولو انساني، حقوقي او اخلاقي قوانینو او نورمونو مغایر د ۱۳۵۸ کال د میزان په ۲۷مه نېټه د حفیظ الله امین په زورواکی کې د پلچرخي په خونړي زندان کې د تورې شپې په زړه کې د ناځوانو یارانو د جلادانو په ګولیو په شهادت ورسید. (اروا دې ښاده وي).

## د شهید محمد هاشم وطنوال له یادښتونو څخه د ماخذ په توګه:

د شهید اقا ګل بایس د زنداني کیدو په هکله یو څو کرښې لیکم:

شهید وطنوال لیکي: زه په ۱۳۵۴ل کال د کابل پوهنتون محصل وم او د کابل پوهنتون د ګوندي کمېټې غړی وم، د کمېټې غړي دا کسان وو دور محمد وفاکیش، محمد خان افت، عزیز الله وګړی، محمد عارف عالم یار، خان محمد، جمعه نوپرور، بسم الله محشور، اقاګل بایس، محمد هاشم وطنوال دوی به د ګوند لپاره په پوهنتون کې کار فعالیت کاوه.

همدغه وخت کې د ګوند په داخل کې د یو شمېر کړیو سره رابطې ساتلې. محمد ظاهر افق او ډاکتر کریم زرغون چې د حفیظ الله امین سرسخت مخالف ول، د ګوند غړو به ټول وخت پر دې جربحثونه کول چې دا پورته دوه د ګوند مخور کادرونه د حفیظ الله امین د هغه هلو ځلو په وړاندې واقع کېدل چې د نور محمد تره کي د اعتماد لاس ته راوړلو لپاره په ګوند کې فاصلې جوړوي. محمد هاشم وطنوال وایي ماته د حفیظ الله امین کسانو ویل، د ګروپ بازانو خونو ته مه ځه، ځکه ته به هم د دې ګروپونو په لست کې ور ځای شې. د نور محمد تره کي د مرګ وروسته اسدالله امین د کام رئیس محمد هاشم وطنوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تلیفون کوي، دا وخت محمد هاشم وطنوال د هرات مستوفي دی. هغه لیکي چې د اورزګان امنیتي حالات خراب دي، یوځل کابل ته راشه. ما حس کړه چې ما کام نیسي کله چې له الوتکې کښته شوم د کام کس مې مخته ودریدو او په تور والګاه کې یې سپور کړم او شش درک ته یې بوتللم. د ده د زندان کیسه او تولی پېښې د ډاکتر صالح محمد په کتاب د نیمې پېړۍ خاطرو کې شته.[1]

زه راځم د ده له لیکنو څخه د بایس په اړوند یوه نمونه را اخلم. شهید محمد هاشم وطنوال لیکلي چې په زندان کې یانې د کابل زندان کې د ګوند غړي له ماسره وو. انجنیر سلام هلمندی، اقاګل بایس، لعل پاچا عالمي، ظاهر چوپان، عزیز بسام، شا محمود حصین، ماما رسول، رحیم الله اصولي، عبدالقادر اشنا، نور وهاب ځپاند، داکتر صدري، داکتر عوض، خانجان الکوزی، جانان میرخیل، علی احمدحزین، میرا ګل راید، نسیم جویا، ظالیمین، هراتی دین محمد، جمعه نوپرور، جان محمد مخکښ، اقا محمد انجینر، کمین ګل، عظم الدین المي، احمد سعید، عبدالمجید سپین مجید، میرزا، محمد اقا کوچی، هنر غیرت، امان الله امیري، حنیف پاچا، عبدالمتین، واحد شینواری، عطا محمد نوکر، خوشرنګ افریدی د چپرهارعلاقدار، د حصارک غلجایي لیسې مدیر افریدی، ډاکتر سرور، عبدل محمد پهلوان، وزیر دهقان، غلام غوث او نور په لسګونو ګوندیان په ولایتونو کې بندیان وو. محمد هاشم وطنوال لیکي چې یوه شپه ۱۲ تنه بندیان زموږ خونې ته راوستل شول چا په خونه کې ځای نه ورکولو دوی په سره هوا کې ولاړ وو.

یو بندي چې سره تلتکه یې له ځانه راتاو کړې وه او له سړو ریږدېدو وویل، ما هم از رفقا شما هستیم. محمد هاشم وطنوال وایي زه ور بهر شوم او له دې مې وپوښتل: نام شما؟ ده وویل اګاقل بایس استم ما غېږ ورته خلاصه کړه چې سترې مشي ورته ووایم خو ده په ریږدیدلي اواز معذرت وغوښتلو. در اغوشت امده نمیتوانم از همه اولتر ما به جای ضرورت داریم. ما ورته وویل را ځه موږ به ځای در کړو، کله چې خونې ته داخل شو، له ده مو پوښتنې پیل کړې، ده یو څو

---

[1]- ۴۳۳ مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوابونه وویل نور یې وویل زه د خبرو کولو توان نه لرم.
وطنوال لیکلي چې بایس ټول وجود ټپي ټپي وو، پزه یې ټپي وه ټوکر ټوکر یې کړی وو. کام ورته دومره شکنجې برقونه او وهل ورکړي وو چې د سترګو سپین او تور یې ورک وه. بایس ماته وویل هغو کسانو چې زما سره په یوه ګوندي حوزه کې و او کلونه کلونه مو یو ځای مبارزه کوله دومره وهلی او شکنجه کړی یم چې نور له هر څه لویدلی یم له ژوند نه یي بیزاره یم چې ژر یې وژلی وی. هیڅا د ده له زړېرویو نه خوب نه شو کولای پوښتیې او غاښونه یې ور مات کړي وو. ډوډۍ یې نه شوه خوړلی او اخر هم دا لوړ په وطن مین ګوندي غړی بېدون له محاکمې پلیګون ته کش او شهید کړل شو.


شهید استاد آقا ګل بایس


شهید استاد ذکریا


شهید استاد عزیز بسام
1331 - 1358


لعل پاچا عالمي


لعل پاچا عالمي ځدران، محمد حنیف یرغل ځاځی، انجینر سلام هلمندی، مامور شینواری، غلام حبیب وطنیار، غلام رسول کهسار، ډاکتر عوض، ډګروال مقبل ځدران.

د حفیظ الله امین اونور محمد تره کي د اختلاف پایلې دا شوي چې امین د تره کي پر خوله بالښت کېښود او خپله واکمن شو، روسانو د کارمل پلویان جمع مرور خلقیان سره بیا یوکړل. روسا ن په ۱۳۵۸ل کال د مرغومي په اوایلو کې افغانستان ته خپل مجهز پوځ را دننه کړو حفیظ الله امین اویو شمېر وزیران او پلویان یي ووژل یو شمېر یې زنداني کړه ببرک کارمل جمع خلقیانو سره نوی حکومت جوړکړ، له زندانونو نه د ګوند غړي زما په شمول ټول سیاسي زندانیان راخوشي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شهید لعل پادشاه عالمي لنډه پېژندنه



**د شهید لعل پادشاه عالمي عکس**

**شهید لعل پادشاه عالمي د شاه خان زوی چې په (۱۳۲۰) لمریز کال کې د پکتیکا ولایت د اورگون لوی ولسوالۍ ورژانه کلي کې زیږیدلی دی. د دیني علومو مدرسه (لومړنی ښوونځی) یې د خپل اوسیدو په ځای کې په بریالیتوب سره پای ته ورسوله، منځنۍ او د لیسې دوره یې د کابل ښار د رحمان بابا په لېسه کې د یو ممتاز شاگرد په توگه په عالي درجه پای ته ورساوه.**

**عالمي د خپلې تقوا او دیني پوهې له امله د رحمان بابا د لېسې په شاگردانو او خپل کلي ورژانه کې په ملا مشهور وو. د لېسې نه د وتلو وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې شامل شو. هغه د لیکوالۍ او وینا جوړونې په برخه تر نورو زده کړیالانو ډېر ښه وځلېده، چې زده کړې په دوران کې د ده ډېرې مقالې چاپ او خپرې شوې.**

**لعل پادشاه عالمي په سیاسي خواځښتونو کې د پوهنتون د محصلینو په سازماندهی کې ډېره خوځنده ونډه درلوده، چې څو ځلې د مسؤلو مقاماتو لخوا تر تهدید لاندې راغی. د عالمي ویناوي د زده کوونکو او زده کړیالانو په غونډو کې د دوی د ذهني ویښتیا او هوښیارۍ او د فقر او طبقاتي ظلم پر خلاف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی په تشکل کې ډېر اوچت ځای درلود.
شهید، عالمی د زده کړې او تحصیل په دوران کې له ستر تره کي او ډاکتر زرغون سره د واحد سیاسي فکر او دریځ له امله ډیرې نږدې اړیکې درلودلې. عالمي په ۱۳۴۳ کال د ا خ د گ غړی شو. ډېره موده تېره نه وه چې د ده سیاسي شخصیت نورو گوندیانو ته د منلو او درناوي وړ وگرځېد، لعل پادشاه عالمي د لوړو زده کړو څخه وروسته د اطلاعات او کلتور په وزارت کې د یوې شعبې د آمر، او بیا د هرات د تاریخي عابداتو د ساتلو د رئیس په توگه، د طبع او نشر د رئیس په توگه، د دولتي مطابعو د رئیس په توگه، او د تجارت وزارت د مالي او اداري رئیس په توگه، دولتي دندې ترسره کړي دي.
د چین، هانکانگ، شوروي اتحاد او بلغاریا رسمي سفرونه یې درلودلي دي. د ثور د بدلون وروسته د فرا د والي په توگه وگمارل شو، موده وروسته په کور کېناست.
د امین د گوندي او دولتي کودتا او د ستر نور محمد تره کي له شهادت څخه وروسته، شهید لعل پادشاه عالمي ډېر ژور اغېزمن شو، ده ته د خاین حفیظ الله امین مطلق العنانه ظالمانه رژیم او یو شمیر ډارنو سیاسي مشرانو غواړه مالي، بې غیرتي او ډار د منلو او زغم وړ نه وو. هغه د خپلو گڼ شمیر انقلابي ملگرو سره د خپل تاریخي مسؤلیت له مخې د ۱۳۵۸ لمریز کال د تلې د میاشتې د ۲۲ نېټې وسله وال امین ضد انقلابي پاڅون چې د وخت غوښتنه وه، د ځان غوښتونکې او خپل غرض امین د فاشیستي رژیم پر ضد جوړ کړ.
پاڅون د دوو معلوم الحاله تش په نامه خلقیانو د خیانت په وجه ناکامه شو. عالمي د ۱۳۵۸ کال د تلې د میاشتې د ۲۳/۲۲ نېټه د شپې پر ۹ بجو د عارف عالمیار لخوا له کوره راوویستل شو او زندان ته واچول شو. په سبا ورځ د تلې په ۲۳ نیټه د ده په کور کې زوی وزیږېد. خپل زوی یې د ژوند تر پایه پورې و نه لیده، عالمي په دې آرمان چې د خپل زوی مخ وگوري او هغه په خپله غېږ کې ونیسي او لږ تر لږه د یو ځل لپاره پر هغه د پلارولۍ په عطوفت او مهربانۍ باندې د نوازش لاس راکش کړي بریالی نه شو، خو په هر حال هر هوښیار زوي ته د پلار تاریخي ویاړونه د پلار د نوازش پر ځای دي، نن ورځ د ده د ځوان زوي سترگې د پلار د انځور او انقلابي کارنامو سره آشنا دي او پرې ویاړي، ، ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو عیني شاهد وایي چې عالمي د خپلو انقلابي ملګرو د خلاصون لپاره د خاین امین له مرګوني عذاب او زندان څخه، هغوی ته وویل چې د تلې د میاشتې د ۲۲ نېټې د وسله وال امیني ضد انقلابي پاڅون پړه پر ما او استاد سلام باندې واچوی، ترڅو د استاد حبیب وطنیار غوندې تر امیني شکنجو لاندې ضایع نشي. شهید لعل پادشاه عالمي او د ده ملګري د جلاد امین په زندان کې ډېرې سختۍ او له انساني حوصلې څخه دباندې ورځې تېرې کړې. سره له دې چې د جسمي او روحي شکنجو لاندې یې شپې سبا کولې ولیدلې، بیا هم خپلو ملګرو ته یې د مقاومت او زغم بلنه ورکوله او هغوی ته یې د افغاني اصیلو مبارزینو بریالیتوب هیلې ورکولې.

د ۱۳۵۸ کال د لیندۍ د میاشتې په لسمه نېټه کله چې په ډله ایزه توګه د پلچرخي له زندان څخه پرته له محاکمې، شهیدان هر یو لعل پادشاه عالمي، استاذ سلام، آقاګل باعث، غلام رسول کهسان، استاذ ذکریا، عبدالعزیز بسام، ډاکتر صدري، حنیف یرغل او ډاکتر عوض د جلاد امین د جلادانو لخوا د وژلو ځای ته وړل کېدل، په دې وخت کې عالمي خپلو انقلابي ملګرو ته چې د هغه په شاوخوا کې ولاړ ول، مخ راواړاوه او په خلقي، انقلابي او افغاني مېړانه د لوړې هیوادپالنې په روحیې سره داسې وویل:

ملګرو د انقلابي مبارزې بیرغ د تل لپاره اوچت وساتئ، دا اتلان په همدغه ورځ د امین جنایتکاره ډلې لخوا د پلچرخي په پولیګون کې په ګولیو وویشتل شول، انّا لله وانّا الیه را جعون.

مړي او قبرونه یې تر نن پورې ترې تم دي، چې ډېر د ویر، خواشینۍ او افسوس ځای دی....

دوی د افغانستان او افغان ملت د نیکمرغۍ، پرمختګ او آزادۍ لپاره د شهادت جامونه وڅښل. محترمو کورنیو ته یې د زړه صبر غواړم. او په ویر کې تر نن پورې ورسره شریک یم، د دوی مړینه د هېواد او ملګرو لپاره لویه تشه بولم!

د دوی پاکې ارواوې دې ښادې وي، یاد یې تل پاتې دی !!

بیا هم دتل په څېر وایم چې پښتون خپل ورور په خپله او یا د بل په لاس وژني!!!

د پښتون لویه غمیزه!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نور محمد تره کي ژوند پېښې



نور محمد تره کی د ۱۲۹۶ لېږدیز لمریز کال د چنګاښ پر ۲۳ نېټه، چې د ۱۹۱۷ زېږدیز کال د جولای له ۱۵ نېټې سره سمون خوري، د غزني ولایت، مقر ولسوالۍ د کمکۍ ناوې په سره کلي کې په یو څه ناخه لوستې (باسواده) شپني او بزګره کورنۍ کې زېږېدلی دی، د پلار نوم یې نظر محمد تره کی دی. نوموړی درې ورونه لري، چې د یوه ورور نوم یې سلطان محمد تره کی دی، ویل کیږي، چې دا ورور یې تر نور محمد تره کي مشر وو. د نوموړي په اړه تر اوسه څه نه دي لیکل شوي.

د نور محمد تره کي د بل ورور نوم جان محمد تره کی دی او تر ده کشر دی دغه ورور یې د ۱۳۹۲ لمریز کال په وري میاشت کې (د ۲۰۱۳ زېږدیز کال په اپرېل میاشت) کې د ور پېښې شوې ناروغۍ له امله د لندن ښار په یوه روغتون کې د ۸۶ کلونو په عمر ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دریم ورور نوم یې غلام محمد تره کی دی، چې دا هم تر نور محمد تره کي کشر دی او نوموړی په حق رسېدلی دی.
د نور محمد تره کي د کورني ژوند په اړه ویل کېږي، چې یوه مېرمن یې درلوده، خو کوم اولاد یې ترې نه وو.
د نور محمد تره کي د رسمي ژوند لیك له مخې هغه په ډېر کوچنیوالي کې خواریکښ او په پنځه کلنۍ کې یې په مزدورۍ لاس پورې کړی و.

## ۱- ۲: زده کړې

نور محمد تره کی لومړنۍ زده کړې په مقر کې ترسره کړي او له هغه وروسته کندهار ته ولاړ، هلته په (پښتون) شرکت کې په کار وګومارل شو. په ۱۹۳۵ز ېږدیز کال په بمبیي کې د (پښتون) شرکت د نمایندګۍ منشي وټاکل شو.
تره کی په یوه داسي کورنۍ کې زېږېدلی دی، چې له اقتصادي پلوه په متوسطو هغو کې شمېرل کېده. له لومړنیو زده کړو وروسته چې په خپل کلي کې یې تر سره کړې وې، له یوه نږدې خپلوا ن سره د کوټې ښار ته لاړ او هلته یې درس ووایه، چې له درې کاله وخت تېرولو وروسته بېرته خپل کلي ته راستون شو او هلته یې د ناوې ولسوالۍ د یوه خان (اختر محمد خان) په کور کې د ښوونکي په توګه دنده ترسره کوله او له هغه وروسته یې له عبدالمجید زابلي سره د هغه په تجارتي شرکت کې د منشي په توګه وظیفه ترسره کوله.
په ۱۳۱۳ل کال کې چې نور محمد تره کی په بمبي کې کار کاوه، نو په انګرېزي ژبه یې د شپې ښوونځی هم پای ته ورساوه او ویل کېږي، چې زلمي تره کي همدلته له سوسیالیستي ایډیې سره پېژند ګلوي وکړه. (۱: ۲۲۰)
نور محمد تره کی د پښتو تر څنګ په پارسي، انګریزي او اردو ژبو پوهېده او د ژباړې په برخه کې یې په ۱۹۵۹ز کال د امریکا له اورسیز ټرانسلیشن انستیتیوت څخه د تخصص لیسانس اخېستی دی.

## ۱- ۳: دندې او سیاسي هڅې

نور محمد تره کي لومړی د ښوونکي په توګه دنده مخته وړه او وروسته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار کې له پښتون شرکت سره په کار وګومارل شو.

په ۱۹۳۷ – ۱۹۳۹زېږدیز کلونو کې یې لومړی په سوداګرۍ وزارت او وروسته بیا په کانو او صنایعو وزارت کې کار کاوه. په ۱۹٤۰ز کال کې یې د «اقتصاد» مجله چلوله او د ۱۹٤۱ز کال وروسته په کابل راډیو، باختر آژانس او فواید عامې وزارت کې دندې تر سره کړي دي.

په اوسني لیکوال کتاب کې راغلي دي، چې نور محمد تره کی په ۱۳۲۰ لېږدیز لمریز کال د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د نشراتو د دوهمې څانګې غړی او په ۱۳۲۱هـ کال د همغه ریاست د نشراتو د لومړۍ څانګې غړی وټاکل شو. (۱: ۲۲۰)

په ۱۳۲۲ل کال په کابل راډیو کې د پښتو مرستیال او په ۱۳۲۳ل کال کې د باختر اژانس د مؤسسې غړی شو.

په ۱۳۲۴ ل کال یې په ټولګټو وزرات کې د خصوصي مدیر او د بهرنیو اړیکو د مسوول په توګه دنده مخته وړې ده، په ۱۳۲٦ل کال کې د پطرولو لوی مدیر و په ۱۳۲۸ هـ کال کې د خپرونو په ریاست کې د بولتین مدیر او په ۱۳۳۱ل کال د باختر اژانس د لوی مدیر په توګه وټاکل شو.

نوموړی په ۱۳۳۲ل کال واشنګټن ته د افغانستان په سفارت کې د مطبوعاتو د اتشه په حیث ولاړ او له ۱۳۳۴ل کال څخه بیا تر ۱۳۳۸ل کال پورې یې په کابل کې د یونسکو تخنیکي مرستې او یونسکو په څانګه کې د سکرتر او ژباړن په توګه دنده تر سره کوله، چې وروسته هغه یې بیا د (نور دارالترجمه) په نوم یو شخصي دفتر په کابل کې پرانیست. (۲: ۲۵۳)

د نور محمد تره کي لومړی سیاسي حرکت د شاه محمود خان د صدارت پر مهال پیل شو او له ویښ زلمیانو ګوند سره یو ځای شو، چې د دې ګوند په (انګار) جریده کې به یې لیکنې خپرېدې. کله، چې شاه محمود خان نیمه ډیموکراسي هم ختمه کړه نو پر خپرونو

یې بندیزونه ولګول او د ویښ زلمیانو ځینې کسان یې بند ته واچول چې یو په کې نور محمد تره کی هم و. په ۱۳۳۱ل کال نور محمد تره کی له یو شمېر نورو کسانو سره له هغه وروسته چې له بنده را خلاص شول، شاه محمود خان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلل او له هغه سره یې د وفاداري ژمنه وکړه، چې له دې سره نو دی په واشنګټن کې د افغانستان د مطبوعاتي اتشې په حیث وګمارل شو. د ځلوېښتمو کلونو له پای څخه نور محمد تره کی په ځوانیزو او سیاسي چارو لاس پورې کوي. هغه د (ویښ زلمیانو) د سازمان د مرکزي هستې له فعالینو څخه وو. د دغه سازمان د فعالیت اساسي کرښه د فیوډالي بقایاوو پر ضد مبارزه وه. په دې وخت کې نور محمد تره کی د هېواد په مطبوعاتو کې د داسې یو دموکراتیک حکومت په طرفدارۍ غږ پورته کوي، چې ولسي جرګې ته مسؤلیت ولري.

هغه د ١٩٥١زیږدیز کال د مارچ په ٧ نېټه په (انګار) اخبار کې لیکي: «د هر هېواد د ځوانیز ژوند او ثقافت د سطحې د لوړولو لپاره باید مختلفې لارې چارې وکارول شي. له دغو لارو چارو څخه یوه په سیاسي، اقتصادي او ځوانیز ژوند کې د خلکو د پراخو پرګنو فعال ګډون دی. که زموږ ولس د سیاسي مخکښو رسمي ګوندونو په مرسته یو ځای شي، په لږ وخت کې به د هغو ملي اهدافو په تر سره کولو بری ومومي چې زمانې زموږ د هیوادوالو پر وړاندې ایښي دي.»

نور محمد تره کی د همدې اخبار د ١٩٥١زیږدیز کال د اپریل د لومړۍ نېټې په ګڼه کې د سیاسي ګوندونو د تشکیل او آزاد فعالیت غوښتنه کوي او د اپریل پر ١٥مه نېټه بیا لیکي:

«موږ د خلکو د حکومت جوړولو د ضرورت په باب خبرې کولې، چې ولسي جرګې ته مسؤلیت ولري، تر کومه به موږ د سیاسي ګوندونو او ولسي حکومت د ګټو او ښېګڼو په باب خبرې کوو؟ دا چې هغوی د خلکو د ګټو او غوښتنو منعکس او مدافع دي هر چاته په کافي اندازه څرګنده ده او چا ته د شک او تردید ځای نه پاتې کېږي. اوس نو د دې وخت رارسېدلی دی، چې راپاڅېږو او د خپل هېواد د نېکمرغۍ لپاره په کار پیل وکړ، میدان ته ور ودانګو او د پرګنو څواک ته انسجام ورکړو. خو دا کار یوازې د سیاسي سازمان او ګوند په ایجاد سره تر سره کېدای شي».

له همدې وخته د یوه ساسي ګوند د تشکیل لپاره د نور محمد تره کي د سیاسي هڅو، جد وجهد او مبارزې لړۍ پیل کېږي.

د ١٩٥٣ زیږدیز کال په مارچ کې نور محمد تره کی د امریکا په متحده ایالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د افغانستان د سفارت د مطبوعاتي آتشې په توګه وټاکل شو، خو د خپلو مترقي نظرياتو د څرګندولو په وجه د همدې کال په پای کې بېرته له واشنګټن څخه کابل ته راوغوښتل شو. (١: ٢٢١)

هېواد ته له راتګ وروسته په کابل کې د یونسکو مؤسسې منشي او یو وخت یې بیا په همدې مؤسسه کې د ژباړن په توګه دنده تر سره کوله. ده په عین وخت کې په ادبي او سیاسي فعالیتونو کې هم ونډه درلوده. د ده د نه ستړي کېدونکي او پرله پسې فعالیتونو پایله وه، چې په ١٩٦٥ زېږدیز کال کې د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند منځ ته راغی. (٢: ٢٥٣)

لومړۍ مؤسسه کنګره د همده په کور کې جوړه شوه. په دې کنګره کې نور محمد تره کی د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل شو او د ١٩٦٦ز کال په اپرېل کې د(خلق) په جریده کې د ګوند مرام خپور شو. تره کی د غوایي د اتمې له کودتا وروسته واک ته ورسېد، د ګوند له خوا یې لومړۍ انقلابي شورا تاسیس کړه او لومړنی فرمان یې داسې اعلان کړ:

د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند په خپله لومړۍ ناسته کې نور محمد تره کی، چې د افغانستان یو لوړ ملي او انقلابي نوم دی. د دې ګوند د مشر په توګه اعلانوي، چې دی په عین حال کې د دولت رئیس هم دی.

تره کی د ١٣٥٨ل کال په وږي میاشت کې هاوانا ته په یوه کنفرانس کې د ګډون په موخه لاړ، چې د بېرته ستنېدلو پر مهال یې په روسیه کې له برژنف او د هغه هېواد له نورو لوړو پوړو چارواکو سره وکتل او داسې فکر کېږي، چې شوروي چارواکو هغه مهال د حفیظ الله امین د مقاومت او سخت چلند په اړه ورته خبر ورکړی وو او له هغه نه د لېرې اوسېدلو یې هم ورته ویلي وو.

حفیظ الله امین له دې خبر شوی و او هماغه وو، چې تره کی یې له شوروي نه له راستنېدو وروسته له قدرته ګوښه او وواژه. د تره کي د مرګ کیسه د جمهوري ریاست د مخابراتو رئیس عبدالودود په ډاګه کړه، چې همدا اعترافات یې د کابل په انیس او د تهران په اطلاعاتو ورځپاڼو کې خپاره شول، چې د ده په خبره د سیاسي ارکان له رئیس «روزي» او د ګارد د اطلاعاتو له رئیس محمد اقبال سره یې یو ځای وژلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۵۸ کال د تلې میاشتې په ۱۸مه کابل راډیو د نور محمد تره کي مرگ داسې اعلان کړ: «د انقلابي شورا رئیس نور محمد تره کی د هغې اوږدې ناروغۍ له کبله چې ورسره لاس او گرېوان وو، پرون سهار سترگې پټې کړې او جنازه یې تېره ورځ په پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپال شوه». ماخذ: ۲۸۳مخ

## ۱- ۴: د نور محمد تره کي ادبي هڅې او پنځونې

نور محمد تره کی له دې سره سره، چې د افغانستان د یوه وتلي سیاسي شخصیت په توگه یادېږي، یو بااستعداده لیکوال او په پښتو ژبه کې د لنډ هنري داستان او ناول د رامنځته کېدو نوښتگر او له لومړنیو لیکوالو څخه بلل کېږي.

تره کی د خپل ژوند ډېره برخه په لیک او لوست تېره کړې ده او د هغه مهال په گڼو خپرونو کې یې کیسې او مقالې خپرې شوې دي. تره کی د ځانته سبک څښتن او ریالیست لیکوال دی، چې د ولس ژوند یې هماغسې ترسیم کړی دی، لکه څنگه چې دی، د ولس په ژبه یې خبرې کړې دي او د ولس ستونزې یې په خورا هنري او ظریفانه انداز بیان کړي دي، چې د لنډو کیسو شمېر یې ډېرشو ته رسېږي او ډېری یې په کابل مجله کې خپرې شوې هم دي. (۱: ۲۲۱)

دلته پر ځای بولم، په اوسني لیکوال کې د حبیب الله ولسیار هغه خبرې را واخلم، چې د کابل کلنۍ د ۱۳۳۸ل کال په گڼه کې یې د تره کي صاحب دا خاصیت داسې بیان کړی دی:

«البته په دې کې شک نشته چې د کیسو ځینې مثالونه په افغاني ادب کې د ځه پخوا مهال څخه هم ښودل کېدلی شي، اما په واضح او ریالیستي بڼه دا برخه هلته څرگنده ده، چې په غربي ژبو پوه افغان لیکوال هم میدان ته راوځي او په دې لاره کې څوک چې سره له یوې لفظي کمزورتیا د اولیت حق لري هغه نور محمد تره کی دی، ځکه دی نه یوازې د وخت او مهال په لحاظ دمخه دی بلکې په افغاني لیکوالو کې یوازینی لیکوال دی، چې ادبي لاره یې یواځې همدا لاره ده او بس. (۱: ۲۲۱)

نور محمد تره کی خپل ادبي فعالیت له لنډو کیسو پیل کړ. له دې کیسو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ یې په ۱۹۳۰ زېږدیز کال په (کابل) مجله کې خپره شوه. په دغو لنډو کیسو کې لیکوال د وخت د شاهي واکمنۍ په دور کې د هېواد د زیارکښو بزګرانو ژوند ته انعکاس ورکړی. د تره کي لیکنې په بېلابېلو ورځپاڼو کې چاپېدلې. د شوروي اتحاد د ادبیاتو په اړه یې له انګرېزي ژبې څخه ځینې لیکنې ژباړلې دي. د ده لیکنې د نړۍ او د افغانې ټولنې د بېوزلې طبقې پرتله کولو باندې څرخېدې، چې له هغوی څخه یې په ۱۹۵۸ زېږدیز کال کې د (بنګ مسافري) په همدغه کال کې د (سپین) په ۱۹٦۲زېږدیز کال کې د (څړه) ناولونه یادېږي. تره کی د پښتو ژبې هغه پیاوړی لیکوال دی، چې په لسګونو لنډې کیسې او پنځه ناولونه یې لیکلي دي او هڅه یې کړې ده، چې په خپلو لیکنو کې د افغاني ټولنې ولسي او عیني انځور وکاږي، چې په دې توګه هغه غواړي په ټولنه کې د افراط او تفریط بدي را په ګوته کړي.

د نور محمد تره کي څلور ناولونه په ځانګړې توګه او یو یې (بې تربیته زوی) چې لومړی ناول و، د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په کلونو کې په کابل مجله کې چاپ شوی دی او د راحت زاخیلي تر « ماه رخي » وروسته په پښتو ژبه کې دویم ناول ګڼل کېږي. (۳: ۴٦)

نور محمد تره کي د سیاسي کارونو ترڅنګ په ژورنالیستیکو کارونوکې هم لوی لاس درلوده. په لومړیو کې به یې په کابل مجله او نورو ورځپاڼو کې مقالې خپرېدې خو کله چې (خلق) خپرونه پیل شوه، نو دی یې د امتیاز څښتن شو. د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال تره کی د یوه څه مودې لپاره د باختر اژانس مرستیال وو، چې په دې وخت کې یې تهران ته سفر وکړ او د هغه هیواد د پارس خبري اژانس او د ایران د نورو دولتي مطبوعاتو د لیکوالانو او کارکوونکو پر وړاندې یې وینا وکړه، چې له هغې وینا مالومېده چې تره کی د خبریالۍ په چارو کې ښه مهارت لري.

## ۱- ۵: د تره کي درې اثار او ژباړې

دیموکراسي نوین د هغه بل کتاب دی، چې په دري ژبه لیکل شوی دی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکسستي فلسفې موضوع یې رانغښتې ده. دیموکراسي نوین کتاب په روسیه کې خپور شوی دی.
(عروسی من در خیبر)
(خاطرات جنگ چرچیل)
(نطق ویشسنگی دریونو)
یې هغه اثار دي، چې ده را ژباړلي دي.
د کارګرې طبقې ګوند.
په ځان باور.
د ځلمیانو لار ښوونکی.
سیاسي اصطلاحات یې نورې پنځونې دي.
د یادونې وړ ده، چې د نور محمد تره کي د لنډو کیسو ټولګه د بزګر لور د نورو ژبو ترڅنګ په براهوي ژبه هم ژباړل شوې ده، چې بزغر نامسړ نومېږي او ژباړن یې حمید عزیز ابادي دی.
نوټ: قدرمنو لوستونکو! له لاندې ځینو ماخذونو څخه ما استفاده کړې ده؛ خو ځیني نور ماخذونه مې؛ ځکه لیکلي دي، که چېرته نور دوستان وغواړي، چې د ښاغلي نورمحمد تره کي په اړه څه ولیکي یا زیات څه مطالعه کړي نو کولی شي، چې له لاندې ماخذونو څخه ګټه پورته کړي.
په پوره درنښت

## ماخذونه:

١- بېنوا، عبدالرووف. (١٣٨٨ ل) اوسني لیکوال. کابل: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
٢- سمون، محمد نظیم. (١٣٩۴ل. کال). سیاسي ګوندونه او ګوندي نظامونه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
٣- خلیل، حنیف. (٢٠٠٠ز). د پښتوناول تحقیقي او تنقیدي جایزه. پېښور: چاپ جوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ـ زلمی، محمدولي. (۱۳۸۲ ل. کال) ملي مبارزې
۵- احمدي، نصيراحمد. (۱۳۹۰ل) لنډه کیسه به څنگه لیکو؟انلاین چارې، مختار احمد احسان.
٦- اعظم، محمد اعظم. ( ۱۹۸۷ز). پښتو ادب او ناول مقاله. پېښور. پښتو مجله.
۷- تره کی، نورمحمد. (۱۳۹۲ل). موچي. روسیه: په روسیه کې دافغانانو فرهنگي ټولنه.
۸- تره کی، نورمحمد. (۲۰۱۰ل). د بزگرلور. کوټه: پښتو ادبي غورځنگ.
۱۱- تره کی، نور محمد. (۲۰۰۹ز) د بنگ مسافري. کوټه: پښتو ادبي غورځنگ.
۱۰- تره کی، نورمحمد. (۲۰۰۹ز) څړه. کوټه: پښتو ادبي غورځنگ کوټه
۱۱- تره کی، نورمحمد. (۲۰۰۹ز). سپین. کوټه: پښتو ادبي غورځنگ.
۱۲- تره کی، نور محمد. (۲۰۰۹ز). سنگسار. کوټه: پښتو ادبي غورځنگ.
۱۳- تره کی، نورمحمد. (۲۰۰۹ز). بې تربیته زوی. کوټه: پښتو ادبي غورځنگ.
۱۴- تره کی، نورمحمد. (۲۰۱۴ز). د نور محمد تره کي داستاني کلیات. کوټه: پښتو ادبي غورځنگ.
۱۵- خلیل، حنیف. (۲۰۰۰ز). پښتوناول. پېښور: باگرام ادبي جرگه.
١٦- رفیع، حبیب الله. (۱۳٦۰). زرینې څانگې. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز.
۱۷- روهي، محمد صدیق. (۱۳۸٦ل. ل). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۱۸- روهي، محمد صدیق. (۱۳۸۴ل). دپښتوادبیاتو تاریخ. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
۱۹- ښکلی، اجمل. (۱۳۹۰ل). سبکپوهه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
۲۰- طایزی، شېرزمان. (۲۰۰۴ز). ناول هنر او سفر. پښتونخوا: پښتوادبي جرگه.
۲۱- عمید، حسن. (۱۳۸۳ل). فرهنگ عمید. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر تهران.
۲۲- غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۲ل). د نثر لیکلو هنر. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳- قريشي، خاطره. (۱۳۹۴ل. ل). هندي سبک او پښتو شاعري. کابل: د افغانستان ملي تحريک، فرهنگي څانگه.

۲۴- مشواڼی، زاهد. (۱۳۸۵ل. کال). زاهد پښتو پښتو سيند. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۲۵- هاشمي، سيد محی الدين. (۱۳۷۲ل. کال). د ليکوالۍ فن. پېښور: دانش کتابتون.

۲٦- هاشمي، محی الدين. (۱۳۸۹ل. کال). د نثري ادب ډولونه. کابل: وحدت خپرندويه ټولنه.

۲۷- هاشمي، محی الدين. (۱۳۸۱ل. کال). ادب پوهنه. کابل: داريک د کتاب گرځنده کتابتونونو اداره.

۲۸- يوسفزی، سحر. (۱۹۸۰زکال). ادب څه دی؟. سوات: پروگريسو پرايز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نور محمد تره کي واکمني



## د میر اکبر خیبر وژل کېدل او د جنازې مراسم:

تر انقلاب مخکې د واحد گوند یانې گوند یوالی کړې وو لومړنې غونډه په ۲۸ د وري ۱۳۵۷ل کال د نور محمد تره کي په کور کې دایره شوه دا غونډه د تعقیب له امله د کور په گراج کې دایره شوه. د غونډې مسئله دا وه چې یوه مسالمت امېزه مظاهره وشي ځکه د داودخان تر کودتا مخکې گوند د کارگرانو ورځ د مې اوله په خورا درنو مظاهرو لمانځله خو د سردار محمدداود له کودتا وروسته نه وه لمانځل شوې.

خو پرېکړه بلې غونډې ته وځنډول شوه، په همدې شپه خیبر ترور شو. تر دې پېښې وروسته د نور محمد تره کي کور کې غونډه جوړېږي، لازمې دندې ویشل کېږي چې جنازې مراسم په ښه توگه سرته ورسېږي، د امکان په صورت کې د ولایاتو او کابل ښار نه زیات گوندیان او نور مینه وال راوبلل شي. چې د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهيد ملګري جنازه په ښو مراسمو سرته ورسېږي. لارښونه شوې وه چې په مظاهره کې د تشنج او احساساتي خبرو مخه ونيول شي يانې مراسم په مسالمت امېزه توګه سرته ورسېږي. په دې هکله داکتر صالح محمد زيری د ګوند د سياسي بيرو غړې وايي: په جنازه کې په زرګونو زنده باد شعارونه ورکړل شو چې دا خپله د لار ښونې خلاف کار وو، په هر حال کله چې مراسم پای ته رسېږي، محمد داودخان ته دده ناپوهه سلاکارانو سلا ورکوي چې د افغانستان د خلک د موکراتيک ګوند مشران ونيسي او په فوري توګه ورته سختې سزاوې ورکړي.

د افغانستان د خلکو دموکراتيک ګوند مشران د محمد داودخان لخوا زنداني وو خو د دې ګوند پوځي ملګرو د خپلو مشرانو د خلاصون له امله د پوځي برخې له مسول شخص څخه «امين» چې هغه هم د دې ګوند له مشرتابه څخه وو، ولې د لارښونې تر وخته نه وو نيول شوی، اړينه لارښوونه تر لاسه کړه. دا چې ولې د محمد داود خان استخباراتو برسيره پر دې چې پوهېدل څو حفيظ الله امين د ګوند لخوا د پوځ سره د کار او رابطې مسول شخص دی، تر ټولو اخر نيول کېږي؟ له دې امله د ګوند پلوه نظاميان په پاڅون پيل کوي، پاڅون بريالیتوب ته رسي، واک سره ويشل کېږي، د حکومت په راس کې نور محمد تره کی راځي او مرستيال ببرک کارمل کيږي.

ولې له همدې ورځې د ببرک کارمل پلويان مخالفت کوي، وايي چې موږ ته په دولتي پوستو کې برابره ونډه نه ده را کړل شوې، د کابينې په جوړولو کې هم ځنډ وشو، لامل يې دا وو چې ببرک کارمل زيات وزارتونه غوښتل خو حفيظ الله امين ورسره مخالفت کاوه. دنور محمد تره کي په منځګړيتوب کابينه جوړه شوه او د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا اساسي کرښې وړاندې شوې.

يوه بېلګه ليکم کله چې کابينه جوړه شوه حفيظ الله امين د بهرنيو چارو وزير او نور احمد نور د کورنيو چارو وزيران شول دا چې د واليانو ګمارل د کورنيو چارو د وزير پوری اړه درلوده او نور احمد نور کوښښ کاوه چې خپل ملګري هلته پر دندو وګماري، ليکن امين به کوښښ کاوه چې هلته خپل کسان د واليانو په حيث پر دندو وګماري. د امين او نور تر مېنځ به تل مخالفتونه وو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي بیرو، دارلانشاء او د مرکزي کمېټې د غړیتوب په اړه ول به هم جنجالونه وو.

په هر صورت د انقلابي شورا دندو او کرښو له مخې چې نوې واکمني به کوم کارونه سرته رسوي خلکو ته وړاندې شول چې اکثره د گوند د تگلارې څخه وو خو ستونزه دا وه چې گوند په هره برخه کې ښه کادرونه روزلي وه، لیکن د دوی د مسلک له مخې کار ور نه کړل شو.

ستره ستونزه حفیظ الله امین وو، ځکه ده غوښتل چې ټولو لوړو پوستونو کې خپل کسان ځای کړي، ځکه د ده پلان همدا وو چې مخالف له مخې لرې کړي او خپله ټول واک شي. ټول د ده د نظر مخالف گوندیان د گوند د بنسټ ایښودونکي نور محمد تره کي په گډون په ترتیب له مخې لرې کړل، امین واکمن شو. خو د واکمنۍ دوره یې کمه وه، دری میاشتی هم پوره نه شوه. امین او طرفدارانو یې خورا وژنې وکړې. خپل مخالفین یې ووژل او شکنجه یې کړل، خو ملامتي به په نور محمد تره کي وراچول کېدله. په داسې حال کې چې نور محمد تره کي هېڅ واک نه درلود، هر څه امین په لاس کې اخستي وو.

## کودتا که انقلاب؟

۲۷/۴/۲۰۱۷ مه

د ثور انقلاب د نړۍ د نورو سترو انقلابونو په هینداره کې.

د فرانسې ۱۷۸۹ز کال ستر انقلاب، د روسیې د اکتوبر ۱۹۱۷ز کال ستر انقلاب او د افغانستان د ۱۹۷۸ز کال د ثور «پرتمین» انقلاب گڼ ټکي.

د ثور پاڅون ته څوک کودتا وایي، څوک پرتمین انقلاب او څوک یې ناوړه بلوا بولي. سره د دې چې په دې باب ډېر شمېر کتابونه او مقالې لیکلی شوې دي. خو د ډول ډول پړاوونو او د روزگار د لوړو ژورو سره، په دې باب آن پخواني انقلابیانو په ارزونو کې پوښتنې پیدا دي، نو ښه به وي، که د ثور د قیام ځای او موقعیت د نړۍ د انقلابي پېښو په انگړ کې ولټول شي. د بل پلوه د تېرو پېښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باب به ځوانانو ته د مالوماتو يوه ټوکړۍ شي.

## لنډيز:

ـ د انقلابونو د ودې قوانين په نړۍ کې سره ورته دي، ځکه د بشري ټولنو د ودې قوانين سره مشترک دي.

ـ د فرانسې د ۱۷۸۹ز کال انقلاب او د روسيې د ۱۹۱۷ز کال انقلاب ته ځکه په تاريخ کې ستر انقلابونه ويل شوي دي، چې:

۱) په خپله ټولنه کې يې د خواريکښو په ګټه ژور بدلون راوستی؛

۲) په سيمه او په نړۍ کې د دې انقلابونو اغېزې دومره غښتلې وې، چې د لامله يې ګڼ شمېر نوي سياسي رژيمونه مېنځته راغلي ول.

ـ د ثور انقلاب، د فرانسې او د روسيې د انقلابونو په شان بنيادي وو، ځکه:

۱) د خواريکښ ولس سره يې د خانانو، بډايانو مناسباتو ته ژور بدلون ورکړ. د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل دپاره په زرګونو بزګران د سود او سلم څخه خلاص شول او د ځمکو خاوندان شول، چې آن په سترو انقلابونو کې ساری نه لري.

۲) په ګاونډيو هېوادو کې د لويو بدلونونو سبب شو، په تېره بيا، د شوروي اتحاد د ړنګېدو او د نوو جمهوريتونو د پيداېښت د پروسې پيل يې کېښود.

ـ د نړۍ لويو انقلابونو ته لنډه کتنه څرګندوي چې له بده مرغه، د سور ترور، يا انقلابي دکتاتورۍ پيداېښت، چې نه يواځې په دواړو ستروانقلابونو کې بلکې په چين، کوبا او نورو انقلابونو کې، د بهرنيو او کورنيو دسيسو او شخړو د ختمولو او انقلاب د ژغورنې په موخه مېنځته راغلی، د بې پرې محکمې د پرېکړو پرته يې وژل کړي او د ديکتاتورانو د زيږولو لامل ګرځېدلي دي، په پايله کې يې انقلاب ته د خپل لومړني موخې څخه انحراف ورکړي.

ـ د ليکنې د لوستلو سره به هر چا ته خپل تصور پيدا شي، چې د ثور د انقلاب څومره پرتمين دی او څومره ستر. خو زما په اند، په انقلاب کې حلوا نه ورکول کېږي، انقلاب د خلکو قهر دی «د خلکو قهر د خدای قهر دی»، هرو مرو به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې جنګونه، مرګونه راځي. ښه به وي که دا انقلاب زموږه چارواکو، بډایانو او لوټمارانو، ته پند او عبرت شي، چې نور ظلم او بېرحمي بس کړي که نه یو ځل بیا به خدای نه کا، د تودو د صبر کاسه نسکوره شي او انقلاب ته به مجبور شي.**

**په نړۍ کې زیات انقلابونه، قیامونه، کودتاوې، بلواګانې، نظامي پاڅونونه او پر هېوادونو د غښتلو دولتونو یرغلونه ترسره شوي چې د پاچاهانو او ولسمشرانو د راپرزولو، سیاسي رژیمونو د نسکورولو، د مدنیتونو د ړنګولو، او زیات مرګ ژوبلو لامل ګرځېدلي دي. یا یې د ټولنې مدنیت دیوالونو شاته اچولي او یا یې د ټولنې د هوسا پرمختګ بنسټ اېښی دی.**

**کودتا، د وسله والو په مټ او یا په چل ول د دولتي واک لاسته راوړل دي. کودتاوې په ډېرو هېوادو کې، په تیره بیا په بېرته پاتې افریقایي او آسیایي هېوادو کې، چېرته چې د قانون حاکمیت کمزوری وي، سرته رسېږي. څو ډوله پایلې یې د یادونې وړ دي:**

**ـ د دولت مشر د خپل څو یارانو سره د واک څخه ګوښه شي، خو سیاسي رژیم او ټولنیزې اړیکې په پخواني حالت پاتې شي. داسې کودتاوو ته قصري یا درباري کودتا وایې. په مصر او پاکستان کې د جنرالانو پرله پسې کودتاوې یې ښه مثالونه دي.**

**ـ په بل حالت کې ولسمشر د هغه د حکومت او رژیم سره نسکور کړی شي، چې پایله یې په ټولنه کې یا د یوې دیکتاتوري ځای په ځای کېدل، د قومي او مذهبي کړکیچونو پیل او د دیموکراتیکو حقوقو محدودول شي، یا خو د ولسمشر او دولت له خوا مترقي پروګرامونه پیل شي.**

**انقلاب، د زیربنایي او ژور تحول په مانا دی، چې د کودتاوو، قیامونو، بلوا ګانو، مظاهرو، اعتصابونو او آن د مذهبي او قومي شخړو سره پېل کېدای شي. خو کله چې دا پېښې ټولنیز مناسباتو ته ژور تغیر ورکړي، د خلکو د هرکلي او د بشپړ ملاتړ سره مخامخ شي، نو په انقلاب واوړي. د ټولنپوهنې د تعریف له مخې، انقلاب د یوې ټولنې د غړو ترمېنځ د کار د افزارو او ځمکو، فابریکو د مالکیت بدلون او د تولیدي اړیکو بدلون دی. که انقلاب مترقي او د زیارکښ ولس په ګټه وي نو بزګر یا کارګر چې د خان او پانګوال په ځمکه یا فابریکه کې، د پلار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نیکه نه د یوې گوله ډوډۍ یا کوشني معاش لپاره کار کاوه، د انقلاب په نتیجه کې د هماغې ځمکې خاوند وگرځي یا فابریکه کې د برخې خاوند شي او بیا ورسره د ده ټولنیز مناسبات او معنوي حالات بدلون ومومي. یانې دی د خان او پانگوال سره ځان برابر او سیال احساس کړي.

مگر دا د ژور بدلون تیوري، د خیالي (اوتوپیست) نظر په ډول، په کتابو کې پاتې شوې ده. د نړۍ انقلابونو کې لږې بېلگې شتون لري چې ځمکې دې بزگرانو او فابریکې دې کارگرانو ته ورکړل شوې وي، نادار او بډای دې د برابر حق خاوند گرځېدلی وي: په عمل کې، نه د فرانسې، او نه د اکتوبر ستر انقلاب کې کارگر د فابریکې خاوند شوی، نه بزگر ته چا د یوې ټوټې ځمکې قواله ورکړې ده.

ـ د فرانسې د ۱۷۸۹ز کال نامتو، ستر انقلاب، چې د یوې بلوا په ترڅ کې، د باستیل د زندان او د پاریس ښاروالۍ د نیولو سره پیل شو، لومړی ځل یې د بشریت تاریخ کې د انسانانو برابري، د بشر د حقوقو اعلامیې په خپرولو اعلان کړه. د بشر د حقوقو نامتو اعلامیه چې ټول انسانان، نارینه او که ښځینه دي د ټولنیز موقعیت، نژاد او ژبې پرته، د برابر حق خاوندان دي، اوس هم د ملگروملتونو او د زیاتو هېوادونو د احترام او منلو وړ ده.

په هاگ کې د همدې قانون پر مبنا جوړه شوې د بشر د حقوقو محکمه شته چې اروپایي هېوادونه یې کله کله پریکړې مني. ۲۱۸ کاله دمخه، د مریبتوب او ځمکو سره تړلي د خرڅلاو وړ بزگرانو د شتون په زمانه کې، د پاریس د کمون لخوا د دې قانون جوړونه یو ژور بېساری نړیوال بدلون گڼل شوی. یوه وجه یې همدا ده چې د فرانسې انقلاب ته تاریخ کې ستر انقلاب ویل کېږي.

د نادارو، خواریکښو، د پېړیو پېړیو ځورېدلو، کړېدلو طبقو بېلا بېل قشرونه د بشر د حقوقو د اعلامیې او د جمهوریت د نامتو شعارونو ـ خپلواکۍ، برابري او ورورگلوي، سره ځانونه د خپل هېواد کامل غړي وبلل او آن د ملي اسامبلۍ د غړیتوب درجې ته ورسېدل. د فرانسې ستر انقلاب کې، د څو پړاوونو وروسته، د بهرنیو لاسوهنو او کورنیو بغاوتونو د ماتولو سره، کله چې د یاکوبین د کلپ رادیکال انقلابیانو د روبسپیر په مشرۍ د چارو واگې په خپل لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخېستلې، د دیکتاتورۍ دور پیل شو. د انقلاب د نجات په نامه سور ترور سره، نه یوازې شاه او ملکه، ارسطو، کراتان، روحانیون، لیکوالان او پوهان یې د ګیلیوتین په تخته وتړل او سرونه یې ورپرېکړل، بلکې د انقلاب موسسین او خپل نږدې انقلابي یارانو سرونه یې هم والوځول. د انتن، د فرانسې د انقلاب نامتو نطاق، د پاریس د کمون دویم شخصیت او د روبسپیر دوست، کله چې د ده وار راغی او د ګیلیوتین په تخته یې څملاوه، چیغه کړه:

«ځان وژغورۍ! انقلاب د وینو تږی دی». خو د دې خونړي انقلاب آوازې او د مارسیلیز د انقلابي ترانې زمزمې د اروپا د هېوادونو خلک بیدار کړل، د پاریس د کمون د آزادي، برابرۍ او ورورګلوۍ شعارونه د نړۍ هر ګوټ ته ورسېدل، نو ځکه ورته د ستر انقلاب لقب ورکړ شو.

ـ په روسیه کې د ۱۹۱۷ز کال د فبروري د میاشتې کودتا چې د کادت او اس ار د ډلو له خوا ترسره شوه او د تزار سلطنت ته یې پای ورکړ او په اصل کې د روسیې د بورژوازي په کې لوی لاس وو، د اکتوبر ستر انقلاب ته لاره هواره کړه.

د ۱۹۱۷ز کال د اکتوبر ستر انقلاب سره، د مشهورو انقلابي فرمانونو په ترڅ کې د روسیې د امپراطورۍ ټولې شتمنۍ د کارګرو او بزګرو د دولت جمعي دارایي وګڼل شوه او ټول خلک په جمعي مالکیت کې د مساوي حقوقو خاوند وګرځېدل. خواریکښان د شخصي ملکیتونو خاوندان شول، خو د دوي د ژوند لومړنۍ اړتیاوې لکه کور، کالي، روغتیا، د اولادونو زده کړه او داسې نور د دولت لخوا ګرنټي وو.

روسیه کې هم د ګاونډیو هېوادو په ملاتړ، د انقلاب مخالف قوتونو د پرولتاریا ځوان دولت سره کلکې شخړې پیل کړې. پایله یې د فرانسې په شان، د پرولتاریا د دکتاتورۍ په نامه د سورترور شروع وه. د روس امپراطور د خپلې کورنۍ سره، روحانیونو، اشراف او د سیاسي ګوندونو غړیو، آن د بلشویک د ګوند مشرانو په دې خونړي طوفان کې ژوند دلاسه ورکړ. د استالین د څه کم دیرش کلونې مطلق العنانه واکدارۍ په دوران کې په لکونو روښان انده انسانان د انقلاب د دښمنانو په تور پانسي شول او یا خو په تبعید ګاوو کې وراسته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوروي اتحاد امنيتي ارګان ـ ک. ج. ب. لکه دولت په دولت کې، په ټولو ګوندي او دولتي ادارو باندې مسلط شو. ک. ج. ب. د استالين ترمړينې وروسته هم د شوروي اتحاد د ټاکونکي سياسي قدرت په حيث پاتې شو، چې د سوسيالستي سيستم په بدنامولو او ړنګېدو کې يې نقش تر ټولو زيات وو. خو د ټولو ناخوالو او ظلمونو سره د اکتوبر انقلاب، د شوروي اتحاد سوسيالستي سيستم جوړ کړ، چې د هېواد اکثريت وګړي، کومو چې د دولت پر سياست نيوکې نه کولې، د تضمين شوي، آرام ژوند خاوندان وو. د شوروي سيستم ډېر ژر وده وکړه او په لنډه موده کې په يوغښتلي نړيوال ځواک بدل شو. د دويمې نړيوالې جګړې وروسته، په کومو برخو کې چې شوروي، د هټلر فاشيستي يرغلګرو ته ماته ورکړې وه او په ټوله نړۍ کې د سوسيالستې ايډيالوژۍ مينه وال ډېر شول. زيات سوسيالستې او مترقي هېوادونه منځته راغلل، چې سوسيالستي بلوک يې تاسيس کړ او د امريکې او انګليس ښکيلاک ګرو زبر ځواکونو په مقابله کې ودرېدل. د پورته ياد شوي ماهيت له کبله، د روسيې د اکتوبر انقلاب ستر انقلاب ونومول شو.

لنډه دا چې، په انقلابونو کې د ډلو او شخصيتونو په منځ کې ډول ډول درزونه او کړکېچونه آن د مرګ تر سرحده را پيدا کېږي، چې ځينې يې هم د انقلابونو د قانونمندۍ تابع دي. ځکه، يو ځل چې د ځوريدلي تودو انقلابي احساس وپارول شي، د سيلاو په څېر يې مخنيوی ناشونی دی. نو راديکال انقلابيان قدرت په لاس کې اخلي، د ډېرو چټکو بدلونونو لپوال، د غير فکرونو خاوندانو سره د زور زياتي چلند پيل کړي، د عدالت او برابرۍ تعهد يې هېر شي، شکنجې او ترور شروع شي. نه يوازې روب سپير، د پاريس د کمون د نجات د کمېټې رئيس، سياستوال او آن خپل ياران ووژل، د شوروي اتحاد دکتاتور استالين هم د نورو ګوندونو او وروسته د بلشويک د ګوند نږدې ټول موسسين نابود کړل. په نتيجه کې مترقي، سوسيالستي انقلابونه د خپل اصلي موخې څخه چې د انسان آزادي او هوسايي ده منحرف کړی شول.

ـ د افغانستان د ۱۳۵۷ل کال (۱۹۷۸)ز کال د غوايي د مياشتې د اوومې ورځې پاڅون چې د يوې نظامي خوځښت سره پيل شو، د خلکو دموکراتيک ګوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ح. د. خ. ا) د مشرانو له خوا د بدلونونو د پروگرام د اعلام سره، د ټول گوند، د مترقي خوځښتونو او د وطنوالو د بشپړ ملاتړ په نتيجه کې د يو ملي مترقي انقلاب بنه غوره کړه. که څه هم، که انقلابي پاڅون د خلکي افسرانو په لاس ترسره شوه، خو د ټولنې د مختلفو اقشارو د اذهانو په روښانه کولو کې نه يوازې خلکيانو او پرچميانو، بلکې افغان ملتانو، شعله يانو، صدای عوام، ستميانو او نورو کينې او راست خوځښتونو ونډه اخيستې وه.

د افغانستان انقلاب لکه د فرانسې او د روسيې سترو انقلابونو په شان د اشرافو، ارسطو کراتانو او بورژوازانو د انقلاب سره په ۱۳۵۳ کال کې د سردار محمد داود په مټه پيل شو، کوم چې شاهي رژيم يې رنگ کړ. ۵ کاله وروسته د دولت لخوا د خلکو دموکراتيک گوند رنگول پيل شول، د گوند رهبري زنداني شوه. حزب ته دوه لارې مخته وې، يا مو بايد د آل يحی اوږدو زندانونو ته ځان تسليم کړی وئ، يا مقاومت.

په دې هکله چې د دولت د ناڅاپي حملې په وړاندې د گوند لخوا څه ډول ځواب ورکړ شي، د خلکو دموکراتيک گوند مشر نور محمد تره کي سره شفاهي توافق شوی وو. همدا وو چې د گوند د رهبري د خلاصون په موخه، د حفيظ الله امين په لارښوونه د خلکي افسرانو په مټو د ثور پاڅون بريالی شو. خو د حوادثو د پېښېدو څخه روښبی د انقلاب جوړ شوي پلان شتون نه درلود. خلکي دولت د خواريکښو د ژوند د بدلون په موخه عملي گامونه واخېستل.

په افغاني انقلاب کې د بزگرانو د پېړيو آرمان، د ځمکې د مالکيت د سندونو د لاسته راوړل، اگر که د يوې لنډې مودې دپاره يې د عمل جامه واغوستله، تر سره شو. د انقلابي دولت فرمان له برکته زرگونه خلک د سود خورو د ظلم څخه خلاص شول. د ثور انقلاب د افغان ولس حافظې ته د ژور بدلون تاريخي تجربه وسپارله، چې د خانانو او اشراف او سلطنتي کورنيو څخه د قدرت اخېستل او د دوی ځمکې په خلکو ويشل يې په عمل کې وښودل. په همدې دليل ده چې دا انقلاب زياتره طبقاتي ـ سياسي ماهيت لري.

د ثور د انقلاب ستره اغېزه د منځنۍ آسيا د جيو پوليتيکې څېرې په بدلون کې د کلکې پاملرنې وړ ده. تاريخ پوهان به دا وليکي، چې د لوی شوروي دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پنځلسو برخو ویشلو کې، نه د امریکې، عربو او پاکستان په ملاتړ اسلامي ګوندونه، او نه د ګرباچوف د نړیوالې سولې سیاست هومره اثر درلود، کوم چې د روسانو په لاس د خلکي دولت د راپرځولو په خاطر، د افغان ولس له خوا د غچ اخیستلو ارمان وو. د افغانستان خلک چې د روسانو د «انترنا سیونالستي مرستو» په نیت وپوهېدل، اسلامي ګوندونو ته یې غېږه پرانیستله او د مقاومت اساسي پېټی یې په اوږو کېښود. په دوی کې هغه بزګر هم وو، چې خلکي دولت ورته ځمکه ورکړې وه، خو اوس یې قواله ناچله شوې وه. نو په زغرده ویلی شو، چې د ثور انقلاب د آسیا سیاسي څېره بدله کړه.

دا واقعیت دی چې په انقلاب کې نُقل نه ویشل کېږي. لکه مخکې چې مو یاده کړه، انقلاب د خدای غضب دی، ویجاړونکی طوفان دی، مرګونه په کې خامخا راځي. لومړی ګناه یې د ظالمو حاکمانو په غاړه ده، چې کلونه کلونه یې په بېرحمۍ د خلکو وینې څښلي، خلک یې لوټ کړي، ظلم او ناروا یې ورسره کړي دي. هوښیار چارواک هومره زورزیاتی نه کوي، چې خلک انقلاب ته مجبور شي. د ۱۳۵۷ل کال د ثور انقلاب څخه باید اوسني لوټمار او په فسادونو او توطیو ککړ، د افغانستان د دښمنو ښکېلاکګرو هېوادو سره تړلي چارواکي، څه انتباه واخلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شوروي لښکرو راتګ



په افغانستان کې په ۱۹۷۳ز کال د جولای په میاشت کې (۱۳۵۲ل کال دچنګاښ ۲٦) شاهي رژیم د سردار داود خان له خوا د یوې کودتا په کولو ړنګ او پر ځای یې جمهوریت اعلان شو.

جمهوریت ته که خلک د شاهي رژم په تناسب ډېر خوښ ول خو په هېواد کې د ملي، ټولنیزو، سیاسي ځواکونو تر منځ د کورنۍ جګړې لامل شو.

په ۱۹۷۸ز کال د اپرېل په میاشت کې (۱۳۵۷ل کال د غوایي اوومه نېټه) واک د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند ته ولېږدول شو. همدا راز سردار محمد داود خان د یوې لنډې جګړې څخه وروسته ووژل شو. دا مقاومت که نور بېلا بېل اړخونه هم لري خو په لویه کې د افغانستان وګړیو د شوروي ځواکونو او ملاتړو پر ضد وسله پورته کړه. پر هغه مهال امریکا او نورو ممالکو له افغانانو سره مرستي پیل کړې چې دې کار یې شوروي اتحاد ته لویې ستونزې وزیږولې. د ۱۹۷۹ز کال په ورستیو کې په افغانستان کې وضع نوره کړکېچنه او خرابه شوه، حتی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رژیم د نسکوریدو ګواښ موجود وو.

شوروي اتحاد لومړی دغه غوښتنه رد کړه، خو کله چې په افغانستان کې پوځي وضع نوره هم په خرابېدو شوه، شورویانو له دې ویرې چې د جګړې لمنه به د منځنۍ اسیا هېوادونو ته راوغزېږي، د افغانستان غوښتنه ومنله او د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر پر ۱۲ نېټه یې پرېکړه وکړه چې افغانستان ته خپل ځواکونه ولېږي.

دغه پریکړه د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیرو په غونډه کې ونیول وشوه.

په افغانستان کې دا مهال د حکومت پر ضد مخالفتونه خپل اوج ته رسېدلي وو او نورو هېوادونو هم هڅه کوله چې شوروي اتحاد ته ګواښ جوړ کړي. ځکه د شوروي اتحاد کمونستي ګوند دغه پریکړه د شوروي - افغان ترمېنځ «د همکارۍ، ښه ګاونډېتوب او دوستۍ تړون» د ۴ مې مادي پر اساس وکړه. کوم چې د دواړو هیوادونو ترمېنځ د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر پر پنځمه نېټه لاسلیک شوې وه.

شوروي دا مهال د ځان لپاره دا زمینه مساعده کړې وه چې ترڅو په افغانستان کې پوځي ماموریت ترسره کړي او په دې هېواد کې د دوی په باور کړکېچن حالات کابو کړي. د شوروي اتحاد عسکر د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر پر ۲۵ نېټه (۱۳۵۸ل کال د مرغومې ٦ نېټه) افغانستان ته داخل شول.

شوروي اتحاد پوځونه د دولت تر څنګ د مخالفینو پر وړاندې په یوه لویه جګړه کې وغورځېدل، خو تر لس کاله جګړې وروسته (د ۱۹۸۹کال د فبروري پر ۱۵ نېټه) شوروي پوځونه د ژینوا د تړون له مخې چې دا تړون افغانستان، پاکستان، شوروي، د امریکا متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو وزیرانو لاس لیک کړ، له افغانستان ووتل.

شورویانو په افغانستان کې په دغه موده کې ۱۴۴۳۵ تنه له لاسه ورکړل چې له هغې جملې ۱۹۷۹۹ تنه افسران او جنرالان وژل شوي دي او ۴۹۹۸۵ تنه ټپیان شوي دي. د شورویانو د راتګ په اړوند تاریخ پوه حسن کاکړ لیکي چې شوروي مشرتابه یو کمیسیون چې عبارت وو له اندروفوف، اوستینوف او ګرومیکو، چې د افغانستان د چارو لپاره موظف کړل شوي وو. د دفاع وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library




او ک، ج، ب عملیات کول او بهرنیو چارو وزارت کوښښ کاوه چی عملیاتو ته قانوني بڼه ورکړي. د ک، ج، ب پلان دا وو، مخکې له دې چې پوځ افغانستان ته ننوځي بایدحفیظ الله امین له مېنځه لاړ شي او کارمل د هېواد داخل ته واستول شي او پر واک کښېنول شي او شورویانو ته افغانستان ته د ورتګ بلنه ورکړي چې مشروعیت پیدا کړي. د لیکونکي نظر دی خو زه د دې ټکي سره همغږی نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احمدشاه مسعود او روسان




په دې مالوماتو کې له لاندې ليکنو ماخذونه اخېستل شوي.

لومير سانت، نيز اويسيمايا گزيته، دوريميه نويستي، کامسو ملسکايا پراودا، انگريتا بلتکزونيا گازيته، د پروپيل اونيزه مجله، د لايتوگي مجله، د فرغانې خبري اژانس، بي بي سي راډيو، د قزاقستان د کانتينېت مجله او نور زيات.

هغه خونړۍ پېښې چې په افغانستان کې په ۱۳۷۱ل يانې ۱۹۹۲ز کالو واک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواک ته د مجاهیدینو تر رسېدو وروسته د دغه هېواد پلازمېنه کابل او نور ټول هېواد کې رامېنځته شوي له هیڅا پټ نه دي پاتې شوي.
روسان پر دې پوهېدل چې دغه خونړۍ پېښې د برهان الدین رباني او مسعود د واکمنۍ پر مهال د نورو جهادي ډلو تر مېنځ په جګړو کې تر سره شوي.
د افغان ولس پر وړاندې دوی پړ دي، ددغه خونړي ناورین، وحشت، ددغو جهادي مشرانو او شخصاً د مسعود او نورو پر غاړه دي. روسانو دطالبانو د خوځښت د ټوکېدو وروسته هم د مسعود خپلو سره پټې اړیکې، لیدنې درلودې، د جنګسالار ملګري څخه يې يو اتل جوړاوه، دوی غوښتل خپل درغلي اتل په افغان خلکو وتپي. په ۲۰۰۱ز کال چې مسعود ووژل شو راسیکا ګزیته ورځپاڼې یوه لیکنه چې لیکوال والادیمیر سنګریوف وو، ولیکل: افغانستان په اوسني تاریخ کې ستر سپاسالار له لاسه ور کړ، د ۲۰۰۳ز کال د سپټمبر پر نهمه د فراودا او برېښ ورځپاڼې په دوه کاله بې مسعوده لیکنه کې څرګنده کړه، که چېرې مسعود ژوندی وی، د طالبانو کار به اوس ختم کړی وو پاول اکیموف لیکنه کې لیکلي چې مسعود یو سپېڅلی شخصیت وو.
په دې ډول نورو ورځپاڼو، مهالنیو، تلویزوني چینلونو دا ډول خبرې کړي، روسانو دا هوډ درلود چې مسعود تاجک په مشرۍ په شمال کې دا سې حکومت جوړ کړی چې پښتانه پکې نه وي او افغانستان ټوټې کړي، مسعود له ډېر پخوا څخه د روسانو سره همکاري درلوده. مسعود او دده ملګرو په ۱۳۷۱ل ۱۹۹۲ز کال د ډاکتر نجیب الله د حکومت د یو شمېر یاغي جګپوړو چارواکو او جنرالانو په مرسته وکولی شول چې کابل ونیسي. د شوروي اتحاد د ستر درستیز د کشف او څار ګرۍ دوه افسرانو څخه یو ډګرمن «ناتولي کتاچیوف» او بل ډګرمن دیمترید پرېټېنکوف» وو تکاچیوف ۱۹۸۲ز کال د مسعود سره په پنجشېر کې ولیدل، د شوروي دفاع وزارت ته یې راپور ورکړ.
د یوه هېواد او ټولنې لپاره یو څوک هغه مهال شخصیت کېدل، برجسته کېدل، یا هم اتل کېدای شي چې خپل هېواد او ولس ته په رښتیا هم ستر او نه هېرودونکي خدمتونه کړي وي. دا زبات نشته چې احمد شاه مسعود ته د کوم خدمت په وياړ اتلولي ورکړل شوې ده؟ دده او رباني په دوران کې یو پول هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی جوړ شوی بلکې څه چې موجود وو هغه هم ویجاړ شول. د رباني په ۴ کلنه( ۱۹۹۲ز-۱۹۹۶ز کال) دوره کې د واک پر سر په زرګونو عام ولسونه ووژل شول. د مسعود او نورو تنظیمونو چې څومره ناورین، وژنې، چور شوی لاسوندونه شته، مستند فلمونه، غږیز انځورونه، برېښنايي پتې لکه:

Afghanistan war kabul 1992

Kodata 1992/1371

نور په سلهاوو تلویزوني ویناوې، یوټوب او فلمونه شته. په خواشینۍ سره په ۲۰۰۲ز کال د لوی جرګې په ترڅ کې د هېواد ولس مشر حامد کرزي مسعود ته د ملي اتل نوم ور کړ، حامد کرزي د کورنیو فشارو نو او مصلحتو په بنسټ دا کار وکړ. لامل یې همدا وو چې د مسعود پلویان ارام او حامد حکومت وکړي. دا یو غېر عادلانه ګام د هېواد او ټولنې سره جفا او خیانت دی.
د ولسي جرګې او مشرانو جرګې ۱۸ د وږي د شهیدانو د ورځې په نوم یاده کړه، یونس قانوني کوښښ وکړ چې د ولسي جرګې پرېکړه ماته کړي او دا ورځ د مسعود د ورځې په نوم کړي او رخصت اعلان کړي، په دې هکله ولسي جرګې خپله پرېکړه ماته کړه. په ۲۰۱۲ز کال د وږي ۱۸ مه د ملي اتل شهید مسعود او شهیدانو د ورځې په نوم ونوموله. مسعود د وږي په ۱۸ مه د ۱۳۸۰ل کال په تخار ولایت کې د دوو عربانو په ځانمرګي برید کې ژوند له لاسه ورکړ.

## د مسعود په اړه د افغانستان د تاریخ حکم:

د افغانستان معاصر تاریخ یوازې دوه درې څېرې همداسې وي چې زموږ د ویاړلي وطن د تاریخ پاڼې پرې شرمېدلی شي. بې له شکه یوه دغه څېره احمد شاه مسعود دی. د مسعود د ځانغوښتنې په نیت کابل په کنډوالو بدل شو، تر ۵۰ زرو زیات افغان ولس ووژل شو. هغه په هېواد کې قومي، ژبني، تفرقې او کرکې موسس او قهرمان دی.
د مسعود تر مرګ وروسته دده ځای ناستی محمد قسیم فهیم شو، مسعود د پنجشېر له زمرودو کانونو څخه تر ۳۰۰ میلونه ډالر عاید درلوده، دده سره مالي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوځي مرسته روسيي، ايران او هند کوله، دا مامله له هيچا هم پټه نه وه همدارنگه د شمال له لارې روسيې اروپا ته د مخدره موادو قاچاق د مسعود له لارې سرته رسېدل د مسعود له دې لارې زياتې پيسی لاسته راوړلې. »**

**د ۲۰۰۰ز کال په مني کې د روسيې د امنيت شورا رئيس س. يوانوف» په ډانگ پېلی وويل چې په سيمه کې د خپل ستراتېژيکي ملگري مسعود ملاتړ کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حفیظ الله امین واکمني

**د زیږېدو نېټه: اول د اگسټ ۱۹۲۹ز کال**
**د وژل کېدو نېټه: ۲۷ د ډېسمبر ۱۹۷۹ز کال**



## د حفیظ الله امین لنډه پېژندنه:

**حفیظ الله امین د حبیب الله زوی، په قوم خروټی په ۱۳۰۰ل کال د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ کې زیږېدلی دی. د ده پلار د هاشم خان د صدارت په وخت کې د کابل د زندان مشر وو. حفیظ الله امین لومړني درسونه په پغمان ولسوالۍ کې سرته رسولي دي. وروسته یې د کابل دارلمعلمین لوستی او د ښوونکي دنده یې اخېستې وه.**

**لږه موده وروسته د ابن سینا د لېسې مدیر ټاکل شوی دی. په ۱۳۳٦ل کال امریکا ته د زده کړو لپاره تللی او د کولمبیا پوهنتون کې د لیسانس سند تر لاسه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی، کله چې هېواد ته راستون شوی، د نور محمد تره کي سره اشنا شوی، دویم ځل په ۱۳۴۱ل کال امریکا ته د زده کړو لپاره تللی چې دوکتورا واخلي خو موفق شوی نه دی، وروسته له یو کال هېواد ته راستون شوی. په ۱۳۴۳ل کال د پارلمان د څوکۍ لپاره د پغمان ولسوالۍ څخه ځان نوموولی خو بریالی شوی نه دی. په همدې کال د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند ته د غړیتوب لپاره غوښتنلیک ورکړی چی د عادي غړي په توگه منل شوی. په ۱۳۴۸ل کال دویم ځل د پغمان له ولسوالۍ څخه پارلمان ته ځان کاندید کړی، دا ځل بریالی شوی وو.

دی په گوندي کشمکشو کې د نور محمد تره کي پلوی وو، په ۱۳۵۷ل کال د واکمنۍ په دوران کې د بهرنیو چارو وزیر د گوند د سیاسي بیرو او دارلانشاء مقامونه ترلاسه کړل، د گوند مشر نور محمد تره کي د وژلو وروسته ټول واکمن شو یانې حکومت او گوند ټول دده تر واکمنۍ لاندې شو، تر سلو ورځو کم واکمن پاتې شوه د شوروي اتحاد د پوځونو په راتگ سره دی ووژلو او واک د ببرک کارمل په لاس ورغلی.

حفیظ الله امین د واک اخېستلو تږی وو د نورو واکمني ورته د زغم وړ نه وه، دیموکراسي یوازې په کاغذ کې لیکل شوې وه خو عمل کاملاً د یو دیکتاتور په توگه عملي کېده، محکمه، د وینا حق، د دفاع حق هېڅ ته نه ورکول کېده. په یوه کوشني رپوټ د ازبات نه غیر به خلک نیول کېدل. څېړنې هم د وهلو ډبولو، برقي شارټونو ورکولو په زور اخېستل کېدلې چې د یو شمېر خلکو نوکان ترې وویستل شو، ژوندي هم تر خاورو لاندې کړل شو، یو گوند واکمن وو نورو د خبرو او لیکلو جواز نه درلوده، د گوند مشر (نور محمد تره کي) ته یوازی په ظاهري توگه درناوی کېده، ولې عمل کې هیڅا د هغه لارښونې نه منلې. همدا لامل وو چی د گوند مشر نور محمد تره کي ته چا په درنه سترگه نه کتل. هر څه د حفیظ الله امین او د ده دډلگي په لاس کې وو.

همدا لامل وو چی له نور محمد تره کي نه په زور او جبر واک حفیظ الله امین ترلاسه کړ او نور محمد تره کی په مرموزه توگه ووژل شو. کله چې واک امین تر لاسه کړ او له گوند او خلکو یې د ده وژل او ټوله پروسه پټه کړه، د گوند نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران د ویرې په جوړ شوي پلنیوم کې د پوښتنې جرأت ونه شو کړلی. حفیظ الله امین د ګوند او حکومت ټول واک شو. له همدې نېټې نه د ګوند کمزوري او د ګوندیانو تر مېنځ بې باوري زیاته شوه... د کاسترو د زما ژوند د کتاب د انګیزی متن ۵۹۳ مخ خلاص کړئ ولولئ چې امین د چلي پنوچت او د کمپوچیا پولپوت دی او دی د انسان وژنې پرته د کوم ستر کار د کولو توان او استعداد نه لري.

په دې هکله اسناد او شواهد شته او ښيي چې امین داسې دیکتاتوري کوله چې خپل مخالف لوري به یې په بې رحمانه توګه ټکول، بېلګه یې د نور محمد تره کي چې د ګوند مشر او بنسټ ایښودونکي او دده لارښود او استاد وو چې په پوره بې رحمۍ شهید کړل شو.

یو شمېر وتلي کادرونه هم په یوه نوم او بل نوم له مخې لېرې کړل شول او زیاتره یې د زندانونو په تورو خونو کې واچول او زیات یې په پټه توګه د پلیګونونو په کندو کې په مرمیو سوري سوري کړل. هغه ټولې ناروا وې چې نوموړې فرکسوني ډلې، په هغې پورې اړوندو والیانو، ګوندي منشیانو او ولسوالانو او یو شمېر پوځیانو په ټول هېواد کې سرته رسولې وه، د نور محمد تره کي تر شهادت وروسته پر مرحوم نور محمد تره کي ور چپه کړل شوې. زه د یوه فعال ګوندي په حیث وایم د حفیظ الله امین پلویانو په افغانستان کې داسې ظلمونه سرته رسولي چې اوسنۍ لیکنه د دوی ناوړه اعمالو د لیکلو نه عاجزه ده.

په زندانو کې د ده پلویانو د زندانیانو سره بد سلوک، وهل ډبول، بریښنایي شارټونه ورکول یانې په زور ترې اقرار اخېستل او په توره شپه د پلیګونونو په کندو کې ژوندي خښول، کله چې دی خپلې موخې ته ورسېده، لومړی یې د ببرک کارمل پلویان له ګوندي لیکو نه وشړل، بیا یې په ګوند کې خپل سیاسي مخالفین د غیرې اصولي خلقیانو په نوم یو شمېر ووژل، زیات نور یې په زندانو کې وساتل، ټول واک او ځواک له ده سره شو، وروسته یې خپل استاد د ګوند بنسټ ایښودونکی په بد شکل وواژه. ولې پایله همدا شوه چې د ده واکمنې د ۱۰۴ ورځو نه اوږده نشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ببرک کارمل واکمن شو

**«د مرغومي په ١٦ مه د ١٣١٦ل کال کې زیږېدلی دی او**
**د مرغومي په ٦ مه د ١٣٥٨ل کال واکمن شوی**
**د لیندۍ په ١٣مه ١٣٧٥ل کال په مسکو کې مړ شوی.»**



## د ببرک کارمل لنډه پېژندنه:

کله چې میرزا محمد هاشم خان ددوه زامنو خاوند شو، د یوه نوم محمد حسین او د بل نوم گل حسین وو، محمد حسین د ببرک کارمل پلار ځو کلونه وروسته د گل حسین ځخه مړ شو، لږ وروسته د ببرک کارمل مور هم وفات شوی، د جنرال محمد حسین خان لخوا د خپلو زامنو نومونه بدل کړي یانې سلطان حسین خان باندې د ببرک نوم، سلطان محمود باندې محمود بریالی او سلطان مسعود باندې توریالی نوم ایښی دی. د ببرک کارمل پلار چې نظامي زده کړې درلودې، د سردار داود خان د کودتا وروسته د پکتیا د والي او قولاوردو قوماندان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ۱۳۵۷ل کال د غوايي د مياشتې د برياليي پاڅون وروسته ببرک کارمل چې د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند مرستيال وو، په گوندي او د وتلي مقامونو کې دويم ځای درلوده.**

**په گوندي کشمکش کې ببرک کارمل له ټولو څوکيو لېرې کړی شو او په چکسلواکيا کې سفير تعين شو، په ۱۳۵۸ل کال د مرغومي په ٦ نېټه کله چې د شوروي پوځونه افغانستان ته راننوتل ببرک کارمل د گوند او دولت مشرتوب تر لاسه کړ.**

**شورويانو او د ببرک کارمل پلويانو او ک. ج. ب د شوروي اتحاد وسلواله مداخله هم د افغان ولس درد دوا نه کړ بلکې ملکي وژنه د کډوالۍ لړۍ تر پخوا زياته شوه. جنگونو زور واخېست، سرې اردو او خادستانو په غلطو رپوټونو کلي بمبارول، د ولسونو زورول او عام وژنه زياته شوه، لامل يې تاريخي دښمن يانې «پاکستان او ايران» غرب، عربانو او نورو دښمنانو، اسلامي بنسټ پالو ته د پروپاگند او رښتيا والي زمينه مساعده کړه.**

**د حکومت د مخالفينو ډلې ځواکمنې شوې. امريکا متحد ايالات، چين، عربي اسلامي هيوادونو په راس کې سعودي عربستان د مجاهد تر نامه لاندې خپلې هر ډول مرستی زياتی کړې. سره له دې چی د ببرک کارمل حکومت په زياتو مسئلو کې نرمښت څخه کار واخېست، سياسي زندانيانو لپاره نوې محکمې او ځانگړې څارنوالۍ جوړې کړې، په اول کې هغه بنديان چی د حفيظ الله امين او استخباراتي ادارو نيولي او شکنجه کړي وو او يو شمېر هغه يانې د هاگ د محکمې د لست په اساس چې ۵۰۰۰ تنه کېدل له مېنځه وړي وو، نور را خوشې کړل. د وروستيو سياسي زندنيانو لپاره نوې اداري چې پورته يې يادونه شوې جوړې کړې.**

**د شوروي اتحاد د پوځ په موجوديت کې پخواني د ځمکو ويشل، نور فرمانونه وځنډول شول. دوی بيا د شوروي سلا کارانو له خوا رهبري کېدل، نوې گمارنې هم د دوی سره په سلا او موافقه کېدلې، مجاهدين هم د خپلو حاميانو لخوا په مدرنو وسلو تر سټينگر توغنديو پورې مجهز شول، مالي مرستې تر پخوا څو برابره زياتې شوې، جنگونو زور واخېست، درانه پوځي عمليات د شوروي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلوالو ځواکونو په ګډون په ټول هېواد کې وشول. خو د تل پاتې سولې او ټیکاو درک ونه لګېده. د تېلو نل لیکې تر کابله راوغزېدلې، خلکو ته کوپوني مواد مفت ویشل کېدل، خو کومه ستونزه چې زېږېدلې وه حل نه شوه. دا کار امریکا او متحدینو هم وکړ، د ډالرو شیندل پیل شول. خو ولس هېڅکله بهرني ځواک منلو ته تیار نشو.

د ګوند یوالی هم یوازې په شکلي توګه وو، اورګانیک یووالی نه وو، مشران په مقامونو سره جوړ نه وو. د ببرک کارمل خوا کلیدي پوستونه واخېستل، د خاد امتیاز لکه په شوروي اتحاد کې د ک. ج. ب د سازمان په شان وو. زیات ګوندي غړي او نور د حکومت مخالفین له خاد نه ناخوښه ول، ډېر ناوړه کسانو د خاد سازمان ته لاره پیدا کړې وه، د حفیظ الله امین ۱۱ تنه وزیران، ګوندي کادرونه بېدون له علني محاکمې ووژل او تر ۳۰۰ پورې د حفیظ الله امین پلویان په زندان کې تر ډېره وخته وساتل شول. د ستر جنرال الکساندر مایوروف له کتابه یوه نمونه را اخلم.[1]

عام ولس داسې فکر درلوده چې د پخواني رژیم ناخوالې به ببرک کارمل سمې کړي ځکه دی یو تیوریسن او باتجربه کس وو خو په تاسف چې د ده یارانو هم له تېرو تیروتنو عبرت نه وو اخېستی. خصوصاً د خاد د منسوبینو یوه بېلګه د هرات ولایت د سترو عملیاتو په اړوند وایي چې ما څراغ ولګاوه او جنرال پرتو خالکه مې ولیده، هغه ډېر احساساتي وو، وبښئ خورا مهمه خبره ده، ووایاست. نجیب الله او خاد په هرات کې لیونتوب پیل کړی دی، اعدامونه روان دي اسیران؟ هو صاحب بې پوښتنې او محاکمې، زه خبر وم چې د طب ډاکتر نجیب الله ډېر سخت زړی سړی دی، خو له دې سره سره مې دا تصور هم نه شو کولای چې زموږ د تبلیغاتي پاڼو له خپرېدو وروسته دی چې پکې ویل شوي وو که غلیم تسلیم شي ښښل کېږي، بیا هم د هغوی د اعدام امر وشي دا سوچه ځناورتوب وو.

ما غوښتل چې د اعدامونو مخه ونیسم، خو نجیب الله راته وویل چې دا خپله

---

1- ۲۱۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ببرک کارمل امر دی، ستر جنرال صاحب هلته بوږنونکې.. پترو خالکه پر څوکۍ ور کوږ شو په داسې حال کې چې ژبه یې بندېده، ویې ویل او په جماعتونو کې ملایانو الله ته د رحم لپاره لاسونه په دعا هسک کړي دي. جنرال ته مې تلیفون غوږۍ په لاس کې ورکړې، هغه کړیکه وکړه ببرک کار مل ته یې بد رد وویل چې ببرکه چی ته تګمار سړی یې، موږ ویلي وو چې تسلیم شوي کسانو ته به څه نه وایو، جنرال چې د ریو منیخاو پیترو خاله د تلیفون غوږۍ ماته راکړه، نجیب په هرات کې یو مخیز اعدام پیل کړی تاسو د اولتیماتم په توګه باید د دې مخه ونیسئ، پوه شوم. ډېر ژر باید ماته مالومات را کړې.

صاحبه همداسې به وکړم او پیترو خاله ته مې امر وکړ، هرات ته ځان ورسوي او د نجیب مخه ونیسي، له هغه سره سخت چلند وکړي، دا ټول چې دي د سپي زامن دي په تیره بیا دا نجیب، دا جریان په همدی مخ او همدې کتاب کې تر پایه لوستلای شئ.

نن ۲۰۱۷ز کال د اپریل ۲۹ مه نېټه وه چې وروسته ۳۹ کلونو د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار د لغمان په ولایت کې د خپلو پلویانو په مېنځ کې را ښکاره شو، یوه ۴۵ دقیقه یزه وینا یې وکړه، ده خپله وینا کې وویل: «اوسنی جنګ بې مانا جنګ دی، مفهوم نه لري باید سوله وشي، ټول مخالیفین باید نور جنګ بس کړي او سوله وکړي.»

ده زیاته کړه چې تاسو کوچني وئ ما جنګ پېل کړ، شوروی او وارساو سره وجنګېدم، ده وویل، شوروي اتحاد پوځونو او پلویانو یې یونیم ملیون خلک شهیدان کړي، خو ده ونه ویل چې موږ مجاهدینو څومره بې دفاع او عام ولسونه وژلي دي؟

زما له نظره دا احصایي هم تقربې دي، په تېرو کلونو کې دواړو لورو تر نن پورې عام ولسونه قرباني کېږي، د جهاد په نوم امتیاز اخېستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر نجيب الله واکمني

**«په ۱۳۲۷ل کال کې زېږېدلی، په ۱۳٦٥ل کال کې د ګوند او دولت مشر پاتې شوی او د تلې په ۵ نېټه ۱۳۷۵ل کال د طالبانو لخوا وژل شوی.»**



## د افغانستان د پخواني جمهور رئيس ډاکتر نجيب الله لنډه پېژندنه:

نجيب الله په پلازمېنه کابل کې زيږېدلی، د پلار نوم يې اختر محمد دايحمدزی و، له ټبر څخه يو پښتون دی. د نجيب الله پلار په ۱۳۴۰ل کال د پېښور په قونسلگيری کې وکيل تجار وو. نجيب الله په ۱۳۴۰ل کال په کابل کې د حبيبې لېسه ويلې او په ۱۳۵۴ل کال د کابل پوهنتون د طب څانګه لوستې ده. په ۱۳۴۴ل کال کې ډاکتر نجيب الله د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند غړيتوب ترلاسه کړی، ډاکتر نجيب الله د پوهنتون په دوره کې د ګوندي فعاليت له امله د ظاهر شاه په رژيم کې دوه ځله زنداني شوی. د داود خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



رژیم د غوايي پر ۷ نېټه سرنګون او ځای ناستی د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند شو، نجیب الله د کابل پوهنتون کې د ګوندي چارو مسؤلیت درلوده، په ۱۳۵۷ل کال د چنګاښ میاشت کې ډاکتر نجیب الله د افغانستان لخوا په تهران کې سفیر شو، تر کمې مودې وروسته کابل ته راوغوښتل شو خو دی رانغلی، مسکو ته ولاړ، په ۱۳۵۸ل کال د مرغومي پر ٦ مه د شوروي اتحاد ځواکونو سره یو ځای کابل ته راستون شو. وروسته د خاد یا امنیت دولتي رئیس وګمارل شو، ویل کېږي چې ده د خپلو مخالفینو سره زیات ظلمونه سرته رسولي، شکنجې ورکړي، وژلي او نور.

ډاکتر نجیب الله احمدزی په ۱۳٦٥ل کال کې لومړی د ګوند عمومي منشي او بیا جمهور رئیس هم شو. په ۱۳۷۱ل کال کله چې د ملګروملتونو لخوا د سولې پروګرام مات شو یانې امریکا او پاکستان د پروګرام په ماتولو کې پوره لاس درلوده، نجیب الله کوښښ وکړ چی په پټه له هېواده ووځي خو د جنرال دوستم ملېشو دی له تګ څخه منع کړ، ډاکتر نجیب الله ناچار د ملګروملتونو دفتر ته په کابل کې ولاړ، هلته ۵ کاله تېر کړه.

ډاکتر نجیب الله د افغانستان پخواني جمهور رئیس د ۱۳۷۵ل کال د تلې په میاشت کې د طالبانو لخوا په دار وځړول شو.

کله چې ډاکتر نجیب الله د ببرک کارمل ځای ناستی شو، نو د ګرباچوف او شیورنادزي په سپارښتنه یو لړ سمونونه پیل شول، د کابل پولي تخنیک کې لویه جرګه راوبلله. په جرګه د جنرال عصمت الله اڅکزي لخوا انداختونه وشول خو جرګې پرېکړه وکړه او ډاکتر نجیب الله د اوه کلونو لپاره جمهور رئیس په توګه غوره شو. نوی اساسي قانون جوړ شو، د مشرانو جرګې او ولسي جرګې لپاره شکلي ټاکنې وشوې، یو غیرې ګوندي شخص د خالقیار په نوم چې د هرات والي وو، ډاکتر نجیب الله له خوا صدراعظم شو او د روغې جوړی پروګرام یې اعلان کړ. خو دا پروګرام لا دمخه د ګوند په ۱٦ پلینوم کې هم یاد شوی وو، ډاکتر نجیب الله چې د سولې او روغې لپاره هلې ځلې وکړې، هېڅ ډلې او هېڅ تنظیم ورسره د سولی مېز ته حاضر نه شول. په دې اړوند زیاتې پیسې ولګول شوی خو پایله یې نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا خل د ګوند کې هم ورځ تر بلې اختلافونه ټوکېدل، ده هم خپل ګوندي مخالفين زندان ته ټېل وهل خو کار سم نه شو، د جمهو رئيس ډاکتر نجيب الله لويه ستونزه دا وه چې په ګوند کې ګروف پالنه او د خپل پرچمي توب نه تېر نه شو، لامل هم دا شو چې ته نژدې د بهرنيو چارو وزير وکيل په جبل سراج کې د مخالفو ډلو سره لوځنامه وکړه.

نبي عظيموف هم په شمال کې دوستم او نور ورته په مخالف لوري رهبري کړل. خوست هم دښمن ته ور تسليم شو او د ۱۳٦۸ کال د کب ١٦ مې غميزه د دفاع وزير شانواز تڼي او د ډاکتر نجيب الله ترمېنځ بده پېښه وشوه.

د دې غميزې په هکله لږ شانته رڼا اچوم. د دفاع وزير شانواز تڼي او جمهور رئيس ډاکتر نجيب الله پوځي ټکر چې په ۱۳٦۸ ل کال د کب پر ١٦ نېټه وشو، د شوروي د سفير او سلاکارانو په مرسته د دفاع وزير شنواز تڼی ناکام شو. جمهور رئيس ډاکتر نجيب الله او خادستانو د ګوند ملکي او نظامي غړي زندانونو ته کش کړل، هر ډول شکنجې ورکړل شوی، په دې لړ کې تر ۲۴ تنو زيات ګوندي غړي شهيدان شول، تر ۳۵۰۰ تنو زيات کسان ونيول شول، يوشمېر يې له څه مودې وروسته خوشې کړل خو زياتره مشران او نظاميان تر دوو کلونو ياني د ډاکتر نجيب الله د حاکميت تر پايه په زندان کې وساتل شول. شوروي اتحاد چې د داود خان سره د صدارت په وخت کې د پښتونستان په مسئله کې شاه تګ کړی وو، همدا ډول چلند يې له ډاکتر نجيب الله سره وکړ.

د جلال اباد د جنګ له ګټلو وروسته ډاکتر نجيب الله په لاربښونه د امنيت وزارت لخوا د دفاع وزارت يو زيات شمېر جنرالان په دې تور ونيول چې دوی له ګلبدين حکمتيار سره خواخوږي لري، لاکېن دا رابطه کاملاً بې اساسه وه. شانواز تڼی او ډاکتر نجيب الله سره مخالف شول، ولې شوروي استازو د ستونزو د حل پر ځای دوی سره وجنګول.

د تڼي او خلقيانو ٥ وړانديزونه چې ډاکتر نجيب ته وړاندې شول يو هم ونه منل شول، دوی تل د ماتې وروسته شانواز تڼي ګلبدين تبليغولو، په داسې حال کې چې شانواز تڼی يا نورو خلکيانو هېڅکله د مخالف لوري ملاتړ نه وو کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ښکاره ثبوت د ټول وطن نه دفاع په لار کې د زرگونو خلقیانو سرښندنه او د جلال آباد د جنگ گټل یادولی شو. د جلال اباد د جنگ په هکله مخکې ما حقایق لیکلي دي، کله چې د ملگرو ملتونو د سولې پروگرام د پاکستان د اې اس اې له خوا شنډ شو او د پاکستان په راولپېنډي کې عبوري حکومت اعلان شو، ډاکتر نجیب الله یې استعفا ته برابر کړ.

هغه په کابل کې د ملگرو ملتونو دفتر ته پناه یوړه، تنظیمي واکمني پیلېږي. په تنظیمي جگړه کې یو شمېر مالوم الحاله گوندیانو هم مرسته وکړه لکه جنرال عبدالرشید دوستم جنرال محمد اصف دلاور ددفاع وزارت ستر درستیز، محمد نبي عظیمي د دفاع وزارت لومړی مرستیال چې د وطن د گوند د مشرتابه څخه وو، چې د شورا نظارت سره یو ځای او کابل ته د داسې ځناور صفته ملېشو سره داخل شو چې د دوي له بدو کارنامو څخه د کابل اوسیدونکې ووتل او کابل خالي شو. جنرال عبدالرشید دوستم د وطن د گوند د مرکزي شورا غړی وو، جنرال محمد نبي عظیمي د دفاع وزارت اول مرستیال او د نوموړي گوند د مشرتابه غړی او د کابل د گارنیزون قومندان وو. محمد اصف دلاور د دفاع وزارت ستر درستیز، د گارد قومندان، عبدالوکیل د بهرنیو چارو وزیر، فرید مزدک د وطن د گوند د بیرو غړی، نجم الدین کاویاني د گوند د بېرو غړی او نور.

## د ا. د. ج او د ا. خ. د او بیا د وطن گوند د ړنگېدو لاملونه:

ددې مهمې پېښې د لیکلو موخه دا ده چې زیاتو شنونکو بېلا بېلې لیکنې کړي او خپل نظریات یې وړاندې کړي. زه غواړم په دې اړوند خپل د سترگو لیدلې پېښې ولیکم او د خپلې پوهې سره سم پرې شننه وکړم.

په دې اړوند لازم گڼم، د ډاکتر نجیب الله د رژیم د بهرنیو چارو د وزیر او د گوندي مشرتابه د ډلې د مهم غړي محترم عبدالوکیل د کتاب څخه یو څه راواخلم او بیا د خپل نظر ټکي هم پرې ور زیات کړم. د وزیر د کتاب په ٩٥٦ مخ کې چې کوم لاملونه څېړل شوي، د هغې غټ ټکي رااخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عامل سقوط ج د ا و ح دخ ا (حزب وطن): عامل داخلي چهار بعد است.**
**اول: ادامه اختلافات درونی و علاج ناپذیر در بین رهبران حزب قبلا از قیام ۷ ثور ۱۳۵۷ و بعد از ان تا سقوط رژیم.**

دی لیکي چې د گوند د جوړېدو نه تر سیاسي واکمنۍ پورې یووالی په رښتیني توگه نه وو شوي، پر یو بل بې باوري وه. زما په اند گوند د اول نه پر دوه فعالو ډلو ویشل شوی وو. هرې ډلی ځان د ا، خ، د، گ وارث گڼلو او د اکثریت دعوا یې کوله. د وخت د شرایطو سره سم کله چې شاهي رژیم په ۲٦مه د چنگاښ ۱۳۵۲ل کال پر جمهوریت واوښتو او واک د شاه څخه د ده د اکا زوی سردار محمد داود د یوې کودتا په کولو ترلاسه کړ.

یو شمېر اسلام پالو لکه احمد شاه مسعود، گلبدین حکمتیار، رباني، پیر سید احمد گیلاني، حضرت صبغت الله مجددي او نورو پاکستان ته تېښته وکړه او هلته د پاکستاني استخباراتي ادارو لخوا ورته روزنه ورکړل شوه او د وران کارۍ چارې یې پیل کړې. سره له دې چې د گوند یوې ډلې د سردار محمد داود سره ملتیا لرله خو بیا هم په ۱۳۵٦ل کال کې په دویم ځل د گوند دواړه خواوو سره یووالی وکړ او د ۵۰ جمع ۵۰ په فورمول یې گوندي ارگانونه او مشران انتصاب کړل. د گوند یو اړخ چې شهید نور محمد تره کي یې مشري کوله ویل، چې موږ یوازې ملکي گوندي سازمانونه سره گډ کړي وو چې د ۱۳۵۷ کال د ثور د نظامي پاڅون په پایله کې واک همدې گوند ته ولېږدول شو او ټول دولتي او گوندي موقېفونه برابر وویشل شول. د جلاوالي او مخالفت ستر لامل همدا وو چې په گوند کې یوازې په لومړي ځل هغه هم د گوند د جوړېدو پر وخت ټاکنې شوې وې. نور هېڅکله د ټاکنو لیاقت، پوهې او مسلک پر بنیاد د گوند او دولت څوکۍ ونه ټاکل شوې. ما چې د محترم عبدالوکیل کتاب ولوسته، د ملامتۍ بار ټول پر هغه کسانو اچوي چې د ده له نظر او فرکسیون سره نه وو پاتې شوي. دا یې له یاده وتلي دي چې کله بیا په دویم ځل د گوند دېوالي سند لاسلیک شو، گواکې د ۱۳۵۸ل کال د مرغومې په ٦ مه د یووالي د اسنادو له مخې سم او پر ځای د څوکیو وېش سرته ورسېده؟ ټول کلیدي گوندي او دولتي مقامونه قومي ډلې ته ووېشل شو؟ د شورویانو د سلاکارانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله شوروي اتحاد مشرانو ملاتړ له کومې خوا سره وو؟ دا مسئله لوی څېړنه غواړي.

زه هم له سياسي زندانه څخه په ۱۳۵۸ل کال د مرغومې ۹ مه را خلاص او په ننگرهار کې مې د نوي يووالي سره گډ کار پيل کړ. په لومړيو کې د گونديانو ترمېنځ د يووالي روحيه ترينگلې وه، په وسله وال پوځ او ملکي برخه کې د دواړو خواوو گوندیان يو پر بل بې باوره وو. دا نوي کسان چې واکمن شوي وو او د روسانو ملاتړ او کليدي څوکۍ يې ترلاسه کړې وې، په دې اند وو چې د گوند هغه برخه چې د مرغومي د ٦ مې مخکې په واک کې وو، ټول د امين په ډله کې وشمېرل شي او بايد وځپل شي. په داسې حال کې چې دا ټول ډېر پاک او سپېڅلي گوندیان وه او د گوتو په شمير ښايي دامين سره تړلي وه او اکثره د همدی ولايت گوندیان د هيواد، خلکو او حاکميت نه په دفاع کې شهيدان شول.

زه ويلی شم، چېرې چې د پردي په لاس گوندي سرنوشت ټاکل کېږي، انتصاب د انتخاب ځای نيسي او گوندي ديموکراسي مري، د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت، د خلک د دموکراتيک او بيا وطن گوند، د ړنگېدو لامل له همدې ځايه پيل کېږي.

محترم عبدالوکيل په خپل کتاب کې د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت او د افغانستان د خلک دموکراتيک گوند «وطن گوند» د ړنگېدو په اړوند يو لامل داسې ليکي:

سقوط رژيم وحزب، مخالفت وزير دفاع وقت وياغی شدن دو عضوه برجسته کميته مرکزی حزب وطن جنرال مومين، جنرال عبدالرشيد دوستم و سيد منصور نادری که دوست داکتر نجيب الله با دولت وقت بود.

زه پر دې خبره دا ور زياتوم چې مخکې له دې چې د شمال ملېشې او يو شمېر گوندي مشران د رژيم نه مخ واړوي او له دښمن سره معامله وکړي، خپله د گوند دننه او رژيم په داخل کې هم د جمعي رهبري پر ځای د اشخاصو محوري رول زيات شوی وو، بېلگه يې، گوند ته دسياسي بيرو د پرېکړې له مخې چې ټول پوښتنه وشي چې څوک کنگره ياد کنگري د رابللو پلوي دي، يادولی شو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦٠ فیصده گوندیانو د کنګرې رابلل او د ګوندي سیاست او ناپاکو عناصرو تصفیه کول غوښتل. ولې د دې غوښتنې مخالفت وشو؟ ولې یوه سمبولیکه کنګره په ۱۳٦٩ل کال کې راوغوښتل شوه چې په هغې وخت کې له نیمایي زیات د ګوند کادرونه او استازي زندان ته تېل وهل شوي وو او یو شمېر له محاکمې پرته شهیدان شوي وو. زما له نظره همدا د رژیم او ګوند د پاشل کېدو ستر لاملونه شمېرل کېږي.**

**ځکه د خلکو بی باوري هم مخ په زیاتیدو شوه او د خوست ولایت ددشمن یانې جلال الدین حقاني لاسته ورغی، د کنړ یو شمېر کورنۍ د ننګرهار ولایت ته را نقل او نور پاتې دښمن وځپل، د شمال د ملېشو قومندانان او د وطن د ګوند د مرکزي شورا دوه غړي لکه جنرال مومین، جنرال عبدالرشید دوستم، ان نادر نادري یاغي او له دښمن یانې احمد شاه مسعود سره مل شول، خپله حزب وطن کې انارشي او خپل سري واکمنه شوه. ډاکتر نجیب الله د ګوند او دولت مشرانو ته په وینا کې څرګنده کړه چې د ګوند د مرکزي شورا د ۲۰۳ غړو نه ۳۲ تنه په خپل سر د خپلو کورنیو سره تاجکستان او مسکو ته تللي او خپل شخصي کاروبار کوي، د ملګروملتونو غولوونکې پروسه او د ملي روغې جوړې ٥ کلن بهیر ناکام شول. د ګوند د رئیس او ګوندي مشرانو، وزیرانو او مهمو کسانو په ګډون د ټولو کورنۍ له میاشتو مخکې نورو هېوادونو ته استول شوي وي.**

**یادونه: زه او زما یو ټولګیوال میاجان محمدي د شوروي اتحاد سفارت ته ولاړو چې د تاشکند ویزه واخلو، ځکه دلته بېکاره وو، ګورو چې د سفارت مخکې د کورنیو چارو وزیر یاور ولاړ او د پکتین د کورنۍ د غړو پاسپورتونه ورسره وو، ویزی یې په کې اخېستې وې او مور ته یې وویل څه کوئ؟ مور خپل داستان ورته تېر کړ، ده وویل کورنۍ مو چېرې دي؟ مور په ځواب کې وویل کابل کې دي، ده د زړه خوږي نه وویل د خپلو اولادونو غم وکړئ.**

**د کورنیو چارو وزیر اولادونه نن شپه مسکو ته په اریانا الوتکه کې پرواز کوي خپله ورک دی نور وزیران او د ګوند د بیرو غړو خپله ځانونه پټ کړي، همدا نن شپه د کورنیو چارو وزارت په داخل کې د حزب اسلامي نفر ځای پر ځای شول په ګارنېزون کې د اصف دلاور او ستر جنرال محمد نبي عظیمي د دفاع**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت لومړی مرستیال په مرسته د دوستم او مسعود بې شمیره کسان وسلوال او پر هوایي ډګر، ګارنیزیون او نورو مهمو ځایونو کې ځای پر ځای شول، د کورنیو چارو وزیر د دفاع وزیر دوی چهار اسیا ته تللي، هلته د حزب اسلامي قرارګاه ده. همدغه کار د ګوندي کادرونو باور پر خپلو مشران له مېنځه یوړ، دا لاملونه وو چی د ګوند او دولت د ړنګېدو سبب شول...

دویم: محترم عبدالوکیل خپلې لیکنې ته دوام ورکوي او لیکي:
عامل داخلی سقوط حزب و دولت بعضی سیاست ارمان ګرانه وعدم پشتبانی مردم از برخی سیاست ها دانست.
زما له نظره نور لاملونه هم ددې باعث شول چې د خلکو مرسته کمه شي یانې هیڅا د یوشمیر چارواکو کړنو ته په انتقادي نظر نه شوه کتلای، میډیا، نشرات تر کنټرول لاندی وه د خلکو ازادي د سیاسي ګوندونو ازادي د بیان او قلم ازادي د امنیت دولتي تر جدي کنټرول لاندی وه چا د مظاهرو اعتصابونو، میټینګونو اجازه نه در لودله خلک له خادیستانو ویردل، په ګوند کې خاصه ډله واکمنه وه، پټ پټونی او چلوټي کیدله، حتی ګوندي غړي د خاد تر مستقیم کنټرول لاندی وه چا د خپل زړه خبره په ډاګه نه شوه کولای، همدا ستر لامل شو چی دګوندي غړو او ګوندي مشرانو، خلکو او دولت تر مینځ واټن پراخ شو او په پایله کې دواړه ړنګ او نسکور شول.
دریېم: وکیل می نویسد که عامل دیگر سقوط رژیم و حزب را میتوان درشیوه وبه کار برد سیاست ناروشن مشی مصالیحه ملی دانست.
روغه جوړه مخالفو وسلوالو ونه منله، د روغې جوړې ۵ کلن سیاست ناکام شو او د اکثریت ګوندي غړو روا غوښتنې نه اورېدل کېدلې، ګوندیان زندانونو ته کش کړی شول، هلته شکنجه شول، بې خوبي ورکړل شوه، د هغوي قانوني وړاندیزونه چا نه منل. د وخت شوروي اتحاد مشرانو د خپلو سلا کارانو په واسطه مستقیمه لاس وهنه وکړه، د ګوند د پاشلو او دولت د کمزوري کولو او ړنګېدو لامل شول.
څلورم: عبدالوکیل مینوسد که عامل دیګر پروپاشی حزب و دولت جمهوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموکراتیک افغانستان اتکابی حد حصر حزب ودولت بالای یک رهبر بود نه رهبری جمعی.

د ښاغلي وزیر د لیکنو سره ټول گوندیان موفق دي ځکه هر سیاسي گوند چې په جمعي پریکړو عمل ونه کړي هر څه د یوه شخص په لاس وي یکه تازي حاکمه وي، د یوه شخص اراده پر ټول گوند او دولت تامین شي، په گوند کې ټاکنې ونه شي، گوندي مشران د ټاکنو او دموکراسۍ په زرینو اصولو ونه ټاکل شي، دموکراسي مړه شي، پایله به همداسې وي. د گوند او دولت ۱۴ کلن حاکمیت ړنگ شو، د شهیدانو کونډې او ټول گوند او خلک د ټوپکمارانو خولې ته واچول شول. د ملت ټوله شتمني چور او تالان شوې وسله وال پوځ ړنگ او وسلې وپلورل شوې.

## عامل خارجی سقوط حزب «وطن» و دولت:

وزیر مینویسد که مداخلات خارجی در امور داخلی افغانستان از زمان جمهوری سردار محمد داود خان شروع شده، بعد از به قدرت رسیدن ح د خ ا در ۷ ثور۱۳۵۷ این مداخلات از جانب پاکستان، ایران، ایالات متحده امریکا، سعودی عربستان، جمهوری خلق چین، وسایری کشور های غربی وعربی برضد جمهوری دموکراتیک افغانستان افزایش یافته. وتنظیم های جهادی در پاکستان وایران پی در پی ایجاد شده است.

زما د نظر ټکي بیا داسې دي:

کله چې شوروي اتحاد لښکرې زموږ هېواد ته رادننه شوې دښمنانو له دې فرصته گټه پورته کړه، د افغانستان د واکمنۍ پر وړاندې له زهراگینو تبلیغاتو نیولې تر مادي او معنوي مرستو، استخباراتي کړنو او په نورو شومو موخو پیل وکړ. د شوروي لښکرو وتل، د گوند او دولت په مېنځ کې گډوډي، حتی د مجاهیدینو د رهبرانو دعوت د مسکو لخوا او د واکمن حکومت سره د مرستو کمېدل د ملگرو ملتونو درواغجنه د سولې پروسه، په پاکستان کې د عبوري حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوړېدل، د حکومت کمزورې سیاست، د شوروي اتحاد ړنګېدل، د وطن د ګوند درهبرانو ویشل کېدل، د وطن د ګوند د مشر استعفا، د احمد شاه مسعود سره د ګوند د نظامي یو شمېر لوړ رتبه چارواکو همکاري د رژیم د ړنګېدو لامل شول.**

**م. اقا کوچی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یولسم څپرکی:

**١٣٩٢ ل کال د غوايي اتمه؛**

# د مجاهدينو واکمني او د افغان ولس بېچاره ګي




**١٩٧٣ز کال کې چې کله ذولفقار علي بټو د پاکستان وزير اعظم وو، نصير الله بابر ته يې ووايي چې کال ١٩٩٣ را نږدې دی او د ډيورنډ لاين ١٠٠ کاله پوره کېږي، افغانستان به د خپلې ځمکې تر اباسين پورې تپوس کوي، مونږ بايد افغانستان کې اور بل کړ، دا يو ځانګړی مطلب دی.**
**د ١٩٩٢ز کال د اپريل په (٢٨) د غوايي په اتمه نېټه په پاکستان کې د اې ايس اې تر نظر لاندې جوړ شوي جهادي حکومت په کابل کې واک ترلاسه کړ. د لومړي سهار څخه په کابل کې داسې چور او چپاول پيل شو چې هېڅ اسلامي، انساني او اخلاقي معيارونه سره يې سر نه خوړ. دولتي ودانۍ موټرونه، فرنيچر، فرشونه، وسلتونونه، د خلکو شخصي مالونه او هر څه د غنيمت مال وګڼل شو حتی د ارګ څخه تلويزونونه د لويو جهادي قوماندانانو پر څټونو بار وتل. د ضياء الحق د غوښتنې سره سم د کابل ښار د اور په لمبو کې سوځېدل پېل کړل.**
**يادونه: زه په هغه لومړۍ ورځ چې واک صبغت الله مجددي ته ورتسليم شوی وو، اول ميکرويانو ته د عبدالرشيد ارين صاحب چې د پلچرخي له زندان څخه را ايله شوی وو، د هغه او نورو مشرانو ليدو لپاره ولاړ وم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت صبغت الله مجددي درې میاشتې واکمني

**د مجدده ژوند واکمني ١٩٢٦ز کال د هېواد چارو مشر ٢٨ د اپریل ١٩٩٢ز کال**



**مورې یو شمېر ملګري سره راټول شو، سلا مو کوله چی حالات کومې خواته روان دي او مورې څه وکړو؟ کله چې سلا مو سره وکړه، هر څوک د خپلو کورونو پر خوا رهي شول. زه او د وسلوال پوځ لوی څارنوال محمد هاشم خان صاحب د ده د کور پر خوا چې د کابل سیند پر بله خوا پروت وو روان شو. د نخاص او د عبدالحق په څلور لاره کې د مسعود او حزب اسلامي تر منځ جنګ پیل شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هم د مرمیو جنګ منځ کې ګیر شو. خو په هر حال ما څارنوال صاحب تر کوره بدرګه کړ او زما کورنۍ د کارته نو په یوه تپه کې چې کرایي خامه کور کې وو د نوي ښار په لور حرکت وکړ. هلته د جنرال دوستم خلک د تلویزون دفتر او د امریکا سفارت شاوخوا ولاړ وو، زه یې له تګ څخه منع کړم خو په ستونزو د ده افغانانو سیمې ته ورسېدم. د جادې په لور روان شوم، هلته د چمن په سیمه کې چې د ځوانانو د سازمان دفترونه وو چور پرې ګډ وو چا تلویزونونه تښتول او چا قالین او نور. د بالا حصار په نظامي چونۍ کې د دوستم کسان او د نادر خان له تپې د سپکو او درنو وسلو انداختونه کېدل، زه په پښو ناوخته کورته ورسېدم هلته هم کور په کور تلاشي او نښتې روانې وې حالات زیات ترینګلي وو. هېڅوک له کوره نه شو وتلی، تر اته ورځو وروسته مو یوه لار پیدا کړه د شپې له خوا ننګرهار ولایت ته را کډه شو.

صبغت الله مجددي، د ټولو خبرو سره سره میانه رو سړی دي نو ځکه یې په بېړه عمومي بښنه اعلان کړه. که څه هم نوموړي د یو جمهور رئیس واک نه درلود. خو بیا هم د نوموړي په اعلان د ډېرو خلکو ژوند وژغورل شو. په پلازمېنه کابل کې د څوکیو او واک پر سره شخړې پیل شوې، په ځانګړي توګه د احمد شاه مسعود، رباني، عبدالرب رسول سیاف، مزاري، ګلبدین حکمتیار، محقیق، خلیلي تر منځ وسله والې جګړې پیل شوې چې د کابل ښار یې په کنډواله بدل کړ. د عبدالرسول سیاف، د عبدالعلي مزاري تر مشري لاندې د وحدت ګوند هم په وژونو او وینو تویولو کې تر ستوني ډوب وو. کله کله مجاهدین لاپې وهي او درواغ وایي چې موږ افغانستان د وسلې په زور ګټلی، زما په اند چې دوی حتا یوه پوسته هم د وسلې په زور نه ده نیولې بلکې د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند بیا وروسته د وطن ګوند داخلي اختلاف او ناسم چلند دوی ته په وړیا توګه د واکمنۍ چارې په لاس ورکړې، هغه غوبل چې د اته ګوندونو او اوه ګوندونو د اسلام او جهاد په نوم تنظیمونو په افغانستان کې سر ته ورسول یوازې په پلازمېنه کابل کې دوی تر ۷۰ زرو زیات بې دفاع او عام ولسونه، ماشومان، بوډاګان، ځوانان او نور شهیدان او هر څه یې چور او تالان کړي او د جهاد نوم یې خراب او بد نام کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول ناروا وې او ظلمونه په هېوادني تېر تاريخ کې کله هم نه دي ليدل شوي، عامه وژنه، د خلکو پر سرو ميخونه ټک وهل، ژوندي په کانتينرو کې سوځول، د مړو ګډا او نور.

د ناهيد شهيد په شان پېغلو له ۵ منزل نه ځانونه کښته اچول، د ناهيد د لوټ شوي ژوند در ته يادوم، دا کېسه مې د ګران دوست ليکوال او سياست پوه ملګري مفتاح الدين صاپي رژيدلي ارمانونه له داستاني ټولګی څخه په لنډه توګه د ماخذ راخېستې ده. دا غمجنه ويرجنه کيسه يو ريښتنی واقعيت دی، ځکه دغو شپو ورځو کې د سياسي واک او لوټ، ولجې لپاره، د سيالو تنظيمونو ترمېنځ د جهاد تنور تر بل هر وخت په غرغنډو وو، وچ او لانده پکې بې توپيره سوځېدل. انديښنو وهلو پر لاره نګوښولم چی نابېره يوې سوزناکې ژړا له خپل پوښ څخه را وايستم، پام مې د ژړا لوري ته ورواړوه سترګې مې پر يوې وير غاړې ښځې ومښتې چې د مړستون په پای کې د يوه نوي کېږ پښو ته ناسته او ساندې بولي نژدې ورغلم، ګورم چې په کوم رژيدلي لالي عکس يې مخ ته نيولی او په کريږو ورته ژاړي ما هم خپله خوا خوږي ښودله، اوښکې مې تويولې نابېره دې وويل زه د ناهيد مور يم، له ما مه پوښته، له وسلوالو غلو وپوښته چې د شپې تېاره کې داړې اچوي، د خلکو مال او ناموس لوټوي. ستا پر تلوسو پوهېږم چې دا غميزه څنګه رامېنځ ته شوه، دې وويل دا نه کوم داستان دی او نه کومه کيسه، دا زما د تالا شوي زړه کرېږه ده.

دغه د خپلې وير ژړلې اوښکې پاکې کړې، کيسه داسې راپيل کړه، د ناهيد مور وويل موږ په يوه لېرې کلي کې اوسېدلو، مېړه مې او زه ښونکي وو، دوه بچيان مې درلودل يو هلک او بله همدا رژېدلی ګل يانې ناهيد شهيده وه، مېړه مې لا پخوا د توری شپې ښکاريانو ښکار کړی وو، کومه مېوه چې ما په اوږد مهال کې د ژوندانه له اغزنو ښاخونو څخه راټوله کړې وه، د وخت لوټمارانو راځينې په يوه شېبه کې تالا ترغی کړه. دا وايي کله چې زما خاوند دې وطن خرڅونکو په دې نامه چې ولې ښوونځی فعال ساتي، منډې ترړی وهي، ته ملحد يې، په کور را دننه شول او هغه يې په خورا بيرحمانه توګه شهيد کړ، موږ له هغه ځايه را کډه شو، زما ليور د ناهيد تره په ميکرويانو کې يو کرايي کور کې ژوند کاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې ته هم يوه خونه راکړه. ناهيد درسونه پيل کړه، د کابل ښار هم سور تنور وو، راکټ باران پيل وو، هلته ټولو ټوپکسالارانو مورچلې نيولې وې د وينو لښتې روان وو، هيچا دا وس نه درلوده چې خپل شهيد په مناسب ځای کې خاورو ته وسپاري، ډېرو خپل شهيدان په کورونو کې خاورو لاندې کړل، ناهيد په ډار ډار ښوونځی وايه. د پوستې قومندان دا تر سترګو لاندې ځارله، د دې لاره به نيوله خو شهيدې د خپل پت او ناموس ساتلو کوښښ کاوه، بله ورځ دوی د دې بيولو پسې کور ته راغله دي، مخکې له دې چې د دی وحشي صفتو لاس ته ور نشي، ځان د بالکون له لیارې د ٥ منزل څخه کښته واچولو او د دوی له شره وژغورل شوه او د شهادت جام يې نوش کړ، دا وو يوه نومونه يا بېلګه.
په زرګونو ورته وحشيانه عملونه تر سره شول، کابل په سوچه کنډواله بدل شو، پاتې خلک له کابله کډوالۍ ته اړ باسل شوه. له همدې ورځې وروسته ولسونه په قومي ژبني تعصب، مذهبي تاوتريخوالي واوښت هر څه د صفر سره برابر شول. د يوه حکومت پر ځای لسګونه جلا جلا حکومتونه جوړ شول. هر چا خپله واکمني کوله، حتی جنرال دوستم پيسې هم چاپولې، رباني ته هم روسانو بې ارزښته لس زريز کاغذي پيسې چاپولې، دغه پيسو د کلدارو او ډالرو په وړاندې د تش کاغذ بڼه درلوده. ګلبدين حکمتيار په چهار اسيا کې خپله اډه يا د جنګ د قومندې مرکز درلوده. مسعود د کابل شمال يانې بګرام هوايي ډګر د خواجه رواش هوايي ډګر او د تلويزون د غره دپاسه مرکزونه لرل، سياف په پغمان، خليلي، مزاري، محقق په برچي دشته او دارالامان کې قومندان عبدالحق په بګراميو، محمد نبي په احمد شاه بابا مېنه او پلچرخي ساحه کې مرکزونه لرل.
ټولو د کابل پر ښار توغندي د توپ انداختونه، راکټ باران او پياده عمليات کول، کابل د نړيوال جنګ په شان د جنګ له امله سور تنور ګرځېدلی وو.
کله چې د طالبانو نوې پروژه د پاکستان د استخباراتو لخوا د بېنظير بوټو د واکمنۍ په دوران کې د نصرالله بابر تر مشرۍ د کرنيل امام په لارښونه د بن لادين او القاعدې په مرسته پيل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کله چې طالبانو کابل ونیوه داکتر نجیب الله او د هغه ورور احمدزی یې ووژل.
۱۹۹٦ز کال او د اریانا څلور لارې کې راوځړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالبانو راټوکېدل

«د دوی د ټوکېدلو په اړوند د متوکل د مرکې غټ ټکي را اخلم».

## طالبان څنګه رامنځ ته شول؟




متوکل: د طالبانو اصطلاح ډېره نوې نه ده، د جهاد له دورې مخکې هم په مدارسو او مساجدو کې د طالبانو لفظ کارېده او دوی به خپل مشر لاره. کله چې په افغانستان کې د روسانو پر خلاف جهاد پیل شو، یا تر دوی مخکې، د انګرېزانو پر خلاف د جهاد پر مهال، د طالبانو په نامه مجاهدین شته وو، د کندهار د شهیدانو څلور لارې چې ډېره مشهوره ده، د هغه وخت د طالب مجاهدینو قبرونه دي. یاده دې وي چې په کندهار کې د طالبانو په نامه یوه هدیره هم شته، دې هدیره کې د انګرېزانو په مقابل کې د طالب شهیدانو مړي ښخ شوي. مانا دا چې د طالبانو اصطلاح تر تحریک مخکې هم وه.

کله چې په کندهار کې د طالبانو تحریک پیل شو، دلته دوه ډوله طالبان وو، یو هغه چې له پخوا د روس په مقابل کې جنګېدلي وو، نور د مدرسو او پوهنتونونو محصلین طالبان ورسره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجاهدینو پر مهال همدغه خلک د طالبانو په نامه یادېدل؟

دوی که څه هم په بېلابېلو تنظیمونو پورې تړلي خلک وو، خو بیا هم طالبان بلل کېدل، دوی په زابل، هلمند او کندهار کې مختلفې جبهې لرلې.

د طالبانو د تحریک د پیل پر مهال همدې دوو ډلو، یانې مجاهد طالبانو او د مدرسو او پوهنتونو طالبانو لاسونه سره یو کړل او یو نوی تحریک یې جوړ کړ. دا تحریک یې ځکه جوړ کړ چې د جهاد ارمان پوره نه شو. مجاهدینو په خپلو کې سره رقابتونه پیل کړل او په یوه سېستم کې سره ګډ نه شول. د دې په پایله کې ځینې خلک دویم هجرت ته مجبور شول. په ولایتونو کې پاټکسالاري او بې نظمي رامېنځ ته شوه او هغه ارزښتونه چې د هغو لپاره جهاد شوی و، تر پښو لاندې شول. د ملوک الطوائفي د له منځه وړلو او د جهاد د ارمانونو د راژوندي کولو په موخه د طالبانو تحریک رامنځته شو.

له خلکو سره به د طالبانو تعامل داسې و چې لومړی به یې مذاکرات کول، مرکه به یې کوله، که چا نه منله بیا به یې له وسلې کار اخیست.

یادونه: خبرې د ملا متوکل دي، چې وایي:

تاسې وایئ چې د طالبانو نوم پخوانی دی، خو دغه تحریک چې اوس راپورته شو او ملا محمد عمر مجاهد یې په راس کې وو، څنګه رامنځته شو؟

لومړی وار په میوند ولسوالۍ کې، د حاجي بشر نورزي له خوا، مشر ملا صاحب (ملا محمد عمر) ته د میوند ولسوالۍ واګې وسپارل شوې او موټرې، پیسې او نور امکانات چې له هغه سره وو، ملا صاحب ته په ۱۴۱۵ هجري قمري کال ور وسپارل شول، چې دا د طالبانو د تحریک پیل او د تاسیس وخت وو. له میوند ولسوالۍ طالبان مخ پر وړاندې تلل، تر هغې چې ولایت یې ونیوه. یوه غلطي عامه شوې چې طالبان له بولدکه شروع شول، حقیقت دا دی چې طالبان له میوند ولسوالۍ نه پیل شول او په بولدک کې ځینې خلکو د دوی ملاتړ اعلان کړ. طالبانو په لومړیو وختونو کې ځان تحریک باله، وروسته چې له میوند ولسوالۍ نه ووتل او نور ځایونه یې ونیول، بیا علما و مشران راټول شول او ملا محمد عمر یې د طالبانو د امارت مشر کړ. تر دې مخکې تحریک و او نور مشران هم وو، خو دا چې ملا محمد عمر په کې ډېرې هلې ځلې کړې وې، دی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امارت مشر وټاکل شو. يعنې تر دې مخکې تحريک و، بيا په دولتي چوکاټ کې د افغانستان اسلامي امارت رامنځ ته شو.

له امارت نه د طالبانو موخه څه وه؟ يا دا څه ډول سياسي نظام وو؟

د افغانستان په تاريخ کې امارت هم مخينه لري. هغه نظام چې په راس کې يې امير وي، امارت بلل کېږي. د کوم نظام په راس کې چې پاچا وي، هغه پاچاهي بلل کېږي. د کوم نظام په راس کې چې جمهور رييس وي، جمهوريت بلل کېږي. دا ډېره سپينه خبره ده. په افغانستان کې پخوا امير فلانی و امير فلانی وو. تر امير امان الله خانه پورې، چې وروسته يې امارت په پاچاهۍ بدل کړ. د پاچاهۍ او امارت فرق په دې کې دی، چې پاچاهي ميراثي وي، خو امارت کې اهل الحل خپل امير ټاکي. زما سوال دا دی چې طالبانو به ملا عمر ته امير المؤمنين ويل، يعنې د ټولو مسلمانانو امير. دغه امارت يوازې په افغانانو حاکميت غوښت او که ملا صاحب ځان د ټولو مسلمانانو امير باله؟

خلافت د ټولو مسلمانانو مشري ته ويل کېږي، خو امارت کې ضروري نه ده چې د ټولو مسلمانانو حکومت وي، دا کېدای شي تر يوې جغرافيې منحصر شي. کله چې موږ د افغانستان اسلامي امارت ويلي، موخه مو د افغانستان تر جغرافيې محدود حکومت و. موږ چې کله د «امير المؤمنين» لفظ کاراوه، د دې له پاره چې د افغانستان نهه نوي سلنه خلک مسلمانان وو او اسلامي تاريخ کې د امير المؤمنين او رييس الوزرا القاب استعمالېدل، نو موږ دغه الفاظ د نېک فالۍ په اساس استعمالول. که چا دې القابو ته معنوي ارزښت يا تبرک ورکاوه، دا د دوی خپل کار و، خو د افغانستان د اسلامي امارت حقيقت دا و چې تر افغانستانه محدود و.

د طالبانو حکومت رياستي نظام و، که پارلماني او که بيخي درېيم نظام و؟

د طالبانو نظام مشورتي امارتي نظام وو. شورا يې درلوده او امير په کې و. شورا په مشورتي بڼه خپل نظر وړاندې کولای شو.

کله چې طالبان د تحريک په شکل وو، هغوی عالي شورا لرله. کله چې امارت رامنځ ته شو، بيا د هغې ځای سرپرستي شورا يا د وزيرانو شورا ونيو. د دغو وزيرانو پرېکړې په ډېرو مسايلو کې نهايي وې، ځکه چې هغه به د امارت مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاییدولې، خو د امارت مقام دا حق درلود چې دا پرېکړې ویټو کړي یا تجدید نظر په کې وکړي. نو موږ ویلای شو چې د هغوی نظام، مشورتي امارتي نظام و.

طالبان چې کله راتلل، اساسي هدف یې د سولې راوستل وو او خلک هم د جهادي نتظیمونو له ګډوډۍ او پاټک سالارۍ په تنګ وو، نو د طالبانو په راتلو خوښ شول، ځکه چې د دوی شعار د امنیت راوستل وو. کله چې طالبان راغلل، نسبي امنیت ورسره راوستل شو، بیا هم په هېواد کې جګړه وه، د دغه نسبي امنیت له راوستو پرته، طالبان به ملت ته څه وایي، چې څه مو تاسې ته راوړل؟

لومړی باید د دې خبرې سپیناوی وکړم چې طالب او مجاهد بېل الفاظ نه دي. د طالبانو مشرانو د روس په مقابل کې په جهاد کې برخه اخیستې وه او شهیدان و ټپیان شوي وو. بله دا ده چې مجاهد او تنظیمي جګړې باید سره بېلې شي. مجاهد یوه مقدسه کلمه ده. په خپل وخت کې مجاهد بې نظیره او بې مثله کار کړی او دا افتخار باید موږ تل وساتو. ځینې خلک د قدرت له پاره تنظیمي جګړې وکړي. دا باید په ټولو مجاهدینو ونه تپل شي.

امنیت په څو شیانو راتلای شي. یو تلپاتې امنیت دی. تلپاتې امنیت په هغه صورت کې وي چې ټولنه جوړه وي، جګړه نه وي شوې، نظام جوړ وي، اقتصاد جوړ وي، زما منظور داسې ثبات نه دی. داسې امنیت چې یوه مسؤله اداره په کې وي او په ټولو یو ډول قانون پلی کړي. د شرعي نظام نفاذ په حقیقت کې د امنیت تومنه وه. اساسي ټکی همدا و چې شریعت امنیت راوستی دی. هغه امنیت چې د طالبانو پر مهال و، هغه د شریعت له برکته و، دا خو د متوکل د طالبانو د بهرنیو چارو د وزیر خبرې وې، دی خو طرف وو، ده باید له خپل رژیم نه پلوي وکړي او هر څه سم وارزوي خو را ځو د دوی په واکمنې رښتنې څه وشول او پابلې کومې وې؟

د بېنظیر بوټو او نصرالله بابر نوی پروژه همدا طالبان وو؟

چې د دوی په مرسته لومړی کندهار کې واکمن شول، د کرنیل امام په مشرۍ او لارښوونه د بابر لومړی سفر او کاروان تر هراته بدرګه شو، تورن اسماعیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران خپل پخواني بادار ته پناه یو وړه. پاکستان دا پلان درلوده چې د دې لارې به د منځنۍ اسیا هېوادو ته خپل تجارت پیل کړي، خپل بې ارزښته تولیدات به هلته وپلوري او د منځنۍ اسیا خام مواد، معدني مواد به خپل هېواد ته وارد کاندي، د طالبانو د یو په بل پسې د بري لاملونه دا وو چې د ډاکتر نجیب الله د رجیم تر سکوت وروسته د مجاهدینو په نوم ډلو ټپلو د دې هېواد ولسونه ډېر ځورولي وو او نور ولس د دوی د ظلمونو او ناروااوو حوصله نه درلوده.

طالبانو او پاکستان په اول کې د محمد ظاهر شاه افغانستان د پخواني پادشاه د راتلو او د لویې جرګې د رابللو شعارونه پیل او ولس ته ستره بازي ورکړه، دوی کابل او نژدې ۹۰ فیصده افغان خاوره تر خپل حاکمیت لاندې راوستله، یوازې د پنجشیر ډله د یو شمېر قومندانانو او جهادي څېرو سره پنجشیر او تخار ته شاه تګ وکړ، دوی کابل کې په رڼا ورځ ډاکتر نجیب الله په دار وځړاوه، د نجونو ښوونځي یې وتړل، ښځینه کارکونکې له کاره منع شوې. رادیو تلویزون کې یوازې د دوی خبرونه او نعتونه ویل کېدل، په ښځو باندېئ د کور نه د وتلو بندیز ولګېد، د جرمونو سرته رسولو په وخت کې د لاس پریکول، اعدامونه، د سر پریکول او نور په علني توګه سرته رسېدل، بهرنی سیاست یې هم نیمګړی وو، یوازې سعودي عربستان، پاکستان او قطر ورسره رسمي اړیکې درلودې. د رباني د مجاهدینو مشر نورې نړۍ په رسمیت پېژندلو، دا وخت تش په نوم ګلبدین حکمتیار د رباني صدر اعظم وو کله چې د ملېشو یو قومندان مالک او طالبانو روغه وشوه، مزار طالبانو ونیولو، رباني او ګلبدین هم ورک شول، ګلبدین خو ایران ته ولاړ خو مالک طالبانو ته دوکه ورکړې وه. جنرال دوستم چې ترکیې ته تښتېدلی وو، بېرته شمال ته راستون شو.

د طالبانو لویه ستونزه دا وه چې د القاعدې مشر بن لادن ته یې پناه ورکړې وه کله چې په ۲۰۱۱ز کال د سپټمبر ۱۱ پېښه په امریکا کې وشوه، د دې پېښې پلان القاعدې او مشري بن لادن کوله، د طالب چارواکو او امریکا ترمېنځ کړکېچ را پیدا شو، طالبانو امریکا ته د بن لادن سپارل ونه منل، په دې هکله سعودي، امریکا او نورو زیات کوښښ وکړ چې طالبان دې ته وهڅوي چې بن لادن

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا ته ورکړي خو دوی دا کار ونه کړ، طالبانو غوښتنه دا وه چې امریکا دې لومړی د طالبانو رژیم په رسمیت ومني خو دا کار امریکا ونکړ، امریکا هم بهانه لټوله چې افغانستان ته د لویو موخو لپاره خپل پوځې ځواکونه راواستوي، امریکا په دې لار کې زیات ډالر وشیندل، احمد شاه مسعود هم مړ کړی شو، شمالي ټلوالې د امریکا سره لیدنې کتنې پیل کړې، د شمالي ټلوالې او اوسني جمهور ریس محمد اشرف غني احمدزي د ملي یوالي د حکومت د اجرایه مشر ډاکتر عبدالله په تاجکستان کې د امریکا له استازي سره لیدنه وکړه، ده ته ۷۰ لکه ډالر چک ورکړل شو، د بن ناستې ته زمینه مساعد شوه، په دې ناسته کې د ټول ملت استازو ګډون ونه کړه، پایله یې سمه نه وه، حامد کرزی د موقت حکومت مشر په توګه ومنل شو لویه جرګه راوبلل شوه، د بن په پرېکړه کې راغلي وو چې کابل به بې وسلې کېږي، سوله ساتی ځواک به د کابل امنیت ساتي خو شمالي ټلوالې د خپلی چلاکۍ له امله ټول امنیتي او کلیدي وزارتونه خپله ولکه کې وساتل، د محمد قسیم فهیم په مشرۍ د دوی وسلوال کسان کابل ته داخل شوه او زیات ناروا کړنې یې وکړې. د کابل په ښار کې تر اوسه خپل سري وسلوال شته، اکثره وخت غلا ترور، تښتونې، وژنې دوي کوي، تر پولیسو د دوی شمېر زیات دی، د دوی بې وسلی کول او کابو کول د پولیسو په واک کې نه شته، د کابل د بد امنۍ لامل همدا ټوپکیان او وسلوال غله دي.

طالبانو رژیم د امریکا د پوځ د یرغل په پایله کې نسکور شو، د طالبانو یو شمېر کسان چې په کندوز ولایت کې جنرال دوستم ته تسلیم شوی وو، وروسته په جنګي کلا او دښت لیلي کې ژوندي په کانتنرو کې ووژل شوه. د منل شوو ټولو قوانینو خلاف عمل ورسره وشو، ځکه جنګي اسیر یا تسلیم شوي کسان نړیوال ځانګړي قوانین لري خو دا تر پښو لاندې شول.

خلیلزاد د امریکا پخوانی سفیر په افغانستان کې د استازي په نوم کتاب کې لیکي، زه دی پایلې ته ورسېدم چی د افغانستان په سیاسي ډګر کې دری ډوله لوبغاړي کار کوي. ورانونکي، جوړونکي او ورځ چاري. جوړونکي زموږ په څېر د هېواد د پرمختګ هیلې لري. ورانونکي جنګسالاران د مخدره توکو قاچاقبران او ګاونډې هېواد پاکستان د خپلو لنډ مهاله ګټو لپاره افغانستان بې ثباته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما په اند په دی خبرو کې لويي مفهوم پروت دی که تحليل شي ؟**

**جېمز مارک امريکايي ژورنالست:**

په خپل کتاب زېړه طلا کتاب کې ليکي چې د اې ايس اې سازمان په 1948ز کال د برتانوي جنرال رنات کوتمه لخوا جوړ شو، مارشال ايوب خان د پاکستان واکمن ورته په 1950ز کال د خپلو منافعو په خاطر زيات پرمختگ ورکړ. په 1965ز کال د هند او پاکستان تر منځ د کشمير په سر جنگ پيل شو، په 1958ز کال چې ټول استخبارتي سازمانونه او نظامي مشري د جمهو ريس تر کنټرول لاندې وي، د وفاداری پر ځای پر خپلو کې په رقابت او تقبل پيل وکړ، کله چې جنرال ضياالحق په 1977ز کال کې نظامي کودتاه وکړه واکمن شو د اې ايس اې مشر يې جنرال غلام جيلاني وټاکه، دده فعاليت په پايله کې ذوالفقار علي بوټو د ضياء لخوا په دار وځړېده او اې ايس اې ته زيات يې رول ورکړ، کله چې شوروي اتحاد لښکرې افغانستان ته راننوتې نو جنرال حميد گل ددې اداری مشر وټاکل شو. د جهاد تر نامه لاندې اوه گوني ډلې د اي ايس اي په مستقيمه لارښونه وروزل شوه او وسلوال شوه او د وران کاری لپاره 83000 وسلوال په خپلو نظامي روزنځايونو کې ورزل، افغانستان ته راوستل ددی ډلو ټپلو څخه امريکا متحدو ايالاتو او متحدينو يې پوره ملاتړ اعلان وکړ، د طالبانو سره د برهان الدين پر وړاندې مرستې وکړې، د طالبانو لپاره پاکستان يوه خاصه د کماندو فرقه جوړه او د جنگ تنور يې نور هم تود کړ، د طالبانو لخوا پلازمېنه کابل ونيول شو، زياتره سيمې ددوی لاسته ورغلې. اوس د جنرال حميد گل د لاسوهنې يوه بېلگه وړانی کېږي.

جنرال حميد گل د پاکستان د اې ايس اې سازمان مشر د (١٩٩٦)ز کال د سپتامبر پر (٢٦) نېټه د ماښام پر (٦) بجو د پاکستان د هليکپټرو په واسطه د پېښور له لارې له نصرالله بابر څو تنه نور لوړ رتبه پاکستاني جنرالانو لکه افق بلال، عصمت الله گيلاني، منوسير خان باجو، کلام الدين فيصل، ملا محمد عمر د طالبانو مشر او (١٢) نور د طالب مشرتابه پلاوي سره کابل ته را دننه شول، دوی له راتگ سره سم، پخوانی ولسمشر ډاکټر نجيب الله د ملگرو ملتونو له سياسي دفتر څخه، ارگ ته چې د طالبانو تر واکمنی لاندې وه راوست، مارک جيمز پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کتاب کې له هغه درې ساعته ویډیو څخه یادونه کوي چې، پر دغه شپه ډاکټر نجیب دخپل مرګ تر ورستیو شېبو خبرې کوي، مارک جیمز، د نجیب او حمیدګل په دغه ویډیو کې خبرې داسې یادوي.

جنرال حمید ګل: له ډاکټر نجیب الله څخه داسې پوښتنه کوي، ما پېژنې ؟

ډاکټر نجیب الله په ځواب کې: بلې هو ته حمیدګل د پاکستان د اې ایس اې مشر یې.

جنرال حمید ګل: آیا پوهېږې چې موږ د څه شي په اړه خبرې کوو؟

ډاکټر نجیب الله: بلې هو د هغې موضوع په اړه چې څو کله وړاندې مو له حکمتیار سره په مذاکره کې، له ما څخه غوښتې وه.

حمیدګل: سمه ده اوس چې له موضوع څخه تاسو خبر یاست، نو راځئ چې کار پیل کړو.

ډاکټرنجیب الله په ځواب کې ورته وایي: کوم او څه ډول کار تاسو غواړئ پیل کړئ؟

حمید ګل: موږ د یوه لوړ رتبه با صلاحیته پلاوي په استازیتوب د پاکستان د لومړي وزیر(نواز شریف) لخوا راغلي یو، تر څو د ډیورندکرښې په اړه (۲۲) ماده ایز سند ستاسو او د طالبانو امارات اسلامي مشر، ملا محمد عمر ترمنځ لاسلیک شي او په کې ولیکل شي چې،

«ډیورند کرښه د پاکستان رسمي پوله ده، د افغانستان موجوده حکومت دا کرښه د یوه رسمي او منل شوې پولې په توګه پېژني او د یوه رسمي سند په توګه د افغانستان او پاکستان ترمېنځ اعتبار لري.»

د ډاکترنجیب الله ځواب:

«هېڅ وخت به دا پروتوکول امضا نشي، تاریخ پر خپله صفحه کې پر زرینو کرښو لیکلي لري چې، د ډیورند خاورې کرښه د انګلیس لخوا په درغلۍ باندې شوې نو څکه د عتبار وړ نده، ولې؟ د دې لپاره چې ترڅو له دې لارې تاسو پنجابي جنرالان، له خپلو امریکایي او انګلیسي بادارانو څخه په ملیاردونو ډالر پیسې لاسته راوړئ.

حمید ګل، د ډاکتر نجیب الله په ځواب کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان حکومت د خپلو ګټو په خاطر له جهادي مشرانو صبغت الله مجددی، ګلبدین حکمتیار، پیرسید احمد ګیلاني، برهان الدین رباني، رسول سیاف، مولوی یونس خالص و مولوی محمد نبي سره دې هوکړې ته رسېدلي، دوی ټولو جهادي رهبرانو هر یوه د ډیورندکرښه په رسمیت پیژندلې، او دا کرښه د پاکستان رسمي پوله بولي، نو تاسو یې ولې نه منئ؟ د ډاکټر نجیب الله ځواب حمید ګل ته:

دا تنظمي جهادي مشران تاسو پاکستانیانو را منځته کړل، ستاسو له سازمان څخه معاش خوري، د افغانستان ټول ولس په دا خبره پوهېږي چې دوی د پردیو لپاره کار کوي، دا اشخاص د پیسو او مالداری په فکر کې دي، نه د ملت په فکر، دوی چې څه یا کومه خبره، له تاسو څخه په دستور کې اخلي هغه تر سره کوي، دوی حتا یو ځلې هم په خپلو دا ډول ناوړه کارونو له خپلو وجدانونو سره قضاوت ونکړل، ما د دوی پر وړاندې د سولې او پخلاینې ملي روغه جوړه اعلان کړه، ترڅو په هېواد کې مو جګړه او ورور وژنه پای ته ورسېږي، خو برعکس تاسو پاکستانیانو به دوی جګړې ته تشویقول، زه دې ته حاضر شوم ترڅو قدرت خوشې کړم، ما له دوی څخه پیغامونه ترلاسه کړل چې دوی ویلي وو، موږ چمتو یو ترڅو په ملي روغې جوړې کې د سولې پروسې سره یو ځای شو، خو وروسته یې بیا ځواب راکړ چې موږ ته پاکستان اجازه نه راکوي، دا معلومداره خبره ده چې تاسو، د خپلو اهدافو لپاره په افغانستان کې جګړه جاري ساتئ، تاسو د ورور وژونکي افغانستان طرفداره یاست، نه د واحد افغانستان.

جیمز: ددې ویډیو په وروستۍ برخه کې ددواړو خواوو له خبرو وروسته، اې ایس اې له ډاکټر نجیب سره خپل چلند بدلوي، ځکه چې دوی د څه په لټه کې چې وو هغه لاسته نه راځي، دوی ډاکټر نجیب ته بدو رد وایي او دده لاسونه شاته تړي او شکنجه ورکوي، په دې وخت کې نصرالله بابر، ډاکټر نجیب ته په خطاب کې وای.

دا تاسو واست چې د پاکستان د نیولو په خاطره مو افغانستان ته د د شوروي سرې لښکرې راوستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر نجيب په ځواب کې ورته وايي که چيرې په کوم رقم چې داسې يې فکر کوئ بايد په هم هغه رقم چې ستاسو فکر ده کار تر سره شوی وای.
خو حقيقت داسې نده، څرنګه چې يې تاسو واياست، موږ هېڅ کله د نورو د خاورو په فکر کې نه يو او نه وو، موږ ستاسو په خبر په خپل هيواد کې تروريستي ډلو ته روزنه او هغوی مو نورو ګاونډي هيوادونو ته ندي صادر کړي، زموږ سياست د ورور ګلوی پر اساس له ګاونډيو سره وو، موږ د افغانستان د خلق دموکراتيک د واکمنۍ په دوران کې هيڅ وخت پر ګاونډيانو باندې بريد ندی کړی، بلکې برعکس زموږ ګاونډيانو ول چې پر افغانستان يې په بېلابېلو بهانو يرغلونه کول، چې موجوده وضعيت هم د ستاسو ګاونډيانو لکه پاکستان او ايران له لاسه رامنځته شوي چې د خپلو سياسي موخو لپاره يوه (٧) تنظيمه راته جوړ کړل ايران بيا (٨)، چې په زوره يې زموږ پر ولس منلې.
جيمز زياتوي چې په ارګ کې په هغه ځای کې چې ډاکټر نجيب راوستل شوی، د پاکستان د اردو عسکر له حميد ګل سره په اردو ژبه خبرې کوي، ددغو پاکستاني عسکرو چلند له نجيب سره داسې ده لکه يو مجرم او متهم کس چې محکمه کوي.
په دې وخت کې حميد ګل امر کوي چې شاپور احمدزی د نجيب ورور چې بله کوټه کې تر نظارت لاندي وو، راولئ، د ويډيو ساعت دقيقه ١٥/٢ راښکاره کوي ٢٧/٩/١٩٩٦ د ميلادي، داسې معلومېږي چې د ډاکټر نجيب او دده د ورور د وژلو امر حميد ګل له نواز شريف څخه اخېستی.
نجيب او دده ورور د خپل مرګ شېبې شماري، په دې وخت کې ملا عمر چې مخ يې هم نه ښکاري په پښتو قندهارۍ لهجه وايي تا خو په ملګرو ملتونو دفتر کې پنا وړې وه، چې ترځو د هندوستان کافر هېواد ته ولاړ شئ، خو اوس به دې مړی هم څوک پيدا نکړي، او داسې نورخبرې......
د همدې خبرو په جريان کې نجيب او ورور يې په لغتو او سوکانو هم وهي، چې حميدګل را نژدې کېږي او تفګنچه يې هم په لاس کې ده، دواړو وروڼو ته وايي.
هندوستان د پاکستان دښمن هيواد دی خو تاسو غوښتل زموږ دښمن هېواد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ شئ. ددې خبرو له ختمېدو سره ډاکټر نجیب الله په ډېره کلکه ضربه خپل سر د حمیدګل په پزه وهي او دده له پزې وینې راځي، په دې حال کې نجیب د حمید ګل د باډیګاردانو لخوا په خېټه کې ویشتل کېږي، نجیب پر ځمکه لوېږي، حمیدګل هم په خپله تفنګچه باندې د ډاکټر نجیب په سر د څو مرمیو ډزې کوي او دی وژنې وروسته بیا شاپور احمدزی هم دوی له څو خوا وو د مرمیو په ډزو وژني، له هغه وروسته پاکستاني عساکر جسدونه را باسي او د باندې یې انتقالوي. د ویډیو له ساعت سره ۵۳/۲ برابره د سهار خواته په ۱۹۹۶/۲۷/۹ میلادي تاریخ

جنرال حمیدګل، نصرالله بابر د پاکستان کورنیو چارو وزیر او څو تنه نور پاکستاني جنرالان د پایکپ موټرو په واسطه د کابل هوایی ډګر ته راځي او له هغه ځایه چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې ده، د پاکستان د اردو (۲) څرخي تیارو په واسطه د پاکستان پېښور ته ستنېږي.[1]

---

[1]- مارک جیمز امریکایي ژورنالیست، ژیړ طلایي کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غچ او سزا

## دوه پېړۍ په افغانستان کې د بهرنيانو مداخله:

د افغانستان په هکله ډېر کتابونه ليکل شوي، چې د افغانانو مېړانه، رښتينولي، وطن دوستي، له ناموس او وطن سره مينه، مېلمه پالنه، ملگرتيا، پښتونولي، مينه او نفرت، ورور وژنه، له مادياتو سره بې حده مينه، بدل، غچ او انتقام په هکله خبرې کوي. ددې تر څنگ د نولسمې پېړۍ له پيل راهيسې افغانستان د نړيوال استعمار، استثمار، سياسي افراط موخه گرځېدلی دی. پخوا هم لويو لويو ښېلاکگرو پر افغانستان يرغلونه کړي او په بېلو بېلو پلمو افغانستان ته ننوتلي دي، خو موده وروسته بيا له ناکاميو سره په خورا بد حال له گران هېواد افغانستان نه وتلي دي.

د تاريخ په اوږدو کې له سکندره رانيولې تر چنگېز خان، گوډ تيمور، عربو، مغلو، انگريزانو، شورويانو او نن ورځ امريکايانو د ناټو هېوادونه، ايران او پاکستان افغانستان ته په بېلا بېلو نمونو راغلي او ننوتي دي مگر په خپلو پلانونو کې بريالي شوي ندي. افغانان د کرکټر له مخې د ټولې نړۍ له خلکو سره توپير لري.

کله چې دوی ته درناوی ونه شي او ټيټ ورته وکتل شي دوی بيا فرصت ته گوري او غچ اخلي، افغانان د دوستۍ خلک دي خو چې په درنه سترگه ورته وکتل شي.

افغانان متل لري: افغانان په وضيعت احترام او محبت له خپلو ملگرو سره ځان د دوزخ په اور کې اچوي يا غورځوي، خو که په زور زياتي او بې حرمتۍ سره جنت ته هم نه ځي. په خوښه دوزخ ته ځي او په زور جنت ته نه ځي. وايي چې د افغانستان نيول اسان دي خو ساتل يې سخت دي.

ډويډ لاين يوه بېلگه وړاندی کوي ليکي: په ۱۹ پېړۍ کې کله چې انگريزانو څو ځله پر افغانستان بريدونه وکړه مگر په لږه موده کې شاه تگ ته مجبور شول. انگريزانو په هر بريد کې سختې ماتې خوړلي دي، خو په تېره بيا د ۱۸۴۲ز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل څخه د شاکېدو پر وخت ډېر تلفات ولیدل د کابل نه تر جلال آباد پورې ټول نظامي غونډونه او وسلې له لاسه ورکړې، یوازې یو نفر په تېښته جلال اباد ته ورسیدو. په زرگونو خلک یې له لاسه ورکړه، خودې خپلې ماتې نه دي هېرې کړي او د غچ اخېستلو لپاره اوس هم کار کوي، چلوټې کوي.

## طالبانو پر افغانستان د امریکا په مشرۍ یرغل:

(۱۹۹۴ تر ۲۰۰۸ز کلونه)

ډوېډ وایي چې ما د طالب کلیمه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۴ز کال په ډهلي کې د بهرنیو ژور نالېستانو په یوه کلب کې واورېدله، ولې دوی په ۱۹۹٦ز کال د سپتمبر په میاشت کې کابل ونیوه، د طالبانو بې رحمۍ ټول افغانان لړزولي وو.
د طالبانو واکمنۍ پېنځه کاله دوام وموند، د ۲۰۰۱ز کال د سپتمبر ۱۱ نېټه نه وروسته د امریکا موخه وگرځېده او په زور له واکه راوپرځول شوه. په ۲۰۰۸ز کال د بهرنیو ځواکونو شمېر مخ په زیاتېدو شو، د دوی شمېر تر ۵۰ زرو زیات شو، د امریکا لخوا د نورو هېوادونو د مرستې غوښتنه وشوه، چې د طالبانو ښورښ ورځ تر بلې پیاوړې کېده چې دا پیاوړتیا غلې کړي او د پراختیا مخه یې ونیسي.
څه غلطي شوې وه؟
نړیوالې ټولنې ۲۰۰۱ز کال کې ځینې اساسي غلطۍ وکړې. د نړیوال بانک په خبره (نړیواله ټولنه) ښارونو ته ولاړل او فنډونه یې تر لاسه کړل خو د افغانستان نوي دولت جوړولو ته یې توجو ونه کړه. فساد ته یې د پراختیا اجازه ورکړه. او د غیرې قانوني مخدره موادو څخه دښمن زیاته گټه ترلاسه کړه، د نړیوالې ټولنې جگړیز کمپاین د ترورستانو د نیولو لپاره وو، نه د نظم او قانون د رامنځ ته کولو لپاره، د نړیوالو دا څو ناکامې د طالبانو د بیا راژوندي کیدلو لپاره کاپي وو. د ۱۹ پېړیو په وروستیو کې روسیې هم افغانستان تهدیداوه، خو د برتانیې په پرتله یې پرمختگ و نه کړ. همدارنگه د ۱۹۷۰ز کال وروسته امریکا عین کار کاوه پوښتنه دا ده چې ایا پدې یویشتمه پېړۍ کې دغه هېوادونه د هغو پېښو څخه د عبرت درس وانخېست چې یو ځل بیا یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان کې جګړو ته مخه کړه؟**

ښه ښېلګه یې دا ده چې په ۱۹۸۰ز کال د شوروي اتحاد پر ضد یې مجاهدینو ته بې حسابه او بې پوښتنې پنډونه ورکړل او زیاتره امریکایي ډالر وو.

دا افراطي اسلام چې د ځینو مشرانو لخوا لکه ګلبدین حکمتیار او احمده شاه مسعود په ډاګه تبلیغ کېدل، دوی ته قهرمانان خطاب کېده او حق په جانب بلل کېدل. د شوروي اتحاد له ماتې وروسته چې کله دا دواړه اتلان یو د بل سره په جګړو کې ښکېل شول، ټولو غربي دیپلوماتانو چې ددوی ملاتړ یې کاوه او پریمانه پیسې ور کولې، چوپه خوله پاتې شول. ډېر کم خلک پر دې پوهېدل چې په ۱۹۹۰ز کال کې د طالبانو د تحریک جوړېدل په څه مفهوم وو؟

په ۱۹۹۲ز کال په افغانستان کې د ډاکتر نجیب الله رژیم ړنګ شو دا لومړی ځل نه وو چې افغانستان د بل چا د لوبې د سترنج دانه وه. د پاکستان نظامي رهبري له افغانستان سره د مینې تړاو درلوده. د ۱۹ پېړۍ د انګریزانو د پیشروۍ پالیسي په شان ځانونه د پېښو اتالستان ګڼل، هغه وخت هم دوی د سلیمان دغرو شاته تکتیکي عمق لټاوه اوس پاکستان عین مفکوره درلوده چې افغانستان پر دوی متکي وساتي او که کله هند پر دوی برید وکړي، نو دوی باید شاته پراخه اراضي او عمق ولري. د افغانستان ختیځ ته د کمپونو جوړول او ګیرلایانو روزل به ددواړو موخو لپاره وي، په افغانستان او کشمیر کې ددوی استعمال به د پاکستان لپاره دوه مرغۍ یوه ډبره وي. ددې لپاره چې امریکایان راضي کړي دغه کمپونه له خپلې خاورې وایستل او د افغانستان ختیځ کې ځای پر ځای کړل، خپل اصلي هدف یې تل په نظر کې وو. پاکستانیان، عربان، افغانان، کشمیریان د افغان شوروي د جنګ پخواني جنګیالي ټول دلته روزل کېده. هغه چا چې دغه نړیوال غږ ته لبیک وایه، هغوی سرحدونه نه پېژندل. د اسلامي خلافت خوبونه یې لیدل او اسلامي نړۍ جوړوله.

د ۱۹۹٦ز کال د مئې په ۱۸ نېټه چې طالبانو کابل ونیوه، بن لادن بېرته راوستل شو. دی ٦ کاله دمخه هم افغانستان کې وو. په ۱۹۹۰ زکال د لنډ وخت لپاره سعودي ته ولاړ او د اتل په سترګه ورته کتل کېده کله چې سعودي له امریکا سره تړون لاسلیک کړ، د الوتکو راوړلو ببېړۍ او پوځي وسایل سعودي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستل شو، د بن لادن او سعودي اړیکې وشلېدلې.
طالبانو بن لادن نه وو دعوت کړی. بن لادن له طالبانو سره اړیکې نه درلودې. بن لادن جلال اباد ته ولاړ دا وخت جلال اباد طالبانو نه وو نیولی، ده له پخوانیو مجاهدینو سره دوستي درلوده. ده ته کور ورکړل شو. ده ګیرلایان روزل او کشمیر ته یې استول. ده په توره بوره کې مغارې جوړې کړې وې. د امریکا پر خلاف یې اعلامیې ورکولې. یوه میاشت وروسته طالبانو جلال اباد ونیوه او د کابل په لوري روان شول. د بن لادن مرکزونه یې ونیول او ده ته یې وویل چې د بهرنیو تهدیدونه پرېږدي، دی کندهار ته واستوه، د بن لادن اجندا دا وه چې له طالبانو ځان لېرې وساتي، د طالبانو نظام دده په ګټه نه وو. بن لادن کندهار ته ولاړ خو د طالبانو کیسه کې نه وو. د خپلې کورنۍ سره اوسېده او د امریکا ضد پلانونو باندې کار کاوه، کله چې په کینا کې د امریکا سفارت باندې بم وچاوه ۲۱۳ تنه پکې مړه او زیات ټپیان شول.
امریکا دا وخت په خپل کورني جنجال کې بوخت وه، یانې د کلنټن او مونیکا لیونسکي د جنسي اړیکو مسله ګرمه وه. خو کلنټن د خلیج څخه ۶۰ کروز توغندي د بن لادن په مرکزونو چې په افغانستان کې وو یرغل وکړ، ۳۰ تنه په کې ووژل شو. د القاعدې مشر هلته نه وو. لوی زبر ځواکونه د درندو وسلو او بمباریو کار اخلي خو ترهګر د انتحار، ځانمرګیو او د خرپ اوترپ جنګونه کوي. په ۱۹۹۳ز کال کې ۱۸ نظامیان په مګا دیشو کې وژل شوي وو. ملامتي او پړه یې پر بن لادن اچولې وه. د امریکا او سعودي حکومتونو زیات کوښښ کاوه چې چې بن لادن وروسپاري، زیاتې مرستې هم وکړي خو طالبانو له امریکا غوښتل چې د دوی رژیم په رسمیت وپېژني، لاکین امریکا دا کار نه کاوه، امریکا تیاره نه وه چې دا کار ومني. کله چې روسان په ۱۹۸۹ز کال له افغانستان څخه ووتل، په ۱۹۹۲ز کال مجاهدین واکمن کړی شول. خلک په سره اور کې اوسېدل، بهرنۍ نړۍ کوم جوړونکې رغنده کار په افغانستان کې نه دی کړی، ناکامه شوه. طالبانو د بامیانو بودایي مجسمه له منځه یووړه، هر څه په ټپه ودرېدل. خو په ۲۰۰۱ ز کال ۱۱ د سپټمبر پېښه چې پړه القاعده واچول شوه، د طالبانو د زوال وخت راغلی، امریکا جمع ناټو د شمالي ټلوالې سره لیدنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتنې پیل او جنرال دوستم د هندوکش د غرونو لویدیزې خواته خپل پلې ځواکونه د هلیکوفترو په واسطه ښکته کړه، د هزاره ګانو وژنې ایران خفه کړ، دوی هم د هزاره ګانو سره تر پخوا زیاتې مرستې پیل کړې... د کابل جبهه کې مسعود کومه خاصه لاسته راوړنه نه درلوده، په ١١-٩ مسعود ووژل شو.

ډویډ لاین امریکایي ژورنالست او خاص کارمند لیکي: افغانستان یو ځانګړی هېواد وو چې اوسنی درې واړه سیاسي مفکورې پدغه هېواد کې وازمویل شوی. کمونیزم، افراطي اسلامیزم، دواړه ناکام شول. اوس د دموکراسۍ او ازاد بازار ګټې یې له ځان سره درلودې. مګر څه پېښ شول، چې د ټول هېواد خلکو هیلې چې په دموکراسۍ کې لیدلې او فکر یې کاوه ولې په مایوسۍ بدلې شوې؟ او هیلې په ناهیلۍ واوښتې. ټول هغه هېوادونه چې د امریکا په مشرۍ د ۲۰۰۱ ز کال مداخله په افغانستان کې حمایه کوله د افغانستان په هکله هېڅ ډول څېړنه او استعجابیه کار وانه چاوه او په دې باور وو چې لوی قدرت دموکراسي راوړه او ثبات به ژر تامین شي، سوله به راشي.

که عرب تاریخ هېر کړی وو خو د افغانانو تاریخ په یاد وو، هېڅ یې هم نه وو هېر کړي، غربیانو حامد کرزی د چینې او قره قولۍ سره چې په انګریزي پوهېده غوره کړ. کرزی د واشنګټن لو مړی انتخاب نه وو، ده ته هغه وخت توجه وشوه چې د امریکا سړی یانې قوماندان عبدالحق د طالبانو په کمین کې ووژل شو. کله چې طالبان مات شول یو شمېر زیات افغان کډوال هېواد ته راستانه شول، د نړیوالو هڅې د مخدره موادو په تولید او قاچاق کې ددوی مخنیوي کې ناکام شول، له دې لارې ترهګرو ته د کال دوه ملیارده ډالره عاید په لاس ورغلی، د بیا رغونې پیسې د بهرنیانو په ګډون داخلي او بهرنیو مافیایي ډلو ترلاسه کړې، پخواني ټوپک والا تر پخوا زیات شتمن او د زور خاوندان شول، د فساد کچه پورته شوه، طالبانو د پاکستان د اې ایس اې، ایران او عربي شیخانو په مرسته بیا راژوندي شول او په هېواد کې بیا جنګ زور واخېسته، د افغانستان زیاتره برخې دجنګ په سره اور کې سوځي، د بهرنیانو پوځونه کله ځي او کله بیا راځي په بمباریو کې کله کله عاموژنه هم کېږي.

ولسونه ناهیلی شوي او په راتلونکي چندان باورمند نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولسم څپرکی

# د بن ناسته او د حامد کرزي واکمني

۱۹۹۶از کال د شمالي ټلوالې واکمني د طالبانو لخوا ونګول شوه، دوی شمال کې ډېره کمه خاوره کنټرولوله، دوی مصارف، وسلې له ایران، هندوستان او روسیې څخه ترلاسه کولې او د طالبانو حکومت یې په کابل کې ننګاوه. نړیوالو هم د طالبانو د حکومت پر ځای د شمالي ټلوالې حکومت سره اړیکې درلودې، تر هغې چې د القاعدې لخوا د ۲۰۰۱ ز کال سپټمبر ۱۱ د امریکا متحدو ایالاتو په نیویارک او واشنګټن حملې د شمالي ټلوالې په ګټه بدلون او د امریکا سره ملګرتوب د دوی لیکې پیاوړې کړې، محمد ظاهر شاه د افغانستان مخکیني پاچا ۱۹۷۳از کال یانې دېرش کاله مخکې له افغانستان نه شړل شوي او جلا وطنه ژوند کولو عمر یې هم ډېر وو.

د کتاب لیکونکی وایي چې ډاکتر عبدالله ما سره په یو سفر کې خبرې کولې او دا پوښتنه یې وکړه چې ولې امریکا د شوروي د وتلو یانې د ۱۹۸۹از کال وروسته موږ ته شا کړه، په داسې حال کې چې امریکا د طالبانو د پرځولو وروسته د یو پراخ بنسټ حکومت جوړول غواړي. خو ستر خنډ برهان الدین رباني وو، چې په ۱۹۹۲از کال کې د واکمنۍ پر څوکۍ ناست او تراوسه د مشرتوب موخه لري. کله چې طالبانو نسکور شول، برهان الدین رباني تاجک بیا هم د ریاست جمهوري مشرتوب شوق درلوده او ارګ کې ناست وو، لیکونکی وایي عبدالله وویل چې ځینې تاجک، هزاره او ازبک ملګري غواړي د حکومت لمن پراخه کړي او هم پښتانه چې پوره اکثریت لري برخه ولري، ده زیاته کړه چې راتلونکې مشر باید پښتون وي. دی وایي ما ترې وپوښتل ستا مرام خو به محمد ظاهر شاه نه وي؟ د هغه د پادشاهۍ دوره له ۱۹۳۳ نه تر ۱۹۷۳از کال پورې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما زیاته کړه ظاهر شاه ۸۷ کلن دی، د دې کار له عهدې نه شي وتلی، سره له دې چې نفوذ به ولري. د افغانستان په هکله د بن د غونډه د نوامبر میاشتې ۲۷ مه نېټه وه پر هغه مهال په افغانستان کې طالبانو حکومت کاوه خو په غونډه کې ډېری ګډونوال د طالبانو له حکومت سره د جنګیدلي رژیم د چریکانو مشران ول. یو شمېر بې پرې سیاسي څېړې او غرب مېشتي متخصص افغانان هم د بن د کنفرانس غړي وو.

پر هغه مهال د بن کنفرانس د افغانستان لپاره د یوه برخلیک ټاکونکې غونډې په توګه وپېژندل شو. د بن کنفرانس د طالبانو د حکومت له نسکورېدو وروسته د امریکا په نېغه مداخله او د نړیوالو په ملاتړ د هغه خوځښت پیلامه وه چې له مخې به یې افغانستان له څو لسیزو جنګ جګړو راووځي او د یوه روښانه راتلونکي په لور به ګام پورته کوي. خلیلزاد د بن د کنفرانس ګډون کونکی زیاتوي چې په دغه کنفرانس کې د افغانستان بېلا بېلې ډلې حتی داسې هم چې یو د بل دښمنې ډلې وې، د یوه نړیوال فشار په سبب نهه ورځنیو بحثونو وروسته د واک د ویشلو پر سر داسې هوکړه وکړه. چې په لومړي کې به یې اساسي قانون تدوین کېږي او په ۲۰۰٤ز کال کې به ټاکنې ترسره کېږي.

د بن د کنفرانس مشرتوب د افغانستان لپاره د ملګروملتونو ځانګړي استازي اخضر ابراهیمي کوله او هغه تمه وښوده چې پس له دې به افغانان له بدبختیو راووځي. د بن د کنفرانس مهمه ځانګړتیا دا وه چې په واک کې د بېلا بېلو قومونو او سیاسي ډلو مشارکت په رسمیت وپېژندل شو او په عمل کې پلی شو. د ملګرو ملتونو ویاند احمد فوزي د بن د کانفرانس پر وخت د بن په غونډه کې، د انتقالي او موقت حکومت جوړېدل، د اساسي قانون تصویب او په پای کې د ولسمشریزو ټاکنو تر سره کېدل ومنل. د بن د غونډې ټولو ګډون والو په پای کې د موقتې اداري د مشر په توګه حامد کرزي د عبدالاحد کرزي زوی د کندهار د کرز اوسېدونکي په ټاکل کېدو هوکړه وکړه. د بن د کنفرانس پرېکړې هغه مهال بشپړې شوې چې افغانانو له څو لسیزو خونړیو جګړو وروسته ولسمشریزې او پارلماني ټاکنې ترسره کړې او په خپلو مستقیمو رایو یې ولسمشر وټاکه. خو د بن له پرېکړو وروسته لا هم افغانان د هغسې هېواد څښتنان نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دوي يې په اړه فکر کاوه.

يونس قانوني، مصطفی کاظمي، محمد ناطقي، امنه افضلي، ډاکتر عبدالله، ميرويس ياسني، امين فرهنگ، مصطفی طاهري، انور الحق احدي، استاد سياف او يو شمېر نورې هغه څېرې وې چې په دغه کنفرانس کې يې برخه لرله. خو نن چې له دغې غونډې زيات کلونه تېرېږي د سياسي چارو شنونکي دغه غونډه د افغانستان د بدبختيو پيلامه بولي.

د سياسي چارو کارپوه عصمت قانع په دې اند دی چې په دغه غونډه کې ټولو مهمو اړخونو ته بلنه نه وه ورکړل شوې. زما په اند د عصمت قانع نظر سم او پر ځای دی.

«په دغه غونډه کې هغو کسانو ته بلنه ورکړل شوې وه چې خلک د هغوی له شره طالبانو ته ورغلي وو او د هغوی کيبل يې غوره بللي وو، طالبانو ته په کې واک نه وو ورکړل شوی، بايد د افغانستان منطقوي ستونزې، داخلي تضادونه او د نړيوالو ملاتړ په يوه علمي او واقعي شکل باندې د ځمکنيو واقعيتونو پر بنا سره يو ځای شوي وی او يوه پريکړه يې کړي وی، خو دا پريکړه يوه عجولانه پريکړه وه.»

نوموړی وايي چې د بن په کنفرانس کې يو شمېر هغو کسانو ته ځای ورکړ شو چې د ملي ادارې د جوړيدو توان نه لري، سليقوي اختلافات پياوړي کوي تر څو خپلي گټې په کې خوندي کړي.

«زيات کالونه کېږي چې افغاني ټولنه د همدې توافقاتو پر اساس بې ثباته ټولنه ده، فساد زيات شوی، نړۍ و نه توانېده چې د سمو ادارو د رامنځ ته کولو له پاره سم کار وکړي، فساد هره ورځ زياتېږي او د افغانستان د وحدت دښمنان، د پرديو استخباراتي ډلو تړلي عناصر د بن د توافقاتو پر بنسټ په اقتدار کې راغلل او دغه ډلې د دې لامل شوې چې طالبان بېرته پياوړي شي او طالبان د خپل حاکميت د مشروع گڼلو په خاطر بېرته سر را پورته کړي.»

د بن په غونډه کې سهيلا صديقي د عامې روغتيا وزيرې په توگه، امين فرهنگ د بيا ودانولو چارو د وزير په توگه، ډاکتر عبدالله عبدالله د بهرنيو چارو د وزير په توگه، عباس کريمي د عدليې چارو د وزير په توگه، سيد حسين انوري د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کرنې د وزير په توګه، عنايت الله نظري د کډوالو د چارو د وزير په توګه، عبدالله وردګ د شهيدانو او معلولينو د وزير په توګه، شريف فايض د لوړو زده کړو د وزير په توګه، امان الله ځدراڼ د سرحداتو چارو د وزير او حاجي قدير د ټول ګټو وزير په توګه وټاکل شول.**

**رحمت الله موسی غازي، انجينر عبدالحکيم، همايۍ جرير، ميرويس ياسيني، انورالحق احدي، عباس کريمي، سيد مصطفی کاظمي، عزيز الله لودين، احمد ولي مسعود، اصف محسني، محمد اسحاق نادري، محمد ناطقي، يونس قانوني، ډاکتر جليل شمس، عبدالستار سيرت، همايون تندر، سيما ولي، عبدالرحيم وردګ، عزيزالله واصفي او پاچا خان ځدران د د غې ناستې نور غړي ول.**

**د بن له غونډې وروسته د افغانستان په اړه يو شمېر نورې نړيوالې غونډې لکه د توکيو، برلين، لندن، روم او پاريس هم جوړې شوي. د يادولو وړ ده چې په ټوله کې دغه غونډې د افغانستان د بيا ودانولو لپاره وې خو ډېری افغانان يې له تر سره کيدو خوشاله نه دي.**

**ټول ټال حامد کرزي ١٣ کاله رئيس جمهور وو. د حامد کرزي دوره په تاريخي لحاظ يوه ستونزمنه او د خلکو د بدبختيو دوره ګڼي دا په دې مانا چې سوله تامين نه شوه مخکيني جنايت کونکي په واک کې پاتې شول، د قانون واکمني تامين نه شوه، د بهرنيو مرستو پيسې دوی سره چور او غلا کړې، ولسونه تر پخوا زيات د بېوزلې خواته ټېل وهل شو. مافيايي کړيو ولسونه ګيروګان کړل، په ٢٠١٤ ز کال بيا دوه ځلې ټاکنې وشوی محمد اشرف غني احمدزی جمهور رئيس اوداکتر عبدالله د اجرائيه ريس په توګه وګمارل شول. د غني حاکميت کې په قانوني توګه بايد د ولسي جرګې او ولسواليو شورا ګانو لپاره ټاکنې شوې وی، ولی ولسي جرګه تر اوسه خپل کار ته په غيرې قانوني توګه دوام ورکوي او لا تر اوسه ټاکنې ونه شوې. د غني په وخت کې د ملي روغې جوړې د سياست له امله د بين الافغاني خبرو اترو له لارې انجينر ګلبدين حکمتيار د اسلامي ګوند سره د سولې تړون وشو، په پاکستان ۴ ځلې او دوه ځلې په روسيه کې د افغان سولې له پاره د مختلفو هېوادو لکه چين، پاکستان، افغانستان، امريکا، تاجکستان، ازبکستان، ايران، هندوستان او نورو په ګډون يې ناستې تر سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې. په پلازمېنه کابل کې ۱۳۹٦ ل کال د غبرګولي پر ۱۲ نېټه نړېوال کنفرانس د کابل پروسې ترنامه لاندې جوړ شو. په کنفرانس کې ۲۵ هیوادونو او درې مستقلو سازمانو برخه درلوده، دې کنفرانس ته د هېواد جمهور ریس محمد اشرف غني وینا وکړه. د ده په وینا کې وویل شو چې تروروستانو ځالې چېرې دي او نړیوال کولای شي په ګډه دا ځالې ورانې کړي، ترهګر یوازې د افغان خاورې له پاره ستر خطر نه بلکې ټوله نړۍ ته ګواښ دی او هغه هیوادونه چې ترهګر تمویلوي باید د نړیوالو د فشار او منزوي کېدو سره مز شي، د هغه اشاره ښکاره پاکستان وو. خو پایلې یې نه درلودې.

د مسکو په غونډه کې چې ۱۱ هېوادونو ګډون کړی وو خو امریکا په کې ګډون ونه کړ. طالبانو ته هم د مخامخ خبرو لپار بلنه ور نکړل شوه، ستونزه په خپل حال پاتې ده جنګونه لا زورور شوي دي، امریکا هم د ننګرهار ولایت د اچین په ولسوالۍ کې د داعش د ځپلو په خاطر تر ټولو لوی بم چې د بمونو مور ورته وایي وکاراوه، دې کار د یو شمیر پخوانیو چار واکو لکه حامد کرزي په شان کسانو مخالفت ته زمینه برابره کړه او د امریکا دا عمل یې وغندلو اوس د طالبانو جنګونه د خرپ او ترپ نه وتلي جبهه یې جنګ کوي، همدلته پوښتنه راولاړېږي چې امریکا او متحدینو یې (ناټو) د افغانستان سره ستراتېژیک او امنیتي تړونونه لري؟ مادي مرستې کوي (د بیا ودانولو لپاره تر ۲۰۱۳ کال پورې د سیګار د رپوټ له مخې ۱۱۷ میلیارده ډالر ورکړل شوي. خو په افسوس سره ویلای شم چې دا پیسې بنګ وبزه شوې.»

ولې بیا هم په ښکاره پاکستان د افغانستان په کنړ او ننګرهار کې هره ورځ په لسګونو راکټونه وروي، په تورخم اوسپین بولدک کې د پاکستان او افغانستان د وسلوالو ځواکو ترمېنځ څو ځله نښتې وشوې او زیات کسان پکې ووژل شوه، خلک وژني او د دې سیمو خلک له سیمې کډوالۍ ته اړ باسل کېږي.

خو د افغانستان نړیوال اندېوالان ورته ګوري هېڅ عکس العمل هم نه ښیي نو بیا د دوي امنیتي تړونونه د څه لپاره لاس لیک شوي؟ د دوي موجودیت د څه لپاره؟ ایا پاکستان دومره قوي ځواکمن هېواد دی چې نه د ختیځ او نه د لویدیځ ورسره وسه رسېږي؟ دا زما په اند د خلکو په سترګو کې د خاورو پاشل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او بس د کاسې لاندې نیم کاسه ده، کنه د سولې راوستل، د جنګ ختمول د ناټو او امریکا د وس پوره ده، که په رښتیا امریکا او ناټو وغواړي چې د تروریستانو ځالې ختمې کړي، نو دا لوی بم چې په اچین ولسوالۍ کې وکارول شو، د دې په شان درې دانې په پاکستان کې او یا ایران کې وکاروي، جنګ هم خاتمه پیدا کوي او افغانستان کې تل پاتې سوله راځي. د افغان ولس لپاره د امریکا په شان ځواکمن هېواد تر اوسه کوم داسې بنسټیز اقتصادي کار نه دی کړی چې په هیواد کې د بېکارۍ، ناداریٔ مخنیوی وکړي.

د بېلګې په توګه که امریکا په تېرو ۱۴ کلونو کې یوازې د کنړ سیند، د هلمند اوبه مهار کړې وای د برېښنا کوټ څخه نیولې تر کرنیزو ځمکو پورې به د ولسونو ستونزې حل شوې وی، که د هلمند اوبو مهارولو کې لاس نیوی کړی وی تولې ستونزې به حل وی د امو او نورو سیندونو دریابونو نه باید افغانانو ته زیاته ګټه رسیدلې وی، د کانونو په رایستلو کې مرسته شوې وی او د ریل پټلۍ، د سرکونو اساسي رغونې کرنې په برخه کې مرسته شوې وی، د تریاکو د نه کرلو له پاره بدیل لټول شوی وی، اوسنۍ ستونزې به کمې او یا نه وې. زما لید لوری افغانستان د خپل جیوپلوتیک موقعیت له مخې تل د زبرځواکونو د تقابل نقطه وي.

د وخت شوروي پوره اته کالو په ۱۳۵۸ کال د مرغومي ٦ کې د خپلو ټولو پوځې او نورو امکاناتو سره افغانستان ته راغلي وو خو غیر له وران کارۍ او وژنو بل څه ترې پاته نه شول په عمراني برخه کې کوم ښکاره ثبوت نشته یا نه لیدل کېږي. هغه پخواني کوم تاسیسات یې چې د افغانستان لپاره جوړ کړي وه لکه د کابل مزار سیلوګانۍ، د ننګرهار د کانال پروژه درونټې بریښنا کوټ د ۱۱ میګاواټه په ظرفیت، د کابل پولیتخنیک پوهنتون، د نغلو بریښنا کوټ، د مزار شریف د کیمیاوي سرې فابریکه، د کابل جنګ کلک فابریکه، د کابل تخنیکم، د شبرغان، سرپل، د ګازو او تیلو د څاګانو کیندل او نور، لاکین دا ټول له کاره لویدلي بیا رغونې ته ضرورت لري خو نه اوسني حکومت او نه روسانو دې کار ته توجه وکړه، د کانال پروژه چې زیتون، مالټې، لیمو، نارنج، او د مالدارۍ برخه کې د لبنیاتو او د غلو دانو تولیدول هر څه صفر شول. د درونټې برېښنا کوټ د ۱۱ میګاوات نه ۳ میګاواټ ته ښکته شوی، نغلو برېښنا کوټ هم کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیت کوي، د جنګلک تخنیکم خو له مېنځه تللی، سیلوګانې تش دیوالونه ولاړ دي او داسې نور.

امریکا او متحدینو هم داسې مهمې حیاتي لویې پروژې جوړی نه کړې چی د ولس لپاره اعېزمنې تمامې شوي وي. که دوي غوښتل چې افغانستان په سیمه کې یو په پښو ولاړ غښتلی او پر خپل ځان متکي هېواد شي نو په کار وه چې په هره برخه کې سترې پروژې تاسیس کړې وی، ځکه امریکا او نور متحدین یې تر نورو زیات امکانات لري په ښکاره توګه سړی ویلای شي دوی په هېڅ بل هېواد کې هم داسې کار چی خلک هوسا شي نه دی کړی.

نو په افغانستان کې خو هېڅ کله دا کار نه کوي او نه یي غواړي. ښې بېلګې لکه عراق، لیبیا، یمن، سوریه او نور په کنډوالو او هدیرو بدل شول، د افغان ولس لپاره دا ټولې بېلګې یو عبرت دی باید دا ملت ویښ شي او خپل هېواد په خپلو امکاناتو بیا ورغوي، ویتنام ته چا په میلیاردو ډالر د بیا رغونې له پاره ورکړي؟ دوی خپله د خلکو په مټ وطن په پښو ودرولو. موږ هم تر هیچا کم نه یو اویاکلن هندوستان او اویا کلن پاکستان تر موږ په مراتبو مخته تللی، خو موږ هر څه لرو خو په واقعیت کې هېڅ نه لرو دا په دې مانا چې موږ لا تراوسه د یو قوي نه ماتیدونکي ملت په څېر نه یو اوښتي. موږ تر اوسه د ویشل شوي ملت په شان په دایمي خوب وړي لټ ملت په شان ژوند کوو، ملي ګټې تر شخصي ګټو هېڅ کله غوره نه ګڼو.

قوم پالنه، ژبپالنه، مذهب پالنه، توکم پالنه کوو، همدا یې لامل دی چی ټول تاریخ مو په جنګ جګړو کې تېر شو. دا هېواد څو ځله وران او کنډوالا شو. خو دې ملت ترې عبرت وانخېسته. تر څو چې یو بل هضم نه کړو، د ورورولۍ یووالي او پوهې درجه پورته نه کړو، همدا ډول به د پردیو مزدوري او غلامي کوو.

زه وایم چې نور جنګ جګړه بس ده، هدېرې مو په مړو ډکې شوي خلک مو له وطنه کډوال شو، پردي شول، نوی نسل چې په بیګانه هیوادونو کې زیږېدلی کاملا پردي شول یا فردي کېږي، که سوله راشي امکان د دې شته چی په میلونونه هېوادوال په پوره خوښۍ خپل وطن، خپل کلي او ټاټوبي ته راستانه شي او د خپل هېواد خلکو چوپړ سرته ورسوي.

د دې ورځې په هیله، م. شیرزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پخواني جمهور رئیس حامد کرزي او جمهور رئیس محمد اشرف غني د واکمنیو پرتله

(۱۳۹٦ل کال - ۲۰۱۷ز کال)



## مخکینی جمهور رئیس حامد کرزی او۱۳ کلنه واکمني:

غواړم د لوستونکو لپاره د دې دوو جلا شخصیتونو د واکمنۍ په رڼا کې په خورا مختصره توگه یو څه مالومات وړاندې کړم.

په ۱۳۹۲ل کال کې د ډاکتر نجیب الله حکومت د بهرنیو او کورنیو لاسوهنو له امله مات او پر ځای په پاکستان کې جوړ شوي حکومت د صبغت الله مجددي په مشرۍ په افغانستان کې واکمن شو. خو د ده کاري موده تر ۳ میاشتو پورې وه، له صبغت الله مجددي وروسته برهان الدین رباني د پاکستانۍ لوزنامې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې تر ۵ کلو زیات جمهور رئیس شو. د برهان الدین رباني او صبغت الله مجددي په واکمنۍ کې حامد کرزی په بهرنیو چارو وزارت کې د مرستیالۍ دنده تر سره کوله. دا هغه وخت وو چې د احمدشاه مسعود او گلبدین حکمتیار، عبدالرب رسول سیاف، خلیلي، محقق، شیخ اصف محسني او نورو تنظیمو له خوا پر کابل د ړندو راکېټونو باران وو، حامد کرزي به کله کله د گلبدین حکمتیار سره د لیدو لپاره چهار اسیا ته تللو چې د برهان الدین رباني او محمد قسیم فهیم تر څار لاندې راغلی، دنده یې له لاسه ور کړه او په پټه د ننگرهار له لارې یې ځان پاکستان ته ورساوه. په اسلام اباد کې یې د خپلو لاربښونکو او په بهرنیو سفارتونو کې اړیکې ونیولې خو چا د ده خبرو ته غوږ ونه نیوه، کوېټې ښار ته ولاړ هلته یې دمحمد ظاهرشاه او طالبانو سره اړیکې ټینگې کړی د طالبانو د ظهور لپاره مرستې وکړې د خپل پلار د نفوذ نه په گټې اخېستو یې د سیمې له پښتنو مشرانو سره لیدنې پېل کړې د امریکا او په روم کې جلا وطن پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه سره اړیکې ونیول شوی او د لوی جرگې غږ یې پورته کړ، خو د پاکستان اې اس اې او بینظیر بوټو چې دا وخت د پاکستان وزیر اعظمه وه بله نخشه او لوبه پلان کړی وو. لومړی یې د حامد کرزي پلار عبدالاحد کرزی د کوېټې په ښار کې ترور کړ، بیا د خپل شوم او کرغېړن پلان لپاره نصیرالله بابر د پاکستان کور ناستي وزیر او کرنیل امام او د اې اس اې مشران په دی اند شول چې طالبانو سره مرستې وکړي، واکمني ورسوي. په دې اړوند اسناد شواهد په ډېرو لویو کتابونو کې لیکل شوي لکه ۸۸ ورځې په کندهار کې، نماینده، د پیرانو جگړه او نور لنډه دا چې د بن د لوزنامې وروسته حامد کرزی د ۱۳ کلونو واکمن پاتې شو غواړم، د ده د واکمنۍ په مثبتو او منفي کار نامو بحث وکړم.

## د حامد کرزي پېژندنه:

حامد کرزی د عبدالاحد کرزي زوی د خیر محمد خان لمسی د ۱۳۳٦ل کال د لیندۍ په ۹ مه چې ۱۹۵۷ز کال د ډیسمبر د ٢٤ مه د کندهار د کرز په کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې زیږېدلی دی. د کرزي نیکه د خپلواکۍ په جګړو کې پوره ونډه درلوده او د عیانو د مجلس مرستیالي هم سرته رسولې، د کرزي کورنۍ د پوپل زیو پورې تړاو لري، د کرزي پلار د پارلمان غړیتوب هم درلوده، حامد کرزي ابتدایه ښوونځۍ د محمود هوتکي، سید جمال الدین، د حبیبې په لېسه کې په ۱۳۵۵ کال سرته رسولي، په ۱۳۷٦ کال کې د لوړو زده کړو لپاره هندوستان ته تللی وو، هلته د شملې په پوهنتون کې نړیوالې څانګې د سیاسي علومو رشته تر ماسترۍ پورې زده کړې وکړې، حامد کرزی په ۱۹۸۳ز کال کې چې د ۱۳٦۲ل کال سره سمون لري، له هندوستان څخه پاکستان ته تللی او د صبغت الله مجددي تر مشرۍ لاندې د نجات ملي په نوم تنظیم کې د شورویانو پر ضد جهاد پیل کړی. حامد کرزی د مجاهدینو د موقت حکومت چې په ۱۳٦۸ل کال چې د ۱۸۹۸ز کال سره سمون لري، په پېښور کې د تنظیمونو له خوا جوړ شوي وو، د بهرنیو اړیکو مشرتوب په غاړه درلوده.

حامد کرزي د افغانستان د ټولو ستونزو د حل یوازینۍ لار د افغان لویه عنعنوي جرګې رابللو مناسب کار وباله او د دې کار لپاره یې هلې ځلې کولې. په ۱۳۷۹ل کال چې د ۲۰۰۰ز کال سره سمون خوري، د حامد کرزي پلار د طالبانو او اې ایس اې له خوا د کوټې په ښار کې ووژل شو، د حامد کرزي پلار د لوی جرګې او پخواني پاچا محمد ظاهر واک ته رسېدل د ستونزو د حل غوره لار تعقیبوله چې خپل سر یې په کې نظرانه کړ.

حامد کرزی په ۱۳۸۰ل کال د ۲۰۰۰ز کال کې د طالبانو ضد فعالیت لپاره د اروزګان ولایت ته د درې نورو ملګرو سره ولاړ خو هلته نژدې وو چې ونیول شي بیا په پټه توګه د اروزګان غرنۍ ساحه کې پټ شو، حامد کرزی د بن د غونډې چې د ۲۰۰۱ ډیسمبر ۵ مه د ۱۳۸۰ل کال دایره شوه، کرزی د موقتې اداری د مشر په توګه ومنل شو. په ۲۰۰۲ز کال د لوی اضطراري جرګې چې د ۱۳۸۰ل کال د غبرګولي ۲۳ سره برابره وه، د انتقالي دورې رئیس وټاکل شو. حامد کرزی په ۱۳۸۳ل کال د لیندۍ په ۱۷ نېټه په ټاکنو کې د ولسمشر په توګه وټاکل شو چې په ۱۳۸۸ل کال د دویم ځل لپاره د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو. ټول ټال ۱۳ کاله واکمن وو، په ۱۹۸۸ز کال کې یې د زینب قریشي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده وکړ او په انګلیسي، پښتو، دري ژبو رواني خبرې کوي.

د حامد کرزي په واکمنۍ کې کوم مثبت او کوم منفي کارونه شوي دي:
دا به ومنو چې د ۱۳۹۲ل کال راپه دې خوا د تنظمي غوبل او جنګونو پایله کې هر څه لوټ شوه، بې شمېره بې دفاع انسانان ووژل شو.
حکومتي کاروبار په ټپه ودرېده، د مرکزي حکومت پر ځای په هېواد کې څو جلا واکمني د واک په څوکۍ ناست وو، هر څه صفر ته رسېدلي وو، طالبانو د ظهور سره سم په هېواد کې القاعده د بن لادن په مشرۍ په ترهګریو فعالیتو پیل وکړ، د جمهور رئیس حامد کرزي په واکمنۍ هر څه له سر نه پیل شول. د جمهور رئیس حامد کرزي په وخت کې درې ځلې لوی جرګې راوبلل شوې، لومړۍ جرګه د موقتې اداري جوړول، د جمهور رئیس برهان الدین رباني څخه واک اخېستل، دویمه جرګه د اساسي قانون د تصویب لپاره او دریمه مشورتي جرګه د امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیکول وو. د پارلمان یانې مشرانو جرګې او ولسي جرګې، ولایتي شورا ګانو لپاره څو ځله ټاکنې سرته ورسېدلې. دا یو مثبت ګام وو سره له دې چې ټولې ټاکنې رڼې نه وې، تقلب او له زور او پیسو څخه کار واخېستل شو، رښتني او ملي شخصیتونه د ټاکنو په پایله کې د ګوتو په شمېر وو. په شورا ګانو کې قاطع زیاتوالی د زورواکو، ټوپکسالارانو د مافیایي کړیو پورې اړوند کسانو وټاکل شوه ځکه ټولې ستونزې نه دا چې کمې نه شوې لا زیاتې او حالات نور هم د خرابۍ لور ته ولاړل.
د حامد کرزي په واکمنۍ کې معارف په کمیت کې زیات والی را غلو خو کیفیت او ظرفیت ښه نه وو، د مسلکي ښوونکو د کموالي د ظرفیتونو ټیټوالي ستونزه ډېره وه. د ښوونځیو لپاره د ودانیو په جوړولو کې نړیواله مرسته خورا زیاته وه خو حیف میل شوه، لا تراوسه په زیاتو ساحو کې زده کونکي تر شنه آسمان لاندې زده کړې کوي د زده کړې لازم او ضروري مواد ډېر کم دي، د سیاسي ګوندونو قانون د اساسي قانون په رڼا کې توشیح شو، زیات سیاسي ګوندونه په عدلیې وزرات کې راجستر شول، خو د رشد لپاره مناسب بستر نه لري.
د نشراتو او مخابراتي چارو پرمختګ وکړ، د بیان ازادي ته چانس ورکړل شو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیارغونې کارونه په مختلفو برخو کې پیل شول، په بلینونو ډالر له نړیوالې ټولنې ترلاسه شول، خو په دې برخه کې فساد او غلا حساب نه ورکول، شتون لري.

د امریکا متحدو آیالاتو او د هغه ایتلافي ملگرو له خوا د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر پر ۷ نېټه خپل عملیات پیل کړي، تر دې دمه یې په افغانستان کې چې د لسیزو جگړو او مستبد حکومت له امله ویجاړ شوي، د امنیتي ځواکونو د روزنې، په دغه هېواد کې د ملکي خدمتونو د وړاندې کولو، اقتصادي ودې، اداري پرمختیا لپاره څه نا څه ۵٦ بیلیونه ډالر پانگه اچونه کړې ده. د دغو پیسو له جملې څخه یې تر ۷۵ ٪ شاوخوا ۴۳ بیلیونه ډالر له ۲۰۰۷ ز کال څخه لگېدلي. ولسمشر باراک اوباما له کنگرې څخه د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره د افغانستان د بیا رغونې په موخه د ۲. ١٦ بیلیونو ډالرو نورې بودیجې د چمتوالي غوښتنه کړې ده، چې له دې سره به په افغانستان کې د امریکا لخوا د ټولټال لگېدلو پیسو کچه تر ۷۲ بیلیونو ډالرو لوړه شي او دا کچه د عراق له هغو ۵۳ بیلیونو ډالرو څخه لوړه ده چې امریکا د دغه هېواد د بیا رغونې لپاره بېل کړي وو.

سیگار د خپل څارنیز او تفتیشي کار په وروستیو ۱۸ میاشتو کې شپږ هغه پراخې موضوعگانې څېړلي چې د افغانستان د بیارغونې له پاره د امریکا د پانگه اچونې په برخه د ناوړه گټه اخیستنې، درغلیو او بې ځایه لگښتونو ځرگندونه کوي. سیگار د ۳۴ خپرو شویو راپورونو، له ۱۰۰ څخه د ډېرو تبصرو او وړاندیزونو په ترڅ کې د بیارغونې په پروگرامونو کې د دغو خطرونو د کمېدو، د ناوړه گټه اخیستنې د مخنیوي، د اقتصادي ودې، وړتیا او اغېزناکتیا غوښتنه کړې ده. پلي کونکو شرکتونو د سیگار ټول وړاندیزونه په بشپړه توگه، یا تر یو ځایه منلي دي. سیگار به د خپلو دغو وړاندیزونو د پلي کېدو چارو ته دوام ورکړي چې په نړیواله سطحه د افغان نمبر کله اول او کله دویم شو. د مخدره موادو استعمال، کرنه تولید او قاچاق هم نړیوال ریکارډ ټینگ کړ، دری میلونه افغانان همدا اوس د مخدره موادو په استعمالولو اخته دي، ددې په مخنیوي کې د حامد کرزي اداره پاتې وه، د خپل سرو وسلوالو نه وسله وانه اخېستل شوه چې دا ډلې په ټول هېواد کې د خلکو په زورولو او ناروا کړنو کې لاس لري، د ټولو بدبختیو لامل همدا خپل سري وسلوال دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د بشر حقونو د خوندي کولو اداره جوړه شوې، خو پایله نه لري. د ښځو سره زور زیاتی تر پخوا زیات شوی، د سولې عالي شورا ایجاد شوه، خو د حساب وړ کارونه یې نه دي سرته رسولي. یوازې دوی تر اوسه ۸۰۰ میلونه ډالر مصارف لري، پایله صفر وه. د طالبانو، داعش، القاعدی ډلې چی ځپل شوی وی دوباره د پاکستان د اې اس اې په مرسته فعاله شوي، چې تخریب، وژنو او جبهه یې جنګونو زور واخیسته. د حامد کرزي په وخت کې ځنځیري وژنې هم وشوې. د حامد کرزي په دوران کې دده کورنۍ غړو او خپلوانو په غلا او چور کې پوره ونډه درلوده. دا یوه بېلګه د سیګار له رپوټ څخه رااخلم، جمهور رئیس حامد کرزی له ۱۳ کلنې واکمنې وروسته واک په سولیزه توګه محمد اشرف غني احمدزي ته چې ټاکنې ګټلې وې او د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو، واک وسپاره.**

**2014-09-29**

(c) ketabton.com: The Digital Library





## جمهور ريس اشرف غني احمدزی:

**ډاکټر محمد اشرف غني احمدزی ( زېږون نېټه ۱۹۴۹م زېږدیز کال کابل) *(Ashraf Ghani Ahmadzai:)* د افغانستان لپاره د نوي هېواد مشر په توګه ۲۰۱۴ز کال ۲۱م د سپټمبر کې وټاکل شو. ښاغلي اشرف غني احمدزي په دوو پوهنيزو ډګرونو کې خپل مسلکي لوړ سندونه اخيستي چې يو يې وټه پوهنې کې او بل يې په وګړپوهنې کې د بېروت له امريکايي پوهنتون څخه ترلاسه کړي.**

**نوموړی د ۲۰۰۲ زکال د جولاي څخه تر ۲۰۰۴ ډېسمبر ز کال پورې د افغانستان د سوداګرۍ وزير پاتې شوی. هغه په افغانستان کې د طالبانو د واک د راپرزېدلو وروسته د افغانستان د اقتصاد د بياراژوندي کولو لپاره لارې چارې د آزاد بازار په بنه بهير کې سمبالې کړې چې له مخې يې په افغانستان کې د وګړو تر منځ پوړييزې ودې رامنځته کړې چې خوار لا خوار شو او حکومتي چارواکې لا پسې مالداره شول. ښاغلي غني په خپله هم دغه منلې او يوه ناکامه اقدام يې بللی. جمهوريس اشرف غني احمدزي د نړيوال بانک، د نړيوال وټه ييز بهير او ټولنې (World Economic Forum) د کميسون غړی هم دی. همدارنګه د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام UNDP له خوا يوې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروژې چې د بې وزلو لپاره وټه ییزو وړتیاوو ته ځانګړې شوې، دی یې غړیتوب لري.
جمهوریس اشرف غني احمدزی د ۱۳۹۳ هـ ش کال هېواد مشریزو ټاکنو ته ځان نوماند کړی دی.
اشرف غني احمدزی د شاه جان احمدزي زوی دی چې د ۱۳۲۸ ل کال د غویي په میاشت کې د افغانستان په پلازمېنه کابل ښار کې نړۍ ته سترګې غړولي. د اشرف غني احمدزي پلرنی ټاټوبی د سرخ اب کلی دی چې د لوګر ولایت د محمداغې په ولسوالۍ پورې اړه لري.

## زده کړې:

لومړنۍ زده کړې یې د استقلال عالي لیسه کې او دویمې زده کړې یې د حبیبیې په عالي لیسه کې سرته رسولي بیا یې د ښوونځي په دوران کې د (AFS) یو کلن پروګرام د امریکا په متحده ایالاتو کې بشپړ کړی. تر دې وروسته یې د دوولسم ټولګي برې لیک د حبیبیې عالي لیسه نه ترلاسه کړی. ښاغلي اشرف غني د خپلو لوړو زده کړو پیل د کابل پوهنتون کې کړی او د شپږو میاشتو زده کړو وروسته یې د لیسانس بشپړه دوره د سیاسي علومو په برخه کې د بیروت په امریکایي پوهنتون کې سرته رسولې.
د لیسانس د کچې وروسته یې خپله لومړنۍ ماسټري هم د سیاسي علومو په څانګه کې د بیروت په امریکایي پوهنتون کې بشپړه کړې، نوموړي خپله دویمه ماسټري په نړیوالو اړیکو او وګړپوهنه کې د امریکا په کولمبیا پوهنتون کې سر ته رسولې او په همدې توګه خپله دریېمه ماسټري یې هم په نړیوالو اړیکو کې د کولمبیا په پوهنتون کې کړې. تر دې وروسته یې خپله دوکتورا د وګړپوهنې په څانګه کې د امریکا د کولمبیا پوهنتون نه لاس ته راوړې. همدا راز د نړیوال بانک لپاره د امریکا د متحده ایالاتو د هارډورډ او سټنفورډ د پوهنتونونو له خوا د مشرتابه ( لیډرشیپ ) د یوه ځانګړي پروګرام ترسره کول دي.
لومړۍ افتخاري ډاکټري: په ۲۰۰۷ز کال کې د امریکا د متحده ایالاتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سکرانتن له پوهنتون څخه دغه افتخاري ډاکټري ورکړل شوه.**
**دویمه افتخاري ډاکټري: د ۲۰۰۸ کال په جون کې د کاناډا ګیلف پوهنتون نوموړي ته افتخاري ډاکټري ورکړه.**
**ځانګړې زده کړې: د یادولو وړ ده چې ښاغلي ډاکتر محم داشرف غني له ماشومتوبه نیولې آن تر نن ورځې پورې د اسلامي تعلیماتو د حصول له پاره هڅې کړې دي، خو تر ټولو جوت کار یې د 1985 میلادي کال څخه تر ۱۹۸٦ میلادي کال پورې د نبوي سیرت په باب د کراچۍ، لاهور او نورو ښارونو په مدرسو کې زده کړې دي، چې د نوموړي په وینا د ده له پاره خورا ارزښتمنې وې.**

## دندې:

**د افغانستان اوسنی جمهور رئیس ډاکټر اشرف غني په افغانستان کې دننه او د افغانستان څخه د باندې په بېلابېلو هېوادونو کې رسمي دندې ترسره کړې. د اهمو دندو لړلیک یې په دې توګه دی :**
**په ۲۰۰۲م څخه تر ۲۰۰۳م کال پورې د کابل پوهنتون د هغه مهال د ادبیاتو پوهنځي د بشري علومو په څانګه کې د پوهیالي او پوهنیار په رتبه استاد.**
**په ۱۹۷۷ زیږدیز کال کې د ډنمارک په اورهوس پوهنتون کې د لنډ مهال لپاره مېلمه پروفیسور.**
**یو کال د امریکا د متحده ایالاتو په ستر پوهنتون بېکلي کې استادۍ دنده.**
**اته کال د امریکا په مشهور پوهنتون جانزهوپکنز کې استاد.**
**لس کاله د نړیوال بانک د پالیسۍ او سټراتیژۍ جوړولو په برخه کې مهم مشر.**
**د ۲۰۰۴م راهیسې په سوله ییزه توګه د بهرنیو پوځیانو د دندو څخه ګوښه کولو او افغان پوځ ته یې امنیتي مسولیتونو سپارلو کار تر ۲۰۱۳م پورې.**
**د افغانستان ۲۰۱۴م کال هېواد مشریزو ټولټاکنو له پاره کاندید کېدل او د هېواد مشر په توګه دنده سمبالول.**
**د یادولو وړ ده چې په نړیوال بانک کې د کار پر مهال ښاغلي ډاکتر اشرف غني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په لومړیو پنځو کلونو کې د ختیځې او سویلي آسیا د هیوادونو له پاره کار کاوه او په پاتې نورو پینځو کالونو کې یې د بېلابېلو نړیوالو چارو د سمون او په ځانګړي ډول د روسیې د اصلاحاتو په اړه د یادولو وړ کارونه ترسره کړل، چې ویل کېږي د روسیې د هر اړخیزې اقتصادي رغاونې بهیر یې خورا چټک کړ.**
**همدې ته په پام سره اوسمهال د نیواکمل دولت چې د اسلامي جمهوري تر نوم لاندې د کرزي تر مشرۍ ګډوډ روان و د بهرنیو پوځونو د لېږد او هغوی سره د سیمو په بدلون کې د مشاورت او رئیس په توګه دنده ترسره کړې. له دې وروسته د پراخو ټولټاکنو بهیر کې یې ځان کاندید کړ او په پراخه توګه د نوي هېواد مشر په توګه وټاکل شو.**

## ځانګړې ورتیاوې:

**ډاکټر اشرف غني احمدزی د خپلو همعصرو څېړونکو په جمله کې یو له هغو کسانو څخه دی، چې په انګرېزي ژبه یې د افغانستان په اړه ډېرې لیکنې کړې دي او هغه مهال په ډېرو معتبرو سرچینو کې خپرې شوې دي.**

## څېړنې:

**نوموړي خپلې لومړۍ علمي څېړنې په افغانستان کې د اسلام د مبین دین د نفاذ، د ښځو حقوق او ټولنیز عدالت له موضوعاتو څخه پیل کړې او په دې باب یې ډېرې لیکنې وکړې.**
**همدا راز یې په قبایلي ټولنه کې د اسلام او دولت جوړول تر سرلیک لاندې یوه مفصله څېړنه وکړه.**
**ورپسې یې د اسلامي شریعت په محکمه کې د شخړو هواري، تر نامه لاندې موضوعات راوسپړل، چې د تحلیل له پاره یې د عبدالرحمن خان د سلطنت لومړۍ لسیزه وټاکله او د کنړ ولایت د محکمې پر اسنادو یې څېړنه پیل کړه.**
**تر دې وروسته یې د افغانستان پر معاصرو ادبیاتو څېړنه وکړه او د دري ژبې د معاصري ادبي دورې په هکله یې معلومات راټول کړل، چې له علامه محمود**

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرزي څخه رانیولې د ثور تر کودتاه پورې یو شمېر عمده برخي یې څېړلي دي.

د دې تر څنګ نوموړي د افغانستان پر اقتصاد، تاریخ او دولتي جوړښتونو باندې هم زیات شمېر مقالې لیکلي او خپرې کړي دي.

د عملي څېړنو په لړ کې د ډاکټر غني یو بل ستر کار د افغانستان د څلور سوه کلن تاریخ په باب څېړنه ده، چې له پنځلسمې میلادي پېړۍ څخه تر نولسمي میلادي پېړۍ پورې ډېر موارد په کې تر څېړنیز پوښښ لاندې راغلي دي او پوره لس کاله پرې نوموړی بوخت و.

ډاکټر اشرف غني د خپل علمي ژوندانه په بهیر کې ګڼ شمېر نور آثار هم بشري ټولنې ته وړاندې کړي، چې زیات شمېر یې د کتابونو ځیني یې د لکچرونو او ځیني یې په بېلابېلو فورمونو کې د پوهنتونونو د استادانو او محصلانو د استفادې وړ ګرځېدلي دي.

په دې وروستیو کې یې یو کتاب (ناکام دولتونه او د هغو د کامیابۍ تګلار) تر سرلیک لاندې د انګلستان د اکسفورډ پوهنتون له خوا په اروپا او امریکا کې خپور شو، چې د نړیوالو مطبوعاتو له لارې پرې تاوده بحثونه تر سره شول.

ښاغلي ډاکتر اشرف غني احمدزي د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر له یوولسمې وروسته چې په افغانستان کې د یوې بلې بېسارې غمیزې د راپېښېدو وېره وه، له نړیوال بانک څخه بې معاشه رخصتي واخېسته او په آزادو مطبوعاتو کې یې یو لړ مقالې چاپ کړې او په لسګونو مرکې یې نشر ته وړاندې شوې.

په داسې حال کې چې نړۍ د افغانستان په اړه له ژور تشویش سره مخامخ وه د ملګرو ملتونو د هغه وخت سر منشي ښاغلي کوفي عنان له ښاغلي ډاکتر اشرف غني څخه غوښتنه وکړه چې د افغان مسئلې د حل لارې د موندلو په منظور دې د دې سازمان له یوه لوړ پوړي چارواکي او د افغانستان لپاره د باصلاحیته استازي ښاغلي اخضر ابراهیمي سره د ځانګړي سلاکار په توګه په کار پیل وکړي، ډاکتر اشرف غني دا وړاندیز ومانه او د همدې پرله پسې هڅو په نتیجه کې وتوانېده چې د بن د موافقې په ترتیب کې ونډه واخلي او نړۍ وپوهوي چې افغانان کولای شي د خپل عنعنوي دود یعني لویې جرګې په چوکاټ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورپېښې ستونزي آوارې کړي او له هغه سيمه ييز ګروپ څخه چې د ټول هيواد استازيتوب نه شي کولای قدرت د همدې ميکانيزم (جرګې) له لاري ملت ته انتقال کړای شي، چې د همدې پوهاوي په نتيجه کې د مراحلو ټاکنه وشوه او ور پسې موقته اداره منځته راغله.**
**ښاغلي ډاکټر اشرف غني احمدزي د موقتې ادارې تر ختمېدو يوه مياشت وروسته د افغانستان لسو ولايتونو ته کاري سفرونه وکړل او روان حالات يې تر څېړني لاندي ونيول، په همدې وخت کې يې د افغانستان د هغه مهال د ادارې په غوښتنه د ملګرو ملتونو د سازمان او نړيوال بانک ته استعفا ورکړه او له هر ډول مالي امتياز پرته د هېواد مشر ځانګړی سلاکار مقرر شو.**
**يوه موده يې په پوره بريالیتوب دا دنده پر مخ يوړه او وروسته بيا په افغانستان کې د مرستو د انسجام د ادارې مشر وټاکل شو، ښاغلي غني په دې اداره کې د پام وړ کارونه سرته ورسول، د ساري په توګه ويلی شو چې لومړی يې د ملي بيا رغونې سر تاسري بنسټونه او اصول وټاکل، ورپسې يې د هغه کال د حمل په مياشت کې د مرستو د جذب نړيوال کنفرانس ته چې په کابل کې جوړېدې تياری ونيوه، په دې کنفرانس کې ډاکټر غني نړيوالو ته د افغانستان د حکومت او خلکو لومړيتوبونه په ګوته کړل او يوه سالمه مهالنۍ تګلاره يې وړاندې کړه.**
**تر کنفرانس وروسته نوموړی د يادي شوې ادارې له خوا ببړنۍ لويي جرګې ته د ماليې د وزير په توګه وپېژندل شو، چې جرګې دا وړانديز ومانه او ښاغلی ډاکتر اشرف غني د انتقالي دورې د ماليې د وزير په حيث مقرر شو.**
**دا وخت د افغانستان مالي او پولي سياست جګړو دومره ځپلی و، چې د نړۍ په کوم بل هيواد کې يې ساری نه شو ليدل کېدای، خو ډاکټر غني وتوانېده چې د ګمرکونو او عوايدو په مرکزي کولو کې د امنيت شورا فيصله يوازې په شپږو اونيو کې عملي کړي او د پولي او مالي سياست په برخه کې بنسټيز اصلاحات رامنځته کړي. د دې ترڅنګ يې د هېواد عمده ولايتونو ته سفرونه وکړل او د ملي پيوستون، مخابراتو او صحي پروګرامونو په ترتيب او له نورو وزارتونو سره د اړيکو په تنظيم کې يې اغېزمن رول ولوباوه، د هېواد په دننه کې يې د مالي چارو د تنظيم په موخه کاري پلانونه ترتيب کړل او له هيواده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهر یې هم د نړۍ د خبرولو لپاره د یادولو وړ گامونه واخېستل، چې یو مهم کار یې د توکیو کنفرانس لپاره افغان دولت ته د یوې داسې بیانیې او پروگرام تیارول وو چې نړۍ یې له افغانستان سره د مرستې کولو ته قانع کړه. ورپسې د برلین د کنفرانس وار راغی، او دا وخت نړۍ غوښتل افغانستان ته یوازې یو میلیارډ ډالره مرسته ورکړي، اما د وخت د مالیې د وزیر پرله پسې هڅې وې چې نړۍ حاضره شوه، په هماغه کنفرانس کې له افغان حکومت سره د ۲،۸ میلیاردو ډالرو مرستې ژمنه وکړي، په عین حال کې نړۍ دا هم ومنله چې په افغانستان کې ۵،۲٦ میلیارډو ډالرو بهرنۍ پانگونې ته اړتیا ده، د افغانستان په ټول تاریخ کې دا یو بېساری کنفرانس و چې یو نېستمن او جگړه ځپلي هیواد وکولای شول، خپل د بیا رغونې پروگرامونه وړاندې کړي او نړۍ پرې قانع کړي.

د پورتنیو ښو کارنامو په پایله کې په ۲۰۰۳ز کال ښاغلی ډاکټر غني د آسیا د ممتاز او کامیاب مالیې وزیر په توگه وپېژندل شو، چې د کال د وزیر جایزه یې هم ترلاسه کړه. وروسته د انتقالي دولت دوره پای ته ورسېده، خو ډاکټر محمد اشرف غني ونه غوښتل چې په بله کابینه کې گډون وکړي او د لوړو زده کړو د بهیر د اصلاح په منظور یې د کابل پوهنتون د بیا رغونې چارو ته مخه کړه. پوره یو کال یې د کابل پوهنتون له استادانو او محصلینو سره کاري لیدنې کتنې وکړې او په دې چوکاټ کې یې د اساسي جوړونې پایله ترلاسه کړه، چې یوه اندازه لومړنۍ او ضروري مرستې ترلاسه شوې.

ډاکټر اشرف غني په ۲۰۰٦ کال د نړیوالو مطبوعاتو له لارې د ملگرو ملتونو د عمومي سرمنشي د کاندید مرحلې ته د سرمنشي په توگه مطرح شو او بیا د افغان حکومت له خوا دا وړاندیز رسماً هغې اداري ته وړاندط شو.

په ۲۰۰۷ زکال د ده نوم بین المللي مطبوعاتو د نړیوال بانک د رئیس په حیث وړاندي شو.

نوموړی چې تېر دوه کاله په سفرونو بوخت و، په یو شمېر نړیوالو مواردو کې یې څېړنې ترسره کړې، چې همدا اوس یې د (ناکام دولتونه او د هغوی د کامیابۍ تگلاره) تر سرلیک لاندې یو کتاب له چاپه راوتلی او په نړیواله کچه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو سترو علمي او تحقیقاتي مراکزو او مطبوعاتو له خوا پرې بحث روان دی.
ډاکتر غني په تېرو دوو کلونو کې د نړیوالو موسساتو په غوښتنه د سوډان، کوسوو او نیپال دولتونو ته مشورې ورکړي دي.
همدا راز ډاکټر اشرف غني احمدزی له یوې بلې تحقیقاتي او مشورتي موسسې سره چې د معاصرو دولتونو جوړېدو د ادارې په نامه منځته راغلې، دنده پر مخ یوړه، دا موسسه د کامیابو دولتونو هغه تجربې او تګلارې چې د ناکامو دولتونو له ځینو شرایطو سره سمون خوري او ناکام دولتونه ورته اړتیا لري، تر څېړنې لاندې نیسي.
دا چې ډاکتر اشرف غني احمدزی په تېرو څلورو کلونو کې له دولته بهر په ډېرو نړیوالو کمېسیونونو کې برخه اخیستې چې له هغې جملې څخه یو د ملګرو ملتونو د قانون له نظره د بېوزلو خلکو بسیا کول نومېږي. په دې موده کې نوموړی د امریکې د وکیلانو د نړیوال عدالت په پروګرام کې د قانون د حاکمیت د پروژې د عالي مشورتي کمېټې غړی وو، همدارنګه د بروکنګ د موسسې (په نړۍ کې د امن او سولې د راتګ) د پروژې د عالي کمېټې غړیتوب یې هم درلود. د دې په خوا کې یې نوري ډېري بشري چارې هم سرته رسولي چې د ټولو بیانول په دې لنډه لیکنه کې ناممکن دي.
ښایي دا ساده مسئله نه وي چې ښاغلي اشرف غني لس کاله د افغانستان په څلور سوه کلن تاریخ او تېرو هېرو واقعاتو پسې پلټنه کوله او تر دې وروسته یې بیا د دغه زخمي هیواد د زخمونو د درمان لپاره تر خپله وسه لسیزې مبارزه کوله، بلکې د دې هڅې او تلاښ تر شا یو فکر پروت دی، چې ښاغلی اشرف غني به هیڅ وخت آرام ته پرېنږدي. دا پټ او غلی احساس هغه دردوونکی کیفیت دی، چې د شلمط پېړۍ ستر افغان جناب الفت یې هم آرام ته نه پرېښوده، ویل به یې:

یو پټ غلی احساس دی چې آرام مي نه پرېږدي
پر اور مي کړوي، لکه چې خام مي نه پرېږدي

ډاکټر اشرف غني د افغاني ټولنې له روایت او ثقافت څخه الهام اخېستی وو، چې کلونه یې د دې ټاټوبي د صوفیه کرامو د پېښلیک او ژوند او اند په راسپړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر کړل او لا تر اوسه هم د دې هېواد په اساسي مطالعه او څېړنه بوخت دی.
د ۲۰۰۹ ز کال د هېواد مشرۍ د ټاکنو کاندید:
اشرف غني احمدزي د ۱۳۹۳ل کال هېواد مشریزو ټاکنو ته ځان نوماند کړی دی.
د جنبش ملي گوند مشر، جنرال دوستم یې لومړی مرستیال او د عدلیې پخوانی وزیر، سرور دانش یې دویم مرستیالان دی.

چاپ شوي آثار:
۱ د عادلانه نظام لار - د حکومتي نظام د جوړښت او حکومت چلولو په اړه د اشرف غني نظرونه او تگلارې - چاپکال ۲۰۰۹ زکال.

لاس ته راوړنې:
همدا راز سږکال د امریکا د تفت پوهنتون ښاغلي ډاکټر اشرف غني ته د نړیوال وطنوال تر سرلیک لاندې د نړۍ ډېره اهمه جایزه ورکړه، باید وویل شي چې دا جایزه د نړۍ ډېرو لږو خلکو اخیستې، چې دا ځل یې یو افغان پروفیسر په اخیستو ونمانځل شو.

ډاکټراشرف غني د نړۍ د مهمو مفکرینو ویاړ وگاټه:
د بهرنۍ تگلارې په نامه د متحدو ایالاتو مشهورې مجلې د افغانستان د هېوادمشرۍ د ۲۰۰۹ ز کال د ټاکنو کاندید او د دغه هېواد د کابینې پخوانی غړی ډاکټر اشرف غني احمدزی په ژوندیو شخصیتونو کې د نړۍ شلم پیاوړی مفکر وباله. د مجلې په نیولیک کې د امریکا د هېوادمشر بارک اوباما، د دغه هېواد د بهرنیو چارو د وزیرې هیلري کلنټن او د برما د مشهورې سیاستوالې آنگ سن سوچي نومونه هم شامل دي. ډاکټر اشرف غني احمدزی یوازینی افغان دی، چې په یاد شوي لست کې شامل شوی دی. ډاکټر اشرف غني بي بي سي ته خپل احساس په دې ټکو څرگند کړ: «زما احساس دا دی چې هر افغان ځوان ته احساس پیدا کېږي چې یو هلک چې د افغانستان په کلي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کوچیانو سره لوی شوی، مکتب او ټولې لومړنۍ زده کړې یې په افغانستان کې کړي، ټول عشق او علاقه یې له افغانستان سره ده، کولی شي چې په دنیا باندې تاثیر واچوي. »

ښاغلي اشرف غني احمدزي دا بری د ځان نه بلکې د افغانستان د ځوانانو او د افغانستان د روان سیاسي مفکرینو ګټل وبلل او دلیل یې دا و چې دی د هغوی فکري محصول ځان بولي. ډاکټر اشرف غني هیله وښوده چې دغه ډول بریالیتوبونه به په نړۍ کې د افغانستان مثبت نوم پیاوړی کړي.

کله چې ډاکتر اشرف غني کارونه د حامد کرزي سره پرتله کېږي سړی باید په زغرده ووایي چې هغه امکانات او صلاحیت چې د حامدکرزي سره وو متاسفانه چې د اشرف غني سره واکونه وویشل شول، حامد کرزي ۱۳ کاله واکمني وکړه، د ده وخت کم تیر شوی د پخواني جمهور رئیس حامد کرزي په وخت کې د امریکا متحدو ایالاتو ۱۲۰۰۰۰ پوځیان او سلاکارانو سره دلته موجود وو، ټولې نړۍ مرستی کولې، خو داشرف غني په وخت کې د امریکایي پوځ شمېر ۸۵۰۰ تنو ته را ښکته شو، بهرنیو مرستو کې کامل کموالی رامېنځ ته شو، لامل یې همدا وو چې د حامد کرزي په وخت کې مرسته شوې پیسی حیف میل شوې. د خلکو د ژوندانه، کار موندنې او بیارغونې لپاره پر ځای مصرف شوي نه دي، د بهرنیانو د راپورونو چې مرستې اوسني حکومت ته په شرطونو پورې وتړلې بهرنیو مرسته کونکو د بروکسل او وارساو په غونډو کې دا شرط وړاندې کړ چې حکومت باید دفساد پر ضد کوټلي ګامونه واخلي او د را تولونکي پرمختګ لپاره یو منظم پلان وړاندې کړي.

ددې کار موخې ته درسېدو په خاطر جمهور رئیس اشرف غني د بهرنیو سفرونو په پیلامه کې مرستې را جلب کړې، نړیوال یې قانع کړل چې د فساد مخنیوی کوي، د فساد پرضد پیاوي ګامونه اخلي، د واکمنۍ په لومړې ورځ د امریکا سره امنیتي تړون چې د مشورتي لوی جرګې له خوا منل شوی وو لاسلیک کړ، د سترې محکمې رئیس سلام عظیمي استعفا وکړه. پخوانې کابېنه کې وزیران رخصت شو. والیان ټول نوي شول، یوازې په جمعیت ګوند پورې تړلي ټوپکسالار میلیاردر د بلخ والي عطا محمد نور پر تبدیلدو یې زور ونه رسېده. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل بانک دوسیه تر کار لاندی ونیول شوه. د نوي څارنوال دنده پېل شوه، د فساد پر ضد نوې اداره جوړه شوه، یو شمېر فسادکونکي تر عدلي څارنې لاندې ونیول شول، د فساد د مخنیوي لپاره د تدارک کمیسیون د ولسمشر اشرف غني تر لارښوونې لاندې په کار پېل وکړ او د زیاتو شرکتونو کار یې چې فساد درلودونکي وه وتړل او په تور لیست کې یې شامل کړه. تر یو حده د غصب شوو ځمکو را گرځول پیل شول، په کابینه کې بدلون راغی، په اقتصادي برخه کې د تاپي پروژې قراداد لاسلیک شو، د اورگاډي د پټلۍ د غزولو لپاره له ایران، ترکمنستان، ازبکستان سره گډ کار پیل شو، د هندوستان، ایران او افغانستان د مشرانو لخوا د چابهار بندر لوزنامه لاسلیک شوه. د کجکي بریښناکوټ د توربین د نصبولو کار، د کمال خان بند د بشپړولو کار پیل شو. د هندوستان په مرسته د سلما بند جوړېدل بشپړ شول او د هند د صدراعظم په گډون یې پرانیسته وشوه. د کابل جلال اباد د لویې لاري دویم سرک کار پېل شو، د بهسودو نوی پل پرانستل شو او شمېر موازي اداري وتړل شوې. د فساد او غصب شوو ځمکو لپاره نوي ستراتیژي او یوه نوې اداره جوړه شوه د برښنایي تذکرو ستونزه حل شوه. داسې نور کارونه چې یادول یې زیاتېږي پر همدې بسنه کوم.

د کار نیمگړتیاوې دا دي:

## د ملي یووالي حکومت:

دملي یووالي حکومت نوې نقشه چې د امریکا متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیر جانکیري په ملتیا سرته ورسېده، خو دې نوې نقشې نیمگړتیاوی دا دي چې د نااهله شخص په لیری کولو کې جمهور رئیس اشرف غني د اجرایه ریس ډاکتر عبدالله سره په ستونزو کې وي ځکه لوړ پوړي چارواکي لکه وزیران، والیان، قومندانان او د مستقلو ادارو رئیسان د داوړو تر مېنځ برابر ویشل شوي هره خوا کوښښ کوي چې خپل کسان پر لوړو دندو وگماري، همدا علت دی چې زیاتره چارواکي تر مودې زیات د سرپرستانو په توگه دندې سرته رسوي. د کار اهل کسان چې پوره کاري مسلکي توب، پاکي، وطنپرستي ولري پر دندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي گمارل شوي. لکه ښه ښېلگه یې د کورنیو چارو دوه وروستي وزیران جاهد او برمک اوصلاح الدین رباني د بهرنیو چارو وزیر یادولای شو. همدا لامل دی چې اکثره وزیران ورکړل شوې بودیجه نشي مصرفولی. د مجازاتو او مکافاتو کار هم خورا کمزوری دی، لامل دا دی چې که د اجراییه رئیس ډاکتر عبدالله پلوي کس په کارونو کې غفلت او کمزوري ولري او جمهور رئیس ډاکتر اشرف غني احمدزی د مجازاتو اراده وکړي، د اجراییه رئیس ډاکتر عبدالله له خوا یې مخنیوی کېږي. ستونزه پر خپل حال پاتې شي. د ولسوالۍ شوراگانو او ولسي جرگې ټاکنې پر خپل وخت سرته ونه رسېدلې، په نامشروع توگه پارلمان کار ته دوام ورکوي. د سولې په نوم عالي شورا له داسې کسانو تشکیل شوې چې دا کسان خپله طرف دي او بې پرې کسان ور کې کم دي، د سولې په شورا کې داسې زیات کسان کار کوي چې ددوی لاسونه دخلکو په وینو تک سره دي. همدا ستر لامل دی چې مخالفین ورسره د سولې مذاکرات نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مأخذونه

ديويډ لاين ليکنه، ژباړن محمد جعفر
د افغانستان تاريخ له شاه محمود څخه تر امير عبدالرحمن خان، ثناء الله صالحي
دډيورنډ کربښه او په اروپا کې د استوګنو افغانانو ګډه اعلاميه
د ډيورند: توره کربښه يوه انګريزي غيرانساني هڅه، دوکتور عبدالخالق رشيد
تلک خرس کتاب، ليکونکي ډګروال محمد يوسف ومارک ادکين ژباړن ډاکتر نيثار احمد
داکتر نسرين کتونا، د جلال اباد د جنګ په هکله
د کنړ په هکله مالومات د پوهاند رازقي نړيوال
د ډيورنډ کربښه حسن کاکړ ليکنه تاج التواريخ ۱۳۷۸ ص ۵۰۰
مسله پشتونستان: اکادميسن محمد عظم سيستانى
د ډيورنډ کربښه حضرت بهار، پوهاند حبيبي جنبش مشروطيت ۱۳۶۳ ل کال کابل.
د ډيورنډ لاين موافقه ليک د حقوقي اړخ لنډ تاريخ، دوکتور م، عثمان روستارترکی: د اقبال وزري کتاب ۲۳ مخ
د پخواني دپلومات او ګوندي مخکښ کادر محمد الله صاپي «د ثور انقلاب که کودتا»
د پوهاند محمد حسن کاکړ د افغان شوروي جګړې.
د شهيدی ناهيد کيسه د مفتاح الدين صاپي له داستاني ټولګې څخه:
ليکوال سفير جيمزډابين، ژباړن داکتر ځلاند دا کتاب په ۱۳۹۲ کې ليکل يو څو کربښې د ماخذ په توګه:
امير محمد ګران په پا کستان کې پخوانی افغان دپلومات له ليکنې څخه ماخذ.
په افغانستان کې د سياسي نهضتونو بهير ويښ زلميان معلم قيوم.
افغانان عدالت غواړي، د نور وهاب څپاند له ليکنې څخه ماخذ.:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبار افغانستان درمسیر تاریخ اول ټوک پ ۷۳۹:
استا اولسن اسلام وسیاست در افغانستان د خلیل الله زمر ژباړه ۱۹۹۹زکال ډنمارک.
جریده طلوع افغان شماره ۱۹ پینځم کال د لړم ۱۳۱۹ل کال دوره اماني.
ریا تالي ستیو رات اتش در افغانستان د کهسار کابلي ژباړه پ ۵۲.
کاکړ د پاچا امان الله واکمنۍ یوه کتنه ۸۴ پ ۵۸.
لودویک ادمک روابط خارجي افغانستان پ ۱۹۱.
فضل غني مجددي افغانستان در عصر امان الله خان ۱۹۹۷زکال امریکا پ ۳۱۱.
جواهر لعل نهرو نگاه بتاریخ جهان ټوک ۲ پ ١٦٦٥/١٦٦٦: د هند له ارشیف څخه.
تیمور شاه یوسفزي ملي تاریخ، بېنوا سایټ څخه د ماخذ په توگه.
پوهاند حبیبي جنبش مشروطیت پ ۱۷۱/ ۱۷۰.
د افغانستان تاریخ د شاه محمود خان نه تر عبدالرحن پورې، ثناء الله ماخذ په توگه.
د هیواد د لیکوال او تاریخ پوه حبیب الله رفیع له مالوماتو څخه ماخذ.
پوهنیار کاون، عزیزي، پوهنیار عبدالله عادل، د پوهنتون استادانو له لیکنو څخه ماخذ.
داود عظیمي له لیکنې څخه د ډیوړنډ کرښه اغزن تار د ماخذ په توگه.
اکادمیسن اسدالله حبیب له مالوماتو څخه د امان الله خان په هکله ماخذ.
علی احمد زهما روابط سیاسی افغانستان ماخذ.
ویبښ ځلمیانو په اړوند ماخذ معلم قیوم، راز محمد پکتین، شاه محمود حصین، محمد عالم بڅرکی، محمد انور نومیالي له لیکنو څخه.
د امان الله خان تر واکمنۍ وروسته ستونزې د اقبال وزیري له لیکنو څخه ماخذ:
د عطا محمد شیرزي (چشم دید واقعات چند ده اخیر) له لیکنو څخه ماخذ:
د عزت تره کي له لیکنې د نور محمد تره کي پېژندنه څخه ماخذ:
د طالبانو ظهور د متوکل، ډاکتر خلیلزاد د لیکنو څخه ماخذ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بن لوځنامه د خلیلزاد له مالوماتو څخه ماخذ.
غچ او سزا د ډویډلین له لیکنو څخه ماخذ.
احمد شاه مسعود او روسان د فولاد له لیکنو څخه ماخذ.
سرلوڅ مرادزی د ډیورنډ کربنه ماخذ د ۲۰۱۷ کال د نومبر ۱۲ مه.
عبدالغفور لیوال د قبایلو د وزرات مرستیال.
پر ډیو رنډ توری کربښې اغزن تار او د اسنادو نه شتون د ماخذ په توګه، یکشنبه «۲۱ عقرب ۱۳۹٦»
محمد انور ولید: د ډیورنډ منحوسه کربنه ماخذ: ۱۳۹٦ لمریزکال ـ د لړم ۲۵ م
جیمز مارک امریکایي ژورنالست زېړه طلا کتاب څخه ماخذ.
محمد انور آخړ: د برتانیا ښکیلاکګر لخوا د هندوستان نیول ماخذ. ۸۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډه پېژندنه



محمداقا شيرزاد کوچی په ۱۳۳۲ل کال د مارچ په ۲۵ د ننگرهار همېشه بهار ولايت د خوگيانو د شېرزادو په ولسوالی، د شورلاخېلو په کلي کې زيږېدلی يم. لومړنی زده کړې مې د اول ټولگي نه تر درېيم پورې د ماما خېلو په کليوالي ښوونځي کې، درې کاله نور د تو تو په ښوونځي کې پای ته رسولي، په ۱۳۴۷ل کال د ننگرهار د ښوونکو په عالي موسسه کې شامل او په ۱۳۵۱ل کال له دې موسسې څخه فارغ شوم. د هېواد په مختلفو ولايتونو کې مې د ښونکي دنده سرته رسولې ده، د ۱۳۵۷ ل کال د غوايي د ۷ د نظامي بريالي پاڅون وروسته مې په دولتي او گوندي مختلفو څانگو کې دندې سرته رسولي دي. په ۱۳۶۲ل کال د ننگرهار د بايزيد روښان پوهنتون دتعليم او تربيې له پوهنځي د تاريخ او جغرافيې له څانگې مې ليسانس تر لاسه کړ. د ۱۹۹۶ز کال را پدې خوا په سويډن شاهي هېواد کې د خپلې کورنی سره د جلا وطنې شپې سبا کوم.

په جلا وطنی کې مې تر اوسه د خپل زوي هېواد شيرزاد په تخنيکي مرستو سره درې کتابونه لکه د ژوند خاطرې، سياسي خوځښت، د شهيد وطنوال په نوم کتاب او دا دی د ډيورنډ تورې کربښې په نوم کتاب د چاپ لپاره وړاندې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نور فرهنګي کارونه:**

**زما ليکنې په ننګرهار ورځپاڼه، د هيله مهالنۍ، د پيوستون مهالنۍ، دافغان سباون ويبسايټ ، زما خپله برښنايي ويب سايټ ولس غږ، افغان جرمن انلين ويبسايټ، د محمد ابراهيم نعمي په ويبسايټ، اريايي ويبسايټ، ژوندۍ مرکې او سياسي شننه په اريانا نيوز تلويزون، شمشاد تلويزون، ملي تلويزون، ژوندون تلويزون، د افغان پيوستون راديو، ازادي راديو سره مرکې کړي دي.**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library